تفسير
احسن الكلام
پشتو
للشيخ ابي زكريا عبد السلام الرستمي حفظه الله
از سورة الاحقاف تا سورة التحريم
جامعة عربية لاشاعة التوحيد والسنة
پنج پیر پشاور پاکستان

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ

تفسیر احسن الکلام

بلغة البشتو

للشيخ أبي زكريا عبد السلام الرستمي

الجز الثانی / دویم جز

از سورة بقره آیت 177 تا سورة آل عمران آیت 129

الناشر:
جامعة عربية لاشاعة التوحيد والسنة
بده بیر - پشاور

دَ مضامینو فهرست جلد ۲

لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ

نه ده نیکی (خاص) دا خبره چه اوګرځوئ مخونه خپل طرف دَ

الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ

مشرق او مغرب ته او لیکن نیکی (نیکی) دَ هغه چا ده چه ایمان یې راوړے دی

بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ

په الله تعالیٰ او په ورځ روستنۍ او په ملائکو او په کتابونو

وَالنَّبِيّٖنَ ۚ وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِي الْقُرْبٰى

او په پیغمبرانو باندے او ورکوی مال په مینه دَ هغه خپلوانو ته

وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَالسَّآئِلِيْنَ

او یتیمانو او مسکینانو او مسافرو ته او سوال کوونکو ته

وَفِي الرِّقَابِ ۚ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ

او په آزادولو دَ څټونو کښې، او پابندی کوئ دَ مانځه او ورکوئ زکوٰة

وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا ۚ

او پوره کوونکے دئ دَ وعدو خپلو کله چه وعده اوکړی

وَالصّٰبِرِيْنَ فِي الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ

او دَ صفت لائق دی) صبرناک په سختۍ (مالی) کښې او په مرضونو کښې او په وخت

الْبَاْسِ ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا ؕ وَاُولٰٓئِكَ

دَ جنګ کښې، دغه کسان رښتینی دی او دغه کسان

هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿۱۷۷﴾

خاص دوی پرهیزګاران دی۔

تفسیر:- ۱۷۷ :- خلاصه دَ دے حصے : دَ دے آیت نه تر ۲۴۲ پورے دَ سورت دریمه حصّه ده په باره دَ امورِ انتظامیه او دَ قتال فی سبیل الله

کښې او په دے حصه کښې څلور بابونه دی۔
اول باب تر ۱۹۵ پورے دے او په دے باب کښې لس امور ذکر کوی د پاره د تهذیب د نفوسو (په نیه عقیده، اعمالو او اخلاقو سره) او دیته اصلاح د افرادو وئیلے شی د دینه پنځه امور د زړه (عقیدے) سره تعلق لری او پنځه د ظاهری اعمالو سره، او دیته د نیکئ کارونه وئیلے شی۔ او بیا څلور امور سیاسیه ذکر کوی چه د هغے نه دوه د نفوسو د حفاظت سره تعلق لری، اول حفاظت ظاهریه دے او هغه قصاص دے په ۱۷۸ کښې دوییم د نفس روحانی حفاظت دے چه هغه روژے نیول دی په ۱۸۲ کښې۔ او دوه امور د مالونو د حفاظت سره تعلق لری اول حفاظت په وصیت شرعیه کولو سره په ۱۸۰ کښې۔ او دوییم ځان بیچ کول دی د حرامو مالونو او په باطلو ذریعو سره مال حاصلولو نه او خصوصاً د رشوت نه په ۱۸۸ کښې۔ بیا د نظم وضبط او اتحاد د بقاء د پاره ذکر دے د حساب کولو په سپوږمئ سره په ۱۸۹ کښې۔ بیا امر دے په قتال سره د مقصد د قتال د پاره، او د قتال د علتونو ذکر دے او آداب دی په اعتبار د مکان او په اعتبار د زمان سره او امر دے په مال خرچ کولو سره د الله تعالیٰ په لار کښې۔
ربط :۔ د مخکښې سره دا دے چه هر کله قباحتونه او بدئ د اهل کتابو ذکر شوے نو دوی اعتراض اوکړو چه مونږ خو اهل البر (نیکو کارونو والا) یو په سبب د حقانیت د قبلے زمونږ، نو په دے آیت کښې د هغے جواب کوی او تفسیر د بر (نیکئ) ذکر کوی۔
تفسیر :۔ خوږه داده چه دا اهل کتابو او مؤمنانو ته خطاب دے۔ د قبلے د بدلیدلو په وخت کښې اهل کتابو او مؤمنانو د قبلے په باره کښې دومره بحث ومباحثه شروع کړه چه هغوی نیکی ئے په قبله پورے منحصر کړه نو الله تعالیٰ د هغے د رد د پاره اوفرمائیل چه (لَیْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَکُمْ) آه
سوال :۔ هر کله چه روستو ئے اقامة الصلوٰة ذکر کړیدے نو د مونځ پابندی خو بغیر د قبلے نه نشی کیدے نو دا خو تعارض معلومیږی ؟

جواب :- دلته دَ قبلې نه نفي دَ مطلق نیکئ مراد نهٔ ده بلکه نفي دَ نیکئ منحصر کولو په قبله کښې مراد ده په دلیل دَ دے چه البرَّ خبر مقدم معرفه ذکر کړے شوے ده یعني قبلې شرعي ته مخ کولو کښې نیکي خاص نهٔ ده بلکه دا خو دَ نیکئ یو جزء دے - قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ ، دا دواړه طرفونه یٔے دَ مثال په طور وئیلي دي یا داچه په مشرق کښې قبله دَ نصاراؤ وه. او مغرب دَ بیت المقدس کښې قبله دَ یهودیانو وه دَ هغوئ دَ دعوے موافق یٔے ذکر کړیٔ
تنبیه :- اوس هم دا مسئله ده چه اهلِ قبله ته کافر نشي وئیلے کیدے لیکن دَ هغے مقصد صرف قبله نهٔ ده ځکه چه قادیانان او شیعه کان خو کعبه شریفه قبله مني او حال دا دے چه هغوی مسلمانان نهٔ دي.
بلکه مقصد دَ هغے دا دے چه اهلِ قبله هغه خلقو ته وئیلے شي چه په هغوی کښې دَ کفر دَ نښو نه هیڅ یوه نښه موجود نهٔ وي او نه وي صادر شوے دَ هغوی نه دَ اسبابو دَ کفر نه (شرح فقه اکبر ص۱۵۵). او څوک چه دَ ضروریاتو دَ دین نه انکار کوي نو هغه ته اهلِ قبله نشي وئیلے کیدے (نبراس)

وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ ، په عبارت کښې تقدیر مراد دے یعني ذَاالْبِرِّ مَنْ اٰمَنَ یا بِرُّ مَنْ اٰمَنَ ، یا مصدر په معنیٰ دَ فاعل سره دے یعني اَلْبَارُّ۔
او ذکر کوي ایمان په پنځو څیزونو او دیته اُصول الایمان وئیلے شي ، اول اصل : ایمان بالله دے چه په هغے کښې ایمان په وجود دَ الله تعالیٰ سا تل او په توحید دَ هغه دَ ربوبیت او الوهیت او په تشریع (احکامو) او اسماؤ صفاتو داخل دے - دویم اصل : ایمان دے په ورځے دَ آخرت باندے مراد دَ دینه ایمان دے په دا سے طریقه څه رنګه چه قرآن کریم او احادیث مبارکه کښې دَ هغے تفصیلات ذکر دي - دریم اصل : ایمان لرل دي په ملائیکو ، یعني دَ ملائیکو په هغه صفاتو او احوالو ایمان لرل دي چه څهٔ رنګه په قرآن او سنت کښې دي - څلورم اصل : ایمان لرل دي په ټولو نازل کړے شوؤ کتابونو باندے او اَلْكِتَابِ مفرد دے دَ جنس نه استغراق فائده کوي - پنځم اصل : ایمان دے په هغه ټولو رسولانو باندے کوم چه اجمالي ذکر دي په قرآن او سنت کښې نو په هغوی باندے اجمالي ایمان لرل او کوم چه تفصیلاً ذکر دي نو په هغوی باندے تفصیلي ایمان

لرل سره د ایمان نه په صفت د ختم نبوت د آخری نبی (صلی الله علیه وسلم) سره. وجه د دے دا ده چه یو مکلف د پاره مبداء او منتهی او وسط ضروری دے نو ایمان په الله تعالی باندے مبداء دے او ایمان په آخرت باندے منتهی ده او ایمان په وسط باندے خو ایمان دے په رسولانو باندے لیکن رسالت د بشر موقوف دے په رسالت د ملائیکو او په نفس وحی باندے نو د دے وجے نه ایمان په ملائیکو او کتابونو ځکښی کړو په ایمان بالرسل باندے. او ایمان په تقدیر داخل دے په ایمان د علم او قدرت د الله تعالی کښی او ثابت دے په کتابونو الهیه او احادیثو مبارکو کښی نو د هغے جدا ذکر کولو ته حاجت پاتے نه شو اگرچه هغه هم د اصولو د ایمان نه یو اصل دے. وَاٰتَی الْمَالَ عَلٰی حُبِّهٖ د ایمانیاتو نه روستو اعمال د جوارحو دی او هغه هم پنځه ذکر دی. اول په هغے کښی حقوق مالیه (عبادات مالی) اداکول دی. حُبِّهٖ، په دے کښی څلور وجوه دی اول دا چه ضمیر راجع دے مال ته او مراد د حُبِّ مال نه حالت د محبت دے چه د غِنا (مالدارئ) امید لری او د غریبئ نه یره کوی. دویم دا چه محبت د مال دا دے چه محبوب مال ورکوی یعنی کره مال. دریم دا چه ضمیر راجع دے ایتاء ته یعنی محبت کوی د ایتاء (ورکولو) سره او مراد ترینه اخلاص او طلب د رضا د الله تعالی دے. څلورمه وجه دا چه ضمیر راجع دے الله تعالی ته (اللباب).
ذَوِی الْقُرْبٰی، په دے کښی شپږ مصارف (د خرچ کولو ځایونه) ذکر کوی او د ترتیب وجه یے دا ده چه اولی فالاولی ځکښی کوی نو فقیر چه رشته دار وی نو اول هغه له ورکول غوره دی ځکه چه دا صدقه او صله رحمی دواړه دی. بیا ورپسے پلار مړی چه فقیر او ډیر محتاج دے هغه یے په وَالْیَتٰمٰی سره ذکر کړو. بیا هغه څوک چه حاجت یے همیشه نه دے بلکه وقتی حاجت لری چه ابن السبیل (مسافر) دے. بیا هغه څوک چه حاجت یے معلومیږی په سوال کولو سره او کله هغه غنی هم وی لیکن یو ضرورت ورته پیدا شوے وی نو هغه یے په السائلین سره ذکر کړو. بیا هغه څوک چه ملکیت نه وی اگرچه کسب کولے شی. او عدم ملکیت ماده د احتیاج ده نو هغه یے ذکر کړو په وفی الرقاب سره. او په دے کښی مریئے (غلام وینځه) مکاتب مدیر، قرضدار او مسلمان قیدیان ټول داخل دی.

تنبیه:- مراد دَ ایتاء المال نه اداکیدل دہ په طریقه دَ وجوب سره دَ دریو وجو نه، اوله وجه داده چه په دے باندے یئے صدق او تقوی مرتب کړیدی لکه أُولَٰئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ او صدق او تقوی په امور واجبه سره راجح (اللباب)- دویمه وجه داچه مخکښ یئے ایمانیات او روستو یئے عملی فرائض ذکر کړیدی نو دا قرینه ده چه دلته هم واجب کار مراد دے- دریمه وجه دا ده چه مراد په دے سره اتصاف دے په دے صفت سره چه همیشه دَ پاره او همیشوالے دلالت کوی په واجب کیدلو باندے او هر کله چه دلته طریقه دَ وجوب مراد ده نو زکوٰۃ خو روستو ذکر دے نو معلومه شوه چه دَ زکوٰۃ نه علاوه نور حقوق مالیه مراد دی چه هغه دفع کول دَ حاجات ضروریه دی، لکه مجبوره شخص (اوګی) تږی ته خوراک ورکول او بربنډ ربے جامو ته لباس ورکول وغیره-

وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ، دا دواړه فرائض دی، او ذکر دَ زکوٰۃ دلیل دے چه مخکښ اتی المال کښ زکوٰۃ مراد نۀ دے- وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا، دا څلورم عمل دے دَ جوارحو او دا معطوف دے په مَنْ آمَنَ باندے یا خبر دے دَ مبتدا پټے یعنی هم الموفون- یا دا عطف دے په پټ ضمیر فاعل دَ امن باندے- او مراد دَ عهد نه عام دے هغه ټولو عهود الهیه، ایمانیه او عملیو ته چه په قرآن او سنت کښ ذکر دی او هغه عهود پکښ هم داخل دی چه خلق یئے په کور تئی کښ یو بل سره کوی نو دا ټولو معاملاتو او عقود شرعیو ته شامل دے او لفظ دَ اذا عاهدوا دلالت کوی چه دَ عهد سره متصل دَ هغے وفا هم کوی-

سوال:- دَ الْمُوفُونَ په ځائے یئے وَأَوْفَىٰ ولے اُونه وئیلو چه په اقام باندے عطف شی؟

جواب۱:- صله چه کله اوږده شی نو بیا عطف په موصول باندے په کلام کښ حسن پیدا کوی-

جواب۲:- هر کله چه په اول کښ یئے ایمانیات ذکر کړل او هغه په شرع سره معلومیږی او په مینځ کښ یئے امور عقلیه ذکر کړل او وفا په عهد باندے هم په شرع سره معلومیږی دَ دے وجے نه یئے په اول باندے عطف کړو-

وَالصّٰبِرِيْنَ، دا دَجوارحو ښځم عمل دے۔ اوهرکله چه دَ صبرخصلت جامع دے په ټولوخصلتونو دَ خیرکښ نو دَ دے وجے نه ئے په جدا اعراب سره ذکرکړو۔ دَ الصّٰبِرِيْنَ په نصب کښ څو اقوال دي۔ اول داچه دا مخصوص دے په مدح سره او لفظ دَ اَمۡدَحُ یا اَخُصُّ بِالۡمَدۡحِ په دیکښ پټ مراد دے۔ اوکسائی وئیلی دي چه دا معطوف دے دَ آتَی په مفعولونو باندے او مراد دَ دے نه هغه فقراءدي چه ځان ساتي دَ سوال کولو نه په وخت دَ مصائبوکښ۔ فِي الْبَأْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ، بأساء استعمالیږي په مالي سختنو او مصیبتونوکښ اوضراء په بدني تکلیفونوکښ استعمالیږي وَحِيْنَ الْبَأْسِ، مراد دَ دے نه قتال فی سبیل الله دے ابن کثیر دَ ابن مسعود او ابن عباس رضی الله عنهم او ډیرو تابعینو نه دا نے نقل کړیدے او په لفظ دَ بأس کښ اشاره ده چه په قتال فی سبیل الله کښ صبرته هغه وخت ډیرضرورت وي چه سختي راشي۔ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا، رشتیني دي په دعوی دَ نیکئ او دَ ایمان کښ ځکه چه په دے صفاتوکښ تاکید دَ ایمان دے په اقوالو او اعمالو دَ خیر سره۔ وَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ، ځکه چه دوی دَ ټولو محرماتو نه ځان ساتي او دَ طاعاتو پابندي کوي۔

فائده ۱:- قرطبي وئیلي دي چه دا آیت مشتمل دے په شپاړس قواعدو باندے چه هغه دا دي: ایمان په الله تعالی باندے او په اسمائ صفاتو دَ هغه او ایمان په نشر حشر، میزان، صراط، حوض، شفاعت او جنت او جهنم باندے۔ او ایمان په ملائیکو او کتابونو منزلو او په رسولانو باندے۔ او مال خرچ کول په صحیح ځایونوکښ که واجب وي او که مستحب وي۔ او صله رحمي او لحاظ کول دَ یتیمانو او مسکینانو او لحاظ کول دَ مسافرو او دَ میلمنو، او لحاظ کول دَ سوال کوونکو او دَ ستونو دَ آزادولو، پابندي کول دَ مونځ او ورکول دَ زکوٰة، او وفا کول په وعدو باندے او په سختو باندے صبرکول۔ او په دیکښ هره یوه قاعده په تفصیل کښ مستقل کتاب ته محتاج ده۔ او دا ټول دَ نیکئ اعمال دي۔

فائده ۲:- په دے آیت کښ تعریض دے په اهلِ کتابو باندے چه هغوی په بعضِ ملائیکو او په بعضِ انبیائ ایمان نهٔ راوړي او حقوقو دَ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ

اے ایمان والو فرض کړے شویدے په تاسو باندے

الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلٰى ؕ اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ

قصاص (جاری کول) په باره د قتل کړے شو کښ (په قتل عمد سره) آزاد به وژلے کیږی په بدل د آزاد کښ

وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْاُنْثٰى بِالْاُنْثٰى ؕ

او مرئے به وژلے کیږی په بدل د مرئی کښ او زنانه به وژلے کیږی په بدله د زنانه کښ،

فَمَنْ عُفِيَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌۢ

نو هغه څوک چه معاف اوکړے شو هغه ته د طرف د رور د هغه د څه څيز نو لازم دی وروستو کرځيدل

بِالْمَعْرُوْفِ وَاَدَآءٌ اِلَيْهِ بِاِحْسَانٍ ؕ

(په وارث باندے) په ښه طريقے سره او لازم دی په قاتل باندے) اداء کول وارث ته په ښائسته طريقے سره

انسانانو کښ خيانتونه کوی او په وعدو باندے وفا نه کوی (لکه چه په دے سورت کښ مخکښ ذکر شوی دی) او تعريض دے په مشرکانو باندے چه په هغوی کښ دا صفات د نيکئ نيشته۔

فائده ۳:- ابن عاشور ويلی دی چه په دے آيت کښ ټول انفرادی او اجتماعی فضائيل راجمع کړيدی ځکه چه ايمان او مونځ منبع ده د انفرادی فضيلتونو او زکوٰة ورکول اصل دے د اجتماعی نظام۔ او په وعدو باندے وفا کولو کښ انفرادی فضيلت (کمال د نفس) او اجتماعی فضيلت (چه اعتماد کول دی په يو بل باندے) دواړه راجمع دی۔ او صبر مجمع ده د هر قسم فضيلت او په دے کښ شجاعت د امت ته هم اشاره ده۔

(تفسير التحرير والتنوير)

ذٰلِكَ تَخۡفِيۡفٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَرَحۡمَةٌ ؕ

دا حکم (دَ معافی) آسانتیا ده ستا دَ ربّ طرف نه او خاص مهربانی ده،

فَمَنِ اعۡتَدٰى بَعۡدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ

نو چاچه زیاتے اوکړه روستو دَ عفو نه نو ده لره

عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿۱۷۸﴾ وَلَكُمۡ فِى الۡقِصَاصِ

عذاب دردناک دے۔ او ستاسو دَپاره په قصاص کښې

۱۷۸ ربط: دَ مخکښې آیت سره داد ے چه په دیکښې اوس هغه پر (نیکی) ذکرکوی چه مقتضا دَ ایمان ده او په هغے سره سیاسی نظام صحیح کیږی او حفاظت دَ افرادو او نفوسو په کښې حاصلیږی۔ لیکن کتابیان (نصارٰی) دا نۀ منی او یهودیان په کښې دَ خاندانو او قوموتو فرق کوی دَ بعضو نه قصاص اخلی او دَ بعضو نه ئے نۀ اخلی او حال دادے چه په تورات کښې هم حکم دَ قصاص فرض وو بغیر دَ دیت نه لکه چه په سورة مائده ۴۵ کښې ذکر دی۔ دارنګ مشرکینو او جاهلیت والو په دے کښې افراط کوو چه دَ یوتن په بدل کښې به ئے ډیر کسان وژل۔ نو په دے آیت کښې په ټولو باتو ے ردکوی۔

کُتِبَ، اصل دَ کتابت هغه لیکل دی (نقش دَ حرفونو) او په دے نقش کښې کلکوالے مراد وی، نو اطلاق ئے کیږی په معنٰی دَ حق ثابت ے او په معنٰی دَ فرضیت سره راځی۔ عَلَيۡكُمُ، دا خطاب دے اُمت ته په مجموعی طور سره او هر یو جدا جدا مراد نۀ دے او اُمت دَ دے آدائیږی په طریقه دَ خلیفه جوړولو سره کولے شی او اقامت دَ خلافت (په شرطونو سره) دَ اُمت فریضه ده۔ یا په دے سره مخاطب اولیاء او وارثان دَ مقتول دی لیکن سره دَ جواز دَ معافئ کولو ته چه هغه روستو ذکر کیږی۔ یا په دے سره قاتلان مخاطب دی او مراد دَ دے نه ځان سپارل دی دَ قصاص دَ پاره۔

الۡقِصَاصُ، قرطبی وشبلی دی چه دا دَ قصّ الاثر نه اخستلے شوے دے او په معنٰی دَ اتبع (پسے گرځیدلو) دے لکه په سورة کهف ۶۴ او قصص ۱۱ کښې دی۔ یا قص په معنٰی دَ قطع (پریکولو) دے۔ او په قصاص شرعی کښې

دا دوا په معنٰی پرتے دی۔ او د مشتق وئیلی دی چه قصاص په عرف کښ دَ
برابروالی نه عبارت دے یعنی چه دَ انسان سره داسے کار اوکړے شی چه
کوم هغه دَ بل سره کړے وی۔ فِي الْقَتْلٰى، جمع دَ قتیل ده او په وزن دَ فعلی
دے۔ او په هغه فعل کښ استعمالیږی چه په چا باندے په زور
اوکړے شی (لکه جرحٰی او زمنٰی وغیره)۔ اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْاُنْثٰى
بِالْاُنْثٰى، ځکښ جمله تامه مستقله وه په باره دَ قصاص دَ نفس کښ
او په دے جمله کښ ذکر دے دَ بعض جزئیاتو دَ هغے نه دَ دوؤ فائدو دَ پاره
اوله دا چه دا رد دے په اهلِ جاهلیت باندے چه هغوی دَ مرئي (غلام)
په بدل کښ دَ حُر (آزاد) نه قصاص اخستلو نو هغوی ئے په دے تخصیص
سره منع کړل (اللباب)۔ دویمه فائده دا چه په دے کښ اشاره ده جاری
کولو دَ قصاص نه په ټولو اقسامو دَ نفسونو کښ، ځکه نفس به یا مذکر وی
یا مؤنث او هر یو به یا آزاد وی یا به مملوک وی نو په ټولو اقسامو کښ
قصاص شته۔ او دَ بعض اهلِ علمو په نیز دلته حصر مراد دے او هغے ته
اعتبار دَ مفهوم مخالف هم وئیلے شی یعنی قتل دَ حُر خاص دے په قتل
دَ حُر پورے په بدل دَ عبد (مرئي) کښ نشی قتل کیدلے (او په دے
مسئله کښ دَ اهلِ علمو اختلاف هم شته دے) او قتل دَ عبد خاص
دے په قتل دَ عبد پورے په بدل دَ حُر کښ نشی قتل کیدلے (او دَ
دے قول هیڅوک قائل نیشته)۔ او قتل دَ اُنثٰی خاص دے په اُنثٰی
پورے دَ مذکر (نارینه) په بدل کښ به زنانه نشی قصاص کیدلے
(دَ دے هم هیڅوک قائل نیشته) نو غوره دا ده چه دلته حصر مراد نهٔ
دے۔ دَ دے مزید تفصیل په تفسیر قرطبي وغیره تفاسیر الاحکام کښ
اوګورئ او دارنګ په احادیثو صحیحو کښ۔ فَمَنْ عُفِيَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ شَيْءٌ،
په دے جمله کښ ذکر دَ بل حکم دے۔ عُفِيَ په معنٰی دَ ترک (پریښودلو)
سره دے یعنی قصاص اخستل پریږدی۔ یا په معنٰی دَ محو کولو سره دے۔
مَنْ نه مراد قاتل دے۔ اَخِيْهِ نه مراد مقتول دے هغه ته اخیه دَ دے
دَ پاره او وئیلے شو چه معافئ کولو ته شفقت او رغبت پیدا شی۔ او په دیکښ
دلیل دے چه په قتل (چه ګناه کبیره دے) سره دَ ایمان نه نه اوځی نو
اسلامی رورولی ئے باقی پاتے ده۔ په دلیل دَ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ سره۔
(سورة حجرات-۱)

او ورته د طرف د پاره دے یعنی ولی د مقتول دے معاف اوکړی قاتل ته د قصاص اخستلو ته - شَيْءٌ ئے نکره وئیلے ده چه دلالت کوی په لږه حصه معاف کولو باندے او د هغے صورت دا دے چه د مقتول مثلاً دوه اولیاء برابروی یو معاف د قصاص ته اوکړی او هغه بل نهٔ وی کړے نو هم معاف اوشوه او هم قصاص ساقط شو ځکه چه په قتل کښ تجزی نهٔ کیږی. فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوْفِ، دا جزاده د پاره د شرط یعنی فَمَنْ عُفِيَ، او په دیکښ لفظ پټ مراد دے یعنی فَعَلَيْهِ اِتِّبَاعٌ، یعنی په ولی د قاتل باندے لازم دی چه په قاتل پسے اوګرځی (که په هره ذریعه سره وی) او دیت تری نه طلب کړی او دا دلیل دے چه معافی کولو سره دیت ځیلله لازمیږی او دا مذهب د ډیرو اهل علمو دے. او د احنافو په نیز باندے دیت نه لازمیږی ترڅو پورے چه شرط د دیت ئے نهٔ وی لګولے. او دا د ظاهر آیت نه خلاف دے. مَعْرُوْفِ، دا لفظ په قرآن کښ اته دیرش کرته راغلے دے. او معروف هر هغه څیز (قول او فعل) ته وئیلے شی چه په شرع یا په عقل سره د هغے حسن معلومیږی. دلته مراد په مطالبه د دیت کښ سختی نه کول دی چه هغه احسن طریقه ده. نو اتباع (ګرځیدل) د پاره د مطالبے د دیت د مقتول د ولی حق دے او معروف والے (په ښه طریقے سره) په هغے کښ واجب دے. وَاَدَآءٌ اِلَيْهِ بِاِحْسَانٍ، د دیته مخکښ هم عَلَيْهِ لفظ پټ مراد دے یعنی په قاتل باندے ادا کول د دیت واجب دی د مقتول ولی ته - اِحْسَانٍ نه مراد بغیر د ټال مټول نه دیت ورکول دی. او کومه آدائیږی چه بغیر د ټال مټول نه حق ارته اوشی نو هغه ئے احسان کترې په ځان باندے. ذٰلِكَ تَخْفِيْفٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ، ذٰلِكَ اشاره ده معافئ کولو او دیت اخستلو ته. او دا تخفیف په دے وجے سره دے چه اختیار دے په مینځ د دریو څیزونو کښ چه قصاص، دیت او عفوه کول دی (او په یهودیانو باندے صرف قصاص واجب وو او په نصاراؤ باندے صرف عفوه واجب وه) دا ابن کثیر د سعید بن جبیر رضی الله عنه نه روایت ذکر کړیدے. او رحمت په معنیٰ د وسعت ورکولو دے. فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ، مراد د اعتداء نه د معافئ کولو او دیت اخستلو نه روستو د قاتل وژل دی (ابن عباس رضی الله عنهما، قتاده،

حَيٰوةٌ يّٰاُولِي الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۹﴾

ژوند دے اے صفا عقل والو د دے د پاره چه تقوی حاصله کړئ۔

فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ، په دے کښ یو قول دا دے چه هغه به (چاچه اعتداء کړے وه) حاکماً قتل کیږے شی، دیت اخستل او معافی کول به ورته نه وی (قتاده، حسن او سعید بن جبیر) دویم قول دا دے چه دا عذاب په آخرت کښ مراد دے ځکه چه عَذَابٌ اَلِيْمٌ مطلق ذکر شی نو مراد ترینه عذاب د آخرت وی او دا قول د اکثرو اهلِ علمو دے او قوی دے۔

۱۷۹ دا آیت جواب د سوال دے چه فرض کول د قصاص خو د رحمت د الله تعالیٰ سره مناسب نهٔ دی ځکه چه بنده کمزورے دے۔ حاصلِ جواب دا دے چه په تشریع د قصاص کښ لوئے حکمت دے۔

وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ، سوال دا دے چه حیات خو ژوند دے او قصاص کښ مرګ راځی نو دا څه رنګه صحیح کیږی؟

جواب ۱:۔ مراد د دے نه قصاص اخستل نهٔ دی بلکه قانون د قصاص جاری کول دی ځکه چه څوک د چا د قتل اراده کوی نو هغه ته به دا معلومه وی چه ځما نه خو به ضرور قصاص اخستلے کیږی نو د قتل کولو نه به منع کیږی نو حیات دا دے چه د دے هم ژوندے پاتے شو او هغه بل هم د قتل نه بچ شو او د دے دواړو خاندانونه هم د فتنے او د دشمنئ نه بچ شول۔

جواب ۲:۔ د یو شخص نه قصاص اخستل سبب دے د پاره د منع کولو د نورو خلقو د قتل و قتال نه۔

جواب ۳:۔ مراد د حیات نه سلامتیا ده د آخرت د عذاب نه۔ او دا بنا دے په هغه قول چه د دُنیا د عقوبتونو سره د آخرت عذاب معاف کیږی۔

جواب ۴:۔ د ژوند نه مراد امن دے چه په قصاص جاری کولو سره د نفوسو د ژوند امن پیدا کیږی۔

يّٰاُولِي الْاَلْبَابِ، اَلْبَابِ جمع د لُبّ ده هغه عقل ته وئیلے شی چه خالی وی د خواهشاتو او وهمونو نه۔ یعنی په حکمت او فائدو د قصاص باندے دا سے خالص عقل والا پوهیږی۔ په دیکښ اشاره ده چه کوم خلق قانون د قصاص ته ظلم وائی نو د هغوی عقل صحیح او خالص نه دے بلکه هغه بے عقله دی۔ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ، مراد د تقوی نه عامه معنیٰ ده

كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ

فرض کړے شو پہ تاسو باندے کله چه را نزدے شو یو ستاسو ته مرګ

اِنْ تَرَكَ خَيْرًا ۚ ۖ الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ

که چرے پرېږدی دے وی مال ، وصیت کول مور او پلار ته

وَالْاَقْرَبِيْنَ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۸۰﴾

او خپل خپلوانو ته په نیکه (شرعی) طریقے سره، دا حق واجب دے په متقیانو باندے۔

ځکه چه اجراء او منل دَ قانون دَ الله تعالیٰ سبب دَ پاره دَ پیدا کیدلو دَ تقویٰ دے۔
ستا. په دے آیت کښ دویم حکم سیاسی ذکرکوی دَ مالونو دَ امن او حفاظت
دَ پاره۔ ربط:- دَ مخکښ سره دا دے۔ قرطبی وئیلی دی چه هرکله دَ مقتول
دَ ولی دَ پاره ئے حق دَ قصاص ذکرکړو نو چه هغه ګډانه قصاص اخلی نو
هغه مرګ ته نیز دے شو نو دَ هغه دَ پاره حکم دَ وصیت ذکرکوی۔ مهائمی ذکر
کړیدی چه مخکښ انواع دَ بِر ذکرکیدل او دا هم حکم دَ احکامو دَ بِر نه دے
نو دَ دے وجے نه ئے دلته ذکرکړو۔ او هرکله چه دَ انسانیت تقاضا دا ده او
هر انسان لره دَ دے لحاظ پکار دے نو دَ دے وجے نه يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ئے
ورسره ذکر نه کړو۔

كُتِبَ عَلَيْكُمْ، دَ کتابت نه روستو لفظ دَ علیٰ دلالت کوی په ایجاب باندے
او کله کله دَ استحباب دَ پاره هم استعمالیږی۔ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ،
لفظ دَ اِذَا دَ ظرف دَ پاره دے۔

سوال:- هرکله چه په انسان باندے مرګ راشی نو بیا خو خبرے نشی کولے؟
جواب:- مراد دَ دے نه علامات دَ مرګ دی۔ یا حضور په معنیٰ دَ نزدیکت
دے او دغه وخت خامخا دَ وصیت کولو دے۔

اِنْ تَرَكَ خَيْرًا، دا شرط دے او دَ دے په جزاء کښ اختلاف دے۔ یو قول
دا دے چه جزاء ئے پټه ده یعنی فَلْيُوْصِ (وصیت دِ دے اوکړی)۔ دویم قول
دا دے چه كُتِبَ دَ دے جزاء ده او دا په نیز دَ هغه چا چه مخکښ والے
دَ جزاء په شرط باندے جائز ګڼری۔ خَيْرًا دلته مال ته وئیلے شی او
دمشقی په اللباب کښ دَ خیر اته معانے په قرآن کښ ذکرکړی دی۔

اوله معنیٰ مال لکه دا آیت دے۔ دویمه معنیٰ ایمان (سورۂ انفال ۲۳، ۷۰) دریمه معنیٰ غوره والے لکه خیرالرّازقین کښې۔ څلورمه معنیٰ عاقبت دَ مصیبت نه (سورۂ یونس ۱۰۷)۔ پنځمه معنیٰ ثواب (سورۂ حج ۳۶) شپږمه معنیٰ طعام (سورۂ قصص ۲۴)۔ اوومه معنیٰ کامیابی او غنیمت (سورۂ احزاب ۲۵) او اتمه معنیٰ اسوته (سورۂ ص ۳۲) دلته عام دے که مال یې لږ وی او که ډیر وی۔

اَلْوَصِیَّةُ، وصیت په اصل کښې هرهغه څیز ته وئیلے شی چه دَ هغې په باره کښې حکم او تاکید کیږی۔ او په عرف کښې وصیت خاص دے په هغه کار پورے چه دَ مرګ نه روستو دَ هغې دَ کولو او جاری کولو تاکید کولے شی۔

سوال:۔ دا نائب فاعل دَ کُتِبَ دے نو بیا ولې کُتِبَ یې مؤنث ذکر کړے دے؟

جواب:۔ دا په معنیٰ دَ ایصاء سره دے یا دا مؤنث حکمی دے یا ئې په مینځ کښې فاصله ډیره ده نو دَ دے وجې نه کُتِبَ مذکر صیغه ذکر شوه۔

لِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ، لام په خپله معنیٰ سره دے او والدین او اقربین موصی لهم دی (هغه څوک چه دَ هغوی دَ پاره دَ مال دَ څه حصے ورکولو وصیت اوکړی)۔ بِالْمَعْرُوْفِ، دا په معنیٰ دَ عدل سره دے او دَ دے مقصد دا دے چه مال دَ پاره په غوره والے نهٔ ورکوی په فقیر پاندے (سراج المنیر) او په ترمذیٔ او احسان سره (ابن کثیر) او چه زیاتے او کمے په کښې نه وی۔ او دا سپاره شوے دے اجتهاد دَ مرکیدونکی او حالت دَ موصی لهٔ ته (قرطبی)۔ او چاچه وئیلی دی چه مراد دَ دینه دریمه حصه ده نو هغه خاص دے په وخت دَ حکم دَ میراث کښې۔ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ، دا مفعول مطلق دے دَ پاره دَ کُتِبَ په موصوف پټ سره یعنی کُتِبَ کِتَابًا حَقًّا۔ یا تاکید دے دَ مضمون دَ جملے یعنی حُقَّ ذٰلِكَ حَقًّا او حق په معنیٰ دَ لازم او واجب سره دے۔

سوال:۔ داخو په ټولو مؤمنانو باندے واجب دے نو تخصیص دَ متقیانو ئې ولے اوکړو؟

جواب ۱:۔ مراد دَ متقین نه هغه مؤمنان دی چه اراده لری دَ حصول دَ تقویٰ په اداکولو دَ واجباتو سره۔ جواب ۲:۔ حق په معنیٰ دَ امر مناسبه

لائق سره دے او متقین په خپله معنیٰ سره مراد دے۔

فائده ۱۱: په دے کښې دَعلمائؤ اختلاف دے چه دا منسوخ دے او که محکم دے؟ نو بعضِ مفسرینو وئیلی دی چه دا آیت (په باره دَ وصیت دَ والدینو او اقربینو دَ پاره) منسوخ دے په آیت دَ میراث سره او حدیث صحیح کښې دی چه لا وصیّةَ لِوَارِثٍ او دا قول دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه هغه وئیلی دی چه مخکښې زمانه کښې مال په صرف دَ ولد دَ پاره وو او دَ مور پلار دَ پاره صرف وصیت وؤ، نو الله تعالیٰ منسوخ کړو دَ دے نه هغه چه دَ الله تعالیٰ خوښه وه (بخاری) او بعضِ مفسرینو لکه ضحاک، طاؤس او حسن بصری وئیلی دی چه آیت اګرچه عام دے لیکن داخاص دے په باره دَ هغه والدینو کښې چه حقدار دَ میراث نهٔ وی. دَ دے وجے نه چه هغوی کافران یا مریان وی۔ او هغه اقرباء چه حق دَ میراث نهٔ لری دَ وجے دَ لرے والی دَ نسب نه. او دا قول طبری غوره کړیدے او دَ زهری نه هم دا سے نقل دی. یا بله توجیه دَ عدم نسخ دا ده چه لِلْوَالِدَيْنِ آه کښې لام په معنیٰ دَ اِلیٰ سره دے او والدین او خپلوان به وصیان وی (هغه څوک چه یو شخص دَ مرګ په وخت کښې بل چالره دَ څه کارکولو دَ پاره مقرر کړی) نو مراد دا دے چه په وخت دَ مرګ کښې یو شخص دِ خپل مور او پلار او خپلوانو ته او وائی چه څما په مال کښې حکم دَ میراث شرعی اُوچلوئی او دَ هیڅ یو تن مقرر حصه مهٔ کموئی نو تقدیر دَ عبارت دا دے چه کُتِبَ عَلَيْكُمْ مَا وَصَّى اللّٰهُ بِهٖ مِنْ قَوْلِهٖ يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ فِيْٓ اَوْلَادِكُمْ (سورة نساء سلا) دا قول امام رازی، ابو مسلم اصفهانی او دمشقی ذکر کړیدے او په دے توجیه کښې دا هم داخل ده چه والدینو او خپلوانو ته دِ اووائی چه څما په مال کښې غیر شرعی صدقات او تقسیمونه مهٔ کوئی لکه اسقاطونه، ماښامونه او کلیزے وغیره چه په دے ملک کښې رواج دے۔ دارنګ که دَ چا نه مال باقی نه وی پاتے شوے لیکن دین خو دَ هغه پاتے کیږی لکه انبیاء علیهم السلام نو هغوی دِ خپلو وارثانو ته وصیت اُوکړی په باره دَ دین او توحید او دَ اعمالو کولو دَ سنت سره موافق لکه چه په دے سورت کښې ذکر دی وَوَصّٰى بِهَآ اِبْرٰهِيْمُ بَنِيْهِ وَيَعْقُوْبُ۔

فَمَنۢ بَدَّلَهٗ بَعْدَ مَا سَمِعَهٗ فَاِنَّمَآ

نو چا چه بدل کړو دا وصیت روستو د هغې نه چه واوریدلو هغه نو یقیناً

اِثْمُهٗ عَلَى الَّذِیْنَ یُبَدِّلُوْنَهٗ ؕ

ګناه د دے په هغه کسانو باندے ده چه بدلوی دا وصیت ،

اِنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ ﴿۱۸۱﴾ فَمَنْ خَافَ

یقیناً الله تعالیٰ هرڅه آوری او په هرڅه عالم دے۔ نو څوک چه ویره کوی

مِنْ مُّوْصٍ جَنَفًا اَوْ اِثْمًا فَاَصْلَحَ

د وصیت کوونکی نه د کږیدلو (په خطا) یا د ګناه (قصداً) نو صلح اوکړی

فائده ۲۵:- د دے نه معلومه شوه چه کوم آیت په تلاوت کښ باقی پاتے دے او هغې ته علماؤ منسوخ الحکم وئیلے وی نو د هغې یو حکم منسوخ وی او بل حکم یې باقی پاتے وی او کله ایجاب منسوخ وی او استحباب باقی وی نو په دے طریقے سره د قرآنی آیت استیصال (بیخکنډی) نه کیږی۔

سلا په دے آیت کښ زور نه ده په بدلولو د وصیت باندے او تاکید دے د بقاء په صحیح وصیت باندے۔ په بَدَّلَهٗ او سَمِعَهٗ کښ ضمیر وصیت ته راجع دے ځکه چه وصیت په معنیٰ د ایصاء سره دے۔ سَمِعَهٗ دا عام دے یعنی چه په خپله د وصیت کوونکی وصیت واوری یا دهٔ ته علم د هغې په صحیح شهادت سره حاصل شی۔

فَاِنَّمَآ اِثْمُهٗ، دا ضمیر راجع دے تبدیل ته۔

عَلَى الَّذِیْنَ یُبَدِّلُوْنَهٗ، دا تصریح کول دلیل دے چه وصیت کوونکے په دے کښ ګناهګار نه دے ځکه چه لَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى قانون الٰهی دے۔

اِنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ، په دے کښ تخویف (ویره) دے تبدیل او جنف (کوږ والی) کوونکو ته۔

بَيْنَهُمْ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

په مینځ د دوی کښې نو نیشته ګناه په هغه باندې، یقیناً الله تعالیٰ

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۸۲﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

بخښنه کوونکے او رحم کوونکے دے. اے ایمان والو

۱۸۲ په دے آیت کښې عامو مسلمانانو ته د اصلاح د پاره ترغیب دے.
فَمَنْ خَافَ، دا خوف په معنیٰ د علم سره دے ځکه چه د دے د ناکاره نتیجے نه یره کیږے شی، د دے وجے نه دیته یې خوف ویلے دے.
جَنَفًا اَوْ اِثْمًا، جنف جور او ظلم او میلان ته ویلے شی خو مراد هغه میلان دے چه د صحیح طریقے نه قصداً او عمداً واوړی. او اِثم نه دلته مراد میلان دے په جهل سره او بعض مفسرینو برعکس فرق لیکلے دے. او مراد د دے نه وصیت کول دی په خلاف د حق نه. قرطبی د هغې مثالونه ذکر کړی دی، لکه چه میراث د بعض وارثانو قطع کړی یا اذیت ورکړی وارثانو ته په وصیت کولو سره زیات د ثلث نه یا وصیت اوکړی خپل ځوم (د لور خاوند) ته یا اولاد د لور ته. او څه وایم چه وصیت اوکړی په بدعاتو کولو سره په خلویښتمه کولو یا په ماښامونو یا په حیله د اسقاطِ مروجه سره یا په کلیزو وغیره کولو سره نو دا هم د حق نه خلاف دے.
فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ، ضمیر د بَيْنَهُمْ راجع دے وصیت کوونکی او هغه چا ته چه وصیت ورته اوکړے شی یا وارثانو ته. او مراد د اصلاح نه د هغه وصیت شرعي طریقے ته راګرځول او د بدعاتو او د ظلم نه خالي کول دی.
فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ، هر کله چه په دے اصلاح کښې تبدیل د وصیت لازمیږی نو وهم د ګناه پیدا کیږی نو د دے وجے نه یې نفی اوکړه د ګناه نه.
اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ، هغه وصیت کوونکے چه لاژوندے وی او اصلاح اومنی او خپلے غلطئ نه توبه اوکړی نو الله تعالیٰ ورته بخښنه کوی او رحم کوی په هغه باندے.
سوال:- خوف په هغه ځائے کښې استعمالیږی چه په زمانه مستقبل کښې وی او وصیت خو واقع شوے دے نو څه رنګ یې لفظ د خوف ذکر کړو؟
جواب ۱:- خوف په معنیٰ د علم دے مجازاً لکه چه مخکښې ذکر شو.

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى

فرض کړے شوی دی په تاسو باندے روژے نیول لکه چه فرض کړے شوی وے په

الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿۱۸۳﴾

هغه کسانو باندے چه ستاسو نه مخکښ وو دے دپاره چه تقوی حاصله کړئ۔

جواب ۲:۔ اصلاح کوونکی ته په علاماتو سره معلوم شی چه وصیت کوونکے جنف یا اثم کوی نو د وصیت نه مخکښ ئے اصلاح اوکړی۔

جواب ۳:۔ وصیت کوونکے روستو د جنف او اثم نه رجوع اوکړی د خپل وصیت نه مخکښ د مرګ نه نو جنف او اثم معلق دے۔

۱۸۳ ربط:۔ د مخکښ آیت سره، قرطبی وئیلی دی چه هرکله مخکښ بعض فرائض (قصاص، وصیت) په مکلفینو باندے ذکر کړل نو اوس بله فریضه ذکرکوی په تعبیر د کُتِبَ سره۔ او ابوحیان وئیلی دی چه اول فریضه د قصاص ذکر شوه چه په هغے کښ هلاکت او مرګ د نفسونو دے او ډیر سخت حکم دے، بیا ئے وصیت ذکر کړو چه هغه مال راویستل دی او هغه پشان د روح د انسان دے او دا هم سخت کار دے نو اوس حکم د روژے ذکرکوی چه په هغے بدن کمزورے کیږی او دا هم سخت عمل دے نو دا تنزل دے د اشق نه شاق ته۔ دارنګ مخکښ په بِرّ کښ درے ارکان د اسلام ذکر شول چه ایمان، مونځ او زکوٰة دے نو اوس څلورم رکن ذکرکوی چه روژه ده۔ او ابن عاشور وئیلی دی چه روژه داسے عبادت دے چه تزکیه د نفس پیداکوی او په دے کښ اصلاح د افرادو ده فردًا فردًا او د دے افرادو نه اجتماعیت جوړیږی نو دا حکم ئے په احکام سیاسیه اجتماعیه کښ د دے وجے نه شمار کړے شوے دے۔ او په دے سره امن د نفسونو هم راځی په روحانی طریقے سره۔ په دے آیت کښ د روژے فرضیت ذکر دے او ورسره د هغے فائدے په اختصار سره ذکر دی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا، دا جمله دلالت کوی چه روژه نیول مقتضا د ایمان ده۔ كُتِبَ، د قصاص او صوم په باره کښ ئے كُتِبَ په صیغه د مجهول سره ذکر کړے دے اګرچه د دے فاعل معلوم دے چه الله تعالیٰ دے

لیکن دا د تکلیف او مصیبت کار و نه دی نو صراحتاً نسبت یې الله تعالیٰ ته مناسب نه دے او هر کله چه رحمت او غلبه ورکول او ایمان د خیر کار و نه او د ظاهري خوشحالئ سببونه دی نو د هغې نسبتونه صراحتاً الله تعالیٰ ته کړے شوی دی لکه په سورۃ انعام ۱۲۵، سورۃ مجادله ۲۱، ۲۲ کښ دی.
سوال:- سورۃ مائده ۴۵ کښ د قصاص نسبت په صیغه د معلوم سره کړے شوے دے؟
جواب:- هلته خطاب یهودیانو سره دے نو د هغوی د مغضوبیت د وجے الله تعالیٰ ځان ته د ترهیب د پاره نسبت صریحي کړے دے.
الصِّيَامُ، په لغت کښ بند ېدل دی د یو څیز نه او اودریدل په یو ځائے باندے. او په شریعت کښ بند ېدل او منع کیدل دی د خوراک، څښکاو جماع (مفطرات) نه سره د علم نه په صوم باندے او سره د نیت نه د طلوع د صبا نه تر غروب د نمر پورے. كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ، په دے تشبیه کښ دوه قولونه دی اول دا چه تشبیه صرف په فرضیت کښ ده او فائده د تشبیه دا ده چه روژه د مشقت عبادت دے، نو کله چه ذکر شوه چه دا فریضه په مخکنو اُمتونو باندے هم وه نو په دے سره مشقت آسان شو- دویم قول دا چه دا تشبیه په شمار کښ ده او په دیکښ ډیر اقوال دی- اول قول دا چه دا درے ورځے دی چه هغې ته ایام بیض وئیلے شی (د میاشتے دیارلسم، څوارلسم او پنځلسم تاریخ) او بیا منسوخ شوی دی په روستو آیت سره- دویم قول دا چه دا عین رمضان دے چه فرض وو په یهودیانو او نصارا وُ باندے لیکن نصارا وُ په کښ د ځان نه زیاتے اُوکړو او پنځوس ورځے تر ینه جوړے کړے- او مراد د الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ نه ټول اُمتونه دی د آدم علیه السلام نه تر آخري نبی او اُمت پورے- یعنی هیڅ دین سماوي د عبادت د روژے نه خالی نهٔ وو لکه چه حدیث د بخاري کښ راغلی دی بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ یعنی هره زمانه کښ د هر نبی دین، دینِ اسلام وو او بُنیاد یئې دغه پنځه فرائض وو چه یو په هغې کښ روژے د رمضان دی- او بعض مفسرینو وئیلی دی چه مراد د مِنْ قَبْلِكُمْ نه یهود او نصاری دی. لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ، دا حصول د پرهیزګاري فائده ده د روژے نیولو- او ابن حاجب وئیلی دی

أَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ۭ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ

ورځې دی شمارلے شوے، نو څوک چه وی ستاسو نه

مَّرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ

نا جوړه یا دی په سفر باندے (او بیا روژه نه شی نیولے) نو په دغه بانده شمارل دی د ورځو

اُخَرَ ۭ وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ

نورو نه (دپاره د قضا)، او په هغه کسانو باندے چه طاقت د روژے نه لری فدیه ده

طَعَامُ مِسْكِيْنٍ ۭ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا

چه خوراک د مسکین دے (د یو ورځے دپاره)، نو چا چه اخلاص سره اوکړو نیک کار

فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ ۭ وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ

نو دا دیره فائده مند ده دپاره د هغه، او روژے نیول ډیر خیر دے تاسو دپاره

اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿١٨٤﴾ شَهْرُ رَمَضَانَ

که چرے تاسو علم لرئ۔ (دغه ورځے) میاشت د رمضان ده

چه مراد د دے نه تقوی ده د ګناهونو نه ځکه چه روژے سره نفس د شهواتو نه بچ شی او ګناهونه خو په شهوت سره پیدا کیږی. او حدیث کښې هم د دے تائید شته دے چه اَلصَّوْمُ جُنَّةٌ (روژه ډال دے د ګناهونو نه) او بل حدیث کښې وارد دی چه چا دروغ وئیل او نا کاره عمل په روژه کښې نه وی پریښودلے نو د دهٔ په صرف خوراک او څښکاک پریښودلو باندے الله تعالی هیڅ پروا نه کوی۔

۱۸۴ په دے آیت کښې د روژے مدت ذکر کوی، بیا د روژے د رخصت دپاره عذرونه او حکم د فدیے ذکر کوی۔ اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ، د دینه مخکښې فعل (صوموا) پټ دے۔ او څوک چه وائی چه دا نصب (زور) د وجه د الصیام نه دے نو ابوحیان په هغے باندے رد کړے دے۔ او لفظ د معدودات دپاره د لږوالی دے ځکه چه لږ څیز شمارلے کیږی۔ او بله معنی د معدودات دا ده چه تقدیر کړے شوے دے په خاص عدد (شمار) سره۔ او د

ایام معدودات په بار کښې د بعض مفسرینو وینا داده چه د دیته د رمضان د میاشتې ورځې مراد دی چه په لفظ د شهر رمضان سره د هغې بیان دے او تعبیر په لفظ د اَیَّامًا مَّعۡدُوۡدٰتٍ سره د دے حکم د دروند والی د دفع کولو د پاره دے۔ فَمَنۡ کَانَ مِنۡکُمۡ مَّرِیۡضًا، مراد د مرض نه هغه مرض دے چه ضرر او تکلیف په نفس کښې په هلاکت سره او په زیادت د مرض پیښ اکولو سره وی۔ یا ماهر طبیب، ډاکټر چه دیندار وی هغه یې د روژې نیولو نه منع کړی (نیشاپوری)۔ اَوۡ عَلٰی سَفَرٍ مراد د سفر نه سفر شرعی دے او هغه په نیز د دریے اماما نو رشافعی، مالک او احمد رحمهم الله شپاړس[۴۸] فرسخه دے (څلور بریده) او هر فرسخ درے میله دے نو اته څلویښت میلونه شول۔ او میل دولس زره قدمونه یعنی د خپو د تلو په مقدار نو څلور زره عرفی قدمونه یعنی گامے شوے چه هغې ته څلور زره خطوات وئیلے شی۔ او په نیز د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه درے ورځے منزل کول دی او لفظ د علی د پاره د تصریح دے په کولو د سفر باندے ځکه چه لفظ مسافر هغه چا ته هم وئیلے شی چه د سفر اراده لری او سفرئے لا نه وی شروع کړے نو داسے شخص له رخصت نیشته (او په دیکښې اختلاف شته دے) فَعِدَّةٌ مِّنۡ اَیَّامٍ اُخَرَ، لفظ عدت ئې وئیلے دے او صیام ئې نه دے وئیلے دا دلیل صریح دے چه برابر والے د قضا په شمار د ورځو کښې ضروری دے۔ لفظ د اُخَرَ ئې نه دے وئیلے بلکه لفظ د اُخَرَ ئې وئیلے دے، دے د پاره چه اشاره شی چه دا صفت د عدت نه دے بلکه صفت د ایام دے۔ دا دلیل دے چه په قضا روژو راوړلو کښې پرله پسے والے او زر نیول شرط نه دے او په روستو کولو کښې ئې کفاره هم نیشته (تو په دے مسئله کښې هم اختلاف شته دے) - وَعَلَی الَّذِیۡنَ یُطِیۡقُوۡنَهٗ فِدۡیَةٌ طَعَامُ مِسۡکِیۡنٍ، په دے جمله کښې د مفسرینو دوه قولونه دی اول قول امام بخاری د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت کړے دے چه دا په اول د اسلام کښې وو چه روژه فرض شوه لیکن سره د روژے نیولو د طاقت نه اجازت وو چه څوک روژه نه نیسی نو د هغې په فدیه کښې د مسکین ته طعام ورکړی لیکن دا حکم منسوخ شو په روستو آیت سره چه فَمَنۡ شَهِدَ مِنۡکُمُ الشَّهۡرَ فَلۡیَصُمۡهُ، نو بنا په دے قول یُطِیۡقُوۡنَهٗ په ظاهری معنیٰ سره دے۔ دویم قول

د ابن عباس او علی رضی الله عنهم نه روایت دے چه دا په باره د ډیر بوډا (ضعیف) نارینه او بوډئ زنانه کښ دے. او هغه مریض چه د جوړیدلو امید ئے نه وی (ابوحیان) او ملحق ده په دے پورے حامله او مرضعه زنانه هم چه په ځان یا په بچی باندے یره لری. دا رنګ هر هغه څوک چه د روژے نیولو په وجے سره د سختے بیمارئ او د هلاکت یره وی (ابن عاشور) لیکن په باره د بوډا کانو او دائمی مریضانو کښ احنافو په تیز باندے قضا راوړل دی او په فدیه کښ ئے اختلاف دے.

سوال: په روستو قول باندے خو يُطِيقُوْنَهٗ صحیح کیږی ځکه چه په دوی کښ خو طاقت نیشته؟

جواب:- په دریو طریقو سره دے. اوله طریقه دا ده چه په دیکښ (لا) پټ دے لکه سورة نساء ۱۷۶ کښ. دویمه طریقه: اطاق یطیق باب افعال دے او په دیکښ همزه د سلب د پاره ده یعنی چه طاقت ئے سلب شوے وی. دریمه طریقه دا ده چه طاقت لفظ په هغه ځائے کښ استعمالیږی چه قدرت د یو کار وی خو سره د ډیر مشقت نه (آلوسی). او طاقت د قدرت هغه درجه ده چه عجز ته نیژدے وی (ابن عاشور) او فراء بغوی هم تفسیر د طاقت په جهد او مشقت سره کړیدے. او تائید د دے یل قراءت دے د ابن عباس رضی الله عنهما نه چه وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطَوَّقُوْنَهٗ فَلَا يُطِيْقُوْنَهٗ او دا قراءت په طریقه د تفسیر سره دے په دے توجیها تو سره ضمیر د يُطِيْقُوْنَهٗ روژے ته راجع دے او فراء په معانی القرآن کښ ویلی دی چه ضمیر فدیه ته راجع دے ځکه چه فدیه مذکر دے په تاویل د طعام سره او مبتدا مؤخر ده او عَلَى الَّذِيْنَ خبر مقدم دے. نو په دیکښ اشاره ده چه څوک د مسکین د طعام طاقت لری نو په هغه باندے فدیه واجب ده. او په قول د امام شاه ولی الله دهلوی په دے توجیه سره اشاره ده صدقه فطر ته چه هغه واجب ده. فدیه: په اصل کښ هر هغه بدل ته ویلے شی چه قائم وی د یو څیز په ځائے باندے او جزاء ته هم ویلے شی. او طعام په معنی د اطعام (خوړولو) سره دے او دا بیان د فدیے دے او په لفظ مسکین سره مصرف د فدیے ذکر دے او هغه په نیز د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه نیم صاع د غنمو دے او د

الَّذِیْٓ اُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًی

دا هغه میاشت چه شروع شوی دے په هغې کښې نزول دَ قرآن هدایت دے

لِّلنَّاسِ وَبَیِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰی وَالْفُرْقَانِ ۚ

دَپاره دَ ټولو خلقو او ښکاره احکام دی دَ تیر شوی هدایاتو دَ قسم نه او دَ جدا ایښی راوستلو په مینځ دَ حق او باطل کښې

فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْیَصُمْهُ ؕ

نو څوک چه حاضر شو ستاسو نه دے میاشت ته نو روژه دِ اونیسی دَ هغې ،

وَمَنْ كَانَ مَرِیْضًا اَوْ عَلٰی سَفَرٍ

او څوک چه دی ناجوړه یا دی په سفر باندے

فَعِدَّةٌ مِّنْ اَیَّامٍ اُخَرَ ؕ یُرِیْدُ اللّٰهُ

نو په ده باندے شماره کول دی دَ ورځو نورو نه ، غواړی الله تعالیٰ

نورو طعامونو نه پوره صاع دے- او په قول دَ ابن عباس رضی الله عنهما کښې دوه وخته خوراک ورکول مراد دی (معالم التنزیل)-

فَمَنْ تَطَوَّعَ خَیْرًا فَهُوَ خَیْرٌ لَّهٗ ، مراد دَ دے نه په قول دَ مجاهد سره زیادت دے په یو مسکین باندے یعنی دوه مسکینانو ته دِ دوه فدیئے ورکړی- او په قول دَ زهری باندے دَ فدیئے سره دے روژه یوځائے کړی لیکن تَطَوَّعَ لفظ دلالت کوی په هغه عمل چه اخلاص سره اوکړے شی او خیر نه مراد هغه عمل دے چه په دلیل شرعی سره ثابت وی- وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَیْرٌ لَّكُمْ ، بنا په قول دَ نسخ باندے معنیٰ دا ده چه سره دَ طاقت نه روژه نیول غوره دی دَ صرف فدیئے ورکولو نه- او بنا په دویم قول چه یو ډاکان او حامله او مرضعه زنانه سره دَ مشقت نه روژه اونیسی نو دا غوره ده دَ روژے نه نیولو او فدیئے ورکولو نه- او امام رازی وئیلی دی چه دا خطاب عام دے ټولو مسلمانانو ته دَ روژے ترغیب دے-

اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ، جزاء ئے پټه ده چه فَالصَّوْمُ خَیْرٌ لَّهٗ (روژه نیول غوره ده هغه دَپاره)-

يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ز

په تاسو باندے آسانتیا او نه غواړی په تاسو باندے تنګسیا

وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ

او دے دپاره چه پوره کړے شماره او دے دپاره چه لوئی اواځے د الله تعالیٰ

عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿۱۸۵﴾

په هغه طریقے سره چه هدایت ئے کړے دے تاسو ته او دے دپاره چه تاسو شکر ادا کړئ۔

۱۸۵ او په دے آیت کښ تعین د میاشت د روژے دے او د هغے (رمضان) عظمت ذکر کوی۔ او فرضیت د روژے د دغه میاشتے په علم (معلومیدلو) سره دے۔ او رخصت دے په وخت د مرض او د سفر کښ سره د فرضیت د قضا نه۔ او په دے آیت کښ سره د دغے حکمونو نه نور حکمتونه الٰهیه ذکر کوی۔ شَهْرُ رَمَضَانَ، په دے کښ ډیر اقوال دی، اول قول د فراء بغوی دے چه دا خبر دے او مبتداء پټه مراد ده یعنی ذالکم شهر رمضان او په ذالکم سره اشاره ده ایامًا معدودات ته نو په دے سره تقدیر (اندازه کول) د ایام اوشو په میاشت د رمضان سره۔ او په نیز د اخفش المکتوب علیکم صیام شهر رمضان دے یعنی فرض کړے شوی دی په تاسو باندے روژے نیول د میاشت د رمضان او دویم قول د کسائی دے چه دا بدل دے د الصیام نه چه په اول د آیت کښ ذکر دے۔ دریم قول د ابوعلی فارسی دے چه شَهْرُ رَمَضَانَ، مبتداء ده او الَّذِيٓ أُنْزِلَ اه جمله د دے صفت دے او خبر ئے پټ دے یعنی هو الذی فُرِضَ عَلَيْكُم صَوْمُهٗ (دا هغه میاشت ده چه فرض کړے شویده په تاسو باندے روژه نیول د هغے)۔ څلورم قول د بعض نحویانو مفسرینو دا دے چه دا مبتداء ده او الَّذِيٓ أُنْزِلَ فِيهِ ئے خبر دے۔ رَمَضَانَ، په حساب شرعی د هلال (سپوږمئ) سره داتوم دے د دغه میاشت۔ او دا د رمض نه اخستلے شویدے۔ رمض سوزیدلو ته وئیلے شی نو په دے میاشت کښ په مختلف عبادا تو سره ګناهونه سوزی۔ دا رنګ په وخت د توم کیښودلو کښ په دے میاشت کښ ډیره ګرمی وه۔ او بعضو وئیلی دی چه رمض

هغه یاران ته وئیلې شي چه زمکه ډ دو یوته پاکوي تو داسې ډ رمضان میاشته روژې زړه تو لره ډ ګناهو نه پاکوي (اللباب). او لفظ ډ شهر دلالت کوي چه مراد ډ دے نه ټولے ورځے ډ دے میاشتے دي ځکه چه لفظ شهر احاطه کوي په ټولو ورځو ډ میاشت باندے. اَلَّذِیٓ اُنۡزِلَ فِیۡهِ الۡقُرۡاٰنُ، په دے جمله کښې مراد اظهار ډ فضیلت ډ دے میاشتے دے- او مناسبت ډ دے میاشتے ډ قرآن سره دا دے چه مقصد په قرآن کښې هدایت او صفائي (تزکیه) ډ مؤمنانو ده ډ ګمراهئ او ډ ګناهو نه او په روژے سره هم ډ زړونو طهارت حاصلیږي نو دواړه اسباب ډ طهارت په دے میاشت کښې جمع شوي دي.

اُنۡزِلَ، سوال:- صحیح روایاتو سره ثابت دي چه قرآن کریم په درویشت کالو کښې نازل شوے دے او دلته وائي چه په رمضان کښې نازل شوے. جواب:- دلته ډ انزال نه مراد ابتدا ډ نزول ده یعنی نزول شروع شوے په رمضان میاشت کښې دے، او دا قول ډ محمد بن اسحاق دے- او ډ سفیان بن عُیینه قول دے چه مراد ډ دے نه انزال ډ قرآن دے په باره ډ فضیلت ډ رمضان کښې. او ابن الانباري وئیلي دي چه ډ دے نه مراد انزال دے په باره ډ فرضیت ډ رمضان کښې. سوال ۲:- او په سورة القدر کښې دي چه قرآن په شپه ډ قدر کښې نازل شوے دے؟.

جواب:- ډ دے دواړو تعارض نیشته. ډ ابن عمر رضی الله عنهما روایت دے چه دا دلیل دے چه لیلة القدر په میاشت ډ رمضان کښې ده - او هرچه روایت ډ نازلیدلو ډ قرآن دے په یوځل سره ډ لوح محفوظ نه آسمان ډ دنیا ته او بیا ډ آسمان نه زمکے ته په دیرویشت کالو کښې نو ډ دے تفصیل په سورة القدر کښې اوکړو.

اَلۡقُرۡاٰنُ، دا لفظ په قرآن کښې اته پنځوس کرته ذکر دے. او قرآنًا نکره لس کرته او قرآنهٗ دوه کرته ذکر دے. دا لفظ په اکثرو ځایونو کښې نوم دے ډ دے کتاب اطلاق یې په ټول او لږ دواړو باندے کیږي شي او کله کله په معنیٰ ډ نفس قراءت باندے استعمالیږي لکه قُرۡاٰنَ الۡفَجۡرِ (سورة اسراء کښې دا معنیٰ ده) اکثر اهلِ علمو وئیلي دي

چه قرآن لفظ دَ قَرْءٌ نه اخستلے شوییں ے او قرء په لغت کښ جمع کولو ته وئیلے شی او قرآن هم سورتونه او آیتونه دَ یو بل سره جمع کړی دی او احکام، قصص، مثالونه او دلائل په توحید دَ الله تعالیٰ او په صدق دَ آخری نبی صلی الله علیه وسلم ئے راجمع کړی دی۔ او خازن دَ امام شافعیؒ نه نقل کړی دی چه قرآن مهموز نه دے یعنی دَ قرءِ نه ماخوذ نه دے نو بعض علماؤ وئیلی دی چه دَ قَرَنٌ نه اخستلے شوے دے په معنی دَ یو ځائے کولو سره۔ او قرطبی وئیلی دی چه قرآن په معنیٰ دَ مقروء دے او نوم دے دَ کلام دَ الله تعالیٰ او مخلوق نه دے۔ او اتفاق دَ اهلِ سنت والجماعت (سلف صالحینو) دا دے چه دا قرآن مسموع، متلوء او مقروء دے لفظًا او حرفًا کلام الله دے۔ او چا چه دا قول کړے دے چه کلامِ لفظی قرآن نه دے بلکه کلامِ نفسی قرآن دے نو دا قول او تقسیم بدعت دے او خلاف دے دَ عقیدے دَ سلفو صالحینو نه او نور تفصیل او تحقیق په کتابونو دَ عقیدے دَ سلفو صالحینو کښ موجود دے۔ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ، دا ذکر دَ عظمت دَ قرآن دے په دوو اوصافو سره اول هُدًى او مراد په دے سره هدایتِ عامه دے دَ عقائدو او احکامو۔ دویم وصف وَبَيِّنَاتٍ دے دا عطف دَ خاص دَ په عام باندے دَ وجے دَ اهمیت او اشرفیت دَ بینات نه۔ یعنی هدایت کښ بعض خفی دے او بعض جلی دے نو په بینات کښ جلی هدایت مراد دے چه هغه حلال وحرام او مواعظ واضحه دی او مِنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ ټولو کتابونو الٰهیو ته اشاره ده او قرآن دَ هغے نه بعض دے۔ نو دَ اول هُدًى نه مراد هدایت دَ قرآن دے او دَ دویم نه مراد هدایت دَ مختلفو کتابونو دے یا دَ اول نه مراد اصول او عقائد دی او دَ دویم نه مراد فروع او احکام دی او الفرقان کښ اشاره ده هغه دلیلونو ته چه دَ حق او باطل جدائی راولی۔ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ، هرکله چه عظمت دَ رمضان دَ میاشت ذکر شو نو اوس ادا دَ حق دَ هغے ذکر کوی دَ دے وجے نه ئے "فا" ذکر کړے ده۔ شَهِدَ په معنیٰ دَ حَضَرَ دے یا په معنیٰ دَ عَلِمَ دے لیکن په معنیٰ دَ رائ (لیدلو) سره نه دے دَ دوه وجونه اوله وجه دا چه دَ لیدلو

دَپاره شاهِدًا استعماليږي شَهِدَ ته استعماليږي. دويمه وجه داچه بناء په دے معنیٰ (رأ ی) په ليدل کَ سپوږمئ دَ هر يو شخص دَ پاره شرط شي او دا شرط ممکن نه دے. هر کله چه شَهِدَ په معنیٰ دَ حَضَرَ شي نو اَلشَّهْرَ مفعول فيه دے يعني څوک چه حاضر وي په دے مياشت کښ په خپل کور او مقام کښ او نور شرعي عذر ونه يې نه وي. او چه په معنیٰ دَ عَلِمَ شي نو اَلشَّهْرَ مفعول بِهٖ به په تقدير دَ دخول الشهر يا حلول الشهر سره وي. او په حديث (صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته) کښ رؤيت په معنیٰ دَ عَلِمَ سره دے او علم (خبريدل) دَ مياشتے خو برابره خبره ده که په خپلو ليدلو سره وي او که دَ بل عادل شخص او شاهد په ليدلو سره وي او برابره خبره ده که دا ليدل په هر ځائے کښ شوي وي يا په يو علاقه کښ ليدل اُوشي او نورو علاقو والو خلقو ته صحيح خبر اُورسيږي، نو ظاهر دَ آيت او حديث په دے باندے دليل دے اګرچه په ديکښ دَ ابن عباس رضی الله عنهما دَ روايت دَ وجے نه اختلاف شته. او هغه دلالت کوي په اعتبار دَ اختلاف مطالعو باندے. تفصيل يې دَ احکامو په کتابونو کښ اُوګورئ.

وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ، سوال راځي چه دا جمله خو مخکښ آيت کښ تيره شوے ده؟

اول جواب دا دے چه مخکښ آيت کښ دَ ايام معدودات نه دَ ايام بيض روژے مراد وے رمضان نه وو مراد نو دَ هغے سره يې دغه عذر ذکر کړو. او دلته روژه دَ رمضان ذکر شوه نو بيا يې دا جمله ذکر کړه. دويم جواب دا دے چه هلته دَ ايام نه مراد رمضان وو ليکن هر کله چه فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الخ عام ذکر شو نو وهم راغے چه دا به مريض او مسافر ته هم شامل وي نو دَ دے وهم دَ دفع کولو دَ پاره يې دا رخصت دوباره ذکر کړو، او دَ اختصار دَ پاره يې دلته مِنْكُمْ ذکر نکړو. دريم جواب: روستو علتونه ذکر کول مقصد وو نو دَ دے وجے نه يې معلول دوباره ذکر کړو چه بيان دَ علتونو نه تر دے شي.

يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ، هر کله چه دلته احکام پنځه وو اول سقوط دَ فرضيت دَ ادا دَ مسافر او مريض نه. دويم تخصيص

دَ ورځو نه کول دَ قضا روژو را ورلو دَ پاره۔ دریم فرضیت دَ قضا روژو موافق دَ ورځو دَ ادا ربا تے شوی سره۔ څلورم حکم فرضیت دَ نفس قضا راورلو۔ پنځم پابندی کول دَ دے احکامو۔ نو دَ دے په ترتیب سره یئے دَ دے علتونه ذکر کړل چه یُرِیْدُ اللّٰهُ آه دَ اول حکم علت دَے۔ وَلَا یُرِیْدُ بِکُمْ آه دَ دویم حکم علت دے۔ وَلِتُکْمِلُوا الْعِدَّةَ دَ دریم حکم علت دے۔ وَلِتُکَبِّرُوا اللّٰهَ دَ څلورم او وَلَعَلَّکُمْ تَشْکُرُوْنَ دَ پنځم حکم علت دے۔

سوال:۔ دَ دے نه معلومیږی چه یُسر (آسانتیا) دَ بندګانو دَ الله تعالیٰ په اراده سره دے او عُسر دَ دوی دَ الله تعالیٰ په اراده سره نه دے۔ او داخو خلاف دے دَ قول دَ الله تعالیٰ وَمَا تَشَاءُوْنَ اِلَّا اَنْ یَّشَاءَ اللّٰهُ نه او دَ نورو آیتونو دَ عموم دَ ارادے الٰهی نه؟۔

جواب:۔ دلته په اراده کښ مراد صرف مشیت نه دے بلکه په احکامو، اوامرو او نواهیو کښ یُسر او عُسر مراد دے یعنی الله تعالیٰ بندګانو ته دَ ګران کارونو تکلیف نه ورکوی بلکه دَ آسان کارونو حکم ورکوی په دلیل دَ لَا یُکَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا (سورة بقره ۲۸۶) سره۔

وَلِتُکْمِلُوا الْعِدَّةَ، دا معطوف دے په ماقبل جملے پاندے یعنی لِتُیَسِّرُوْا وَلَا تُعَسِّرُوْا۔

وَلِتُکَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰی مَا هَدٰکُمْ، عَلٰی په خپله معنیٰ سره دے او لفظ دَ حامدین پټ مراد دے۔ یا عَلٰی په معنیٰ دَ لام دَ علت دے او ما مصدریه دے یا موصوله دے۔ په دے تکبیر کښ دوه قولونه دی۔ اول دا چه مراد دَ دے نه دَ اخترونو تکبیرات دی په شپه او ورځ دَ اخترونو کښ او روستو دَ مونځونو دَ اخترونو نه، سرهٔ دَ اختلاف دَ اماماتو نه۔ دویم قول، مراد دَ تکبیر نه تعظیم دَ الله تعالیٰ دے۔ مَا هَدٰکُمْ کښ اشاره ده چه طریقه او الفاظ دَ تکبیر او تعظیم په موافق دَ شریعت سره وی په مبتدعو ځان نه جوړشوی طریقو او الفاظو سره به نه وی۔

وَلَعَلَّکُمْ تَشْکُرُوْنَ، مراد دَ شکر نه عمل کول دی په احکامو دَ الله تعالیٰ په اخلاص دَ نیت سره بغیر دَ ریا او سُمعت نه۔

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ

او کوم وخت چه تپوس او کړی ستا نه بندګان زما په باره زما کښ نو یقینًا زۀ نزدے یم،

أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي

قبلوم دُعا د دعا کوونکی کله چه زما نه دعا غواړی نو زما احکام د پوره قبول کړی

وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾

او یقین د او ساتی په ما بانډے د دے د پاره چه دوی مقصد ته او رسیږی۔

۱۸۶ په دے آیت کښ اشاره ده چه روژه سبب د قربت الٰهی او سبب د اجابت د دُعا دے۔ د دے وجے نه د روژے د افطار په وخت کښ د دُعا کولو ترغیب په احادیثو کښ موجود دے۔

ربط:۔ د دے آیت د مخکښ سره په یو څو وجو دے۔ اوله وجه دا چه هر کله مخکښ آیت کښ تکبیر او شکر ذکر کړے شو او هغه سبب د قربت د خاص بندګانو دے الله تعالیٰ ته نو اوس د هغے بدله ذکر کوی چه هغه قربت د الله تعالیٰ دے بندګانو ته یعنی اول سبب دے د پاره د قربت او اجابت د الله تعالیٰ لکه چه صحیح حدیث کښ وارد دی چه څوک الله تعالیٰ ته یو لیشت نزدے کیږی نو الله تعالیٰ ورته یو ذراع نزدے کیږی (الحدیث) دویمه وجه دا چه اول ئے امر د تکبیر و کړو نو اوس رغبت د دُعا ورکوی، اشاره ده چه د دُعا نه مخکښ ذکر او ثناء د الله تعالیٰ پکار ده۔ دریمه وجه دا ده چه هر کله په روژه کښ د تنشی یی د حکم د وجے نه د بعض صحابه کرامو نه مخالفت صادر شوے وو او بیا هغوی پښیمانه شول او توبه ئے او ویستله نو الله تعالیٰ خبر ورکړو په دے آیت سره د توبے د قبولیت د هغوی او د نسخ د تنشی یی۔ نو دا تمهید دے د پاره د روستو آیت۔

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي، د دے تپوس په باره کښ ډیر اقوال دی د مفسرینو۔ اول قول هغه دے چه په ربط کښ دریمه وجه ذکر شوه۔ دویم قول فراء بغوی د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیدے چه دا د یهودو په جواب کښ دے چه هغوی وئیل چه الله تعالیٰ

وپیر لرے دے په آسمانونو کښې دے نو څه رنګ دُعا ګانے آوری. دریم قول ابن جریر او ابن کثیر ذکر کړیں دے چه یو یا تړه چې دَ نبي صلی الله علیه وسلم نه تپوس اُوکړو چه رب زمونږ نژدے دے چه په پټه ورته دعا پیش کوو او که لرے دے چه چغے ورته اووهو. څلورم قول ابن جریر دَ قتادة نه نقل کړے دے چه صحابه کرامو تپوس کړے ووچه دَ رب نه دُعا په څه طریقے سره اُوغواړو نو دا جواب اُوشو.
پنځم قول دَ عطاء نه روایت دے چه دوی تپوس کړے وو چه په کوم وخت کښې دُعا غواړو. شپږم قول دَ حسن بصری نه روایت دے چه صحابه کرامو تپوس کړے ووچه رب زمونږ کوم ځائے دے. خو غوره خبره دا ده چه دا آیت دے ټولو اقوالو ته شامل او عام دے. او دا آیت جواب دے دَ دغه ټولو سوالونو.
فَإِنِّي قَرِيبٌ، دا سببے اُوته وئیل چه قُلْ لَّهُمْ (دوی ته اووایه) دا دَ کلام دَ اختصار دَ پاره او دَ زیات اطمینان ورکولو دَ پاره دے ګویا چه الله تعالیٰ پخپله جواب ورکوی دَ زیادت قرب دَ وجے نه. قَرِيبٌ، قریب صفت دَ الله تعالیٰ په درے آیتونو کښې راغلے دے اول دا آیت دے. دویم إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُّجِيبٌ (سورة هود ۶۱) دریم إِنَّهُ سَمِيعٌ قَرِيبٌ (سورة سبا ۵۰) او په صفت دَ نصرت الٰهی کښې په سورة بقره ۲۱۴ کښې، او صفت دَ رحمت الٰهی په سورة اعراف ۵۶ کښې، او اقرب صفت په سورة ق ۱۶ کښې او سورة واقعه ۸۵ کښې.
فائده:- قرب مشترک استعمالیږی په مکان، زمان، نسبت او رتبه، رعایت (حفاظت) او په قدرت کښې، نو قرب دَ الله تعالیٰ، هغه په اعتبار دَ علم او قدرت، سمع او اجابت سره دے. نو دلته قرطبی اجابت، علم او فضل کول ذکر کړی دی او خازن علم او حفظ ذکر کړیدی چه نه دے پټ په هغه باندے هیڅ څیز. او ابن جریر سمع او اجابت ذکر کړے دے. نو دا تاویل (مذموم) نه دے بلکه حمل دَ مشترک لفظ دے په یو معنیٰ باندے او دا سمے تحقیق په لفظ دَ معکم کښې هم شی.
او بعضو علماؤ وئیلی دی چه دا دَ متشابهاتو نه دے لیکن په دواړو قولونو سره، سره دَ فوقیت دَ الله تعالیٰ نه په عرش باندے هیڅ منافات

نه لری یعنی ذ عرش ذ پاسه دے او سره ذ هغے نه هر څیز ته ذ قرب صفت لری.

فائده ۲۸: دا ښکاره دلیل دے چه په ذکر ذ الله تعالیٰ او دُعا کښی جهر کول او چغے وهل ذ سنت نه خلاف کار دے او څوک چه دینته دین او ثواب وائی نو بدعت دے. او تائید ذ دے هغه حدیث ذ بخاری شریف دے چه دلته ابن کثیر او نورو مفسرینو ذکر کړے دے چه یا ایها الناس اربعوا علی انفسکم فانکم لا تدعون اصم ولا غائبا انما تدعون سمیعا بصیرا (اے خلقو په ځان باندے ترس اوکړئ ځکه چه تاسو آواز نه کوئ کوڼ او غائب ته بلکه تاسو خو آواز کوئ آوریدونکی او لیدونکی (ذات) ته نو هغه خلق چه بغیر ذ دلیل شرعی خاص نه ذکر، دُعا کانے او تکبیرونه په جهر سره کوی نو هغوی ذ دے آیت او حدیث مخالفت کوی.

أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ، دا صفت دے ذ قرب یا دویم خبر دے ذ اِنِّیْ ذ پاره. یا استیناف دے نو بیان دے ذ قربت الٰهیه. أُجِيبُ ذ اجابت نه اخستلے شوے دے او اجابت په لغت کښی مطلق جواب ورکولو ته ویلے شی که هغه په نعم (هاؤ) سره وی او که په لا (نه) سره وی. لیکن په عرف کښی خاص دے په اجابت ذ نعم سره. او فرق ذ اجابت او استجابت په مینځ کښی دا دے چه استجابت خاص دے په اجابت پوره کولو ذ مقصد سره یعنی چه څه څیز څوک غواړی نو هغه ورکړے شی. او اجابت عام دے که پوره مقصد حاصل شی یا نه. اجابت په قرآن کښی په باره ذ دُعا کښی په سورة ابراهیم ۴۴، سورة نمل ۶۲ او سورة یونس ۸۹ کښی ذکر دے او په باره ذ دعوت کښی په سورة قصص ۶۵، سورة احقاف ۳۱ او سورة مائده ۱۰۹ کښی ذکر دے. او استجابت په قرآن کښی اته ویشت کرته ذکر دے په دریو طریقو سره. اوله طریقه، دُعا قبلول په پوره مقصد ورکولو سره لکه په سورة آل عمران ۱۹۵، سورة انفال ۹، سورة یوسف ۳۴ او سورة انبیاء ۷۶، ۸۴، ۸۸، او ۹۰ کښی او نور آیتونه هم دی. دویمه طریقه پوره حکمونه منل لکه دا آیت او سورة آل عمران ۱۷۲، سورة

رعد ۱۴، سورة انعام ۳۶، سورة شورٰی ۲۶ او دغسې نور آيتونه.
دريمه طريقه دعوت قبلول دي لکه سورة انفال ۲۴، سورة اسراء ۵۲ اوسورة ابراهيم ۲۲.

دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ، دعوت، داع او إِذَا دَ عموم دَ پاره دي.

سوال: دَ دې عموم نه معلوميږي چه الله تعالیٰ دَ هرچا هره يوه دُعا قبلوي اوحال دا دې چه دَ بندګانو ډيرې دُعاګانې نه قبليږي؟

جواب ۱: اجابت درې قسمه دې اول دَ چا مقصد پوره کول، دويم دَ هغې اجر او ثواب ورکول او دريم دَ هغه نه بل مصيبت لرې کول. دا په حديث دَ مسند کښې دي او هغه ابن کثير په سند سره نقل کړې دې.

جواب ۲: دا مقيد دې په قيد دَ مشيئت الٰهي سره په دليل دَ سورة انعام ۴۱ او سورة اسراء ۵۴ سره. او دارنګ په نورو آيتونو کښې قيودات دي لکه تضرع او اخفاء (پټه وئيل) سورة اعراف ۵۵. او خوف، طمع کول سورة اعراف ۵۶. اضطرار او ډيره عاجزي کول سورة نمل ۶۲. او عدم اعتداء (دَ حد وډ شرعيه نه تجاوز نه کول) سورة اعراف ۵۵. دارنګ قيودات په احاديثو کښې هم دي. يعنې چه ګناه په کښې نه وي، او پريکول دَ صله رحمۍ په کښې نه وي، الحديث (احمد، ترمذي)، استعجال په کښې نه وي يعنې دُعا نه پريږدي په دې وجه سره چه زړ ولے نه قبليږي (صحيحين) يقين کول په اجابت دَ دُعا باندې (مسند احمد)، په خوراک څښاک اولباس کښې دَ حرام نه ځان ساتل (الحديث)، إِنْ شِئْتَ په نه وائي (بخاري، مؤطا) او دارنګ په اوقاتو دَ اجابت کښې به وي چه هغه وخت دَ پيشمني او دَ شپې آخري دريمه حصه ده او وخت دَ روژې ماتولو دې او په مينځ دَ اذان او اقامت کښې، په وخت دَ نزول دَ باران کښې، په صف دَ قتال في سبيل الله کښې، دَ جمعې دَ ورځې په يو وخت کښې اوچه په مکانونو دَ اجابت کښې وي چه هغه کعبه شريفه ده، اولاندې دَ ميزاب (پرنالے) دَ رحمت نه، حرم مکي او رياض الجنت او دغسې نور مکانونه او وختونه چه مفسرينو او محدثينو شمار کړي دي.

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ

حلال کړے شویدے ستاسو دپاره په شپه دَ روژه نیولو کښ یوځائے کیدل

إِلَىٰ نِسَآئِكُمْ ۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ

خپلو بیبیانو سره دوی جامه دہ ستاسو دپاره

وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ

او تاسو جامے یئ دَ دوی دَ پاره، عالم دے الله تعالیٰ چه یقیناً تاسو

نو آیا نو نه دَ دُعا دَ اجابت په دے قیودا تو سره مقید دی۔ او الله تعالیٰ غفور او عفو کریم دے کله بغیر دَ دے قیودا تو نه هم اجابت کوی۔
فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي، استجابت کښ معنیٰ دَ طلب ده یعنی طلب دَ اجابت دَ دُعا دِ ے کوی (ابن عطیه)۔ او مجاهد وئیلی دی چه دعوت دَ الله تعالیٰ (چه ایمان او اطاعت دے) هغه دِ پوره قبول کړی او په هغے کښ دغه تیر شوی قیودات ایجابی او سلبی داخل دی۔
وَلْيُؤْمِنُوا بِي، سوال:۔ لفظ دَ عبادی بلالت کوی چه دوی خو ایمان والا دی نو بیا ئے دا لفظ دَ څه دَ پاره ذکر کړو۔ او دارنګ فَلْيَسْتَجِيبُوا کښ که استجابت په ایمان سره مراد وی نو وَلْيُؤْمِنُوا خو تکرار دے او که استجابت په عملونو سره وی نو هغه خو دَ ایمان نه روستو دی؟۔
جواب:۔ مراد دَ دے نه په ایمان باندے دوام دَ استقامت دے یا ایمان او یقین کول په استجابت دَ دُعا باندے مراد دے۔ یا مراد دَ دینه کمال دَ ایمان دے په طاعا تو سره (بحر، اللباب)۔
لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ، ماده دَ رشد په قرآن کښ نو ولس کرته ذکر ده او رشد مصالح دَ دُنیا او دَ دین حاصلول دی۔ او کله دا صرف دَ مصلحت دُنیوی دَ پاره ذکر وی لکه سورۃ نساء ۵ او سورۃ هود ۷۸ کښ۔ او اکثر دَ مصلحت دُنیوی او دینی دواړو دَ پاره مستعمل راځی۔ دلته هم مراد دا دے چه په استجابت او ایمان سره دینی او دنیوی مصالح او منافع حاصلیږی۔ اشاره ده چه الله تعالیٰ دَ دے فائدے ته محتاج نه دے بلکه انسان او بنده محتاج دے۔

كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ

(زړونه) دے چه نقصان کښې هم اچولې ځان ځانونه خپل نو آسانتيا ئے راوستله په تاسو باندے

وَعَفَا عَنْكُمْ ۚ فَالْـٰٔنَ بَاشِرُوْهُنَّ وَابْتَغُوْا

او فراخي او کړه تاسو له، نو اوس يو ځائے کيږئ کوئ د بيبيانو خپلو سره او لټوئ

مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ ۠ وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى

هغه چه حلال کړے د الله تعالٰی تاسو لره، او خوراک کوئ او څکاک کوئ تر دے پورے

يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ

چه ښکاره شي تاسو ته تار سپين د تار

الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۠ ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ

تور نه د صبا نه، بيا پوره کړئ روژه

اِلَى الَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَاَنْتُمْ عٰكِفُوْنَ

تر شپے پورے او مه يو ځائے کيږئ د بيبيانو سره په داسے حال چه معتکف يئ

فِى الْمَسٰجِدِ ؕ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَقْرَبُوْهَا ؕ

په جماعتونو کښې ، دا ذکر شوے پولے مقرر د الله تعالٰی دی نو مه نزدے کيږئ دے ته په مخالفت کولو سره،

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۷﴾

دغسے بيانوي الله تعالٰی احکام خپل خلقو ته دے د پاره چه تقوٰی حاصله کړئ۔

۱۸۷ په دے آيت کښې د رمضان مبارک د شپے او د ورځے احکام ذکر کوي، چه د شپے رفث، خوراک څښکاک تر فجر پورے حلال دے او د فجر نه روستو تر ماښام (شپے) پورے دا درے واړه څيزونه منع دی۔

ربط:۔ د دے آيت اول د يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ سره دے۔ يعني په دے آيت کښې د دے امت سره يو آسانتيا ذکر کوی د روژے په باره کښې۔

دويم ربط ئے د فَلْيَسْتَجِيْبُوْا سره دے يعني په دے آيت کښې دا سے

احکام ذکر کړی چه دَ هغې استجابت ضروری دے۔ دریم ابو حیان ذکر کړی دی چه هرکله مخکښې ئې كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ ذکر کړے وو چه دَ هغې نه تشبیه دَ عدد، کتابت، شرطونو او نورو تکالیفو دَصوم ته اشاره وه - او دا رنګ اهلِ کتابو ته امر وو چه روستو دَ اُوده کیدلو دَ ماښام نه په تاسو خوراک څښکاک او جماع منع ده - او په ابتداء دَ اسلام کښې دا حکم په مسلمانانو باندے هم وو لیکن الله تعالیٰ دَ لطف او رحمتِ خاصه دَ وجے نه په دے آیت کښې دا حکم دَ دوی نه منسوخ کړو۔

سبب دَ نزول دَ آیت:- جمهورو مفسرینو او امام بخاری او ابو داؤد او نورو محدثینو وئیلی دی چه په اول دَ اسلام کښې چه هرکله روژه فرض شوه نو حکم دا وو چه ماښام افطار کوئی لیکن دَ ماسخوتن دَ مونځ نه روستو یا دَ اُوده کیدلو نه روستو په دوی باندے خوراک څښکاک او جماع حرام وه لیکن دَ بعضِ صحابه کرامو لکه (عمر او کعب انصاری رضی الله عنهما) نه دَ دے حکم خلاف اُوشو په خطایئی اجتهادی سره او قیس بن صرمه رضی الله عنه دَ دوه ورځو او شپو دَ مسلسل خوراک نه کولو دَ وجے نه بے هوشه شو نو الله تعالیٰ دغه حکم په دے آیت سره منسوخ کړو او په دے اُمت باندے ئې تخفیف او آسانتیا راوستله او ابو مسلم اصفهانی وئیلی دی چه دا حکم په شرع دَ نصرانیت کښې وو لیکن زمونږ په شریعت کښې منسوخ شو لیکن دَ لفظ دَ اُحِلَّ او تَخْتَانُونَ دَ دلالت نه معلومیږی چه دا قول ضعیف دے۔

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ، مراد دَ دے نه هره شپه دَ روژے دَ میاشت ده۔ هرکله چه دَ روژے نیت دَ شپے نه کیږی دَ دے وجے نه دَ لیله اضافت ئې الصیام ته اوکړو۔ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ، لفظ دَ إِلَىٰ ئې دَ دے وجے نه راوړو چه په دیکښې معنیٰ دَ افضاء (وررسیدلو) مراد ده۔ رفث په اصل کښې فحش کلام ته وئیلے شی۔ او زجاج دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړے دے چه رفث یو جامع کلمه ده دَ پاره دَ هر هغه قول او فعل چه انسان ئې دَ خپل اهل نه غواړی او شرط په کښې دا دے چه په حضور دَ اهل (ښځه) کښې وی او رفث جماع ته هم وئیلے شی۔

فائده:- په کلام دَ الله تعالیٰ کښې دَ جماع ته په کنایاتو راو مهذب کلماتو سره تعبیرونه شوی دی لکه افضاء، تغشاها، لا مستم، دخلتم بهن، فأتوا حرثکم، تمسوهن، استمتعتم بهن، لاتقربوهن۔ او دَ هر ځائې مناسبت سره دغه الفاظ راوړلے شوی دی۔ دلته دَ لفظ رفث راوړلو دَ پاره مفسرینو داوجه ذکر کړې ده چه په وخت دَ حرمت کښې داعمل شوے وو نو په دیکښې په یو وجے سره قباحت موجود دے او لفظ هم په قباحت باندے دلالت کوی۔

هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ، دا دَ أُحِلَّ لَكُمْ دَ پاره اول علت دے۔ په تشبیه دَ ښځے خاوند دَ لباس سره ډیر وجوهات دی۔ اوله وجه داچه لکه څه رنګه چه لباس او بدن یو بل سره نوښت او لازم وملزوم دی داسے زوجین هم دی۔ دویمه وجه داچه لباس بدن لره پټوونکے دے نو دا رنګ ښځه خاوند دَ یو بل دَ پاره پرده ده دَ فحش کارئ او بدنامئ نه۔ دریمه وجه: دَ مجاهد قول دا دے چه په لباس کښې دَ بدن دَ پاره سکون او آرام وی نو دغه شان ښځه خاوند هم دَ یو بل دَ پاره دَ تسکین او آرام سبب وی۔ څلورمه وجه: قول دَ ربیع دے چه ښځه په شان دَ فراش (تولاڼ) او خاوند په شان دَ لحاف (بړستنې) دے۔ نو هر کله چه دا دواړه دَ یو بل سره پوره ارتباط لری او یو بل ته محتاج دی، نو دَ دوی دَ پاره هر کله چه دَ وړځے ممانعت وو نو دَ دغه وجوهاتو دَ وجے نه دَ شپے اباحت ضروری شو۔ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ، دا دَ أُحِلَّ لَكُمْ دَ پاره دویم علت دے۔ یعنی دَ خیانت (ګناه) نه دَ بچ کولو دَ پاره الله تعالیٰ په دے حکم کښې تخفیف او فراخی راوستله أَنفُسَكُمْ په معنیٰ دَ یو بل په نقصان او ګناه کښې اچولو دے لکه دَ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ په شان یا په معنیٰ دَ خپلو ځانو نو دے چه هر یو خپل ځان په ګناه کښې اچوی۔ تَخْتَانُونَ، دَ خیانت نه اخستے شوے دے په اصل کښې په امانت کښې دَ نقصان کولو په معنیٰ باندے دے او ګناه کول هم په حقوق الله کښې خیانت کول دی۔ نو دلته دَ مفسرینو دوه قولونه دی اول داچه مراد په دے سره هغه عمل دے چه بعض صحابه کرامو نه صادر شوے وو چه مخکښې دَ هغې ذکر شویدے

اوهغه په اعتبار دَ ظاهر سره دَ الله تعالىٰ په حکم کښې خيانت کول وو لیکن
صحابه کرامو دَ هغې نه توبه اوويستله او هغه توبه الله تعالىٰ قبوله
کړه په قرينه دَ فَتَابَ عَلَيْكُمْ سره او هغه ګناه يې معاف کړه په قرينه
دَ عَفَا عَنْكُمْ سره. نو دا دليل دے چه صحابه کرام اګر چه معصوم
نه دي ليکن دَ هر ګناه کولو نه روستو يې سمدستي توبه او استغفار
کړے دے او دَ هغې قبوليت او معافي په قرآن کښې ذکر ده او دا په اُمت
کښې ډيره لويه مرتبه ده. دويم قول دا دے، خکښې عمل دَ صحابه
کرامو اجتهادي خطائي وه نو معنىٰ دَ تَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَكُمْ دا ده چه که
چرے دا حکم (دَ حرمت) الله تعالىٰ هميشه دَ پاره باقي پريښودلے وے
نو تاسو به خپل ځانونه په ګناه کښې اچولے وے ليکن الله تعالىٰ په
تاسو باندے تخفيف راوستو او فراخي يې په حکم کښې اوکړه. نو تَابَ
عَلَيْكُمْ په معنىٰ دَ تَخَفَّفَ دے او عَفَا په معنىٰ دَ وَسَّعَ دے نو دَ عبارت
تنجيز په معنىٰ دَ تعليق سره دے او دا سے په کلام کښې معروف دے.
(قرطبي، اللباب) او دا دويمه توجيه غوره ده ځکه چه ګناه کول سبب
دَ آسانتيا او نسخ دَ پاره مناسب نه دے او دا رنګ په دے توجيه کښې
دَ صحابه کرامو ګناه کول هم نه ثابتيږي.
فَالْـٰٔنَ بَاشِرُوْهُنَّ، ابو البقاء وئيلي دي چه اَلْـٰٔنَ دَ زمانه حاضر
دَ پاره دے او په ماضي قريب او مستقبل قريب باندے هم دلالت
کوي دَ دے وجے نه دَ دينه روستو يې صيغه دَ امر (چه دَ استقبال دَ پاره ده)
ذکر کړې. يا دلته عبارت پټ دے يعني، فَالْـٰٔنَ اَبَحْنَا لَكُمْ مُبَاشَرَتَهُنَّ فِيْ لَيْلَةِ
الصِّيَامِ - بَاشِرُوْهُنَّ، مباشرت په اصل کښې پيوست کيدل دي دَ
څرمن دَ يو بدن دَ بل بدن دَ څرمن سره او په جماع کښې دا صورت
جوړيږي نو دَ دے وجے نه دَ دينه مراد جماع کول دي. او نور مقدمات
دَ جماع په قُبل، لمس وغيره سره دي چه هغه پکښې هم داخل دي.
وَابْتَغُوْا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ، په مَا كَتَبَ کښې ډير اقوال دي، اول قول دا چه
مراد دَ دينه ولد (ځوئے يا لور) دے او ابتغاء نه مراد نيت او اراده کول
دي او كَتَبَ نه مراد تقدير کول دي او مقصد دا دے چه دَ نکاح او جماع
مقصد صرف شهوت راني نه ده بلکه دَ نسل زياتول مقصد دي دَ ک

وجے نه هغه تن بیرونه چه جاهلان خلق یئے دَ منع دَ نسل (منصوبه بندئ) دَ پارهٔ استعمالوی اوضبط تولید کوی نو هغه دَ شریعتِ عظیم مقصد نه خلاف دی۔ دویم قول: مراد دَ دے نه هغه محل دے چه الله تعالیٰ دَ هغے جماع اواستعمال حلال کړے دے لکه په دے سورتِ کښ ۲۲۲ دی نو مراد دَ کَتَبَ نه اَحَلَّ دے۔ دریم قول داچه مراد دَ دے نه هغه اوقات دی چه په هغے کښ شرعًا جماع کول جائز وی یعنی چه حالت دَ حیض او نفاس وغیره کښ نه وی۔ څلورم قول، مراد دَ دے نه بیبیانے او وینځے دی۔ توراقوال هم په دیکښ، شته خو هغه بعید دی۔ وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا، داعطف دے په بَاشِرُوْهُنَّ باندے او دا یئے دَ دے وجے نه ذکرکړو لکه چه مختلف دَ دے حکم نه دَ خوب کولو نه روستو مباشرت او جماع منع وه تو دا رنګ خوراک څښکاک هم منع وو نو دَ هغے تولو تحلیل او اجازت اوکړے شو. او په دیکښ اشارهٔ ده پیشمني کولو ته چه هغه سنت یا واجب دے دَ روژه نیوونکو دَ پارهٔ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ، داغایه دَ مباشرت او دَ خوراک څښکاک دَ شپے ده۔ يَتَبَيَّنَ، تبيين او تبيان ډیر ښکارهٔ کیدلو ته ویلے شي اګرچه په معنیٰ دَ صرف وضاحت او ښکاره کیدلو سره راځي۔ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ، هرکله چه په وخت دَ صبح صادق کښ دَ مشرق دَ طرف نه اوږد سپین والے ښکاره شي او دَ پاسه ترینه توره شپه اوږده ښکاري نو دَ اول دَ تشبیه دَ پاره یئے سپین تار او دَ دویم دَ تشبیه دَ پاره یئے تور تار ذکر کړو۔ بیا دَ شک دَ ازالے دَ پارهٔ یئے دَ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ بیان په مِنَ الْفَجْرِ سره ذکر کړو تو دَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مقصد پخپله معلوم شو او دیته تشبیه ویلے شي ځکه چه مشبه به او مشبه دواړه یئے ذکر کړی دی۔ او په دے تشبیه کښ فائده دا ده چه دلته مراد صبح کاذب نه دے ځکه هغه دَ تار په شان اوږد په آسمان کښ نه ښکاري۔ فائده ۷: دلته دَ مفسرینو او اهلِ علمو دوه قولونه دی۔ اول قول دا دے چه دَ فجر صادق (چه دَ آسمان په مشرقي افق کښ پلنه کرخه جوړه شي) په صرف ښکاره کیدلو سره امساک (دَ روژے شروع کیدل)

فرض دی۔ ابو حیان او قرطبی وئیلی دی چه دا د جمهور علماؤ مذهب دے او په دے باندے ډیر اخبار راغلی دی او د عامو خلقو عمل په عامو زمانو کښې په دے باندے روان دے او دا مقتضیٰ د حدیث د مسعود او سمره بن جندب رضی الله عنهما ده او دا دواړه مرفوع احادیث دی۔ او دویم قول د بعض صحابه کرامو او تابعینو نه نقل دے چه هرکله د صبا رڼا د غرونو په سرونو او په لارو کښې خوره شی نو امساک شروع کیږی۔ قرطبی اول قول غوره کړے دے۔
سوال:- چه یَتَبَیَّنَ په معنیٰ د ښه ښکاره کیدلو سره دے نو دا خو تائید کوی د دویم قول؟
جواب ۱:- هرکله چه په صبح کاذب (چه پښتانه د ذنب السرحان ئې) کښې هم لږه رڼا ښکاره کیږی او په صبح صادق کښې ښه رڼا ښکاره کیږی نو لفظ د یَتَبَیَّنَ دلالت کوی په تائید د اول قول باندے۔
جواب ۲:- جصاص وئیلی دی چه فعل کله د قریب د فعل د پاره راځی یعنی چه نزدے شی رڼا۔
جواب ۳:- ابو حیان وئیلی دی چه فجر انفجار د رڼا ته وئیلے شی یعنی ښه رڼا کول، نو لفظ د فجر دلالت کوی چه د صبح صادق اول سر مراد دے۔ نو د دے تحقیق نه معلومه شوه چه په وخت د شک کولو د فجر راختلو کښې چا خوراک څښکاک اوکړو نو د آئمه د پاره به دا سے کار نه منع کولے شی او په وجوب د قضاء کښې د ائمو مجتهدینو اختلاف دے۔
ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ، هرکله چه مخکښې فرضیت د روژے ذکر شوے وو لیکن د هغے پوره کول د غایه د شپے پورے ذکر نه وو نو دلته ئې هغه دواړه ذکر کړل۔ او امر د اتمام د وجوب د پاره دے ځکه چه روژه واجب (فرض) ده او هرکله چه خوراک څښکاک او مباشرت مباح أمور دی نو او امر په هغے سره په دے آیت کښې هم د اباحت د پاره دی لیکن د هغے د اعتقاد اباحت د روژے په شپه کښې فرض دے۔ د دے وجے نه ئې په صیغو د او امرو سره ذکر کړی دی۔
إِلَى اللَّيْلِ، شپه د جنس د ورځ نه نه ده غایه د حکم د مغیا نه بهر ده

لیکن دَ شپې دَ علم دَ ثبوت دَ پاره داخلیدل یو جزء دَ شپې (چه دَ ماښام اوله تیاره وی) لازم دے۔

وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ، هرکله چه په رمضان کښ سنت دَ اعتکاف ثابت دے او هغه دَ رمضان په آخری عشره کښ دے۔ دَ دے وجے نه یې هغه دَ صوم رمضان دَ احکامو په آخر کښ ذکر کړو۔ او دا رنګ په دیکښ دفع کول دَ یو وهم دی، هغه وهم دا دے چه په شپه دَ روژه کښ اجازت دَ مباشرت اوشو نو هغے نه چه اعتکاف والا هم دَ دینه فائده واخلی، بلکه په حالت دَ اعتکاف کښ مباشرت په شپه او ورځ دواړو کښ منع دے۔ او دلته په مباشرت کښ دَ هغے اسباب هم داخل دی یعنی ښکلول او لاس لګول په شهوت سره او دا سے نور حرکات، ځکه چه منع دَ یو عمل نه هغه منع وی دَ هغے دَ اسبابو نه هم۔ عَاكِفُونَ عکوف په لغت کښ لزوم دے په یو شیز او توجه کول دی۔ او په عام عرف کښ توجه او لزوم کول دی په یو شیز باندے په طریقه دَ تعظیم سره۔ او په اصطلاح دَ شریعت کښ (قرطبی و نیلی دی) چه لزوم دَ یو خاص طاعت دے په یو خاص وخت کښ په خاص شرطونو سره په یو خاص ځائے کښ (په نیت سره)۔ فِي الْمَسَاجِدِ، دا متعلق دے دَ عَاكِفُونَ سره او دا ښکاره دلیل دے چه اعتکاف شرعی خاص دے په مسجد پورے۔ قرطبی و نیلی دی چه په دے باندے اجماع دَ اُمت ده۔ او قول دَ ابو حیان دلته عطاء دَ او دا حکم دَ نارینۀ او زنانۀ دواړو دَ پاره دے چه اعتکاف به په مسجد کښ کوی ځکه چه په زمانه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم کښ هم زنانۀ اعتکاف په مسجد و نو کښ کولو۔ نو په کور کښ یو خاص ځائے چه دَ مونځ دَ پاره تیار شوے وی (او زنانه په کښ مونځ کوی) په هغے کښ دَ اعتکاف دَ پاره صحیح دلیل نیشته۔ دا رنګ څوک چه په غرونو، غارونو او ځوتی ځایونو کښ چیلے او یاسی نو هغه بدعات دی دَ شریعت نه دَ هغے هیڅ ثبوت نیشته۔

فائده:۔ په عام مسجد و نو کښ دَ اعتکاف کولو په باره کښ

اختلاف دے۔ دَحذیفه او سعید بن المسیب رضی الله عنهما په نیز دَ مسجد حرام، مسجد نبوی او مسجد اقصی نه علاوه په بل مسجد کښې اعتکاف کول جائز نه دی۔ او دَ علی او ابن مسعود رضی الله عنهما او بعضِ تابعینو په نیز په هر جامع مسجد کښې اعتکاف کول جائز دی۔ او دَ امام مالک یو قول دے چه دَ سعید بن جبیر او ابو قلابه رحمهما الله وغیره تابعینو په نیز په هر مسجد کښې چه په هغې کښې جماعت کیږی او دَ هغې امام او مؤذن وی نو په هغې کښې اعتکاف جائز دے۔ او دا قول دَ امام شافعی، امام ابو حنیفه او ابن عُلَیّه او ابن المنذر رحمهم الله وغیرهم دے او دا دَ امام بخاری هم مسلک دے او دَ دوی دلیل دا آیت کریمه دے ځکه چه لفظ دَ مساجد عام دے او دَ تخصیص دپاره حدیث صحیح مرفوع بلا شبه نیشته۔

سوال:۔ مرفوع حدیث خو په دے باب دَ تخصیص کښې شته دے چه بیهقی او طحاوی په مشکل الآثار کښې او ابن ابی شیبه په خپل مصنف کښې ذکر کړے دے۔ او نورو کتابونو کښې هم شته او ظاهر اسناد دَ هغې صحیح دی؟

جواب ۱:۔ قرآن کریم په دے باره کښې قطعی الثبوت او قطعی الدلالت دے ځکه چه الف لام په المساجد کښې دَ پاره دَ استغراق دی او صیغه هم دَ جمع ده۔ او هغه ټولو افرادو ته قطعاً شامل وی خو پورے چه دَ تخصیص دلیل نه وی۔ او دغه حدیث اگرچه سنداً مرفوع دے لیکن دَ هغې په دلالت کښې په تخصیص باندے تقریباً شپاړس شبهات دی چه هغه شیخ ابو عمر او شیخ الباقی رحمه الله وغیرهما هم په خپلو کتابونو کښې ذکر کړی دی او هغه شبهات علمیه دی۔ او په بعضِ دَ هغې باندے هغه اهلِ علمو تصریح کړیده چه هغوی متبعین دَ سنت دی۔ نو ظنی الثبوت والدلالت سره دَ قطعی الثبوت والدلالت تخصیص نشی کولے۔

جواب ۲:۔ شیخ الاسلام ابن تیمیه په مجموعة الفتاوی جلد ۲۷ صفحه ۲۵۱ - ۲۵۲ او ابن حزم په المحلی جلد ۸ صفحه ۳۲۳ کښې

دَ دے تاویل کړے دے په تن رسره یعنی چاچه په دے درے مساجدو کښ تن رکَ اعتکاف کولوکړے وی نو هغه په تخصیص سره لازمیږی یعنی هم هلته به یئے پوره کوی نورو مساجدوکښ یئے نشی کولے۔
جواب ۳:- امام طحاوی په شرح مشکل الآثار جلد ۷ صفحه ۲۰۶ کښ قول کړے دے دَ دے په نسخ سره په دلیل دَ انکاردَ ابن مسعود رضی الله عنه سره په لفظ دَ لَعَلَّكَ نَسِيتَ وَحَفِظُوا وَاخْطَأْتَ وَاَصَابُوا، دا نسخ په قول دَ صحابی سره ثابت ده ، هغه اگرچه ناسخ نه دے ذکرکړے لیکن صحابه کرام دَ حدیث په معنو یا نسخ شه پوهیدل۔ اولفظ دَ لَعَلَّكَ یئے دَ آدب دَ رعایت دَ وجے نه وئیلے دے ورنه مراد ترینه یقین دے۔
جواب ۴:- حدیث صحیح دَ عائشه رضی الله عنها دے چه لَا اِعْتِكَافَ اِلَّا فِي مَسْجِدٍ جَامِعٍ (ابوداؤدجلد ۱ صفحه ۲۷۲) نو اصل په نصوص کښ اعمال دے اهمال نهٔ دے۔دَ عموم اوخصوص وغیره اُصولو سره رد دَ صحیح حدیث پکار نه دے۔ او اِعمال دا دے چه په حدیث دَ حذیفه رضی الله عنه کښ چه لا اعتکاف مقید کړے شی په تن ر یا په کمال سره لکه چه شرح الممتع علی زاد المستنقع جلد ۶ صفحه ۵۰۵ کښ ذکر دی او دَ دے دعوے سند هم هغه صحیح حدیث دَ چه لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ اِلَّا اِلٰى ثَلٰثَةِ مَسَاجِدَ آه ، یعنی شد الرحال (چه نفس سفر دے) ما سیوا دَ درے مساجدو نه منع دے بلکه شدُ الرحال مقید دے په سفرکولو په قصد دَ تخصیص دَ ثواب په یو مکان پورے۔
جواب ۵:- په المساجد کښ الف لام عهدی نشی کیدے ځکه چه پهٔ وخت دَ نزول دَ دے آیت په مسجد اقصٰی کښ اعتکاف کوونکے هیڅ څوک نه وو ځکه چه هغه دَ کافرانو په قبضه کښ وو نو هغه دغه وخت په المساجد کښ داخل نه وو۔ که څوک داشبه اوکړی چه سیوا دَ درے مساجدو نه عمل دَ اعتکاف په حدیث سره دَ سلفو نه ثابت نه دے۔ نو جواب دا دے چه دغه په حدیث دَ حذیفه رضی الله عنه کښ ثابت ده چه څه کسانو په هغه مساجدو کښ

چه په دارکړ ابن مسعود او دارکړ ابوموسیٰ اشعري رضي الله عنهما کښې
وو(په هغې کښې معتکف وو) که حذیفه رضي الله عنه په هغوی رد
کړے دے نو ابن مسعود رضي الله عنه دَ هغوی تائید کړے دے۔
که دا عمل بالکل خلاف سنت وے نو ابن مسعود رضي الله عنه
به خامخا هغوی په کاترو ویشتلي وے او دَ هغه مساجدو ته به یئې
شړلي وے لکه دَ هغه عادت دا سے په نورو احادیثو کښې ثابت دے۔
تنبیه :- په عامو مساجدو کښې اعتکاف کول جائز دي او په جامع
مسجد کښې افضل دي او په دغه درے مسجدونو (حرم مکي،
حرم مدني، مسجد اقصیٰ) کښې افضل ترین دي۔ دا زما رائے ده،
والله اعلم بالصواب۔
تِلْكَ حُدُودُ اللّٰهِ فَلَا تَقْرَبُوْهَا، په تِلْكَ سره هغه ټولو احکامو ته
اشاره ده چه دا آیت په هغې باندے مشتمل دے چه هغه پتخه
اوامر او نواهي ده۔ حدود جمع دَ حد ده او په لغت کښې منع ته
وئیلے شي او دارنګ منتهٰی دَ څیز ته وئیلے شي او په لغت دَ پښتو
کښې پولے ته وئیلے شي چه په هغې سره فرق راځي دَ دوو څیزونو
یا دَ ځایونو ترمینځ او هغه منتها وي او منع کوونکے وي دَ دخل دَ یل
جانب۔ نو دَ دے وجے نه حدود الله په اصل کښې مناهي او محرماتو
دَ الله تعالیٰ ته وئیلے شي لیکن کله ماموراتو ته هم شامل وي لکه په
دے مذکوره جمله کښې۔ ځکه چه امر په یو څیز باندے مستلزم دَ
نهي لره دَ ضد دَ هغې نه او قرآن کریم کښې لفظ دَ حدود څوارلس کرته
راغلے دے او په ټولو ځایونو کښې ماموراتو ته هم شامل دے۔ دَ هغې
نه په لفظ دَ حدود سره تعبیر کښې حکمت دا دے لکه حد چه جامع
او مانع وي نو دارنګ په احکامو دَ الله تعالیٰ کښې نور ریے دلیله)
حکمونه نشي داخلیدلے۔ او دَ دے په ټولو اقرار دو باندے عمل
کول ضروري وي۔ دَ سدي په قول کښې حدود الله شرطونه
دَ الله تعالیٰ دي۔ او په قول دَ شهر بن حوشب کښې فرائض دَ الله
تعالیٰ دي لیکن په دے تخصیص باندے دلیل نیشته یا صرف دَ
تعبیر فرق دے۔

وَلَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ

او مه خورئ مالونه د یو بل په کورنئ کښې په ناروا طریقو سره

وَتُدْلُوا بِهَآ إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا

او مه رسوئ دغه مالونه حاکمانو ته (په طور د رشوت) دے د پاره چه او خورئ تاسو یو ټکړه

مِّنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ (۱۸۸) ع ۲۳/۷

د مالونو د خلقو نه په ګناه سره او تاسو پوهه لرئ۔

فَلَا تَقْرَبُوهَا، سوال :- د ماموراتو په باره کښې خو نهی د قربان نه صحیح نه ده؟

جواب ۱:- د ماموراتو تاویل (د لزوم د وجے نه) په منهیاتو سره کړے شوے دے لیکن آخری صیغه (لَا تُبَاشِرُوهُنَّ) د نهی ده د دے وجے نه یئے لَا تَقْرَبُوهَا ذکر کړو۔

جواب ۲:- مراد د دے نه منع ده د نزدیکت د هغے نه په تعبیر او تبدیل کولو سره۔

فائده:- په دے سورت آیت ۲۲۹ کښې یئے فَلَا تَعْتَدُوهَا فرمائیلی دے او دلته یئے فَلَا تَقْرَبُوهَا، داځکه چه هلته احکام د طلاق، عدت او ایلا، وغیره ذکر وو او د هغے نه تعدی کول منع دی نو هلته یئے د تعدی نهی اوکړه او دلته منهیات مراد دی او منهیاتو ته نزدیکت کول منع دی د دے وجے نه دلته یئے فَلَا تَقْرَبُوهَا ذکر کړو۔

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ، دا کاف د باره د بیان د کمال دے یعنی تیر شوی احکام په دے آیت کښې په اختصار مګر جامع وضاحت سره ذکر دی۔ او دا رنګ نور احکام الٰهیه په دے طرز سره بیانول د الله تعالیٰ د کلام خصوصیت دے او په دے جمله کښې مقصد ترغیب دے علم او عمل کولو ته په دے احکامو باندے او دا په یو قوم پورے خاص نه دی د دے وجے نه یئے للناس اوئیلو۔

لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ، ابو حیان وئیلی دی چه غایه د تقویٰ په هغه ځائے کښې ذکر کیږی چه په هغے کښې مشقت وی دلته هم د روژے

وچه دَ انسان دَ مشتبهاتو نه بچ کیدلو کښ مشقت دے ـ او دَ هغې نه بچکیدل صرف په شرعي تقوٰی سره کیدے شي ـ

۱۸۸ په دے آیت کښ څلورم امر سیاسي دے چه هغه متعلق دے دَ مالونو سره چه په حرامو طریقو سره مالونه مه حاصلوئ ـ

ربط :ـ اوله وجه دَ ربط دا ده چه هرکله مخکښ حکم دَ روژے ذکر کړے شو چه مؤمن دَ عادتي او حلال خوراک څښاک نه او شهوت نه ځان په امر دَ الله تعالٰی سره بند او بچ ساتي بلکه په آخري عشره دَ رمضان کښ دَ شپے هم دَ حلال شهوت رانیئ نه ځان بچ کوي (یعني په اعتکاف کولو سره) او دا ټول په نیت دَ بندګئ دَ الله تعالٰی سره وي ـ نو اوس په دے آیت کښ ذکر کوي چه مؤمن لره دَ هر قسم حرام خوراک څښاک او آمدنئ نه ځان بچ کول پکار دي ـ دویمه وجه دَ ربط دا ده چه دَ مخکښ عبادا تو دَ قبولیت دَ پاره شرط دا دے چه ځان دَ حرام خوراکونو او معاملاتو نه بچ اوساتي ـ دریمه وجه دَ ربط دا ده چه په احکامو دَ روژه کښ دَ موافقت دَ یهودو او نصاراؤ نه خلاف حکمونه ذکر شول نو اوس ذکر کوي چه هغوی حرام خوري کوي او رشوتونه اخلي نو په دے کارونو کښ هم دَ هغوی مخالفت کوئ ـ

وَلَا تَأْكُلُوٓا ، دا خطاب ټولو مؤمنانو ته دے او په معنٰی کښ په کتب علیکم الصیام باندے عطف دے ـ اَمْوَالَكُمْ ، یعني دَ یو بل مالونه ـ نو اضافت مالکانو او غیر مالکانو ټولو ته عام دے او په دیکښ جواري کول ، دهوکے کول ، دَ چا مال بغیر دَ هغه دَ رضا نه اخستل او خرچ کول یا دَ هغه په خوښه سره وي لیکن دَ شرع نه مخالف ځائے کښ خرچ کول لکه اُجرت ورکول په زنا کښ ، رشوت ورکول ، هدیه ورکول نجومیانو وغیره ته ، قیمتونه دَ شرابو ، متشیات څښکل دَ خنزیرانو غوښے خوړل او نور حرام څیزونه خوړل او څښکل وغیره او بعضو مفسرینو وئیلي دي چه اَمْوَالَكُمْ کښ مالکانو ته خطاب دے او مراد دَ باطل نه لهو لعب کښ مال خرچ کول ، په رقص او سرود ، ډمو او شراب نوشئ وغیره کښ مالونه خرچ کول دي ـ

بِالْبَاطِلِ ، دا متعلق دے په تَأْكُلُوٓا پورے او با سببیه ده ـ یا

حال دے پہ تاویل دَ مبطلین یا متلبسین بالباطل سره۔ باطل
پہ اصل کښې زائیل کیدونکي او فنا کیدونکي ته وئیلے شي او پہ
اصطلاح دَ شریعت کښې هر هغه طریقه چه پہ شریعت کښې دَ هغې
دَ جواز دَ پاره دلیل نه وي او مخکښې دَ هغې مثالونه ذکر شول۔
وَتُدْلُوا بِهَا، پہ دے کښې دوه اقوال دي دَ مفسرینو اول قول دا دے
چه دا مجزوم دے او عطف دے پہ تَاْكُلُوْا او دَ لَا دَلاندے داخل
دے او دویم قول دا دے چه دا منصوب دے پہ نقل بردَاَن سره
لیکن اول قول صحیح دے پہ څو وجوهو سره. اوله وجه دا چه پہ
قراءت دَ ابيّ بن کعب کښې لَا مذکور دے۔ دویمه وجه دا چه
روایت دَ ابن عباس رضي الله عنهما دے چه پہ دے آیت کښې
ذکر دَ هغه چا دے چه هغه باندے دَ بل چا مال قرض وي او دَ
مُدعي گواهان نه وي او دے انکار کوي دَ قرض نه او حاکمانو ته
فیصله اوړي او دے پوهیږي چه دے گناهګار دے او خوړونکے
دَ حرامو دے۔ نو پہ دغه شخص کښې دا دواړه کارونه جمع دي۔
نو دے دَ هغې نه منع کړے شو۔ او دَ هر یو کار نه جدا جدا منع هم
مراد ده۔ دریمه وجه دا ده چه لِتَاْكُلُوْا علت دے او متعلق دے
دَ تُدْلُوا سره فقط۔
تُدْلُوا، دا دَ ادلاء نه اخستے شوے دے پہ اصل کښې بوقه پہ
ذریعه دَ رسئ (رپې) سره کوهي ته آویزانولو ته وئیلے شي. بیا یئ
اطلاق پہ هر هغه قول او عمل باندے کیږي چه بل مقصد ته
دَ رسیدلو دَ پاره ذریعه اوګرځي۔ دلته دوه قولونه مراد دي۔ اول
قول چلتي او تادي کول پہ اوړلو دَ فیصلے دَ مالونو سره حاکمانو ته
کله چه پوهیږي چه حجت ځما دَ پاره قائمیږي چه دَ مدعي
دَ پاره ګواهان نه وي یا مال دَ یتیم وي چه پہ هغې کښې قول دَ
قابض معتبر وي او پہ دروغه قسم کولو باندے پرواه نه کوي۔
بنا پہ دے قول دَ بِهَا ضمیر راجع دے حکومت بالاموال ته۔ دویم
قول دا دے چه پردے حق ځان دَ پاره حاصلوي۔ او صاحب
دَ اللباب وئیلي دي چه رشوت ته ادلاء دَ دوه وجوته وئیلے شي

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ ؕ قُلْ

تپوس کوی دوی ستا نه په باره دَ میاشتو کښې ، ته اُوایه

هِیَ مَوَاقِیْتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ؕ وَلَیْسَ

دا میاشتې وختونه مقرر کول دی دَ پاره دَ خلقو او دَپاره دَ حج . او ته ده

اوله وجه دا چه دَ رسئ په واسطه لرے اُوبه بند ه ته راتړ دے شی نو دا رنګ دَ رشوت په ذریعه لرے او نا ممکن کار او حاجت په واسطه دَ حاکم سره بنده ته راتړ دے او ممکن شی۔ دویمه وجه دا چه لکه چه بوقه په رسئ سره اُوبو ته په آسانتیا سره ور رسیږی دا رنګ په رشوت اخستلو سره حاکم بغیر دَ تثبت او پرواه کولو نه حکم کوی او دَ لالچ دَ وجے نه ئے آسان ګڼړی۔

لِتَاْكُلُوْا فَرِیْقًا مِّنْ اَمْوَالِ النَّاسِ بِالْاِثْمِ داعلت دے دَ پاره دَ نهی کولو چه په تُدْلُوْا بِهَا اِلَی الْحُكَّامِ کښې ده۔ یعنی هر کله چه مقصد ګناه او حرام دے نو دَ هغے وسیله او ذریعه هم حرام ده۔ وئیلے شوی دی للوسائل حکم المقاصد۔ فَرِیْقًا، فریق په معنی دَ قطع او ټکړے سره دے۔ بِالْاِثْمِ، باء سببیه ده او مراد دَ اثم نه دَ دروغو شهادت یا رشوت ورکول یا په دروغه قسم خوړل دی۔ یا باء دَ پاره دَ ملابست ده۔

فائده:- لِتَاْكُلُوْا آه کښې اشاره ده چه حاکم ته دَ خپل حق دَ حصول دَ پاره مال ورکول یا دَ خپل ځان نه دَ ظلم دفع کولو دَ پاره مال ورکول جائز دی او دا په رشوت کښې داخل نه دے (اللباب فی علوم الکتاب۔ هدایه کتاب الصلح)، هاں خو دَ حاکم (اخستونکی)، دَ پاره دَ دے اخستل حرام دی او که ورکوونکے څه بل څه جائز ذریعه استعمال کړی نو هغه به غوره وی۔

وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ، روح المعانی او بحر المحیط کښې لیکلی دی چه دا دلیل دے چه څوک نهٔ پوهیږی چه دا ګناه ده او حاکم دَ هغه په حق کښې دَ څه مال فیصله اُوکړی نو دهٔ له دَ هغے اخستل جائز دی۔

لَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا

نیکی چه راتلل کوئ تاسو کوروته د شاگانو د هغې نه

وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى ۚ وَأْتُوا الْبُيُوتَ

او لیکن نیکي د هغه چا ده چه تقوٰی کوی او راځئ کورونو ته

مِنْ أَبْوَابِهَا ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٨٩﴾

د دروازو د هغې نه او ویره کوئ د الله تعالیٰ نه دے دپاره چه په تاسو باندې رحم اوکړے شي۔

۱۸۹ ربط:۔ د دے نه د مخکښ آیت سره دا دے چه روژه او داسے مالی معاملات موقت دی په خاص وختونو پورے او د توقیت دپاره الله تعالیٰ دوه سببونه پیدا کړی دی یو نمر او دویم سپوږمۍ نو الله تعالیٰ په دے آیت کښ خبر ورکوی چه توقیت شرعی په سپوږمۍ پورے خاص دے۔

یَسْئَلُوْنَكَ: په باره د سوال کوونکو کښ درے اقوال دی۔ اول داچه داتپوس بعض صحابه کرامو کړے وو۔ دویم داچه دا تپوس یهودیانو په طور د اعتراض سره کړے وو په نبی صلی الله علیه وسلم باندے۔ دریم داچه یهودیانو داتپوس د بعض صحابه کرامو نه کړے وو چه هغه معاذ بن جبل او ثعلبه بن غنم رضی الله عنهما وو۔ نو هغې دوارو دا سوال نبی صلی الله علیه وسلم ته ذکر کړے وو چه یارسول الله یهودیان موږ ته راځی او په باره د اَهِلَّة کښې تپوس کوی چه څه وجه ده چه دا اول نرئ شکاره کیږی بیا زیاته شی بیا برابر شی نو بیا کمیږی او نرئ کیږی۔ دا قول قرطبی ذکر کړے دے او دا د مخکښ دوارو قولونو د پاره جامع دے۔

سوال:۔ امام رازی او ابوحیان د ابن عباس رضی الله عنهما قول ذکر کړے دے چه صحابه کرامو د نبی صلی الله علیه وسلم نه صرف څوارلس تپوسونه کړی دی او د هغې جوابونه ورکړے شوی دی۔ اول په دے سورت ۱۸۶ کښ دے دویم دا آیت۔ تر شپږم هم په دے سورت کښ دی۔ نهم په سورة مائده ۴ کښ، لسم په سورة انفال ۱ کښ

یوولسم سورة اسراء ۸۵ـ، دولسم سورة کهف ۸۳ـ، دیارلسم سورة طه ۱۰۵، اوخوارلسم په سورة نازعات ۴۲ کښې دے؟۔
جواب :- دَ دے خبرے سند ثابت نه دے او بالخصوص دَ یوولسم نه ترخوارلسم پورے نسبت کول صحابه کراموته دَ صحیح اقوالوته خلاف دے ځکه چه هغه تپوسونه دَ مشرکانو دَ طرف نه وو۔
عَنِ الْاَهِلَّةِ، جمع دَ هلال ده۔ اصمعی وئیلی دی چه هلال ورته ترهغے پورے وئیلے شی چه ترڅو دائره جوړه نه شی اوبعضو وئیلی دی چه تر دریو شپو پورے ورته هلال وئیلے شی۔ او هلال په اصل کښې آواز اُوچتولوته وئیلے شی تو وجه تسمیه هم دا ده چه ړومبو شپوکښې په وخت دَ لیدلو کښې هر یو آواز اُوچتوی یعنی په اُوچت آواز وائی چه هغه دے هلال (میاشت)۔ دَ دے تپوس کولو په باره کښې دوه اقوال دی اول دا چه دوی دَ دے اختلاف دَ حالاتو حکمت او فائده تپوسلے وه او جواب هم دَ هغے موافق ورکړے شوے دے او دا قول صحیح دے او مناسب دے دَ شان دَ صحابه کرامو سره چه هغوی بے فائدے تپوسونه نه کول۔ او جواب هم دا دلالت کوی چه دوی دا تپوس په باره دَ حکمت دَ هلال کښې کړے وو۔ دویم قول دا دے چه دوی دَ تری والی او غټوالی دَ سبب تپوس کړے وو، لیکن هرکله چه دا تپوس بے فائدے ؤو تو جواب ورکړے شو په حکمت سره۔ او دا قول مناسب دے دَ هغه قول سره چه تپوس کوونکی یهودیان ؤو هغوی به بے فائدے تپوسونه کول دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ تنګولو دَ پاره۔ او تفتازانی په مطول کښې دا قول کړے دے چه دا تپوس صحابه کرامو کړے وو لیکن هرکله چه هغوی دَ ریاضئ په باریکانو باندے پوهه نه لرله تو دَ دے وجے نه الله تعالیٰ ورته په ذکر دَ حکمت سره جواب اُوکړو، تو دا قول دَ هغه غلط دے او مستلزم دے تحقیر دَ صحابه کرامو لره۔
قُلْ هِیَ مَوَاقِیْتُ لِلنَّاسِ، په روایت دَ ابوالعالیه کښې دی چه دا مواقیت دی دَ پاره دَ روژے او افطار دَ مسلمانانو او دَ عدت دَ زنانو او دَ قرضونو دَ خلقو دَ پاره (ابن کثیر)۔ او ایجارے، کرایه کانے

او تور مصالحو د بیان کاتو د پاره، او دا سے ذکر دی په سورة یونس ۵ او سورة اسراء ۱۲ کښں (قرطبي)۔ او مواقیت جمع د میقات ده منتها د وخت نه وئیلے شي یعنی مقرر وخت لکه فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهِ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً (سورة اعراف ۱۴۲) کښں۔

سوال:- څه حکمت دے چه په مواقیتو شرعیو کښں د سپوږمئ تخصیص اُوکړے شو نه د نمر؟۔

جواب:- په دیں لو د هلال او په اختلاف د حالاتو د هغې سره ټول عوام او خواص پوهیږی لکه چه د یو امی بے تعلیمه شخص نه تپوس اُوکړے شی چه نن د میاشتے څویمه شپه ده نو هغه سپوږمئ ته اُوګوری او جواب اُوکړی او هر چه نمر دے نو د هغې د حالاتو په اختلاف باندے عام خلق نه پوهیږی بلکه د هغې په اختلاف سره په ټول کال کښں صرف څلور موسمونه معلومیږی (اوړے، ژمے، سپرلے، او منے) بغیر د جنترئ وغیره کتلو نه څوک د هغې د تاریخ نه نه خبریږی او دین د الله تعالیٰ آسان دے او عام دے (اللباب للدمشقی)۔

لِلنَّاسِ، یعنی د خلقو د مقاصدو د پاره د دے نه ذوات د هغوی مراد نه دی (بحرالمحیط)۔ وَالْحَجِّ، تخصیص د حج ئے د دے وجے نه اُوکړو چه جاهلیت والو په حج کښں نسئ کوله یعنی حج کول به ئے د یو میاشت نه بلے میاشت ته نقل کړو او بیل لو۔ تو په تخصیص کښں اشاره وه چه الله تعالیٰ د حج کولو د پاره کومه میاشت (ذوالحجه) مقرر کړے ده نو د هغې تبدیل منع دے۔ او دا رنګ په دیکښں اشاره وه ذکر کولو د بلے فریضے د اسلام نه روستو د ذکر د روژے نه۔

وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا، د دے جملے په سبب د نزول کښں درے روایات دی۔ اول قول د حسن بصری او د اصم رحمهما الله دے چه د جاهلیت په وخت کښں به یو شخص د یو کار اراده اُوکړه او هغه کار به پوره باندے سخت اُوګران شو نو کور ته به د دروازے د طرف نه نه داخلیدو بلکه د شا طرف نه به راتلو (هغه به په دیوال را اُوختو یا به په بله طریقه) او دا کار د دروازے

نه داخلیدل) به یئ تطیر (سپیرهٔ والے) گنړلو او تر یو کال پورے به یئ دغسے کول. نو معنیٰ دَ آیت دا ده چه دَ سپیره والی نه بچ کیدل دا نه دی چه کورونو ته دَ روستو نه راځئ بلکه نیکی (تطیر نه بچ کیدل) خو په تقویٰ سره او په توکل علی الله سره وی.

وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى، په دے لفظ کښی اختصار دے دَ آیت ۱۷۷ چه په هغې کښی یئ لس اُمور دَ بر (نیکئ) ذکر کړل او په آخر کښی اُولٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ وئیلی دی. وَاتَّقُوا اللّٰهَ، دلته تقویٰ په معنیٰ دَ اطاعت دَ احکام الٰهیه ده. لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ، هر کله چه څوک په دَ مقصد نه نا اُمیده شو نو دوی به وئیل چه مَا اَفْلَحَ (کامیاب نه شو) نو الله تعالیٰ دَ هغې په رد کښی اُوفرمائیل چه په تقویٰ (تطیر نه بچکیدلو) سره فلاح حاصلیږی. دویم قول دَ براء رضی الله عنه او امام زهری نه روایت دے چه په انصارو کښی عادت وو چه کله به یئ احرام دَ حج اُوتړلو نو دوی به چه کله واپس کورونو ته راتلل نو په دروازه به نه داخلیدل نو دغه وخت یو انصاری دَ دے خلاف اُوکړو او دَ دروازے نه داخل شو نو هغه باندے نورو اعتراض اُوکړو نو دا آیت نازل شو. دا روایت بخاری او مسلم ذکر کړیدے. دا رنګ په بل روایت کښی دی چه دَ دوی او دَ آسمان په مینځ کښی به یئ حائیل (پرده) نه کړځوله نو چه دَ کور نه به راوتل په نیت دَ احرام سره نو واپس به کور ته دَ دروازے نه نه داخلیدل بلکه دَ شا دَ طرف نه به یئ دیوال لرے کړو او حاجت به یئ دَ کور والو نه طلب کړو یا به دَ کور په چهت باندے دَ شا دَ طرف نه ورختلو او دا کار به یئ ثواب او عبادت ګنړلو نو الله تعالیٰ اُوفرمائیل چه دا کار دَ نیکئ او ثواب نه دے.

دریم قول دَ عامو مفسرینو دے چه په ابتداء دَ اسلام کښی به چا احرام دَ حج یا دَ عمرے اُوتړلو نو چه کوم خلق به ښارو او آبادو والا وو نو دَ کور دَ شا طرف نه به چهت ته ختلو، او چه باندیو او خیمو والا به وُو نو دَ شا دَ طرف نه به خیمے ته داخلیدلو او دا به یئ نیکی ګنړله دا کار به سیوا دَ حمس والو نه ټولو عربو کولو. حمس والا چه قریش وُو دوی به بالکل خپل کورونو ته نه داخلیدل او نه به یئ دغه

وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

الله تعالیٰ	دَ	دَپاره دَ اوچت والی دَ دين	کوئ	جنګ	او

وخت غوړی او پنیرخوړل او دا یه یۓ نیکی ګنړله نو الله تعالیٰ دَ دے تردید اُوکړو۔ او دا روایات صاحب دَ لباب او ابن جریر وغیره ذکر کړی دی۔ دَ دے روایاتو په بنیاد باندے دَ البیوت، ابواب او ظهورته حقیق معانی مراد دی او دا قول دَ اکثرو مفسرینو دے۔

سوال:- په معنیٰ دَ دے جملے کښ دَ مسئلے دَ اَهِلّه سره څه رنګ ربط دے؟

جواب ۱:- هرکله چه په حج کښ دَ نسیٔ رد ته اشاره اُوشوه نو په حج کښ یۓ دَ بل رسم باطل رد هم ذکرکړو دے دَ پاره چه حج دَ اسلام دَ جاهلیت دَ رسمونو نه پاک شی۔

جواب ۲:- دا دواړه سوالونه یۓ په یو ځل ذکرکړی وو نو الله تعالیٰ دَ هغے دواړو جوابونه هم په یو کرت ذکرکړل۔

جواب ۳:- هرکله چه سوال دَ اَهِلّه یهودیانو یے قائلے (الته‌ه) کړے وو۔ سوال دَ حکمت دَ هغے ضروری وو او دوی دَ سبب تپوس کړے وو نو دَ هغوی دَ دے عمل مثال یۓ ذکرکړو۔ یعنی چه دَ دوی عمل داسے دے لکه چه یو شخص دَ کور دروازه پریږدی او دَ شا دَ طرف نه کور ته داخلیږی یعنی جاهلان اُلټه کار کوی نو داسے یهودیان هم دی۔

تنبیه:- دَ دے جملے په ذکرکولو کښ مفسرینو نور اشارات هم ذکرکړیدی۔ اوله اشاره صاحب اللباب ذکرکړیده چه اے یهودیانو هرکله چه تاسو حکمت په اختلاف دَ اَهِلّه کښ نه پیژنئ نو تاسو شک کوئ په حکمت دَ خالق جل جلاله کښ۔ نو کورونو ته دَ شا دَ طرف نه راتللو کښ اشاره ده او رپیږلو ته دَ صحیح طریقے دَ استدلال نه او راتلل دَ دروازو نه اشاره ده صحیح طریقے دَ استدلال ته۔ دویمه اشاره قرطبی ذکرکړے ده، دَ ابوعبیده نه نقل دے چه مثال دَ دے دا دے چه دَ مسائیلو تپوس نه دَ جاهلانو ته مه کوئ بلکه دَ علماؤ نه کوئ۔ دریمه اشاره، دَ ماوردی او ابن الانباری روایت دے دَ ابن زید نه چه دا مثال دے دَ جماع کولو دَ بیبیانو

الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ؕ

دَ هغه کسانو سره چه تاسو سره جنګ کوي، او دَ حد نه مه ورتیریږئ،

إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴿۱۹۰﴾

یقیناً الله تعالیٰ مینه نه کوي دَ حد نه دَ تیرونکو سره۔

خپلو سره چه په مخکښې طرف (فرج) کښې جماع کوئ په روستو طرف (دبر) کښې مه کوئ۔ څلورمه اشاره دا ده چه په دے آیت کښې تنبیه ده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه چه هرکار دَ نیکئ په هغه طریقه کوئ چه الله تعالیٰ دَ هغې امر کړے دے یعنی په دلیل شرعي سره یئے کوئ بے دلیله عمل مه کوئ۔ پنځمه اشاره، قرطبي ویلي دي چه په دے آیت کښې بیان دے چه کوم څیز (یعني قول او عمل) چه الله تعالیٰ هغه قربت نه وي ګرځولے او نه یئے هغې طرف ته ترغیب ورکړے وي نو هغه قربت (ثواب) نه ګرځي اګرچه یو انسان په هغې سره تقرب لټوي۔ په دیکښې دَ عقیدے او دَ اعمالو په ټولو بدعاتو بانده رد دے۔

۱۹۰ ربط:- دَ دے آیت دَ مخکښې سره په څو وجوهو سره دے۔ اول دا چه دا معطوف دے په واتَّقُوا اللَّهَ بانده دَ قبیلې دَ عطف دَ خاص نه په عام بانده یعني اشد ضروري او اهم دَ اقسامو دَ تقوی نه قتال في سبیل الله دے۔ دویمه وجه ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دے چه دا آیاتونه په کال دَ حدیبیه کښې نازل شوي وو چه مشرکانو مؤمنانو لره دَ بیت الله نه منع کړل او بیا صلحه اوشوه چه راتلونکي کال کښې به مکې معظمې ته دَ عمرے دَ پاره صرف درے ورځو دَ پاره داخلیږئ نو مسلمانانو سره یره پیدا شوه که راتلونکي کال کښې دوي بے لوظي اوکړي او په حرم مکي او په میاشت دَ حرمت کښې زموږ سره قتال اوکړي او دا څو زموږ دَ پاره ګناه ده۔ نو دا آیتونه الله تعالیٰ نازل کړل۔ یعنی حکم دَ قتال متعلق شو دَ عمل دَ عمرے سره او حج هم دا سے حکم لري نو دَ مسئلې دَ حج سره مناسبت او ربط پیدا شو۔ دریمه وجه دا چه مخکښې لس امور

دَتهذيب نفوسي ذِکر شول او څلور اُمور دَامن دَپاره ذکر شول او داتياري ده دَ قتال دَپاره تو روستو دَتياري نه پس امر دَقتال اوکړو۔ په دے آيت کښ دَ قتال متعلق څلور اُمور ذکر کوي اول فرضيت دَ قتال په صيغه دَامر سره۔ دويم مقصد دَ قتال چه في سبيل الله دے۔ دريم اهل دَ قتال چه الذين يقاتلونکم دي۔ څلورم آداب دَ قتال په لا تعتدوا سره۔

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، دا متعلق دے دَ قَاتِلُوْا سره۔ سبيل په لغت کښ لار ے ته وئيلے شي چه انسان په هغے سره مقصد ته رسيږي۔ دلته مراد دَ هغے نه دين او کلمه دَ الله تعالیٰ ده چه دَ هغے په ذريعه الله تعالیٰ ته او دَ هغه رضا او جنت ته رسيدل کيدے شي چه هغه دَ مسلمانان بنيادي مقصد دے۔ في په معنیٰ دَ لام دے او مضاف پټ دے۔ اعلاء او سبيل په معنیٰ دَ کلمے سره دے يعني لاعلاء کلمة الله (دَپاره دَ غالب کولو دَ کلمے دَ الله تعالیٰ) او کلمه دَ الله تعالیٰ دين توحيد دے۔ او دا تفسير په صحيح حديث کښ ذکر دے تو دا مقصد دَ قتال دے اشاره ده چه قتال به په نيت دَ شهرت او ريا کولو او غنيمت حاصلولو وغيره سره نه وي۔ اَلَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ، مراد ترے نه عام دے يعني څوک چه تاسو سره في الحال قتال کوي او څوک چه اهليت دَ قتال لري يعني ځوانان اشخاص۔ تو په دے سره واړه بچي، زنانه او بوډاګان (کمزوري) خارج شول۔ هاں کومه زنانه چه دَ کافرانو رئاست کوي يا کوم بوډا چه دوي ته مشورے ورکوي هغه هم په اهليت دَ قتال کښ داخل دي يعني هغوي سره به هم جنګ کيدے شي۔ وَلَا تَعْتَدُوْا، اعتداء په ټولو اُمورو کښ دَ حدودِ شرعيو نه تجاوز کول دي او اعتداء کول حرام دي۔ او دلته دَ ابن عباس رضي الله عنهما او مجاهد په روايت سره معنیٰ دا ده چه زنانه، واړه بچي او بوډاګان او راهبان او هغه څوک چه تاسو ته سلام او انقياد پيش کوي هغه مه قتلوئ او مُثله (دَ مړي اندامونه پريکول) او غلول (خيانت) هم مه کوئ۔ او په دے معنیٰ سره آيت منسوخ نه دے۔ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ،

وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ

او وژنئ دوی لره کوم ځائے چه وس برشي ستاسو په دوی باندے

وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ

او اوباسئ دوی لره د هغه ځائے نه چه وېستلي يئ دوی تاسو لره

وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ

او شرک ډير سخت دے د قتل نه

وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ عِندَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

او جنګ مه کوئ د دوی سره د مسجد حرام په خوا کښ

حَتَّىٰ يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ ۖ فَإِن قَاتَلُوكُمْ

ترد ے پورے چه جنګ شروع کړی دوی تاسو سره په هغې کښ، نو که دوی تاسو سره جنګ شروع کړی

دا د لا تعتدوا علت دے. د مؤمنانو سره محبت کول او د غیر مؤمنانو سره محبت نه کول دا د الله تعالی صفت دے او د نورو صفاتو په شان دلته هم حقیقی معنی مراد ده بغیر د تمثیل، تشبیه او تاویل نه او دا مسلک د سلفو صالحینو دے. نو محبت د الله تعالی او د محبت د مخلوق په مینځ کښ فرق دے. یو دا چه د مخلوق د محبت او نفرت په مینځ کښ واسطه کیږے شی چه د یو شخص سره نه محبت کوی او نه ورسره بغض ساتی. لیکن د الله تعالی د محبت او بغض په مینځ کښ واسطه نیشته نو عدم محبت د الله تعالی مستلزم دے بغض او عذاب لره.

فائده: محبت په طریقه د صفت ثبوتیه د الله تعالی د پاره په قرآن کریم کښ نو ولس[۱۵] کرته ذکر دے او د سلب په طریقه سره درویشت[۲۳] کرته ذکر دے.

فَاقْتُلُوْهُمْ ؕ كَذٰلِكَ جَزَآءُ الْكٰفِرِیْنَ ﴿۱۹۱﴾

نو وژنئ	دوی،	دغسې	بدله دَ	کافرانو	ده.

۱۹۱ په دې آیت کښې دَ قتال دَ دوه طریقو ذکر دې اول داچه په قتال باندې موږس او طاقت برشي نو قتل کوئ یئ، دویم داچه په قتل کولو طاقت برنشي بلکه په ویستلو باندې مو طاقت برشي نو ویستل کوئ دَ هغوی او دا دواړه امرونه (اقتلوهم- اخرجوهم) په جدا جدا حالتونو کښې مراد دی ځکه چه یو حال کښې قتل او اخراج دواړه نشي جمع کیدې - او دَ اقتلوهم ضمیر الذین یقاتلونکم ته راجع دې- حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ، حیث دَ عموم دَ مکان او زمان دواړو دَ پاره راځي یعني که زمکه دَ حِل وی او که دَ حرم وی، میاشت دَ حرمت وی او که بله (اراده) میاشت وی، لیکن روستو یې مسجد حرام او شهر حرام مستثنیٰ کړی دی- ثقف او ثقافت په اصل کښې په مضبوطوالی او په هوښیارتیا سره لاندې کول او موندل دی که عمل وی او که علم وی او په معنی دَ مطلق وجدان او ادراک سره استعمالیږی لیکن کوم ځائې چه ثَقِفْتُمُوْهُمْ ذکر دې هلته شدت او پوهوالې ه زاد دې او کوم ځائې چه وجدتم ذکر دې هلته ورسره شدت ماخوذ نه دې او په مناسب ځایونو کښې دواړه الفاظ هم استعمالیږی- په سورة نساء ۹۱، سورة انفال ۵۷، سورة آلعمران ۱۱۲، او سورة احزاب ۶۱ کښې ثقف استعمال دې او دا رنګ دَ دشمن دَ طرف نه په سورة ممتحنه ۲ کښې هم مستعمل دې- نو دا ټول دلالت کوی په شدت باندې- او سورة نساء ۸۹ او سورة توبه ۵ کښې وجدان ذکر دې چه هغه دَ هغې ځائې سره مناسب دې- او قرطبي لفظ دَ ثَقِفْتُمُوْهُمْ قید کولو ته شامل کړې دې یعني دَ قید ی کافر قتل هم جائز دې - وَاَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ حَيْثُ اَخْرَجُوْكُمْ، دلته حیث دَ مکان دَ پاره دې او دا عام دې اګر چه دَ دې مصداق په هغه وخت کښې مکه مکرمه وه-

سوال:- دَ دې آیت دَ نزول په وخت کښې چه دَ مؤمنانو قدرت نه وُو په اخراج دَ مشرکانو دَ مکې نه نو دا څه رنګ صحیح کیږی؟-

جواب: ابوحیان وئیلی دی چه په دیکښې اشاره ده وعدے ته دَ الله تعالیٰ دَ طرف ته په فتح مکه سره او هغه وعده الله تعالیٰ پوره کړیده- او مِنْ حَيْثُ دَ علت دَ پاره هم احتمال لري يعني اُو باسئ دوئ لره دَ کورونو او وطنونو دَ دوی ته ځکه چه تاسو ئے ویستلی يئ او بیا هم چه دوی وس اُو مومی نو تاسو اُو باسی-

وَالْفِتْنَةُ اَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ، ابوحیان دلته اووه معانے ذکر کړیدی (۱) واپس کرځول دَ مؤمن دَ ایمان دَ هغه نه په زور سره ډیر سخت دی په مؤمن بانس ے دَ قتل دَ هغه نه- اشاره ده پوهوالی دَ صحابه کرامو نه په ایمان بانس ے-(۲) شرک دَ مشرکانو ډیر سخت جرم دے دَ قتل کولو دَ مشرک نه اګرچه په میاشت دَ حرمت کښې وی- نو دا علت دے دَ وَاقْتُلُوْهُمْ دَ پاره-(۳) هتک او سپکوالے دَ حرماتو دَ الله تعالیٰ چه دا مشرکان ئے کوی ډیر سخت جرم دے دَ قتل کولو دَ مشرک نه- په دے معنیٰ سره هم علت دے دَ وَاقْتُلُوْهُمْ دَ پاره یعنی دوئ قتل کوئ-(۴) عذاب دَ آخرت دَ مشرکانو ډیر سخت دے دَ قتل کولو دَ دوی مؤمنانو لره په حرم کښې- دا احتمال ضعیف دے لیکن که دا سے اووئیلے شی چه عذاب دَ آخرت دَ مشرکانو سخت دے دَ عذاب دَ قتل دَ دوی نه په دنیا کښې- نو دا ترقی ده دَ وَاقْتُلُوْهُمْ نه نو بیا دا احتمال صحیح دے او دا صاحب اللباب ذکر کړے دے- (۵) ویستل دَ مشرکانو دَ کورونو او دَ وطن نه ډیر سخت دی په دوی بانس ے دَ قتل کولو دَ دوی نه ځکه چه په اخراج سره په په هغوی بانس ے همیشه ذلت او رسوائی لازمه شی- په دے معنیٰ دا علت دے دَ اخرجوهم دَ پاره-(۶) اړول او منع کول دَ مشرکانو مؤمنانو لره دَ مسجد حرام نه ډیر سخت جرم دے په نسبت دَ قتل کولو ستاسو مشرکانو لره یا دَ قتل کولو دَ هغوی نه تاسو لره- په دے معنیٰ هم دا علت دے دَ وَاقْتُلُوْهُمْ دَ پاره-
(۷) تنګول دَ مشرکانو مؤمنانو لره دَ دے دَ پاره چه مرتد شی ډیر سخت دی په مؤمنانو بانس ے دَ هغوی دَ قتل نه- او دا احتمال پشان دَ اول احتمال دے- او دَ فِتْنَةٌ لفظ تحقیق روستو راتلونکے دے (انشاء الله تعالیٰ)

فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (۱۹۲)

نو که چرې دوی منع شو د کفر نه نو یقینًا الله تعالیٰ بخښنه کوونکې رحم کوونکې دے۔

وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ، دا ذکر دے
د استثناء د عموم د حیث ثَقِفْتُمُوهُمْ نه او نهی د قتال مستلزم ده
نهی لره د اسبابو د قتل نه نو مراد د دے نه نهی ده د شروع کولو
د قتال نه د مسجد حرام په څواکښ۔ او غایه د دے نهی شروع
کول دی د قتال د مشرکانو د طرف نه۔ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، د دیته
مراد ټول حرم دے۔ په دے نهی کښ د علماؤ دوه اقوال دی۔
اول قول دا چه دا نهی منسوخ نه ده او دا قول د طاؤس او ابو حنیفه
رحمهما الله دے۔ او قرطبی وئیلی دی چه دا موافق دے د دے
نص د مقتضا سره او دا صحیح قول دے۔ دویم قول دا چه دا منسوخ
دے په فاقتلوا المشرکین سورة توبه ۵ او وقاتلوا المشرکین
سورة توبه ۳۶ سره۔ او قرطبی په تفسیر کښ مناظره ذکر کړې ده
د یارو د تابعین د اول قول چه منسوخ نه دے۔ فَإِنْ قَاتَلُوكُمْ
فَاقْتُلُوهُمْ، په دے جمله کښ دفع د کراهت د مؤمنانو ده د
قتال نه په حرم کښ او تصریح ده په مفهوم د غایه سره د یارو
د تاکید د دفاعی قتال کولو په حرم کښ. فَاقْتُلُوهُمْ، قاتلوهم ئې
اُونه وئیلو۔ اشاره ده چه الله تعالیٰ به تاسو ته غلبه او نصرت
درکوی په قتل د مشرکانو سره په سبب د بے حرمتۍ کولو د هغوی
حرم لره۔ كَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ، كَذَٰلِكَ کښ اشاره ده قتل ته
یعنی جزاء د ټولو کافرانو قتل دے یعنی کفر علت د قتل د هغوی
دے۔ په دیکښ تنبیه ده چه دا قتل کول تذلیل د انسانیت نه دے
لکه چه بے دینه خلق وائی بلکه حقیقت کښ دا تذلیل د کفر دے۔
۱۹۲ په دے آیت کښ ترغیب دے کافرانو ته د پاره د توبې د کفر
او شرک نه۔ فَإِنِ انْتَهَوْا، مراد د دے نه منع کیدل دی د کفر نه په
توبې کولو سره او منع کیدل د قتال نه په کښ داخل دی او دا لسے
سورة انفال ۳۸ کښ هم دی۔ ابو حیان او صاحب د اللباب وئیلی دی

وَقٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ

او قتال کوئ دَ دوی سره دَ دے دپاره چه نوی اپول دَ مؤمن دَ دین اسلام نه

وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ ۭ فَاِنِ انْتَهَوْا

او شي (غلبه) دَ دین خاص الله تعالیٰ لره، نو که چرے منع شو دَ قتال نه

فَلَا عُدْوَانَ اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹۳﴾

نو نیشته زیاتے کول - مگر په هغه چا دے چه ظلم باندے کوونکی پاتے شي.

چه دا آیت دلالت کوی چه دَ قاتل العمد (قصدًا قتل کوونکی)، توبه هم قبوله ده ځکه چه کفر او شرک دَ قتل عمد نه غټ گناه دے چه دَ کافر توبه قبوله ده نو دَ قاتل عمد توبه هم قبوله ده.

۱۹۳ دا عطف دے په مخکښ قاتلوا فی سبیل الله باندے (دَ اکثرو مفسرینو په نیز باندے) او هلته بو مقصد ذکر شو چه في سبيل الله دے او دلته بل مقصد ذکر کوی چه حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ دے. او په ضمیر دَ وَقٰتِلُوْهُمْ کښ دوه اقوال دی. اول دا چه دا راجع دَ مشرکین مکه ته چه ذکر دَ مسجد حرام په دے باندے دلالت کوی او مراد دَ فتنے نه شرک او اذی (تکلیف) ورکول دی مؤمنانو ته. او مقصد دَ آیت دا دے چه دَ مشرکین مکه او عرب سره قتال کوئ تر دے چه دَ دوی نه شرک ختم شي دَ دوی نه به جزیه (ټیکس) او ذمه نه قبلیږی دَ اهل کتابو په شان او دا قول دَ ابن عباس رضی الله عنهما او دَ قتاده، ربیع او سدی رحمهم الله دے. او دویم قول دا دے چه ضمیر ټولو کافرانو ته راجع دے یعنی امر دے دَ قتال کولو دَ ټولو کافرانو سره په هر مکان کښ لیکن تخصیص دَ بعضو په جزیه (ټیکس) ورکولو سره دَ بل نص په وجے سره دے چه هغه په سورة توبه ۲۹ کښ ذکر دے. او دا یو قول قرطبی اول ذکر کړے دے او وئیلی یئے دی چه دا اظهر قول دے او دَ فتنے نه مراد شرک او اذی ورکول دی مؤمنانو ته. او په نیز دَ ابو مسلم وقاتلوهم عطف دے په فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ فَاقْتُلُوْهُمْ باندے او مراد دَ فتنے نه

قتال دې په حرم کښ. یعنې چه تاسو سره په حرم کښ قتال شروع کړي نو تاسو ورسره قتال دَ دې دَپاره کوئ چه په حرم کښ قتال بند کړي ځکه چه قتال په حرم کښ فتنه (امتحان) دے په مؤمنانو باندے (بحرالمحیط) او حتّیٰ دلته دَ غایې دَپاره دے بنا په یو قول باندے. یا دَ تعلیل دَپاره دے. او ابن عاشور په التحریر والتنویر کښ وئیلی دی چه انتفاء دَ فتنې حاصلیږي په یو دَ دوؤ کارونو سره یا دخول دَ ټولو مشرکانو په اسلام کښ یا قتل دَ ټولو. لیکن کله حاصلیږي په غلبې دَ مسلمانانو سره په مشرکانو باندے او کمزورې کیدل دَ مشرکانو په مقابله دَ قوت دَ مسلمانانو کښ. نو بنا په هرحال سره حتّیٰ دَ غایې او تعلیل دواړو دَپاره کیدے شي. ځکه چه په مینځ دَ غایې او تعلیل کښ منافات نیشته.

تنبیه: ۱. ماده دَ فتنې (ف، ت، ن) په قرآن کریم کښ شپیته کرته ذکر ده. او فتن په لغت کښ غورځول دي دَ سرو زرو په اور کښ دَ دے دَپاره چه دَ خیرې نه پاک شي (چه هغې ته تن صبا په عرف کښ تیزاب کول دَ سرو زرو وائي) بیا دا په معنیٰ دَ هر محنت سره راغي. او سیوطي په اتقان کښ وئیلي دي چه دا قرآن کریم کښ په پنځلس معانو سره دے. (۱) په معنیٰ دَ شرک لکه الفتنة اَشدُّ مِنَ القتل (۲) خلق گمراه کول (۳) قتل کول لکه ان یفتنکم الذین کفروا سورة نساء ۱۰۱ (۴) په معنیٰ دَ اړولو لکه واحذرهم ان یفتنوك عن بعض ما انزل الیك، سورة مائده ۴۹ (۵) گمراه کیدل ومن یرد الله فتنته، سورة مائده ۴۱ (۶) عذر او بهانه کول ثم لم تکن فتنتهم سورة انعام ۲۳ (۷) فیصله دَ الله تعالیٰ لکه اِنْ هِیَ الا فتنتك، سورة اعراف ۱۵۵ (۸) په معنیٰ دَ گناه لکه الا فی الفتنه سقطوا، سورة توبه ۴۹ (۹) په معنیٰ دَ مرض راتللو لکه سورة توبه ۱۲۶ کښ یفتنون فی کل عام (۱۰) په معنیٰ دَ عبرت لکه لا تجعلنا فتنة للقوم الظٰلمین، سورة یونس ۸۵ (۱۱) په معنیٰ دَ عقوبت ان تصیبهم فتنة، سورة نور ۶۳ (۱۲) اختبار او امتحان لکه ولقد فتنا الذین من قبلهم، سورة عنکبوت ۳ (۱۳) په معنیٰ دَ عذاب او تکلیف لکه جعل فتنة الناس کعذاب الله، سورة عنکبوت ۱۰ (۱۴) په معنیٰ دَ احراق (سیزلو) یوم هم علی النار

یفتنون، سورة ذاریات ۱۳ ، (۱۵) په معنیٰ د چتون (لیونتوب) بأیکم المفتون، سورة قلم ۶ ، او صاحب د اللباب د دینه اووه ذکر کړی او مخکښ په تفسیر د فتنه کښ د ابو حیان نه هم اووه معانے نقل شوی دی. چه بعض د هغے نه د دے پنځلسو نه خارج دی. دارنګ ابن حجر عسقلانی په فتح الباری شرح صحیح البخاری په باب الصلاة کفارة جلد ۲ صفحه ۱۸۹ یا تړ ے لس معانے لیکلی دی کفر، غلو (د حد نه تیرو تل) په تاویل کښ، فضیحت (شرمندګی) بلاګانے (مصیبتونه) عذاب، قتال، او رېدل د یو حالت نه قبیح او بی حالت ته، یو خیز ته میلان کول، اعجاب (ګکین کول په یو خیز یاتړ ے. راتلل د خیر او شر او د دے نه هم بعض معانے د مخکښ ذکر کړے شوو نه علاوه او زیاتی دی.

تنبیه : ۲ . په دے آیت کښ د لفظ فتنه په تفسیر کښ د مفسرینو نه درے معانے نقل دی. اول شرک او کفر دویم اذی او تکلیفونه ورکول مؤمنانو ته یعنی زورکول په مؤمنانو د دے د پاره چه مرتد شی. دریم قتال کول په حرم کښ لکه چه مخکښ د ابو حیان نه دا نقل شو. دلته هره یو معنیٰ صحیح ده لیکن ما په ترجمه کښ دویمه معنی غوره کړیده. د هغے دلیلونه او تائیدات دا دی. اول قول د صاحب اللباب چه جنګ کوئ د دوی سره تر دے پورے چه زور آور شئ په دوی باندے او په زور سره وانه ړوی تاسو لره د دین ستاسو نه او واقع نه شئ په شرک کښ. دویم حدیث د ابن عمر رضی الله عنهما چه امام بخاری په کتاب التفسیر کښ د دے آیت د لاندے لیکلے دے ابن عمر رضی الله عنهما د دے په معنیٰ کښ وئیلی دی چه موږ دا کار (قتال) د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښ کړیدے کله چه اهل اسلام لږ وو او سړے به د دین نه په زور سره اړولے کیدے شو په قتل کولو یا په عذابونو، تکلیفونو ورکولو سره تر دے پورے چه اهل اسلام ډیر شول نو فتنه پاتے نه شوه او غلبه د دین او شوه. دریم قول د ابن عاشور دے چه دلته فتنه نکره ده په سیاق د نفی کښ ده. هغه

تولو معانو دَ فتنې ته شامل ده. چه په تفسیر دَ (والفتنة اشد من القتل)
کښې ذکر شوی دی او په هغې کښې ابن عاشور دا معنیٰ ذکر کړېده چه
مؤمنانو ته تکلیفونه ورکول، شخړل کول، وهل ټکول، مسخرې کول
او دَ کورونو او مالونو نه ویستل، دا ټول کارونه مشرکانو دَ دې دپاره
کول چه مؤمنانو لره په زور سره دَ دین نه واړوی. څلورم قول دَ
نیشاپوری دے په تفسیر غرائب القرآن کښې چه یو معنیٰ یې دا سې
کړېده چه فتنه دَ دوی دا وه چه مؤمنان یې وهل او تکلیفونه یې
ورکول تر دې پورې چه بعضو حبشه ته هجرت اوکړ او بعضو
مدینې طیبې ته نو معنی دا ده چه قتال کوئ تر دې پورې چه په
دوی باندې زورآور شئ او تاسو په زور سره دَ دین نه وانهړوی.
پنځم قول دَ قرطبي دے چه دلته فتنه شرک دے او هغه چه دَ
هغې سره ګوډ دَ تکلیفونو ورکولو نه مؤمنانو ته. دا قول دَ ابو حیان نه
هم محکښې ذکر شوے دے. شپږم قول، ما دَ شیخ القرآن مولانا
غلام الله خان رحمه الله دَ مخطوط تفسیر نه لیکلے دے (او هغه اوس
چهاپ دے) حتی لا یفتن مؤمن (مدارک) تاکه کفار مؤمنین کو مؤمن
ہونے سے نہ روکھیں اور زور سے کافر نہ بنائیں، او دا سې په هغه درس
کښې څما ملګری دَ افضل التراجم (پښتو تفسیر) مؤلف مولانا محمد
افضل خان هم لیکلی وو. اووم قول، بقاعي په نظم الدرر کښې لیکلی
دی (معنی دا ده چه موجود نشي فتنه چه قدرت او نه مومي مشرکان
چه تکلیف ورکړي مسلمانان لره چه واړوی هغه لره دَ دین دَ هغه نه)
جلد ۳ صفحه ۱۱۳. اتم قول ابن عربي (المتوفی ۵۴۳ھ) په احکام القرآن
کښې لیکلی دی چه کفر کول په مسجد حرام کښې او عبادت دَ بتانو او
مسلمانانو په هغې کښې تنګول دَ دے دپاره چه دَ دین نه ئې واړوی
دا ټوله فتنه ده. جلد ۱ صفحه ۱۰۹. نهم قول جمال الدین قاسمي
په خپل تفسیر کښې لیکلی دی (تَفَرَّقَ بسببه یفتنون الناس
عن دینهم)، (هغه زور چه په سبب دَ هغې سره خلق دَ دین نه اوړی)
جلد ۲ صفحه ۱۳۷. لسم قول امام رازی په تفسیر کبیر جلد ۵
صفحه ۱۳۲ کښې لیکلی دی معنیٰ یې دا ده، قتال کوئ دَ دوی سره

دے دَپارہ چہ زورآور شئ تاسو پہ ھغوی باندے چہ وانہ ړوی تاسو لرہ دَ دین ستاسو نہ۔

فائدہ ۱:- پہ دے مقام کښې اوږد والے او دَ ډیرو مفسرینو اقوال مادَ دے وجے نہ ذکر کړل چہ دَ دے زمانے یو حسند ګوګی او علمی لحاظ سرہ یتیم او مسکین ځما پہ تفسیر باندے خصوصًا پہ دے مقام کښې بے سروپا اعتراضونہ کړی دی چہ دَ ھغے تفصیلی جواب ځما یو ملګری مولانا محمد اسحاق کبرالی پہ خپل کتاب (الرد القوی الباھر) کښې ذکر کړے دے۔

فائدہ ۲:- دا سے پہ سورۃ انفال ۳۹ کښې ھم دی لیکن فرق دا دے چہ ھلتہ لفظ دَ "کُلّهٗ" ذکر دے او دلتہ نیشتہ تو وجہ دَ فرق ئے یو دا دہ چہ دلتہ ذکر دَ خاص مشرکانو دے چہ مشرکین عرب دی۔ نو صرف دَ ھغوی سرہ پہ قتال کولو سرہ پہ عربو کښې دین قائم شو او پہ سورۃ انفال کښې دَ عامو کافرانو حکم دے نو دَ عامو کافرانو سرہ پہ قتال کولو سرہ پہ ټولہ دُنیا کښې قیام دَ دین راځی۔ دویمہ وجہ دَ فرق دا دہ چہ پہ دے آیت کښې فتنہ پہ معنیٰ دَ اړولو دَ دین نہ دہ پہ زور سرہ یعنی کمزوری دَ مؤمنانو مراد دہ او حتی دَ پارہ دَ علت دے او الدِّینُ نہ مراد غلبہ دَ دین دہ نو لفظ دَ "کُلّهٗ" تہ دلتہ ضرورت نیشتہ او پہ سورۃ انفال کښې مراد دَ فِتْنَةٌ نہ شرک او کفر دے او حَتّٰی دَ پارہ دَ غائیے دے۔ الدِّینُ نہ مراد اشاعت او خوروِل دَ دین دی یعنی چہ شرک او کفر دَ دُنیا نہ ورک او ختم شی او ټول دین اسلام پہ ټولہ دُنیا کښې قائم شی۔

فائدہ ۳:- ھر کلہ چہ پہ یو لفظ کښې دَ مفسرینو ډیر اقوال ذکر او نقل وی او دَ ھغے پہ مینځ کښې تعارض نہ وی نو ھر یو معنیٰ باندے عمل کول او حمل کول دَ لفظ جائز دی۔ او عامہ معنیٰ اخستل چہ ټولو تہ شامل وی ھغہ ھم جائز او غورہ وی۔ دلتہ افتتان المؤمن عن دینہ دغہ ټولو معانو تہ شامل دے نو دغہ معنیٰ غورہ دہ۔

فائدہ ۴:- مونږ چہ کومہ معنیٰ ذکر کړیدہ نو پہ دے سرہ (تکون) فعل تام دے پہ معنیٰ دَ موجود یدلو او واقع کیدلو۔ او فتنہ کہ

اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ

میاشت دَ حرمت پہ بدل دَ میاشت دَ حرمت کښې دہ

وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ ۭ فَمَنِ اعْتَدٰى

او ټول حرمتونہ (عزتونہ) بدلے والا دی، نو چاچہ زیاتے اوکړو

عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ

پہ تاسو باندے نو تاسو هم زیاتے اوکړئ پہ هغہ باندے پشان

مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ ۠ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

دَ هغې چہ زیاتے کړے دے پہ تاسو باندے او ویرہ کوئ دَ اللہ تعالیٰ

دلتہ پہ هرہ معنیٰ محتملہ سرہ دی نو هغہ عمل دَ کافر دے نو مراد تربنہ فتنۃ الکافر دے۔ دَ دے وجے نہ موږ پہ معنیٰ کښې زور دَ کافر ذکر کړے دے۔

وَيَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ، ابن کثیر لیکلی دی چہ دین دَ اللہ تعالیٰ ظاهر او عالی (غالب) شی پہ ټولو دینونو باندے۔ او دا قول هم تائید کوی زموږ دَ معنے اگرچہ دلتہ بل قول هم صحیح دے یعنی ثبوت او قیام دَ دین خاص دَ اللہ تعالیٰ دَ پارہ دے۔ فَاِنِ انْتَهَوْا، متعلق پټ دے یعنی کہ منع شو دَ قتال کولو نہ یا دَ شرک کولو نہ یا مؤمنانو لرہ پہ فتنہ کښې دَ اچولو نہ۔ او دا ټولے معانے یو بل تہ نږدے دی۔ فَلَا عُدْوَانَ، نفی دَ جنس دہ پہ اعتبار دَ هر فرد سرہ یعنی هیڅ فرد (قسم) دَ عدوان نیشتہ نہ پہ مال نہ پہ عزت نہ پہ بدن دَ هغہ باندے۔ دلتہ مراد دَ عدوان نہ جزاء دَ هغې دہ او دا دَ قبیلے دَ مشاکلت نہ دہ یعنی جزاء لہ نوم دَ عمل ورکوی۔ او دا عامہ نفی پہ معنیٰ دَ نهی سرہ دہ یعنی لا تعتدوا۔ اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ، مراد دَ ظالمین نہ شروع کوونکی دَ قتال دی پہ حرم کښې یا هغہ څوک چہ کفر او فتنہ باندے باقی پاتے شی یا هغہ څوک چہ انکار کوی دَ توحید نہ۔ او دا ذکر دَ علت دے پہ ځائے دَ معلول باندے یعنی فلا عدوان الا علیٰ مَنْ لم ینتہ۔ او چہ منع نہ شی نو ظالم وی او ظالم مستحق دَ عدوان دَ

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۹۴﴾

او پوهه شئ چه يقيناً الله تعالىٰ خاص ملګرے دے د متقيانو۔

ځکه ظلم هم عين وان دے۔

۱۹۴ دا ادب د قتال دے په اعتبار د زمانے سره۔ او استثناء ده د عموم د زمان نه چه په حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ کښ وو۔

اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ، په دواړو کښ جنس شهر حرام مراد دے چه هغه څلور دی ذوالقعده، ذوالحجه، محرم او رجب۔ او په سبب د نزول د آيت کښ دوه اقوال دی۔ اول دا چه په صلحه حديبيه کښ فيصله اوشوه چه د راتلونکی کال د ذوالقعدے په مياشت کښ به مسلمانان عمره کوی نو مسلمانانو سره بيره پيدا شوه که چرے دا مشرکان بے وفائی اوکړی او په دغه مياشت کښ مونږ سره قتال اوکړی نو مونږ به څه کوو؟ نو په دے آيت کښ جواب اوشو۔ دويم قول دا دے چه په شپږم کال د هجرت مشرکين مکه د ذوالقعدے په مياشت کښ مؤمنانو لره د عمرے کولو نه منع کړل نو په اووم کال بيا په دغے مياشت کښ مسلمانانو عمره اوکړه د وجے د صلح او معاهدے نه۔ نو دا آيت نازل شو په طور د تسلئ سره نبی صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو نه چه دا مياشت چه تاسو پکښ عمره اوکړه په بدل د هغه مياشت کښ شوه چه تاسو په هغے کښ منع کړے شوی وئ۔ ليکن په دے کښ اول قول غوره دے۔ او اصل عبارت دا دے چه (اِنْتِهَاكُ حُرْمَةِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ بِسَبَبِ اَوْ بِعِوَضِ اِنْتِهَاكِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ) (بے عزتی کول د حرمت د مياشتے ستاسو د طرف نه په قتال کولو د مشرکانو سره په سبب او په بدل د بے عزتئ کولو د مشرکانو دی د دغه مياشتے د حرمت) يعنی هر کله چه مشرکانو په مياشت د حرمت کښ قتال شروع کړو نو تاسو هم د هغوی سره دفاعی قتال په دغه مياشت کښ کوئ دا جائز دے۔ نو دا پشان د مخکښ آيت شو چه په مسجد حرام کښ دفاعی قتال کول جائز دے۔

وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ، په دے کښ دوه اقوال دی اول دا علت دے

دماقبل د پاره او حرمات نه مراد حرمت د شهر حرام دے لیکن جمع یئ د دے وجے نه ذکر کړه چه حرمت د میاشت، حرمت د بلد الحرام (مکه مکرمه) او حرمت د احرام او حرمت د عرض (عزت) د مؤمنانو ته شامل دے۔ حرمت هغه څیز دے چه د هغے بے عزتي او سپکاوے په شریعت کښې حرام وي۔ قصاص برابري او مساوات ته وئیلے شي یعني هغه حرمتونه چه مشرکانو ضائع کړل په شپږم کال د هجرت کښې نو د هغے پوره بدله ادا شوه په اووم کال یا ئې په عمره کولو د مؤمنانو سره۔ دویم قول: دا مستقل او عام حکم تشریعي دے یعني د هر مسلمان هر قسم بے عزتي (دین، مال او عرض) چه چا اوکړه نو هغه مسلمان لره حق د بدلے اخستلو شته دے (که پخپله بدله اخلي یا د حاکم په ذریعه سره). په دیکښې تفصیل د اهل علمو شته دے او په هره توجیه سره قصاص کښې لفظ د ذات پخپل مراد دے۔

فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ،

دا نتیجه ده د ماقبل یا تفصیل دے د قصاص د پاره۔ فَاعْتَدُوْا په خپله بدله واخلئ که امکان وي یا د حاکم په واسطے سره (قرطبي)

سوال: دلته خو مراد بدله اخستل دي او هغه خو ظلم او اعتداء نه ده نو د فَاعْتَدُوْا څه مطلب دے؟

جواب ۱: دا هم عدوان دے لیکن عدوان مباح دے۔ دا جواب په نیز د هغه چا دے چه وائي چه په قرآن کښې مجاز نیشته۔

جواب ۲: دا په طریقه د مشاکلت او مقابلے دے لکه (جَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا) او دا په طریقه د مجاز سره دے۔

بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ، دا شامل دے مماثلت ته په مقدار او په احوالو کښې لکه چه په شهر حرام او بلد حرام کښې بدله اخستل دي (ابن عاشور)۔

سوال: په سوره نحل ۱۲۶ کښې معاقبه بالمثل ذکر ده لیکن وروسته یئ ترغیب ورکړے دے د پاره د صبر کولو یعني معاقبه معاف کول؟

وَ اَنۡفِقُوۡا فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰہِ وَلَا تُلۡقُوۡا

او خرچ کوئ په لار دَ الله تعالیٰ کښ او مه غورځوئ

جواب:- هغه آیت په آدابو دَ دعوت کښ دے او مکی دورد ے نو په هغې کښ عزیمت دا دے چه صبر اُوکړئ- او دا آیت مدنی دے په باره دَ قتال کښ او په قتال کښ صبر کول او عفوه کول نیشته مگر په خاص حالاتو کښ- او قرطبی په تفسیر دَ مثلیت کښ وئیلی دی چه چا ستا نه څه مال په زور او ظلم سره اخستلے وی تو خپل حق تر ینه واخله او که تا ته یئے کنځلے کړے وی نو دَ هغې په مثل جواب ورکوه او که ستا بے عزتی یئے کړے وی نو په مثل دَ هغې یئے بے عزتی اُوکړه، لیکن په دے بدله اخستلو کښ دَ هغه مور او پلار او اولاد او رشته دارو ته تعدی مه کوئی- هاں که په تا باندے دروغ جوړ کړے شوے وی نو ته به په هغه باندے دروغ نه جوړوے او که تا ته زانی اووائی نو ته ورته زانی مه وایه بلکه د روغژن ورته اووایه یعنی دَ گناه جواب به په گناه نه ورکیږی-قرطبی په دے تفصیل کښ عموم دَ آیت ته اشاره کړیده-

وَاتَّقُوا اللّٰہَ، مراد دَ دے نه دَ احکام الٰهیو طاعت کول دی (ابن کثیر) یا مراد دا چه ځان بچ کړئ دَ تجاوز کولو دَ مثل نه ځکه چه انسان په وخت دَ غضب او غصه کښ کله دَ حد نه تجاوز کوی دَ دے وجے نه امر دَ تقوی یئے ورکړو- یا دا چه په حرماتو الٰهیو مثلاً شهر حرام کښ بغیر دَ حالت دَ مجبوری نه تقوی اُوکړئ (ابن عاشور)-

وَاعۡلَمُوۡا اَنَّ اللّٰہَ مَعَ الۡمُتَّقِیۡنَ، دا ترغیب دے تقوی ته او مراد دَ دے نه معیت خاصه دے په نصرت او تائید سره په دُنیا او آخرت کښ- لیکن دا مجاز نه دے بلکه حمل دَ لفظ دَ معیت دَے (چه مشترک دے په ډیرو معناو کښ) په یو معنیٰ خاص باندے- او دا دَ دے دَ پاره چه استوی علی العرش (چه نص صریح دے) نه خلاف راشی- او دا قول دَ سلفو صالحینو دے-

بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ وَأَحْسِنُوا ۛ

(خپل ځانونه) په لاسونو خپلو سره هلاکت ته او ښائسته عمل کوئ

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٩٥﴾

يقيناً الله تعالىٰ مينه کوی دَ ښائسته عمل کوونکو سره۔

۱۹۵ په دے آيت کښ ترغيب دے انفاق ته دَ پاره دَ قتال فی سبيل الله او عطف دے په وَقَاتِلُوا فِی سَبِيلِ اللهِ باندے۔

ربط ۱:۔ هرکله چه قتال دَ پاره آلات او اسباب ضروری وی او بعض وخت مقاتل فی سبيل الله (مجاهد) مسکين او فقير وی نو دَ وجے دَ عدم دَ اسبابو دَ قتال نه دَ جنګ کولو نه محروم شی۔ نو مالدارانو ته خطاب اُوشو په انفاق کولو سره دَ پاره دَ جاری کولو دَ قتال فی سبيل الله (۲) هرکله چه مخکښ ئے اُووئيل چه اَنَّ اللهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ، نو دَ مقاتلينو، مجاهدينو عقيده جوړه شوه چه نصرت الله تعالىٰ کوی۔ نو هسے نه چه دَ دے وجے نه اسباب دَ قتال بے ضرورته اُوګڼړی او دَ اسبابو دَ تيارئ نه غفلت اُوکړی نو اُووئيلے شو کا اَنْفِقُوْا فِی سَبِيْلِ اللهِ۔ او تفصيل دَ انفاق مخکښ په مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُوْنَ کښ ذکر شوے دے۔

وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ، قرطبی په دے جمله کښ پنځه اقوال ذکر کړی دی۔ اول قول دَ ابو ايوب انصاری رضی الله عنه دے چه تَهْلُكَه (هلاکت) دا ده چه دَ خپلو مالونو دَ ترقئ او دَ اصلاح دَ پاره کوشش شروع کړی او جهاد (قتال) پريږدی۔ دا ابو داؤد او ترمذی روايت کړے دے۔ دويم قول انفاق فی سبيل الله نه کول او دَ فقيرئ نه يريدل۔ او دا په روايت دَ بخاری شريف کښ دی۔ دريم قول دَ ابن عباس رضی الله عنهما دے۔ لاس بندول په فقراؤ باندے دَ صدقے ورکولو نه هغوی ته۔ ځکه چه فقراء قتال له لاړ نه شی نو دُشمن به غالب شی په دے قول کښ مراد عام صدقات فقراؤ ته ورکول دی چه دَ هغوی دَ حاجاتو کفايت او کفالت اُوشی نو جهاد ته به هر وخت تيار وی۔ څلورم قول دَ براء بن عازب رضی الله عنه دے چه مراد دَ دينه هغه شخص دے

وَ اَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ؕ فَاِنْ

او پوره کوئ حج او عمره خاص د پاره د الله تعالیٰ، تو که چرے

اُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ

بند کړے شوئ تاسو (د پوره کولو د هغے نه) نو لازم دے په تاسو باندے هغه چه آسان وی د ذهن بے نه

وَلَا تَحْلِقُوْا رُءُوْسَكُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ

او مه خریئ سرونه خپل تر دے پورے چه اورسیږی

الْهَدْيُ مَحِلَّهٗ ؕ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ

هدی (ځناور) ځائے د حلالے د هغے ته، نو هغه څوک چه دی ستاسو نه

مَّرِيْضًا اَوْ بِهٖٓ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ

ناجوړه یا په هغه باندے تکلیف وی د هغه د سر د وجے نه

چه ډیر ګناهونه یئے کړی وی نو بیا توبه نه او باسی په دے خیال سره چه ځما توبه به نه قبلیږی نو ترمرګه پورے په ګناهونو کښ بنه پوخ شی- پنځم قول د زید بن اسلم دے چه سفر د جهاد د توښے نه بغیر کول نو یا خو به د جهاد نه په تیمه لار کښ پاتے شی او یا به د خلقو نه د جهاد په نوم سوالونه شروع کړی او د دینه روستو قرطبی څلور معانے نورے هم لیکلی دی- او ابو حیان نهه اقوال ذکر کړی دی- تو آیت دے ټولو معانو ته شامل دے- بِاَيْدِيْكُمْ، عامو نحویانو ویلی دی چه باء زیاتی ده (یعنی اَيْدِيْكُمْ مبرد ویلی دی چه اَيْدِيْكُمْ نه مراد انفسکم دے، او بعضو ویلی دی چه باء زیاتی نه ده خو مفعول (انفسکم) پټ دے وَ اَحْسِنُوْا، ابو حیان ویلی دی چه د دے متعلق یئے نه دے ذکر کړے نو دا عام دے، یعنی احسان کول په انفاق فی سبیل الله او په عامو صدقاتو ورکولو کښ او احسان کول په ټولو طاعاتو او اعمالو کښ، او په الله تعالیٰ باندے په جهاد او انفاق کښ حسن ظن کول چه الله تعالیٰ به ځما امداد کوی- اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ

فَفِدْيَةٌ مِّنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ

نو واجب دہ په هغه باندې بدله د (درې) روژو یا صدقه (د شپږ مسکینانو)

أَوْ نُسُكٍ ۚ فَإِذَا أَمِنتُمْ ۖ فَمَن تَمَتَّعَ

یا قربانی (د یو گډ) نو کوم وخت چه تاسو په امن شئ، نو چا چه فائده واخسته

بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ

په عمرې کولو سره د حج کولو (پورې) نو واجب دې په هغه باندې چه آسان وی

مِنَ الْهَدْيِ ۚ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ

د هدیې نه نو څوک چه نه مومی هدیه نو په ده باندې روژې نیول دی

ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ

درې ورځې د حج په ورځو کښې او اووه ورځې

إِذَا رَجَعْتُمْ ۗ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۗ

کله چه واپس شئ د متی نه، دا لس دی پوره (د ثواب والا)

ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُ

دا حکم هغه چالره دې چه نه دی کورنۍ د هغه

حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ

دیره په مسجد حرام کښې، او ویره کوئ د الله تعالیٰ نه

وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (۱۹۶)

او پوهه شئ چه یقیناً الله تعالیٰ سخت عذاب ورکوونکے دے۔

۲۴ ع ۸ ۸

په دیکښې ترغیب دے دوام د صفت د احسان ته چه الله تعالیٰ د صفت د احسان سره محبت کوی نو د بقاء د محبت د الله تعالیٰ د پاره دوام د صفت د احسان پکار دے۔

سلا۱۹۶ خلاصه د دویم باب د دے حصے:۔ چه هغه تر آیت سلا۲۱۴ پورے دے. په دے باب کښې ذکر د حج د مسئلے دے د پاره د

ارتباط او اتحاد دَ مسلمانانو. او دا مقصد دَ قتال في سبيل الله دَ چه مکان دَ حج دَ ظالمانو دَ قبضې نه خلاصول په جهاد سره کیږی او په دیکښ پنځه احکام دی په پنځه آیتونوکښ چه هغه دَ حج سره متعلق دی. په دے اول آیت ۱۹۶ کښ ذکر دَ حکم دَ احصار او امن او تمتع او امر په اتمام دَ حج سره دے چه په هغې کښ دَ مشرکانو سره تشبیه نه وی. او په دویم آیت ۱۹۷ کښ ذکر دَ احرام دَ وخت دَ حج دے او ممنوعات په حج کښ سره دَ رد نه په رسم دَ جاهلیت باندے چه هغه پریخودل دَ زاد (توښے) دی. او په دریم آیت ۱۹۸ کښ رد دے په رسم دَ تحریم دَ تجارت په حج کښ او حکم دَ موقف دَ مزدلفے دے. او په څلورم آیت ۱۹۹ کښ رد دے په رسم دَ ترک دَ وقوف په عرفات باندے. او په پنځم آیت ۲۰۰ کښ رد دے په رسم دَ ذکر دَ آبائو په منیٰ کښ. بیا ذکر دَ دوه اقسامو دَ حج کوونکو دے یو بد بخت دُنیا پرست په آیت ۲۰۰ کښ او بل نیک بخت چه دُنیا او آخرت دواړه طلب کوی په ۲۰۱ کښ. بیا رد دے په رسم دَ اختلاف په ایامو دَ منیٰ کښ چه په هغې کښ تحریم دَ مستحب یا وجوب دَ مستحب لازمیږی په ۲۰۳ کښ. بیا تقسیم دَ خلقو دوه قسمونو ته اول قسم ډیر بد بخت او دَ هغوی بد شپږ قبیح (ناکاره) صفات ذکر کړی دی په ۲۰۴، ۲۰۵، ۲۰۶ کښ. دویم قسم ډیر نیک بخت ۲۰۷ کښ بیا تخویف دُنیوی او دَ هغې مثال په بنی اسرائیلو سره او جواب دَ یو سوال په ۲۱۰، ۲۱۱، ۲۱۲ کښ. دویم ترغیب دَ دعوت ورکول دی په کتاب الله دَ پاره دَ رد په اختلاف دَ باغیانو په طریقه دَ انبیاء علیهم السلام سره په ۲۱۳ کښ. بیا دریم ترغیب چه تیرول دَ دریے قسمه تکالیفو دی په دعوت کښ پشان دَ سابقینو په ۲۱۴ کښ.

ربط:- دَ دے آیت ۱۹۶ دَ مخکښ سره په څلورو وجوهو سره دے.

۱:- مخکښ نور فرائض (مونځ، زکوٰة، روژه او جهاد) ذکر شول نو اوس بله فریضه ذکر کوی چه حج دے. ۲:- مخکښ آیتونو نه دَ

حدیبیه د واقعې سره متعلق وُو او دغه واقعه د دے وجے نه رایخه شوه چه مرکز د حج کولو د مشرکانو په قبضه کښې وُو نو اشاره شوه چه قتال فی سبیل الله یو اهم مقصد دے چه په هغې سره قبضه د مشرکانو د حرم نه زائله شی او تاسو قادر شئ په اتمام د حج او عمره کولو باندے. او د دے وجے نه ئې داعطف کړے دے په ماقبل او امرو باندے چه قاتلوا او انفقوا دی- ۳- مخکښې ذکر د محسنینو اُوشو او س اهم عمل په اعمالو د محسنینو کښې چه حج کول دی ذکر کوی په داسے طریقه سره چه د مشرکانو د رسمونو او بدعاتو نه پاک وی- د دے وجے نه په هر آیت کښې د رسم رد هم مقصد دے-

وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ، اتمام په دوه معانو سره استعمالیږی اوله داچه فعل زکان شروع وی لیکن مطلوب د هغې صفت وی د پوره کولو تر آخره پورے- نو دلته معنیٰ دا شوه چه تاسو حج او عمره شروع کړے وی که فرض وی یا نفل نو د هغې پوره کول په تاسو باندے واجب شول- په مینځ کښې به ئې تیمکړے نه پریږدئ سیوا د عذر د احصار نه لکه چه په حدیبیه کښې وو- د دے وجے نه ئې وروستے حکم د احصار ذکر کړو لکه فَاَتِمُّوا اِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ- او وجوب د پوره کولو د حج او عمرے روستو د شروع کولو نه اتفاقی مسئله ده هان د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د نفلی مونځ او روژے هم دا حکم دے-

دویمه معنیٰ، ادا د یو فعل سره د صفت د اتمام نه لکه په اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ، او لِاُتِمَّ نِعْمَتِىْ کښې. په دے معنیٰ سره پوره کولو د حج او عمرے کښې مختلف اقوال دی- قول د علی رضی الله عنه دا دے چه د خپل ځائے نه دِ احرام اُوکړی- او دا مسئله اختلافیه ده- د سفیان ثوری قول دا دے چه نیت او قصد د تجارت دِ نه کوی- د عمر رضی الله عنه قول دا دے چه حج او عمره هر یو دِ جدا جدا اداکړی بغیر د حج تمتع او قِران نه- قول د مقاتل دا دے چه د مشرکانو پشان به په تلبیه کښې کلمه د شرک

اِلَّا شَرِیۡکًا تَمۡلِکُہٗ وَمَا مَلَکَ نه وائی لفظ دَ لِلّٰہِ دَ دے تائید کوی نوغوره قول روستو دے ځکه چه اولے معنی ته هم شامل دے۔
سوال:- صلوٰت وصیام سره لِلّٰہِ ذکر نه دے اگرچه هلته هم دغه مراد دے او دَ حج او عمرے سره یئے لِلّٰہِ ذکر کړو؟
جواب:- قاسمی وئیلی دی چه دَ دے وجه دا ده چه مشرکانو دَ حج او عمرے بعض اعمال (تقبیل وطواف) دَ خپلو بتانو دَ پاره کول لکه اوس هم قبر پرست خلق دا سے کوی تو لفظ دَ لِلّٰہِ تصریح ده چه اعمال شرکیۀ ته پوره ځان اوساتئ۔ تو په دے جمله کښ اشاره ده رد دَ رسومو شرکیۀ ته په اعمالو دَ حج او عمرة کښ۔ او دغه بنیاد دَ قبولیت دَ اعمالو دے۔
فَاِنۡ اُحۡصِرۡتُمۡ، دا دَ اَتِمُّوۡا سره متعلق دے یعنی اتمام خو فرض دے لیکن هر کله چه دا سے عذر راشی چه په پوره کولو بانے قدرت نه ملاویږی تو بیا څه حکم دے، نو اوس دَ هغے حکم ذکر کوی۔ احصار راګیریدل او بند یدل دی دَ یو کار نه او دَ شریعت په اصطلاح کښ احصار دا دے چه کله احرام دَ حج یا عمرے اوکړی لیکن دَ هغے دَ نورو اعمالو پوره کولو نه په څه عذر سره بند شی چه هغه عذر، مرض، دُشمن او ظلم دَ بادشاه وغیره دے۔ او دا قول غوره دے۔ او دَ دے مثال موجود شو په واقعه دَ حدیبیه کښ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو احرام دَ عمرے دَ ذوالحلیفه نه تړلے وو او چه حدیبیه ته اورسیدل نو کافرانو منع کړل۔ فَمَا اسۡتَیۡسَرَ مِنَ الۡهَدۡیِ، مبتداء حذف ده یعنی فالواجب یا خبر پټ دے۔ یعنی فعلیکم۔ یا فعل امر پټ دے یعنی فاذبحوا، فاهدوا۔ اَلۡهَدۡیِ، دا جمع دَ هدیه ده او دَ بعض علماؤ په نیز بانـدے مصدر دے په معنی دَ مفعول سره یعنی اَلۡمُهۡدٰی، تو بیا مفرد جنس دے۔ او دَ ډیرو صحابه کرامو نه نقل دی چه دَ هدی اعلیٰ قسم اوښ دے او ادنیٰ ګډ پسه وغیره دے او درمیانه یئے غواده۔ تو چه په دے اجناسو کښ ورته کوم یو په آسانه سره ملاویږی نو هغه دِ

ذبح کړی. او دا حکم عام دے که دا څاروے د قربانئ یئے د ځان سره روان کړے وی یا ئے هلته اخلی.
مسئله :- هرکله که هدی ورته نه ملاویږی یا د هغے طاقت نه لری آیا د هغے بدل شته دے او که نه؟ نو په دیکښ اختلاف دے. د امام ابوحنیفه رحمة الله قول دا دے چه د دے بدل نیشته ځکه چه الله تعالیٰ بدل نه دے ذکر کړے. نو هدی به په ذمه د دهٔ باندے ترمرګه پورے واجبه وی او نور اهلِ علم وائی چه دهٔ باندے بدل شته لکه چه هدی د تمتع او قران کښ شته دے او په حالت د عذرکښ هم شته نو دلته هم په طریقه د قیاس سره ده.
وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهٗ ، په دے خطاب کښ اختلاف دے. اول قول دا دے چه دا خطاب دے احصار والوته هغوی به تحلیل د احرام نه کوی ترذبحے د څاروی د قربانئ پورے او اشاره ده چه هرکله هدی (دغه څاروے) محل نه اورسیږی نو محصر (حصار شوے) به د تحلیل د پاره حلق یا قصر (د سر ویښته خرئیل یا واړهٔ کول) کوی. او دا قول د امام شافعی او امام مالک رحمهما الله دے. دوی وائی چه محصر باندے تورعبادات د حج او عمرے خوبند کړے شوی وو د وجے د عدم قدرت د دهٔ نه او په حلق یا قصر خو قادر دے. دویم قول دا دے چه محصر ذبح یا نحر د هدی (څاروی) اوکړی نو دهٔ باندے حلق یا تقصیر واجب نه دے. دلیل ئے دا دے چه په احصار سره د دهٔ نه ټول مناسک د حج ساقط شول. او دا قول د امام ابوحنیفه او امام محمد رحمهما الله دے. نو د هغوی د قول مطابق دا خطاب په حال د امن کښ دے او عطف دے په اَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ باندے. یعنی په حال د امن کښ حاجی یا عمرے والا چه ځان سره ئے سوق د هدی کړے وی ذبح به په حلق باندے مخکښ کوی او دا ترتیب په نیز د امام ابوحنیفه رحمه الله باندے واجب دے او د نورو ائمو په

نیز واجب نه دے په دلیل دَ صحیح حدیث سره چه چا به دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه تپوس کوو په باره دَ تقدیم او تاخیر کښ نو هغه به ورته وئیل چه اِفْعَلْ وَلَا حَرَجَ، او د الفظ عام دے نفی دَ گناه او دَ دم دواړو ته. او په دے مسئله کښ دَ احنافو دَ پاره دا سے دلیل نیشته چه دَ دغه حدیث مقابله اُوکړے شی. مَحِلَّهٗ، دا صیغه دَ ظرف مکان او دَ ظرف زمان دواړو ده او په زیر دَ حا سره دے. هاں په ظرفِ مکان کښ زور دَ حا جائز دے. نو دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز مَحِلَّه ظرفِ مکان دے او حرم ته وئیلے شی لکه په سورة حج ۳۳ کښ. دویم دلیل، چه هدی هغه څاروی ده چه غلام (مریئے) دَ مالک کور ته اوړی او دا هغه وخت کیدے شی چه حرم مراد شی. دریم دلیل دا چه تول دِمَاء (دموته) او هدایا په حرم پورے خاص دی نو دا رنګ دا یه هم خاص وی په حرم پورے. او دَ نورو اهلِ علمو مسلک دا دے چه دَ احصار دم ذبح کول په حرم پورے خاص نه ده. او مَحِلَّه دلته ظرفِ زمان دے یعنی هر هغه وخت چه احرام کوونکے په هغے کښ بند شو نو دَ هغه دَ پاره دغه ځائے مَحِلَّه شو. او دَ دوی اول دلیل واقعه دَ حدیبیه ده چه نبی صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو دَ احصار په وخت کښ په حدیبیه کښ تحلے هدایا (څاروی) ذبح او نحر کړل او حدیبیه دَ حرم نه بهر ده په دلیل دَ سورة فتح ۲۵ سره. دویم دلیل ئے دا دے چه فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ کښ تقیید په حرم پورے نیشته نه په آیت کښ نه په حدیث کښ. دریم دلیل چه وجوب دَ دے دم خو دَ وجے دَ ازالے دَ دُشمن نه دے نو که حرم ته تلل واجب شی نو خوف خو هغسے موجود دے نو مقصود نه حاصلیږی. او په نورو دمونو او هدایاؤ کښ دا علت نیشته.

فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ بِهٖۤ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ، دا ذکر دَ رخصت (اجازت) دَ حلق (سر خرئیلو) دے په حال دَ احرام کښ په سبب دَ عذر او ورسره وجوب دَ فدیئے سره. او چا چه حلق اوکړو په حال دَ احرام کښ بغیر دَ عذر نه نو په هغه باندے وجوب دَ فدیئے ک

په اجماع دَ اهلِ علمو سره. لیکن اختلاف دَ علماؤ دے چه دا په نسیان سره اُوکړی په هغه باندے هم فدیه شته ځکه چه دَ اکثر علماؤ په نیز په حال دَ نسیان کښِ هم فدیه واجب ده. او دَ دے تفصیل قرطبی ذکر کړے دے. مَرِيْضًا، دا سے مرض مراد دے چه علاج دَ هغے په خرئیلو دَ سر سره خاص وی. اَذًى، دَ سر درد، زخمونه او سپګے چه راڅوریږی په مخ باندے وغیره لکه چه په حدیث دَ کعب بن عجره رضی الله عنه کښِ راغلی دی. فَفِدْيَةٌ یعنی علیه فدیة یا فالواجب علیه فدیة. مِّنْ صِيَامٍ، دَ دیته مراد درے روژے دی په سبب دَ حدیث دَ کعب بن عجره رضی الله عنه سره چه ابو داؤد ذکر کړیدے. او حکمت دَ دریوالی دا دے چه دهٔ جنایت کړیدے په درے امورو باندے یعنی احرام، طواف او سعی. اَوْصَدَقَةٍ، درے صاعه دَ کجورو چه شپږ مسکینانو ته به ورکیدے شی یعنی نیم نیم صاع. اَوْنُسُكٍ، په دے کښِ دوه اقوال دی اول دا چه دا مصدر دے یعنی ذبح کول. دویم دا چه دا جمع دَ نسیکه ده او ذبح لفظ پټ دے. نسیکه هغه څاروے دے چه ذبح کیږی خاص دَ الله تعالیٰ دَ پاره.

فرق:- دَ هدی او نسک دا دے چه هدی خاص ده په هغه څاروی پورے چه حرم ته بوتللے کیږی او دَ جنایت (غلطئ) دَ وجے نه نه وی. او نسک عام ذبیحے ته وئیلے شی که دَ جنایت دَ وجے نه وی او که نه. او دَ دے هم ادنیٰ بوه بیزه ده.

فائده:- دَ اهلِ علمو اتفاق دے چه دلته اَوْ دَ تخییر (اختیار) دَ پاره دے. او دَ دے وجے نه په حدیث دَ کعب رضی الله عنه کښِ دَ دیته په خلاف ترتیب سره ذکر کړی دی.

فَاِذَآ اَمِنْتُمْ، دا په ماقبل معنیٰ باندے معطوف دے او ذکر دَ حال دَ امن دے او دا عام دے هغه امن ته چه روستو دَ احصار نه حاصل شی په دُشمن یا په مرض سره. یا امن وی دَ اول حال نه یعنی بغیر دَ احصار سابق نه ځکه چه صحیح قول دا دے چه تمتع په دواړه حالاتو کښِ صحیح ده.

فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ، تمتع په لغت کښې مزے اخستلوته وئیلے شی. په حال دَ تمتع اصطلاحی کښې هم عمرة کوونکی روستو دَ تحلیل دَ احرام دَ عمرے نه فائده اومزے اخلی په ممنوعاتو دَ احرام تر احرام دَ حج پورے - قرطبی وئیلی دی چه دَ تمتع څلور طریقے دی چه یو په هغې کښې اتفاقی ده باقی درے اختلافی دی - اوله طریقه دا ده چه دَ حج په میاشتو کښې دَ میقات نه احرام اُوتړی (هغه څوک چه آفاقی وی یعنی دَ میقات نه بهر اُوسیږی والاوی) او مکے ته داخل شی او طواف دَ بیت الله او سعی دَ صفا او مروه اُوکړی بیا ځان حلال کړی (په حلق کولو یا قصر سره) بیا دَ میقات نه بهر نه وی وتلے او وطن ته واپس نه وی تلے تر دے پورے چه احرام دَ حج اُوتړی او اعمال دَ حج ادا کړی نو دا شخص متمتع دے او دا طریقه اتفاقی ده - دویمه طریقه قِران دے (په دے باندے په اعتبار دَ معنیٰ لغوی سره اطلاق دَ تمتع کیږے شی) دَ قِران طریقه دا ده چه دَ میقات نه احرام دَ عمرے او دَ حج دواړو اُوکړی او بیا کارونه (افعال) دَ عمرے ادا کړی او ځان لا نه حلالوی تر دے پورے چه مناسک دَ حج هم ادا کړی او بیا ځان حلال کړی - دا صورت اګرچه اتفاقاً جائز دے پښان دَ اول لیکن په کیفیت کښې ئے اختلاف دے - لیکن اوله او دویمه طریقه په وجوب دَ هدی (قربانی کولو) کښې مشترک دی - دریمه طریقه دا ده چه دَ میقات نه احرام دَ حج اُوکړی لیکن کله چه مکے مکرمے ته داخل شی نو حج پریږدی او عمره اُوکړی او ځان حلال کړی تر دے پورے چه بیا احرام دَ حج اُوکړی - او په دا سے طریقه کښې امر کړے وو نبی صلی الله علیه وسلم هغه صحابه کراموته چه دَ ځان سره ئے هدی نه وے راوړے چه دا احرام په عمرے سره فسخ (ماتے) کړئ او په دیکښې اختلاف دے صحیح دا ده چه دا طریقه خاص وه په واقعه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم پورے - څلورمه طریقه تمتع دَ محصر ده چه دَ حج احرام ئے

کړے وی لیکن دُشمن یٔے په دغه ورځوکښې دَحج کولو نه منع کړی
نو بیا دے روستو دَ حج دَ ورځو نه مخکے ته لاړشی او عمره اُوکړی
بیا دَ کال پورے حصارشی په مکه مکرمه کښې تر دے چه حج
اداکړی. دَ دے په صورت کښې اختلاف دے چه دا په تمتع
کښې داخل دے او که نه. فَمَنْ تَمَتَّعَ، آه دلته معنیٰ دا ده چه فائده یٔے
واخستله په اعمالو دَ عمرے سره او په یو سفر کښې یٔے دا عمره
دَحج دَ اعمالو سره یوځائے کړه (په طریقه دَ تمتع یا دَ قِران سره)
فَمَا اسْتَیْسَرَ مِنَ الْهَدْیِ، په دے دم کښې اختلاف دے دَ علمائ
دَ جمهورو په نیز دا دم جبر دے او دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په
نیز دا دم دَ نسک او دَ شکر دے. فَمَنْ لَّمْ یَجِدْ فَصِیَامُ ثَلٰثَةِ
اَیَّامٍ فِی الْحَجِّ، دا ذکر دَ حکم دَ رخصت دے په وخت دَ نه موندلو
دَ هدی کښې په سبب دَ نیشتوالی دَ مال یا دَ څاروی. او غوره دا ده
چه درے روژے دَ ذالحجے دَ میاشت شپږم، اووم او اتم په تیسی
اوکه نهمے ورځے (دَ عرفے ورځے) ته یٔے روستو کوی نو هم جائز
دی او په دیکښې دَ علمائ نور اقوال هم شته. وَسَبْعَةٍ اِذَا رَجَعْتُمْ،
په رجوع کښې دوه اقوال مشهور دی، اول دا چه خپل وطن ته
واپس اُورسیږی. دویم دا چه فارغ شی دَ ورځ دَ منیٰ نه. دواړه
جائز دی لیکن غوره اول قول دے په سبب دَ حدیث دَ مسلم
چه په هغے کښې لفظ دے دَ (رَجَعَ اِلٰی اَهْلِهٖ).
تِلْكَ عَشَرَةٌ کَامِلَةٌ، سوال:- دَ ذکر دَ درے او اوو نه معلومیږی
چه لس دی نو روستو عشره ذکر کولو کښې څه حکمت دے؟
جواب:- په دیکښې ډیر اقوال دی. اول قول دَ مبرد دے چه دا
تاکید دے دَ پاره دَ دفع کولو دَ وهم چه دَ اوو نه روستو نور
عدد نیشته. دویم قول دَ ابن عرفه دے چه دَ عربو عادت دا دے
چه تفصیلی حساب نه روستو اجمالی حساب ذکر کوی ځکه چه
عرب په حساب باندے ډیر نه پوهیدل. دریم قول دَ زجاج دے
چه په دیکښې دفع دَ وهم ده چه واو په معنیٰ دَ اَو نه دے بلکه
جمع مراد ده ځکه چه کله کله واو په معنیٰ دَ اَو سره راځی لکه مثنیٰ

وثلاث ورباع کښې واو په معنی دَ اَوْ سره دے۔ اولفظ دَ کَامِلَةٌ کښې فائده داده که څوک وهم اوکړی چه عادت خو دا دے چه دَ بدل مرتبه (ثواب) دَ مبدل عنه نه کم وی نو کیدے شی چه دَ لسو روژو بدلو ثواب به دَ هدی نه کم وی نو په لفظ دَ کامله سره یې وهم دفع کړو یعنی دَ لسو روژو ثواب پوره او برابر دے دَ ثواب دَ هدی سره په وخت دَ عدم وجود دَ هدی کښې۔

ذٰلِكَ لِمَنْ لَّمْ يَكُنْ اَهْلُهٗ حَاضِرِی الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ، دَ ذٰلِكَ په مرجع کښې دوه اقوال دی اول قول دَ جمهورو دے چه دا اشاره ده نیزدے نه چه مِنْ وجهٍ لرے دے یعنی فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْیِ۔ نو حاصل دا دے چه دم دَ تمتع او قِران واجب دے په آفاقی (بهرنه راتلونکی حاجیانو) باندے۔ نو معلومه شوه چه دَ مکے مکرمے او داخل دَ میقات خلق تمتع او قِران کولے شی لیکن په مکوی باندے دم واجب نه دے او آفاقی باندے په وخت دَ تمتع او قِران کښې دم واجب دے۔ او دا دم جبر دے۔ دویم قول دَ امام ابوحنیفه رحمه الله دے چه ذالِكَ اشاره ده فمن تمتع ته یعنی تمتع او قِران په آفاقی خلقو پورے خاص دی او داخلی کسان تمتع او قِران نشی کولے۔ بنا په اول قول سره لِمَنْ کښې لام په معنی دَ علیٰ سره دے لکه په دے قول دَ الله تعالیٰ کښې وَاِنْ اَسَأْتُمْ فَلَهَا۔

حَاضِرِی الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ، په دیکښې دَ علماؤ مختلف اقوال دی۔ دَ امام مالک رحمه الله په نیز دَ دینه مراد صرف مکے والا دی او دَ امام شافعی رحمه الله په نیز مراد هغه څوک دی چه دَ مکے نه په مسافت دَ سفر سره لرے نه وی۔ او یو قول دَ هغه او امام احمد رحمه الله دا دے چه مراد دَ دینه حرم والا دی۔ او په نیز دَ امام ابوحنیفه رحمه الله مراد دَ دینه هغه څوک دی چه په میقات کښې داخل دی یا میقات کښې اوسیږی۔ او لفظ دَ اَهْلُهٗ دلالت کوی چه مراد دَ دینه عارضی اقامت نه دے بلکه هغه څوک چه اصلی وطن او کلے یې مکه مکرمه وی۔ وَاتَّقُوا اللهَ ، مراد دَ دینه اطاعت کول دی په ټولو اوامرو

اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ ۚ فَمَنْ فَرَضَ

وخت دَ احرام دَحج دَ میاشتې معلومې دي، نو هغه څوک چه فرض یې کړو

فِيْهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ

په هغې کښې (په ځان باندې) حج نو نیشته دَ ښځو متعلق خبرې کول او نیشته نافرمانی

وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ۗ وَمَا تَفْعَلُوْا

او نیشته جګړه کول په حج کښې، او هغه چه کوئ تاسو

مِنْ خَيْرٍ يَّعْلَمْهُ اللّٰهُ ۗ وَتَزَوَّدُوْا

څه دَ نیکئ عمل عالم دے په هغې باندې الله تعالی، او توښه واخلئ دَ ځان دَ پاره

فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى ۫

ځکه چه یقیناً غوره توښه تقوی ده

وَاتَّقُوْنِ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۷﴾

او ویرېږئ زما نه اے صفا عقل والو۔

او نواهیو کښې۔ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ، دا خاص تنبیه او تخویف دے مخالفت کوونکو دَ دے احکاموته۔ او ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه مراد دَ دیته هغه څوک دی چه دَ حدودو دَ الله تعالی سپکوالے کوی۔ ځکه یې لفظ شدید ذکر کړیدے۔
ربط هر کله چه مخکښې آیت کښې ذکر شو امر دَ اتمام دَ حج نو اوس یې دَ اتمام طریقے ذکر کوی۔ او هغه په دے آیت کښې درے امور دی۔ (۱) وخت دَ احرام دَ حج۔ (۲) ممنوعات دَ حج۔ (۳) امر په توښے اوړلو سره۔ او په دیکښې رد دے په رسمونو دَ جاهلیت په باره دَ حج کښې۔ اول رسم دَ جاهلیت دا وو چه نورے میاشتے به یې دَ حج دَ احرام دَ پاره جائز ګڼړلے (اللباب)۔ دویم رسم په حج کښې دا وو چه تقوی به یې دَ محرماتو نه کوله۔ دریم دا چه توښه اوړل به یې ګناه ګڼړله۔

اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ، په اتفاق دَ علماؤ سره په دیکښ تقدیر دَ کلام دے یعنی اَشْهُرُ الْحَجِّ اَشْهُرٌ، وقت الحج اشهر، وقت العمل الحج اشهر- غوره دا ده چه اُوئیلے شی وقت احرام الحج اشهر ځکه چه افعال دَ حج خو په خاصو ایامو دَ حج کښې وی لیکن وخت دَ احرام دَ حج دَ میاشتو دَ حج نه شروع کیږی. هغه میاشتے شوال، ذوالقعده او لس شپے دَ ذوالحجے دی. یعنی چاچه دَ شوال نه مخکښ احرام دَ حج کړے وی نو هغه باطل دے۔
سوال:- اَشْهُرٌ خو جمع ده او دا خو دره میاشتے نه پوره کیږی؟
جواب ا:- په نیز دَ بعض علماؤ تول میاشت د ذوالحجے شمار ده یعنی دَ ذوالحجے دَ لسو ورځو نه چه چا روستو احرام دَ حج اُوتړلو نو صحیح دے لیکن تربل کال پورے به په احرام کښې اُوسیږی۔
جواب ۲:- لس شپے دَ ذوالحجے مراد دی لیکن کله کل ذکر شی او مراد تربنه بعض وی۔
مَعْلُوْمٰتٌ، یعنی مخکښې دَ ورود دَ شرع نه هم دغه میاشتے جاهلیت والو ته معلوم وے او شریعت په دیکښ دَ هغوی دَ معلوم موافق راغلے دے۔ یا داچه معلوم دی په بیان دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره۔ فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ، یعنی چاچه لازم کړو په ځان باندے حج کول په نیت کولو سره په زړه کښې او په احرام تړلو سره په عمل کښې او په تلبیه وئیلو سره په ژبه باندے (قرطبی)۔
او په دیکښ اشاره ده چه حج په شروع کولو سره فرض کیږی اګرچه نفلی وی۔ فِيْهِنَّ، فیها یئے نه دے وئیلے. مازنی وئیلی دی چه جمع کثرت دَ غیر عاقل پشان دَ واحد مؤنث کیدلے شی لیکن جمع قلت دَ غیر عاقل به جمع استعمالیږی په ضمیر کښې او اشهر جمع قلت ده او شهور جمع کثرت ده په ان عدة الشهور (الایة) کښې یئے ورپسے منها وئیلی دی۔ فَلَا رَفَثَ، اکثرو اهل علمو وئیلی دی چه دا په ظاهر کښې جمله خبریه ده لیکن په معنیٰ دَ نهی سره ده لیکن نهی یئے په صورت دَ خبر کښې دَ تاکید دَ پاره راوړے ده۔ یعنی دَ حاجی دَ حال نه لرے ده چه هغه دِ پیچ کښې

دغه کاروته اُوکړي۔ او بعضو علماؤ وئیلي دي چه نفي پخپله معنٰی سره ده نو مراد دَ آیت نه نفي دَ حج ده په وخت دَ دے دریو کاروتوکښ یعني نفي شرعي دَ حج مراد ده اګرچه نفي وجودي یې تیشته۔ او دا توجیه قرطبي ذکر کړیده۔ او ابوحیان پکښ تفصیل کړیں ے۔ رَفَثَ، په دیکښ ډیر اقوال دي۔ اول قول دا چه رفث جماع ده۔ دویم دا چه ښځو ته فحش خبرے کول۔ دریم دا چه دا جامعه او شامله کلمه ده هر هغه فعل او قول ته چه سړے یې دَ خپلے ښځے ته اراده کوي۔ وَلَا فُسُوْقَ، په دیکښ هم ډیر اقوال دي۔ اول قول، ټول ګناهونه کبیره مراد دي۔ (۲) ګناهونه په وخت دَ احرام کښ لکه ښکار کول وغیره۔ (۳) ذبح په نوم دَ غیرالله۔ (۴) په ناکاره نوموتو او لقبونو سره بوبل یادول۔ (۵) کنځل کول۔ نو دا لفظ دے ټولو ته شامل دے۔ وَلَا جِدَالَ، په دیکښ هم ډیر اقوال دي۔ (۱) جګړه کول دَ یو مسلمان سره تر دے چه هغه غصه شي او کنځل اُوکړي (۲) کنځل کول (۳) اختلاف کول په مواضعو دَ موقوف ځایونو دَ اودریدلو کښ۔ (۴) اختلاف کول په ورځو دَ عرفے او دَ حج کښ۔ (۵) فخر کول په خپلو خپلو مشرانو سره۔

فائده۔ په دے دریو وارو کښ اشاره ده چه حج کوونکي لره اخلاق جمیله پکار دي۔ او دَ دے دَ پاره علاج دَ قوتِ شهوانیه کمزوري کول دي په لفظ دَ لَا رَفَثَ کښ او قوت نفسانیه (نفس اماره) کمزورے کول په لفظ دَ وَلَا فُسُوْقَ سره۔ او قوتِ وهمیه شیطانیه کمزورے کول په لفظ دَ وَلَا جِدَالَ سره۔ نو اشاره ده چه دا دَرے واړه قوتونه منشا او اسباب دي دَ پاره دَ اخلاق رذائیلو۔ او درے واړه هر وخت کښ منع دي لیکن په حالت دَ حج کښ دَ دے دَ منع زیات تاکید دے۔ ځکه چه حج کوونکے دَ الله تعالٰی دَ کور سره حاضر دے نو هغه له بل طرف ته هیڅ توجه جائز نه ده سیوا دَ عبادت او خشوع الی الله نه۔

وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ يَّعْلَمْهُ اللهُ، روستو دَ ذکر دَ منهیاتو نه اوس ترغیب ورکوي په ټولو اعمالو دَ خیر بانس ے۔ خیر هر هغه

قول او عمل دے چه دَ هغې حسن په دلیل شرعي سره ثابت وي او خصوصًا دلته مراد دَ خیر نه په مقابله دَ رَفَث کښې خائسته کلام دَے او دَ فُسُوْق په مقابله کښې طاعت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم او دَ جِدَال په مقابله کښې موافقت او رضا ده - یَعْلَمْهُ اللّٰهُ ، په دیکښې اشاره ده لوئے جزاء او ثواب ته دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه - وَتَزَوَّدُوْا ، دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه بخاري او ابوداؤد وغیره روایت نقل کړیدے چه دا رد دے په یمن والو باندے چه هغوي به حج له راتلل نو دَ ځان سره به یې توخه نه راوړله او دا توخه نه راوړل یې ثواب ګڼړلو او وئیل به یې چه موږ متوکل کوونکي یو- او بل روایت کښې دي چه هر کله به دوي اوبړي شول نو دَ خلقو نه به یې سوال کوؤ دَ حج په نوم باندے- نو دَ هغوي په رد کښې نازل شو چه تَزَوَّدُوْا- نو دا حکم عام دے هر سفر ته او بالخصوص سفر دَ حج، علم او نورا عمال صالحه ته- او مقدار دَ زاد (توخے) دومره پکار دے چه انسان په هغې سره دَ سوال کولو نه بچ شي او دغه مقدار دَ هر چا دَ خپل حال سره مناسب پکار دے- دا دلیل دے چه توخه دَ ځان سره اوړل دَ توکل منافي نه دي- دَ ابن جوزي نه نقل دي چه ابلیس په یو قوم باندے تلبیس اچولے وو چه هغوي دعوي دَ توکل کوله او دَ حج دَ پاره به یې بغیر دَ توخے نه تلل او وئیل به یې چه دا توکل دے لیکن دا کار یې خطا وو- فَاِنَّ خَیْرَ الزَّادِ التَّقْوٰی، په دیکښې دَ مفسرینو ګڼړ اقوال دي اول دا چه مراد دَ تقوٰي نه دَ تولو حراموته بچ کیدل دي نو مراد دا شو چه دَ زادِ ظاهري سره تقوٰي (چه زادِ حقیقي دے) یو ځائے کړئ- دویم قول، دَ دینه مراد عامه شرعي تقوٰي ده یعني دَ توخے دَ دُنیا سره توخے دَ آخرت ته ترغیب دے- دَ دے دَ پاره چه توله توجه صرف دُ نیا ته قائمه نه شي- دریم قول دَ تقوٰي نه مراد دومره توخه دَ ځان سره اوړل دي چه انسان پرے دَ سوال کولو نه بچ کیږي- وَاتَّقُوْنِ یٰۤاُولِی الْاَلْبَابِ، اَلْبَاب جمع دَ لُبّ ده خالص دَ هر څیز ته

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا

نیشته په تاسو باندے ګناه چه لټوئ تاسو

فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَإِذَا أَفَضْتُمْ

ګټه دَ تجارت دَ طرف دَ رب ستاسو نه، نو هر کله چه راګوزشئ تاسو

مِّنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ

دَ عرفات نه نو یادوئ الله تعالیٰ لره

عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ص

دَ مشعر حرام په خوا کښ (چه مزدلفه ده)

وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ ج وَإِنْ كُنْتُمْ

او یادوئ الله تعالیٰ لکه چه خودلے ئے کړیده تاسو ته او یقیناً وئ تاسو

مِّنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّالِّينَ ﴿١٩٨﴾

مخکښ دَ دے نه خامخواه دَ ګمراهانو نه۔

وئیلے شی۔ او دلته مراد هغه عقل دے چه صفا وی دَ خیرو دَ وهم نه۔ امر دَ تقوی اګرچه ټولو عقل والو دَ پاره عام دے لیکن تخصیص دَ اولی الالباب دَ تاکید دَ پاره دے۔ اشاره ده چه په چا کښ تقوی نه وی نو دَ هغه دَ عقل سره غلط وهمونه ګډ شوی وی۔

۱۹۸ په دے آیت کښ دَ اتمام دَ حج دَ پاره درے أمور ذکر کوی۔ (۱) رد دَ رسم چه په حج کښ دَ تجارت حرام ګنړل دی۔ (۲) وقوف دَ مزدلفے۔ (۳) په هغے کښ دَ الله تعالیٰ ذکر کول۔

ربط:۔ دَ دے آیت دَ مخکښ سره په یو څو وجوهو سره دے۔

۱:۔ جاهلیت والو تجارت کول په سفر دَ حج کښ حرام ګنړل۔ او صاحب اللباب دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړے دے چه دَ عربو څه خلقو به دَ حج په موسم کښ تجارت کول حرام ګنړل او تاجر فی الحج ته به ئے الداج وئیلو یعنی

(دَ چرګ پشان را تولوئ ګے کسب ګن) او سوال کول په دوی جائز ګنړلو
دَ دے وجے نه چه توجه په ورسره نه وه او تجارت به یئے نه کوو
نوسوال به یئے کوو۔ نو دے آیت کښ یئے دَ دے رسم رد اُوکړو۔
۲:- هرکله چه جدال حرام شو او تجارت کله کله رسیږی جدال
ته نو دَ لاجدال نه وهم پیدا شو چه تجارت کول هم په حج کښ
ګناه دے نو دَ دغه وهم تردید اُوشو۔
لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ، ابوحیان وائی چه دلته جناح په عامه معنیٰ
سره دے که مقتضا دَ زورنے وی اوکه دَ ګناه وی۔ یعنی ګناه او
زورنه دواړه نیشته۔ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ، ابتغاء طلب کیدو
خیز دے په کوشش سره۔ فَضْلًا تجارت کول او کرایه حاصلول
وغیره۔ او فضل په دے معنیٰ سره په قرآن کښ سورة مزمل ښل
سورة قصص ښک کښ هم دے۔ او دَ ابوجعفر نه روایت دے چه
په دیکښ نورکارونه دَ خیر هم داخل دی لکه امداد کول دَ کمزوری
سره خوراک ورکول اُوبړی نه وغیره۔
فائده:- په دیکښ په سفر دَ حج کښ تجارت کولو ته ترغیب
نیشته بلکه ذکر یئے دَ دے دَ پاره دے چه جائز یئے اُوګنړئی۔ او دَ
ضرورت په وخت کښ تجارت کوئی چه دَ سوال کولو نه بچ شئی۔
فَاِذَآ اَفَضْتُمْ مِّنْ عَرَفٰتٍ، اَفَضْتُمْ دَ فَاضَ الاناءُ نه اخستلے شویدے
چه لوخے دَ اُوبو نه ډک شی او په غاړو تریته بهیږی۔ دلته په
معنیٰ دَ راکوزیدلو دے۔ یعنی هرکله چه په عرفات کښ په اذکارو
او ادعیو باندے ښه ماړه شئ او بیا راکوز شئ دَ هغے نه۔ او افاضه
استعمالیږی په راتللو کښ په ډیروالی سره۔ اشاره ده چه
دَ عرفات نه دَ نورو خلقو سره یو ځائے شریک راکوزیږئ۔
عرفات:- دا نوم دَ یو خاص زمکے دے دَ کعبے نه مشرقی جانب ته
او دا نوم دَ مفرد دے اګرچه په وزن دَ جمع مؤنث دے۔ او په دے
لفظ کښ ډیر اقوال دی۔ اول قول دا چه لفظ مرتجل دے یعنی
دَ چا نه مشتق نه دے۔ دویم دا چه دا لفظ دَ عرف نه اخستلے شویدے
او عرف خوشبو ته وائی۔ دریم دا چه دا دَ عَرَفَ نه دے په معنیٰ

ډاوچتوالي دے۔ تحلورم قول دا د معرفت نه دے په معنیٰ د پیژندلو
سره۔ او په دے وجه تسمیه کښې هم مختلف اقوال دي چه هغه
صاحب اللباب او بعض نورو مفسرینو په تفصیل سره لیکلي دي۔
او حدیث صحیح سره ثابت ده چه دا راکوزیدل د عرفات نه د تمر
پریوتلو نه روستو دي د عرفے په ورځ باندے (چه هغه نهمه
ورځ د ذوالحجے ده) او د ماښام مونځ به هلته یا په لار کښې نه ادا
کوي بلکه په مزدلفه کښې به یې د ماسخوتن د مونځ سره یو
ځائے کوي۔

فَاذْكُرُوا اللّٰهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ، دا دلیل دے چه وقوف په مزدلفه
کښې واجب دے۔ او په فرضیت کښې یې د اهل علمو اختلاف دے
اَلْمَشْعَرِ، ځائے د علامت ته وئیلے شي او دا هم د معالمو د حج نه
دے۔ او مراد د دینه مزدلفه ده۔ او مزدلفه ټوله موقف دے
اګرچه د مسجد په خوا کښې اودریدل غوره دي۔

وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدٰىكُمْ، سوال:۔ امر کول په ذکر سره دوه کرته ولے ذکر شو؟
جواب:۔ په دوا ړو کښې فرق دے په ډیرو وجوهو سره۔۱:۔ اول
ذکر په معنیٰ د جمع کولو د مونځ د ماښام او ماسخوتن دے په
وخت د ماسخوتن کښې دویم مونځ د صبا په مزدلفه کښې په
تیاره کښې۔ ۲:۔ اول ذکر په ژبه سره دویم ذکر په زړه سره۔۳:۔
اول ذکر د الله تعالیٰ په تسبیح او حمد سره او په اسمائو صفاتو د
الله تعالیٰ سره او دویم شکر کول د نعمتونو د الله تعالیٰ۔۴:۔ اول ذکر
مطلق ذکر شو دویم ذکر د هغے تقیید یې اوکړو په هدایت سره۔
۵:۔ اول مطلق ذکر کول دي دویم دوام د ذکر دے۔

كَمَا هَدٰىكُمْ، کاف په معنیٰ د تشبیه دے یا په معنیٰ د علت سره دے
په دے قید کښې اوله فائده دا ده چه نوموته او صفات د الله تعالیٰ
توقیفي دي نو معنیٰ دا ده چه ذکر د الله تعالیٰ په هغه اسمائو او صفاتو
سره کوئ چه هغه په وحي سره ثابت وي (اللباب)۔ دویمه فائده
چه لام د پاره د علت شي یعني د وجے د هدایت د الله تعالیٰ نه
تاسو ته نو د هغه ذکر او شکر کوئ۔ دریمه فائده: هر ذکر الهي

ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ

بیا (واپس) راکوزیګئ د هغه ځائے نه چه راکوزیګی د هغی نه عام خلق

وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٩٩﴾

او بخنه غواړئ د الله تعالیٰ نه ، یقینًا الله تعالیٰ بخنه کوونکے دے رحم کوونکے دے۔

په شرعی طریقے سره ضروری دے که په جهر (اوچت آواز) سره ثابت وی نو په جهر سره پکار دے او که په جمع سره ثابت وی نو په جمع پکار دے او که په پټه او انفرادی وی نو هغسے پکار دے۔ وَإِن كُنتُم مِّن قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّالِّينَ ، دا تاکیدِ دے د هَدٰکُمْ یعنی بغیر د هدایت د الله تعالیٰ نه ضلال دے۔ وَإِنْ ، په دیکښ د نحویانو اختلاف دے د بصریانو په نیز اِن مخفف دے د مثقل نه یعنی اِنَّهٗ كُنْتُمْ او لام د پاره د ابتدا یا د فرق دے۔ او په نیز د فراء یغوی اِنْ په معنیٰ د ما نافیه دے او لام په معنیٰ د اِلَّا سره دے۔ او په نیز د کسائی یا دے په اِنْ کښ تفصیل دے که په جمله فعلیه باندے داخل وی نو په معنیٰ د قد سره دے او که په جمله اسمیه باندے داخل وی نو پښتان د قول د فراء یغوی دے۔ او په نیز د اخفش اِنْ وصیله دے او لام د پاره د تاکید دے (دټولے معانے جائز دی)۔ مِنْ قَبْلِهٖ ، ضمیر هدی ته راجع دے په ضمن د هَدٰکُمْ ، یا قرآن ته راجع دے۔ یا رسول ته راجع دے یعنی مخکښ د نازلولو د قرآن نه۔ یا مخکښ د رالیږلو د آخری رسول نه۔

۱۹۹ د دے آیت په تفسیر کښ دوه اقوال دی۔ اول قول د عامو مفسرینو دے۔ او وارد دی په حدیث د بخاری او ترمذی کښ چه مراد د دے افاضے نه افاضه ده د عرفات نه مزدلفے ته۔

سوال :- افاضه د عرفات نه مخکښ آیت کښ ذکر شوه نو دوباره ذکر ته څه ضرورت وو؟

جواب ا :- اول صرف په طریقه د اخبار سره ذکر وو چه د هغے نه فرضیت نه ثابتیدلو نو اوس یئے په طریقه د امر سره ذکر کوی

دَ پارہ دَ افاضے دَ فرضیت دَ وقوفِ عرفہ ۔ جواب ۲:- دارد دے په رسم دَ جاهلیت باندے چه دا رسم په قریشو او دَ هغوی په تابعدارو کښے وو۔ هغوی ځان له حُمس او قُطّانُ بیت اللّٰه نوم کیخودلے وو او وئیل به ئے چه خاص په موږ باندے دا حرام دی چه په ایامُ دَ حج کښے دَ زمکے دَ حرم نه بهر اُوځو۔ او زمکه دَ عرفات دَ حرم دَ حدودو نه بهر ده نو تو ر خلق به په ورځ دَ عرفے عرفات ته تلل او دوی به په دغه ورځ په مزدلفه کښے په نیز دَ بُوله دَ حرم باندے وقوف کولو او دا په هغوی کښے یو رائج رسم وو نو په دے آیت کښے په دے رسم باندے صراحتًا رد کول مقصد دی۔
سوال:- لفظ ثُمَّ خو دلالت کوی په روستو والی باندے په اعتبار دَ زمانے سره نو افاضه دَ عرفات خو دَ مزدلفے نه روستو نه ده؟۔
جواب:- دلته ثُمَّ دَ تعقیب ذکری (دَ ترتیب) دَ پاره دے۔ دَ تراخی دَ زمان دَ پاره نه دے او دا دَ ډیرو مفسرینو قول دے۔ یا ثُمَّ په معنی دَ واو سره دے په نیز دَ بعضِ نحویانو صرف عطف دَ یو کلام دے په بل باندے بغیر دَ تراخی او ترتیب نه۔ یا ثُمَّ دَ پاره دَ تفاوت دَ ماقبل او مابعد دے۔ دا قول دَ زمخشری دے۔ دویم قول دَ ضحاک نه نقل دے او هغه ابن جریر غوره کړے دے چه مراد دَ دینه افاضه ده دَ مزدلفے نه منیٰ ته په یوم النحر کښے او ثُمَّ په خپله معنیٰ سره دے لیکن هرکله چه دَ اول قول دَ پاره حجت مرفوع صحیح حدیث شته او دَ دویم دَ پاره نیشته نو اول قول صحیح دے نو بنا په قول اول باندے ثُمَّ افیضوا خطاب دے قریشو او دَ هغوی تابعدارو ته۔
مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ، دَ الناس نه مراد عرب دی یا ابراهیم علیه السلام او دَ هغه تابعداران دی او په دے لفظ کښے اشاره ده قباحت دَ عمل دَ قریشو ته۔ یعنی ستاسو دا رسم دَ ملتِ ابراهیمیه نه خلاف دے۔ وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ، په دیکښے مراد استغفار دے دَ هغه ګناه (رسم) نه چه قریشو کړے وو په خلاف دَ ملت ابراهیمیه کښے۔ یا مراد دَ دینه عام خطاب دے که دَ چا نه صریح ګناه هو نه

فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ

نو کله چه پوره کړئ تاسو عبادات دَ حج ستاسو نو یاد وئ الله تعالیٰ لره

كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا ط

پشان دَ یادولو ستاسو پلاران ستاسو یا زیات دَ هغې نه په ذکر سره،

فَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا

نو بعض دَ خلقو نه هغه څوک دی وائي اے ربه زمونږ راکړے مونږ ته

فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ﴿٢٠٠﴾

په دنیا کښ او نه وی ده لره په آخرت کښ هیڅ حصه دَ ثواب۔

سرزد شوی وی نو په هغه باندے استغفار واجب دے او که چرته گناه ته وی نښکاره شوے لیکن دَ بنده دَ عجز دَ وجے نه احتمال دَ تقصیر په واجباتو کښے شی دَ دے وجے نه استغفار ضروری دے۔ او دا پشان دَ هغه استغفار دے چه په حدیث دَ مسلم کښ دی چه نبی صلی الله علیه وسلم به دَ فرض مونځ دَ سلام گرځولو نه روستو درے ځله استغفار غوښتلو۔

فائده:۔ مِنْ حَيْثُ دلته دَ مکان دَ پاره دے او احتمال دَ زمان هم لری یعنی مکان چه عرفات دے او زمان (چه په سنت سره ثابت دے) چه روستو دَ پریوتلو دَ نمر نه دے او مخکښ دَ مغرب دَ مونځ نه دے۔ او لفظ حَيْثُ چه په فعل ماضی باندے داخل شی نو ماضی حقیقتًا مراد کیږی شی او په معنیٰ دَ مستقبل باندے هم کیدے شی دلته دواړه معنے صحیح دی (ابوحیان)۔

ف۲ په دے آیت کښ وکوف دَ منیٰ ته اشاره ده او دَ حج کوونکو یو قسم چه بدبخت دی ذکر کوی او په دیکښ رد دے په یو رسم دَ جاهلیت باندے چه هغه فخر کول وو په مشرانو باندے او ورسره دَ هغوی مفاخر دُنیویه چه ځان دَ پاره به ئے دَ الله تعالیٰ نه غوښتل۔

فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ، معنی دَ قضٰی دَ دے سورت ۲۰۰ کښې ذکر شوی دی دلته مراد دَ قضا نه پوره کول او ادا کول دی - ابو حیان او صاحب اللباب ذکر کړی دی چه لفظ دَ قضی دَ خپل ځان دَ کار سره ذکر شی نو ادا او پوره کول مراد وی لکه په سورة حم سجده ۱۲، سورة جمعه ۱۰ کښې دی- او چه دَ کار دَ غیر سره ذکر شی نو مراد تړینه الزام یا اعلام وی - مَنَاسِكَ، کښې دلته درے اقوال دی -(۱) عبادات خاصه دَ حج -(۲) ځایونه دَ عبادت - او مضاف پټ دے یعنی اعمال مناسککم - او په دواړو احتمالونو سره مراد دلته اکثر هغه اعمال دی چه دَ منی دَ وقوف پورے دی -(۳) ذبح او نحر کول په منیٰ کښې روستو دَ ویشتلو دَ جمرة عقبه نه - او په دے قضاءِ مناسک کښې دوه اقوال دی اول قول دَ قرطبی دَ چه مراد دا دے چه هر یو متسك ادا کوئ نو وروسته دَ هغے ذکر خاص کوئ یعنی ذکر و دعا دَ عرفات، او ذکر و دعا دَ مزدلفے او دَ طواف او دَ سعی - نو مناسك نه مراد هر یو متسك دے جدا جدا - دویم قول دَ عامو مفسرینو دے چه دَ طواف او سعی او وقوف عرفه او مزدلفه نه فارغ شئ او منیٰ ته راشئ نو دَ الله تعالیٰ شکر او دَ هغه عظمت ذکر کوئ - او هغه تکبیر دَ رمی دَ جمرة عقبه (ویشتل دَ لوئے شیطان) او تکبیر دَ ذبحے ته شامل دے - فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ، په تشبیه دَ ذکر دَ الله تعالیٰ دَ ذکر دَ آباؤ سره ډیر اقوال دی - اول قول دَ جمهورو مفسرینو دے چه دَ حج په مواقفو کښې او په منیٰ کښې جاهلیت والو به دَ خپلو مشرانو ذکر په کثرت او په فخر سره کوو په طریقه دَ شعرونو او دَ نثر سره - نو حاصل دا شو چه په دا سے مواقفو کښې ذکر دَ الله تعالیٰ په کثرت او په عظمت سره کوئ - دویم قول دَ ابن عباس رضی الله عنهما او عطاء او ضحاك او ربیع رحمهم الله نه قرطبی نقل کړیدے چه دَ وړوکوالی په وخت او په تکلیف رسیدلو سره او دَ محبت دَ وجے نه اکثر آواز کیږی چه اے ځما پلاره (راے دادا) یا اے ځما موره - نو مقصد دا دے چه تاسو په وخت دَ تکلیف کښې

او دَ محبت په وجه یا الله وایئ او امداد صرف دَ الله تعالیٰ نه غواړئ۔
سوال:- دَ دے تشبیه نه په دواړو قولونو سره معلومیږی چه دغه عمل دَ جاهلیت او دَ حال دَ وړوکوالی اوس هم جائز دے؟۔
جواب:- تشبیه دَ جواز دَ پاره مستلزم نه ده په دلیل دَ روستو لفظ اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا چه په هغے سره فرق ذکر کوی، هاں دَ وړوکوالی په حال کښ انسان مکلف نه دے لیکن مور او پلار ته پکار دی چه په وړوکوالی کښ دَ خپل بچی عادت په لفظ دَ یا الله سره جوړ کړی (او دغسے نور شرعی او اسلامی الفاظ دِ ورته زده کوی په ځائے دَ دے چه کنځل او بد بے خیرے ورته ښائی) دے دَ پاره چه دَ شرک او دَ گناه کولو ذریعه او عادات جوړ نشی۔ دریم قول هم دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه سیوطی وغیره نقل کړیدی چه هر کله دَ یو انسان مور او پلار په بدئ سره ذکر کیږی او هغوی ته کنځلے کیږی نو انسان دَ غیرت او دَ غصے په وجه دَ مور او پلار طرفداری کوی او دَ هغوی دَ بے حرمتئ جوابونه کوی نو مقصد دا دے چه څوک دَ الله تعالیٰ بے حرمتی کوی یعنی هغه ته دَ ولد یا شریک نسبت کوی یا دَ هغه دَ رسول او دَ کتاب او دَ دین بے عزتی او سپکاوے کوی نو تاسو دَ هغے جوابونه کوئ او دَ هغے نه دفاع کوئ۔ څلورم قول دا دے چه دا تشبیه په یو والی کښ ده لکه چه هر انسان دَ ځان دَ پاره دَ یو پلار ذکر کوی (که څوک ورته دَ پلار په شراکت کښ دَ دویم پلار ذکر یا کنځل کوی نو سخت بد یئے گڼړی) نو دا رنگ دَ الله تعالیٰ ذکر په یو والی او توحید سره ضروری دے شریک ورسره مه گڼړئ۔ پنځم قول دَ ابن الانباری نه نقل دے چه جاهلیت کښ به خلقو په خپل پلار باندے قسم کولو او هغه قسم به یئے لوئے قسم گڼړلو نو اوو ئیلے شو چه قسم په الله تعالیٰ باندے کوئ دا تعظیم په الله تعالیٰ پورے خاص دے۔
اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا، اَوْ دَ پاره دَ تخییر او دَ اباحت دے سرۀ دَ ترقئ نه نو په معنیٰ دَ بل سره دے۔ نو په اول قول او دویم کښ دَ اشدیت مقصد دا دے چه ذکر دَ پلارانو تاسو په مواقفو کښ په کثرت سره

کوي يا په ورکوالي کښې کوئ ليکن ذکر د الله تعالیٰ په په دوام سره کوئ په يو حالت پورې په يئ نه خاص کوئ نو اَشَدَّ په معنیٰ د ادوم (هميشه) دے۔ په دريم قول کښې اشد يت دا دے چه کله کله د انسان مور او پلار لائق د يے عزتئ او د ملامتيا وي او کيدے شي ليکن الله تعالیٰ هر وخت پاک دے د يے عزتئ، يے احترامئ، اعتراض او نخلوته۔ او څلورم قول کښې اشد يت دا دے چه کله د مجاز په طور سره د آبْ (پلار) اطلاق په تره او په نيکه باندے کيدے شي ليکن د الله تعالیٰ په باره کښې د تعدد (ډير والي) او شريک او مشابه هيڅ احتمال نيشته۔ او پنځم قول کښې اشد يت دا دے چه کله په دوي قسم په پلار کړو او کله په الله تعالیٰ باندے ليکن قسم کول خاص دي په الله تعالیٰ پورے په غير الله باندے قسم کول حرام دي۔ او هر کله چه د لفظ د اشد يت دغه معاني دي د دے وجے نه يئ لفظ اَکْثَرُ نه دے استعمال کړے۔

اعراب:- په لفظ د اَشَدَّ کښې دوه احتماله دي۔ اول دا چه دا مجرور دے او عطف دے په ذِكْرِكُمْ باندے۔ او عطف په مجرور باندے بغير د اعادے د حرف جر نه د بعضے نحويانو په نيز جائز دے۔ او تقدير دا دے، اَوْ كَذِكْرٍ اَشَدَّ ذِكْرًا، يا عطف دے په كُمْ باندے چه مضاف اليه دے په كَذِكْرِكُمْ کښې او تقدير د عبارت دا دے كَذِكْرِ قُرَيْشٍ اٰبَاءَهُمْ اَوْ قَوْمٍ اَشَدَّ ذِكْرًا، دويم احتمال دا دے چه دا منصوب دے او د هغې پنځه وجوه دي۔ ۱:- دا معطوف دے په آباءكم باندے۔ دا قول د زمخشري دے۔ ۲:- دا معطوف دے په محل د كاف باندے په كذكركم کښې او تقدير د عبارت دا دے، ذِكْرًا كذكركم آباءكم اَوْ اشدَّا، دا قول د ابوعلي او ابن جني دے۔ ۳:- دا منصوب دے په تقدير د فعل سره يعني فاذكروه ذكرًا اشد من ذكركم آباءكم، دا قول د مكي دے۔ ۴:- ديکښې فعل د كون پټ دے يعني، كونوا اشد ذكرا لله من ذكركم آباءكم، دا قول د ابوالبقاء دے۔ ۵:- دا منصوب دے بنا په دے چه حال دے د ذكرًا نه۔ او په دے وجوهو کښې اعتراضات او جوابات ابوحيان

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي

او بعض ددوی نه هغه څوک دی چه وائي اے ربه زمونږ راکړے موږ ته په

الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ

دنیا کښې ښائسته ژوند او په آخرت کښې

حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾

ښائسته ژوند او بچ اوساتے موږ د عذاب د اور نه۔

اوصاحب اللباب ذکرکړی دی۔

فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا۔ په دیکښې دحج والو تقسیم ذکرکوی دوه قسمونو ته۔ اول قسم دنیا پرست بدبخت دے لکه چه مشرکانو دعربو په دخپلو پلارانو مفاخر ذکرولو په او اوچتوالے ذکرکړو نو بیا یې دُعا غوښتله چه یا الله تعالیٰ دغه اسباب د دُنیا او مالونه موږ له هم راکړے۔ او دا وجه د ربط ده دمخکښې سره۔ او دا مَنْ يَّقُوْلُ اګرچه کافران وو لیکن په دیکښې هغه مسلمانان چه د دُنیا طلبګاروی هم داخل دی۔(قرطبی)

اومفعول د اٰتِنَا پټ دے یعنی مَا نُرِيْدُ اَوْ مَطْلُوْبَنَا۔

وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ، دا جمله خبریه په مقصد د نهی سره ده یعنی دا سے دُعا مه غواړئ چه د آخرت ذکر پکښې نه وی۔ او که مراد په دیکښې کافران وی نو د هغوی خو په آخرت کښې هیڅ برخه د ثواب نیشته۔ او که مراد په دیکښې مسلمانان وی نو د نفی د خلاق (برخې) درے توجیه دی اول دا چه په دیکښې روستو عبارت پټ دے یعنی اِلَّا اَنْ يَّتُوْبَ۔ دویمه توجیه دا چه اِلَّا اَنْ يَّعْفُوَ اللّٰهُ عَنْهُ۔ دریم دا چه هغه خلاق چه د کاملو مؤمنانو د پاره وی په آخرت کښې (نو هغه د دوی د پاره نیشته)۔ او دا سے مضمون په سورة شوریٰ ۲۰ کښې هم راغلے دے۔

خلاق په اصل کښې د خَلُقَ نه اخستلے شویدے په معنیٰ د لیاقت۔ او معنیٰ د لیاقت د پوخیز مستلزم ده نفاست (عمده والی) د برخې

دَ هغې لره۔ نو خلاق په برخه دَ خير او نفيس کښې استعمالېږي۔ او داسې په دې سورت ۱۰۲ کښې هم تير شوي دي۔

ف ۲: په دې آيت کښې دَ حج کوونکو دويم قسم ذکر کوي يعني نيک بخت۔ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً، ابن کثير وئيلي دي چه په دې دُعا کښې هر خير دَ دُنيا طلب کول او دَ هر شر نه بچ کيدل داخل دي۔ ځکه چه حَسَنَة په دُنيا کښې هر دُنيوي مطلوب ته شامل دې لکه عافيت، روغ صحت، فراخه کور، نيکه او خوش اخلاقه ښځه، دَ رزق فراخي، نفع ورکوونکې علم، نيک او مقبول عمل، آسانه او نرمه سورلي او ښائسته تعريف او نيک اولاد وغيره۔ (دا دَ مفسرينو په مختلف عباراتو کښې موجود دي)۔ او حسنه دَ آخرت هغه دخول دَ جنت، دَ فزع اکبر نه په امن کيدل او آسان حساب وغيره ته شامل دې۔ نو په دېکښې ټول انعامات دَ آخرت او خير داخل دي۔

وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ، په دېکښې دَ اور دَ جهنم نه دَ بچ کيدلو ټولو اسبابو آسانيدلو ته اشاره ده يعني دَ حرامو عامو گناهونو او شبهاتو نه بچکيدل۔ دَ قاسم نه روايت دې چه چا لره الله تعالىٰ شکر گزار زړه او ژبه ذکر کوونکې او صبر ناک بدن ورکړو نو دهٔ له دَ دُنيا او آخرت حَسَنَة ورکړې شوه (ابن کثير) دَ عوف نه نقل دې چه چا له الله تعالىٰ اسلام، قرآن، اهل ومال ورکړو نو دهٔ له دَ دُنيا او آخرت حسنه ورکړې شوه (معالم)۔

سوال:- دلته حسنة نکره ده په سياق دَ اثبات کښې او دا خو عموم نه غواړي؟۔

جواب:- حسنه په اصل کښې صفت دې دَ موصوف پټ او دا صفت غالبه دې موصوف ئې هميشه محذوف وي۔ او موصوف ئې مَعِيْشَة او حيٰوة او عطية حسنة دې۔ او په دې معنىٰ سره حسنة ماقيل ټولو معنو ته شامل ده اگر چه نکره ده۔

سوال:- دائې ولې معرفه نه ذکر کوله؟۔

جواب ا:- په معرفه کښې کله احتمال دَ تخصيص وي چه الف لام

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّمَّا كَسَبُوْا ؕ

دغه کسان دوی لره حصه ده دَ هغه عمل دَ وجے نه چه دوی کړے دی

وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۲۰۲﴾

او الله تعالیٰ زر حساب کوونکے دے۔

عهدی وی۔ جواب ۲:- په دیکښ ادب دَ داعی دے یعنی اے الله تعالیٰ ماله هغه حسنه راکړے چه ستا دَ قضا او قدر سره موافق وی۔
سوال:- هرکله چه لفظ حسنه ټول خیر ته شامل وو نو رَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ئې وریسے ولے ذکر کړو؟۔
جواب:- جنت بعض مسلمانانو ګناهګارو) ته هله حاصلیږی چه څه وخت دَ پاره اور دَ جهنم کښ داخل شی او دَ خپلو ګناهونو عذاب تیرکړی لیکن داخو مطلوب نه دے نو دَ دے وجے نه دغه الفاظو کښ اشاره اوشوه چه اول دخول دَ جنت مراد دے۔ او په دیکښ حسنه کامله او خیر کامل دے
۲۰۲ اُولٰٓئِكَ، په دیکښ دوه احتماله دی اول دا چه داخاص دویم قسم ته راجع دے او دا په مقابل دَ مَالَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ کښ دے۔ یعنی اول فریق دَ پاره آخرت کښ حصه دَ ثواب نیشته او دویم فریق له پوره حصه ده۔ دویم احتمال دا دے چه دا راجع دے دواړو فریقو ته او نصیب عام دے ثواب او عقاب دواړو ته شامل دے او مِمَّا كَسَبُوْا هم عام دے دواړه قسمه عملونو ته شامل دے۔
په مِمَّا کښ مِنْ اجلیه دے او ما مصدریه یا موصوله دے۔
وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ، حساب په اصل کښ پوره شمارلو ته وئیلے شی او پوره شمار کول خو مخلوق زر نشی کولے ځکه چه هغه خو دَ لیکلو او دَ شمارلو اسبابو ته محتاج وی او الله تعالیٰ دغے اسبابو ته هیڅ احتیاج نه لری۔ او دَ دے په مقدار کښ مختلف روایات راغلی دی۔ مقدار دَ لوشلو دَ بیزے، مینځنئ وقفه دَ دوه لوشلو دَ اُوښے، رپ دَ سترګے، او په یو روایت کښ دی چه مقدار دَ یو مؤمن دَ فرض مونځ ادا کولو دَ وخت۔ او یل روایت کښ دی چه

وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ

او یاد دی الله تعالیٰ په ورځو شمارلے شوؤ کښې

فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ فَلَآ اِثْمَ

نو هغه څوک چه تادی کوی په پوره کولو دَ دوه ورځو کښې نو ګناه نیشته

عَلَيْهِ ۚ وَمَنْ تَاَخَّرَ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۙ

په هغه باندے او هغه څوک چه روستو شو (د دریمے ورځے ته) نو ګناه نیشته په هغه باندے

لِمَنِ اتَّقٰى ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

دَ هغه چا دَپاره چه ویره کوی دَ الله تعالیٰ نه او ویره کوئ دَ الله تعالیٰ نه

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۰۳﴾

او پوهه شئ چه یقینًا تاسو به خاص الله تعالیٰ ته جمع کیدلے شئ۔

دَ ټول مخلوق حساب به دَ دُنیا دَ ورځے ترغرمے پورے ختم کړے شی۔ قرطبی وئیلی دی چه په دیکښې اشاره ده چه بنده دِ په دُنیا کښې دَ اعمال صالحه کوشش اُوکړی او دَ ځان سره دِ په دُنیا کښې هر وخت حساب کوی نو دَ آخرت حساب به ورته آسان شی۔

۲۰۳ داعطف دے په مخکښې فاذکروا الله باندے او په مینځ کښې جملے معترضے وے او عطف مغائرت غواړی دلته مغائرت په ډیرو وجوهو سره دے۔ اوله وجه: هلته دَ ذکر نه ځه معانی ذکر شوے وے او دلته ذکر صرف په تکبیر سره مراد دے۔ دویمه وجه: هلته ذکر دَ تکبیر ؤو په ویشتلو دَ جمرة عقبه سره صرف په ورځ دَ نحر کښې او دلته ذکر دَ تکبیر دے په ویشتلو دَ دریواړو جمراتو سره په دریو ورځو (ایام تشریق) کښې۔ دریمه وجه: هلته ئے دَ ذکر دَپاره صفت ذکر کړے ؤو په طریقه دَ تشبیه سره او دلته دَ ذکر دَپاره زمانه ذکر کوی۔ دلته مراد دَ ذکر نه الله اکبر وئیل دی په وخت دَ ویشتلو دَ هر کاڼی کښې په جمرة باندے۔ او بعض علماؤ په دیکښې تکبیرات روستو دَ فرض مونځو نه توهم

داخل کړی دی- فِیٓ اَیَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ، دَ دیته مراد په نیز دَ اکثر اهلِ علمو دَ ذوالحجې یوولسمه دولسمه او دیارلسمه ورځ ده او دیته ایام منیٰ او ایام تشریق وئیلے شی- یوولسمې ورځې ته یوم القَرّا دولسمې ته یوم النَّفْرِ الاول او دیارلسمې ته یومُ النَّفْرِ الثانِیْ وئیلے شی-

سوال:- په صفت دَ ایام کښې معدودة مفرد هم جائز دے تو دلته ئې جمع ولے غوره کړو؟-

جواب:- ایام مشتمل وی په ساعات باندے او ساعت مؤنث دے تو جمع دَ معدودات ئې په اعتبار دَ ساعات سره ذکر کړیه او په دیکښې فائده دا ده چه دا ذکر دَ دغه ورځ په هره لمحه او ساعت کښې پکار دے لکه چه په عمل دَ ابن عمر رضی الله عنهما کښې نقل دی چه هغه به په دغه ورځ کښې په هر حالت کښې تکبیر لوستلو-

سوال:- په سورة حج ۲۸ کښې ایام معلومات وئیلے دے تو دَ دے فرق او وجه دَ فرق څه ده؟-

جواب:- فرق دا دے چه هلته په صحیح قول سره مراد دَ معلومات نه ورځ دَ نحر او ورپسے دوه ورځې دی او هغه ورځې دَ پاره دَ ذبحې دَ هدی او قربانئ دی- تو معلومه شوه چه یوم النحر دَ ایام معلومات نه ده او دَ ایام معدودات نه نه ده-او یوولسمه دولسمه دَ ایام معلومات او معدودات دواړو نه دی- او دیارلسمه دَ ایام معدودات نه ده او ایام معلومات نه نه ده- او وجه دَ فرق دا ده چه په سورة حج کښې ایام دَ ذبحې ذکر کول مقصد وو او هغه جاهلیت والو ته دَ مخکښې نه معلوم وے او ایام دَ ویشتلو دَ شیطانانو چه دی نو دَ جاهلیت والو په هغې کښې اختلاف وو چه دوه دی او که درے دی او دوی به هغه شمارلے چه تن دویمه ده او که دریمه ده نو دَ دے وجې نه دیته ئې معدودات اووئیلو-

قَمَنْ تَعَجَّلَ فِیْ یَوْمَیْنِ فَلَآ اِثْمَ عَلَیْهِ وَمَنْ تَاَخَّرَ فَلَآ اِثْمَ عَلَیْهِ،

مقصد په دے کښې رد دے په رسم د جاهلیت باندے۔ هغه رسم دا ؤ چه بعض کسانو به په دریمه ورځ ویشتلو ته واجب وئیل او د هغې پریښودل ئې ګناه ګڼړله او بعض کسانو دریمے ورځے ته تاخیر کول حرام ګڼړل نو په دے آیت کښې د هغوی په دے اختلاف او بدعت باندے رد اوکړو۔

فائده:- د دینه معلومه شوه چه امر مستحب واجب ګڼړل قولًا وعملًا بدعت دے او دارنګ امر مستحب حرام ګڼړل هم بدعت دے۔ افسوس دے چه په دے وخت کښې په فعل اولیٰ کښې اختلاف دے مقام ته رسولے شی چه بعض ئې قولًا او عملًا وجوب ته رسوی او بعض ئې حرمت ته رسوی او سپک نظر ورته کوی او دا دواړه باطل کار کوی۔

تعجل او تأخر کښې دوه احتمالات دی۔ اول دا چه دا دواړه افعال لازمی دی او مفعول ئې نفس ماده د فعل ده یعنی مَنْ فَعَلَ الْعَجْلَةَ او فَعَلَ التَّأَخُّرَ۔ دویم دا متعدی دی او مفعول ئې پټ دے یعنی مَنْ تعجل النفر ومن تاخر النَّفْرَ۔

فِيْ يَوْمَيْنِ، په دیکښې توسع ده یا مجاز دے ځکه چه مراد د یومین نه دویمه ورځ ده روستو د ویشتلو کولو ته یعنی په یوولسمه او دولسمه باندے روستو د زوال نه ویشتل د دریے جمراتو اوکړی په یو یشت[۲۱] کانړو سره او بیا مکے مکرمے ته راځی او دریمه ورځ ویشتل پریږدی نو دا تعجیل دے۔

سوال:- په مَنْ تَاَخَّرَ فَلَآ اِثْمَ باندے سوال دا دے چه په روستو والی سره خو ورځے پوره شوے او په پوره والی د عبادت کښې خو وهم د ګناه نه وی نو د څه وجے نه ئې اِثْمَ نفی کړو؟

جواب:- مخکښې ذکر شول چه دا رد دے په بدعت د جاهلیت باندے چه په هغوی کښې د بعضو په نیز باندے تاخیر دریمے ورځے ته ګناه وو نو د هغې نفی ئې ځکه اوکړه۔

فائده:- دا دریے ورځے دریواړه جمرات په کانړو ویشتلے کیږی او هر کانړی سره ذکر د الله اکبر دے۔ لیکن دلته امر صرف

په ذکر سره ذکر کړیدے او امر د وېشتلو يئ خو نه دے ذکر کړے نو وجه دا ده چه وېشتل د دوی په بېز په دغه ورځو کښ معلوم وُ او اختلاف يئ صرف په عدد کښ کوُ او په وخت د وېشتلو کښ به يئ ذکر د الله تعالیٰ نه کوُو بلکه په دغه ورځو کښ به مشغول وُو په تفاخر سره او په دا سے شعرونو وئيلو سره چه په هغے کښ به يئ د بنځو ذکر کوُو نو د دے وجے نه امر د ذکر الٰهی اوشو۔ (ابن عاشور) -
فائده ۲: اعمال د حج يعنی احرام تړل او د هغے منهيات، وخت د احرام، منهيات، توجه، وقوف د عرفے، وقوف د مزدلفے، او له ورځ د منیٰ کښ وېشتل کول او د هغے په تتمه کښ دريے ورځے د وېشتلو يئ ذکر کړے او دا د حج اکثر اعمال وُو۔ او د دينه علاوه ذبح کول او په هغے کښ د حلال وحرام فرق کول او د هغے تقسيم او په هغے باندے بسم الله او الله اکبر وئيل او ورپسے سرونه خرئيل او طواف زيارت وطواف وداع کول دا احکام يئ په سورة حج کښ ذکر کړی دی۔ نو د دے دواړو سورتونو په لوستلو سره د حج پوره طريقه د قرآن نه معلوميږی ليکن شرح د هغے د احاديث مبارکو نه اخستل ضروری دی -
لِمَنِ اتَّقٰی، د دے په متعلق کښ ډير اقوال دی۔ اول، دا متعلق دے د اذکروا سره، اشاره ده چه د قبوليت د ذکر د پاره تقوٰی ضروری ده۔ دويم قول: دا متعلق دے د لَا إِثْمَ عَلَيْهِ، سره يعنی د عدم د گناه د پاره مطلق تقوٰی شرط ده۔ دريم قول: مبتدا يئ پټه ده يعنی التخيير لمن اتقی، او مراد د دينه تقوٰی ده د شبهاتو نه. يا المغفرة لمن اتقی، دا رنگ دلته په مصداق د تقوٰی کښ اقوال دی۔ اول قول، تقوٰی په مشهوره معنیٰ سره ده۔ دويم قول، تقوٰی د شبهاتو نه مراد ده۔ دريم قول، تقوٰی د ممنوعاتو د احرام او د حج نه۔ څلورم قول دا چه دلته ماضی په معنیٰ د مستقبل ده يعنی مغفرت او جنت په حج سره د هغه چا د پاره دی چه په آئنده ژوند کښ هم تقوٰی کوی۔

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّعْجِبُكَ قَوْلُهٗ

او بعض د خلقو نه هغه څوک دی چه تعجب کښی اچوی تا لره وینا د هغه

فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللّٰهَ عَلٰى

په باره د ژوند د نړۍ کښی او ګواه کوی الله تعالیٰ لره په

مَا فِىْ قَلْبِهٖ ۙ وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿۲۰۴﴾

هغه څيز چه د هغه په زړه کښی دی او دے ډير سخت جګړه مار دے۔

وَاتَّقُوا اللّٰهَ، دا عطف دے په واذکروا الله باندے۔ او هر کله چه فائده د حج خاص کړے شوه په مَنِ اتَّقٰى پورے نو د تقوی د حصول د پاره ئے صیغه د امر ذکر کړه۔ ابن عاشور وئیلی دی چه دا د حاجیانو د پاره وصیت دے چه د حج نه واپس راشی نو هر وخت او په هر حال کښی دِ تقوی کوی صرف په حج پورے دِ تقوی نه خاص کوی لکه چه جاهلیت والو داسے کول او اوس هم ډیر جاهلان داسے کوی چه د حج نه واپس شی نو بیا هم په خپلو ګناهونو کښی مشغول شی بلکه د هغے نه هم زیات۔
وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ، دا علم خو مسلمانانو ته د مخکښی نه حاصل دے نو وَاعْلَمُوْٓا دلته د تذکیر او تنبیه د پاره دے۔ او دا ترغیب دے په تقوی کولو سره په ذکر د عقیدے د حشر سره۔ لفظ د تصیرون او تجمعون ئے نه دے وئیلے د دوه وجوهاتو نه۔ اوله وجه دا چه لفظ د حشر صیرورت الی الله او جمع د پاره مستلزم دے۔ دویمه وجه دا ده چه په حج کښی جمع د خلقوو د مختلفو وطنونو نه نو په دے سره اشاره ده چه حشر د حج سره هغه لویه ورځ د حشر (قیامت) را یاده کړی دے د پاره چه دوام د تقوی پیدا شی۔
۲۰۴ ربط ۱۔ هر کله چه مخکښی امر او صفت د تقوی ذکر شو نو اوس هغه څوک ذکر کوی چه په امر د تقوی باندے غصه کیږی۔ (۲) مخکښی ئے دوه اقسام د حج والو ذکر کړل بویں بحث

اویل نیک بخت- تو اُوس دَ پورۀ والی دَ اقسامو دَ پارۀ دوه قسمونه نور ذکرکوی اول ډیر بد بخت چه دَ رغبت دُنیوی سره یې نور قبائح هم یوځائے کړی دی- دویم ډیر نیک بخت چه هغه صرف په آخرت کښ راغب دے-(۳) مخکښ اول قسم بنسکارۀ کافر او مشرک وۀ او دویم قسم عام مؤمن، تو اُوس دریم قسم ذکرکوی چه منافق دے او څلورم قسم کامل مؤمن-

سوال:- دا اقسام یې دَ مخکښ قسمو تو سره په یو ترتیب ولے نه ذکرکول ؟-

جواب:- مخکښ دوارۀ قسمونه په وخت دَ حج کښ په حاجیانو کښ وۀ او دا دوه قسمونه په هغې حاجیانو کښ دی چه کله وطن ته واپس راشی- او واپسئ ته اشارۀ ده په اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ سره - اوس په دے آیت کښ دره اوصافِ قبیحه ذکرکوی- اول صفت يُعْجِبُكَ قَوْلُهٗ دے، او دا خطاب دے نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته او بیا عام دے هر مخلص مؤمن ته او آیت اگرچه دَ یو خاص شخص په بارۀ کښ نازل شوے چه اخنس بن شریق وو لیکن هر هغه چاته شامل دے چه دا صفات په کښ موجود وی ځکه چه الفاظ عام دی-

يُعْجِبُكَ، دَ اعجاب نه دے او هغه دَ عَجَبْ نه اخستلے شوے راغب اصفهانی وئیلی دی چه عجب هغه حیرانتیا ده چه انسان ته عارض کیږی په وخت دَ جهل دَ هغه په سبب دَ هغه سره په یو څیز باندے او دا مستلزم وی استحسان (ښه گڼلو) او خوشحاله کیدلو لره- الکواشی وئیلی دی چه اعجاب په استحسان کښ استعمالیږی او عجب په انکار کښ استعمالیږی- قَوْلُهٗ نه مراد مطلق خبرے کول دَ دهٔ دی دَ فصاحت، بلاغت او چالاکئ دَ وجے نه لکه په سورۀ منافقون کښ- یا دَ قول نه مراد دعوی دَ ایمان ده او براءت دَ کافرانو نه او دعوی دَ خیرخواهئ دَ مؤمنانو او دَ اخلاص او محبت دَ هغوی او خوشحالی دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ مؤمنانو په حقیقت کښ په دا سے خبرو سره وی-

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا، په دیکښې دوه احتمالونه دی. اول دا چه دا متعلق دے په يُعْجِبُكَ پورے یعنی دا اعجاب صرف په دُنیا کښې واقع کیږی او په آخرت کښې به حیران او چُپ وی. دویم احتمال دا دے چه دا متعلق دے په قَوْلُهٗ پورے او فِي په معنیٰ دَ شان سره دے یعنی دَ دُنیا دَ کاروتو په باره کښې چالاک او تجربه کار دے محکه چه منافق دَ دین او آخرت په باره کښې علم نه لری. او دَ دوی دویم صفت قبیحه ذکر کوی په وَيُشْهِدُ اللّٰهَ عَلٰى مَا فِي قَلْبِهٖ سره او دَ دے دوه معنے دی. اوله دا چه اشهاد خبر ورکولو ته وئیلے کیږی یعنی خبر ورکوی الله تعالیٰ. دویمه معنیٰ اشهاد په معنیٰ دَ قسم کولو دے یعنی گواه کوی الله تعالیٰ لره یعنی په الله تعالیٰ باندے قسم کوی. او شهادت په معنیٰ دَ قسم باندے په آیت لعان کښې راغلے دے.

سوال:- مَا فِي قَلْبِهٖ خو کفر دے نو په کفر باندے خبر ورکول یا قسم کول څه معنیٰ لری؟-

جواب:- په عبارت کښې نقص پروت دے یعنی اَنَّ مَا فِي قَلْبِهٖ مُطَابِقٌ لِمَا فِي لَفْظِهٖ. یا خِلَافَ مَا فِي قَلْبِهٖ. یعنی قسم کوی په دروغه چه ځما ژبه او زړه بالکل موافق دی. او په دے صفت کښې اشاره ده چه دوی په دروغه باندے قسم کوی لکه دا صفت دَ دوی په سورة توبه ۴۲، ۵۶ او سورة مجادله ۱۸ کښې ذکر دے.

دریم صفت دَ دوی. وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ، دے اَلَدُّ دَ لدد نه اخستلے شوے دے په معنیٰ دَ سختے جګړے کولو. او خصام کښې دوه اقوال دی، اول قول دا جمع دَ خصم ده نو اضافت دَ اَلَدُّ دَ قبیلے دَ اضافت دَ بعض نه دے کل ته. دویم دا مصدر دے په معنیٰ دَ خصومت کولو. او په عبارت کښې نقص پروت دے یعنی خصامه الد الخصام یا اَلَدُّ ذَوِي الْخِصَامِ. او اضافت په معنیٰ دَ فی سره دے. او دَ دے په معنیٰ کښې ډیر اقوال دی. حسن بصری وئیلی دی چه دے دروغژن باطل پرست دے. قتاده وئیلی دی چه زړه ئے سخت دے په گناهونو کښې. مجاهد وئیلی دی چه

وَإِذَا تَوَلّٰى سَعٰى فِى الْاَرْضِ لِيُفْسِدَ

او هر کله چه مخ واړوی کوشش کوی په زمکه کښې دے د پاره چه فساد اوکړی

فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ۗ وَاللّٰهُ

په دیکښې او تباه کوی فصل او نسل لره او الله تعالیٰ

لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿۲۰۵﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُ

مینه نه کوی د فساد سره . او هر کله چه اووئیلے شی ده ته

د ده جګړه په حق باندے نه اودریږی - حاصل دا دے چه په هر
څیز باندے دعوی کوی - د حق او باطل تمیز نه کوی او د دعوے
د پاره جګړه کوی - او دا دواړه صفات قبیحه د ژبے دی دا رنګ
لازمی صفات دی -

۲۰۵ په دیکښې نور درے صفات قبیحه ذکر کوی او دا متعدی
قبائح دی - تَوَلّٰی سَعٰی، په تَوَلّٰی کښې دوه احتماله دی - اول دا چه
په معنیٰ د مخ ګرځولو دے نو معنیٰ دا چه مخ اوګرځوی او په قدم
باندے سعی اوکړی - او دا عطف دے په مضمون د مخکښې
آیت باندے یعنی اول خو دے تاسو ته مخامخ وی نو هغه تیر
شوی اقوال کوی - او کله چه ستاسو نه مخ اوګرځوی نو بیا د هغه
مخکښې نه مخالف اعمال کوی - یا تَوَلّٰی د زړه مراد دے یعنی غصه
شی او نفرت اوکړی ستاسو نه او سَعٰی په معنیٰ د کوشش کولو
دے (قرطبی) - دویم احتمال دا چه تَوَلّٰی د ولایت نه ماخوذ دے
یعنی ولایت او اختیار ورته حاصل شی او دا قول د ضحاک دے
فِى الْاَرْضِ، سعی اګرچه په زمکه کښې وی لیکن ذکر ئے د پاره
د تاکید د عموم د مکان دے یعنی زمکه کښې چه هر طرف ته ئے
وس رسی نو ګرځی او کوشش کوی د فساد کولو - لِيُفْسِدَ فِيهَا،
دا په ځائے د مفعول له فعل د سعی کښې دے او دیته لام تبلیغ
وئیلے شی او دا په هغه ځائے کښې راځی چه مفعول د فعل علت
وی د فعل د پاره سره د دے نه چه مفعول به هم وی - او

اتَّقِ اللّٰهَ اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ

ویرہ اوکړہ د اللہ تعالیٰ نه نو او نیسی دہ لرہ غیرت کول په گناہ سرہ

فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ ۚ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۲۰۶﴾

نو بورہ دے دہ دپارہ جهنم او خامخواہ ناکارہ ځائے دے تیار کړے شوے

تفسیر د فساد د سورت په اول کښ تیر شوے دے۔ او دا ټولو انواعو د فساد ته شامل دے۔ وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ دا تخصیص دے زوستو د تعمیم نه یعنی دا خاص قسم د افساد دے۔ ابن کثیر ویلی دی چه حرث محل د ترقئ د فصلونو او د میوو دے او تسل طریقه د ترقئ د حیوانانو دہ او په دے دواړو څیزونو سرہ قوام د ژوند د انسانانو دے او اکثر عرب اهل (مالکان) وو د حرث او د حیوانانو نو مراد دا دے چه د دغه څیزونو په تخریب سرہ ژوند د انسانانو خرابوی۔ او بل قول دا دے چه مراد د حرث نه ښځے او زنانه دی او نسل نه مراد اولاد دی۔ او قول د مجاهد دا دے چه هرکله دا سے انسانان فساد وونه، ظلمونه او گناهونه کوی نو اللہ تعالیٰ باران ته بند کړی قحط او سوکړه راپیدا کړی نو په هغے سرہ څاروی او فصلونه هلاک شی۔

فائدہ:۔ دا دلیل دے چه نسل کشی د انسانانو او حیوانانو فساد او ظلم دے۔ او د منصوبه بندئ او ضبط تولید وغیرہ نظام سرہ نسل کشی د انسانانو کیږی نو دا ظلم او فساد دے۔

وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ، دا عمل د فساد او اهل د فساد دواړو ته شامل دے او ابو حیان د عطاء نه روایت راوړے دے چه منصوقه د جنب په وخت کښ د ځان نه جا ئے شلوی نو دا هم په فساد کښ داخل دی۔ محبت د اللہ تعالیٰ صفت حقیقیه دے بغیر د تمثیل او تشبیه او بغیر د تاویل نه او هغه غیر دے د ارادے نه۔

ملا په دے آیت کښ بل یو صفت قبیحه ذکر کوی چه هغه د زړہ سرہ تعلق لری یعنی په زړہ کښ ئے تکبر او غرور دی

وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ

او بعض دَ خلقو نه هغه څوک دی چه خرڅوی ځان خپل دَ پاره دَ طلب کولو

مَرْضَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰۷﴾

دَ رضا دَ الله تعالیٰ او الله تعالیٰ ډیر شفقت کوونکے دَے په بندګانو خپلو باندے

دَ بل چا وصیت او نصیحت نه قبلوی۔
وَاِذَا قِيْلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ، داپشان دَ یوځولسم آیت دے۔ اِتَّقِ اللّٰهَ نه مراد مطلق وعظ او نصیحت کول دی او نهی دَ فساد نه هم په دیکښ داخل ده۔ اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ، عزت په معنیٰ دَ قوت او غلبے دے۔ غیرت په غصے سره راځی۔ دَ اَخَذَ نه مراد الزام او استیلاء ده بِالْاِثْمِ، با دَ پاره دَ تعدیت دَ اخذ ده نو مفعول ثانی دے دَ پاره دَ اَخَذَ۔ یا با دَ پاره دَ مصاحبت ده یعنی هغه عزت چه دَ ګناه سره ملګرے دے۔ نو دا قید احترازی دَے دَ پاره دَ الْعِزَّةُ چه صفت مادحه دَ دے نه مراد نه دے۔ یا با سببیه ده یعنی زاړه ګناهو نه دَ دهٔ سبب دے۔ یا ګناه دَ شرک او کفر چه دَ دهٔ په زړه کښ دے سبب دے دَ پاره دَ دے غصه کیدلو۔ دَ ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه کله یو انسان نه اتَّقِ اللّٰهَ او وئیلے شی نو غصه دِ نه کوی۔ بل روایت دے چه عمر رضی الله عنه نه یو ځل چا او وئیل اتَّقِ اللّٰهَ نو هغه په سجدہ پریوتلو۔ او دغسے واقعه دَ هارون الرشید هم نقل ده (ابوحیان)۔
فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ، حسب په اصل کښ کافی ته وئیلے شی او جزاء اکثر برابروی دَ ګناه سره نو حسب په معنیٰ دَ جزاء (سزا) سره راځی۔ جهنم په اصل کښ هغه کنده ته وئیلے شی چه بیخ ئے ډیر لرے وی۔ او مراد دَ دینه هغه اور دے چه په آخرت کښ ئے تیار کړے دے دَ پاره دَ مجرمانو۔ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ، په لفظ مهاد کښ دوه اقوال دی۔ اول دا چه دا جمع دَ مهد ده دَ آرام ځائے ته وئیلے شی۔ دویم قول دا چه دا اسم مفرد دے دَ فراش دَ پاره۔ نو جهنم ته مهاد وئیل په طریقه دَ تهکم او مسخرے سره دی۔

یا مراد د مهاد نه هغه اعمال دي چه دے مجرمانو د ځان د پاره تیار کړي دي۔ نو هغه اعمال نا کاره د آرام فائده نه ورکوي۔ (فتح البیان)
فائده: د دے صفاتو په تخصیص کښې اشاره ده چه په حج کښې د ژبے او اندامونو او د زړه صفائي مقصد دے لکه لا رفث ولا فسوق ولا جدال، او تقوی کښې دیته اشاره ده۔ نو دا منافق حاجي روستو د حج نه په ژبه دروغ وائي او جګړے کوي او په اندامونو سره فساد و ته کوي او په زړه کښې غرور او تکبر کوي نو ده د حج نه فائده نه ده حاصله کړے۔
۲۰۷ په دیکښې څلورم قسم د خلقو ذکر کوي چه هغه ډیر نیک بخت دي۔ او دا د مخکښې مقابل دے۔ او ابن کثیر وئیلي دي چه غوره دا ده چه دا د هر مجاهد في سبیل الله په باره کښې دے که جهاد ئې په طریقه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر سره وي او که په طریقه د قتال سره وي۔
مَنْ يَّشْرِيْ، په دیکښې دوه اقوال دي۔ اول دا چه دا شراء په معنیٰ د بیع سره ده او مراد د بیع نه خرڅول د ځان دي او مشتري (راخستونکے د دهٔ د نفس) الله تعالیٰ دے په دلیل د اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ، (سورة توبه ۱۱۱) او دلته ئې مال نه دے ذکر کړے ځکه چه بدل (خرڅول) د نفس مستلزم دے بدل د مال لره۔
دویم قول دا چه شراء په معنیٰ د اخستلو دے او مراد د هغے نه ځان بچ کول او خلاصول دي د غضب او عذاب د الله تعالیٰ نه۔
اِبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ، ابتغاء دلته مفعول له دے او ابتغاء هغه طلب ته وئیلے شي چه ورسره پوره کوشش وي۔ پښتو کښې هغے ته لټول وئیلے شي۔ ابوحیان وئیلي دي چه په دے کښې حصول د هغه ثواب او درجے دے چه ډیره افضله او غوره ده په نیز د الله تعالیٰ چه هغه په صحیح حدیث کښې راغلي چه الله تعالیٰ به جنت والو ته او وائي آیا د جنت د نعمتونو نه زیات غوره خیز تاسو له درکړم۔ دوي به تپوس اوکړي چه اے ربه

يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ

اے ایمان والو داخل شئ په اسلام کښ

كَآفَّةً ۪ وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ

پوره او مه ځئ په قدمونو دَ شیطان پاندے

اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۲۰۸﴾

یقینًا هغه ستاسو دَ پاره دشمن ښکاره دے۔

هغه څه دی۔ الله تعالیٰ به اووائی چه څه به ستاسو ته همیشه رضایم او هیچرے به نه خفه کیږم۔ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ، ابن عطیه وئیلی دی چه په دے جمله کښ الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته اُمید او زیرے ورکوی دَ حصول دَ هغه مرضات چه هغوی یئے طلب کوی لکه چه مخکښ آیت کښ ویره وه په لفظ دَ فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ سره۔ رَءُوْفٌ دَ رأفت نه دے او رأفت دَ رحمت نه اُوچته درجه ده چه دَ نعمتونو ورکولو سره دَ مصیبتونو او ضررونو نه بچ کولو ته هم شامل دے۔ او صاحب اللباب دَ رأفت اقسام ذکر کړی دی (۱) نعمت همیشه ورکوی په لږ عمل باندے (۲) کلمه دَ کفر په ژبه سره جائز ده په وخت دَ سخته اکراه کښ (۳) تکلیف نه ورکوی مګر په قدر دَ وسع سره (۴) اصرار کوونکے په کفر باندے اګرچه سل کاله وی خو چه صحیح توبه اُوباسی تو قبلوی یئے (۵) نفس او مال خو دَ الله تعالیٰ ملکیت دے لیکن دَ هغے په خرچ کولو سره بندګانو ته اجر و ثواب ورکوی۔ الْعِبَادِ کښ دوه اقوال دی۔ اول دا چه الف لام دَ عهد دَ پاره دے یعنی خاص بندګان چه پشری تفسه کښ ذکر شول او دا قول غوره دے۔ او دویم قول دا دے چه العباد عام دے کافرانو ته هم شامل دے او رأفت دَ الله تعالیٰ په کافرانو باندے دا دے چه هغوی ته په دُنیا کښ مهلت ورکوی او رزق، مالونه او عافیت هم ورکوی۔

۲۰۸ ربط ۱:- هر کله چه مخکښ یئے ځلور اقسام دَ خلقو ذکر کړل

چه مؤمن، کامل مؤمن، کافر او منافق دی نو اوس دعوت ورکوی چه ټول دے په یو ملت (اسلام) باندے شی او په هغې باندے دے کلک پاتے شی-(۲) هر کله چه رد اوکړے شو په رسمونو او بدعاتو د جاهلیت په عبادت د حج کښې نو اوس دعوت ورکوی چه په ټولو اعمالو کښې هر قسم بدعت پریږدئ او پوره مسلمانان جوړ شئ- او په دے آیت کښې روستو د حج د مسئلے نه اول خطاب دے د دریو خطاباتو نه-

یَاَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوا ادْخُلُوْا، دا خطاب دے ټولو مؤمنانو ته که هغه منافقان وی او که مخلصان وی او ابن کثیر هم دا سے وئیلی دی چه په دے آیت کښې امر دے مؤمنانو مصدقینو د رسول ته چه په ټولو کړو د اسلام او شرائعو باندے دے قبول اوکړی او په ټولو امرونو د الله تعالیٰ باندے دے عمل اوکړی- او د خپل استطاعت مناسب دے ټول منهیات د الله تعالیٰ پریږدی-

سوال:- مؤمن خو مسلم هم دے نو بیا د اُدْخُلُوْا (داخل شئ) معنیٰ خو نه صحیح کیږی؟-

جواب:- د دخول نه مراد همیشه پاتے کیدل دی په هغې باندے- او صاحب اللباب وئیلی دی چه هر کله یو انسان په یو کور کښې داخل (ددننه) وی لیکن احتمال لری چه دے به روستو وخت کښې د دے کور نه اوځی نو هغه ته وئیلے شی چه داخل شه (پاتے شه) په دے کور کښې په راتلونکے زمانه کښې یعنی د دے نه بهر مه اوځه-

فِی السِّلْمِ، د س په زیر او زور کښې بعض اهلِ لغت فرق کړے دے چه په زیر سره په معنیٰ د اسلام دے او په زور سره صلح کول دی- او اکثرو وئیلی دی چه دواړه یو شان دی اسلام ته وئیلے شی- لیکن په زور سره په معنیٰ د صلح ډیر استعمالیږی- دلته ئے معنیٰ اسلام دے- ابن کثیر د ابن عباس رضی الله عنهما او د ډیرو تابعینو نه دغسے نقل کړی دے او دا قول غوره دے-

دویم قول دا دے چه سِلم نه مراد صلح او د جنګونو او جګړو د
کوړنئ ته ځان پرېښول دی او معنیٰ د آیت دا ده چه اے مؤمنانو ټولو
په تصرت د دین کښ متفق شئ او جنګونه او اختلافات یو بل
ترمینځ پرېږدئ لکه وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا، او دا قول ابن کثیر د
قتاده نه نقل کړیدے -کَآفَّةً، دا په اصل کښ اسم فاعل دے د
کَفَّ نه په معنیٰ د منع کولو سره او په معنیٰ د جمیع (ټول) سره
راځي - او بعضو وئیلی دی چه دا مصدر دے په معنیٰ د جمیعًا
سره دے - او (تا) پکښ د تانیث د پاره نه ده بلکه په مبالغه باندې
دلالت کوي په سبب د نقل د وصفیت د اسمیت نه - او کَآفَّةً حال
دے او په دیکښ درے اقوال دی - اول قول دا دے چه دا حال
دے د السِّلْمِ نه او مراد د دین ته پوره اسلام دے لکه چه مخکښ
د ابن کثیر په قول کښ ذکر شول - او اشاره ده چه په اسلام کښ
د جاهلیت هیڅ کار او هیڅ بدعت او رسم له دخل مه ورکوئ - دا
قول زمخشري او نورو مفسرینو غوره کړیدے - او ابن کثیر هم
وئیلی دی چه دا صحیح قول دے او دویم قول د ابن عطیه دے
هغه وئیلی دی چه دا حال دے د اُدْخُلُوا د فاعل نه سره د السِّلْمِ
نه او حال د دوه څیزونو نه جائز دے - نو معنیٰ دا شوه چه تاسو ټول
مؤمنان په ټولو اجزاؤ د شرع کښ داخل شئ - دا قول هم وجه
د صحت لري او مخکني قول ته شامل دے - دریم قول د بعض
مفسرینو دے چه دا حال دے د اُدْخُلُوا د فاعل نه او په دیکښ
مقصد تاکید دے د عموم د خطاب -

فائده:- د اول قول د صحت د پاره دلیل د بعض مفسرینو قول دے
چه هغوي وئیلی دی چه دا د اهلِ کتابو د څه کسانو په باره کښ
نازل شویدے چه هغوي ایمان راوړے وو او اراده ئې دا وه چه
سره د ایمان نه موږ د خالي د ورځے تعظیم اوکړو او تورات په
مونځ کښ اولولو او غوښے د اوښانو حرام اوګڼړو - نو هغوي ته
اووئیلے شو چه دا خو نیمګړے اسلام شو تاسو داخل شئ په پوره
او مکمل اسلام کښ - نو دا ښکاره دلیل دے چه د عقیدو او د اعمالو

فَإِن زَلَلۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡكُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ

نو که چرې اوخوېږئ تاسو (د پوره اسلام نه) روستو د هغې نه چه راغلي دي تاسو ته ښکاره احکام

فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٠٩﴾

نو پوهه شئ چه یقیناً الله تعالیٰ زورور دے حکمت والا دے۔

بدعتیان په پوره اسلام کښې داخل نه دي۔
وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِ، د خُطُوات تفسیر مخکښې تیر شوے دے۔ دلته مراد دا دے چه سره د اسلام نه منافقت کول یا د جاهلیت (غیر اسلام) کارونه کول یا بدعات او رسمونه کول د شیطان تابعداري کول دي نو د دینه ځان بچ کړئ۔ په دیکښې اشاره ده چه کومه عقیده او عمل د قرآن او سنت نه ثابت نه وي اګرچه په ظاهر کښې دین ښکاري لیکن هغه د شیطان تابعداري ده۔ دلته قرطبي د مقاتل په روایت سره نقل کړي دي چه تابعداري کول د سنت ضروري دي روستو د راتلو د آخري پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه۔ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ، دا علت دے شیطان عام دے۔ اراده او کوشش کوي چه مؤمنانو ته تکلیفونه اورسوي او د دین او د عمل د ثواب حاصلولو نه ئې منع کړي۔ او نا کاره اعمال ورته خائسته کړي نو په دے وسوسو سره ئې هلاکت ته اوغورځوي۔ مُّبِينٞ، لازمي دے په معنیٰ د بین العداوة (دشمني ئې ښکاره ده) یا متعدي دے یعنی خپله دشمني ښه ښکاره کوي په قسماقسم وسوسو اچولو سره اګرچه موتږ ئې نه وینو او نه د هغه خبرے اورو۔
۲۰۹ په دے آیت کښې زورنه ده مخالفت کوونکو ته د پوره اسلام نه زَلَلۡتُم، زلت په اصل کښې خپے خوئیدلو ته وئیلے شي دلته تربینه مراد ګمراه کیدل او مائیل کیدل دي باطل طرف ته۔ نو معنیٰ دا ده که چرے تاسو اوخوئیدلئ (ګمراه شوئ) د دخول نه په ټول اسلام کښې، یعنی که پوره اسلام تاسو قبول نه کړو۔ او د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے که تاسو سره د نزول د قرآن نه تعظیم د خالی د ورځے کوئ او د اوښانو غوښے حرامے کړئ۔

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأْتِيَهُمُ ٱللَّهُ

انتظار نه کوی دوی (په ایمان راوړلو کښې) مګر دا چې راشي دوی ته الله تعالی

فِى ظُلَلٍ مِّنَ ٱلْغَمَامِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ

په سورو کښې د وریځو نه او ملائک راشي

مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْكُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ، یعنې واضح دلیلونه چه په قرآن او سنت کښې بیان شوي دي۔ او دا بعثت د محمد صلی الله علیه وسلم، قرآن او نور معجزاتو د هغه ته هم شامل دے۔ قرطبي وائي چه دا دلیل دے چه عذاب د هغه چا چه عالم وي په ګناه باندې لوئے دے د عذاب د جاهل نه۔ او چا ته چه دعوت د اسلام نه وي رسیدلے نو هغه به په پریښودلو د اعمالو شرعیو سره کافر نه ګرځي۔
فَاعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ، عزیز په صفت کا الله تعالی کښې دا دے غالب نه وتلے شي چه هیڅ څیز تری نه خلاصیدے نشي (سمعاني) او هیڅ څیز هغه لره د ځیل مراد نه منع کولے نه شي (اللباب) او دا نه حاصلیږي مګر په کمال قدرت سره۔ نو مقصد دا دے چه الله تعالی قادر دے ستا په عذاب باندې (نو دا سخت وعید دے)۔
حَكِيمٌ، سمعاني وائي چه حکیم صحیح کار کوونکي ته وائي۔ او ابو حیان وائي چه ګلک کار کوونکے نو مخالفینو ته عذاب ورکول مقتضا د حکمت د هغه ده په هغه باندې هیڅ اعتراض نه شي کیدلے۔ دمشقي په اللباب کښې وائي چه وصف د حکمت مستلزم دے کامل علم لره۔
فائده:- یو قاري دا آیت لوستلو نو غلط شو نو وے وئیل چه ان الله غفور رحیم، نو یو باندې چي د دینه انکار او کړو چه د دلیل سره غفور رحیم مناسب نه دے دا خو په ګناهونو باندې تیزي پیدا کوي۔ اشاره ده چه د قرآن کریم د آیتونو فواصل د آیت سره پوره مناسبت لري۔

وَقُضِيَ الْأَمْرُ ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٢١٠﴾

او فيصله اوشي دَ كار او خاص الله تعالىٰ طرف ته دِ گرځيدلےشي ټول كارونه

ٹ٢٢ په دے آيت كښ دَ زوړ ے ته روستو دَ دخول دَ پوره اسلام ته مخالفت كؤونكوته دُنيوي يره وركوي - هَلْ، دلته په معنىٰ دَ نفي كښ دے په قرينه دَ إِلَّا سره - اوكله په معنىٰ دَ قَدْ سره هم راځي لكه سورة دهر ك كښ - اوكله په معنىٰ دَ أَلَا سره راځي لكه سورة طه ك او سورة شعراء ٢٢ كښ - اوكله په معنىٰ دَ استفهام (سواليه) سره راځي لكه سورة روم ك كښ - يَنْظُرُوْنَ، دلته په معنىٰ دَ انتظار سره دے او مفعول دَ دے أَنْ يَأْتِيَهُمُ اللهُ دے او استثناء مفرغ ده او ضمير دَ دے هغه چاته راجع دے چه دخول في الاسلام ئے پريښودلے دے - أَنْ يَأْتِيَهُمُ اللهُ فِيْ ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ، سمعاني وئيلي دي چه دا آيت دَ متشابهاتو نه دے او اصحاب الحديث دَ أبي بن كعب رضي الله عنه او مجاهد نه نقل كړي دي چه الله تعالىٰ به راځي په ورځ دَ قيامت په سوري دَ نرئ وريځوكښ - بيائے وئيلي دي چه اولىٰ په دے آيت او دَ دے په مشابه نورو آيتونوكښ دا ده چه ايمان اولرو دَ دے په ظاهر باندے او علم دَ دے (دَ كيفيت) الله تعالىٰ ته اوسپارو - او ابن كثير دوه احاديث نقل كړي دي چه په هغے كښ تصريح ده په راكوځيدلو سره. اول حديث يَنْزِلُ الْجَبَّارُ عَزَّ وَجَلَّ فِيْ ظلل مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلَائِكَةُ (راكوزيه شي جبار ذات په سورو دَ وريځوكښ او ملائيك هم). دويم حديث يَهْبِطُ حِيْنَ يَهْبِطُ وَبَيْنَهُ وَبَيْنَ خَلْقِهِ سَبْعُوْنَ أَلْفَ حِجَابٍ (راكوزيږي به الله تعالىٰ چه كله راكوزيږي او دَ هغه او دَ مخلوق په مينځ كښ به اويا زره پردے وي - او ابوحيان وئيلي دي چه په دا سے آياتونوكښ دَ سلف صالحينو مذهب دا دے چه دَ دے په ظاهري معنىٰ به ايمان لرو او علم دَ دے به الله تعالىٰ ته سپارو او متأخرينو په ديكښ مختلف تاويلونه كړي دي (١) دا مجاز دے دَ انتقام اخستلو نه (٢) بِمَا وَعَدَهُمْ مِّنَ الثَّوَابِ وَالْعِقَابِ پټ دے (٣) امر او قدرت مراد دے (٤) في په معنىٰ دَ باء سره ده.

تنبیه:۔ تاویلونه کول دَ صفت دَ الله تعالیٰ نه دَ انکار سبب دے چه په نص صریح کښې موجود دے۔ هاں دا صفتونه په دَ تشبیه نه پاک ساتونکه قرطبي وئیلي دي چه دَ صفاتو دَ اجسامو سره په مشابهت نه ورکوو۔

مِنَ الْغَمَامِ، دا صفت دے دَ ظلل په تقدیر سره ظُلَلٍ کَائِنَةٍ مِّنَ الْغَمَامِ (سورے چه جوړ شوے به وي دَ وریځو نه) یا دا متعلق دے په یَأْتِیَهُمُ پورے یعني دَ طرف دَ وریځو نه۔ وَالْمَلٰٓئِكَةُ، عطف دے په اللّٰهُ باندے او دا یشان دَ دے قول دَ الله تعالیٰ دے چه وَجَآءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا (سورة فجر ۲۲) او سورة انعام ۱۵۸۔ وَقُضِيَ الْاَمْرُ، مراد دَ قضاء نه فیصله کیدل او فارغ کیدل دي او الامر نه مراد هلاکول دَ کافرانو دي۔ یا دَ هغوي حساب او عذاب دے۔

وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ، لفظ دَ اِلَى اللّٰهِ یې مخکښې راوړے دے دَ حصر دَ پاره ځکه چه په آخرت کښې امور صرف الله تعالیٰ ته ورکرځي نه بل چا ته دَ حساب او جزاء دَ پاره۔ اګرچه په دُنیا کښې بعض کارونه امیرانو، قاضیانو او افسرانو وغیره ته ورګرځي۔ تُرْجَعُ، په صیغه دَ مجهول سره دے او فاعل یې په حقیقت کښې الله تعالیٰ دے چه کارونه په ځان ته راګرځوي۔ یا یې فاعل بندګان دي چه دوي شهادت کوي چه مونږ مخلوق یو او حساب په را سره کیږي نو ګویا چه دوي کارونه الله تعالیٰ ته اوګرځول۔ لفظ دَ رجع لازمي او متعدي دواړه استعمالیږي نو دَ هغه نه مجهول صیغه صحیح ده۔ او دا دَ ارجاع نه اخستل ضعیف قول دے۔ او دا جمله احتمال لري چه مراد تنبی په دے سره هغه کارونه چه مشرکانو به غیر الله ته دَ هغې نسبت کوو لیکن په آخرت کښې به دوي اقرار اوکړي چه دَ ټولو کارونو او حاجتونو پوره کوونکے یو الله تعالیٰ دے۔

سَلْ بَنِيٓ اِسْرَآءِيْلَ كَمْ اٰتَيْنٰهُمْ

تپوس اوکړه دَ بنی اسرائیلو نه چه څومره ورکړي دي مونږ دوی ته

مِّنْ اٰيَةٍۢ بَيِّنَةٍ ۭ وَمَنْ يُّبَدِّلْ

نخے ښکاره او چاچه بدل کړه

نِعْمَةَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُ

نعمت دَ الله (په ناشکرئ سره) روستو دَ هغې نه چه راغلي دے دوی ته

فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٢١١﴾

نو یقیناً الله تعالیٰ سخت عذاب ورکوونکے دے۔

سلسلہ ربط: دَ دے دَ مخکښې آیت سره په څو وجو سره دے (۱) دا آیت نمونه او دلیل دے په مخکښې آیت یعنی دَ مخکښې آیت نه معلومه شوه چه دا سے خلق شته چه هغوی په ضد او په عناد کښې اخته دی ډیر آیات او معجزات هغوی ته فائده نه ورکوی نو اوس په طور دَ مثال بنی اسرائیل ذکر کوی چه هغوی ته ډیر معجزات راغلي وو لیکن دَ ضد او عناد دَ وجے نه ئے دَ هغې تبدیل او انکار اُوکړو (ابن عاشور). (۲) موجوده منکرین دَ دخول دَ اسلام دَ پاره لوئے دلیل او معجزه غواړی لیکن دا سے عنادیانو ته آیات او معجزات هیڅ نفع نه ورکوی۔ دَ دے دَ پاره حال دَ بنی اسرائیلو اُونپوسئ چه هغوی ته آیات بینات هیڅ فائده ورنکړه (ابوحیان)۔ (۳) هرکله چه اوویلے شو چه الله تعالیٰ به په سورو دَ وریځو کښې راځی نو دَ دے نه تعجب کیږی لے شو چه دا به څنګه کیږے شی نو اُوس دَ هغې جواب ذکر کوی چه بنی اسرائیل په دے صفت دَ الله تعالیٰ یا ندے ښه خبر دی کله چه دَ دوی مشران دَ مصر نه راوتلی وو او جبل طور ته ورغلی وو۔ او اُوس هم دَ دوی په کتاب کښې دی چه جَآءَ اللّٰهُ مِنْ سِيْنَآءَ وَشَرَقَ مِنْ جَبَلِ سَاعِيْرَ وَظَهَرَ لَنَا مِنْ جَبَلِ فَارَانَ (راغے الله تعالیٰ دَ سینا نه او اُوپرقیږو دَ ساعیر غره نه او ښکاره شو مونږ ته دَ غرو نو دَ فاران نه)

چه په اول کښ اشاره ده نبوت دَ موسیٰ علیه السلام ته او په دویم کښ نبوت دَ عیسیٰ علیه السلام ته او په دریم کښ نبوت دَ محمد صلی الله علیه وسلم ته - نو بنی اسرائیلو ته آیات او بینات راغلی دی لیکن هغوی تې بدل او ابدال کړے دے -
سَلْ بَنِیٓ اِسْرَآءِیْلَ، خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلم ته او مراد تربینه هر مخاطب دے - په قرآن کښ په ابتداء دَ کلام کښ سَلْ او په مینځ دَ کلام کښ اسئال ذکر دے - دَ بنی اسرائیل نه مراد هغه بنو اسرائیل دی چه موجود وو په زمانه دَ نزول دَ قرآن کښ - کَمْ اٰتَیْنٰهُمْ مِّنْ اٰیَةٍ کښ دوه احتمالونه دی اول دا چه دا استفهامیه دے - دویم دا چه دا خبریه دے زمخشری دلته دواړه جائز ویلی دی لیکن ابوحیان دلته خبریه منع کړیدے او ویلی دی چه هغه محتاج دے تکلف او تقدیر دَ کلام ته -
دا رنګ لفظ دَ سَلْ دلالت کوی په کَمْ استفهامیه باندے - او مقصود په دے سوال کښ زجر او توبیخ دے، مقصد استعلام نه دے -
اٰیَةٍ بَیِّنَةٍ، مراد دَ دے نه هغه معجزات دی چه موسیٰ علیه السلام ته ورکړے شوی وو چه بعض دَ هغے دَ دے سورت په اول کښ ذکر دی او بعض په سورة اعراف کښ ذکر دی. هغه معجزاتو دلالت کوو په صدق دَ توحید باندے او په صدق دَ نبوت دَ موسیٰ علیه السلام - یا دَ دینه مراد نقلیه دلیلونه دی په تورات او انجیل کښ په صدق دَ نبوت دَ نبی آخر زمان صلی الله علیه وسلم باندے او روستو جمله دلیل دے چه دلته کلام کښ یو جمله پټه ده یعنی فَبَدَّلُوْهَا وَلَمْ یَعْمَلُوْا بِهَا په دلیل دَ سورة ابراهیم ۲۸ سره - وَمَنْ یُّبَدِّلْ نِعْمَةَ اللّٰهِ، دا دلیل دے چه هغه آیات نعمتونه دَ الله تعالیٰ دی کوم چه په دے سورت کښ اول ذکر دی لکه نجات دَ فرعون نه او دَ غرقیدلو نه وغیره - هغه خوشکاره نعمتونه دی او کوم دلیلونه چه دَ صدق دَ آخری نبی صلی الله علیه وسلم دی نو هغه چا ته نعمتونه دی چه هدایت ورکوی قبولیت دَ دعوت دَ آخری رسول ته او هغه دَ دُنیا او دَ

زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا

ددې کړے شوے دے کافرانو ته ژوند دنیوی

وَيَسْخَرُوْنَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۘ وَالَّذِيْنَ

او مسخرے کوی دوی په هغه کسانو پورے چه ایمان ئے راوړے دے او هغه کسان

اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَاللّٰهُ

چه ویریږی د الله تعالیٰ نه د دوی د پاسه به وی په ورځ د قیامت کښ او الله تعالیٰ

يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۲۱۲﴾

روزی ورکوی چاله چه او غواړی الله تعالیٰ بے د حساب نه -

آخرت د فلاح د پاره ذریعه ده - او په دے جمله کښ دویم مفعول پټ دے یعنی وَمَنْ يُّبَدِّلْ نِعْمَةَ اللّٰهِ كفراً - لیکن حذف ئے د دے وجے نه کړیں ے چه کتمان او اعراض او ناشکرئ کولو ته شامل شی - او دا تبدیل په دوه قسمه سره دے اول بدلول د عهودو د الله تعالیٰ او دویم انکار د دلالت د هغے په نبوت د آخری نبی صلی الله علیه وسلم باندے (سمعانی) - او دا جمله عامه ده بنی اسرائیلو او نورو خلقو ته او لفظ د نعمت هم عام دے - ابن جریر وئیلی دی چه دا نعمت اسلام دے او په دیکښ نعمت د صحت او امن او کفایت وغیره داخل دی - مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُ، دا لفظ د مزید تاکید د پاره دے چه سره د معرفت او علم نه دوی تبدیل کړیں ے - دا رنګ چه څوک سره د علم نه تبدیل د نعمت کوی نو هغه ډیر بد تر حالت والا دے - فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ، اظهار د لفظ د الله د ډیر تخویف د پاره دے -

۲۱۲ ربط : مخکښ آیت کښ ئے مرض د خلقو ذکر کړو چه تبدیل د نعمتونو دے نو اوس د هغے سبب ذکر کوی چه په دنیا باندے غرور او تکبر دے او سپک کتل دی ایمان والو ته -

زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا، امام رازی وئیلی دی چه

غوره داده چه آیت عام دے۔ فاعل دَ تزیین ئے حذف کړے
دَ پاره دَ تعمیم ځکه چه الله تعالیٰ تزیین کوونکے دے لکه په سورۃ
کهف ۷ کښ دی۔ نورهم په ډیرو آیتونو کښ نسبت دَ زینت
الله تعالیٰ ته ذکر دے۔ او دا تزیین دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه داسے
دے چه الله تعالیٰ دَ دے خلقو په طبیعتونو دَ دُنیا دَ څیزونو محبت
پیدا کړے دے او بل طرف ته دَ دُنیا په څیزونو کښ ئے تازګی،
خوشحالی او جذب پیدا کړے دے۔ او دارنګ شیطان ته هم
نسبت دَ تزیین کیږی لکه سورۃ انعام ۴۳، سورۃ انفال ۴۸
سورۃ نحل ۶۳، سورۃ نمل ۲۴، او سورۃ عنکبوت ۳۸ کښ
او معبودانو باطلو ته هم کله نسبت کیږی لکه سورۃ انعام ۱۳۷ کښ۔
او دا تزیین په طریقه دَ وسوسو او دهوکو سره وی۔
الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا، ته مراد مزے او څیزونه دی چه بعض دَ هغے نه
مال او ځامن دی لکه سورۃ کهف ۴۶ کښ او دارنګ دَ
دے تفسیر په آل عمران ۱۴ کښ دے۔ وَيَسْخَرُوْنَ مِنَ الَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا، دا عطف دَ سبب دے په مسبب باندے یعنی دغه تزیین
دَ دُنیا سبب دے دَ مسخره کولو په مؤمنانو باندے۔ او دا مسخره
په سبب دَ فقیرئ دَ هغوئ او په سبب دَ تابعداری کولو دَ رسول الله
صلی الله علیه وسلّم او په سبب دَ کموالی دَ شمار دَ هغوی دی۔
يَسْخَرُوْنَ، دَ سخر نه اخستلے شوی دے او سخر هغه تعجب کول
دی چه یو ځائے وی دَ سپکوالی سره دَ حال دَ متعجب منه نه۔
(ابن عاشور)۔ دارنګ چا ته نظر کول په طریقه دَ سپک والی
دَ هغه سره۔ وَالَّذِيْنَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ، په دیکښ اشاره
ده چه ایمان سره دَ تقوی نه سبب دَ عزت دے په نیز دَ الله
تعالیٰ لکه فرمائی اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ (سورۃ حجرات ۱۳)۔
فَوْقَهُمْ، فوقیت (اوچتوالے) دوه قسمه دے اول په اعتبار دَ مکان
سره ځکه چه جنت اوچت دے دَ جهنم نه او جنت ته علیین وئیلے
شی او مقام دَ کافرانو ته سجین۔ دویم اوچتوالے مجازی دے
په معنیٰ دَ عزت او اکرام او کثرت دَ نعمتونو او هغه هم په جنت کښ دی

كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَّاحِدَةً فَبَعَثَ اللّٰهُ

وو خلق (انسانان) یوه ډله (په توحید باندې) نو مختلف شول نو راولیږل الله تعالیٰ

النَّبِيّٖنَ مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ وَأَنْزَلَ

پیغمبران زیرې ورکوونکي او ویره ورکوونکي او نازل یې کړل

مَعَهُمُ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ

د دوی سره کتابونه په حقه سره د پاره د دې چه فیصله اوکړي

بَيْنَ النَّاسِ فِيْمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ

په مینځ د خلقو کښ په هغه خیز وکښ چه دوی پکښ اختلاف کړې وو

وَمَا اخْتَلَفَ فِيْهِ إِلَّا الَّذِيْنَ أُوْتُوْهُ

او اختلاف نه وو کړې په هغې کښ مګر هغه کسانو چه ورکړې شوې وو هغوی ته کتاب

مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ

روستو د هغې نه چه راغلي وو دوی ته ښکاره حکمونه

فائده:- په دیکښ اشاره ده چه مؤمنانو لره په سخریه د کافرانو
باندې هیڅ پرواه نه ده پکار- په دغه مسخرو سره د مسلمانانو
په عزت او کرامت کښ هیڅ نقصان نه بلکه زیاتوالې راځي- وَاللّٰهُ
يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ، په دې جمله کښ درې احتمالات
دي- اول دا متعلق دې د کافرانو سره او جواب د سوال دې چه
مالداری ورکول کافرانو ته دا د هغوی د حق پرستۍ دلیل دې نو
حاصل جواب دا دې چه دا د الله تعالیٰ په مشیئت او حکمت باندې
بنا ده دا دلیل د حق یا باطل نه دې- دویم احتمال دا چه دا متعلق
دې د مؤمنانو سره نو د هغوی د پاره دنیوی او اخروی بشارت
دې- دریم دا عام دې کافرانو او مؤمنانو دواړو ته او دفع د وهم ده
چه روزي او مالداري د دنیا د الله تعالیٰ په مشیئت باندې بنا ده
او دا دلیل د حق او یا باطل نه دې- دا رنګ په مَنْ يَّشَآءُ کښ دا د (ر

بَغْيًا بَيْنَهُمْ ۚ فَهَدَى اللّٰهُ الَّذِيْنَ

دَ وچې دَضد نه چه پيدا دوُ په مينځ دَدوي کښې نو هدايت ورکړو الله تعالىٰ هغه کسانو ته

اٰمَنُوْا لِمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ

چه ايمان يې راوړے وُو هغه خبر ته چه دوي پکښې اختلاف کړے وُو چه حق طرف وُو

بِاِذْنِهٖ ۗ وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ

په حکم خپل سره او الله تعالىٰ هدايت کوي (رسوي) هغه چا لره

يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۲۱۳﴾

چه او غواړي نيغې لارے طرف ته ۔

احتمالات دي ۔ او په يَشَآءُ کښې دوه احتمالات دي (۱) مشيت په معنىٰ دَ ارادة کوتيه سره (۲) په معنىٰ دَ رضا سره ۔ او په يَرْزُقُ کښې هم دوه احتمالات دي (۱) رزق دُنيوي (۲) او رزق اُخروي (دَ جنت)۔ او بغير حساب کښې اته احتمالات دي ۔ (۱) دومره ورکوي چه انسان يې شمار نشي کولے ۔ (۲) ورکوي يې په موافق دَ مصلحت خپل سره نه په گمان دَ انسانانو سره ۔ (۳) ورکوي زيات دَ استحقاق دَ هغه نه ۔ (۴) ورکوي او واپس يې تري نه اخلي ۔ (۵) ورکوي يې بغير دَ تنگسيا نه ۔ دا پنځه واړه توجيهات کافرانو او مؤمنانو دواړو ته شامل دي او مراد دَ دينه رزق دَ دُنيا دے ۔ (۶) ورکوي يې چه حساب ورسره نه کوي ۔ (۷) ورکوي په جنت کښې زيات دَ استحقاق دَ هغه نه په خپل فضل سره ۔ (۸) ورکوي يې دَ داسے ځائے نه (په دُنيا کښې) چه گمان کښې هم دَ انسان نه وي لکه وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۔ دا دريواړه توجيهات خاص دي په مؤمنانو پورے (مفردات دَ امام راغب)۔

۲۱۳ په دے آيت کښې اشاره ده بل خطاب دَ دے اُمت ته چه هغه امر ورکول دي په دعوت ورکولو کتاب دَ الله تعالىٰ ته دَ اختلاف دفع کولو دَ پاره نو دا متعلق دے دَ مخکښې خطاب سره چه اُدْخُلُوْا فِي السِّلْمِ کَآفَّةً دے ۔

ربط ا: مخکښې د موجوده کافرانو په کفر باندې پوهوالے ذکر شو نو اوس ذکر کوی چه دا په تیره شوے زمانه کښې هم موجود وو. ۲: مخکښې آیت کښې د دوه قسمه انسانانو ذکر اُوشو نو اُوس ذکر کوی علاج د دے اختلاف چه دعوت دے پشان د تیر شوی انبیاء علیهم السلام.

د آیت خلاصه:- په دے آیت کښې څلور لوئے جملے دی اوله جمله کښې ذکر د اختلاف دے روستو د وحدت نه او د هغې علاج د دے په دعوت د انبیاؤ سره په ذریعه د کتاب الله سره. دویمه جمله کښې ذکر دی چه اختلاف چا جوړ کړے دے او کله یې جوړ کړے دے او ولے یې جوړ کړے دے. دریمه جمله کښې ذکر دی چه په وخت د اختلاف کښې خاوندان د هدایت اهلِ ایمان وی. څلورمه جمله کښې دی چه هدایت په اختیار د الله تعالیٰ کښې دے. او لار د الله تعالیٰ نه صراط مستقیم وئیلے شی.

كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً، اُمت هغه خلق وی چه جمع وی په یو څیز باندے او بعض د بعضو اقتداء کړی او معنیٰ د اُمت مخکښې تیرے شوی دی. وَاحِدَةً، صریح دے په وحدت کښې لیکن اختلاف دے په طریقه کښې او په دیکښې پنځه اقوال دی. ۱ـ وحدت په ایمان کښې. ۲ـ په کفر کښې. ۳ـ په پیدائش کښې په فطرت باندے. ۴ـ په نیشتوالی د احکامو شرعیو کښې. ۵ـ په کمے لوکښې د پوهوهرته چه پلاز دے. لیکن په دیکښې صحیح قول اول دے. او دغه روایت د ابن عباس رضی الله عنهما نه ابن کثیر ذکر کړے دے او وئیلی ئې دی چه دا اصح دے په سند او په معنیٰ کښې. او داسے په قراءت د ابن مسعود رضی الله عنه او اُبیّ ابن کعب رضی الله عنه کښې هم راغلی دی چه فاختلفوا او په سورة یونس ۱۹ کښې هم فاختلفوا دے او وروستو لفظ فیما اختلفوا په دے باندے دلالت کوی. نو معلومه شوه چه مراد د النَّاسُ نه هغه لس پیړۍ دی د آدم علیه السلام نه د نوح علیه السلام پورے چه په هغوی کښې اگر چه تود

معاصي پيدا شوي وو ليکن په توحيد باندې متحد وو. روستو پکښې شرک پيدا شو. او قرطبي وئيلي دي چه دا احتمال هم شته چه کان صرف د ثبوت د پاره وي او مراد د ديته هغه زمانې وي چه انبياؤ به دعوت اوکړو او مخالفين به الله تعالی هلاک کړل نو باقي خلق به تر يو وخت پورې متحد وو په توحيد باندې. تو هغه وخت روستو به پکښې اختلاف پيدا شو تو الله تعالی به بل نبي رالوليږلو. فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّٖنَ، دا تصريح ده چه الله تعالی هيڅ زمانه مهمله نه ده پريخودلې بلکه مسلسل يې انبياء عليهم السلام راليږلي دي. بعض مفسرينو وئيلي دي چه ټول انبياء کرام يو لاکه څلير ويشت زره وو او رسولان په دوی کښې درې سوه ديارلس وو او په قرآن کښې په تومو تو سره اتلس ذکر شوي دي (قرطبي) النَّبِيّٖنَ، د دينه مراد رسولان دي په قرينه د اَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ او په صفت د مبشرين و منذرين چه دا اوصاف د رسولانو دي.

وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ، د مَعَهُمْ نه مراد معيت زماني دے او په دے لفظ کښې دوه فائدې دي. اول دا چه هر يو له يې مستقل کتاب نه دے ورکړے ليکن ورسره يې کتاب ساتلے دے. دويم په ديکښې تائيد او نصرت ته اشاره ده. په الْكِتٰبَ کښې الف لام د استغراق د پاره دي. او مقابله د جمع د جمع سره تقاضا کوي په انقسام د افرادو په افرادو باندې يعني هر يو رسول سره د هغه کتاب وو. يا الف لام عهدي دي. بِالْحَقِّ، متعلق دے په انزل پورې سوال: زيرے او يره خو پيدا کيږي په کتاب سره نو دا يې ولې د کتاب نه مخکښې ذکر کړل؟.

جواب ۱: کله زيرے او يره ورکول په وحي سره وي اګر چه د کتاب په شکل کښې نه وي.

جواب ۲: مبشرين و منذرين احوال دي د النَّبِيّٖنَ نه نو د هغې سره اتصال ضروري وو.

لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيْمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ، دا د انزال الكتاب لوئے مقصد دے. يعني راليږل د کتابونو صرف د حفظ او تلاوت او ختمونو

کولو د پاره نه وی. او ضمیر د یَحْکُمَ کتاب ته راجع دے او نسبت د حکم کتاب ته مجاز دے. یا ضمیر راجع دے الله تعالیٰ ته - او مراد په حکم د کتاب د الله تعالیٰ سره د حق او باطل فرق کیږی او اختلاف ختمیږی نو چه په دے سره د مسلمانانو په مینځ کښ شور او انتشار پیدا کیږی - وَمَا اخْتَلَفَ فِيْهِ اِلَّا الَّذِيْنَ اُوْتُوْهُ، دلته دوه احتمالات دی. اول دا چه مراد د اخْتَلَفُوْا فِيْهِ او مَا اخْتَلَفَ آه سره یو څیز دے په اول کښ نسبت د اختلاف الناس ته وو نو اوس یئے تخصیص د اختلاف اوکړو په علم والو پورے. دویم احتمال دا چه اول اختلاف مخکښ د انزال د کتاب ته وو د هغے فیصله اُوشوه په کتاب الله سره لیکن روستو د نزول د کتاب نه په اُمتونو کښ دا سے خلق پیدا شول چه هغوی بیا اختلاف پیدا کړو او دا اختلاف د هغوی په تلبیس او تحریف سره وو په اُصولو د شرع کښ او په یو بل کافر کولو سره. او دا دویم احتمال غوره دے په قرینه د اُوْتُوْهُ سره. او ضمیر د اُوْتُوْهُ کتاب ته راجع دے. او مراد په اُوْتُوْهُ سره اهلِ علم دی لیکن عمل یئے په خپل علم نه دے کړے د دے وجے نه اُوْتُوْهُ مجهول صیغه ذکر شوه. مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ، د بینات نه مراد هغه ښکاره آیتونه دی د کتاب د الله تعالیٰ چه په هغے سره اتفاق په حق باندے معلومیدلو لیکن هغه دوی د اختلاف سبب اُوګرځو. بَغْيًا بَيْنَهُمْ، اشاره ده چه دا اختلاف اجتهادی نه وو او په جهل باندے هم بنا نه وو بلکه د ظلم او حسد او عناد د وجے نه قصداً وو.

بَيْنَهُمْ، سوال:- حسد او بغض خو د دوی په اهل حق باندے وو نو دلته خو د هغوی ذکر نیشته؟ -

جواب ۱: د دے بل جانب پټ دے یعنی بینهم وبین اهل الحق، لیکن هر کله چه حسد د یو طرف نه وو د دے وجے نه یئے بل طرف ذکر نه کړو.

جواب ۲: د دے متعلق پټ دے یعنی وَبَاغِضَ بَيْنَهُمْ (حسد شوے وو او اګئی یئے اچولے وے د دوی په مینځ کښ) او دا ذکر مرض

دَ بغی په دے سورت ٹک کښې تیرشویدے او په سورة آلعمران ۱۹ ک، سورة شوری ٹک او سورة جاثیه ٹک کښې ذکر دے۔ او په دے جمله کښې دَ تاکارځ عالمانو په ډیرے مبالغے سره یدی او وضاحت ذکر دے۔ اول طریقه دَ حصر په مَا او اِلَّا سره۔ دویم لفظ دَ اُوْتُوهُ دریم الْبَيِّنَاتُ څلورم بَغْيًا۔ فَهَدَى اللَّهُ الَّذِينَ اٰمَنُوْا، دَ الَّذِينَ اٰمَنُوا نه دا اُمت مراد دے او اخْتَلَفُوْا نه مراد مخکنی اهلِ کتاب دی۔ یا مراد دَ دینه مؤمنان دَ هرے زمانے دی او اخْتَلَفُوْا نه مراد یعنی کږونکی دَ هغے زمانے دی۔ لِمَا اخْتَلَفُوْا فِيهِ، فا په اول کښې او لام په صله دَ هدایت کښې دلالت کوی چه په زمانه دَ اختلاف کښې الله تعالیٰ مؤمنانو ته ایت کږونکو ته زر او پوخ هدایت ورکړے دے۔ مِنَ الْحَقِّ، هرکله چه دَ اختلاف نسبت دواړو طرفونو ته کیدا یشی (حق او باطل) نو په مِنْ بیانیه سره یئے وضاحت اوکړو چه دلته هدایت دَ حق دَ طرف مراد دے۔ او دا حق عام دے توجیه ته او صحیح عقیدے ته چه موافق وی دَ وحی سره دا رنګ تعظیم دَ جمعے ته په دے اُمت کښې او قبلے (کعبے) نه او شان دَ ابراهیم علیه السلام او عیسیٰ علیه السلام او کتابونو الهیو او روژے دَ رمضان ته۔ په دے ټولو کښې یهودیانو او نصارانو اختلاف کړے وو لیکن الله تعالیٰ آخری اُمت ته دَ حق هدایت ورکړے دے۔ بِإِذْنِهِ، دا متعلق دے په فَهَدَى پورے او اِذن نه مراد علم، امر او توفیق دَ الله تعالیٰ دے۔ په دیکښې اشاره ده چه هدایت او اسباب دَ هدایت ټول په اختیار دَ الله کښې دی۔ وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ، دا جمله تتمه ده دَ ماقبل۔ هرکله چه مخکښې ذکر شو چه هدایت دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دے او دَ هغه په اِذن سره دے نو اُوس دوه څیزونه ذکر کوی۔ اول دا چه دا تقسیم دَ هدایت په مشیت او اراده دے دَ الله تعالیٰ سره کیږی، صدور دَ هدایت دَ الله تعالیٰ نه په طریقه دَ ایجاب یا وجوب سره نه دے لکه چه دَ معتزلو وغیره مذهب دے۔ دویم دا چه دَ الله تعالیٰ په هدایت کښې غلطی او خطائی نه وی بلکه هغه هدایت پوره صراط مستقیم دے۔

أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ

آیا گمان کوئ تاسو چه داخل به شئ جنت ته

وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا

او حال دا چه تر اوسه پورے نه دی راغلی تاسو ته پشان د تکلیفونو د هغه کسانو چه تیر شوی دی

مِنْ قَبْلِكُمْ ۖ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ

مخکښ ستاسو ته رسیدلی وو هغوی ته سختئ د مال

وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّىٰ يَقُولَ

او مرضونه د بدن او جر قولے شو یو د زیه دیره مخالفتونو سره) تردے چه او ئیل

الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَىٰ

رسول او هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے وو د هغه سره کله به وی

نَصْرُ اللَّهِ ۗ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ ﴿٢١٤﴾

مدد د الله تعالیٰ خبر شئ یقیناً مدد د الله تعالیٰ نزدے دے۔

سلک په دے آیت کښ دریم خطاب دے چه په دعوت الی الله کښ ډیر مصیبتونه راځی هغه تیرول پکار دی۔
ربط ۱:۔ هر کله چه مخکښ آیت کښ دعوت د انبیاء علیهم السلام ذکر شو په کتاب الله سره۔ نو په دے آیت کښ ذکر کوی چه په دغه وخت کښ هغوی ډیر مصیبتونه برداشت کړیدی۔ او هغه مصیبتونه به په تاسو باندے هم راځی۔ ع۲۔ د مخکښ آیت آخری جمله کښ صراط مستقیم سره د جنت د حصول د پاره بل شرط ذکر کوی چه هغه مصائب برداشت کول دی۔
أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ، دا أَمْ منقطعه دے مخکښ ذکر د کلام نه غواړی۔ خو په دیکښ درے اقوال دی اول دا چه أَمْ په معنیٰ د بَلْ اسره دے۔ دویم دا چه په معنیٰ د بَلْ سره دے (أ) ورسره بیشته۔ دریم قول د قراء دے چه دا په معنیٰ د صرف

همزه استفهامیه دے او په اول د کلام کښې راځي او دا غوره قول دے او دلته استفهام تقریری دے یا انکاری دے۔ او حسِبَ د حُسْبَان نه دے په معنی د گمان سره راځي او کله د یقین په ځائے کښې استعمالیږی۔ او آیت برابره خبره ده که په باره د غزوه احد یا غزوه احزاب یا هجرت د مدینے کښې نازل شوے وی لیکن حکم یې عام دے۔ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ، د دخول نه مراد داخلیدل دی بے تکلیفه او دخول اولی مراد دے ځکه چه صرف د دخول د جنت خو وعده کړے شوے ده د ټولو اهلِ ایمان سره۔ او دا مضمون په سورة آل عمران ۱۴۲ او سورة توبه ۱۶ کښې ذکر دے او په دغے دواړه آیتونو کښې د مصیبتونو تیرولو په ځائے جهاد ذکر کړیں شوے او لفظ د جهاد ټولو مصیبتونو نه عام دے۔ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ، لَمَّا پشان د لم دے لیکن په لَمَّا کښې نفی د ماضی ده چه متصل ده د زمانه حال سره۔ يَأْتِكُمْ، د اتیان نه مراد حصول دے د هغه څیز چه د عدم نه وجود ته راشي نو دا سے وی لکه چه د یو مکان نه راغلے وی۔ مَثَلُ دا صرف مشابه نه وئیلے شي لیکن استعمالیږی په عجیبه او نا اشنا حال کښې۔ دلته مراد عجیبه او نا اشنا تکلیفونه او مصیبتونه دی۔ اَلَّذِيْنَ خَلَوْا نه مراد تیر شوی پیغمبران او د هغوی تابعداران دی۔ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوْا، دا جمله تفسیر د لفظ مَثَل دے۔ مَسّ په اصل کښې یو جسم د بل جسم سره پیوست کیدلو ته وئیلے شي او استعمالیږی عموماً په ځائے د صرف و رسیدلو کښې۔ اَلْبَأْسَاءُ، تکالیف دوه قسمه دی اول هغه چه ذاتی وی۔ دویم هغه چه د بل چا د طرف نه اُورسیږی او ذاتی تکالیف بیا دوه قسمه دی اول مالی هغے ته باساء وئیلے شی، دویم بدنی مرضونه هغے ته ضراء وئیلے شی۔ دا دواړه په ۱۷۷ کښې ذکر شوی دی۔ او دویم قسم یې په زُلْزِلُوْا سره ذکر کړیں شے۔ زلزله په اصل کښې خوځول د یو جسم دی په خپل ځائے کښې په سختئ سره او دا لفظ دلالت کوی په تکرار او کثرت باندے او دا

قسم ذکر دے په سورة احزاب سلا کښې۔ او مراد د دینه هغه تکلیفونه دی چه د دُشمن د طرف نه راځي یعني طعنونه، غلط او بے ځایه اعتراضونه، غلطے فتوے، کنځل او دروغ وغیره۔ حَتّٰى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا، حَتّٰى دلته په معنیٰ د اِلیٰ سره دے او غایه ده د مَس۔ او زلزال او الرَّسُول کښې الف لام عهدی دی یعنی هغه رسول چه په وخت د دغه مصیبت زدګی کښې موجود وو۔

مَعَهٗ نه په دیکښې معیت د صحبت او اتباع مراد دے۔ مَتٰى نَصْرُ اللهِ، مَتٰى د پاره د سوال د وخت دے۔ کله د استبعاد او استبطاء د پاره راځي لکه په دے قول د منکر ینو کښې وَيَقُولُونَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ (سورة یونس ۴۸، سورة اسراء ۵۱) او نور هم ډیر آیتونه دی۔ او کله د صرف طلب او د دُعا د پاره راځي لکه په دے آیت کښې۔

سوال:- متیٰ د استبعاد د پاره راځي یعني امداد د الله تعالیٰ یعنی ګټری او صورت او حال د تا اُمیدئ پیدا کوی او دا خو د شان د رسولانو نه لرے خبره ده؟

جواب ۱:- په کلام کښې تقدیم تاخیر دے یعنی متیٰ نَصْرُ اللهِ قول د مؤمنانو دے او اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللهِ قَرِيْبٌ قول د رسول دے اُمت نه د تسلئ ورکولو د پاره۔ په دے جواب باندے بو اعتراض دا دے چه دا د فصیح کلام نه بعیده ده چه بے ضرورته په هغے کښې تقدیم او تاخیر اُوکړے شي۔ دویم دا چه نا اُمیدی کول د مؤمنانو (د ملګرو د انبیاؤ) د شان نه لرے ده لکه په سورة احزاب ۱۱ او ۲۲ کښې دی۔ او دا رنګ د مخکنو اُمتیانو صبر په ډیرو آیتونو کښې ذکر دے لکه سورة اعراف ۱۳۷، سورة قصص ۵۴، او سورة سجده ۲۴ او په ډیرو آیتونو کښې په سبب د صبر د مؤمنانو سره وعده د مغفرت او زیرے د جنت ذکر دے۔ لکه سورة رعد ۲۲، سورة نحل ۹۶ او سورة فرقان ۷۵۔ نو حاصل جواب دا دے چه ایمان کامل والو خو صبر کړے دے نو د هغوی قول په نا اُمیدئ او په بے صبرئ باندے څرنګه حمل کیږی۔

يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ط

تپوس کوی دوی ستا نه چه څه څیز خرج کړی

قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَيْرٍ

ته اُوایه هغه چه خرچ کوئ تاسو څه مال (حلال)

فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ وَالْيَتٰمٰى

نو د پاره د مور او پلار دے او خپلوانو او یتیمانو

وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ط وَمَا تَفْعَلُوْا

او مسکینانو او مسافرو دی او هغه چه کوئ څه

مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿۲۱۵﴾

د نیکئ کار نو یقیناً الله تعالیٰ په هغې باندے ښه علم لری۔

جواب عله په کلام کښ تقطیع ده چه يَقُوْلُ الرَّسُوْلُ تسلية لهم وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ۔ په دے جواب باندے هم دغه دوه اعتراضونه دی۔ نو صحیح توجیه په دے آیت کښ دا ده چه ابن عطیه او آلوسی لیکلی ده چه متیٰ د پاره د دُعا دے یعنی رسول او مؤمنانو په دُعا طلب کوله د نصرت د الله تعالیٰ او اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ اجابت دے د الله تعالیٰ د طرف نه۔ ابن کثیر هم ویلی دی چه دوی به فتح طلب کوله او د تکلیف د لرے کیدو د پارہ به یئے دُعا غوختله او الله تعالیٰ اجابت کړو د هغے۔ او دا سے قول قرطبی هم ذکر کړے دے۔

فائده:- د الله تعالیٰ کلام بے ضرورته تکلفاتو باندے حمل کول نه دی پکار کله چه د هغے د پاره صحیح محمل ممکن وی۔ دلته هم مقصد د آیت بشارت ورکول دی جنت ته په دخول اولی سره په شرط د صبر کولو سره په تکالیفو د دین باندے یعنی د تکلیف او مصیبت په وخت کښ صبر کول اهم او ضروری څیز دے او سبب دے جنت ته د دخول۔

۲۱۵ خلاصه دَ باب:- دَ دے آیت نه تر ۲۴۲ پورے دَ دے حصے دریم باب دے - په دیکښ اتلس احکام ذکر کوی چه دَ اکثرو تعلق دَ مالونو او دَ زنانو سره دے او دینه اُمور دَ تن بیر منزل وئیلے شی یعنی مؤمنانو مجاهدینو دَ پا ره دَ کورنئ او دَ معاشرے نظام دَ شرع مطابق جوړول پکار دی - او دَ دے اُمورو په ذکرکولوکښ دَ خصوصیت وجه دا ده چه په دے کښ جاهلیت والو مظالم او رسمونه داخل کړی وو - نو دَ هغے نه دَ مؤمنانو بچ کول مقصد دے - دَ دے وجے نه دَ هر یو خبرے په عنوان کښ اجتناب (ځان بچ کول) مراد دے لکه چه روستو به ذکر کیږی - دا رنګ دا امور دوه اړخونو والا (دوجهتین) دی نو ترغیب ورکوی صحیح اړخ ته -

ربط ۱: هرکله چه مخکښ آیت کښ په ابتلاء اتوکښ البأساء ذکر شو او بأساء هغه تکالیف کونیه او شرعیه دی چه دَ مال سره تعلق لری نو په دے آیت کښ دَ هغے نه بعض ذکر کوی ۲: مخکښ آیت کښ دَ جنت دَ حاصلولو بعض طریقے ذکر شوے نو اوس په دے آیت کښ دَ حصول دَ جنت بله طریقه ذکر کوی - ۳: ادخلوا فی السلم کافة سره ما بعد ټول احکام ذکر شوی تعلق لری چه دا دَ اسلام اعمال دی په دے شرط چه دَ جاهلیت دَ طریقو نه محفوظ وی -

دَ دے آیت عنوان دا دے چه په دیکښ دَ انفاق مصارف شرعیه ذکر کوی او مقصد پکښ اجتناب دے دَ اسراف او تبذیر نه - نو په مال خرچ کولو کښ دوه اړخونه دی جاهل خلق یے دَ اسراف او تبذیر په طریقے سره خرچ کوی - او الله تعالیٰ ترغیب ورکوی دَ خیر اړخ ته چه هغه صحیح مصارف دی -

یَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا یُنْفِقُوْنَ، اکثر مفسرینو ذکر کړی دی چه دا سوال عمرو بن الجموح رضی الله عنه کړے وو چه دَ خپلو مالونو نه څومره خرچ کړو او کومو ځایونو کښ یے خرچ کړو - نو دا آیت دَ هغهٔ سوال په جواب کښ نازل شو - او هرکله چه دا سے سوال او

ضرورت د جواب هر مؤمن له پکار دے نو ځکه د دے وجے نه یې په صیغه د جمع سره جواب ذکر کړو- مَاذَا په معنیٰ د اَیَّ شَیۡءٍ دے یعنی څه څیز یا اَیَّ شَیۡءٍ الَّذِیۡ (څه څیز دے هغه) نو جواب اوشو چه قُلۡ مَاۤ اَنۡفَقۡتُمۡ مِّنۡ خَیۡرٍ فَلِلۡوَالِدَیۡنِ-

سوال:- دلته د سوال او جواب مطابقت څرنګه دے؟-

جواب یې په ډیرو وجوهو سره دے- اوله وجه داده چه په سوال کښ دوه څیزونه وو لکه چه مخکښ ذکر شول نو جواب کښ دواړه ذکر دی- د اول جواب په مِنۡ خَیۡرٍ لفظ سره او د دویم سوال جواب په فَلِلۡوَالِدَیۡنِ سره دے- دویمه وجه داچه په سوال کښ اهم مقصد مصارف ایز دة کول دی دے د پاره چه د جاهلیت د طریقو نه اجتناب اوشی- نو جواب کښ صرف مصارف ذکر شول- مِنۡ خَیۡرٍ کښ د خیر نه مراد هر حلال مال دے او د هغے د مقدار تعین نه حاجت نیشته د دے وجے نه یې نکره ذکر کړه-

فَلِلۡوَالِدَیۡنِ، دے آیت کښ د انفاق نه مراد زکوٰة نه دے ځکه چه والدین مصرف د زکوٰة نه دی بلکه انفاق واجبه مراد دے د وجے د حقوقو د بندګانو نه سرهٔ د احتیاج د هغوی نه- بیا آیت کښ ښائسته ترتیب دے اول یې حق د والدینو ذکر کړیدے ځکه چه روستو د الله تعالیٰ د حق نه حق د والدینو دے- لکه چه په سورة اسراء ۲۳ کښ ذکر دی- او مراد د والدین نه دلته هغه دی چه د مال او د کسب نه قاصر وی او ولد یې د استطاعت خاوند وی نو دا انفاق واجب دے- بیا وروسته وَالۡاَقۡرَبِیۡنَ ذکر دی ځکه چه دا قرابت او خپلولی د والدینو په سبب سره پیدا شویده- او دا رنګ انسان د خپلو خپلوانو په فقر او حاجت باندے ښه خبر وی-

بیا وروسته وَالۡیَتٰمٰی ذکر دی ځکه چه هغوی په کسب کولو باندے قدرت نه لری او څوک یې نیشته چه کسب ورله اوکړی نو د دهٔ حاجت ډیر زیات دے د روستو ذکر شو نه- بیا وروسته وَالۡمَسٰکِیۡنِ، ذکر دی د دوی حاجات هم ښکاره دی- مال او کور او ذریعه د خوراک څښکاک نه لری- بیا وروسته وَابۡنِ السَّبِیۡلِ

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ

فرض كړې شوې دى په تاسو باندې جنګ کول او حال دا چه دا بد ښکاري کيدلو تاسو ته

وَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ

او کيدې شي چه بد ګڼړئ تاسو يو څيز او حال دا چه هغه فائده منددى تاسو لره

(مسافر) ذکر دی د دوی حاجت وقتی دے چه دے منقطع (جدا) دے د خپل کلی نه او وقتی حاجت يې پيدا شوېږي. نو د دے اشخاصو د احتياج د وجے نه په دوی باندې خرچ کول واجب دی

سوال:- دا سے انفاق واجبه بغير د زکوٰة نه په آيت کښې هم مراد دے تو هلته يې والدين ولے نه دی ذکر کړی؟-

جواب:- هر کله چه والدين د حاجت په وخت کښې د اولاد په مال کښې پشان د مالکانو دی په دليل د حديث (انت ومالك لابيك) او هلته يې لفظ د آتی المال ذکر کړيږي او ايتاء د مالک د پاره ذکر کول مناسب نه دی او انفاق خو مالک او غير مالک دواړو د پاره استعماليږی.

سوال:- هلته يې والسائلين وفي الرقاب هم ذکر کړی دی او دلته نيشته؟-

جواب:- په هغه آيت کښې د بِرّ (نيکئ کولو) ذکر کول مقصد دے او لفظ د بِرّ دلالت کوی په فراخئ او وسعت باندې د دے وجے نه هلته يې مصارف ډير ذکر کړی دی-

وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ، دا اجمال دے روستو د تفصيل نه او اشاره ده چه د خير کارونه او مصارف د دے نه علاوه نور هم شته دے-

فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ، په دے جمله کښې مقصد تسلی ورکول دی چه د خير عمل الله تعالیٰ نه ضائع کوی بلکه د خپل علم موافق جزا ورکوی-

وَعَسٰٓى اَنْ تُحِبُّوْا شَيْئًا وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ؕ

او کیدی شي چه بنه په گنړئ تاسو یو څیز او هغه په تاکاره وي تاسو لره

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۱۶﴾

او الله تعالیٰ علم لري د هر څیز او تاسو د هر څیز علم نه لرئ ۔

۲۱۶ په دے آیت کښ دویمه خبره ده د امورو د تن بیر مآزل نه او مقصد په دیکښ اجتناب کول دي د تابعدارئ کولو د طبیعت اوخواهش نه په خلاف د شرع کښ۔ اوتنبیه ورکوي چه دارمدار د کارونو د حسن او د قبح په شریعت سره دے۔ او د دے مثال ورکوي په فرضیت د قتال في سبیل الله سره۔

ربط ۱ په مصیبتونو کښ دویم قسم مصیبت الضراء وو یعني بدني تکلیف او د دے مثال په شرعي امورو کښ قتال دے۔ ربط ۲ مخکښ آیت کښ د جنت د حاصلولو د پاره عبادت مالیه ذکر کړو نو په دے آیت کښ د هغې مقصد د پاره عبادت بدني ذکر کوي۔ ع ۳ مخکښ آیت کښ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ ذکر وو نو په دے آیت کښ د خیر مثال ذکر کوي په مسئله د قتال في سبیل الله سره۔

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ، دا تعبیر مناسب دے د ۱۷۸، ۱۸۰ او ۱۸۳ سره. کتب فعل ماضي دلالت د اخبار د پاره ده یعني د دے نه مخکښ په تاسو باندے قتال فرض شوے دے په آیت ۱۹۰ کښ۔ او صحیح دا ده چه قتال فرض کفائي دے لیکن کله چه کافران په دار اسلام باندے حمله اوکړي نو بیا قتال فرض عین دے۔

الْقِتَالُ، الف لام عهدي دی یعني جنګ کول د دشمنانو د دین سره

وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ، قرطبي د ابن عرفه نه نقل کړي دي چه کُرْهٌ په پیښ د کاف سره مشقت او نفرت ته وائي او په زور د کاف سره اکراه ته وئیلے شي او دواړه کیږي په ځائے هم استعمالیږي او جهاد او قتال مکروه (سخت) د دے وجے نه دي چه په دیکښ مال خرچ کول د اهل او وطن نه بهر وتل او خپل ځان او بدن مرګ او زخمونو ته حواله کول دي او دا کارونه طبعًا په هر انسان

باندے مکروہ یعنی گران وی۔اوداجملہ حالیہ دہ یعنی اللہ تعالیٰ
قتال پہ تاسو باندے فرض کړیدے پہ داسے حال کښ چہ اللہ
تعالیٰ ستاسو پہ کراهیت دَ قتال باندے عالم دے۔اوابن عاشور
وئیلی دی چہ دے آیت کښ دَ تیرشوی حال حکایت دے یعنی پہ
اول وخت کښ چہ مسلمانان لږ وو او قتال کښ یو پہ لس
مقابلہ فرض وہ نو داسبب دَ کراهیت وو نو مرکلہ چہ هغے حکم
کښ تخفیف راغے او یو پہ دوہ مقابلہ واجب شوہ نو کراهیت
زائیلہ شو۔

سوال:۔ داخطاب دے صحابہ کراموتہ نو څرنګ دوی فریضہ
دَ اللہ تعالیٰ چہ قتال دے مکروهہ ګنړلہ داخو دَ عام مؤمن دَ
حال نہ هم بعید دہ خبرہ دہ؟۔

جواب ۱:۔ مفسرینو ذکر شوہ چہ دا طبعی کراهت دے او بے اختیارہ
دے نو پہ دے باندے انسان ماخوذ نہ وی پہ دلیل دَ لایکلف اللہ
نفسًا الا وسعها سرہ۔ او داکراهیت هم بیا زائیل شو لکہ مفسرین
ذکر شو۔

جواب ۲:۔ داکراهیت دَ فرضیت دَ قتال نہ مخکښ وو نو اللہ
تعالیٰ پہ ترغیب دَ قتال کښ اُوفرمائیل چہ تاسو یو کار بد ګنړئ
مخکښ دَ فرضیت نہ لیکن اللہ تعالیٰ هغہ فرض کړی ځکہ چہ
ستاسو دَ پارہ پہ هغے کښ خیر وی (اللباب)۔

وَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ، پہ دیکښ اشارہ دہ چہ
قتال ذوجهتین (دوہ اړخونو والا) دے او داجواب دے دَ سوال نہ
چہ هرکلہ قتال مکروہ دے نو دَ اللہ تعالیٰ دَ رحمت تقاضا دا دہ
چہ دَ دے حکم ئے نہ کولے۔ نو داجواب اُوشو چہ وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ۔
او دا جملہ معطوف دہ پہ كُتِبَ عَلَيْكُمُ باندے او وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ
جملہ حالیہ دہ۔ او پہ دے جواب کښ لطف دَ اللہ تعالیٰ دے پہ
خپلو بندګانو باندے چہ هغوی تہ دَ خپل حکم حکمت ذکر کوی
او پہ علم دَ حکمت دَ حکم سرہ رغبت او تخفیف پیدا کیږی۔
او پہ دیکښ اشارہ دہ چہ احکامِ الٰهیہ دَ بندګانو پہ مصالحو

يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ

تپوس کوی د وی ستا نه په باره د میاشتې د عزت کښې

قِتَالٍ فِيْهِ ؕ قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ كَبِيْرٌ ؕ

په باره د جنګ کولو په هغې کښې ته أووایه جنګ کول په هغې کښې غټه ګناه ده

وَصَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَكُفْرٌۢ

او منع کول د خلقو د لارې د الله تعالیٰ نه او کفر کول

بِهٖ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۙ وَاِخْرَاجُ

په هغې او (منع کول) د مسجد حرام نه او ویستل

اَهْلِهٖ مِنْهُ اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَالْفِتْنَةُ

د حق اړو د هغې د هغې نه ډیره غټه ګناه ده په نیز د الله تعالیٰ او شرک کول

یاتے بنا دی په طبائعو باتے ته دی بنا۔ او په دے جمله کښې
د کراهیت نه طبعی کراهیت مراد دے او د خیر نه خیریت شرعیه مراد دے۔
عَسٰی فعلِ ماضی ده د انشاء د ترجی (د داسے څیز امید چه د هغې
حاصلیدل آسان وی) د پاره راځی اسم مرفوع او خبر منصوب غواړی۔
لیکن هر کله چه د دے نه روستو متصل اَنْ یا اَنَّ ذکر شی نو عَسٰی
تامه وی۔ او مفسرینو او اهل لغتو ویلی دی چه عَسٰی د الله تعالیٰ د
طرف نه د ترجی د پاره نه وی بلکه د وجوب او تحقیق د پاره راځی
ماسیوا د سورة تحریم سره نه۔ او دلته په جهاد کښې خیریت دا دے
چه یا غلبه او غنیمت حاصل شی او یا شهادت او جنت حاصل شی۔
وَعَسٰۤی اَنْ تُحِبُّوْا شَیْـًٔا وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ، دلته د هغې مثال دا دے چه پاتے
کیدل د جهاد او قتال نه طبعاً محبوب وی لیکن د هغې پریخودلو کښې شر
ډیر دے یعنی نقصانات دنیویه او اُخرویه۔ وَاللّٰهُ یَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ،
دا علت د ماقبل دواړه جملو د پاره دے او مراد د علم نه هر خیر او شر
او علم بکل شیءٍ دے او دغه علم د بندګانو نه سلب دے که مقربین
بندګان وی او که غیر وی۔

أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ

ډیره غټه ګناه ده د قتل نه او همیشه دي دوی چه جنګ کوي تاسو سره

حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَنْ دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا ۚ

تر دے پورے چه او ګرځوي تاسو د دین ستاسو نه که چرے وس ئے اورسیږي

وَمَنْ يَرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ

او څوک چه او ګرځیدلو ستاسو نه د دین د هغه نه

فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ

نو مړ شو په دے حال کښ چه دے کافر وي نو دغه کسان برباد دي

أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۖ وَأُولَٰئِكَ

عملونه د دوی په دنیا او آخرت کښ او دغه کسان

أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿۲۱۷﴾

اور والا دي دوی په هغے کښ همیشه دي۔

ﷺ دا د تدبیر منزل د امورو نه دریم امر دے۔ او په شهر حرام کښ د قتال سره متعلق دے او د دے مقصد اجتناب کول دي د اشد البلیتین نه په آسان جانب سره نو هغه آسان به شرعًا حسن لغیره او ګرځي۔ او مقاتل د دے قتال کول دي د مشرکانو د شرک او ظلمونو د دفع کولو د پاره اګرچه په میاشت د حرمت کښ وي۔ او دا حکم هم دوه جهتونو (اړخونو) والا دے۔ په یو جهت سره ګناه دے او په بل جهت سره عبادت او ثواب دے۔

ربط ۱ مخکښ آیت کښ د عام قتال حکم ذکر شو چه هغه ذوجهتین وو او س د قتال خاص قسم ذکر کوي۔ ۲ ابن عاشور وئیلي دي چه ظاهر دا ده چه دا آیت په مخکښ آیت پسے نازل شوے دے او د هغے د پاره تکمله او تابع دے۔

يَسْئَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ د دے په سبب نزول کښ څ اقوالو

اختلاف دے مشهور قول دا دے چه دا نازل شوے دے په باره د اولے سريئے (هغه وړوکے جنګ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم پکښې شرکت نه وی کړے) د مسلمانانو کښې چه امیر د هغې عبد الله بن جحش وو او په قافله د قریشو باندے ئې حمله اوکړه کله چه هغوی د طائف د طرف نه راتلل او یو تن ئې د هغوی نه قتل کړو. او دا واقعه د جمادی الآخر په آخری ورځ کښې اوشوه. لیکن اشتباه (شک) راغله چه دا اوله ورځ د رجب المرجب ده چه هغه د حرمت میاشت ده نو مشرکانو په مسلمانانو باندے عیب او طعن اوکړو چه دوی د ملتِ ابراهیمیه نه خلاف اوکړو او د حرمت په میاشت کښې قتال اوکړو. نو د دے اشتباه د لرے کولو د پاره صحابه کرامو دا تپوس اوکړو. دویم قول دا دے چه په واقعه د حدیبیه کښې دا سوال شوے وو. کله چه نبی صلی الله علیه وسلم او صحابه کرام د عمرے کولو نه منع کړے شول نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو نه په قتال کولو باندے بیعت واخستو او هغه میاشت (ذوالقعده) د حرمت وه. نو مؤمنانو یا مشرکانو دا تپوس یا اعتراض اوکړو. او روستو د صد عن سبیل الله سره دا قول زیات مناسب دے. الشَّهْرِ الْحَرَامِ کښې الف لام جنسی دی یعنی چه هره میاشت د حرمت وی. او د دے وجے نه روستو قتال نکره د دے نه بدل اشتمال کیدل جائز دی. او د بعض مفسرینو قول دا دے چه په دیکښې الف لام عهدی دی او د دینه مراد د رجب میاشت ده او قتال په سبب د فِيهِ سره معرفه ګرځیدلے دے.

قِتَالٍ فِيهِ، دا د الشَّهْرِ الْحَرَامِ نه بدل اشتمال دے او مقصد په سوال کښې د قتال جواز او عدم جواز دے وقوع نه ده مراد.

سوال:۔ دا سے ئې ولے نه وئیل چه يَسْئَلُونَكَ عَنِ الْقِتَالِ فِي الشَّهْرِ الْحَرَامِ؟۔

جواب:۔ په دیکښې اشاره ده اهتمام ته په باره د شهر حرام کښې نه صرف قتال ته. او قتال ئې نکره ذکر کړه اشاره ده چه په دیکښې مراد یو معین قتال نه دے کوم چه په سبب نزول کښې

ذکر بلکه جنس قتال کښې بحث دے۔
قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ كَبِيْرٌ، سوال:- پکار وه چه دلته یې ضمیر ذکر کړے وے؟
جواب:- په دیکښې د جواب پوره مطابقت دے د سوال سره او د دے د پاره چه وهم را نشي چه ضمیر الشهر ته راجع دے۔
سوال:- القتال په الف لام سره ولې پکار وو؟
جواب ۱:- مقصد حکم د قتال معینه نه دے بلکه هر قتال مراد دے۔
جواب ۲:- په سوال کښې قتال د عبدالله بن جحش مراد وو او هغه کبیره (گناه) نه وو او په جواب کښې حکم د هغه قتال مراد دے چه په هغې کښې تذلیل د اسلام او نصرت د کفر وي۔ او هغه غیر دے د مخکښې نه ځکه یې نکره ذکر کړه (اللباب) کبیر په صفت د مخلوق کښې (په حقیقت کښې) هغه څیز دے چه جوثه یې غټه او قوي وي لیکن دلته مراد غټه گناه والا دے۔
فائده:- دفاعي قتال په شهر حرام کښې جائز دے په اتفاق د اهلِ علمو سره په سبب آیت ۱۹۱ د دے سورت سره لیکن ابتداء د قتال په شهر حرام کښې، په دیکښې اختلاف دے د علماؤ۔ یو قول دا دے چه دا منسوخ دے په فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ۔ او وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِيْنَ كَآفَّةً سره ځکه چه دا آیتونه عام دي او د دے آیت نه روستو نازل شوي دي۔ دویم قول د مجاهد او د عطاء دے چه دا منسوخ نه دے۔ او ابوحیان وئیلي دي چه دا قول غوره دے ځکه چه په اتفاق د اهلِ علمو سره ثابت ده چه عام خاص لره نه منسوخ کوي۔
وَصَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، د دے نه روستو یې د قتال د مشرکانو شپږ علتونه ذکر کړي دي چه هغه اسباب دي د قتال د جواز د پاره په شهر حرام کښې۔ حاصل دا دے چه تاسو اے مشرکانو چه کوم شپږ کارونه کوئ دا خو اکبر (ډیر غټ) دي په نسبت د هغه عمل چه مسلمانانو کړیدے ستاسو په مخالفت کښې نو د دفع د پاره قتال جائز کړے شوے دے او دا اول سبب دے۔
صَدٌّ مصدر دے چه فاعل او مفعول یې پټ وي یعني صدکم المسلمین

او سبیل الله عام دے اسلام، هجرت، حج، عمرے او قرآن ټولو ته شامل دے۔ وَكُفْرٌ بِهِ، دا دویم علت دے په ضمیر راجع دے سبیل ته یا الله تعالیٰ ته راجع دے۔ او دا کفر دَ وجود دَ الله تعالیٰ او دَ صفاتو او احکامو دَ هغه ته انکار کولو ته او شرک کولو ته شامل دے۔ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، دا دریم علت دے او عطف دے په سبیل الله باندے دَ صَدٌّ دَ لاندے داخل دے۔ په دے ترتیب کښې ئے ډیر قبیح مقدم کړیدے په ذکر کښې چه هغه عام صد دے او وروستو عام کفر دے۔ یا دا عطف دے په ضمیر دَ بِهِ باندے او دا په نیز دَ کوفیانو باندے جائز دے۔ او مراد دَ کفر دَ مسجد حرام نه دَ مسلمانانو منع کول دی په هغې کښې دَ مونځ کولو او طواف کولو ته۔ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِ مِنْهُ، دا څلورم علت دے او عطف دے په صَدٌّ یا په کفر باندے او ضمیرونه دَ أَهْلِهِ او مِنْهُ مسجد ته راجع دی۔ او اضافت دَ اخراج أَهْلِهِ ته اضافت دے دَ مصدر مفعول ته۔ اهل هغه چاته وئیلے شی چه دَ هغوی په مضاف الیه پورے پوره اختصاص وی لکه اهل البلد، اهل القرآن او اهل الحدیث وغیره۔ نو دلته مراد دَ اهل نه مؤمنان دی او دوئ ته اولیاء هم وئیلے شی لکه سورة انفال ۳۴ کښې۔ او دوی ته اهل او اولیاء دَ مسجد حرام ځکه وئیلے شی چه دوی تابعدار دَ ملت دَ هغه چا دی چه مسجد حرام (کعبه) ئے جوړ کړیدے او دا رنګ کلک دی په توحید چه حق دَ مالک دَ بیت دے (رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ) او اخراج دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم او دَ صحابه کرامو دَ مکے مکرمے نه مستلزم وو دَ هغوی توهین او تذلیل لره او دا کفر او ظلم دے۔ أَكْبَرُ عِنْدَ اللَّهِ، دا لفظ خبر دے دَ صَدٌّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ او دَ هغې دَ معطوفاتو نه او دا غوره کول دَ اووجه دَ غټوالی (په اعتبار دَ ګناه سره) دَ دے ټولو شکاره ده په نسبت دَ قتال کولو په شهر حرام کښې ځکه چه دا څیزونه اسباب دَ قتال دی۔ دا رنګ قتال دَ عبد الله بن جحش دَ رجب په میاشت کښې په دے ګمان سره وو چه دا رجب نه دے۔ او

دا کاروته د مشرکانو خود حرمت په میاشت کښې یقیناً وو. وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ، دا پنځم علت دے. د لفظ فِتْنَةٌ تفصیل مخکښې تیر شوے دے. دلته د مفسرینو دوه اقوال دي. اول دا چه د دینه مراد کفر او شرک د مشرکانو دے. یعنې د مشرکانو دا شرک او کفر د قتل د یو مشرک نه په شهر حرام کښې ډیر غټ جرم دے. دویم قول دا چه اړول د مسلمانانو د دین اسلام نه په شبهاتو اچولو سره د هغوی په زړونو کښې یا په تعذیب د هغوی او منع کول د ایمان نه او په قول او فعل سره د هغوی تنګول دا ډیر غټ جرم دے ځکه چه په ډیر کفریاتو او مظالمو باندے مشتمل دے. او امام رازي ویلي دي چه دا قول دلته غوره دے ځکه چه غټوالے د کفر خو مخکښې په کفر به سره ذکر دے، که دلته هم دغه مراد شي نو تکرار راځي. وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا، دا شپږم علت دے. یعنې قتال د مشرکانو د مسلمانانو سره په هر فرصت کښې د پاره د مرتد کولو د هغوی د دین نه دا د قتل د یو مشرک نه په میاشت د حرمت کښې ډیر غټ جرم دے ځکه چه قتال مشتمل دے په ډیر قسما قسم اذیتونو ورکولو باندے او قتل خو د قتال یو ټکړه ده. دلته په حَتَّىٰ کښې دوه احتمالات دي. اول دا چه دا د غایئے د پاره دے او دویم دا چه د علت د پاره دے. دویم قول احسن دے ځکه چه د مشرکانو په نیز باندے مرتد کول اصل غرض د قتال دے. إِنِ اسْتَطَاعُوا کښې شرط په حرف د إِنْ سره دلالت کوي چه مؤمنان (صحابه) په دین اسلام باندے پاښه دي. په دوي باندے د مشرکانو د مرتد کولو څه وس نه رسي. نو معلومه شوه چه د مشرکانو دا کوشش نه عبث او باطل دي. وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ، هرکله چه مشرکان د ارتداد د مسلمانانو کوشش کوي نو په مسلمانانو کښې اوس دوه قسمونه ذکر کوي. اول هغه چه مرتد شي د دین اسلام نه او دلته تخویف ذکر کوي د هغه د پاره. د مَنْ نه مراد مسلمان دے او د دِينِهِ نه مراد دین اسلام دے. دویم قسم

په مخکښې آیت کښې دے - فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ، کښې مراد دا چه په ژوند کښې د مرتد کیدو نه توبه اُونکړی او مړشی. او په دے جمله کښې اشاره ده که چرے مرتد د څپل ارتداد نه توبه کول غواړی نو توبه یئے قبلیدے شی - او موت علی الکفر ته موافات وئیلے شی فَاُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ، حبط په لغت کښې دیته وئیلے شی چه اُوښان یو ضرر ری او نقصان ده بوټے اُوخوری او خیټه یئے اُوپړسیږی او د هغے نه مړشی. او د شرع په اصطلاح کښې بے اثره کیدل او باطل کیدل د یو عمل ته وئیلے شی. اَعْمَالُهُمْ نه هغه نیک اعمال مراد دی چه د اسلام په حالت کښې یئے کړی وی یعنی مونځ، روژه، حج او زکوٰة وغیره۔

فائده:- په صرف ارتداد سره عمل حبط (برباد) کیږی او که نه موت په ارتداد باندے شرط د حبط دے۔ په دے مسئله کښې اختلاف دے۔ د امام شافعی رحمه الله او د بعض علماؤ په نیز موافات شرط دے یعنی که څوک مرتد شو لیکن د مرګ نه مخکښې صحیح توبه اُوباسی نو د ده مخکښې اعمال نه بربادیږی او هغوی په دے آیت سره دلیل نیولے دے چه په دیکښې یئے موت علی الکفر شرط لګولے دے۔ او په نیز د امام مالک او امام ابو حنیفه رحمهما الله صرف په مرتد کیدلو سره تیرشوی عملونه برباد شول اګرچه روستو توبه اُوباسی او د دوی دلیل د سورة مائده ۵ سورة انعام ۸۸، سورة اعراف ۳ او سورة زمر ۶۵ آیات دے۔ دغه آیاتونه مطلق دی۔ او د دے آیت (فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ) د دوی په نیز توجیه دا ده چه دا شرط د خلود فی النار د پاره دے چه روستو ذکر شوے دے۔

سوال:- حمل د مطلق په مقید باندے لازم دے لکه چه د اُصول فقه په کتابونو کښې ذکر دی؟۔

جواب:- دلته مسئله د مطلق او مقید نه ده بلکه قانون دا دے چه یو حکم معلق شی په دوه شرطونو پورے او بل ځائے معلق شی په یو شرط پورے نو دغه حکم واقع کیږی په وخت د وجود د

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا
یقیناً هغه کسان چه ایمان یې راوړے دے او هغه کسان چه هجرت یې کړیدے
وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ يَرْجُونَ
او جهاد یې کړیدے په لار د الله تعالیٰ کښې دغه کسان امید لري
رَحْمَتَ اللَّهِ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٢١٨﴾
د رحمت د الله تعالیٰ او الله تعالیٰ بخښه کوُنکے رحم کوُنکے دے۔

هر یو شرط کښې۔ دلته هم دا سے محل دے۔
فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، حبط (بربادیدل) په دُنیا کښې دا دے چه دے به قتل کیږي کله چه د دۀ په قتل باندے قدرت حاصل شي۔ او جنګ به ورسرۀ کیږے شي کله چه مقابله کوي۔ او مؤمنان به ورسرۀ هیڅ قسم تعلق او دوستانه نه ساتي او نصرت به ورسرۀ نه کوي۔ او ښځه به تر ینه جدا کړے شي۔ او د مسلمانانو د میراث نه به محروم کړے شي او د هغه صفت او ستائنه به نشي کیږے۔ او حبط په آخرت کښې دا دے چه ثوابونه د آخرت دۀ ته نه ملاویږي او د جنت نه به محروم وي او په جهنم کښې به همیشه وي۔
وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ، دا جمله په مخکښې أُولَٰئِكَ باندے عطف ده او دا متفرع ده په شرط کښې په لفظ د فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ باندے۔
۲۱۸ په دے آیت کښې د مسلمانانو دویم قسم ذکر دے چه سرۀ د کوشش کولو او د ظلمونو کولو د کافرانو نه دوی د دین اسلام نه واپس کیږي بلکه د خپل دین د حفاظت دپاره هجرت کوي۔ او په دے آیت کښې د دغسے مسلمانانو دپاره بشارت (زیرے) ذکر کوي۔
إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا، ایمان اصل دے د هجرت، جهاد او د نورو اعمالو دپاره نو د دے وجے نه دا یې په مستقل موصول

(الذین) سره ذکر کړو۔ وَالَّذِیْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ
دا دواړه یې په یو موصول کښې راجمع کړل ځکه چه دواړه متفرع
دی په ایمان باندې۔ هَاجَرُوْا، هجرت په اصل لغت کښې
ترک (پریښودلو) ته وئیلے شی او په عرف کښې نقل کیدل دی
د یو ملک او وطن یا کلی نه بل ملک وطن او کلی ته او د شریعت
په اصطلاح کښې پریښودل د خپل ملک او مسکن دی د خپل
ایمان د حفاظت د پاره کله چه د کافرانو او ظالمانو د طرف نه
په ده باندې ظلم او زیاتے کیږی او دے په آزادئ سره خپلے
اسلامی لارې چارې سرته نشی رسولے۔ تو دا مقابل د ارتداد
دے۔ وَجٰهَدُوْا، نه مراد جهاد شرعی دے یعنی دعوت کول او
قتال کول۔ جهاد یې د هجرت سره ذکر کړو د دے د پاره چه
معلومه شی چه د دهٔ هجرت د الله تعالیٰ د دین د پاره وو د مال
یا د بل څه ذاتی مقصد د پاره نه وو۔ اُولٰٓئِكَ یَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ،
رجاء هغه ګمان دے چه تقاضا کوی د حصول د هغه څیز چه
په هغے کښې خوشحالی وی او دیته طمع هم وئیلے شی۔ لیکن طمع
په هغه ځائے کښې استعمالیږی چه تقاضا د یو څیز کوی لیکن
اسباب ورسره نه وی او رجاء په هغه ځائے کښې استعمالیږی
چه تقاضا کولو سره اسباب هم موجود وی (دلته درې اسباب
ذکر دی) او رجاء کله په معنی د خوف سره راځی۔ ابن عطیه وئیلی
دی چه رجاء سره خوف همیشه وی او د خوف سره رجاء همیشه
وی یعنی په طریقه د تلازم سره۔ او اصمعی وئیلی دی چه د رجاء
سره نفی راشی نو په معنیٰ د خوف سره وی۔ رَحْمَتَ اللّٰهِ نه مراد
جنت او ثواب او نه د اعمالو دی۔
سوال:- هر کله چه ایمان، هجرت او جهاد موجود وی نو د ثواب
د پاره صیغه د یقین یې ولے ذکر نه کړه؟
جواب ۱ انسان اګرچه په طاعت د الله تعالیٰ کښې انتها ته
اورسیږی خو بیا هم د خاتمے نه خبر نه لری۔
جواب ۲ دا د دے د پاره چه په خپلو عملونو باندې پوره

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ؕ
تپوس کوی دوی ستا نه په باره د شرابو او د جوارئ کښ

قُلْ فِيْهِمَآ اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ز
ته او وایه په دې دواړو کښ ګناه لویه ده او څه نفع د پاره د خلقو

وَاِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا ؕ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ
او ګناه (چه د دوی نه پیدا کیږی) ډیره غټ دی د نفع د دواړو نه او تپوس کوی دوی ستا نه

مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ۬ قُلِ الْعَفْوَ ؕ كَذٰلِكَ
چه د کوم مال نه خرچ او کړی ته ورته او وایه د زیاتی مال نه د غسې

يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱۹﴾
بیانوی الله تعالیٰ تاسو ته احکام خپل دے د پاره چه فکر او کړئ تاسو

اعتماد او نکړی (قرطبی)۔
جواب ۳ تفریح د ثوابونو د جنت په ایمان او عمل صالح باندے واجب عقلی نه ده بلکه صرف په سبب د وعدے د الله تعالیٰ سره ده۔ جواب ۴ دلته بے صرف درے اعمال ذکر کړی دی او د دینه علاوه اعمال صالحو ته هم ضرورت دے د جنت د حصول د پاره۔ جواب ۵ دلته رجاء په نفس ثواب کښ نه ده مراد بلکه د هغې په مقدار او تفصیل د کیفیت کښ ده۔ رحمت په اوږده تله سره په اووه آیتونو کښ ذکر دے لکه دا آیت سورة اعراف ۵۶ سورة هود ۷۳، سورة مریم ۲، سورة زخرف ۳۲ ۳۲ او سورة روم ۵۰ او دالیکل په لغت د هغه چا کښ دی چه وقف په دے باندے په تاء سره کوی یا په اعتبار د وصل سره۔ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ، دا ئے د رجاء پخولو د پاره ذکر کړیدے یعنی رجاء د غفور رحیم ذات ته پښان د یقین ده۔
۲۱۹ په دیکښ د تیر د امورو د منزل نه خلورم امر ذکر کوی چه هغه مسئله د خمر او میسر (شرابو او جوارئ) ده او دا مسئله هم

ذوجهتین ده منافع اوضررونه دوارۀ یکبن شته - اومقصد په دیکبن اجتناب دے ذ هغه څیزنه چه ضرریئ ذ نفع نه غټ اولوئی وی۔
ربط لے مخکبن ذکرشوچه قتال په شهرحرام کبن غټه ګناه ده نو اوس ذ هغے په مشاکلت سره ذکرکوی چه شراب خوری اوجوارئ کولوکبن هم لویه ګناه ده۔
ربط لے دارنګ په شهرحرام کبن قتال حسن دے ذوجے ذمقابلے ذ مشرکانونه لیکن خمر اومیسر قبیح دی ذ وجے ذ مضراتونه۔ اودیته تقابل ذ تضاد وئیلے شی۔
یَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ سوال کوونکی صحابه عمر اومعاذ رضی الله عنهما وولیکن فائده ذ سوال تولو مؤمنانونه رسیدی ځکه یئے نسبت تولوته اوکړے شو۔ اوسوال ذ ذات اوحقیقت په باره کبن نه دے بلکه ذ دے ذحکم شرعی په باره کبن دے۔ اَلْخَمْرِ خمر په لغت کبن پټولوته وئیلے شی اوشراب څښکل هم عقل لره پټوی ذ نشه کیدلو په سبب سره۔ رذ شریعت په اصطلاح کبن ذعلمائ اختلاف دے۔ په نیز ذجمهوروا اهل علمو شراب (خمر) هر هغه مشروب (ذ څښکلو څیز) دے چه عقل فاسد وی په دلیل ذ حدیث ذ صحیحین چه په وخت ذ نزول ذ تحریم ذخمر کبن پنځه قسمونه وو لے شراب ذ انګورو ئے ذ کجورو وئے ذ غنمو ئے ذ وریشو ئے اوذجوارو اوبل روایت کبن ذعسل (ګبین) هم دی - اوپه دغه حدیث کبن دی چه اَلْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ (شراب هغه څیز دے چه عقل ګډ وډ کوی) اوپه بل حدیث کبن دی چه هر نشه یین اکوونکے څیز خمر دے اوهر خمر حرام دے۔ نو دا احادیث په تشریح ذ قرآن کریم (په باره ذخمر کبن راغلی دی۔ ځکه چه لفظ ذخمر مجمل وو نو احادیث یئے شرح ده اوپه مجازبانس ے حمل کول غیرمناسب دی۔ اوپه نیز ذ امام ابوحنیفه رحمه الله اوسفیان ثوری رحمه الله خمر صرف ذ انګورو وکچه اوبه دی چه څه زمانه روستواوخوټکوشی اوذ سمرقندی په روایت کبن خمر انګورو، اوسکو (میوه) او

کجوړوته هم شامل دے۔ اکثرو احناقو فتوی په اول قول یاننے
ورکړے ده۔
فائده:۔ د خمر (شرابو) په باره کښې څلور آیاتونه په ترتیب
سره نازل شوی دی اول سورة نحل ۱۷ دویم دا آیت (په سبب
د دے آیت سره بعض صحابه کرامو خمر او میسر پرېښودل)
دریم سورة نساء ۴۳ (حرام شول په وخت د مونځ کولو کښې
او په نورو وختونو کښې حلال وو) څلورم سورة مائده ۹۰ چه
په هغے سره مطلقاً حرام شول۔
وَالْمَيْسِرِ، دا د يُسر نه اخستلے شوے دے په معنیٰ د آسانتیا سره
دے۔ یا د یسار نه په معنیٰ د غِنا (مالدارئ) سره دے۔ او په جواري
کولو سره مال په آسانتیا سره حاصلیږی او انسان مالداریږي۔
او ابن عباس رضی الله عنهما او د ډیرو تابعینو نه روایت دے
چه میسر هر قمار ته شامل دے لکه نرد (د عربو یو کهیل وو)
شطرنج، لوبے کول په غوزانو یا بیلوړو وغیره سره چه یو بل نه ئے
په آسانه سره گټي او دا سے نور طریقے او تفصیل د میسر د
جاهلیت والو په ازلام (غشو) سره صاحب اللباب او قرطبی
ذکر کړیدے۔ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ، دلته مضاف پټ دے یعنی
نعاطیهما یعنی د دے دواړو په استعمال کښې غټ گناهونه
دی۔ په کَبِیرٌ لفظ کښې اشاره ده که گناه ئے یو وی لیکن مشتمل
ده په ډیرو گناهونو باندے د دے وجے نه کثیر ئے نه دے
وئیلے۔ هغه یو گناه چه د هغے په کولو سره ډیر گناهونه صادریږي
هغه خبتکل د شرابو دی لکه سورة مائده ۹۱ کښې هغه ذکر
دی۔ دارنګ د شرابو څښکلو سره جگړے کول، کنځل کول
دروغ او فحش وئیل او زنا کول وغیره۔ او د ابن ابی الدنیا روایت
دے چه هغه په یو نشه کوونکی شخص ورتیر شو چه هغه په
خپلو لاسونو کښې واره یول کول او په هغے باندے ئے او دس
کولو او وئیل ئے چه الحمد لله الذی جعل الاسلام نورا
والماء طهوراً (شکر دے د هغه الله تعالیٰ چه اسلام ئے رڼا گرځولے ده

او اوبه يې پاکوونکې کړځولې دی) او قرطبي وئيلي دی چه ډير کرته بوشرابي شخص دَ عقل والو دَ پاره سبب دَ خندا اُوګرځي دَخپلو بولو او ګندګئ سره لوبې کوي- او يو شخص اُوليدلے شو چه بول يې په مخ پوړے مګل او وئيل يې چه اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين (اے الله ما دَ توبه کوُونکو نه اوګرځوے او ما دَ ځان پاکوُونکو نه اوګرځوے)

او قاسمي په خپل تفسير کښ دَ اطباؤ دَ قول په بنا دَ شراب خوړئ شپاړس تقصانات ذکر کړي دی- او دَ ميسر (جوارئ کولو نقصانونه هم ډير دی- اول دا چه په دے سره بغض او دُشمني پيدا کيږي چه هغه بيا سبب دَ ډيرو ګناهونو ګرځي- او انسان په کښ دَ ذلت او خوارئ سره مخ کيږي- دا رنګ دَ جوارئ بيللو دَ وجے نه غلا او ړاکے کول او بويل ته کتځل او فحش وينا کول او دا رنګ دَ الله تعالیٰ دَ ذکر او مونځونو نه منع کيدل-

وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ، قرطبي او ابو حيان دَ خمر په منافعو کښ ذکر کړي دی چه دَ دے په تجارت کښ نفع ډيره وی بلکه اوس زمانه کښ دَ چرسو، افيونو، پوډرو او شرابو په تجارت او سمګلنګ کښ هم ډيره ګټه ده - دا رنګ طبيبانو دَ دے په منافعو کښ ذکر کړي دی- غم زائيليدل، وقتي طور خوشحالي حاصليدل او هضم دَ خوراک، تقويت دَ کمزوړئ، قوت باه حاصليدل په بعض نشو سره- بهادر کيدل دَ بزدل سړي او دَ رنګ صفائي په بعض نشو سره- او منافع دَ جوارئ دا دی، مال حاصليدل بے تکليفه او بيا په غريبانو او محتاجانو کښ دَ ريا ء او سمعت دَ پاره تقسيمول وغيره- وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا، مخکښ ذکر شو چه دَ دے دواړو ګناه مستلزم دے ډير وګناهونو لره او فائدے يې وقتي او زائليدونکي دی- او ابن عباس رضي الله عنهما په روايت کښ دی چه سزا ګانے دَ دے روستو دَ تحريم نه غټے دی په منافعو دَ دے مخکښ دَ تحريم نه- او په دے جمله کښ ترغيب دے دَ هغے نه منع کيدلو ته ځکه چه دَ عقل سليم تقاضا دا ده چه لره

نفع به پریږدی په مقابله د ډیر ضرر کبن۔
فائده:- بعض اهلِ علمو وئیلی دی چه په دے آیت سره د خمر او میسر تحریم شوے دے لیکن غوره قول دا دے چه په دے کبن ترغیب دے د هغې نه بچ کیدو ته او تحریم د سورة مائده په آیت سره دے۔
وَيَسْئَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ، (ربط د مخکبن سره ئے) دا دوارلسم سوال وته صحابه کرامو په یو ځائے کړی وو د دے وجے نه ئے دا په ما قبل باندے عطف کړے دے چه د خمر او میسر نه په منع کیدلو سره هسے نه چه په خلقو کبن بخل او شومتیا پیدا شی د دے وجے نه آیت کبن وروسته جمله کبن انفاق بالحق ذکر شوے دے په خمر او میسر کبن منافع لږ او ضرر و نه ډیر وو نو د هغې نه اجتناب ضروری دے او په انفاق د عفو کبن ضرر لږ دے (مال کمیدل) لیکن منافع دنیویه او اخرویه په کبن ډیر دی نو په دے باندے عمل پکار دے. او په دے سوال کبن مراد د مقدار تپوس کول دی او مخکبن دا سے سوال په پاره د مصرف کبن ذکر شوے وو او دلته مراد د انفاق نه عام انفاق دے لکه جهاد کبن خرچ کول، صدقات نفلیه او صدقات واجبه په طریقه د اجمال سره۔ او د صدقاتِ واجبه تفصیل په نورو نصوصو کبن دے۔ قُلِ الْعَفْوَ، په دیکبن هم د اسراف او د بخل نه منع ته اشاره ده۔ او دا د قرآن کریم طریقه ده لکه په سورة اسراء ۲۶، ۲۷، ۲۹ او سورة فرقان ۶۷ کبن۔ عفو په لغت کبن زیادت ته وئیلے شی لکه سورة اعراف ۹۵ کبن حَتَّى عَفَوْا۔ ابن عاشور وئیلی دی چه عفو نه مراد مقدار دے چه زیات وی د حاجات اصلیه د انسان نه (لکه د خرچے د هغه او د اهل او عیال د هغه نه په طریقے د عادت سره او لباس، استوګنه او خادم وغیره نه) او ابو حیان نقل کړیدی د حسن بصری نه چه عفو هغه درمیانه حال دے چه اسراف او تقتیر پکبن نه وی. او د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه هغه آسان خرچ نه

وئیلے شی چه دَمال بیخکندی نه کوی. اوحکمت شرعیه په دیکښی دادے چه اتفاق داسے پکار دے چه همیشه وی اودا هله کیدے شی چه په انسان هغه اتفاق کول آسان وی او هغه په اتفاق دَعفو (زیاتی) کښی دے. او په حدیث صحیح کښی دَدے تائید دے خَیْرُ الصَّدَقَةِ مَا کَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًی وَّابْدَءْ بِمَنْ تَعُوْلُ (غوره صدقه هغه ده چه روستو دَبے حاجتئه کیدلو نه وی او شروع کوه په انفاق کښی په اهل وعیال باندے.

سوال:- اَلْعَفْوَ نه معلومیږی چه دَ انسان دَ حاجات اصلیه نه څومره مال زیاتی وی نو هغه به ضرور خرچ کوی دَ ځان سره به هیڅ نه جمع کوی؟

جواب ۱ دَ ابوذر رضی الله عنه دَ رائے نه علاوه دَ ټولو صحابه کرامو او اُمت اجماع ده چه په انسان باندے دَ اتفاق واجبه او زکٰوة نه علاوه نور خرچ کول واجب نه دی او په دے باندے ډیر نصوص دلالت کوی. نو معلومه شوه چه دَ اَلْعَفْوَ نه مراد مِنَ الْعَفْوَ دے یعنی عفو منفق نه دے بلکه محل دَ انفاق دے.

جواب ۲ په دیکښی الف لام عهد خارجی دی یعنی هغه زیادت دَمال چه دَ نصاب شرعی نه زیات وی او بیا داخاص دے په زکٰوة او واجبات و نصابونو بورے.

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ، دا دَ الله تعالیٰ دَ احسان ذکر دے په دے اُمت باندے دَ پاره دَ ترغیب امتثال (عمل کولو) دَ احکامِ الٰهیو ته. يُبَيِّنُ فعل مضارع حال او استقبال دواړو ته شامل دے. او دَ آیت نه مراد هغه احکام دی چه مخکښی ذکر شول.

لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ، دا ذکر دَ فائدے دَ تبیین دے. او تفکر کښی اشاره ده استنباط دَ حکمتونو او علتونو دَ تیرشوی احکامو ته په عقل سلیم خپل سره. دا رنګ ضرورته او منافع دَ خمر او میسر او تقابل دَ هغوی په مابین کښی په صحیح فکر کولو سره معلومیږی. آلوسی و بغلی دی چه دَ دے متعلق پټ دے یعنی فکر او کړئ په آیاتو نو کښے دَپاره دَ استنباط دَ احکامو او دَ فهم دَ مصالحو و منافعو دَپاره

فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ

په باره د دنیا او آخرت کښې او دوی تپوس کوی ستا نه

عَنِ الْيَتٰمٰى ؕ قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ

په باره د یتیمانو کښې ته اووایه اصلاح د دوی د پاره

خَيْرٌ ؕ وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ ؕ

غوره ده او که چرې ګډون کوئ تاسو د دوی سره نو رونړه ستاسو دي

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ ؕ وَلَوْ شَآءَ

او الله تعالیٰ پيژنی فساد کوونکے جدا د اصلاح کوونکی نه او که چرې غوختے

اللّٰهُ لَاَعْنَتَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۲۰﴾

الله تعالیٰ ضرور په تکلیف کښې په ئے اچولے وے تاسو یقیناً الله تعالیٰ زور آور حکمتونو والا دے

ف۲۲ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ، په دیکښې څلور وجوه دی۔ اوله وجه داچه دا متعلق دے د تَتَفَكَّرُوْنَ سره او مضاف پټ دے یعنی فکر کوئ په امر (حال) د دُنیا او آخرت کښې تو اصلح او ابقی غوره کړئ په دُنیا باندے چه آخرت دے۔ دویمه وجه داده چه دا متعلق دے په يُبَيِّنُ پورے یعنی بیانوی تاسو له حال د دُنیا او آخرت چه فکر اوکړئ په زوال او فنا د دُنیا کښې او په راتللو د آخرت کښې نو زهد اوکړئ په دُنیا کښې او رغبت اوکړئ په آخرت کښې۔ دریمه وجه دا متعلق دے په الآیات پورے او هغه په معنیٰ د علامات ظاهره سره دے۔ څلورمه وجه داده چه د دے متعلق پټ دے یعنی فتفکروا فی الدنیا والآخرة یعنی فکر اوکړئ د دُنیا د پاره نو د ذُروتن د دُنیا د پاره ځان سره ضروری سامان او مال اوساتئ۔ او فکر اوکړئ د آخرت د پاره یعنی څه مال د آخرت د نفعے د پاره خرچ کړئ۔ تو اول تفکر فی الآیات مراد دے او دویم تفکر د دُنیا او د آخرت په باره کښې مراد دے۔

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْيَتٰمٰى، دا دَ اموروکتن بیرمتزلہ پنځم امر دے یعنی اجتناب اُوکړئ دَ اختلاط دَ مال دَ يتيم نه په قصد او نیت دَ اِفساد او وراتی سره۔ او بغیر دَ وراتی نه شریکول دَ مال جائز دی نو دا هم دوه اړخونو والا حکم دے۔

ربط:- په پرېخودلو دَ خمر او میسر کښې اصلاح دَ خپلو نفسونو او مالونو ده او په باره دَ يتيمانو کښې دا حکم دَ پارهٔ دَ اصلاح دَ مالونو دَ هغه چا دے چه پخپله دَ اصلاح کولو نه عاجز وی۔ نو اشاره شوه چه مسلمانان دَ خپلے فائدے او دَ غیر (مسلمان ورور) دَ فائدے دَ دواړو لحاظ ساتی۔ او دَ آیت دَ نازلیدلو سبب دا دے چه هر کله لَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ په سورة انعام ۱۵۲ او سورة اسراء ۳۴ کښې نازل شو نو مؤمنانو دَ يتيمانو دَ مالونو نه دومره پرهیز شروع کړو چه دَ هغوی مالونه ئے دَ خپلو مالونو نه بالکل جدا کړل او په دیکښې تکلیف ووتو دوی په دے باره کښې تپوس اوکړو۔

عَنِ الْيَتٰمٰى، مراد دَ دے تپوس نه یوځائے کول او شریکول دَ مال دَ يتيمانو دی دَ خپلو مالونو سره په وخت دَ خرچ کولو کښې۔

قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ، خیر دواړه جانبو ته عام دے یعنی دَ متولی دَ پاره غوره دے په اعتبار دَ آسانتیا سره او دَ يتيم دَ پاره په دے اعتبار غوره دے چه مال دَ هغه به دَ فساد او خرابئ نه بچ شی۔ او اصلاح لفظ کښې تعلیم او تادیب دَ يتيم او تحفظ دَ مال دَ هغه او زیاتی کول په طریقه دَ تجارت وغیره سره داخل دی لیکن سرهٔ دَ قصد او نیت دَ اصلاح نه۔ او په دیکښې اختیار ورکول دی متولی ته چه هغه دِ نظر او فکر اوکړی چه شریکول دَ مال ورته فائدہ مند ښکاری نو شریک دِ کړی او که بغیر دَ شریکوالئ نه ورته خیر ښکاری نو هغسے دِ اوکړی۔ وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ، مخالطت هغه جمع او یوځائے کولو دَ څیزونو ته وئیلے شی چه دَ جدائئ تمیز ګران شی۔ او دَ دے تخصیص ئے په ذکر کولو سره دَ دے وجے نه اوکړو چه دَ تپوس کوونکو دَ دے دَ جواز په باره کښې شبهه وه۔ او

داشامل دے مشارکت ته په نفقه او تجارت وغیره کښې او بعضو علماؤ دا مصاهرت (سخرګنۍ جوړولو) ته هم شامل کړیدے.
فَإِخْوَانُكُمْ، کښې علت دَ جواز دَ مخالطت او کیفیت دَ هغې ته اشاره ده یعنې شریکوالی ورسره ځکه جائز ده چه دوی ستاسو رونړه دی په سبب دَ ایمان یا په سبب دَ نسبي رورولۍ سره. او یو رور دَ بل رور سره شریکوالی کوی او دارنګ یو رور دَ بل رور ته دَ حساب کتاب کولو پروه کوی تو تاسو هم دَ یتیمانو سره حساب کولے شئ.
وَاللَّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ، په دے جمله کښې پیره ورکول مقصد دی دَ خیانت کولو نه دَ یتیم په مال کښې په حالت دَ شریکوالی کښې. یعنې دَ یتیم دَ طرف نه دَ الله تعالیٰ ته سیوا څوک حساب کوونکے نیشته. مُفْسِد دلته هغه څوک دے چه دَ یتیم دَ مال دَ خوړلو اراده کوی په حیلے او چل دَ شریکوالۍ سره. تو دا رنګ چه څوک دَ یتیم مال په حیلے دَ إسقاط سره خوری هغه هم په دیکښې داخل دے. مِنَ الْمُصْلِحِ، په یعلم کښې علم دَ تمیز کولو مراد دے دَ دے وجے نه یې په صله کښې مِنْ ذکر کړیدے.
وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَعْنَتَكُمْ، په دے جمله کښې دَ الله تعالیٰ دَ احسان ذکر دے چه هغه په دے حکم کښې په تاسو آسانتیا کړے ده مشقت یې دریاندے ته دے کیښودلے. مشقت او سختي داوه چه مخالطت او شریکوالی یې په تاسو حرام کړے وے یا یې واجب کړے وے. لَأَعْنَتَكُمْ، عنت په لغت کښې هغه مشقت دے چه دَ طاقت نه پهروی او شدت او سختۍ دَ تکلیف ته وئیلے شی لکه تعنت کول په سوال (تپوس) کولو کښې یعنې په تپوس کښې سختي او عناد کول دارنګ یو هډوکے چه روستو دَ جوړیدلو نه دوباره مات شی هغې ته عنت وئیلے شی ځکه چه انسان ته پکښې ډیر تکلیف رسیږی. دلته دَ مفسرینو ډیر اقوال دی ۱ سختي به یې راوستلے وے په تاسو باندے په دے حکم کښې ۲ تاسو به یې هلاک کړی وئ. ۳ په ګناه کښې به یې اخته کړی وئ. ۴ تنګسیا به یې دریاندے راوستلے وے. او دا اقوال ټول یو بل ته

وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ ؕ

او نکاح مه کوئ د مشرکو زنانو سره (غیر کتابیه) تردې پورې چه ایمان راوړي

وَلَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكَةٍ

او خامخا وینزه مؤمنه غوره ده د مشرکې آزادې نه

وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ ۚ وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ

اګرچه تاسو په تعجب کښې اچوي او په نکاح سره مه ورکوئ (لوڼه خوئینډې) مشرکانو سړو ته

حَتّٰى يُؤْمِنُوْا ؕ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ

تردې پورې چه ایمان راوړي او ضرور مریې مؤمن غوره دے

مِّنْ مُّشْرِكٍ وَّلَوْ اَعْجَبَكُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ

د مشرک آزاد نه اګرچه تاسو په تعجب کښې اچوي دغه کسان

يَدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۖۚ وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا

بلنه کوي اور ته او الله تعالیٰ بلنه کوي

اِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِاِذْنِهٖ ۚ وَيُبَيِّنُ

جنت او بخشش ته په حکم خپل سره او بیانوي

اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۲۱﴾

آیاتونه خپل خلقو ته د دے د پاره چه نصیحت قبول کړي۔

نیږدے دی۔ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ، یقیناً چه الله تعالیٰ هر قسم حکم نافذ کولے شي او څوک ئې منع کولے نشي۔ حَکِيْمٌ، په هر حکم کښې ئې د بندګانو د پاره خاص فائدے وي۔

۲۲۱ په دے آیت کښې د تدبیر منزل د اُمورو نه شپږم امر دے چه د اهلِ شرک سره د نکاح کولو نه ځان بچ ساتل دي۔ هسے نه چه د ښځے خاوند د عقیدے په مخالفت سره د کورنۍ نظام خراب شي۔ او دا حکم هم دوه جهتونه لري۔ د مال او جمال په اعتبار

او نسب سره تقاضا کیږي د نکاح د اهل شرک سره لیکن ځ بې دینۍ د وجې (چه شرک دے) د هغوی سره د نکاح کولو نه ځان بچ کول ضروري دي - او دا مضمون په حدیث کښې هم موجود دے تُنْكَحُ الْمَرْءَةُ لِاَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَجَمَالِهَا وَحَسَبِهَا وَدِيْنِهَا فَاظْفِرْ بِذَاتِ الدِّيْنِ تَرِبَتْ يَدَاكَ (د ښځې سره نکاح کیږي ے څلور څیزونو د مال ، د ښائست ، د نسب او د دین د وجې نه تو کامیابي حاصله کړه په دیندارے ښځې سره - کنه تو لاس به دې په خاورو کښې لړ شي . ربط :- د مخکښې آیت سره - له هر کله چه مخالطت د یتیمانو سره مصاهرت (د نکاح رشته) ته شامل وو لیکن کله چه هغوی کښې اولاد د مشرکانو هم وي نو اوس منع کوي د نکاح کولو د اهلِ شرک ته ځکه د انسان شکل او صورت په دریو څیزونو ښا دے خوراک څښاک او نکاح کول سره د پرهیز کولو د حراموته - تو په ذکر د خمر او میسر او مال د یتیمانو سره د خوراک څښاک پرهیز ذکر شو اوس د نکاح په باره کښې پرهیز ذکر کوي -

وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ ، نکاح په اصل لغت کښې لازمیدل او جوختیدل دي په یو څیز پورے او سولیدل د یو څیز دی او تړل په یو بل کښې (اللباب) او په عرف کښې په معنیٰ د عقد تړلو د نکاح او په معنیٰ د وطی سره راځي دا په طریقه د اشتراک یا په طریقه د حقیقت او مجاز سره دے - او امام راغب په مفردات کښې وئیلي دي چه دا په باره د عقد کښې حقیقت دے او په باره د وطی کښې مجاز دے او دا قول حق دے - او دلته مراد نکاح شرعي دے - الْمُشْرِكٰتِ ، اشراک ، شرک کول په اصطلاح د شرع کښې حصه ورکول دي مخلوق لره په ربوبیت د خالق کښې یا په الوهیت یا تحکیم د هغه کښې - برابره خبره ده که دا مخلوق خواهش د نفس وي (په دلیل د اَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوَاهُ ، (د اله اطلاق یې په خواهش باندے کړیدے) او که شیطان وي یا طاغوت یا نبي ، ولي ، جن ، فرښته ، پیر فقیر وي یا صنم او وثن وغیره وي - تو دا تعریف کفر ته هم شامل دے لیکن په عرف

دَ عربو کښې اکثر دَ شرک ذکر وو او هغه يې ذريعه دَ تقرب الٰهیٰ کتر له دَ دے وجے نه تعبير دَ شرک يې را وړے دے تو نکاح دَ مشرکو او کافرو سخّو سره باطل او حرام دے۔

فائدہ :- اهلِ کتاب په دے عنوان کښې داخل دی او که نه؟ په دے مسئله کښې امام رازی په تفسير کبير کښې ډير تفصيل کړيدے۔ حاصل دا دے چه په دے کښې دوه اقوال دی۔ اول دا چه لفظ دَ مشرکات کتابيا تو ته هم شامل دے (يعنی کتابی ته مشرک وئيلے شی) ابوحيان وئيلی دی صحيح دا ده چه کتابيات په المشرکات کښې داخلے دی ځکه چه دوی بنائی دَ غيرالله (دَ عزير او عيسٰی عليهما السلام) کوی او الله تعالیٰ دوی ته نسبت دَ شرک کړيدے۔ او دا قول دَ ډيرو مفسرينو دے۔ قرطبی هم دا قول دَ ابن عباس رضی الله عنهما او امام مالک، سفيان ثوری او امام اوزاعی رحمهم الله نه نقل کړيدے۔ آلوسی وئيلی دی چه دَ بعضِ علمائ قول دے چه دا لفظ کتابيا تو ته شامل دے او په دے باندے يې درے دليلونه ذکر کړی دی۔ ابن عادل دمشقی (صاحب اللباب) وئيلی دی چه لفظ دَ مشرک کتابی ته شامل دے او په هغے باندے يې پنځه دلائيل ذکر کړی دی۔ اول دليل سورة توبه ۳۰، ۳۱ دويم سورة نساء ۴۸ په باره دَ کتابيا تو کښې دے او دَ هغوی کفر ته يې شرک وئيلے دے۔ دريم سورة مائده ۷۳ چه دوی درے ذواتِ مستقله په يو ذات کښې ثابتوی او دا حقيقتاً شرک دے۔ څلورم دليل حديث دَ مسلم دے په کتاب الجهاد کښې چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم يو شخص امير مقرر کړو او کتابيا تو ته يې لښکر اوليږلو هغهٔ اميرته يې او فرمائيل چه هر کله ته دَ مشرکانو دَ ښمنا نو سره مخامخ شے تو دعوت دَ اسلام ورته ورکړه۔ پنځم دليل ابوبکر الاصم وئيلی دی چه څوک دَ رسول دَ رسالت او دَ معجزاتو انکار کوی او دغه شخص دَ دغه خوارقو (خلافِ عادت کارونو) نسبت شيطانانو او جنا تو ته کوی نو دا شرک دے۔

او څه وايم چه الله تعالیٰ کتابيا تو ته مشرکان په اشارة النص سره

وئیلی دی لکه په سورة بقره سـ۱۳۵ او سورة آلعمران سـ۶۷ کښ - او دَ
عمر رضی الله عنه نه په حدیث صحیح کښ دَ بخاری نقل دی
چه کله ئے دَ خیبر نه کتابیان شړل نو وئیلی ئے وو چه نبی صلی الله
علیه وسلم فرمائیلی دی أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِيْنَ مِنْ جَزِيْرَةِ الْعَرَبِ -
بل حدیث دَ مشکوٰة المصابیح دے چه دَ خالی او اتوار په ورځ
روژه مه نیسئ ځکه چه دا أَيَّامُ عِيْدٍ لِلْمُشْرِكِيْنَ دی او مراد تری نه
یهود او نصاری دی. او بل دلیل دا دے چه په دے آیت کښ په
دویمه جمله کښ وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يُؤْمِنُوْا دے او په
هغے کښ بالاتفاق کتابی داخل دے ځکه چه دَ کتابی مشرک دَ حرمت
دَ نکاح دَ پاره بل دلیل نیشته -
دویم قول دَ دے خلاف مفسرینو ذکر کړیدے او دَ هغوی غټ
دلیل دا دے چه الله تعالیٰ مشرکان معطوف کړی دی په اهل کتابو
باندے په ډیرو آیاتونو کښ لکه سورة بقره سـ۱۰۵، سـ۶۲، سورة حج
سـ۱۷، سورة البینه سـ۱ او عطف مغایرت غواړی. دَ دے جواب
دا دے چه عطف هر ځائے کښ مغایرت من کل وجه نه غواړی
بلکه کله عطف دَ خاص اوشی په عام باندے لکه سورة بقره
سـ۹۸ او سورة احزاب سـ۷ نو دلته هم په مینځ دَ اهل کتابو
او مشرکانو کښ مغایرت دَ نوم دے په اعتبار دَ عرف عام سره چه
په عام عرف کښ غیر کتابیانو ته (چه شرک کوی) مشرکان وئیلے شی
او کتابیانو ته اهل الکتاب وئیلے شی -
فائده ۲: ابن جریر وئیلی دی چه اجماع دَ اُمت ده چه کتابیه
مشرکے ښځے سره نکاح جائز دے او کوم روایت مرفوعه چه دَ
نهی ذکر دے یا دَ غُصه کیدلو دَ عمر رضی الله عنه نو ابن کثیر
وئیلی دی چه هغه ثابت نه دی. نور تفسیر دَ دے مسئلے په
سورة مائده کښ ذکر دے - نو هر کله چه نکاح دَ مشرکے سره
جائز دے نو دَ دے سره طریقه دَ موافقت عامو مفسرینو ذکر
کړیده چه دا تخصیص دے دَ عموم دَ دے آیت نه یعنی مشرکات
لفظ عام دے کتابیاتو ته لیکن په آیت دَ سورة مائده سره تخصیص

دَ نکاح دَکتابیا تو دَ جواز شوی دے او دیته دَ متقدمینو په اصطلاح کښې نسخ وئیلے شي او په نیز دَ متاخرینو دا تخصیص او تقیید دے دَ بو آیت په بل آیت سره۔ هان په جواز دَ نکاح دَکتابیاتو سره شرط دا دے چه اهل حرب به نه وي او دا رنګ پخپله عقیده دَ کتابیت باندے به قائمه وي یعني که شرک کوي خو دے شرک ته دین نه وائي او دَ وجود دَ الله تعالیٰ نه او دَ بعث بعد الموت نه انکار نه کوي. دَ دے زمانے په یهودو او نصاراؤ کښې دا سے صفت والا ډیر کم دي۔

فائده ۳۔ دَ دے اُمت نه چه څوک شرک کوي نو هغه په حکم دَ کتابي کښې دے او که نه دے؟ په دے مسئله کښې دَ دے وخت دَ اهلِ علمو اختلاف دے دَ بعضو په نیز دوي اهلِ کتاب نه دي په دے دلیل سره چه دغه لفظ په عرف کښې خاص دے په یهودو او نصاراؤ پورے نو دوي په حکم دَ عام مشرکانو کافرانو کښې دي یا په حکم دَ مرتدینو کښې دي۔ او دَ اکثرو اهلِ علمو قول دا دے چه دوي په حکم دَ اهلِ کتابو کښې دي دَ څو وجونه. اوله وجه دا ده چه صابئین په نیز دَ ډیرو اهل علمو او په نیز دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په حکم دَ کتابیاتو کښې دي او حال دا چه غیر دي دَ یهودو او نصاراؤ نه. دویمه وجه ډیرو مفسرینو دَ سورة آلعمران ۱۸۷ او سورة توبه ۳۱ دَ لاندے دا اُمت داخل کړے۔ دریمه وجه دَ سورة توبه آیت په تفسیر کښې امام بخاري رحمه الله قول دَ ابوذر رضی الله عنه ذکر کړے دے چه اِنَّهَا نَزَلَتْ فِيْنَا وَ فِيْهِمْ (دا آیت زمونږ او دَ اهلِ کتابو په باره کښې نازل شوے دے) څلورمه وجه دا ده چه تعریف دَ اهلِ کتابو په دے اُمت باندے صادق دے او په ډیرو مسائلو کښې معاني ته اعتبار ورکیدے شي۔ پنځمه وجه دا ده چه په نن زمانه دَ جهل کښې دَ اکثرو اُمتیانو عقیدے او اعمال دَ شرک دي او حال دا دے چه دَ هغوي ذبیحے په هرځائے کښې وي نو دَ هغے په پابندئ کولو سره حرج پیدا (واضح تکلیف) پیدا کیږي (والله اعلم بحقیقت الحال)

حَتّٰى يُؤْمِنَّ، دَ دينه مراد اقرار دے په شهادتين سره او التزام
دَ احکامو شرعيو دے په دے شرط چه علامات دَ کفر او شرک
په کښ نه ښکاره کيږي او دا ايمان په احکام شرعيه کښ معتبر
دے. وَلَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكَةٍ وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ، دَ اَمَةٌ نه
رقيقه (وينزه) مراد ده او دَ مُّشْرِكَةٍ نه حره (آزاده) - اويل احتمال
دا دے چه اَمَةٌ په معنیٰ دَ ښځے وي اگرچه آزاده وي ځکه چه په
حديث کښ عام وزنا نو ته اِمَاءُ اللّٰه ويلے شوي دي او دا دليل دے
چه دَ وينزے دَ غير سړي سره نکاح جائز دے. ليکن وصف دَ
مؤمنه دلالت کوي چه دَ وينزے کافرے مشرکے سره نکاح نه دے جائز
سوال:. لفظ دَ خير اسم تفضيل دے او دا په هغه ځائے کښ
استعماليږي چه په نفس وصف کښ اشتراک وي نو دلالت
کوي چه نکاح دَ مشرکے سره في نفسه جائز دے؟-
جواب ۱: دا قول دَ سيبويه او دَ بصريانو دے ليکن دلته
افضليت په اعتبار دَ اعتقاد سره دے نه په اعتبار دَ وجود
سره لکه په سورة فرقان ۲۴ کښ دي. يا دَ دے وجے نه چه
نکاح دَ مؤمنے وينزے سره مشتمل دے په منافعو اخرويو باندے
او نکاح دَ مشرکے مشتمل دے په منافع دُنيويه باندے. او اخروي
منافع غوره دي دَ دُنيوي منافعو نه-
جواب ۲: په نيز دَ فراء بغوي او بعضو اهل کوفه اسم تفضيل
صحيح دے په مقام دَ اشتراک او عدم اشتراک دواړو کښ.
دلته مستعمل دے په مقام دَ عدم اشتراک دَ جواز کښ-
وَلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ، دَ دينه مراد اعجاب دے په حسن، مال، حريت
او نسب سره او دا صفات متعلق دي دَ دُنيا سره او ايمان
صفت متعلق دے دَ آخرت سره او آخرت غوره دے دَ دُنيا نه
نو په ديني موافقت سره دَ سړي او ښځے په مينځ کښ کمال محبت
طاعت، ښه صحبت او امانت داري حاصليږي او په ديني
اختلاف سره دغه څيزونه په کامله طريقے سره نه حاصليږي
وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يُؤْمِنُوْا، دلته دويم مفعول پټ دے

یعنی المؤمنات- او محکیس ذکر شول چه المشرکین دلته کتابیا تو اوغیر کتابیا تو دواړو ته شامل دے- او مخصص د کتابی د پاره موجود نه دے- وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَّلَوْ أَعْجَبَكُمْ، په دے جمله کښ هغه بحث دے چه مخکښ تیر شو او لفظ د عَبْدٌ مرئي او عام یعنی دواړو ته شامل دے او مشرک نه مراد آزاد دے۔
أُولَٰئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ، دا ذکر د علت دے د پاره د حرمت د نکاح د اهل شرک سره- أُولَٰئِكَ کښ مشرکات او مشرکین دواړو ته اشاره ده- او دعوت عام دے که په ژبے سره وی لکه په دے سورت ۱۳۵ کښ تیر شوی دی او که په سبب د محبت او مخالطت سره وی-
سوال:- ډیر کافران خو د جهنم اورنه منی نو دا د هغوی په باره کښ څه رنګه صادق کیږے شی؟-
جواب:- مراد د النَّار نه اسباب د جهنم د اور دی چه کفر او شرک او شراب څښکل، جواری کول او غوښه د خنزیر خوړل وغیره دی-
سوال:- محبت خو د دواړه طرفو نو ته وی نو احتمال شته چه کافر مسلمان شی په سبب د نکاح کولو سره؟-
جواب:- هر هغه عمل چه دائر وی په مینځ د نفع او ضرر کښ نو احتراز د هغے نه لازم وی په احتمال د ضرر سره-
سوال:- دا علت خو مشرکات کتابیات ته هم شامل دے نو د هغے سره نکاح ولے جائز کړے شویں ے؟
جواب:- کتابیان خو په خپل کتاب باندے ایمان لری او شرک ته دین نه وائی نو غالب ګمان او خیال دا دے چه یو مؤمن خاوند به دغے ښځے ته د هغے د کتاب په سبب سره د توحید دعوت ورکړی- او په ښځو کښ د قبولیت ماده ډیره وی خصوصًا د خاوند په خبره منلو سره- او که خاوند کتابی مشرک وی او ښځه یے مؤحده مؤمنه شی نو ښځه په خاوند باندے خپله خبره نشی منا وولے نو ځکه دغه نکاح جائز نه د ګر خولے شوے-
وَاللَّهُ يَدْعُوا إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ، په دیکښ دوه احتمالونه دی،

اول دا چه مضاف پټ دے یعنې اولیاء الله - او دَ جنت او مغفرت نه
مراد اسباب دَ هغې دي چه توحید او ایمان کامل دے - دویم احتمال
دا دے چه الله تعالیٰ کوم احکام نازل کړي دي نو په هغې باندے
عمل کول سبب دے دَ حصول دَ جنت او دَ مغفرت -
سوال :- مغفرت په اصل کښ دَ دخول دَ جنت دَ پاره سبب دے
دَ دے وجے نه په سورة آل عمران ۱۳۳ او سورة الحدید ۲۱ کښ
مغفرت په جنت باندے مقدم کړے شے - په دے آیت کښ ئے
مغفرت وروستو راوړو؟
جواب :- دلته رعایت دَ تقابل دے په کلام کښ چه په مخکښ
جمله کښ ئے النَّار ذکر کړو نو دَ هغې په وجه ئے دلته جنت
اول ذکر کړو - بِإِذْنِهٖ په دې عوایرو سره متعلق دے او دَ اذن نه
مراد کلام دَ الله تعالیٰ دے - یا اسبابي او توفیق ورکول دي -
وَيُبَيِّنُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ، تبیین نه مراد وضاحت
دے په داسے طریقے سره چه په هغې کښ هیڅ التباس پاتے
نه شي - لِلنَّاسِ سره دلیل دے په دے خبره چه هدایت
دَ قرآن کریم ټولو خلقو ته عام دے - يَتَذَكَّرُوْنَ ، امام راغب وئیلي
دي چه حقیقت دَ تذکر حاصلول دَ هغه څیز دي چه نسیان یا
غفلت ترینه راغلے وي - او دلته دَ تذکر مقصد دا دے چه الله
تعالیٰ دَ انسان په فطرت کښ خپل معرفت او دَ نعمتونو معرفت
اچولے دے لیکن په بیان او علم حاصلولو سره هغه ورته دوباره
وریاد شي -
فائده :- دَ ۲۱۹ آیت په آخر کښ يَتَفَكَّرُوْنَ ذکر وو او دلته يَتَذَكَّرُوْنَ
دے وجه دَ فرق دا ده چه هلته بیان دَ مصالحو او منافعو او
نقصاناتو وو او هغه په فکر او عقل سره معلومیږي او په دے
آیت کښ ذکر دَ دعوت دَ جنت او دَ اور دَ جهنم دے او دَ هغې معرفت
په نقل او وضاحت باندے موقوف دے دَ پاره دَ یاد ساتلو
نو دے وجے نه دلته ئے يَتَذَكَّرُوْنَ ذکر کړو -

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ ۭ قُلْ هُوَ اَذًى ۙ

او تپوس کوی دوی ستا نه په باره دَ ځائے دَ حیض کښې ته اُوایه هغه ځائے دَ گندگئ دے

فَاعْتَزِلُوا النِّسَاۗءَ فِي الْمَحِيْضِ ۙ وَلَا

نو ډډه کوئ دَ زنانه خیلو نه په ځائے دَ حیض کښې او مه

تَقْرَبُوْھُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ ۚ فَاِذَا تَطَهَّرْنَ

نزدے کیږئ دوی ته تردے چه پاکے شی نو هغه وخت چه دوی ښه پاکے شی

فَاْتُوْھُنَّ مِنْ حَيْثُ اَمَرَكُمُ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

نو راتلل کوئ دوی ته دَ هغه ځائے نه چه حکم درکړے دے تاسو ته الله تعالیٰ یقیناً الله تعالیٰ

يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴿۲۲۲﴾

مینه کوی دَ ډیرو توبه کوونکو سره او مینه کوی دَ ځان پاک ساتونکو سره -

۲۲۲ په دے آیت کښې اووم امر دے دَ تیر منزل دَ اُمورو نه (حکم دَ خپلے ښځے په حالت دَ حیض کښې) په دے کښې مقصد اجتناب دے دَ هرے پلیتئ نه حتّٰی چه دَ خپلے بی بی نه هم په حالت دَ حیض کښې اجتناب اُوکړئ- او په دیکښې هم دوه ارخونه دی یعنی خپله ښځه په اصل کښې حلاله او روا ده لیکن حرمت دَ وجے دَ حیض نه دے-

ربط:- دَ دے دَ مخکښې آیت سره په څو وجوهو سره دے ۱ له مخکښې آیت کښې دَ غټے پلیتئ (شرک) نه اجتناب ذکر وو او نکاح کول دَ مشرکے سره حرام وو- او س دَ وړے پلیتئ نه اجتناب ذکر کوی چه حیض دے او نکاح ورسره جائز دے لیکن نزدیکت په دغه حال کښې حرام دے- ۲ له مخکښې دَ مشرکانو دَ نکاح نه اجتناب ذکر شو او س دَ مشرکانو نه په بعضِ عاداتو کښې مخالفت کول ذکر کوی چه هغه افراط یا تفریط کول دی په باره دَ حیض کښې

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ، دَ سوال او تپوس کولو سبب دا وو چه یهود یا تو او مشرکین عرب به دَ ښځے نه دَ حیض په حالت کښې دا سے نفرت

او ډېره کوله چه په تورات سفر اللاويين کښې ليکلي وو چه
حائضه ښځه په لاس سره مسه کړه ترما تمام پورې به
پليت وي او چا چه دَ هغې دَ جامو سره ځان اولګولو غسل به
کوي او خپلې جامې به هم وينځي او چا چه هغې ته نزديکت اوکړو
نو اووه ورځې به پليت وي - صحيح مسلم کښې دي چه دَ حائضې
سره به يئې يوځائې خوراک څښکاک نه کوو او يوکور کښې به
نه اوسيدل - او مجاهد ته نقل دي چه په دغه زما نه کښې به
دوي دَ هغې په شا طرف کښې جماع کوله - او قرطبي وئيلي دي
چه نصارائې به په حالت دَ حيض کښې دَ حائضې سره جماع جائز
ګنړله - نو مسلمانان په دې مسئله کښې حيران شول نو دا
تپوس يئې اوکړو - دا ذکر شوي دريواړه سوالات - يسئلونك
ماذا ينفقون، ويسئلونك عن اليتامى، ويسئلونك عن المحيض
يئې په واو سره ذکر کړي دي ځکه چه دا دوي په يو وخت کښې
تپوس نه کړي وو او کوم چه بغير دَ واو نه دي نو هغه په جدا
جدا اوقاتو کښې وو - عَنِ الْمَحِيْضِ ، دلته عبارت پټ دې يعني
دَ جماع دَ هغوي نه په حالت دَ حيض کښې - محيض لفظ مصدر
ظرف مکان او ظرف زمان ټول کيدې شي - دَ ابن مسيب نه
نقل دي چه دلته محيض مصدر دې او دَ ابن عباس رضي الله
عنهما نه نقل دي چه دلته مراد ظرف مکان دې يعني ځائې
دَ حيض چه فرج دې په حالت دَ حيض کښې - او ابوحيان دويم
قول ته ترجيح ورکړيده - او عربو ته تعريف دَ حيض معلوم
وو دَ دې وجې نه قرآن دَ هغې تعريف نه دې ذکر کړې - دا رنګ
مدت دَ حيض لږ او ډير ته هم قرآن اشاره نه ده کړې -
او په ديکښې دَ علمائو مجتهدينو ډير اختلاف دې غوره
دا ده چه دا سپارلې شويدې عادت دَ زنانوته - او دا روايت
دَ امام شافعي او امام مالک رحمهما الله نه نقل دې او امام
بخاري رحمه الله هم دا غوره کړيدې - قُلْ هُوَ اَذًى که محيض
مصدر وي نو حمل دَ اَذًى په هغې باندې واضح دې او که

محیض ظرف وی نو دلته لفظ دَ مکان پټ دے یعنی مکان آذي-
او آذی په لغت کښ هر هغه څیز ته وئیلے شی چه مکروه اوبد
سنړے کیږی که هغه قول وی لکه په دے سورت ۲۶۲ کښ-
او که بل څه وی- لکه ازغے یا کټه وغیره چه په لار کښ پرته
وی لکه په حدیث صحیح کښ دی إِمَاطَةُ الْأَذٰى عَنِ الطَّرِيقِ-
او هغه ویښته چه دَ پیدائش په وخت کښ دَ بچی په سر باندے
وی لکه په حدیث دَ عقیقه کښ دی چه أَمِيطُوا عَنْهُ الْأَذٰى- نو
معلومه شوه چه اذی په هغه خبیث او مکروه کښ استعمالیږی
چه خبث ئے ډیر نه وی- نو په دے لفظ کښ رد دے په افراط
کولو دَ یهودو باندے او ورسره رد دے په تفریط کولو دَ نصارا وُ
باندے- نو معلومه شوه چه وینه دَ حیض اذی ده. اول احتمال
دا دے چه مراد دَ دینه سبب دَ اذی دے او اذی ئے نکره ذکر کړی
او جهت دَ اذی ئے نه دے ذکر کړے ځکه چه دا اذی دَ سړی دَ پاره
ده ځکه چه په حالت دَ حیض کښ جماع کول سبب دَ امراضو دی-
دارنګ دا اذی دَ ښځے دَ پاره هم ده ځکه چه بدن کښ کمزوری
پیدا کوی- او دارنګ دا اذی دَ بچی دَ پاره ده ځکه چه نطفه که حیض
دَ وینے سره ګډه وړه شی نو طبیبانو لیکلی دی چه دا سے بچے بیا
مجذوم پیدا شی یا دَ پیدائش نه روستو ورباندے دَ جذام
مرض راځی- فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ، دا تفریع دَ حکم ده په
علت (اذی) باندے- اعتزال کنایه ده دَ ترک دَ جماع کولو نه او
محیض نه مراد مکان دَ حیض (فرج) دے- نو ذا دلالت کوی په
حرمت دَ جماع باندے فقط او نور فائده اخستل جائز دی په
دلیل دَ حدیث سره چه اِصْنَعُوا كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا النِّكَاحَ (جماع) او که
محیض مصدر شی او مراد تری نه زمانه دَ حیض شی نو معنی
دا ده چه اعتزال دَ حیض په حالت کښ مطلقًا منع دے لیکن
تخصیص ئے کړے شوے دے په جواز دَ استمتاع رفائده
اخستلو ما فوق الازار (دَ کپړے دَ پاسه) باندے-
وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ، ابن عربی وئیلی دی چه قرب

(په زور د راء سره) عمل کولو ته وئیلے شي چه هغه دلته جماع کول دي او په پیښ د راء سره نزدیکت د فعل ته وئیلے شي. او دا جمله تاکید دے د مخکیښ جملے د پاره سره د بیان د غائیے ته په حَتّٰی يَطْهُرْنَ سره. حتّٰی په معنٰی د اِلٰی دے د غایئے د پاره. په دے لفظ کیښ دوه قراءتونه دي اول په تخفیف سره او هغه په معنٰی د بند یدلو د وینے د حیض دے. دویم په تشدید سره او هغه په معنٰی د غسل کولو دے روستو د بند یدلو د وینے نه. او د فَاِذَا تَطَهَّرْنَ نه مراد غسل کول دي. فَاْتُوْهُنَّ نه مراد جماع کول دي. د امام ابوحنیفه مذهب دا دے چه هر کله وینه د حیض په اکثر مدت کیښ بنده شي نو جماع ورسره فی الحال جائز ده اگر چه غسل نه انتظار کول افضل دي او هغه استدلال کوي په اول قراءت سره. لیکن د نورو اهلِ علمو په نیز د جماع د جواز د پاره هر حال کیښ غسل کول شرط دي. او هغوی د امام ابوحنیفه رحمه الله د استدلال نه جواب کوي چه هر کله یو فعل د پاره غایه او شرط دواړه ذکر شي نو د دواړو وجود شرط دے بله وجه دا ده چه بناء په دویم قراءت سره غسل مراد دے نو که صرف وینه بندیدل مراد شي نو دویم قراءت مهمل پاتے کیږي.

فائده:- صاحب اللباب د ابوالعباس المقری نه نقل کړيږي چه طهارت په قرآن کیښ په تهٔه معانو سره ذکر دے. اول انقطاع د وینے لکه دا آیت په اول قراءت سره. دویم غسل کول لکه دے آیت کیښ دویم قراءت. دریم په معنٰی د استنجاء کولو په اوبو سره لکه په سورة توبه ۱۰۸ کیښ. څلورم صفائی د خیر ته لکه دا سورت ۲۵ - پنځم د گناهونو نه پاکیدل لکه په سورة واقعه ۷۹ کیښ بنا په یو تفسیر سره یا سورة توبه ۱۰۳ کیښ. شپږم د شرک نه پاکوالے لکه سورة حج ۲۶. اووم د زړه پاکوالے لکه په سورة احزاب ۵۳ کیښ. اتم په معنٰی د حلال والی لکه سورة هود ۷۸ - نهم په معنٰی د پاکوالی د رجس (ناکاره

نِسَآؤُکُمْ حَرْثٌ لَّکُمْ فَاْتُوْا حَرْثَکُمْ

زنانہ ستاسو ځائے د کروندے ستاسو دے نو راتلل کوئ ځائے د کروندے ته

اَنّٰی شِئْتُمْ وَقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِکُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

په کومه طریقه چه ستاسو خوښه شی او مخکښ اوکړئ نیت د پاره د فائدے ستاسو او ویرکوئ د الله تعالیٰ

صفات او اخلاق) ته لکه په سورة احزاب ۳۳ کښ۔
مِنْ حَیْثُ اَمَرَکُمُ اللّٰهُ، په لفظ د مِنْ کښ دوه احتمالات دی۔ اول
داچه مِنْ د غایئے د ابتداء د پاره دے او حیث په معنیٰ د جهت
سره دے۔ دویم احتمال داچه مِنْ په معنیٰ د فی سره دے او
حیث د مکان د پاره دے۔ امر نه مراد حکم کول دی او مأموربه
پټ دے یعنی هغه چه امر شوے دے په اعتزال سره د هغه ځائے
نه په حالت د حیض کښ چه هغه فرج دے۔ یا د دیته مراد
نکاح کول دی۔ یعنی الله تعالیٰ د زنانو ښځو نه د فائدے اخستلو
د پاره د نکاح امر کړے دے۔ یا امر په معنیٰ د اذن سره دے او هغه
اذن د حَتّٰی یَطْهُرْنَ د غایئے نه معلوم شو چه اذن کړے دے الله
تعالیٰ د جماع کولو روستو د طهارت د ښځے نه۔
اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ التَّوَّابِیْنَ وَیُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِیْنَ، په دے سره اشاره
ده چه په دے مخکښ حکم کښ ستاسو فائده ده په دوه طریقو
سره۔ اول داچه ځوک جماع په حالت د حیض کښ اوکړی او بیائے
دا آیت یاد شی نو توبه او باسی نو محبت د الله تعالیٰ حاصل شی۔
دویم داچه ځوک د دے آیت د تن کرد وجے نه ځان د حائضے سره
د جماع کولو نه پاک او بچ ساتی نو په دے سره محبت د الله
تعالیٰ حاصلیږی۔ او په دواړو کښ ذکر د محبت الٰهی دلالت کوی
چه اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ کَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهٗ (د گناه نه توبه کؤونکے
پښیمان د هغه چا دے چه گناه یئے نه وی کړے)۔

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ مُّلٰقُوْهُ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ (۲۲۳)

او پوهه شئ چه یقینًا تاسو د هغه سره مخامخ کیدونکي یئ او زیری ورکړه مؤمنانو لره

۲۲۳ په دیکښ د امورو د تنبیه د منزل ته اتم امر دے په دیکښ د جماع کولو شرعي طریقه او د هغې مقصد ولد (بچے) پیدا کیدل کرځول مراد دي۔ او لازم دا ده چه اجتناب لازم دے د جماع کولو ته په موضع د قرث کښ چه هغه دُبر دے د ښځے۔ او دا امر هم ذوجهتین وو په وجهت یئې مامور به دے او بل جهت یئې منهي عنه دے۔

ربط ۱ مخکښ په قول د مجاهد کښ تیر شول چه یهودیانو به د ښځے ته د حیض په حالت کښ تفرت کولو لیکن په دُبر کښ راتلل بئې جائز ګنړل نو هلته یئې د هغوی د یو افراط رد اوکړو او دلته د هغوی د بل افراط رد کوی۔ ع۲ ابوحیان وئیلی دی چه مخکښ آیت کښ فَاْتُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ اَمَرَكُمُ اللّٰهُ ، کښ مِنْ وجه اطلاق وو نو وهم پیدا شو چه ښځے ته په دُبر کښ راتلل جائز دی نو په دے آیت کښ د هغې رد کوی۔ ع۳ مخکښ یئې د یهودیانو د یو خبیث رسم رد اوکړو نو اوس د هغوی د بل رسم رد کوی هغه دا دے (په صحیحین کښ حدیث دے) چه یهودیانو به وئیل چه څوک د ښځے سره جماع په فرج کښ د روستو طرف نه کوی نو بچے به یئې کوږ ستر کے پیدا کیږی۔ او د دے وجے نه د انصارو د بعض زنانو سره چه مهاجرینو نکاح اوکړو نو هغه ښځو به د شا د طرف نه فرج ته راتلل په خاوند انو حرام ګنړل نو په دے آیت کښ د هغې رد کوی۔

نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ ، د نِسَآءُ نه مراد زوجات (ښځے) دی لیکن وینزوته یئې د شمول د پاره په نساء سره تعبیر اوکړو۔ حَرْثٌ په اصل کښ سیرے کول د زمکے دی د تخم اچولو د پاره۔ او دا صرف تخم اچولو ته وئیلے شی او زرع بوټی راوتلوته وئیلے شی د دے وجے د حرث نسبت انسان ته کیدے شی او د زرع نسبت الله تعالٰی ته حقیقتًا دے او انسان ته مجازًا نسبت کیدے شی

لکه په سورة واقعه ۶۳ ، ۶۴ کښې ،
سوال :- حَرْثٌ مصدر دے نو په نِسَآؤُكُمْ باندے حمل څه رنګ صحیح کیږی ؟-
جواب :- په عبارت کښې تقدیر دے یعنی جِمَاعُ نِسَاۤءِكُمْ كَالْحَرْثِ ځکه چه نطفه پشان دَ تخم اچولوده او رحم (بچه دانی) پشان دَ زمکے دے او بچے پشان دَ بوټي دے - یا نِساءکم مَوضِعُ حَرْثٍ لَّکُمْ - او په لفظ دَحرث کښې تصریح ده چه دَ بیبیانو سره جماع صرف په فرج کښې حلاله ده او په دُبر کښې حرامه ده - نو په دےکښې ترغیب دے پیدائش او زیاتول دَ نسل ته چه هغه اصل مقصد دَ نکاح دے -
فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ ، په دے جمله کښې دَ جماع دَ محل تعین اُوشو په حَرْثَكُمْ سره او تعمیم دَ کیفیت دَ جماع اُوشو په اَنّٰى شِئْتُمْ سره - دلته اَنّٰى په معنیٰ دَ کیف سره دے او عموم دَ کیفیاتو دادے چه که مخامخ وی یا دَ روستو طرف ته وی په ملاستے وی او که په ناستے سره وی یا په اړخ سره وی ځکه چه موخوښه وی - او کوم چه بعض صحابه کرامو، تابعیتو یا ائمو کرامو ته نسبت دَ جواز شوے دے دَ جماع کولو په دُبر کښې نو هغه مؤول دے یا لغزش دے او دَ هغے دَ تفصیل دَ پاره بیدے مکان کښې تفسیر قرطبی، ابن کثیر او زاد المعاد دَ ابن قیم اُوګوره او ابو حیان وئیلی دی چه په دُبر کښې دَ جماع کولو حرمت دَ دولسو[۱۲] صحابه کرامو نه په مختلف الفاظو سره روایت کړے شوے دے او ابن عطیه وئیلی دی چه جائز نه دی هغه چالره چه ایمان په الله تعالیٰ او په ورځ دَ آخرت لری چه په دے مسئله کښې په لغزش دَ یو عالم پسے لاړ شی - وَقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ ، دا لفظ شامل دے بسم الله ته او ذکر دَ بسم الله ته په وخت دَ شروع کولو دَ جماع کښې او نیت خالص کول دَ پاره دَ پیدا کینو لو دَ بچی داسې هرکله چه الله تعالیٰ دَ شهوت پوره کولو تحلیل ذکر کړو نو اُوس ترغیب ورکوی نورو اعمال صالحو ته یعنی تول وخت په شهوت رانئ

وَلَا تَجْعَلُوا اللّٰهَ عُرْضَةً لِّاَيْمَانِكُمْ

او مه گرځوئ تو موته الله تعالیٰ منع کوونکے (ړ ال) دَپاره دَ قسمونو ستاسو

اَنْ تَبَرُّوْا وَتَتَّقُوْا وَتُصْلِحُوْا

دَ نیکئ کولو او تقویٰ کولو او اصلاح کولو نه

بَيْنَ النَّاسِ ۭ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۲۴﴾

په مینځ دَ خلقو کښې او الله تعالیٰ هرڅه آوری او په هرڅه باندے علم لری۔

کښې تیر وئ۔ او مراد دَ دینه تقدیم دَ نیکو اعمالو دے په قرینه دَ دے سورت آیت ۱۱۰ سره۔ وَاتَّقُوا اللّٰهَ، تاکید دے چه شهوت رانی په حرام طریقو سره مه کوئ او ترغیب دے امتثال دَ اوامرو او اجتناب دَ نواهیو ته۔ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ مُّلٰقُوْهُ، دا هم دَ ماقبل تاکید دے او تحذیر دے۔ او هُ ضمیر کښې احتمالات دی اول دا چه الله تعالیٰ ته راجع دے دویم دا چه خیر ته راجع دے چه مخکښې جمله کښې پټ مراد وو۔ دریم دا چه تقویٰ ته راجع دے او مراد تری جزاء دَ تقویٰ ده۔ او چه ضمیر الله تعالیٰ ته راجع شی نو مراد دَ لِقاء نه پیش کیدل دی الله تعالیٰ ته په بعث بعد الموت او حشر سره نو دا تحذیر دے۔ یا مراد دَ دینه دیدار دے دَ الله تعالیٰ سره په میدان حشر او جنت کښې نو دا ترغیب دے۔ او عطف دَ تفریع دے په مخکښې دوه جملو باندے۔
وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ، که مخکښې دَ لِقاء نه مراد دیدار الٰهی شی نو کَدے بشارت نه مراد بشارت دَ دیدار الٰهی دے۔ او که مخکښې تحذیر مراد شی په سبب دَ عدم تقویٰ سره نو دا بشارت دے په سبب دَ ایمان او دَ تقویٰ۔ اهلِ علم وائی چه په دے بشارت کښې ئے مطلق ایمان ذکر کړیدے نو دا دلیل زیرے دے دَ عامو مؤمنانو دَپاره۔
۲۲۴ په دے آیت کښې ذکر دَ نهم امر دے دَ امورو دَ تدبیر دَ منزل نه په دیکښې اجتناب ذکر کوی دَ ډیر قسمونو (سوګندونو)

کولو نه او خصوصًا هغه قسمو نه چه ځان پرے د نیکو کارو نو نه منع کوی او دا امر هم دوه ارخونو والا دے یعنی د تاکید د پاره په الله تعالیٰ پاندے قسم کول جائز دی لیکن د خیر د کارونو نه ځان منع کولو د پاره قسم کول ناجائز دی۔

ربط ۱ مخکښ آیت کښ د تقوی ذکر وو او په دے آیت کښ لازم د تقوی الهی ذکر کوی چه هغه ځان بچ کول دی د استعمال د نوم د الله تعالیٰ نه په بے پرواهئ سره یا بے ځایه ۲ د خمر او میسر د مسئلے نه تر دے ځائے پورے تقوی د افعالو ذکر شوه اوس تقوی د اقوالو ذکر کوی۔ ۳ مخکښ قَدِّمُوا لِاَنْفُسِكُمْ کښ اشاره وه چه د خیر اعمال کوئ نو اوس ذکر کوی چه د خیر د اعمالو نه ځان مه منع کوئ اګرچه تاسو قسم کړے وی۔

وَلَا تَجْعَلُوا اللّٰهَ، دا معطوف دے په قَدِّمُوا، وَاتَّقُوا او وَاعْلَمُوا باندے۔ عُرْضَةً، وزن د فُعْلَة کله په معنیٰ د مفعول سره راځی په معنیٰ د معرض سره دے یعنی ځائے د پیش کیدلو او هدف ته وړلے شی او کله هغه څیز ته وئیلے شی چه کیښودے شی په یو څیز باندے نو حاجز او مانع (منع کوونکے) شی۔ دلته هم د دواړو معانیو احتمال شته دے (روستو ذکر کیږی)۔ لِاَيْمَانِكُمْ، ایمان جمع د یمین ده ښی طرف او ښی لاس ته وئیلے شی۔ لِاَيْمَانِكُمْ کښ لام متعلق دے په عرضة پورے او ایمان نه مراد ډیر قسمونه کول دی بغیر د ضرورت نه په نیک اوبد کارونو کښ۔ نو په دیکښ مقصد منع ده د ډیرو قسمونو کولو نه د الله تعالیٰ په نوم باندے ځکه چه په دیکښ د الله تعالیٰ د نوم بے ادبی لازمیږی۔ د دے وجے نه ډیر قسمونه کوونکی خلق الله په بدئ سره ذکر کړی دی لکه په سورة قلم ۱۰، سورة مائده ۸۹ کښ بیا په یو تفسیر باندے۔ په دے توجیه سره عرضة نه مراد اوله معنیٰ ده یعنی نشانه (هدف) او الله نه مراد نوم د الله تعالیٰ دے۔ دویمه توجیه دا ده چه عرضة نه مراد منع کوونکے دے او په لِاَيْمَانِكُمْ کښ لام اجلیه دے یعنی مه ګرځوئ نوم د الله تعالیٰ منع کوونکے د وجے د قسمونو کولو ستاسو نه

په نوم د هغه بانندے - اَنْ تَبَرُّوْا وَ تَتَّقُوْا وَ تُصْلِحُوْا بَيْنَ النَّاسِ، په دېکښې دوه توجيهات دي اول دا چه په دېکښې مضاف پټ دے يعني كراهية يا لِئَلَّا تَبَرُّوْا - او دا دَ عرضةً دَ اولے معنے سره تعلق لري معنیٰ دا چه مه ګرځوئ نوم دَ الله تعالیٰ تښه دَ پاره دَ ډیرو قسمونو ستاسو دَ دے وجے نه چه بیا کنړئ نیکي او تقوی او اصلاح کول یا دے دَ پاره چه او نه کړئ دا دریواړه - نو په دے معنیٰ سره اول ئے منع اُوکړه دَ ډیر والی دَ قسمونو نه عموماً او بیا ئے اُوئیل چه په دے قسمونو سره تاسو دَ نیک کارونو نه هم ځان محرومونئ. دویمه توجیه دا ده چه دا مفعول دے دَ عرضةً دَ پاره په تقدیر دَ مِنْ سره او عرضةً په دویمه معنیٰ سره دے نو معنیٰ دا چه مه ګرځوئ نوم دَ الله تعالیٰ منع کوونکے دَ دے دریے کارونو نه دَ وجے دَ قسم کولو ستاسو نه - دریمه توجیه ابو حیان ذکر کړیده چه دا متعلق دَ دَ اَيْمَانِكُمْ سره او علیٰ لفظ پټ دے او دَ عرضةً اوله معنیٰ ده نو معنیٰ دا چه په نوم دَ الله تعالیٰ ډیر قسمونه مه کوئ په کولو دَ دریو کارونو سره اګرچه دا کارونه دَ خیر دي لیکن ډیر قسمونه په دے هم مه کوئ - نو معلومه شوه چه کوم کارونه دَ خیر نه دي او په هغے بانندے څوک ډیر قسمونه کوي دا خو ډیر بد او قبیح کار دے - په دویمه توجیه سره دا مناسب دے دَ سورة نور آیت ۲۲ سره او دَ حدیث دَ مسلم سره چه هر کله نه قسم اُوکړے په یو خیز (کار) بانندے او دَ هغے نه مخالف بل کار دَ خیر او وینے نو دَ خیر هغه کار اوکړه او دَ قسم کفاره ورکړه -

فائده :- نیکي (بِر)، تقوی او اصلاح دَ خیر ټولو کارونو نه شامل دي که هغه لازمي وي او که متعدي وي ځکه کار خیر یه دَ فائدے نه خالي نه وي یا به بل چا ته فائده ورکوے یا به ځان ته فائده رسوے یا به ضرر دفع کوے - بل چا ته فائده ورکول دینته بِر (نیکي) وئیلے شي او ځان ته فائده ورکولو ته تقوی وئیلے شي او دَ بل چا نه ضرر دفع کولو ته اصلاح وئیلے شي - او په سورة نساء ۱۱۴ کښې ئے نور دریے ذکر کړي دي ځکه چه په هغے کښې صرف

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ

نه نیسي الله تعالٰی تاسو په لغو (بې ارادې) سره په قسمونو ستاسو کښې

وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ ؕ

او لیکن نیسي تاسو لره په هغه عملونو سره چه کسب کړي وي زړونو ستاسو

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۲۲۵﴾ لِلَّذِيْنَ

او الله تعالٰی بخښونکی دی صبرناک دی. د پاره د هغه کسانو

امور متعین په ذکر کوي چه هغه موقوف دي په مشوره کولو باندې.
وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ، مخکښې قسم ذکر شو هغه د آوریدلو سره تعلق لري او اعمال (نیکي، تقوٰی او اصلاح) ذکر شول هغه د علم سره تعلق لري. د دې وجې نه په فاصله د آیت کښې ئې دا دوه صفات خاص ذکر کړل.

۲۲۵ - ربط :- هر کله چه مخکښې آیت کښې د ډیرو قسمونو کولو او ځان د نیک کار نه منع کولو د پاره د قسم کولو نه منع اوکړې شوه لیکن حکم ئې نه وو ذکر کړې نو اوس د هغې احکام او اقسام ذکر کوي.
لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ، مواخذه (نیول) په قسمونو کښې دوه قسمه ده اول مواخذه دنیوي ده یعني کفاره لازمیدل دویم مواخذه اُخروي ده یعني گناهگاریدل نو دلته د دواړو قسمونو نه نفي مراد ده.
بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ، لغو په قرآن کریم کښې په درې قسمه ده. اول قسم لغو په قسم کولو کښې په دې آیت کښې ذکر ده. دویم لغو په معنٰی د قول باطل یا باطل عمل لکه په سورة قصص ۵۵ او سورة فرقان ۷۲ کښې. دریم په معنٰی د بې فائدې خبرې کولو لکه په سورة طور ۲۳ کښې. نو لفظ د اَيْمَانِكُمْ ئې د دې د پاره ذکر کړو چه دلته اول نوع مراد دې یعني لغو په قسم کولو کښې. په تفسیر د یمین لغو کښې ډیر اقوال دي. اول قول دا چه د ابوهریره، ابن عباس رضي الله عنهم او نورو تابعینو نه نقل دي چه په غالب گمان سره قسم کول په یو شوي کار باندې چه څه

رشتیا وایم او حال دا دے چه هغه دَ حقیقت نه خلاف وی۔ دیته لغو په دے وجه وئیلے شی چه قصد دَ قسم خو کوی لیکن قصد دَ دروغو نیشته او دا قول دَ امام ابوحنیفه رحمه الله هم دے۔ دویم قول دَ عائشه رضی الله عنها او ابن عباس رضی الله عنهما (دویم روایت) او دَ نورو تابعینو نه نقل دے چه لغو قسم دا دے چه خُلے ته بغیر ارادے په تادئ سره الفاظ دَ قسم را اُوځی لکه لا والله بلی والله، قسم دے په الله تعالیٰ یا ترے وغیره الفاظ۔ دا روایت امام بخاری رحمه الله هم ذکر کړیں دے دیته لغو ځکه وئیلے شی چه قصد دَ قسم کولو نه وی هسے بے اختیاره یا عادتاً دَ خُلے نه را اُوځی۔ دا قول دَ امام شافعی رحمه الله او یو قول دَ امام مالک رحمه الله هم دے۔ دریم دَ ابن عباس رضی الله عنهما (بل روایت) او دَ علی رضی الله عنه او طاؤس (تابعی رحمه الله) دا دے چه دا قسم په حالت دَ غُصه او غضب کښ دے۔ او دَ دیته علاوه نور اقوال هم شته دے۔ هرکله چه دلته لغو مقابل دَ کسبِ قلب دے نو دویم قول غوره معلومیږی او حدیث دَ انما الاعمال بالنیات هم په دے باندے دلالت کوی او امام شاه ولی الله دهلوی وئیلی دی چه غوره دا ده چه دا لفظ دے دریواړو ته شامل دے

وَلٰكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ، کسب (کول) په افعال اختیاریه کښ استعمالیږی اګرچه عمل دَ زړه وی او کسب دَ زړه عقد او نیت کول دی۔ نو دا وصف یمین منعقده (را تلونکی وخت سره تړلے شوے قسم) او یمین غموس (قصداً په دروغه قسم) دواړو ته شامل دے او مواخذه اُخرویه بالاتفاق مراد ده لیکن په یمین منعقده کښ روستو دَ قسم ماتولو نه او په یمین غموس (په دروغه قسم کولو) کښ دَ اول وخت نه هم۔ او هر چه دُنیوی مواخذه ده یعنی کفاره ورکول هغه په یمین منعقده کښ بالاتفاق واجب ده په دے شرط چه قسم مات کړی او په یمین غموس کښ دَ علماؤ اختلاف دے۔ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ، غفور مبالغه ده په ګناه پټولو او ساقطولو دَ سزا دَ هغے کښ۔

يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآىِٕهِمْ تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ

په قسمونو سره ځان جدا کوي د ښځو نه انتظار د څلورو

اَشْهُرٍ ۚ فَاِنْ فَآءُوْ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

میاشتو دے نو که چرے ددی اوګرځی د قسم نه نو یقیناً الله تعالی بخنه کوونکے دے

رَّحِيْمٌ (۲۲۶) وَاِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ

رحم کوونکے دے - او که چرے دوی قصد اوکړی د طلاق

فَاِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ (۲۲۷)

نو یقیناً الله تعالی هر څه اوری او په هر څه باندے علم لري -

او حلیم په لغت کښ سکون او په دمه کار کول دی سره د قوت او قدرت نه - نو غفور دلته تعلق لري د یمین منعقد سره او حلیم د کسب د زړه سره تعلق لري چه مستحق د سزا وی لیکن سزا ورته زر نه ورکوی -

فائده : معلومه شوه چه قسم (سوګند) په درے ډوله دے اول لغو قسم چه د هغے تعریفونه مخکښ تیر شول او په هغے کښ کفاره او سزا دواړه نیشته - دویم یمین منعقد دے هغه قسم کول دی د راتلونکے زمانے سره ترلی شوی کار باندے چه فلانے کار به کووم یا به فلانے کار نه کووم - نو په دے قسم چه پوره والے اوکړی خو صحیح ده هیڅ مواخذه نیشته او چه قسم مات کړی نو کفاره او ګناه دواړه لازم دی - او کیدے شی چه په کفارے سره یئے هغه ګناه هم معاف شی او د هغے ذکر په سورة مائده ۸۹ کښ شته دے - او دریم ډول قسم یمین غموس دے او یمین صبر او مصبوره ورته هم وئیلے شی - هغه قسم کول دی په باره د تیر شوے زمانه کښ د کار کیدلو یا نه کیدلو په قصد د دروغو سره - او دا ګناه کبیره دے په سبب د صحیح حدیث سره او په دیکښ سزا شته او په کفاره کښ اختلاف دے د هغے د پاره د فقهے کتابونه اوګوری -

نسم امر دے هغه دَطلاق شرعي دَ مسئلے تفصيل دے. اول ذکر دَ
ایلاء دے بیا دَطلاق دَ عدت ذکر دے چه په ایلاء پسے په شرط دَ
عدم رجوع لازمیږي. بیا ذکر دَ تعداد دَطلاق دے او دَ هغې شرعي
طریقه. بیا ذکر دے دَحق دَ رجوع کولو په شرط دَ معروف (ښه طریقې)
سره. او په دے ټولو کښ مقصد اجتناب دے دَجاهلیت طریقو ته
په تعداد دَطلاق او رجوع وغیره کښ. او دا اُمور هم دوه ارخونه لري
یعني دَجاهلیت طریقې چه هغه باطلې دي او طریقې دَ شریعت چه هغه
لازمے دي.
په دے آیت کښ حکم دَ ایلاء شرعي ذکر کوي دَپاره دَ رد دَ ایلاء دَ
اهل جاهلیت هغه ایلاء به کال دوه کاله وو او مقصد به یې تنګول
دَ ښځې وُو نو قسم به یې اُوکړو چه دے ښځې ته به نه ځي نزدے کیږم
او طلاق به یې هم نه ورکوو او دَ نکاح حق به یې ورله هم نه
اداکولو او دَ قسم نه به یې رجوع هم نه کوله وئیل به یې چه دا
ګناه دے. نو اسلام دَ هغې ظلم تردید اُوکړو به ایلاء شرعي سره.
په دیکښ قائده داده چه خاوند په طلاق ورکولو کښ تادي
اُونکړي بلکه په مدت دَ ایلاء کښ سوچ اُوکړي او په ښځه باندے
به هم ظلم اُونه شي.
ربط ۱ـ هرکله چه مخکښ عام قسمونه ذکر شول نو اُوس دَ هغې نه
خاص یو قسم ذکر کوي چه هغې ته ایلاء وئیلے شي. ۲ـ مخکښ
دَ زنانه نه قائده اخستل ذکر شو اوس هغه څیز ذکر کوي چه دَ
هغې په وجه دغه قائده اخستل منع شي چه هغه ایلاء او طلاق دے.
لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ، ایلاء په لغت کښ مطلق قسم
ته وئیلے شي هغې نه اَلِيَّةٌ او اُلُوٌّ هم وئیلے شي او دَ دیته باتل
اخستلے شوے دے چه په سورة نور ۲۲ کښ دے. او ایلاء په
شرع کښ څه ده؟ نو په دیکښ اختلاف دے په نیز دَ جمهور
علماء کرامو چه ایلاء داده چه خاوند قسم اُوکړي چه خپلے ښځے ته
په دَ څلور و میاشتو نه زیات نه نیزدے کیږم. نو که قسم یې
اُوکړو په څلورو میاشتو یا دَ هغې نه په کم باندے نو دا ایلاء

شرعي نه ده خو صرف قسم دے- او دَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز
قسم کول دي چه څلور مياشتے يه نه ور نيژدے کيږم نو چه
نيژدے نه شي او څلور مياشتے تيرے شي نو ايلاء ساقط شوه
او يو طلاق رجعي واقع شو- او که جماع ئے اوکړه په څلور مياشتو
کښ دننه نو کفاره وريانه واجب شوه او ايلاء ختم شوه- او دَ ابن
مسعود رضي الله عنه او بعض تابعينو نه روايت دے چه ايلاء دا ده
چه خاوند قسم اوکړي چه ښځے ته به نه نيژدے کيږم يوه ورځ
يا کم و زيات او بيا نيژدے نه شي څلور مياشتو پورے نو په
سبب دَ ايلاء سره ښځه جدا شوه- او دَ امام شعبي رحمه الله او قاسم
رحمه الله وغيره په نيز ايلاء قسم کول دي چه ښځے ته به نه
نيژدے کيږم او خبره به ورسره نه کووم يا به ضرر او تکليف
ورکوم نو دا ټوله ايلاء ده- او په نيز دَ ابن عباس رضي الله عنهما
قسم کول دي چه څه به دے ښځے ته هيڅرے نه نيژدے کيږم
ليکن مدت دَ انتظار په ايلاء کښ دَ ټولو دَ پاره څلور مياشتے دي.
دَ ايلاء دوه قسمونه دي يو ايلاء مؤبد (ابدي) ده چه دَ مدت ذکر
پکښ اُونکړي او دويمه ايلاء مؤقت ده چه وخت مقرر کړي
دَ څلورو مياشتو يا کم و زيات- (بنا په اختلاف دَ اقوالو يانے)-
او کومه ايلاء چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم کړيده هغه ايلاء
لغوي وه صرف يو مياشت وه او هغه مياشت يو کم ديرش ورځے وه-
او نبي کريم صلى الله عليه وسلم به هغے مياشت کښ بيبيانو ته
نزديکت نه دے کړے. مِنْ نِّسَآئِهِمْ، که معنیٰ لغوي مراد وي
نو لفظ دَ وطي او جماع پټ مراد دے او که معنیٰ شرعي وي نو
تقدير ته حاجت نيشته.
سوال:- ايلاء خو متعدي کيږي په علیٰ سره نو دلته ئے مِنْ
ولے ذکر کړيدے؟.
جواب علامه زمخشري وئيلي دي چه دا متضمن کيږي معنیٰ دَ
بُعد (لرې والي) لره يعني يَبْعُدُوْنَ عَنْ نِّسَآئِهِمْ بِالْاِيْلَآءِ
(لرے کيږي دَ خپلو بيبيانو نه په سبب دَ قسم سره)-

جواب ۲: ابو البقاؔ وئیلی دی چه دَ ایلاء په صله کښې علی او مِن دواړه استعمالیږی۔ او په دے لفظ کښې آزاده ښځه او وینزه مِن حول بهاؔ او غیر مِن حول بهاؔ ټولے داخلے دی اگرچه په وینزه کښې دَ بعض علماؤ اختلاف شته دے۔

تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ، مقصد په دے توقیت (وخت مقرر ولو) کښې اول رد دے دَ ظلم دَ جاهلیت لکه مخکښې ذکر شو۔ دوېم مقصد تادیب ورکول دی ښځے ته په هجران (جدا ئی کولو) سره۔ دَ دے وجے نه وئیلے شوی دی په روایت دَ عمر رضی الله عنه کښې چه زنانه دَ خپل خاوند نه دَ څلور میاشتو نه زیات صبر نشی کولے او دا واقعه قرطبی ذکر کړیده۔ دریم مقصد په دے کښې تعلیم دَ فکر کولو دے خاوند ته په طلاق ورکولو ښځے ته دے دَ پاره چه تادی اُونکړی په تطلیق کښې۔

فَاِنْ فَاءُوْ فَاِنَّ اللهَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ، دَ فیئ نه مراد رجوع کول دی دَ خاوند خپلے ښځے ته په جماع کولو سره او که دَ خاوند څه عذر وی لکه مریض وی یا په جیل کښې بندی وی وغیره نو رجوع په نیت او په قول سره صحیح ده۔ په دے رجوع کښې اختلاف دے دَ ابن مسعود، ابن عباس رضی الله عنهم، نورو تابعینو او امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز دا رجوع په څلور میاشتو کښې دننه ده او کفاره دَ قسم پرے واجبیږی۔ او که په څلور میاشتو کښې دننه ئے رجوع اُونکړه نو په دۀ بائنه طلاقه ده۔ او په نیز دَ عمر، عثمان، علی رضی الله عنهم او نورو تابعینو او امام شافعی، مالک، احمد رحمهم الله علیهم ئے رجوع په څلور میاشتو کښې اُونکړه نو توقف به کیږی شی که اوس رجوع کوی نو ښه ده او که رجوع نه کوی نو بیا په طلاق لازمیږی۔ غَفُوْرٌ کښې اشاره ده چه په کفاره سره دَ دۀ ګناه اُوبخښلے شی او رَحِیْمٌ کښې اشاره ده چه رخصت ورکول دَ کفارے رحمت دَ الله تعالی دے۔ یا غفور په نسبت دَ خاوند دے او رحیم په نسبت دَ ښځے سره دے۔ وَاِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ، عزم په اصل کښې هغه څیز دے

وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ

او طلاق کړے شوے زنانه به انتظار کوی په خپلو ځانونو سره درے

قُرُوْٓءٍ ؕ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ اَنْ يَّكْتُمْنَ

حیضونه (طهرونه) او حلال نه دی دوی لره چه پټ او ساتی دوی

مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِيْٓ اَرْحَامِهِنَّ اِنْ كُنَّ

هغه څیز چه پیدا کړے وی الله تعالیٰ په بچه دانو د دوی کښ که چرے دوی

يُؤْمِنَّ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ وَبُعُوْلَتُهُنَّ

ایمان لری په الله تعالیٰ او په ورځ روستنی بانده او خاوندان د دوی

اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِيْ ذٰلِكَ اِنْ اَرَادُوْٓا

ډیر حقدار دی په واپسئ د دوی په دغه مدت کښ که چرے دوی غواړی

اِصْلَاحًا ؕ وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ

اصلاح لره او د پاره د زنانو پشان د هغه حقونه دی چه په دوی بانده لازم دی

بِالْمَعْرُوْفِ ۪ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ

په ښه طریقے سره او د پاره د نارینو په دوی بانده

دَرَجَةٌ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۲۸﴾

او چته درجه ده او الله تعالیٰ زور آور حکمتونو والا دے۔

ع ۲۸ / ۱۲

چه د هغے په کولو بانده د زړه عقد کړے وی او کله په معنیٰ د قسم سره راځی نو عزم پخے اراده ته وئیلے شی۔ طلاق په اصل کښ پرانستل دی د قید نه۔ او په شریعت کښ پرانستل د عقد د نکاح دی په هغه الفاظو سره چه وضع دی په شرع کښ د پاره د پرانستلو د عقد (غوټے) د نکاح۔ دا مقابل د فاءُوْا دے نو عزم د طلاق په ترک د رجوع سره دے په دیکښ دوه اقوال دی لکه چه مخکښ ذکر شول۔ اول قول صرف عدم رجوع ده په

څلورو میاشتو کښې دا بیته عزم د طلاق دے او دا قول د ابن مسعود رضی الله عنه او امام ابوحنیفه رحمه الله او نورو علماؤ دے او دے قول ته قرطبی هم (د خپل مذهب خلاف) ترجیح ورکړې ده دویم قول دا دے چه عزم دلته په قول سره دے روستو د تیریدو د څلورو میاشتو نه. یعنی عزم په معنیٰ د واقع کیدلو دے او دا قول د عمر او نورو صحابه کرامو رضوان الله اجمعین او تابعینو دے لکه چه مخکښې تیر شوی دی. او په دے طلاق کښې هم د اهلِ علمو اختلاف دے. د عثمان، علی او ابن مسعود رضی الله عنهم او امام ابوحنیفه رحمه الله اوزاعی رحمه الله په نیز بائن دے دا یو طلاق بائن دے او په نیز د ابن مسیب او مکحول، زهری او امام مالک رحمهم الله تعالیٰ دا یو طلاق رجعی دے.

فَإِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ، عزم په زړه کښې خبرے کولو سره مستلزم دے که په ژبے سره وی او که نه وی نو سمیع علیم د هغے سره تعلق لری او دا جمله په ځائے د جزا بائن بے قائم ده یعنی فَلْيُوقِعُوهُ. او دا بنا ده په دویم قول بائن دے.

۲۲۸ ربط. هرکله چه په عزم د طلاق سره طلاق واقع شو نو بښځه طلاقه شوه نو اوس د هغے د پاره وخت د عدت ذکر کوی. او په دے آیت کښې شپږ جملے دی او د هر یو جدا جدا مقصد دے.

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ، دا اوله جمله ده او په دیکښې ذکر د طلاق د عدت دے د خاص قسم مطلقو طلاقو کړے شوو. الْمُطَلَّقَاتُ، اګرچه عام دے لیکن په نورو نصوصو سره ئے تخصیص کړے شوے دے. اول دا چه دا به مدخول بها وی (چه نزدیکت ورسره شوے وی) ځکه چه حکم د غیر مدخول بها په سورة احزاب ۴۹ کښې ذکر دے. دویم دا به غیر حامله وی چه هغے ته حامله وئیلے شی ځکه چه حکم د حاملے د عدت په سورة طلاق ۴ کښې ذکر دے. دریم دا به حائضه وی یعنی حیض به ئے راځی نابالغه او آئسه (بوډۍ) به نه وی ځکه چه د دغوی عدت هم په سورة طلاق ۴ کښې ذکر دے. څلورم دا چه دا به آزاده وی

محکه چه دَ ویتزے عدت دوه حیضه دے په دلیل دَ حدیث سره داقول دَ ائمو اربعو دے۔ اودَ داؤدظاهری، ابن کیسان او ابن سیرین رحمهم الله مذهب دا دے چه دَ وینزے عدت دَآزادے ښځے پشان دے او حدیث دَاول قول ضعیف دے لکه چه ابن کثیر ذکر کړی دی۔ لیکن دغه حدیث موقوف صحیح دے او په وخت دَعدم دَ صحیح مرفوع حدیث کښ په موقوف باندے عمل کیدے شی او ابن کثیر وئیلی دی چه په صحابه کرامو کښ په دے مسئله کښ خلاف نیشته۔ او کله چه دَ سلفو صالحینو عمل دَ ضعیف حدیث تائید کوی نو په هغے باندے عمل کول جائز دی۔

سوال:- اَلْمُطَلَّقٰتُ عام دے او تخصیص تریته دَ پنځو اقسامو کړے شوے دے نو یو قسم پاتے شو او په تخصیص بعد التعمیم کښ ضرورت ده چه عام افراد به ډیروی دَ خاصو نه؟

جواب:- دا اګر چه یو قسم دے لیکن طلاقو کړے شوو ښځو کښ مدخول بها حیض والا آزادے ښځے په اعتبار دَ افرادو سره ډیرے وی او دا بداهتًا معلومه ده۔

يَتَرَبَّصْنَ، کښ تعبیر دَ امر نه په خبر سره تاکید دَ حکم پیدا کوی لکه په دُعا کښ وئیلے کیږی رَحِمَكَ اللّٰهُ غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ۔

بِاَنْفُسِهِنَّ، کښ با سببیه ده او متعلق ده په یتربصن پورے۔ یا با زیاتی ده او انفسهن تاکید دے دَ ضمیر متصل په یتربصن کښ۔ او مراد دَ تَرَبُّص نه دَ یل سړی سره نکاح نه کول دی۔

ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ، مفعول فیه دے په حذف دَ مدت سره یا مفعول به دے په حذف دَ مَضِیُ سره۔

سوال: قروء جمع کثرت ده او ثلاثه لفظ جمع دَ قلت ده نو تمیز ئے جمع قلت (اقراء) سره پکار وو؟

جواب ۱: هر کله چه اَلْمُطَلَّقٰتُ جمع کثرت وه نو دَ هغے په مناسبت سره ئے دا جمع کثرت ذکر کړه۔

جواب ۲: دیته اِتِّسَاع وئیلے شی چه یو صیغه دَ بلے صیغے په ځائے

استعمالول جائز دي- جواب ۳ په نيز د مبرد دا په اصل کښ ثَلٰثَةَ مِّنْ قُرُوْءٍ دے-
قُرُوْءٍ جمع دَ قَرْءِ ده په اصل کښ جمع کيدلو ته وئيلے شي تو په حال دَ حيض کښ اجتماع دَ وينے ده په رحم کښ او په حال دَ طهر کښ اجتماع دَ وينے ده په باقي بدن کښ- يا په اصل کښ راتلل دَ وقتِ معتاد (عادتي وخت) دي او په حيض او طهر کښ عادتي وختونه وي- او دَ قرء اطلاق په حيض او په طهر دواړو باندے کيږي په طريقه دَ اشتراک لفظي يا په طريقه دَ اشتراک معنوي سره- او دلته په مراد دَ قروءٍ کښ دَ اهلِ علمو اختلاف دے- په نيز دَ عمر، علي او ابن مسعود رضي الله عنهم او تابعينو او امام ابو حنيفه رحمه الله دَ دينه مراد حيضونه دي- يعني چه په اختتام دَ درے حيضونو سره عدت ختم شو- او په نيز دَ عائشه او ابن عمر او زيد بن ثابت رضي الله عنهم او بعض تابعينو او امام شافعي رحمه الله دَ دينه مراد طهرونه دي او يو قول دَ امام شافعي دا دے چه قروء نه مراد انتقالات دي دَ طهر نه حيض ته او طلاق به په حالت دَ طهر کښ وي تو په درے انتقالاتو سره به عدت ختم شي- وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَّكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِيْ أَرْحَامِهِنَّ إِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ، دا دويمه جمله ده مقصد په ديکښ تاکيد دے دَ عمل کولو په ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ باندے او ترغيب ورکول دي زنانو ته په امانت دارئ سره په هغه حالاتو کښ چه دَ دوي دَ نفسونو سره خاص دي- مَا خَلَقَ اللّٰهُ نه مراد حيض او حمل دے او دَ زنانو په دے پټ ساتلو کښ بعض غلط غرضونه او مطلبونه دي دَ دے وجے نه ئے دَ دے کتمان نه نهي اوکړه په تاکيد سره- يو تاکيد په لَا يَحِلُّ سره دويم په إِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ سره- او کتمان نه مراد دَ حمل او دَ حيض حال پټول دي- او دَ زمخشري په نيز کتمان اسقاط حمل ته هم شامل دے- أَرْحَامِهِنَّ، جمع دَ رحِم ده ځائے دَ جوړيدلو دَ بچي ته وئيلے شي په خيټه دَ مور کښ- او دَ دے پيدائش دَ وجے نه رشته او خپلولي جوړيږي دَ دے وجے نه

قرابت (نسبت) ته هم رحِم وئیلے شی۔ اِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ آه دا شرط دَے دَ پاره دَ تهدیدن، دَ تقیین دَ پاره نه دے ځکه چه دَ غیر مؤمنا تو دَ پاره دَ کتمان اجازت نیشته۔ تو په دے کښ اشاره ده چه تقاضا دَ صحیح ایمان دا ده چه کتمان به نه کوی او ادا دَ امانت به کوی۔ او دا اِنْ دَ شک دَ پاره نه دے بلکه کله چه شرط په طور دَ فرض او تقدیر وی او مقصد پکښ تحقیق دَ حصول دَ شرط او دَ عدم دَ هغه نه وی نو هلته اِنْ استعمالیږی۔ او ذکر دَ جاتبیتو دَ ایمان دَ افادے دَ کمال ایمان دَ پاره دے۔

وَبُعُوْلَتُهُنَّ اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِيْ ذٰلِكَ اِنْ اَرَادُوْٓا اِصْلَاحًا، دا دریمه جمله ده او په دیکښ مقصد ذکر دَ مصلحت دَ عدت دے۔ چه هغه رجوع کول دَ خاوند دی شئے ته۔ او ترغیب دے رجوع کولو ته دے دَ پاره چه دَ طلاق دَ اثر ازاله اُوشی۔ بعول دلته جمع دَ بَعَل ده خاوند ته وئیلے شی دَ وجے دَ اُوچتوالی دَ هغه په شئه باندے دارنګ بعال جماع ته وئیلے شی۔ او بعل مالک، سید او مذکر ته هم وئیلے شی او دا صفات په خاوند کښ موجود وی او هر کله چه رجعت دَ خاوند حق دے بغیر دَ رضا دَ ښځے نه نو دَ دے سره لفظ دَ بعل پوره مناسب دے۔ او هِنَّ ضمیر مطلقات ته راجع دے لیکن سوق دَ کلام دلالت کوی چه دَ دیته مراد مطلقات دی په طلاق رجعی سره۔ اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ کښ رد نه مراد واپسی ده۔

سوال:۔ صیغه دَ اَحَقُّ دَ تفضیل دَ پاره ده تقاضا دَ حق دَ غیر کوی او حال دا دے چه په عدت کښ حق دَ رجوع دَ زوج نه دَ غیر دَ پاره نیشته؟

جواب علـ دلته احق په معنیٰ دَ حقیق دے معنیٰ تفضیلی پکښ نیشته۔ جواب علـ لفظ دَ اِنْ اَرَادُوْٓا اصلاحًا په طریقه دَ مفهوم شرط تقاضا کوی چه زوج (خاوند) اراده دَ اصلاح نه لری نو هم هغه لره حق دَ رجوع شته۔ او هر کله چه اراده دَ اصلاح لری نو بیا خو ډیر حقدار دے۔ او رجوع ته ئے رد په دے وجه وئیلے دے

چه دَ تربُّص نه یٔ ښځه واپس کړله یا دَ حرمت (یه وخت دَ تیرېدلو دَعدت کښ) نه حل نه یٔ واپس اوکړځوله. فِیْ ذٰلِكَ کښ اشاره ده زمانے دَ تربص (عدت) ته. اِنْ اَرَادُوْٓا اِصْلَاحًا، داقید دَ پاره دَ استحقاق دَ رجوع نه دے بلکه دَ ترغیب دَ پاره دے. دا دَ دے دَ پاره چه رد اُو نه شي په طریقه دَ جاهلیت چه هغوی به دَ ضرر دَ کولو دَ پاره رجوع کوله. وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِیْ عَلَیْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ داخلو رمه جمله ده په دیکښ مقصد دَ ښځے خاوند حقوق ذکر کول دي په یو بل باند ے. او رعایت کول دَ هغه حقوقو دَ طلاق نه مانع دے او ضمیر دَ هُنَّ مطلقات ته نه دے راجع بلکه په قرینه دَ ردهن سره هغه دو یاره زوجه اوګرځیدله. یا ضمیر نِسَاء ته راجع دے چه په لِلَّذِیْنَ یُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآءِ هم کښ ذکر دے. او په دے جمله کښ ډیر فصاحت او بلاغت دَ چه مستلزم ده ذکر دَ حقوقو دَ جانبینو لره نو په لَهُنَّ کښ حقوق دَ ښځے ذکر دي په خاوند باند ے او په عَلَیْهِنَّ کښ حقوق دَ خاوند ذکر دي په ښځه باند ے. او هر کله چه حقوق دَ خاوند اتو مشهور او مسلم دي په ټولو ادیانو کښ خو حقوق دَ ښځو جاهلیت والا نه مني او بعض عوام مؤمنان هم په هغے کښ سُستي کوي دَ دے وجے نه لَهُنَّ یٔ مخکښ راوړو او تشبیه دَ ښځو دَ حقوقو یٔ نارینتو سره ورکړه. قرطبي دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل ذکر کړیدے چه څه به ښځے ته ځان خائسته کوم بلکه ښځه چه ما ته ځان خائسته کوي دا رنګ صحبت او معاشرت په معروف طریقه په خاوند باند ے حق دے او په ښځه باند ے طاعت کول دي دَ خاوند دَ شریعت مطابق. دلته نور حقوق قرطبي په تفصیل سره ذکر کړي دي. او لفظ دَ مِثْل دَ عین مشابهت دَ پاره او دَ عدد دَ پاره نه دے بلکه صرف دَ مشابهت دَ وجوب دَ پاره دے. بِالْمَعْرُوْفِ، نه مراد شرعي طریقه ده ځکه چه تفصیل دَ حقوق دَ زوجینو په احادیثو کښ ذکر دے. سنن ابن ماجه او سنن ابي داؤد کښ دَ دے دَ پاره ابواب کیښودلے شوي دي.

الطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۖ فَاِمۡسَاكٌۢ بِمَعۡرُوۡفٍ

طلاق (رجعي) دوه کرته دي نو راتینګول د ښځې دي په ښه طریقې سره

اَوۡ تَسۡرِيۡحٌۢ بِاِحۡسَانٍ ؕ وَلَا يَحِلُّ

یا پریخودل دي په ښائسته طریقې سره او حلال نه دي

لَكُمۡ اَنۡ تَاۡخُذُوۡا مِمَّاۤ اٰتَيۡتُمُوۡهُنَّ

تاسو لره چه واخلئ تاسو د هغې مال نه چه تاسو ورکړي دي هغوی ته

اودارنګ په مشکوٰة المصابیح کښې هم د وَلِلرِّجَالِ عَلَيۡهِنَّ دَرَجَةٌ ،
دا پنځمه جمله ده او په دیکښې مقصد د یو وهم دفع کول دي هغه
داچه د مخکني جملې نه وهم پیدا کیږي چه ناریته او ښځې په برابر
دي؟ نو د هغې جواب اوشو په دے جملې سره - او زیاتوالے د درجے
د ناریته په زنانه باندے په دوه وجوسره دے اول داچه ناریته
زیات دے د زنانه نه په ډیرو امورو کښې لکه په کمال د عقل
کښې او په دیت کښې، په میراث کښې او په صلاحیت د امامت
او قضا او شهادت کښې - او اختیار د طلاق او رجوع کښې بغیر د رضا د
ښځې نه - او دویمه وجه دا ده چه بعض حقوق د ناریته په ذمه
دي لکه التزام د مهر او نفقې او حفاظت د هغې او د هغې د مصلحتونو حفاظت
او دا په سورة نساء ۳۴ کښې دي - قرطبي وئیلي دي چه په دے
جمله کښې اشاره ده تیزي ورکولو د ناریتوته په ښه ژوند کولو
او په خرچ کولو کښې وسعت کول په زنانو باندے ځکه چه افضل
شخص په ځان باندے زیات بوج اوړي - وَاللّٰهُ عَزِيۡزٌ حَكِيۡمٌ ،
دا شپږمه جمله ده او په دیکښې تسلي ده ناریتو او زنانوته په
تشریع د تیر شوي حکمونو سره - نو عزیز کښې اشاره ده چه په
وجوب د حقوقو د زنانو کښې د ناریتو بے عزتي او سپکوالے نیشته -
او حکیم کښې اشاره ده چه په زنانه باندے د ناریته غوره والے
د الله تعالیٰ د حکمتونو د وجے نه دے په دیکښې په هغه باندے
څه اعتراض نیشته -

شَيْـًٔا اِلَّآ اَنْ يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا

هیڅ څیز مګر په هغه وخت چه ویریږي تاسو چه پابندي به او نکړي دوی

حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا يُقِيْمَا

دَ پولو دَ الله تعالیٰ نو که چرے تاسو ویره کوئ چه دوی به پابندي او نکړي

حُدُوْدَ اللّٰهِ ۙ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيْمَا

دَ پولو دَ الله تعالیٰ نو نیشته ګناه په دوی باندے په هغه مال کښ

افْتَدَتْ بِهٖ ؕ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ

چه فدیه کښې ورکوي زنانه په هغے سره دا پولے دَ الله تعالیٰ دی

فَلَا تَعْتَدُوْهَا ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ

نو تیریدل مه کوئ دَ دغه پولو نه او چا چه تیریدل اوکړل

حُدُوْدَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۲۹﴾

دَ پولو دَ الله تعالیٰ نه نو دغه کسان دوی ظالمان دی۔

س۲۲۹ په دے آیت کښ هم شپږ جملے دی ۔ او په دیکښ شمار دَ طلاق رجعي او دَ هغے نه رجوع یا عدم رجوع او دَ ښځے دَ مهر واپس کولو نه منع او دَ خلع مسئله ذکر کوی۔

ربط۔ مخکښ آیت کښ یئے دَ خاوند حق دَ رجوع کولو ذکر کړو او دَ هغه کدر بے اوچتولے نو اوس ذکر کوی حق دَ طلاق ورکولو دَ هغه او اختیار دَ رجوع کولو سره دَ رد کولو نه په طریقه دَ جاهلیت یا دَ چه په جاهلیت کښ دَ طلاق ورکولو دَ پاره دَ شمار څه حد نه وو دارنګ دَ رجوع دَ پاره هم شمار نه وؤ۔

اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ، په الطلاق کښ الف لام عهدي دی یعنی هغه طلاق چه په هغے پسے خاوند دَ رجوع حق لري یا هغه طلاق چه سنت او احسن دے۔ او دا مصدر په معنیٰ دَ تطلیق سره دے او مضاف پټ دے یعنی عدد دَ تطلیق۔ مَرَّتٰن نه مراد تثنیه

دَ تکرار دَ پاره نه ده لکه لفظ دَ مَرَّتَانِ بلکه دَ تثنیې دَ پاره په طریقه دَ تفریق سره ده یعنې دوه طلاقه په یو بل پسې او دا احسن طریقه ده او دوه په یو ځائے ورکول هم جائز او واقع دی لیکن اختلاف پکښ شته خو دَ سنت دَ طریقے نه خلاف دی۔
فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ، دا مبتدا ده او خبر ئے پټ دے یعنې اَحْسَنُ وَاَفْضَلُ، یا مبتدا پټه ده یعنې فَالْوَاجِبُ عَلَيْكُمْ إِمْسَاكٌ، او دَ امساك نه مراد رجوع کول دی بالاتفاق۔ او معروف نه مراد اراده دَ اصلاح او شرعی طریقے ده۔ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ، او دا اختیار دَ پاره دے او تسریح په اصل کښ پریښودلو ته وئیلے شی۔ او په دیکښ دوه اقوال دی اول قول دا چه رجوع نه کوی تر دے پورے چه عدت ئے تیر شی او احسان دا دے چه دَ هغې نه هیڅ حق نه منع کوی او ضرر هم نه ورکوی دَ جاهلیت والو په شان او دا قول ابن کثیر دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیدے۔
دویم قول دا دے چه دَ دیته مراد دریم طلاق ورکول دی لکه په حدیث کښ وارد دی چه الطلاق مرتان نازل شو نو چا تپوس اوکړو چه دریم طلاق کوم ځائے دے نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ۔ روایت ابن جریر، بیهقی، ابوداؤد سیوطی او ابن کثیر ذکر کړے دے۔ او امام رازی اول قول ته ترجیح ورکړیده په یو څو وجو سره اول دا چه دریم طلاق روستو په فَإِنْ طَلَّقَهَا سره ذکر دے۔ دویم دا چه روستو ئے خلع ذکر کړیده او خلع دَ دریم طلاق نه روستو نه کیږی۔ او ابن عطیه او ابوحیان دویم قول غوره کړیدے۔ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا، دا خاوندانو ته خطاب دے په وخت دَ طلاق ورکولو کښ یعنې کوم مهر چه خاوند ښځے له ورکړے وی نو دَ هغې نه هیڅ حصه واپس نشی اخستلے او دا رنګ په سورة نساء ۲۰ کښ هم دی۔ او دا تقاضا دَ هغه احسان ده چه مخکښ ذکر شو او په دے وجے سره دا دَ مخکښ جملے سره ربط لری۔ آتَيْتُمُوهُنَّ عام دے مهر ته او نورو څیزونو ته چه په طریقه دَ هبې او صدقے ئے ښځے له ورکړی وی۔

اِلَّآ اَنْ يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ، دا استثناء مفرغ ده توبه ماقبل کښې عبارت پټ دے يعني فِيْ وَقْتٍ مِّنَ الْاَوْقَاتِ اِلَّا وَقْتَ الْخَوْفِ اَوْبِسَبَبٍ مِّنَ الْاَسْبَابِ اِلَّا بِسَبَبِ الْخَوْفِ- اَنْ يَّخَافَآ، په تاويل دَ مصدر سره دے اوضمير په يخافا او يُقِيْمَا کښې ښځے اوخاوند ته راجع دے- اودَ خوف نه مراد يقين کول دی يا علم دے يا ظن دَ يا يره کول دی. ليکن هرکله چه دا دَ مستقبل زمانے سره تعلق لری او خطرناک حالت دے دَ دے وجے نه يئے تعبير په خوف سره اوکړے شو- او مخکښې جمله (لکم) کښې خطاب وو او په ديکښې صيغے دَ غائب ذکر دی- ديته التفات وئيلے شی- حُدُوْدَ اللّٰهِ دَ حدود معنیٰ مخکښې تيره شوی ده او دلته مراد حقوق دَ زوجيت دی دَ جانبينو نه- اودَ دے جملے نه روستو تقدير دَ عبارت دے يعني فَيَجُوْزُ لَکُمْ اَخْذُ شَيْءٍ مِنَ الزَّوْجَةِ، رجائز دی تاسو لره اخستل دَ يو څيز دَ ښځو نه په بدل دَ طلاق ورکولو کښې) او ديته خلع وئيلے شی- فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا، دا خطاب دے اولياؤ دَ ښځے خاوند ته يا امراؤ يا صالحينو دَ مسلمانانو ته او په دے جمله کښې هم التفات دے دَ غائب نه خطاب ته او په دے خطاب کښې وجه دا ده چه هرکله ښځه خاوند اقامت او يا بندی دَ حدود الله نه کوی بلکه دَ دوی په مينځ کښې ورانے اوجګړے پيدا شی نو دَ دوی اولياؤ يا امراؤ يا صلحه کوونکو مسلمانانو ته خطاب دے دَ صلح کولو په سورة نساء ۳۵ کښې اوهرکله چه هغوی دَ صلحه کولو نه عاجز شی نو بيا دا خطاب دے چه فَاِنْ خِفْتُمْ- په دے ترتيب کښې اشاره ده چه په خلع کولو کښې تادی کول نه دی پکار ځکه چه دا سبب دَ دشمنئ کرځی دَ مسلمانانو په مينځ کښې- فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا کښې ضمير دَ تثنيه ښځے خاوند ته راجع دے- فِيْمَا افْتَدَتْ بِهٖ، صاحب اللباب وئيلی دی چه په خوف دَ خاوند او ښځے کښې څلور اقسام دی اول دا چه خوف دَ طرف دَ ښځے نه وی چه هغه خپل خاوند بدکتری او نافرمانی کوی- نو خاوند له جائز دی چه په خلع

سره دَ هغې ته مال واخلی لکه چه دا په حدیث دَ جمیله بنت عبد الله
ابن ابی اوفیٰ رضی الله عنها کښې ذکر دی چه هغه بخاری روایت
کړے دے۔ دویم قسم دا چه خوف دَ خاوند دَ طرف نه وی چه خپله
ښځه وهی ټکوی او تکلیف او اذیت ورله ورکوی دے دَ پاره چه
دَ یه تریته واخلی او خلع اُوکړی تو دا سے صورت کښې خاوند
له دَ یه اخستل دَ ښځې نه حرام دی دَ وجے دَ مخکښې جملے نه
(لا یحل لکم ان تاخذوا شیئًا)۔ دریم قسم دا دے چه خوف
دَ دواړو طرفو نه وی خو دواړه په خلع باندے رضا شی تو په
دے کښې اختلاف دے لیکن په نیز دَ اکثر اهل علمو دا خلع
جائز ده او دَ یه اخستل حلال دی۔ څلورم قسم دا دے چه
خوف دَ دواړو دَ طرف نه وی تو په دے صورت کښې خلع جائز
ده لیکن خاوند لره دَ یه اخستل دَ ښځې نه حرام دی۔ تو فلا
جناح علیهما مصداق دَ اول قسم دے۔ او دریم قسم هم پدیکښې
داخل دے۔

سوال:- په آیت کښې ئے شرط دَ دواړو خوف ذکر کړیدے او په
اول صورت کښې خوف دَ یو جانب نه دے او په دریم صورت
کښې خوف بالکل نیشته؟

جواب:- هر کله چه خوف دَ ښځې دَ طرف نه شروع شی تو هغه
مستلزم دے خوف دَ خاوند لره تبعًا۔ او دریم صورت دَ جواز دے
په دلیل دَ آیت سورة نساء تر سره۔

سوال:- هر کله چه دَ یه ښځه ورکوی تو فلا جناح علیهما تثنیه ئے
ولے ذکر کړه؟

جواب:- ښځه دَ یه ورکوی او خاوند دَ یه وصولوی تو دواړه
باندے ګناه نیشته۔

فائده:- په خلع کښې دَ اهل علمو اختلاف دے چه دا طلاق
دے او که صرف فسخ دَ نکاح ده تو په نیز دَ عثمان، علی او ابن
مسعود رضی الله عنهم او بعض تابعینو دا طلاق دے۔ او دا مذهب
دَ امام مالک او امام ابوحنیفه رحمهما الله هم دے او په دیکښې

فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنْۢ بَعْدُ

نو که چرې دریم طلاق ورکړي خاوند نو حلال نه ده دا ښځه هغه لره روستو د دې نه

حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ ؕ فَإِنْ

تر دې پورې چه نکاح اوکړي د خاوند بل سره نو که چرې

طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ أَنْ

طلاق ورکړي دويم خاوند هغې لره نو نشته ګناه په دې دواړو باندې چه

د دوی په نيز تيت د دوه اود دريو طلاقو هم صحيح دے ليکن د امام ابوحنيفه په نيز په دے صورت کښ په طلاق بائن لازميږي۔ او په نيز د ابن عباس رضی الله عنهما طاؤس او عکرمه خلع فسخ د نکاح دے خو طلاق نه دے۔ او دا يو قول د امام شافعی او د ابو ثور او اسحاق بن راهويه رحمهم الله هم دے۔ او د دواړه جانبينو دلائل مفسرينو او محدثينو ذکر کړي دي۔

تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا ، تِلْكَ اشاره ده هغه آياتونو او حکمونو ته چه د ښځې سره متعلق وو د لا تنکحوا المشرکات نه تر دے ځائے پورے۔ حدود هغه اوامر او نواهي دي چه شرع د هغې د تجاوز کولو نه منع کړے وي او په هغې کښ زياتے او کمے کول دواړه حرام وي نو فلا تعتدوها ئے اوويلو۔ حُدُوْدُ اللّٰهِ، دوه قسمه دي يو قسم اوامر دي چه د هغې نه اعتداء (زياتے او خلاف) کول حرام دي دويم قسم نواهي دي چه هغې ته د مخالفت په طور سره نزديکت حرام دے نو اعتداء دواړو ته شامل دے۔ او په دے اعتداء کښ د عدد د طلاق شرعي نه تجاوز کول او په کيفيت د د تطليق کښ تجاوز کول هم داخل دي او هغې طلاق ته (چه په عدد يا په کيفيت ئے تجاوز اوکړے شي) بدعي يا حرام وئيلے شي۔

وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ، په دے جمله کښ تاکيدات دي۔ اول دا چه په دے کښ عموم دے روستو د خاص خطاب نه۔ دويم دا چه په ديکښ ځکم کړے چه

يَتَرَاجَعَا إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا

ورګرځي یو بل ته (په نکاح سره) که چیرې ګمان کوي چه پابندي به کوي

حُدُودَ اللَّهِ ۗ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ

دَ پولو دَ الله تعالیٰ او دا پولې دَ الله تعالیٰ دي

يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٢٣٠﴾

الله بیانوي دا دَپاره دَ داسې قوم چه پوهه لري۔

داظلم دے۔ دریم حصر دَ ظلم یئې کړیں ے په لفظ اولٰئِكَ هُمْ اومعرفه راوړلو دَ الظالمون سره۔ او دا تعدي مستلزم ده ظلم لره په ځان باندے په سبب دَ ګناهونوکولو۔ اوظلم دَ خاوند لره په ښځه باندے اوظلم دَ ښځې لره په خاوند باندے۔

۲۳۰ په دے آیت کښ درے جملے دي او په دیکښ ذکر دَ دریم طلاق او دَ هغې نه پئې دَ حِل (حلال کیدلو) طریقه بیان کړیده۔ فَإِنْ طَلَّقَهَا، قرطبي وئیلي دي چه اجماع ده په دے باندے چه په دے لفظ کښ دریم طلاق مراد دے۔ نوکه تسریح کښ دریم طلاق ته اشاره وي نو هغه اجمال وُو او دا دَ هغې تفصیل دے۔ او که تسریح پریښودل دَ رجوع وي نو دا مستقل دریم طلاق ته اشاره ده اودلیل دا دے چه دلته یئې فا راوړے ده چه دلالت کوي په روستووالي دَ دے طلاق دَ مخکښ الطلاق مرتان نه۔ دویم دلیل دا دے چه ضمیر فاعل دَ طلقها راجع دے هغه خاوند ته چه مخکښ یئې دوه طلاقونه ورکړے دي او ضمیر دَ ها هغه ښځې ته راجع دے چه هغې ته یئې دوه طلاقونه ورکړے دي۔ او په حرف دَ فاء سره ذکرکول اشاره ده چه شرعي طریقه دا ده چه دریم طلاق دے دَ مخکښ دوه طلاقو سره نه جمع کوي بلکه روستو دِ ورکوي۔ نومعلومه شوه چه درے طلاق په یو ځائے یا په یو کلمه کښ جمع کول دَ طریقه شرعي نه خلاف کول دي دَ دے وجے نه علماء احناف هم هغې ته بدعي طلاق وائي۔

فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنْ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ - مِنْ بَعْدُ نه مراد روستو دَ دریم طلاق نه اولَهٗ ضمیر اول خاوند ته راجع دے۔ او حَتّٰی دَ غايئے دَ پاره دے۔ تَنْكِحَ کښې نسبت دلته ښځے ته کړے شوے دے ځکه چه دَ نکاح نه مراد دلته جماع ده صرف عقد دَ نکاح نه دے۔ یا دَ دے وجے نه چه په دے عبارت کښې اختصار دے۔ او احناف وائی چه دا دلیل دے چه ښځه عقد دَ نکاح کولے شی۔ زَوْجًا نه مراد دویم خاوند دے۔ هرکله چه دَ تَنْكِحَ نه مراد جماع شی نو زوجیت حاصل شوے دے په مخکښې عقد دَ نکاح کولو سره۔ او که دَ تَنْكِحَ نه مراد عقد شی نو زَوْجًا به مجازًا په اعتبار دَ مَا يَؤُولُ اِلَيْهِ سره وئیلے دے۔ او په دے لفظ کښې تصریح ده چه تحلیل په زنا کولو سره او په نکاح فاسد سره نه حاصلیږی ځکه چه هغے ته شرعًا زوج نشی وئیلے کیدے۔ غَيْرَهٗ لفظ کښې تاکید دے چه مخکښې زوج نه دے مراد بلکه دَ هغه نه غیر مراد دے۔

دَ دے نکاح نه وړاندے عدت تیریدل ضروری دی په دلیل دَ آیتونو دَ عدت سره او روستو دَ دے نکاح نه دَ تحلیل (حلالیدو) دَ پاره جماع دَ دویم خاوند شرط ده په دلیل دَ حدیث عسیله چه بخاری کتاب الشهادات کښې راوړے دے۔ او په نیز دَ بعض مفسرینو جماع ثابت ده په لفظ دَ تَنْكِحَ سره۔ او په دیکښې بعض فقهاؤ نسبت کړیدے سعید بن المسیب ته چه هغه دَ شرط نکولو دَ جماع قائل نه دے لیکن ابن کثیر په هغے باندے اعتراض کړے دے چه دَ سعید بن المسیب نه هم حدیث دَ عسیله نقل دَ قاڅره۔ سوال دا دے چه نکاح دَ دویم خاوند سره په شرط دَ تحلیل (چه هغوی ته محلل او محلل له وئیلے شی) دا نکاح صحیح دے او په دے سره تحلیل حاصلیږی او که نه؟ په دیکښې دَ اهل علمو اختلاف دے۔ دَ امام مالک، اوزاعی او سفیان ثوری په نیز دا نکاح فاسد او واجب الفسخ دے او په دے سره دَ اول خاوند دَ پاره حل (حلالیدل دَ ښځے) نه حاصلیږی او دلیل

دَ دوی هغه حدیث دے چه ترمذی او نسائی وغیره راوړے دے
چه لَعَنَ رسول الله صلی الله علیه وسلم اَلْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَهٗ۔
امام ترمذی وئیلی دی چه دا حدیث حسن صحیح دے او په دے
باندے عمر، عثمان او ابن عمرو رضی الله عنهم عمل کړیدے۔
او دا قول دَ سفیان ثوری، ابن مبارک، امام مالک، امام شافعی،
امام احمد او اسحاق رحمهم الله هم دے او وئیلی دی چه په
دے سره ویشتلے کیږی قول دَ اصحاب الرائے۔ او په سنن ابن
ماجه کښ په حدیث دَ عقبه بن عامر رضی الله عنه کښ محلل
ته تیس مستعار (دَ سوال پیسهٔ) وئیلی دی۔ او په حدیث
دَ مستدرک کښ دینه سفاح وئیلے دے (په معنیٰ دَ زنا) او په نیز
دَ ابی لیلی او یو روایت دَ اوزاعی دا نکاح جائز دے او شرط دَ تحلیل
باطل دے۔ او دَ امام ابوحنیفه رحمه الله نه دوه روایات دی یو
دا دے چه دخول یئے اوکړو نو نکاح دَ هغه مخکښ سره جائز دے
او تحلیل پرے حاصلیږی۔ او دویم روایت دا دے چه په دے
نکاح سره تحلیل نه راځی۔ په دے کښ نور اقوال هم قرطبی
ذکر کړی دی۔ ابن کثیر حدیث دَ لعن دَ محلل او دَ هغے په
معنیٰ کښ ټول اووه احادیث ذکر کړی دی او وئیلی دی چه دا
نکاح په نیز دَ جمهورو ائمو باطل دے۔ نو غوره دا ده چه په دے
نکاح سره تحلیل نه راځی او تاویلات دَ احناف وَ حدیث دَ ظاهر
ته خلاف دی۔
فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يَّتَرَاجَعَآ، په دے جمله کښ دَ
نکاح ثانی نه روستو دَ اول خاوند دَ پاره دَ تحلیل ذکر کوی چه دَ
هغے اول شرط طلاق ورکول دی دَ دویم خاوند دَ غے ښځے ته۔ او
دویم شرط عدت تیریدل دی او دریم شرط رضا دَ ښځے ده۔
عَلَيْهِمَآ ضمیر اول خاوند او ښځے ته راجع دے۔ يَّتَرَاجَعَآ (تراجع
نه مراد نوے عقد کول دَ نکاح دی سره دَ اراده دَ حسن معاشره
نه۔ اِنْ ظَنَّآ اَنْ يُّقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ، دَ ظن نه مراد علم دے لیکن
دَ مستقبل په باره کښ یقین نشی حاصلیدے دَ دے وجے

دَ هغې نه يې په ظن سره تعبير اوکړو - او حُدُودُ اللّٰهِ نه مراد حسن معاشره او ادا دَ حقوقِ واجبه دَ زوجينو ده - وَتِلْكَ حُدُودُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ، دَ تبيين دَ حدودو نه مراد دَ هغې ذکر کول دي په شه وضاحت او تفصيل سره - سرۀ دَ اشارې دَ حکمتونو او علتونو نه - لِقَوْمٍ کښې لام دَ پاره دَ انتفاع دے ځکه چه علم شرط دے دَ انتفاع دَ پاره - او لفظ دَ قوم اشاره ده چه اهل علم په سبب دَ علم سره قِوام او مضبوطوالے دَ معاشرے پيدا کوي -
مسئله دَ دريے طلاقو په يو کلمے سره يا په يو ځل سره چه په مينځ کښې يې هيڅ فاصله او نه ساتلے شي :- په دے کښې دَ اهلِ علمو څلور اقوال دي - اول قول دَ اکثر اهلِ علمو دے چه په دے طريقې سره دريے طلاق واقع کيږي او حکم دَ هغې تحليل دے - او دا قول دَ څلورو واړو اماماتو دے - دويم قول دَ علي، ابن مسعود، ابن عباس، عبد الرحمٰن بن عوف او زبير بن العوام رضوان اللّٰه تعالٰى اجمعين او محمد بن اسحاق، حجاج بن ارطات او طاؤس رحمهم اللّٰه عليهم (تابعينو) او دَ بعضِ اصحاب الظواهر او علماء دَ اندلس لکه محمد بن زنباع، محمد بن يقي بن مخلد، محمد بن عبد السلام الخشني، محمد بن مقاتل الرازي حنفي (دا طحاوي نقل کړيدے) اصلغ بن الحباب، احمد بن مغيث الطليطلي او شيخ الاسلام ابن تيميه او ابن قيم الجوزيه رحمهم اللّٰه عليهم دے - دَ دوي په نيز په دے سره يو طلاق رجعي واقع کيږي - دريم قول دَ مقاتل او داؤد ظاهري دے چه په دے سره هيڅ طلاق نه واقع کيږي - او ابن عاشور وئيلي دي چه دَ دے دواړو دا قول شاذ او باطل دے - او اجماع ده دَ مسلمانانو په دغے قول باندے دَ ترک دَ عمل سره - ځکه چه لفظ دَ طلاق موجود دے او نيت دَ طلاق هم شته نو بيا ولے طلاق نه واقع کيږي - څلورم قول دَ ابن جبير، عطاء، ابن دينار او جابر بن زيد رحمهم اللّٰه تعالٰى (تابعينو) دے - دوي وائي چه هر کله ښځه بکره (غير مدخول بها) وي نو په دے لفظ سره يو طلاق واقع

کیږي او تور دوه لغو شول - دوی وائي چه هر کله او وئیلې شو چه اَنْتِ طَالِقٌ (ته طلاقه یې) نو یو طلاق واقع شو او په هغې پاتې عدت نیشته نو دَ ثلاثاً (دریو) دَپاره محل باقي پاتې نه شو- په اول قول والوکښې اختلاف دے دَ اکثر اهلِ علمو او دَ امام ابو حنیفه رحمه الله په نیز په یو مخل درے طلاق ذکر کول یا په حیض او نفاس کښې طلاق ورکول دا بدعي طلاق دی یعني دَ سنت طریقے نه خلاف دی - او دَ امام شافعي رحمه الله په نیز دا بدعي نه دی- دَ اول قول والو دلیلونه دا دی: اول هغه روایات دی چه په هغې کښې ذکر دَ طلاق ثلاثه وارد دے چه یو دَ هغې نه حدیث دَ عویمر عجلاني دے په باب دَ لعان کښې چه هغه بخاري او مسلم راوړیدے په هغې کښې ذکر دی چه هغه خپله ښځه روستو دَ لعان نه په دریو طلاقو سره طلاقه کړه لیکن دا هغه وخت چه دَ ئے ته نبي کریم صلی الله علیه وسلم دَ هغې دَ تحریم خبر په لعان سره نه وو ورکړے- لیکن په دے حدیث کښې معلومه ده چه ښځه په دَ ئے باندے په لعان سره حرامه شوه نو محل دَ درے طلاقو پاتے نه شو بلکه هغه مهمل شو- شیخ الاسلام وئیلی دی چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې دَ دریو طلاقونو واقع کیدلو په باره کښې احادیث کذب دی او کوم چه صحیح دی نو هغې کښې درے متفرق طلاق مراد دی (فتاوی شیخ الاسلام جلد ۳۳ صفحه ۳۷)- دویم حدیث موطاء امام مالک دے په طریقه دَ بلاغ سره دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه چه یو سړي ورته اُوئیل چه ما خپله ښځه په سل طلاقه سره طلاقه کړیده نو هغه ورته اُوفرمائیل چه درے طلاق واقع شول او درے کم سل تا ټوقے کول دی په آیاتونو دَ الله تعالی پورے لیکن مخکښې ذکر شول چه علماؤ دَ ابن عباس رضی الله عنهما دویم قول ذکر کړیدے چه دا یو طلاق واقع کیږي نو دا تعارض دے دَ هغه په اقوالو کښې لیکن ابو داؤد وئیلی دی چه ابن عباس رضی الله عنهما دَ اول قول (دَ درے واقع کیدلو نه)

رجوع کړیده - عون المعبود جلد ۲ صفحه ۲۷۳ الصواعق المرسله جلد ۲ صفحه ۶۲۱ - دریم آلوسی وئیلی دی چه دا کار کړیدے یوے ډلے د صحابه کرامو ته او تورو په هغې یا تدے فتوی ورکړیده لیکن قاسمی وئیلی دی چه کتاب الله او سنت رسول الله او لغت د عربو او خلیفه اول د رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوبکر صدیق رضی الله عنه او دریے کلو ته د خلیفه ثانی عمر رضی الله عنه او هیڅ صحابی په خلاف یا تدے (یعنی په وقوع د دریے طلاقو یو سره) فتوی نه ده ورکړے. ابن قیم وئیلی دی چه دغه وخت کښ د هیڅ صحابی نه خلاف یا دوه اقوال (متضاد) نه دی نقل نو دا اجماع قدیم ده چه یو طلاق واقع کیږی په لفظ د دریے طلاقو سره (اغاثة اللهفان جلد ۱ صفحه ۳۳۵ - تحلو) استدلال د دوی دے په حکم د عمر رضی الله عنه او دا اجماع سکوتی ده او دا روایت د طاؤس دے د ابن عباس رضی الله عنهما نه چه په زمانه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او په خلافت د ابوبکر صدیق رضی الله عنه او دریے کاله خلافت د عمر رضی الله عنه کښ طلاق دا وو چه دریے طلاق به یو طلاق گرځولے کیدلشو بیا عمر رضی الله عنه اوفرمائیل چه خلقو تادی اوکړه په هغه کار کښ چه الله تعالیٰ په هغه کښ تعلیم آنات (دمه کول، تدریجا کول) ورکړیدے. تو موږ دا په دوی باندے جاری کوو نو جاری ئے کړو یعنی دریے طلاق ئے (په یو لفظ سره) دریے اوګرځول - لیکن دا فعل د عمر رضی الله عنه په طریقه د قضا او زجر سره دے یعنی دا د هغه اجتهاد دے. نو دا دے اجماع نه ده چه د دے مخالفت کول ناجائز وی - او امام شافعی، باقلانی امام غزالی او امام رازی رحمهم الله علیهم وئیلی دی چه اجماع سکوتی حجت شرعیه نه دے.

او د دویم قول والو دلیلونه دا دی :- اول دلیل ترتیب د کتاب الله دے چه اول ئے دوه طلاقونه ذکر کړیدی او روستو ئے دریم طلاق ذکر کړیدے - او په دے ترتیب کښ حکمت دا دے چه

اِنسان په انقطاع دَ نکاح کښې نادی اُونکړی بلکه دَ طلاق رجعی نه رجوع اوکړی۔ تو هر کله چه درې طلاقونه په یو ځائے واقع کړی نو دا حکمت برباد شو او دے حکمت باندے تصریح ده په سورة طلاق کښې (لعل الله يحدث بعد ذالك امراً)۔ دویم ابن مغیث وئیلی دی چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی اَوْ تَسْرِيْحٌ بِإِحْسَانٍ، لیکن واقع کوونکی دَ دریو طلاقو په یو کرت سره احسان اُونه کړو۔ دریم حدیث دَ ابن عباس رضی الله عنهما دے په صحیحین کښې چه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په وخت او په خلافت دَ ابوبکر رضی الله عنه او په ابتداء دَ خلافت دَ عمر رضی الله عنه کښې دا یو طلاق وو، دَ دے اول قول والو جواب کړیں ے چه دا حدیث دَ طاؤس وهم دے او غلط دے او دَ باقی صحابه کرامو او دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه خلاف دے لیکن ابوالولید الباجی وئیلی دی چه روایت دَ طاؤس بالکل درست او صحیح دے۔ دَ هغه نه لویو لویو آئمه کرامو روایت کړیں ے لکه معمر او ابن جریج وغیرهما او طاؤس هم امام دے په حدیثو کښې۔ او هر چه مخالفت دَ ابن عباس رضی الله عنهما دے دَ دغه روایت نه (دَ بعضو په نیز باندے) نو په دے سره روایت ته نقصان نه رسی بلکه په موند باندے واجب دے عمل په روایت مرفوعه دَ هغه باندے نه په رائے دَ هغه۔ څلورم دلیل حدیث دَ دارقطنی دے چه رکانه بن عبد یزید خپله ښځه په درے طلاقو سره طلاقه کړے وه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې نو هغه دغه دریواړه یو اوګرځوو او هغه ته یئے حکم دَ رجوع ورکړو اول قول والا وئیلی دی چه دا حدیث مضطرب دے۔ ابن عاشور وئیلی دی چه دَ دے اول قول والو دا جواب واهی دے اګرچه دا روایت په اعلیٰ مرتبه دَ صحت کښې نه دے۔ شیخ الاسلام وئیلی دی چه لویو آئمه کرامو چه علل دَ احادیثو پیژنی لکه امام احمد او امام بخاری، ابوعبید او ابن حزم حدیث دَ البتته ضعیف کړیں ے او راویان یئے مجهول دی۔

یا داچه مدینې والو به طلاق ثلاثه ته طلاق البتته وئیل مجموعه الفتاوی (جلد ۳۳-ص ۱۵-۶۷-۷۳)- پنځم دلیل روایت دَ دار قطنی دے حدیث دَ ابن عمر رضی الله عنهما چه هغه پخپله ښځه طلاقه کړے وه په درے طلاقو سره (دا زیادت په دے روایت کښ موجود دے) او نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه ته دَ رجوع کولو حکم ورکړے وو بیا یو طلاق یې اوګرځوو- لیکن دا حدیث ډیر ضعیف دے-او دلیل دَ دریم قول چه په لفظ دَ طلاق ثلاثه سره هیڅ طلاق نه واقع کیږی آیت وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ او الطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ او روستو تَسْرِيْحٌ بِاِحْسَانٍ یا فَاِنْ طَلَّقَهَا دے- هغوی وائی چه په قرآن کریم کښ ذکر دَ دریو نیشته په یو کلمے سره-لیکن محققین تیر شوی دی چه دا قول شاذ دے او طریقه دَ استدلال یې کمزورے ده-

فائده ۱:- دَ دے تفصیل نه معلومه شوه چه درے طلاق واقع کیدل په یو کلمے سره اجماعی مسئله نه ده اګر چه آئمه اربعه په دے باندے متفق دی لیکن دَ هغوی نه علاوه نور اهل علم شته چه دَ دے قول خلاف یې کړیدے.

فائده ۲:- که فکر اوکړے شی چه په درے طلاق واقع کیدلو سره اکثر جاهلان دروازه دَ حیلے دَ تحلیل پرانزی چه هغه صراحتًا دَ لعنت سبب دے-دَ دے وجے نه اهل افتاء له ضروری دی چه دَ طلاق ورکوونکی دَ حال مطابق فتوی ورکړی-دَ دے مسئلے دَ تفصیل دَ پاره فتاوی دَ شیخ الاسلام ابن تیمیه جلد ۳۲ صفحه ۸۷-۳۱۱ او جلد ۳۳ صفحه ۷-۱۳-۶۷-۷۱-۹۸-۱۳۰ او الصواعق المرسله جلد ۲ صفحه ۶۱۹ او اعلام الموقعین او اغاثه اللهفان دَ ابن قیم الجوزیه جلد اول صفحه ۳۲۵ ته مراجعه پکار ده هغوی په دے باره کښ مناسب بحث کړیدے.

فائده ۳:- دَ فعل دَ عمر رضی الله عنه جواب شیخ الاسلام په فتاوی کښ جلد ۳۳ صفحه ۹۲ باندے په تفصیل سره راوړے دے- اول دا چه دا اجتهاد دَ هغه دے- دویم دا چه دا عقوبت دَ

وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ

او کوم وخت چه طلاق ورکړے تاسو ښځو ته نو نزدے شي هغوی

اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ

نیټے د عدت خپل ته نو را ټینګ کړے هغوی په ښه طریقے سره

اَوْ سَرِّحُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ وَلَا تُمْسِكُوْهُنَّ

یا پریږدے هغوی لره په ښه طریقے سره او مه را ټینګوئ دوی لره

ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوْا وَمَنْ يَّفْعَلْ

د ضرر د پاره چه زیاتے اوکړے تاسو په هغوی باندے او چا چه اوکړو

ذٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ وَلَا تَتَّخِذُوْٓا

دا کار نو یقینا ظلم اوکړو هغه په خپل ځان باندے او مه نیسی

اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا وَّاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ

آیاتو نه د الله تعالی توقے کړے شوے او یاد کړئ تاسو نعمت د الله تعالی

عَلَيْكُمْ وَمَآ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ

په تاسو باندے او هغه چه نازل کړے دی الله تعالی په تاسو باندے د کتاب

وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهٖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

او د سنت نصیحت درکوی تاسو ته په دے سره او ویره کوی د الله تعالی نه

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ (٢٣١)

او پوهه شئ چه یقینًا الله تعالی په هر څیز باندے ښه علم لری۔

په وخت د حاجت کښ تو دا یو شرع لازم نه ده۔ دریم ابن قیم په اغاثه اللهفان جلد اول صفحه ٣٩۴ کښ روایت د ابو یعلی ذکر کړیے چه عمر رضی الله عنه په دے حکم باندے پښیمانه شوے وو د دے وجے نه چه روستو یے په هغے کښ مفاسد او د تحلیل د پاره باطلے حیلے کول اولیدل۔

م۲۳۱۔ دا عطف دے په فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا
باندے د قبیلې د عطف نه دے د یو حکم شرعي په بل حکم شرعي
باندے۔ او مقصد په آیت کښ رد دے په طریقه د جاهلیت باندے
چه دهغوي په نیز په رجوع کولو کښ تعداد نه وو او رجوع به ئې
زنانه ته د ضرر ورکولو د پاره کوله۔
سوال:۔ دا مضمون خو مخکښ فامساك بمعروف کښ تیر شوي نو
تکرار ئې ولے او کړو؟۔
جواب ۱۔ مخکښ آیت کښ مقصد تفریق د طلقاتو وو او په دے
آیت کښ کیفیت د امساك ذکر کوي۔
جواب ۲۔ هلته صرف اختیار د امریتو ذکر وو بیتي امساك او تسریح
او دلته تردید دے د جاهلیت د طریقے۔
فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ، بلوغ الاجل په حقیقت کښ رسیدل دي آخري
نیتے ته لکه چه روستو آیت کښ دا معنیٰ مراد ده۔ او مجازاً دا په معنیٰ
د نزدیکت د نیتے دے او دیته مجاز مشارفت ویلے شي په دے
قرینه سره چه دلته حکم د امساك دے او روستو د عدت
تیریدلو نه امساك نشي کولے۔ اجل په کلام د عربو کښ
هغه مدت ته ویلے شي چه مهلت ورکړے شي یو شخص ته
په وخت د یو کار معین کښ نو اجل د مدت آخر ته ویلے شي
زنانه ته د بلوغ نسبت د دے وجے نه شوے دے چه هغوي
د دے اجل انتظار کوي د پاره د تحلیل د بل نکاح او د دے وجے
نه اضافت د اجل هم دوي ته او کړے شو۔ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ
دا ئې په تسریح باندے مقدم کړو د پاره د شوره والي او ترغیب
د دے۔ او امساك نه مراد رجوع کول دي۔ او هغه د بعض علماؤ
په نیز خاص ده په قول (ردینا) پورے او د بعضو په نیز په
قول او په جماع دواړو سره به کیدے شي۔ معروف نه مراد
د ښځے حقوق ادا کول دي او دا رنګ ښځے ته ضرر نه ورکول۔
أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ، دا ئې د نفس جواز او اتمام د اختیار د
پاره ذکر کړے دے۔ او معروف نه مراد هغه احسان دے چه

مخکښې آیت کښې تېر شوے وو۔

فائده:۔ مخکښې آیت کښې دَ احسان ذکر وو او دلته ذکر دَ معروف دے دَ دے حکمت څه دے؟ اول داچه په دے آیت کښې معروف نه مقصد منع ده دَ ضرر ورکولو نه۔ تو چه دَ چا دَ ضرر بره کېدل يشي دَ هغه نه مطالبه دَ احسان نه کېږي۔ او په هغه آیت کښې صرف تخییر (اختیار) ذکر وو نو دَ هغے سره احسان مناسب وو۔ دویم داچه معروف ادنیٰ دے دَ احسان نه تو هرکله چه مخکښې آیت کښې دَ تسریح سره احسان ذکر وو تو وهم راغے چه دَ تسریح سره احسان واجب دے۔ تو دلته اووئیلے شو چه دَ تسریح سره صرف معروف واجب دے او احسان امر استحبابي دے۔

وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوا، دا رد دے په طریقه دَ جاهلیت باندے چه بو سړی به ښځه طلاقه کړه تو بیا به یې ورته رجوع اوکړه او حاجت به یې ورته نه وو او دَ امساك اراده به یې هم نه وه مقصد یې دا وو چه دَ هغے عدت اوږد شي او تنګه شي۔

سوال:۔ دا مقصد خو په فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ، سره حاصل شو تو تکرار کښې څه فائده ده؟

جواب:۔ دوه فائدے دي۔ اول داچه امر دَ امساك بالمعروف کښې دَ دوام افاده نه کوله تو نهی یې کړ دے دَ پاره راوړه چه ټولو اوقاتو ته شامل شي او عام شي۔ دویمه فائده دا ده چه ضرار ډیر قبیح وو تو دَ هغے دَ نهی دَ پاره تصریح ضروری وه۔

ضِرَارًا مفعول له دے او په دیکښې اوږد والے دَ عدت او ناکاره معاشرت او تنګوالے دَ نفقے وغیره داخل دي۔

لِتَعْتَدُوا متعلق دے په ضرارًا پورے او دا علت دَ علت دے یا لام دَ عاقبت دَ پاره دے او متعلق دے په لَا تُمْسِكُوهُنَّ پورے او اعتداء دلته عامه ده یعني اعتداء کول په ښځه باندے او په احکامو دَ الله تعالیٰ باندے۔ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ، په دیکښې دَ یو وهم رد کول مقصد دے۔ لکه چه مخکښې معلومه شوه چه ضرر ورکول او زیاتے کول په ښځه باندے دے او دا

خو دۀ په نفس باندې هیڅ اثر نه کوي نو په دې جملې سره دغه
وهم رد کوي چه داعين په خپل ځان باندې ظلم دې او د ظلم
کولو په ځان باندې دوه مقصد و نه دي یو دا چه ځان د الله تعالیٰ
عتاب ته پیش کول دي دویم دا چه د دُنیا او د دین منافع په
ځان باندې بندول دي- د دُنیا منافع بند بیول دا دي چه په
خلقو کښې به دا مشهوره شي چه دا انسان قبیح او بد اخلاقو والا
دې نو څوک به ورسره معامله نه کوي او نه به ورله بله ښځه
څوک ورکوي- او دیني منافع بند بیول دا دي چه په حسن
معاشرت او احکامو د الله تعالیٰ سره کوم ثواب حاصلیږي د هغې نه
به محرومه شي- وَلَا تَتَّخِذُوٓا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا، د احکامو او د زنانو
د حقوقو ذکر کولو نه روستو دا جمله یې د تاکید د پاره راوړه ځکه
چه جاهلیت والا او اکثر عوام د زنانو د حقوقو په ادا کولو کښې بې
پروائي او سستي کوي. هُزُوًا، په اصل کښې استخفاف ته
وئیلې شي او د آیاتو نو استخفاف دا دې چه څوک ورباندې
عمل نه کوي او دا په معنیٰ د مَهْزُوًّا بِهٖ سره دې- او د دې د
لاندې هغه څوک داخل دې چه د الله تعالیٰ په احکامو پورې
مسخرې کوي او هغه څوک چه کفر کوي په دې باندې او هغه
څوک چه عمل ورباندې نه کوي- دارنګ هغه څوک چه
طلاق، او اعتاق (آزادول د مریٔ) او نکاح کوي او بیا وائي چه
دا خو مالوبې او ټوقې کولې- او دا د جاهلیت والو طریقه وه-
دارنګ هغه څوک چه په یو ګناه باندې پوخ وي او کلمه
استغفار نه وائي- دارنګ هغه څوک چه په تعداد د طلاق
کښې د دریو نه تجاوز کوي- او دا قول قرطبي او ابو حیان لیکلی دی.
وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ، په دې جمله کښې تاکید د امتثال
د احکامو متکنو دې- او مقابل دې د اتخاذ بالهزو سره. د نعمت
نه مراد اسلام او بیان د احکامو دې او رالیږل د رسول دي
په هدایت او بینا تو سره- او د ذکر نه مراد شکر کول او په هغې
باندې عمل کول دي-

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ

او کله چه طلاق ورکړئ تاسو ښځو لره	نو اورسیږي هغوی ورځې دَ عدت ته

فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَنْكِحْنَ

نو مه	منع کوئ	هغوی لره	چه	نکاح کوي

وَمَآ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهٖ، دا په نِعْمَةَ اللّٰهِ
باندې معطوف دے۔ او دا عطف دَ خاص دے په عام باندې۔
دارنګ دا تفصیل او تفسیر دَ هغه اجمال دے چه په نِعْمَتَ
کښې دۀ۔ عَلَيْكُمْ کښې اشاره ده شرافت دَ اُمت ته او مکلف
کیدلو ته په اتباع باندې اګرچه انزال صرف په رسول صلی الله
علیه وسلم باندې کړے شوے دے۔ اَلْكِتَابِ نه مراد قرآن
کریم او حکمت نه مراد سنت دے۔(ابن کثیر۔ قرطبي۔ ابوحیان)۔
ابوحیان وئیلی دي چه دا دلالت کوي چه سنت هم منزل مِنَ الله
دے لکه په سورة نجم ۳ کښې دي۔ يَعِظُكُمْ بِهٖ حال دے دَ ضمیر
دَ انزال نه۔ یا ما مبتداء ده او يَعِظُكُمْ یئے خبر دے۔ وعظ په اصل
کښې زجر او منع ته وئیلے شي او دا هغه اوامرو، نواهي او تخویفاتو ته
شامل دے چه په قرآن او سنت کښې دي۔ وَاتَّقُوا اللّٰهَ، دا جمله
تاکید دے دَ پاره دَ عمل کولو په مواعظو دَ کتاب الله او سنتِ
رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې او اشاره ده چه په
عمل کولو سره په کتاب او سنت باندې تقوٰی پیدا کیږي۔
وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ، هر کله چه په اعمالو کښې څه
ښکاره وي او څه پټ وي او دارنګ دَ ګوډونکو په نیتونو کښې هم فرق
وي نو دَ دے تنبیه دَ پاره دا جمله ذکر شوه۔ وَاعْلَمُوْٓا کښې اشاره
ده چه انسان په وخت دَ مخالفت دَ کتاب او سنت کښې پشان
دَ جاهل دے۔ په صفت دَ علم دَ الله تعالی بِكُلِّ شَيْءٍ نه پوهیږي
دارنګ په دے امر کښې دوام دَ علم مراد دے۔ او دا سے علم او
اعتقاد علاج دے دَ پاره دَ عمل کولو په کتاب او سنت باندې
او دَ پاره دَ تقوٰی پیدا کیدلو۔

أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُم بِالْمَعْرُوفِ

دَ خاوندانو خپلو سره کله چه رضا شئ په مینځ خپل کښ په ښه طریقے سره

ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِ مَن كَانَ مِنكُمْ

دا حکم وعظ ورکیدیشی په دے سره هغه چاته چه وی ستاسو نه

يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۗ

ایمان لری په الله تعالیٰ او په ورځ روستنئ باندے

ذَٰلِكُمْ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَأَطْهَرُ ۗ

دا کار ډیر کوډنګے دے تاسولره دَ بدنامئ نه او پاکوډنګے دے

وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٢﴾

او الله تعالیٰ پوهیږی په هر څیز او تاسو نه پوهیږئ په هر څیز باندے.

۲۳۲ په دے آیت کښ یوولسم امر دے دَ اُمور وکرتنبیر منزل ته او مقصد په دیکښ رد دے دَ رسم دَ جاهلیت چه هغوی به ښځه منع کوله روستو دَ طلاق او عدت ختمیدلو نه دَ دویم نکاح کولو نه - که دَ مخکښ خاوند سره وی او که دَ بل سره وی - او په دے آیت کښ حکم دے په اجتناب کولو سره دَ دا سے رسم نه او په دیکښ هم دوه جهتونه دی یو جهت غیرت نفسانی او دویم حکم شرعی - دَ اول نه ځان ساتل لازم دی او په دویم عمل کول ضروری دی - ربط ۱ :- مخکښ رد وو په رسم دَ جاهلیت باندے په تعداد او ضرار دَ رجوع کولو کښ اوس رد دے په بل رسم باندے -

ربط ۲ :- مخکښ حکم متعلق وو دَ حالت دَ عدت سره او دا متعلق دے دَ مابعد دَ عدت سره -

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ ، دَ آیت سبب نزول دَ ښځے دَ هغه ولی په باره کښ دے چه هغه ښځے دَ طلاق او عدت تیریدلو نه روستو غوښتل چه نکاح اوکړی دَ اول خاوند سره او ولی هغه منع کوله - او دا روایت امام بخاری دَ معقل بن یسار او دَ هغه دَ خور په باره کښ ذکر

کړیږي - بنا په دے قول باندے خطاب اولیاؤ د نکاح د ښځے ته دے - او نسبت د طلاق مجازی ته په طریقه د مجاز سره دے او نسبت د عضل حقیقتاً دے - او د ابن عباس رضی الله عنهما او زهری او ضحاک نه روایت دے چه دا آیت په باره د هر هغه چاکښ نازل شوے چه منع کوی بوره ښځه روستو د طلاق او عدت نه د بل نکاح کولو نه اګرچه د بل خاوند سره وی - بنا په دے قول خطابات خاوند انو ته دی چه هغوی طلاق ورکړی او بیا د غیرت نفسانی د وجے هغه ښځه د بل چا سره د نکاح نه منع کوی - غوره داده چه آیت دواړو ته عام دے -

فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ، دلته بلوغ په معنی حقیقی سره دے یعنی چه ختم شی نیټه د عدت - فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ اَنْ یَّنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ، بنا په اول قول دا خطاب اولیاؤ ته دے او د اَزْوَاجَهُنَّ نه مخکښ خاوند مراد دے په طریقه د مجاز (مَاكَانَ) سره - او بنا په دویم قول دا خطاب اول خاوند ته دے او ازواج نه مراد دویم خاوند دے په اعتبار د مجاز مشارفت سره (مَایكون) - عضل په اصل کښ تنګولو ته وئیلے شی او په منع باندے ئے اطلاق کیږي ځکه یعنی تنګول سبب شی د پاره د منع کولو - او طریقے د عضل د اولیاؤ د طرف نه منع کول د ښځے دی په زور او قهر سره او د خاوند د عضل طریقے ډیرے دی لکه انکار کول د طلاق نه، دعوی د رجوع کولو، په بل خاوند باندے دباؤ کول یا د هغه ښځے سره د نکاح نه تور خلق منع کول او متنفر کول په بیان د بد خویئ وغیره د هغے سره - اِذَا تَرَاضَوْا بَیْنَهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ، ضمیر د تَرَاضَوْا او بَیْنَهُمْ راجع دے زنانه او طلب ګوونکی د نکاح د هغے ته - یا راجع دے اولیاؤ ته او خاوندانو ته - المعروف نه مراد عقد د نکاح، او جائز مهر او عادل ګواهان او عدم اضرار دے -

ذٰلِكَ یُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ، هر کله چه د رسم او رواج نه مخالفت کول په نفسونو باندے ګران دی نو د دے وجے نه دړے تاکیدات ذکر کوی - اول تاکید په دے

وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ

او مائندې به پئ ورکوي بچو خپلو ته

حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ

دوه کاله پوره هغه چالره چه غواړي چه

جمله کښې يعنې دَ ايمان تقاضا دا ده چه په دے حکم باندے عمل اوکړے شي۔ ذٰلِكَ کښې اشاره ده تهې دَ عضل ته۔ يوعظ نه مراد تذکير او تخويف دے۔ ايمان بالله نه مراد ايمان دے دَ الله تعالىٰ په احکامو شرعيو باندے۔ او ايمان باليوم الاخر نه مراد خوف دے دَ عذاب دَ ورځ دَ آخرت نه په سبب دَ مخالفت کولو دَ احکام الٰهيه نه۔ ذٰلِكُمْ اَزْكٰى لَكُمْ وَاَطْهَرُ، دا دَ تاکيد دويمه جمله ده په طور دَ ترغيب روستو دَ تخويف نه۔ ذٰلِكُمْ کښې اشاره ده اجازت دَ نکاح ورکولو دغه ښځے ته۔ اَزْكٰى دَ زکاة نه اخستلے شويدے په معنىٰ دَ زياتوالي يعنې سبب دَ زيات ثواب دے په آخرت کښې يا سبب دَ ترقئ او برکاتو دے په دُنيا کښې۔ وَاَطْهَرُ نه مراد ازاله دَ گناهونو ده۔ يا اَزْكٰى نه مراد دَ ين تامے نه بچ کول دي او اَطْهَر نه مراد پاکوالے دَ ښځے خاوند دے دَ فحش کارئ نه۔ ځکه چه هر کله سړے او ښځه غواړي چه دَ دوي نکاح شرعي اُوشي او خوک يے منع کوي نو کيدے شي چه دَ هغوي په مينځ کښې غلط تعلق پيدا شي، نو په هغے سره اولياء دَ ښځے بدنام شي او هغه ښځه او سړے هم په گناه کښې واقع شي۔ وَاللهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ، دا دَ تاکيد دريمه جمله ده او په دے کښې فرق دَ حکم شرعي او رسم و رواج ته اشاره ده چه دَ الله تعالىٰ په احکامو کښې مصلحتونه او فائدے دَ انسان شته چه دَ هغے په تفسير باندے الله تعالىٰ عالم دے۔ او انسان په هغے علم نه لري۔ نو انسان باندے لازم دي چه رسم او رواج پريږدي او دَ حکم شرعي تابع شي۔ دا سے په آيت ۲۱۶ کښې هم تير شوي دي۔

يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ ؕ وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ

چه پوره کړي موده د تي ورکولو او په پلار د بچي باندے

رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ

(واجب ده) خوراک د هغوی او جامه د هغوی د عرف موافق

لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَا تُضَآرَّ

تکلیف نشي ورکیدلے هیڅ نفس ته مګر په قدر د وس د هغه ضرر دِ نه ورکوي

وَالِدَةٌ ۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ

مور په سبب د بچي د هغې سره او نه پلار

بِوَلَدِهٖ ۗ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ

په سبب د بچي سره او لازم ده په دغه بچي (وارث) باندے پشان

ذٰلِكَ ۚ فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ

د دغه خرچ دے نو که چرے اراده لري دوی د پیو ته پریکول په رضا منتیا

مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ؕ

د دے دواړو سره او په مشوره د دے دواړو سره نو نیشته ګناه پرے دواړو باندے

وَاِنْ اَرَدْتُّمْ اَنْ تَسْتَرْضِعُوْٓا

او که چرے اراده کوئ تاسو چه پیو ورکولو د پاره مور او نیسئ

اَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِذَا

د پاره د اولاد ستاسو نو نیشته ګناه په تاسو باندے کله چه

سَلَّمْتُمْ مَّآ اٰتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوْفِ

پوره ورکړئ تاسو هغه چه مقرر کړے وی تاسو د عرف په موافق

وَاتَّقُوا اللّٰہَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰہَ

او ویرہ کوئ دَ اللہ تعالیٰ نه او پوهه شئ چه یقیناً اللہ تعالیٰ

بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ ﴿۲۳۳﴾

په هغه کارونو چه تاسو کوئ لیدونکے دے۔

۲۳۳ په دے آیت کښ دولسم امر دے دَ اُمورو دَ تس بیرمنزل نه چه په هغے کښ روستو دَ طلاق او دَ عدت نه طریقه دَ تربیت دَ اولاد ذکر کوی۔ تو مقصد په دیکښ اجتناب کول دی دَ بربادئ دَ اولاد نه په دغه حالت کښ۔

ربط له :۔ په مخکښ آیت کښ یو حکم ذکر شو روستو دَ طلاق او عدت نه او په هغے کښ تردید وو په زنانه باندے دَ ظلم کولو نه په باره دَ نکاح کولو کښ نو اُوس په دغه حالت کښ تردید دَ ظلم دے په زنانه باندے په باره دَ ارضاع (پئ ورکولو) دَ ولد کښ لکه چه جاهلیت والو داسے کول۔ ۲له دا رنګ هر کله چه بعض طلاق کوکرے شو و باندے روستو دَ عدت تیریدلو نه بل نکاح مشکل شی دَ وجے دَ پئ ورکولو نه بچی ته ځکه چه هغه ځان له تفقه نه موجی تو دَ بچی دَ وجے نه دَ پلار او مور په میځ کښ دَ سخت اختلاف پیدا کیدلو خطره ده نو دَ هغے تفصیلی حکم په دے آیت کښ ذکر کوی۔ او په دے آیت کښ نهه جملے دی او هره جمله کښ جدا جدا حکم او مقصد دے اوله جمله دا ده وَالْوَالِدٰتُ یُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَیْنِ کَامِلَیْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ یُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ، دا عطف دے په مضمون دَ مخکښ آیت باندے او وجه دَ مناسبت مخکښ ذکر شوه۔ وَالْوَالِدٰتُ کښ دوه احتمالات دی۔ اول دا چه دا عام دے هرے یوے مور ته که په نکاح کښ وی او مطلقه وی ځکه چه لفظ عام دے۔ دویم دا چه دَ دیته مراد صرف هغه دی چه طلاقے شوے وی او عدت ئے تیر شوے وی۔ او دا قول غوره دے دَ څلورو وجونه۔ اوله وجه چه دا په مخکښ آیت باندے عطف دے او هلته دا خاص قسم ښځه مراد ده۔ دویمه وجه دا ده چه

اختلاف په مدت د رضاع د بچي کيښ په حال د نکاح کيښ نه پيدا کيږي بلکه روستو د فراق (جدا ايئ) نه اختلاف راځي - د دې يمه وجه روستو يئے وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ وئيلي دے او په حال د نکاح او بعض اقساموٰ د عدت کيښ خو نفقه او جامه د ښځے بغير د ارضاع نه په خاوند واجب وی - څلورمه وجه داده چه روستو د طلاق نه د ښځے خاوند په مينځ کيښ بغض او نفرت پيدا شی نو کله ښځه بچي ته تکليف ورکوی د دوو وجوته - يو دا چه نفقه نه مومي او بل دا چه د بل خاوند رغبت لری او بل خاوند دغه بچي لره نه غواړی - او د دے وجو په بنا بانديے دلته يئے وَالزَّوْجَاتُ نه دی وئيلي بلکه وَالْوَالِدَاتُ يئے وئيلي دی - يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ خبر دے په معنیٰ د امر ليکن دا امر د استحباب د پاره دے په دليل د سورة طلاق سره - هاں ارضاع حق د مور دے نو هر کله چه مور په ارضاع بانديے رضا او خوشحاله وی او اجرت نه غواړی يا غواړی ليکن پلار يئے مالدار وی نو د هغے د رضا نه بغير پلار يئے په ارضاع سره بل چا ته نشی ورکولے - حَوْلَيْنِ، حول په اصل کيښ گرځيدلو ته وائی - او کال ته حول ځکه وئيلي شی چه هغه په اعتبار د مختلف موسمونو سره گرځی - او مراد د حول (کال) نه حول قمری دے ځکه چه په شرع کيښ ديته اعتبار دے - كَامِلَيْنِ کيښ دفع د وهم ده چه اکثره حصه د کال نه مراد نه ده بلکه پوره کال (دولس مياشتے) مراد دے - لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ، د دے مبتداء پټه ده يعنی هذا الحكم لِمَنْ آه - او د مَنْ نه مراد پلار او مور د بچي دی او که پلار مړ وی نو د هغه قريبی وارث مراد دے - يعنی چه يو د دوی نه اراده لری په پوره کولو د مدت د رضاع او بل انکار کوی نو دغه حکم دے او که دواړه رضا شی په نه پوره کولو د ټول مدت نو د هغے حکم روستو ذکر کوی په فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا سره -

فائده:- د رضاع په پوره مدت کيښ اختلاف دے د اکثر اهل علمو په نيز بانديے چه د هغوی نه عمر، ابن عباس او ابن

مسعود رضی الله عنهم دی. او و رسره قول د زهری و قتادة او
شعبی و سفیان ثوری، اوزاعی، امام شافعی، امام احمد، ابو یوسف
او محمد بن حسن رحمهم الله وغیرهم دی. چه اکثر مدت د رضاعت
دوه کاله دے د هغے نه زیادت کول منع دی په دلیل د دے آیت
سره چه په دیکښ ذکر د حولین تثنیه بیا لفظ د کاملین بیا
لفظ د یُتِمَّ الرَّضَاعَةَ په دے پانسے شکاره دلیلونه دی. او په نیز د
امام ابو حنیفه رحمه الله مدت دوه نیم کاله دے په دلیل د حَمْلُهٗ
وَفِصَالُهٗ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا، چه ثلاثون صرف د فصاله سره متعلق
شی. لیکن دا تفریق د بلاغت د کلام نه یعید دے. او د ابن عباس
رضی الله عنهما نه بل روایت دے چه دوه کاله د هغه بچی د پاره
چه په رحم د مور کښ شپږ میاشتے پاتے شی او که اووه میاشتے
پاتے شی نو بیا مدت د رضاعت دیرویشت میاشتے دے. او که
اته میاشتے وی نو بیا به دوویشت میاشتے رضاعت وی او که
نهه میاشتے وی (لکه دا اکثر واقع ده) نو بیا به مدت د رضاعت
یوویشت میاشتے وی. نو په آیت د سورة احقاف کښ تداخل
دے په مینځ د مدت د حمل او د مدت د رضاع کښ. د دے نور تفصیل
په سورة احقاف کښ راځی. وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ
بِالْمَعْرُوْفِ، دا دویمه جمله ده په دیکښ ذکر د نفقے او د لباس
د مرضعے (ریئی ورکوونکی) دے په پلار د بچی باندے. اَلْمَوْلُوْدِ لَهٗ
پلار د بچی دے. لفظ د والد یا آب یئے ذکر نه کړو ځکه چه په دے
لفظ کښ دوه فائدے دی اول ذکر د نعمت الٰهیه دے په پلار
باندے د دے د پاره چه دے نفقه د مرضعے ادا کړی. دویمه دا چه
نسب په اصل کښ په پلار پسے ځی (او د دینه په قرینه د بعض
نصوصو سره آل د رسول صلی الله علیه وسلم مستثنیٰ دی لکه
حسن او حسین رضی الله عنهما. ځکه چه د هغوی نسل او د هغوی
نسب په حیلے مور فاطمه رضی الله عنها پسے ځی. او بیا ئے رسول الله صلی الله علیه
وسلم ته نسبت کیږی. او د رزق نه مراد خوراک څښناک دے
او د کسوت نه مراد لباس دے. بِالْمَعْرُوْفِ، د عرف نه ماخوذ دے

په اعتبار د جنس د رزق او لباس سره - او په مقدار کښې عرف ته اعتبار دے۔ هر کله چه په دے باب کښې ښځې و رکوو تکے زیاته اکثر د نقدو روپو اشرفو تقاضا نه کوی بلکه کفایت د نفقے او کسوت طلب کوی د دے وجے نه د هغې تخصیص اوکړے شو - لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا، دا د ریمه جمله ده په دیکښې اشاره ده چه نفقه اوکسوت کښې مالی حال د پلار ته اعتبار دے - په دے کښې څه څه تحدید د مقدار تیښته چه دومره او دومره به وی نو د نفس نه مراد دلته پلار دے - یا دا چه مور یا تره ے تنګسیا په نفقه کښې او په پلار یا تره ے په طور د اسراف سره نفقه نشی کیخودلے یا دا په خپل عموم یا تره ے حمل دے - ټولو احکاموته اشاره ده لکه د دے سورت په آیت ۲۸۶ کښې دی او حکم د نفقے پکښې داخل دے - تکلیف په اصل کښې هغه حکم دے چه د هغې په کولو سره اثر د مشقت په مخ یا یدن کښې ښکاره شی (لکه کلف الوجه) او شرعًا هغه ټولو احکام واجبه ته وئیلے شی چه د الله تعالیٰ د طرف نه په هر عاقل بالغ سړی یا ښځه یا تره ے کیښودلے شوے وی - وَسعَ په اصل کښې فراخئ د لوښی ته وئیلے شی او مراد د دینه طاقت دے ګویا که طاقت د نفس پشان د فراخ لوښی ګرځولے شوے دے دا احکام شرعیه د پاره - لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ بِوَلَدِهٖ، دا څلورمه جمله ده او تفریع یا تفسیر دے د مخکښې جملے - یعنی مورله نه دی جائز چه زیات اُجرت غواړی د بچی د پلار نه یا انکار کوی د رضاعت نه سره د طاقت لرلو نه او دا رنګ پلار له نه دی جائز چه د بچی موړله د بیو ورکولو نه منع کړی یا انکار د نفقے ورکولو نه اوکړی - په لَا تُضَآرَّ کښې دوه احتمالات دی - اول دا صیغه د مجهول ده په اصل کښې لَا تُضَارَرُ دے او مخکښې معنی د دے احتمال مطابق ده - او په دے کښې والدهٔ نائب فاعل دے - دویم احتمال دا دے چه دا صیغه د معلوم ده په اصل کښې لَا تُضَارِرُ دے او والدهٔ ئے فاعل دے - نو معنی دا ده چه مور دے په سبب د بچی پلار ته تنګوی چه ډیر اُجرت

ترینه غواړی او یا د ارضاع نه انکار اوکړی۔ او پلار به په سبب د بچی مور ته تنګوی چه د ارضاع نه یې منع کوی یا ورله نفقه نه ورکوی۔ دلته د ولد (بچی) اضافت مور او پلار دواړو ته کړے شوے دے د پاره د شفقت کولو اګرچه نسب صرف د پلار د پاره وو د دے وجے نه یې مَوْلُوْدٌ لَّهٗ ذکر کړو۔

وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ، دا پنځمه جمله ده او دا معطوف ده په عَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ باندے او په مینځ کښ یې جملے معترضے دی۔ د لفظ الْوَارِثِ په مصداق کښ شپږ اقوال قرطبی او ابوحیان ذکر کړی دی لیکن صحیح قول په دیکښ د ضحاک، قبیصه او بشیر بن نصر وغیره دے چه مراد د دینه دغه مرضع (رېئ خوړونکے) بچے دے چه هرکله د دهٔ پلار مړشی او په میراث کښ دغه بچی ته څه حصه ورکړے شی نو د هغې حصے نه به د مور (رېئ ورکوونکے) نفقه او کسوت ادا کیږے شی۔ هاں که چرے وراثت کښ بچی ته مال اونه رسیږی نو بیا وارث د دغه بچی مراد دے او وجه د صحت د دے قول دا ده چه الْوَارِث اسم فاعل هغه چاته وئیلے شی چه فی الحال په هغه کښ صفت د وراثت موجود وی او هغه دغه بچے دے روستو د مرګ د پلار نه۔ نو الْوَارِث کښ الف لام بدل دی د مضاف الیه نه یعنی وارث المولودله۔ مِثْلُ ذٰلِكَ کښ اشاره ده نفقے او کسوت نه د عرف مطابق سره د عدم اضرار نه۔

فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا، دا شپږمه جمله ده او د اولے جملے سره متعلق ده۔ او دلیل دے چه پئ ورکول تر دوو کلونو پورے مکمل واجب نه دی۔ اَرَادَا، مِنْهُمَا، او عَلَيْهِمَا ضمیرونه د تثنیے مور او پلار ته راجع دی۔ فِصَال او فطام دواړه په یو معنیٰ سره دی یعنی جدا کول او پریکول د بچی د پیو خوړلو نه د مور نه۔ عَنْ په معنیٰ د بَعْدَ دے یا اجلیه دے۔ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا کښ مراد دا دے چه دا اراده د پریکولو د بچی د پیو نه د دواړو په رضا سره به وی د اضطرار یا د خوف د وجے نه

په نه وي - تَشَاوُرٍ کښې اشاره ده چه بعضې وخت مور او پلار هسې رضاشي په فصال باندې مشوره يئ نه وي کړې - او مقصد په مشوره کښې رائې او فکر استعمالول دي په باره دَ مصلحت دَ بچي کښې - نو بغير دَ مشورې نه رضا مندي فائده نه ورکوي - مشوره په اصل کښې استخراج دَ رائې ته وئيلې شي نو هغه خاحجابل ملکري ته حاجت لري دَ دې وجې نه په دې کښې باب تفاعل يا مفاعله ذکر کيږي - فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا نه مراد دا دې چه ځکښ دَ پوره کيدو دَ دوه کالو نه په دې فصال کښې گناه نيشته په مور او پلار باندې -

وَإِنْ أَرَدْتُّمْ أَنْ تَسْتَرْضِعُوا أَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُمْ مَّا آتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوفِ، دا اوومه جمله ده - او دا خطاب دې پلار او او ميانو ته په طريقه دَ التفات دَ غائب نه خطاب ته - نو په دې جمله کښې مستقل حکم دې دَ استرضاع دَ پردئ ښځې او دا په هغه وخت کښې چه دَ بچي حيله مور دَ ارضاع نه معذوره وي يا انکار اوکړي بغير دَ عذر نه ليکن رضا شي دواړه (مور او پلار) په استرضاع (رضاعي مور نيولو) باندې - استرضاع وئيلې شي طلب دَ مرضعې ته أَوْلَادَكُمْ کښې لام پټه دې - او استرضاع په اُجرت سره وي ځکه يئ ورپسې شرط ذکر کړو په إِذَا سَلَّمْتُمْ سره او تسليم کښې معنئ دَ پوره ورکولو دَ اُجرت ده يعني چه په مقرر اُجرت کښې په نقصان نه کوي - مَّا آتَيْتُمْ نه مراد هغه اُجرت دې چه په رضا او اتفاق دَ جانبينو سره مقرر کړې شوې وي - او دَ زمخشري په نيز دَ ديته مراد هغه دې چه تاسو اراده کړې وي دَ هغې دَ ورکولو - بِالْمَعْرُوفِ نه مراد دَ عرف مطابق دې چه ډير زيات او ډير کم هم نه وي او اداکولو کښې يئ ټال متهول هم نه کوي يا ترينه مراد مدت شرعيه دَ ارضاع دې - وَاتَّقُوا اللهَ، دا اتمه جمله ده اشاره ده چه په دې احکامو او عقل دَ اجاره دَ مرضعه کښې دَ امور شرعيه رعايت کوئ - وَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ، دا نهمه جمله ده - او دَ تذکير او تنبيه دَ پاره ده - بصير صفت دَ الله تعالىٰ دې بغير دَ تشبيه او تمثيل نه او بغير دَ تاويل او تحريف نه -

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا

او هغه کسان چه مړه کړے شي ستاسو نه او پرېږدي ښځے

يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ

انتظار دِ کوي په خپلو ځانونو باندے څلور میاشتے

وَعَشْرًا ۖ فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ

او لس شپے نو کله چه اورسي دوي نیټے دَ عدت خپل ته نو نیشته ګناه

عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنفُسِهِنَّ

په تاسو باندے په هغه کار کښ چه کوي دوي په باره دَ ځانونو خپلو کښ

بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٣٤﴾

په نیکه طریقه او الله تعالی ستاسو په عملونو باندے خبردار دے

۲۳۴ په دے آیت کښ دَ تیر منزل دَ اُمورو نه دیارلسم امر دے چه هغه مسئله دَ عدت دَ وفات ده۔ او مقصد په دیکښ اجتناب دے دَ جاهلیت دَ طریقے نه په عدت دَ وفات کښ۔ او په دے حکم کښ هم دوه اړخونه دي یو اړخ دَ جاهلیت دَ طریقے دے او دویم دَ شریعت دَ طریقے۔

ربط ۱ :- هرکله چه مخکښ عدت دَ طلاق او دَ هغے متعلقات ذکر شول نو اُوس دَ خاوند دَ وفات عدت ذکر کوي۔

ربط ۲ :- مخکښ آیت کښ الوارث کښ اشاره وه وفات دَ خاوند ته نو په وخت دَ وفات دَ خاوند کښ هم دَ نفقے دَ رضاعت یې ذکر کړو نو اُوس حکم دَ ښځے دَ عدت ذکر کوي۔

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ، دا عطف دَ قصه دے په قصه باندے مناسبت پکښ بیان دَ حکم دَ زناتوؤ دے۔ تَوَفِّي په اصل کښ اخستل دي دَ یو څیز پوره پوره نو څوک چه مړشي نو خپل عمر او رزق مقدره یې مکمل او پوره کړو۔ یا دا چه روح او بدن یې دواړه واخستلے شول۔ دلته مراد مړکیدل دي۔

وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا ، دا لفظ عام دے که ښځه یې آزاده وي او که وینزه وي، مدخول بها وي او که غیر مدخول بها وي، حامله وي او که غیرحامله وي، بالغه وي او که غیر بالغه وي، تو په نیز دَ اکثر فقهاؤ دَ دینه وینزه مستثنیٰ ده یعنی دَ هغې عدت دوه میاشتې او پنځه ورځې دي او په نیز دَ اکثر صحابه کرامو او مجتهدینو حامله هم دَ دینه مستثنیٰ ده دَ هغې عدت وضع دَ حمل دَ هغې دے لکه چه لکه چه سورة طلاق کښې دي- دا رنګ حدیث دَ سبیعه رضی الله عنها دے چه بخاري او مسلم راوړے دے چه دَ هغې دَ خاوند دَ وفات نه نیمه میاشت روستو بچے راوړو تو نبي صلی الله علیه وسلم ورته اُوفرمائیل چه ستا عدت ختم شو ته بل نکاح کولے شې- هاں غیر مدخول بها دَ دینه نه ده مستثنیٰ کړے شوے-
يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا ، دا خبر دے دَ الذین لیکن په تقدیر دَ عبارت سره یعنی وَ اَزْوَاجُ الَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ يا اَزْوَاجُهُمْ يَتَرَبَّصْنَ، دَ تربص نه مراد عدت تیرول دي لیکن لفظ دَ عدت یې نه دے وئیلے ځکه چه په لفظ دَ تربص کښې حکم دَ عدت ته اشاره ده چه هغه منع ده دَ بل نکاح نه- او دلته ورسره مراد دَ خاوند په کور کښې اُوسیدل دي او زینت، دول سنګار په نه کوي رنګینې، خائسته جامې په نه اغوندي، رنګونه سرخي ناخن پالش او کریم وغیره به نه لګوي او خوشبوئي به نه استعمالوي او دینه احداد وئیلے شي او دا په سنت سره ثابت دي عَشْرًا نه مراد په تمیز کښې لیالي (شپې) دي دَ دے وجے نه عشرة یې نه دے وئیلے او په قول دَ جمهور اهلِ علمو کښې لسمه ورځ په کښې داخله ده- او ابوحیان وئیلي دي چه دلته ایام مراد دي لیکن قاعده دا ده چه معدود مذکر وي او پټ دي تو اسم عدد کښې تانیث او تذکیر دواړه جائز دي- او صاحب اللباب وئیلي دي چه دا ورځے دَ عدت دَ وفات دا دَ غم او دَ حزن ورځے دي تو مشابه دي دَ شپو سره-
فائده :- په دے مقدار مدت کښې فائده دا ده چه مقصد

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهِ

او نیشته گناه په تاسو باندے په هغه الفاظو کښ چه اشارے کوئ تاسو په هغے سره

مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ أَوْ أَكْنَنْتُمْ فِي

دَ غوختلو (دَ نکاح) دَ ښځو نه یا پټ ساتئ تاسو په

أَنْفُسِكُمْ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ

زړونو ستاسو کښ عالم دے الله تعالیٰ چه یقیناً تاسو به یادوئ دوی لره

دَ رحم دَ ښځے معلومول دی چه دَ بچی نه خالی دے او که نه، او وجه ئے داده چه شلور میاشتے کښ په رحم دَ ښځے کښ ولد تیاریږی او دَ شلورو میاشتو نه روستو په هغے کښ روح اچولے کیږی تو بیا هغه حرکت شروع کړی۔ نو هر کله چه په دے زیاته یا تړے شلور میاشتے او لس ورځے تیرے شوے او حرکت دَ بچی ئے محسوس نه کړو نو معلومه شوه چه رحم (بچه دانی) ئے دَ بچی نه خالی دے نو دَ بل خاوند سره نکاح کولے شی۔ او دا قول دَ ابو العالیه نه نقل دے۔

فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ، په دے جمله کښ اشاره ده چه دَ شلورو میاشتو لسو ورځو نه روستو په دے ښځه باندے هیڅ گناه نیشته پشان دَ طریقے دَ جاهلیت۔ بلوغ اجل نه مراد ختمیدل دَ عدت دی۔ عَلَيْكُمْ خطاب دے اولیاؤ دَ ښځے نه او حکامو او علماؤ ته ځکه چه هغوئ مکلف دی په نهی عن المنکر باندے۔ بِالْمَعْرُوفِ نه مراد شرعی نکاح کول دی او ځان خائسته کول او دَ کور دَ خاوند نه وتل او نقل کیدل۔

وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ، په دے جمله کښ تحذیر دے دَ مخالفت کولو نه او خبیر عالم دے په باطنی امورو او باریک خیزونو باندے۔

وَلٰكِن لَّا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّا أَن
او لیکن وعده (دَ نکاح) دوی سره په پټه سره مه کوئ مګر که
تَقُولُوا قَوْلًا مَّعْرُوفًا ۚ وَلَا تَعْزِمُوا
دائي وینا دَ شرعې موافق (تعریض) او مه ټینګه ‌دئ
عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتٰبُ
غوټه دَ نکاح تردے پورے چه او رسیږی عدت فرض شوے
أَجَلَهُ ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ
آخری نیټې ته او پوهه شئ چه یقینًا الله تعالیٰ عالم دے
مَا فِي أَنفُسِكُمْ فَاحْذَرُوهُ ۚ وَاعْلَمُوا
په هغه خبره چه په زړونو ستاسو کښې دی نو ویره کوئ دَ هغه نه، او پوهه شئ
أَنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ (۲۳۵)
چه یقینًا الله تعالیٰ بخنه کوونکے صبرناک دے۔

۲۳۵ په دے آیت کښې څوارلسم امر دے دَ امورو دَ تدبیر منزل نه او په دیکښې حکم دَ ښځې دَ خطبے ذکر کوی په حال دَ عدت دَ هغې کښې روستو دَ خاوند دَ وفات نه او مقصد پکښې اجتناب دے په حال دَ عدت کښې دَ دوه څیزونو نه، اول وعده دَ نکاح کولو په پټه سره۔ دویم عقد دَ نکاح، او اجازت دَ دوه څیزونو دے اول خطبه په طریقے دَ تعریض سره۔ دویم په زړه کښې پټه اراده دَ نکاح کولو ساتل۔ او دا مذکوره دوه اړخونه دی په دے مسئله کښې۔

ربط له:۔ هرکله چه مخکښې عدت دَ طلاق او بیا عدت دَ وفات ذکر شو تو اوس حکم دَ خطبے او نکاح تړلو ذکر کوی په حال دَ عدت کښې۔ ۲ له مخکښې آیت کښې یې اُوفرمائیل چه روستو دَ عدت نه معروف کار کول دَ ښځې دَ پاره جائز دی۔ تو اُوس ذکر کوی چه په وخت دَ عدت کښې هغې دَ پاره نکاح کول حرام دی۔ او دَ دے

مناسبت دَ وجے نه یئے دا په ماقبل باندے عطف کړے دے۔
وَلَاجُنَاحَ عَلَيْكُمْ، جناح په اصل لغت کښې امرِ شاق (سخت کار)
ته وئیلے شی او په شرع کښې گناه ته وئیلے شی۔ علیکم سره عام
خطاب دے ټولو مؤمنانو ته۔ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهٖ، تعریض په لغت
کښې ضد دَ تصریح دے او په اصطلاح کښې تضمین دَ کلام دے په
داسے معنیٰ سره چه په مقصود باندے صلاحیت دَ دلالت لری۔
او دا رنګ په غیر مقصود لیکن اِشْعَار دَ هغے په مقصود باندے پوره وی
مِنْ خِطْبَةِ النِّسَآءِ، خطبه په اصل کښې په معنیٰ دَ خطب سره دے
او خطب حاجت ته وئیلے شی۔ او خِطبه دَ خطابت نه اخستلے شوے دے
لیکن مراد دَ دے نه مخاطبه ده په خبرو کښې په باره دَ نکاح دَ یو
ښځے کښې۔ او دَ تعریض الفاظ دا دی چه یو سړے هغے ښځے ته
او وائی چه یقیناً ته خائسته یئے او صالحه یئے او څما اراده ده چه
څه نکاح (واده) کوم یا خپل صفتونه ورته او کړی۔ النِّسَآء نه مراد
بعض اقسام دَ ښځو دی یعنی هغه چه په عدت دَ وفات کښې
وی او هغه چه په عدت دَ طلاق مغلظ یا بائن یا لعان کښې وی
اګرچه په دیکښې اختلاف دے دَ اهل علمو۔ اَوْ اَكْنَنْتُمْ فِيْ
اَنْفُسِكُمْ، اِکنان پټ ساتلو ته وئیلے شی او دا ضد دے دَ اعلان
مطلب دا دے چه اراده دَ هغے نکاح لری لیکن نه تصریح کوی او نه
تعریض کوی۔ یا دا چه په زړه کښې پخه اراده اوکړی چه پس دَ
تیریدلو دَ عدت نه څه په دے خطبه باندے تصریح کوُوم۔
عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ سَتَذْكُرُوْنَهُنَّ، دا دَ لاجناح دَ پاره علت دے یعنی
میلان او رغبت چه په زړه کښې راځی نو دَ هغے دفع کول ګران دی
نو دَ هغے دَ اظهار دَ پاره یئے دوه طریقے ذکر کړے، دے دَ پاره چه
دَ مؤمنانو حرج (تنګسیا) لرے کړے شی نو دَ سَتَذْكُرُوْنَهُنَّ نه روستو
تقدیر دَ عبارت دے چه (ذکر کوئی صرف په تعریض او اکنان
سره) ځکه چه ذکر دلته شامل دے ذکر کولو ته په ژبے سره
یا په زړه سره۔ او بعض مفسرینو وئیلی دی چه په دے کښې
یو قسم زورنه ده۔ وَلٰكِنْ لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ سِرًّا، پټ استدراک

کښی دوه اقوال دی۔ اول دا استدراک دے دَ سَتَن کروئهن ته یعنی ډیر قسموته دی لیکن بعض اقسام دَ هغې دلته منع دی۔ دویم قول داچه مخکښی جمله پټه ده یعنی ذکر کوئی دوی لره لیکن په وعده سری (پټه) سره ئې مه ذکر کوئی او په معنیٰ دَ سِرّ کښی ډیر اقوال دی۔ اول داچه دَ دیته مراد زنا کول دی۔ دویم داچه په پټه دَ هغې سره دَ نکاح تذکره اوکړی په طور دَ وعدے چه ما سره به نکاح کوے۔ دریم په معنیٰ دَ نکاح دے۔
اِلَّا اَن تَقُولُوا قَوْلًا مَّعْرُوفًا ، دا استثناء منقطع ده ځکه قول معروف دَ جنس دَ سِرّ نه دے تو اِلَّا په معنیٰ دَ لکن سره دے۔ یا استثناء متصل ده دَ لا تواعدوهن سره یعنی لَا تُوَاعِدُوهُنَّ اِلَّا بِاَن تَقُولُوا قَوْلًا مَّعْرُوفًا بِالتَّعْرِيضِ، او معروف نه مراد تعریض کول دی چه په اول کښی ذکر شو یا مراد دَ دیته دا دے چه دَ هغې سره دَ احسان او کفالت دَ مصالحو ذکر کوی تو دا به تاکید وی دَ تعریض دَ پاره۔ وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتٰبُ اَجَلَهٗ ، عزم عقد دَ زړه دے په یو کار باندے او دَ دے په صله کښی علی راځی تو دلته علی پټ دے۔ او عزم کله په معنیٰ دَ ایجاب باندے راځی او هغه مقابل دَ رخصت راځی تو په دے معنیٰ دا صفت دَ الله تعالیٰ دے۔ او په اوله معنیٰ صفت دَ الله تعالیٰ نشی کیدے۔ او ایجاب سبب دَ وجود وی نو دلته معنیٰ دا ده چه مهٔ موجودوئی عقد دَ نکاح لره یعنی نکاح مه تړئی۔ عقد په اصل کښی ټخولو او تړلو ته وئیلے شی۔ نو عقده غوټے تړلے شوے ته وائی او په نکاح یا په نورو عقودو کښی پخول او عهد کول دی ځکه هغې ته عقد او عُقده وئیلے شی۔ کتاب په معنیٰ دَ مکتوب دے یعنی عدت فرض کړے شوے، قرطبی وئیلی دی چه کتاب په معنیٰ دَ قرآن دے او مضاف پټ دے یعنی فرض القرآن۔ او اَجَل په معنیٰ دَ منتها او دَ غایت دے۔
وَاعْلَمُوا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِيْ اَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوْهُ ، دا تنبیه او تحذیر دے چه الله تعالیٰ په هر پټ او ښکاره باندے په هر حال کښی

لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ

نشته گناه په تاسو باندے که چرے طلاق ورکړئ تاسو ښځو ته

مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ

څو پورے چه تاسو لاس نه وی ورته وروړی یا مقرر کړی تاسو هغوی لره

فَرِيضَةً ۚ وَمَتِّعُوهُنَّ ۚ عَلَى الْمُوسِعِ

مهر مقرر او ورکړئ هغوی ته فائده سامان د فائدے په فراخ مال والا باندے دے

قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ ۚ مَتَاعًا

په قدر د فراخئ د هغه دے او په تنگ رزق والا باندے په قدر د تنگسیا د هغه دے فائده ورکول دی

بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ ﴿٢٣٦﴾

په ښه طریقے سره دا حق لازم دے په احسان کوونکی باندے۔

عالم دے۔ او دا رنگ په یاره د خطے کښ۔ فَاحْذَرُوهُ، ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے یعنی عِقَابَهٗ۔ او زمخشری وئیلی دی چه دا راجع دے مَا فِیٓ اَنْفُسِکُمْ ته چه مراد ترینه غیر جائز خبر دے وَاعْلَمُوٓا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِیْمٌ، روستو د تحذیر ته بشارت دے او اشاره ده چه ایمان د مؤمن په مینځ د خوف او رجاء کښ دے۔

فائده:- په اوله جمله کښ خبر د اِن (یعلم) فعل مضارع ذکر کړو ځکه چه ما فی انفسکم مکرر کیږی نو گویا چه علم په سبب د متعلق پورے هم متکرر کیږی۔ او په دویمه جمله کښ ئے خبر اسم ذکر کړو چه دلالت اوکړی په ثبوت او دوام د دے صفاتو باندے۔

۲۳۶ په دے آیت کښ پنځلسم امر دے د امورو د تدبیر منزل نه۔ او په دیکښ مسئله د طلاق قبل الدخول ده ځکښ د تقرر د مهر نه یا روستو د هغے نه۔ او مقصد پکښ اجتناب دے د مظالمو د جاهلیت نه په داسے حالت کښ۔ او په دیکښ دوه جهات دی یو جهت په اول کښ ذکر دے اویل جهت

په دویم آیت کښې ذکر دے۔
ربط: ترد دے ځائے پورے دَ مس خول پهٔا احکام وو بیا دَ هغې چه
خاوند ئے مړشوے وی تو اوس دَ غیر مس خول بهٔا حکم ذکر کوی۔
لَاجُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَالَمْ تَمَسُّوهُنَّ، ما مصدریه
ظرفیه دے یعنی مدت دَ عدم مسیس (نه مسه کولو) کښې مسیس
کِنایه ده دَ جماع نه او هغه په اصل کښې فعل دَ سړی دے۔ دَ
دَ دے وجے دلته هغه ته استاد کړے شوے دے۔
سوال:- دَ دے آیت نه معلومه شوه چه مخکښې دَ دخول او تسمیه
دَ مهر نه په طلاق ورکولو کښې ګناه نیشته نو دَ دخول او تسمیه نه
روستو طلاق کښې هم ګناه نیشته نو دَ دے تخصیص څه فائده ده ؟
جواب ۱ه:- دلته دَ طلاق دَ جواز دَ پاره عام اِجازت دے که په
حال دَ حیض کښې وی یا پاکوالی کښې۔ او روستو دَ دخول نه په
حال دَ حیض کښې طلاق ورکول ګناه دے (صاحب اللباب)۔
جواب ۲ه ابن عطیه، زمخشری او قفال وئیلی دی چه دلته
مراد دَ جناح نه ثِقل (بوج) دَ تاوان دے چه هغې ته تَبِعه وئیلے
شی یعنی تاوان دَ مهر (ټول یا نیم) په دا سے طلاق کښې نیشته۔
او قرینه دَ دے دا ذکر دَ غایئے دے چه عدم مسیس او عدم تسمیه
دَ مهر ده۔ دا رنګ وړیسے آیت دَ دے په مقابل کښې دے۔
جواب ۳ه:- ابن عاشور وئیلی دی چه هرکله احادیث دلالت
کوی چه خاوند دِ دَ ښځے سره ښه معاشره اوکړی او دَ نکاح
مقصد دوام دے صرف څکل دَ مزے نه دی لکه چه دَ بعض
خلقو عادت دے چه ډیر نکاحونه صرف دَ مزے اخستلو دَ پاره
کوی او بیا ئے طلاقوی چه دَ هغې نه منع کړے شوې ده۔ نو دَ دینه
معلومه شوه چه دَ مسیس نه روستو څه وهم دَ ګناه شته یا دَ
مسیس نه مخکښې دَ ترک دَ دوام په سبب سره ګناه شته نو
دَ هغې وهم دَ دفع کولو دَ پاره ئے او وئیل چه لَاجُنَاحَ۔
أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً، دا په تمسوهن باندے معطوف دے۔
أَوْ دَ أَحَدِ الشَّيْئَيْنِ دَ پاره دے لیکن خلو دَ دواړو نه مراد ده یا

اَوْ په معنیٰ دَ الا اَنْ سره دے یا اَوْ په معنیٰ دَ واو (و) سره دے۔ فرض په معنیٰ دَ تقدیر (مقرر کولو) دے۔ فَرِيْضَةً، مفعول به په معنیٰ دَ شیئًا مفروضًا دے او دا آیت دلالت کوی چه تفویض القاطو دَ نکاح سره وجوب دَ مهر نه رائی بلکه په تقدیر یا په مسه کولو سره رائی او مهر دَ توابعو یا متمماتو دَ نکاح نه دے۔ وَمَتِّعُوْهُنَّ، دا امر دے خاوندانو ته او ضمیر دَ هُنَّ هغه ښځو ته راجع دے چه طلاقے کړے شی مخکښ دَ دخول او دَ تسمیه دَ مهر نه۔ او اکثر اهلِ علم وائی چه دا متعه واجبه ده په دلیل دَ صیغه امر مطلق سره او دَ بعض په نیز امر دَ استحباب دَ پاره دے۔ او دَ دے متع دَ پاره تقدیر شرعی نیشته۔ دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه اعلیٰ درجه دَ متعے غلام یا وینزه ورکول دی او ادنیٰ دَ هغے دریے جامے دی یعنی قمیص، ازار (پرتوګ) او لوپټه۔ او دَ امام ابوحنیفه رحمه الله قول دے چه متعه به دَ نصف مهر نه زیاته نه وی یعنی پنځه دراهم۔ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ، دا دلیل دے چه باب دَ متعه کښ حال دَ خاوند ته اعتبار دے حالت دَ ښځے معتبر نه دے۔ علیٰ لفظ هم دلالت کوی په وجوب دَ متعه باندے الْمُوْسِعِ یعنی خاوند دَ وسعت په مال کښ، دَ دیته مراد مالدار خاوند دَ غِنا دے۔ په قَدَرُهٗ کښ مضاف پټ دے یعنی قَدْرَ وُسْعِهٖ۔ قَدْرَ او قَدَرَ کښ اکثر اهلِ علم فرق نه کوی۔ او بعضو وئیلی دی چه دَ دے فرق دا دے چه قَدْرَ په سکون دَ دال سره په معنیٰ دَ وسع او طاقت دے او په زور دَ دال سره (قَدَرَ) په معنیٰ دَ مقدار دے۔ الْمُقْتِرِ، دَ قتر نه دے تنګوالی ته وئیلے شی یعنی تنګ رزق والا۔ قَدَرُهٗ، یعنی قدر اقتارِهٖ۔ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوْفِ متاع په معنیٰ دَ تمتیع سره دے او مفعول مطلق دے۔ یا متاعًا حال دے دَ المعروف نه۔ مراد تری نه هغه دے چه شرعًا او عرفًا معلوم وی او په هغے کښ به ورکوونکی باندے بوج (درون والے) نه وی۔ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ، حقًّا دَ متاعًا صفت دَ

وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ

اوکه چرے تاسو طلاق ورکړئ ښځو لره مخکښې د دے نه چه

تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ

یو ځائے شوے یئ تاسو دَ هغوی سره او حال دا چه مقرر کړے دی تاسو هغوی لره

فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّا

مهر مقرر نو دَ هغے دَ پاره نیمه دَ هغه مهر وه چه تاسو مقرر کړے دی مګر

أَنْ يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ

چه معافی اوکړی زنانه دَ خپل حق نه یا معافی اوکړی هغه کس (خاوند) چه په لاس دَ هغهٔ کښې

عُقْدَةُ النِّكَاحِ ۚ وَأَنْ تَعْفُوا أَقْرَبُ

غوټه دَ نکاح ده او چه معافی کوئ تاسو نو ډیره نزدے ده

لِلتَّقْوَىٰ ۚ وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ۚ

تقوی ته او مه هیروئ مهربانی کول په مینځ خپل کښې

إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿۲۳۷﴾

یقینًا الله تعالٰی په هغه عملونو چه تاسو کوی لیدونکے دے۔

یا فعل پټ دے یعنی حَقَّ حقًا (په معنی دَ وجوب سره دے) او دَ محسنین نه مراد مؤمنان دی ځکه چه هر مؤمن دَ ایمان او اسلام په سبب دَ ځان سره احسان کوی دا رنګ محسن هغه څوک دے چه نیک عمل کوی او دا صفت دَ مؤمن دے۔ دَ بعض اهل علمو په نیز دا متعه واجب نه ده او هغوی استدلال کوی په لفظ دَ محسنین سره او وائی چه مُحسن کامل مؤمن ته وئیلے شی لیکن اول قول غوره دے۔ او دلته ذکر په لفظ دَ محسن سره دَ پاره دَ ترغیب دے عمل کولو ته په دے امر باندے۔

۲۳۷ په دے آیت کښې دَ مخکښې من کوزرناته مِن وجه متقابل ذکر کوی یعنی هغه زنانه چه مدخول بها نه ده لیکن مهر دَ هغے

دَپاره دَ مخکښ نه مقرر کړے شوېوی. فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ، نصف په اصل کښ دَ دوؤ جزء ته وئیلې شي دلته مبتدا پټه ده یعنې فَالْوَاجِبُ نِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ، نو نیم دَ خاوند اونیم دَ ښځې شو۔

فائده:۔ دواړه آیتونو کښ ذکر دَ مسیس دے چه جماع ته وئیلې شي اوکه چرے مسیس نه وی شوے یکه خلوتِ صحیحه شوے وی یعنې ښځه خاوند په یوکمره کښ په داسے حال کښ یوځائے شي چه روژه نه وی او ښځه په حالت دَ حیض کښ نه وی اوبل هم هیڅ مانع نه وی نو په نیزدَ امام دَ ابوحنیفه او امام مالک رحمهما الله دا په حکم دَ مسیس کښ دے دَ وجے دَ حدیث دَ ابن مسعود رضي الله عنه نه چه خلفائے راشدینو فیصله کړیده چه (کله ښځه خاوند) دروازه بند کړی یا پرده آویزان کړی نو بیا دَ ښځې دَ پاره میراث شته اوعدت هم شته نو معلومه شوه چه مهر به هم کامل وی۔ دارقطنی دا حدیث مرفوع ذکر کړیدے۔ اوپه نیزدَ قاضی شریح او امام شافعی رحمهما الله په دے سره عدت او مهرنه واجبیږی۔ اوتور تفصیل به انشاء الله په سورة نساء سلا کښ راشي۔

اِلَّآ اَنْ يَّعْفُوْنَ اَوْ يَعْفُوَا الَّذِیْ بِيَدِهٖ عُقْدَةُ النِّكَاحِ، دا استثناء منقطع ده په معنیٰ دَ لکن سره او يعفون په معنیٰ دَ پرېخودلو او مخ اړولو دے دَ خپلې برخې او حصے نه چه هغه نیم مهر دے۔ اودا حکم دَ هغه ښځې دے چه بالغه عاقله وی۔ دَ هغې دَ پاره په خپل مهر کښ اختیار دے۔ دَ الَّذِیْ بِيَدِهٖ آه نه مراد خاوند دے لکه چه په حدیث دَ جبیر رضي الله عنه کښ دی چه قرطبی ذکر کړیدے۔ او دا په حدیث مرفوع دَ دارقطنی کښ هم شته۔ اودا قول دَ اکثر صحابه کرامو او تابعینو او امام ابوحنیفه او امام شافعی رحمهم الله دے یعنې دَ ښځې دَ ولی په دیکښ اختیار نیشته۔ اودَ بعض تابعینو او امام مالک رحمهم الله قول دا دے چه مراد دَ دیته دَ ښځې دَ نکاح ولی دے چه هغه ته په عرف کښ دَ نکاح روروائی۔

سوال:۔ عفو په معنیٰ دَ پرېخودلو دے نو خاوند او ولی ته دَ

د دے د نسبت کولو ځنه مطلب دے۹۔
جواب لـه:۔ عادت داووچه په وخت د نکاح کښې خاوند ټول مهر ښځے ته ورکولو نو هرکله چه طلاق قبل الدخول یئے ورکړو نو د خاوند حق دے چه نیم مهر د هغے نه واپس واخلی لیکن هرکله چه دا خاوند هغه واپس نه اخلی نو دبته عفو وئیلے شی اوکله چه خاوند ټول مهر نه وی ورکړے او طلاق ورکړی نو د ښځے حق دادے چه د خاوند نه د نیم مهر مطالبه اوکړی۔ اوکه دا ښځه دا مطالبه نه کوی او پریږدی یئے نو دیته عفو وئیلے شی۔
جواب ۲لـه:۔ عفو په معنیٰ د آسانتیا سره ده۔
وَاَنْ تَعْفُوْٓا اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰی، دا خطاب عام دے سړو او ښځو ته لیکن صیغه د مذکر یئے تغلیباً ذکر کړے ده۔ لِلتَّقْوٰی، اقرب کله متعدی کیږی په لام سره لکه دا آیت او کله متعدی کیږی په الیٰ سره لکه په سورة ق سلا نو دلته لام اجلیه دے او لفظ حصول پټ دے یعنی لِحُصُوْلِ التَّقْوٰی، او دا په معنیٰ کښې غوره دے د الی التقوٰی نه ځکه چه په هغے کښې معنیٰ د علتیت نیشته دے او مفضل علیه د اقرب پټ دے یعنی مِنْ تَرْكِ الْعَفْوِ۔ ځکه چه په خپل حق اخستلو کښې اوچا ته پریخودلو کښې شدت او بخل معلومیږی او په عفو کښې سماحت او سخاوت معلومیږی او دا سخاوت وسماحت خو اصل صفت د متقی دے۔
وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ، دا هم ترغیب دے عفو کولو ته پشان د اولے جملے او په دیکښې د عفو سبب ذکر دے۔ نسیان دلته په معنیٰ د ترک (پریخودلو) دے۔ او فضل کول د امر غیر واجبه دی خو چه نیکی وی نو دا فضل دے۔ دلته فضل د خاوند د طرف نه مهر پوره ورکول دی او د ښځے د طرف نه پریښودل د نیم مهر فضل دے۔ بَيْنَكُمْ کښې تاکید دے د یو بل سره د تعارف او د محبت او د محتاج کیدلو یو بل ته او مونږ د دینه تعبیر کوو په اخوت اسلامی سره۔ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ، هرکله چه په عفو او فضل کښې ورکول د حق دی او دا د قبیلے د مبصراتو نه دے

حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ

هیشگیری کوئ په ټولو مونځونو باندې او خاص په مونځ

الْوُسْطٰى وَقُومُوا لِلّٰهِ قٰنِتِينَ (۲۳۸)

مینځنی باندې او ودریږئ الله تعالیٰ ته تابعداری کوونکي -

(هغه چه ښکاریږي په نظر سره) نو ذ دے وجے نه فاصله ذ آیت کښ یې صفت ذ بصیر ذکر کړو -

۲۳۸ په دے آیت کښ شپاړسم امر دے ذ امورو ذ تن بیر متزل ته او په دیکښ مسئله ذ حفاظت ده په مونځونو باندے سره ذ شغل او کار ته په احکام دُنیویه باندے - او په دیکښ مقصد اجتناب دے ذ پریښودلو ذ مونځ نه یا ذ سستۍ کولو نه په هغے کښ په سبب ذ نورو مشاغلو سره یا په سبب ذ خوف سره - او په دیکښ هم دوه جهتونه دی - ذ کثرت مشاغلو په وجه په مونځ کښ سستي کول لیکن سره ذ دیته محافظت کول ماموریه دی -

ربط ۱ :- هرکله چه ذ بیبیا نو سره متعلق ډیر احکام ذکر شول - نو په دے کارونو کښ مشغولیدل کله په انسان کښ ذ عبادا تو په باره کښ سستي پیدا کوی نو ذ دے وجے نه حکم ذ مونځ یې ذکر کړو - ۲ :- مخکښ محافظت په حقوق العباد باندے ذکر شو نو اوس محافظت په حقوق الله باندے ذکر کوی - ۳ :- هرکله چه الله تعالیٰ بندګانو ته دعوت ذ عفو ورکړو په مخکښ آیت کښ لیکن حرص ذ نفس په دیکښ لوئے مانع دے نو ذ هغے ذ باره دوه علاجونه دی یو دُنیوی عقلی نو هغه ذکر شو لَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ سره - دویم علاج اخروی روحانی دے چه هغه محافظت دے په مونځ باندے چه هغه ذ فحشاء او منکر (بدو کارونو) نه منع کوی -

حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوٰتِ، باب مفاعله ذ باره ذ تکرار او همیشګۍ کولو دے - ذ دے وجے نه یې روستو علیٰ ذکر کړو - او بعضو وئیلی دی چه محافظت ذ بنده ذ جانب نه اداکیږي ذ مونځ ده او ذ

جانب دَ الله تعالیٰ نه حفاظت دَ نفس او دَ مال دَ بنده دے. او محافظت لفظ شامل دے همیشه کولو او په مستحب اوقاتو کښ کول، او فرائض سنن ټول ادا کولو ته. او تعبیر په لفظ دَ حافظوا سره دلالت کوی په اعراض کولو سره دَ مشاغلو او موانعو نه.
الصَّلَوٰتِ نه مراد ټول فرض مونځونه دی. او یو قول دا دے چه دَ دینه مراد ځلور مونځونه دی چه روستو هغه ذکر کیږی.
وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰی، وسطی مؤنث دَ اوسط دے. په یکښ معنیٰ دَ تفضیل ده دَ دے وجے نه دا په معنیٰ دَ مختار (غوره) دے. او بعضو ویلے دی چه دا په معنیٰ دَ مینځ دے (یعنی مینځنے مونځ) لیکن اول قول غوره دے ځکه چه تفضیل (غوره والے) په هغه ځائے کښ وی چه زیادت او نقصان قبلوی او دا معنیٰ په مینځ کښ نه جوړیږی. بنا په دے دا تخصیص بعد التعمیم دَ دَ وجے دَ اهمیت دَ هغے نه. او بنا په دویم قول عطف دَ مغائرت دَ پاره دے او په دے کښ پنځم مونځ مراد دے. دَ صلات وسطی په مصداق کښ اولس اقوال مفسرینو او محدثینو ذکر کړی دی. لیکن غوره قول پکښ دا دے چه دا دَ مازیګر مونځ دے ځکه چه دَ دے دَ پاره صحیح مرفوع حدیث شاهد دے چه په هغے کښ دَ عصر تعین دے. او نور اقوال په روایاتو موقوفه یا صرف په ذکر دَ فضیلت دَ هغوی باندے بنا دی.
فائده:- صاحب دَ اللباب او شارحینو دَ هدایه لیکلی دی چه دا آیت دلالت کوی چه اقل درجه دَ مونځونو پنځه دی. وجه دا ده چه الصَّلَوٰتِ جمع ده مراد به دَ دیته درے وی یا ځلور زیات ته حاجت نیشته ځکه چه اقله درجه دَ جمع درے وی او وَالصَّلٰوةِ عطف دَے نو معطوف غیر وی دَ معطوف علیه نه. نو دا یو مونځ ته اشاره ده. او الوسطی تقاضا کوی چه جانبین ئے برابر وی نو که الصَّلَوٰتِ نه درے مونځونه مراد شی نو دَ درے دَ پاره وسط حقیقی نیشته نو معلومه شوه چه دَ الصَّلَوٰتِ نه ځلور مراد دی. او وَالصَّلٰوةِ کښ پنځم مراد شو. او دا په زیات عدد کښ هم

جوړیږي لے شي- څوهغه ډ مقتضا دَ الفاظو نه زیاتي وي-
دَ وَقُومُوا لِلّٰهِ قٰنِتِیْنَ، دَ دے آیت په دے جمله کښې دلیل دے چه
قیام (اودریدل) رکن دَ مونځ دے په هرهغه شخص باندے چه
قادر وي په قیام باندے، منفرد او مقتدي وي او که امام وي- لیکن
نفلي مونځ دَ دیته مستثنیٰ دے په سبب دَ بعضِ نصوصو سره- لِلّٰهِ
دلیل دے چه قیام په نیت دَ عبادت سره غیرالله ته حرام دے- او
قیام په طور دَ اهلِ عجم (چه هغے ته مُثل ویٔلے شي) هم په صحیح
احادیثو سره منع دے- او نفسِ قیام دَ اکرام په طور بغیر دَ مُثلیت
نه په هغے کښې اختلاف دے- قٰنِتِیْنَ، په لغت کښې دوام، صبر او
لزوم په یو څیز باندے ته ویٔلے شي- او په شریعت کښې خاص
دے په دوام کولو په طاعت دَ الله تعالیٰ باندے- او په دیکښې
روستو ټول اقوال داخل دي تو دلته په تفسیر دَ قنوت کښې ډیر
اقوال نقل دي- اول قول دَ اکثر اهلِ علمو دے چه قنوت په معنیٰ
دَ طاعت دے- او ابن عباس رضی الله عنهما نه مرفوع حدیث نقل
دے چه هر قنوت په قرآن کریم کښې په معنیٰ دَ طاعت دے
(امام احمد، ابویعلیٰ) لیکن په سند کَ دوي کښې ابولهیعه ضعیف
راوي دے- دویم قول دَ مجاهد دے چه قنوت په معنیٰ دَ خشوع
دے- دریم قول دَ شعبي او جابر دے چه په معنیٰ دَ طوع دے
(خوشحالي کول)- څلورم قول دَ ابن عمر رضی الله عنهما دے چه
په معنیٰ دَ طول دَ قیام دے او دا حاصلیږي په اوږد قراءت سره-
پنځم قول په روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما سره چه قنوت
په معنیٰ دَ دُعا دے- شپږم په معنیٰ دَ مصلین دے- اووم په
معنیٰ دَ قارئین دے- اتم په معنیٰ دَ عابدین دے (دا دریواړه
دَ ابن عمر رضی الله عنهما نه نقل دي)- نهم قول دا چه په معنیٰ
دَ ذاکرین دے او دا قول زمخشري ذکر کړیدے- لسم دا چه قنوت
په معنیٰ دَ منع کوونکي دے دَ لاسونو او دَ سترګو دَ حرکاتِ غیر
مناسبه نه- دا قول دَ مجاهد دے- لیکن دا دویم تعبیر دَ خشوع
دے چه دا قول دَ هغه نه مخکښې ذکر شوے دے- تو دَ دیته استدلال

فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا فَإِذَآ

نو که وېرېږئ تاسو د دشمن نه نو موځ کوئ چه پیاده روان یئ یا سواره یئ نو هر کله چه

کول چه رفع الیدین په موځ کښې منع دی دا د جاهلانو قول دے ځکه چه د مجاهد د قول معنی ابوحیان په خشوع سره ذکر کړېده۔ او بله وجه دا ده چه مراد د دغه قول دا دے چه لاسونه او سترګے په غیر سنت طریقے سره مه خوزوئ او رفع الیدین (په خاص مواضعو کښې) په صحیح متواتر احادیثو سره ثابت دی پخوا لسم قول دا چه قنوت په معنی د سکوت دے او مراد د دیته عامو خبرو کولو نه سکوت دے۔ لیکن د قراءت نه سکوت مراد نه دے نو دا هم د بعض جاهلانو استدلال دے چه هغوی وائی چه د دیته د قراءت خلف الامام منع ثابت شوه او حال دا چه دا امر خو امام او منفرد ته هم شامل دے بلکے مقتدی ته خو نه دے او په هغوی باندے خو بالاتفاق قراءت فرض دے او دا قول چه دلته مراد سکوت دے د کلام نه دا غوره قول دے په سبب د دوه احادیثو سره۔ اول حدیث د زید بن ارقم رضی الله عنه دے هغه وئیلی دی چه مونږ به په موځ کښې د بل سره خبرے کولے تر دے پورے چه دا آیت نازل شو نو حکم اوکړے شو مونږ ته د سکوت او د کلام (خبرو کولو) نه منع کړے شو۔ دا حدیث امام احمد راوړے دے او ابن کثیر هم سره د اشکال او د جواب نه نقل کړیدے۔ او دویم حدیث د ابن مسعود رضی الله عنه دے چه هغه وئیلی دی چه مونږ د نجاشی بادشاه نه واپس راغلو او مونږ په نبی صلی الله علیه وسلم باندے سلام اوکړو نو د سلام جواب ئے را نکړو او وے فرمائیل چه اِنَّ فِی الصَّلٰوةِ لَشُغْلًا، مزید تفصیل په باره د خبرو کولو کښې په موځ کښې مفسر قرطبی او نورو محدثینو ذکر کړے دے۔

اَمِنْتُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَمَا عَلَّمَكُمْ

په امن شئ تاسو نو یادوئ الله تعالیٰ لره لکه چه خودنه کړے ده تاسو ته

مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ (۲۳۹)

دَ هغه طریقے چه تاسو دَ هغے علم نه لرلو۔

۲۳۹ هر کله چه په مخکښ آیت کښ قیام په مونځ کښ فرض کړے شو نو اوس هغه عذر ذکر کوی چه په هغے سره قیام ساقطیږی۔ فَإِنْ خِفْتُمْ، دا شامل دے خوف ته دَ دُشمن، درنده، کاټو یا سیلاب راتللو وغیره ته چه دغه وخت کښ دَ مونځ وخت داخل شی او په ځائے پاتی ے اودریں لے نشی۔ فَرِجَالًا اَوْ رُكْبَانًا، دَ دے ته مخکښ فعل پټ دے یعنی فَصَلُّوْا یا فَحَافِظُوْا عَلَيْهَا، رجال جمع دَ راجل دے یعنی پیاده په خپلو خپو پاتی ے روان۔ او رکبانًا جمع دَ راکب دے برابره خبره ده که په حیوان پاتی ے سوروی یا بل څه سورلئی پاتی ے خو دَ رکوع او سجدے دَ پاره به په سر پاتی ے اشاره کوی۔ او په دے حالت کښ جماعت هم نشی کیدے۔ او په وخت دَ قتال کښ په حال دَ التحام (یو بل کښ ورننوتل) دَ دُشمن کښ او په نورو حالاتو کښ دَ صلوٰة خوف ذکر په سورة نساء ۱۰۲ کښ شوے دے۔ دا حالت ئے دلته خاص کړو په ذکر کولو سره چه قیام (اودریدل په خپو پاتی ے) په دے حالت کښ ساقطیږی او دَ صلوٰة خوف په نورو حالاتو کښ دا قیام ساقط نه دے۔ قرطبی وئیلی دی چه په دے آیت کښ مقصود نهایت اهتمام دَ مونځ دے چه مونځ په هیڅ حالت کښ نه ساقطیږی۔ فَاِذَآ اَمِنْتُمْ، یعنی کله چه زائل شی سبب دَ خوف۔ یا دا یتدا ءته په امن کښ یئ نو فَاذْكُرُوا اللّٰهَ، دَ ذکر دَ الله تعالیٰ نه مراد مونځ کول دی او شکر کولو ته هم عام دے۔ كَمَا عَلَّمَكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ، کاف دَ تشبیه دَ پاره دے۔ او تعلیم دَ الله تعالیٰ دَ وحی جلی او خفی په طریقے سره دے۔ مَا لَمْ تَكُوْنُوْا عام دے ټولو احکامو شرعیو ته او مونځ کولو ته په حال دَ امن یا خوف کښ۔

وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ

او هغه کسان چه مړه کړے شي ستاسو نه او پرېږدي

اَزْوَاجًا ۚ وَّصِيَّةً لِّاَزْوَاجِهِمْ مَّتَاعًا اِلَى

بيبيانے نو وصيت دِ اوکړي دَپاره دَ بيبيانو خپلو چه سامان (فائده) ورکړېشي تر

الْحَوْلِ غَيْرَ اِخْرَاجٍ ۚ فَاِنْ خَرَجْنَ فَلَا

يو کاله پورې نه به وي ويستل دَ هغوي نو که چرے او وتلے هغوي (د وستو دَ واجب عدّت نه) نو نيشته

جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْ مَا فَعَلْنَ فِيْ اَنْفُسِهِنَّ

گناه په تاسو باندے په هغه کارونو کښې چه کوي دوي په ځانونو خپلو کښې

مِنْ مَّعْرُوْفٍ ۗ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۴۰﴾

څه دَ نيکئ کار او الله تعالیٰ زورآور دے حکمتونو والا دے۔

او مقصد دَ آيت دا دے لکه چه الله تعالیٰ په تاسو باندے په دے تعليم سره انعام کړيدے نو تاسو دَ دے رحمت موافق شکر ادا کوئ يا دَ دينه مراد دا دے چه په حال دَ امن کښې په هغه ارکانو شرطونو او کيفياتو سره مونځ کوئ کوم چه تاسو ته په قرآن او حديث سره معلوم وي۔ لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ، نه مراد دا دے چه په عقل سره تاسو دا علم نشئ حاصلولے کوم چه په وحی سره حاصليږي۔ او دا دليل دے چه دَ مونځ تفصيلی طريقه دَ قرآن او احاديثو نه ايز ده کول ضروری دی۔

۲۴۰ په دے آيت کښې اوولسم امر دے دَ امورو دَ تن پير منزل ته او هغه په باره دَ احسان کولو کښې دے هغه زنانو سره چه خاوند يئے وفات شوے وي۔ او مقصد په دے حکم کښې اجتناب دے دَ هغه ظلم نه چه جاهليت والو به دَ وفات په عدت کښې په زنانو باندے کوو۔ او دَ جاهليت والو طريقه په مؤطا دَ امام مالك کښې ليکلے ده چه په دور دَ جاهليت کښې به دَ ښځے خاوند وفات شو نو هغه به داخله شوه يو تنګ کور ته او ناکاره

جائے به یئے اغوستلے او هیڅ قسم خوشبوئی او زینت یئے نه شو کولے داتر یو کال پورے۔ بیا به ورته بوڅاروے راوستلے شو نو خپله خرمن به یئے په هغه څاروی پورے او مخله او په نا کاره شکل کښی به راووتله نو بیا به یئے ورله په لاس کښی پچه ورکړه او هغه به یئے شا طرف ته اوغورځوله بیا به دخپل مور او پلار کور ته لاړه۔ دا دے ظلم او رسم دجاهلیت د رد کولو دپاره دا شرعی حکم راغے۔

ربط ۱: مخکښی احسان ذکر شو په ښځو دیند او د الله تعالیٰ کښی۔ اوس احسان ذکر کوی په ښځو د ښځه او خاوند کښی۔ ۲: مخکښی یئے ترغیب ورکړے وو فضل کولو ته په ښځو د ښځے او خاوند کښی په وخت د طلاق کښی نو اوس فضل ذکر کوی په وخت د وفات د خاوند کښی۔ او مسئله د موغځ پکښی جمله معترضه ده۔

وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ أَزْوَاجًا وَّصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِمْ، په دے زور د وَصِيَّةً کښی دوه قولونه دی۔ اول قول دا چه دلته فعل پټ دے یعنی لِيُوْصُوْا یا يُوْصُوْنَ۔ او دا خبر دے د الَّذِيْنَ دپاره یا دغسے فعل پټ دے مخکښی د الذین نه او هغه فاعل دے د پټ فعل۔ او وصیت مفعول مطلق دے د پټ فعل دپاره۔ او دا وصیت دے د خاوند په حکم د كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرَا الْوَصِيَّةُ اه۔ نو مقصد دا دے چه خاوند دے د مرګ په وخت کښی خپلو ښځو ته وصیت اوکړی چه تر یو کال پورے ځما په کور کښی اوسیږئی او ستا سو نفقه به ځما د مال نه وی۔ نو بیا د هغوی خوښه ده که دا وصیت قبلوی او که نه قبلوی۔ یا دے دا سے وصیت ورثوء ته اوکړی د بیبیانو په باره کښی۔ او دویم قول دا دے چه وَصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِمْ، دا وصیت دے د الله تعالیٰ د طرف نه ښځو ته چه کور د خاوند کښی به پاتے کیدل تر یو کال پورے لازم کنړی۔ نو دا د قبیلے د يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ نه دے۔ نو دا حکم د طرف د الله تعالیٰ نه دے په طریقه د وجوب سره۔

فائده: په دے آیت کښی دوه اقوال دی چه هغه امام بخاری په کتاب التفسیر کښی نقل کړی دی۔ اول حدیث د ابن زبیر رضی الله عنه دے چه د هغے نه معلومیږی چه دا آیت منسوخ دے په

تیر شوی آیت ۲۳۴ سره او دا آیت په نزول کښې مخکښې دے۔ او هغه ترینه روستو دے۔ او دا په هغه دویمه توجیه سره دے چه په وَصِيَّةً کښې ذکر شوله۔ یعني اول په اسلام کښې عدت دَ وفات یو کال مقرر شوے وو سره دَ اوسیدلو او نفقې نه بیا هغه منسوخ شو په څلورو میاشتو او لسو ورځو عدت دَ وفات سره او په آیت دَ میراث یعني چه وارث دَپاره وصیت نیشته۔ دویم قول امام بخاري دَ مجاهد رحمهما الله نه نقل کړیدے چه په دے آیت کښې نسخ نیشته او عدت دَ وفات دَ ابتداء نه څلور میاشتې اولس ورځې دي۔ صرف دَ وصیت په طور سره اووه میاشتې اوشل ورځې زیاتي کړے شوے او دا په طور دَ استحباب او احسان سره دي۔ نو دا وصیت منافي نه دے دَ لَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ سره او دا قول اکثر مفسرینو غوره کړیدے۔
مَتَاعًا اِلَى الْحَوْلِ، دا منسوب دے په حذف دَ جار سره یعنی بِمَتَاعٍ۔ او دَ دینه مراد نفقه او لباس ورکول دي دَ احسان په طور سره۔ غَيْرَ اِخْرَاجٍ، دا حال دے یا بدل دے دَ متاعًا نه۔ یعني ورثو دَ میت له پکار نه دي چه دا ښځه دَخاوند دَ کور نه په زور سره اوباسي ځکه چه دَ وصیت بدلول جائز نه دي اګرچه احساني وي۔

فَاِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا فَعَلْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَّعْرُوْفٍ،
دَ دینه مراد وتل دي دَ خاوند دَ کور نه پخپله خوښې سره۔ لیکن بِنا په اول قول سره دا خروج مخکښې دَ پوره کولو دَ کال او روستو دَ کال پوره کیدلو نه دے۔ دلته معروف عام دے چه ولي دَ میت او حاکم باندے حرج نیشته چه نفقه دَ دینه قطع کړي یا یئے دَ کور نه اوباسي۔ یا ښځه اوځي دَ خاوند دَ کور نه یا ځان له دَ خاوند طلب او لټون کوي یا کسب کوي دَ روزۍ ګټلو دَپاره په شرعي طریقے سره۔
فائده :- په آیت ۲۳۴ کښې یئے بِالْمَعْرُوْفِ وئیلے وو او دلته مِنْ مَّعْرُوْفٍ اشاره ده چه هلته صرف زینت کول (ترک دَ احداد)

وَلِلْمُطَلَّقٰتِ مَتَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ حَقًّا

او د پاره د طلاق ورکړې شوې زنانو سامان (فائده) ورکول دي د عرف موافق دا

عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿۲۴۱﴾

لازم دۀ په متقیانو باندې -

مراد دے او هغه یو معین څیز دے او دلته مراد عام دے لکه چه ذکر شو نو ځکه ئې نکره په مِنْ سره راوړه چه د هغې مختلف اقسامو ته اشاره اُوشي -

وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ، لفظ د عزیز کښې تحدیر ته اشاره ده په سبب د اخراج د هغې په جبر او ظلم سره - او حکیم کې دے حکم منافعو ته اشاره ده

۲۴۱ په دے آیت کښې اتلسم امر دے د اُمورو د تدبیر منزل نه په باره د متعه ورکولو نو تول مطلقاتو ته په طور د احسان سره - او مقصد پکښې اجتناب کول دي د ظلم نه په عامو مطلقو زنانو کړے شوي باندے - یعنی طلاق د ظلم کولو د پاره سبب مه گرځوئ بلکه د هغې د زړه د خوشحالولو د پاره متعه ورکول پکار دي -

وَلِلْمُطَلَّقٰتِ مَتَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ ، مخکښې آیت ۲۳۶ کښې حکم د متعه ورکولو وو د یو قسم مطلقې د پاره چه هغه غیر مدخول بها ده سره د عدم تسمیې د مهر نه او په دے آیت کښې ټولے مطلقې مراد دي - یا دا چه مخکښې د متعه نه لباس وغیره مراد وُو او دلته ترے مراد نفقه ده او نفقې ته هم متاع وئیلے شي لکه چه مخکښې آیت کښې دي - په لفظ المطلقات کښې دوه اقوال دي - اول دا چه ټول اقسام مراد دي او د ټولو د پاره متعه ورکول واجب دي - او دا قول د سعید بن جبیر رضی الله عنه ابوالعالیه او زهري رحمهما الله دے - او دویم قول دا چه دلته ټول اقسام مراد دي خو دا حکم استحبابي دے ماسوا د هغې قسم نه چه آیت ۲۳۶ کښې ذکر دے - او دا قول د جمهورو اهل علمو دے -

حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ، مراد دا دے چه کله حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ نازل شو نو بعض کسانو اووئیل چه که څه ته غوارم احسان کول

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ

دغسے	بیانوی	اللہ تعالیٰ	تاسو تہ	احکام خپل

لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲۴۲﴾

دپارہ دَدے چہ دَ عقل نہ کار واخلئ۔

تومتعہ بہ نہ ورکوُوم تو اوو ئیلے شو چہ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ، یعنی دا دَ هرمتقی حق دے۔ او احسان دلتہ مرادف دَ تقوٰی دے او دَ متقین نہ مراد عام مؤمنان دی چہ ځان دَ شرک او نفاق نہ بچ ساتی۔
فائدہ:- پہ آیت ۲۳۶ کښ دَ متعے دَ وجوب ذکر وو دَ هغے ښځے دپارہ چہ خاوند تر ینہ هیڅ فائدہ نہ دہ اخستے (یعنی غیر مدخول بها) تو دغسے ښځے لہ حق (واجب) ادا کول پہ عرف کښ احسان گنڑلے کیږی دَ دے وجے نہ هلتہ ئے محسنین و ئیلے وو۔ او دلتہ دَ عامو طلاقو کړے شوُ ذکر دے اگر چہ هغوی دَ پارہ مهر هم شتہ لیکن خاوند تر ینہ فائدہ هم اخستلے دہ تو کَ دوی پہ طلاق سرہ دَ دوی زړہ ډیر خفہ شوے او دردین لے وی تو دَ هغوی زړہ دَ خفہ کولو نہ دَ بچکولو دپارہ لفظ دَ تقوٰی مناسب وو۔
۲۴۲ پہ دے آیت کښ ترغیب دے دَ تیر شوو احکامو امتثال نہ او دَ راتلونکو احکامو دپارہ هم۔ یعنی مخکښ چہ څرنگ وضاحت او تفصیل او کړے شو دغسے بہ روستو هم کوی۔ یا کاف دَ بیان کمال دَ پارہ دے یعنی دا بیانات پہ کمال فصاحت، بلاغت او وضاحت کښ کاملہ درجہ لری۔
لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ، دَ وضاحت نہ روستو پہ احکامِ شرعیو کښ تدبر او تفکر کار عقل کولے شی تو دَ دے وجے نہ ئے تعقلون ذکر کړو۔ هاں کلہ مغیبات یا مجملات وی تو بیا عقل پہ هغے کښ نشی چلیدلے۔

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِن

آیا ته نه گورې هغه کسانوته چه وتلي دي هغوی د

دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ

کورونو خپلو نه او حال دا چه دوی په زرګونو وو د وجې د ېچ کیدلو د مرګ نه

فَقَالَ لَهُمُ اللَّهُ مُوتُوا ثُمَّ

نو أوويل دوی ته الله تعالٰی مړه شئ بیا ئې

أَحْيَاهُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ

ژوندي کړل هغوی یقیناً الله تعالٰی خاوند د فضل دے

عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ

په خلقو باندې او لیکن اکثر خلق

لَا يَشْكُرُونَ ﴿٢٤٣﴾

شکر نه کوی ۔

سـ۲۴۳ د څلورم باب خلاصه:- د دے آیت نه تر سـ۲۵۳ پورے څلورم باب دے او په دیکښ د ترغیب الی القتال د پاره دوه واقعات ذکر کوی ۔ چه په اوله واقعه کښ اشاره ده چه د بزدلئ او د یرے د مرګ د وجے نه د قتال فی سبیل الله نه مخه کړځوئ او وریسے امر دے په قتال سره او ترغیب دے انفاق فی سبیل الله ته تر آیت سـ۲۴۵ پورے ۔ بیا دویمه واقعه ده چه په هغے کښ د قتال د وجوب سبب ذکر کوی شرعًا او طبعًا سره د مانع نه او ضرورت د امیر ته اشاره کوی په آیت سـ۲۴۶ کښ ۔ بیا د امیر منتخب کول او شرطونه د امارت ذکر کوی په سـ۲۴۷ کښ ۔ بیا د حق امیر علامت د انتخاب ذکر کوی چه هغه اعاده د برکاتو الـهیو ده په سـ۲۴۸ کښ ۔ او بیا سیاسیات د یو حق امیر ذکر کوی چه تمیز او فرق کولے شی په مینځ د مدا هینو او شجاعت والو

کښې سرۀ دَ اِشارے نه چه دَکم والی دَ عدد (افرادو) دَ وجے نه قتال فی سبیل الله مه پریږدئ په ۲۴۹ کښې۔ بیا دُعا دَ میدان جنګ ذکر کوی په ۲۵۰ کښې۔ بیا حصول دَ فتح اوخلافت حقه په ذکر دَ داؤد علیه السلام سره۔ او دا دَ جهادِ اسلامی نتیجه ده سره دَ ذکر دَ فائدے دَ قتال او نصرت الٰهیه نه په ۲۵۱ کښې بیا دَ دفع دَ کفر او شرک دَ پاره ارسال دَ آخری رسول صلی الله علیه وسلم په ۲۵۲ کښې او ارسال دَ مخکنو رسولانو سره دَ تفاضل دَ هغوی نه۔ لیکن سبب دَ قتال اختلاف دَ خلقو دے په ایمان او کفر کښې دا په ۲۵۳ کښې ذکر کوی۔

ربط ۱:۔ مخکښې ئے دَ نکاح سره متعلق احکام ذکر کړل چه په هغے سره دَ انسان دَ نفس تحصین راځئ او دا انفرادی او منزلی (کورنئ) اصلاح ده نو اوس ذکر دَ قتال کوی چه په هغے سره تحصین او حفاظت دَ دین او دَ مسلمانانو دَ مالونو راځئ چه دا اجتماعی او سیاسی اصلاح ده۔

۲:۔ مخکښې احکام تکلیفیه ذکر شول چه په هغے سره دَ قتال استعداد پیدا کیږی نو اوس دَ قتال حکم راوړی۔

۳:۔ په آخری امر کښې دَ وفات ذکر وو چه هغه حقیقی مرګ دے نو اوس یو قسم مرګ ذکر کوی چه هغه عقوبتی مرګ دے۔

اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِیۡنَ خَرَجُوۡا مِنۡ دِیَارِهِمۡ، لفظ دَ اَلَمۡ تَرَ کله دَ هغه چا دَ پاره ذکر کیږی چه مخکښې په واقعه علم لری نو دا دَ پاره دَ تقریر او تذکیر وی او دا سے په قرآن کښې لږ دے۔ او کله دَ هغه چا دَ پاره ذکر کیږی چه دَ مخکښې نه علم نه لری نو دا دَ تعجب او تنبیه دَ پاره وی۔ (قاسمی) کله چه فعل دَ رویت په دیکښې متعدی شوے هغه خبر نه چه دَ مخکښې نه سامع نه دے لیدلے نو مقصد په دے کلام کښې ترغیب دے په علم دَ هغه خبر چه رویت هغه نه متعدی شوے دے په الیٰ سره دَ دے وجے نه اتفاق دَ مفسرینو دے چه دلته همزه دَ استفهام دَ حقیقی استفهام دَ پاره نه دے۔ او خطاب په دیکښې دَ معین

دَپاره نه دے۔ او په دے استفهام کښ درے اقوال دی۔
اول قول دا چه دا دَ تعجب او تعجیب دَپاره دے۔ دویم دا چه
دا استفهام تقریری دے لکه دَ اَلَمۡ نَشۡرَحۡ پشان۔ دریم قول،
دا استفهام انکاری دے او په دریواړه حالاتو کښ مقصد تیزی
ورکول دی په علم دَ ما بعد باندے (ابن عاشور) قرطبی وئیلی
دی چه دا رویتِ قلبی دے په معنیٰ دَ الم تعلم سره۔ او په
نیز دَ سیبویه دا ده چه تَنَبَّهۡ اِلٰی اَمۡرِ الَّذِیۡنَ، او دا رویت
دوه فعلونه نه غواړی۔ ابوحیان وئیلی دی چه دا همزه دَ
استفهام داخل دے په نفی باندے نو استفهام تقریری شو نو
ممکن ده چه مخاطب په دے باندے دَ مخکښ نه علم لری۔ او
دا هم ممکن ده چه دَ مخکښ نه علم نه لری خو مراد پکښ
تنبیه او تعجیب وی۔ او دا رویت علمیه دے متضمن دے
داسے فعل لره چه متعدی کیږی په الیٰ سره نو دلته معنیٰ
دا شوه اَلَمۡ یَنۡتَهِ عِلۡمُكَ اِلٰی كَذَا (آیا ستا علم فلانیٰ واقعے
ته نه دے رسیدلے) په دے ټولو اقوالو سره ثابت ده چه
لفظ دَ اَلَمۡ تَرَ مخکښ علم او رویت لره مستلزم نه دے نو
دا قول دَ جاهلانو (بریلیانو) باطل دے چه هغوئ وائی چه دَ
دینه معلومه شوه چه نبی صلی الله علیه وسلم په تیرشوو ټولو
واقعاتو باندے علم لرلو مخکښ دَ وحی نه او هغه حاضر ناظر
وو اوس هم دے۔ دا دَ قرآن تحریف دے۔ اَلَّذِیۡنَ خَرَجُوۡا
مِنۡ دِیَارِهِمۡ، دَ دے قوم په باره کښ دوه اقوال مشهور دی
اول دا چه دا دَ بنی اسرائیلو قوم وو چه دَ دوی په وطن کښ
طاعون مرض (وباء) راغلے وو نو دَ مرګ دَ یرے دَ هغه
وطن نه او تختیدل (او دَ دے قول په بنا سره قرطبی دلته
دَ طاعون احکام ذکر کړیدی) دویم قول دا دے چه دا دَ
حزقیل علیه السلام قوم وو۔ او دَ دوی بادشاه دوی ته دَ
قتال حکم اوکړو نو دوی دَ هغه نه او تختیدل دَ دے یرے دَ
وجے نه چه قتال کښ خو به مونږ مړه شو۔ نو الله تعالیٰ به

دوی پاندے مرګ راوستلو - بیا دَ حزقیل علیه السلام په دُعا سره اته ورځې روستو راژوندی شول - ابن عطیه وئیلی دی چه دَدے ټولو اقوالو سندونه کمزوری دی لیکن دَ قصص دَ بنی اسرائیل په قرینې سره دَ تورات فصل اوودیرشم باب نبوت حزقیل کښې دا واقعه لیکلې ده - قرآن کریم هم اکثر دَ بنی اسرائیلو هغه قصے او واقعے ذکر کوی چه په عربو کښې دَ یهودیانو سره دَ نزدیکت دَ وجے نه مشهورے وے او دا قول په دے وجے سره غوره دے چه روستو ئے وریسے امر دَ قتال ذکر کړے دے په وَقَاتِلُوْا سره۔ وَهُمْ اُلُوْفٌ، په دیکښې دوه اقوال دی - اول قول دا چه جمع دَ الف ده او په دیکښې بیا ډیر اقوال دی لیکن غوره قول دا دے چه لس زره یا زیات وو ځکه جمع کثرت ئې ذکر کړې ده یا مراد دَ دے نه نفس کثرت دے - دویم قول، دا جمع دَ آلِفٌ ده یعنی دوی کورنئ کښې متفق او متحد وو یعنی اختلاف سبب دَ ترلِک قتال نه وُ بلکه یره دَ مرګ نه سبب وُ - حَذَرَ الْمَوْتِ، دا مفعول لهٗ دے دَ خرج دَ باره - او حذر هغه خوف دے چه ځان بچکول ورسره متصل وی - فَقَالَ لَهُمُ اللهُ مُوْتُوْا، په دے سره مراد قول تکوینی دے یعنی زر واقع کیدل دَ مراد دَ الله تعالیٰ - په قضاء وتقدیر سره قول تشریعی په دیکښې متصل نه دے - ابن عربی وئیلی دی چه دا مرګ دَ عقوبت او سزا دے - په دے پسے روستو دنیوی حیات راځي او بیل موت اجلی دے په هغې پسے دنیوی ژوند بیا نه راځي - ثُمَّ اَحْیَاهُمْ، دوی دَ حزقیل علیه السلام په دُعا یاندے الله تعالیٰ بیا راژوندی کړل دا دَ هغه نبی معجزه وه پشان دَ معجزاتو دَ عیسیٰ علیه السلام - او دا سے واقعه دَ بنی اسرائیلو په طلب دَ رویت کښې په آیت ۵۵ کښې او دَ بقرے په واقعه کښې په آیت ۷۳ کښې هم تیره شویده - او دا ډیر کرت دے۔

وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَاعْلَمُوا

او جنګ کوئ په لار د الله تعالیٰ کښې او پوهه شئ

أَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (۲۴۴)

چه یقیناً الله تعالیٰ هرڅه آوری عالم دے په هرڅه باندے.

فائدہ ۱ :- قرطبی د ابن عطیه نه نقل کړی دی چه په دے واقعه کښې عبرت دے چه مرګ په اختیار د الله تعالیٰ کښې دے د هغې نه خلاصیدل په هیڅ تن بیرسره نشی کیدے او دا رنګ دا تمهید دے د پاره د امر د جهاد دے اُمت ته. یعنی که دوی چرته بزدلی اوکړه د قتال کولو نه نو الله تعالیٰ به په دوی باندے ذلت راولی۔ فائده ۲ :- د معجزاتو منکرین د دے واقعے د ظاهر نه انکار کوی او تاویل کوی چه موت د دوی دا سے نه وو چه روح بیخی د بدن نه جدا شو بلکه دا یو مرض دے چه د سکتے او بے هوشئ نه زیات دے نو هغه په دوی راغلے وو۔ دا رنګ ابن راوندی د تولو مرده په باره کښې دا عقیده لری چه د بدن نه ارواح نه جدا کیږی بلکه د غشے حالت وریاندے راځی چه روح د بدن په اجزاؤ (اندامونو) کښې موجود وی هرځائے کښې چه وی. آلوسی وئیلی دی چه د دوی دا قول او مذهب د عقل (او شرع) نه مخالف دے۔ او الله تعالیٰ دے موږ او ټول مسلمانان د داسے عقیدے نه بچ اُوساتی - إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ، دا پشان د علت د ما قبل دے یعنی فضل په دغه کسانو باندے په ژوندی کولو سره وو او نورو خلقو باندے په عبرت اخستلو سره د دے واقعے نه - وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ، دا استدراک دے د پټ عبارت نه یعنی په ټولو خلقو باندے واجب دے شکر د نعمتونو د الله تعالیٰ. لیکن ډیر د دوی نه ناشکره دی لکه په سورة اسراء ۸۹ کښې ذکر دی. او شکر گزار لږ بندګان دی لکه چه په سورة سبا ۱۳ کښې دی۔

۲۴۴ :- په دے آیت کښې دے امت ته د قتال امر دے۔ او

مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰہَ قَرْضًا

خوک دٔ هغه کس چه قرض ورکړی الله تعالیٰ ته قرض

حَسَنًا فَیُضٰعِفَهٗ لَهٗۤ اَضْعَافًا كَثِیْرَةً ؕ

ښائسته (په اخلاص) نو دوچند به کړی هغه دَده دَپاره په دوچند کولو ډیرو سره

وَاللّٰهُ یَقْبِضُ وَیَبْصُۜطُ ۪ وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ (۲۴۵)

او الله تعالیٰ تنګوی (رزق) او فراخوی او خاص دَهغه طرفته اوګرځولے شئ تاسو۔

عطف دَ مضمون دے په حاصل مضمون دَ ما قبل باندے یعنی دَ مرګ دَ یرے دَ وجے نه سستی مهٔ کوئ بلکه وَقَاتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ۔ قرطبی وئیلی دی چه ټول عبادات په سبیل الله کښ داخل دی۔ او امام مالك رحمه الله وئیلی دی چه لارے دَ الله تعالیٰ ډیرے دی او په هره لار باندے یا په هغے کښ یا دَ هغے دَپاره قتال ضروری دے۔ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ، په دیکښ ترغیب او تحذیر دواړه دی۔ سمیع دے آوری آوازونه دَ مجاهدینو او دَ هغوی دَ آسونو او دَ ګزارونو دَ وسلو۔ یا دا چه ترغیب ورکوی بل چا ته دَ جهاد۔ عَلِیْمٌ یعنی عالم دے په زړونو او نیتونو چه دَچا نیت دَ فی سبیل الله او دَچا بل څه دُنیوی غرض دے۔

ش ۲۴۵:۔ په دے آیت کښ ترغیب دے انفاق فی سبیل الله ته ځکه قتال بغیر دَ اسبابو نه نشی کیدے۔ او دَ حصول دَ اسبابو دَپاره مالی انفاق ضروری دے۔ او دیته جهاد بالمال وئیلے شی۔ مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا، مقصد په دے استفهام کښ تیزی ورکول دی۔ مَنْ استفهامیه دے او ذَا موصول مبهم دَپاره دے۔ قرض په لغت کښ قطع (پریکولو) ته وئیلے شی نو دَ مال نه یو ټکړه پریکول قرض دے۔ بیا په نیز دَ زجاج وکسائی هر هغه فعل چه په هغے سره جزاء طلب کیږی که خیر وی او که شر وی۔ او بعضو په خیر باندے خاص کړیدے۔ او په عرف کښ دَ مال وغیره ورکول دی دے دَپاره چه دهٔ ته بیا واپس

کړیشي- لیکن دلته استعمالیږي دَ خرچ کولو دَ یو څیز دَ پاره په لار دَ الله تعالی کښ دَ پاره دَ طلب دَ جزاء که هغه څیز نفس وي، بدن وي او که مال وي- او قَرْضًا حَسَنًا (حسن) کښ اشاره ده چه دا قرض خالي وي دَ عیب دَ ریا او زیادلو او اذي (تکلیف) ورکولو نه او په اخلاص باندې بنا وي- قرطبي وئیلي دي چه انفاق فی سبیل الله ئې مشابه کړیدې دَ قرض دَ انسانانو سره نو په دیکښ ډیر ترغیب دې دَ نیه اعمالو کولو ته او وعده دَ ثواب ورکولو ده ځکه چه قرض واجب الاداء دي او مقروض په هغې باندې شکر هم ادا کوي- فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً ضِعَفٌ په اصل کښ مثل دَ یو څیز دې په مقدار کښ او مضاعفه زیات دې دَ مثل نه په ډیرچنده سره- او اضعاف جمع دَ ضعف ده او موصوف ده په کثرت سره نو دَ دې دَ زیاتوالي شمار یو الله تعالی ته معلوم دې دَ دې انتها او حد معلوم نه دې- فَيُضَاعِفَهُ کښ زور دَ دې وجې نه دې چه دا په معنی کښ جواب دَ استفهام دې تو اَنْ ناصبه دَ دې په جواب کښ پټ دې- وَاللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ، په دیکښ ترغیب دې چه انفاق دَ مال کمیدلو دَ وجې نه مه پریږدئ ځکه چه انفاق سره په مال کښ کمې زیاتې نه راځي بلکه کمې زیاتې خو دَ الله تعالی په اختیار کښ دې او په دې جمله کښ ډیر اقوال دي- له الله تعالی دَ مال او رزق تنګسیا او فراخي راولي ۲ه صدقات قبض کوي (قبلوي) او فراخ عوض (بدله) ورکوي- ۳ه مرګ راولي په قبض کولو دَ روح سره او ژوند اوږدوي- ۴ه بعض زړونه تنګوي او په بعضو کښ خوشحالي او فراخي پیداکوي- او نور هم اقوال شته وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ، په دیکښ تنبیه او تذکیر دَ آخرت دې- او ارجاع (واپسي) دَ اعمالو دَ جزاء دَ پاره ده-

أَلَمْ تَرَ إِلَى الْمَلَإِ مِنْ بَنِي إِسْرَاءِيلَ

آیا نه کورې ته یو ډلې ته دَ بني اسرائیلو نه

مِنْ بَعْدِ مُوسَىٰ إِذْ قَالُوا لِنَبِيٍّ لَهُمُ

روستو دَ موسیٰ علیه السلام نه کله چه دوی اُویل خپل نبي ته

ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ

مقرر کړه زمونږ دَپاره بادشاه چه جنګ اوکړو په لار دَ الله تعالیٰ کښ

قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ

اُویل هغه نزدے ده (ستاسو دَ حال نه) که چرے فرض کړے شي په تاسو باندے

الْقِتَالُ أَلَّا تُقَاتِلُوا ۖ قَالُوا وَمَا لَنَا

جنګ چه جنګ به اونه کړے دوی اُویل او څه وجه ده مونږ لره

أَلَّا نُقَاتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَدْ

چه جنګ به نه کوُ په لار دَ الله تعالیٰ کښ او حال دا چه یقیناً

أُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَأَبْنَائِنَا ۖ فَلَمَّا

مونږ ویستلے شوے یو دَ کورونو خپلو او ځامنو خپلو نه نو هر کله

كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا إِلَّا قَلِيلًا

چه فرض کړے شو په دوی باندے جنګ دوی مخ اوګرځوُ مګر لږ کسانو

مِنْهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿٢٤٦﴾

دَ دوی نه او الله تعالیٰ خه علم لرونکے دے په ظالمانو خلقو باندے

۲۴۶:- دَ دے آیت نه دویمه واقعه دَ بني اسرائیلو ذکر کوی۔
ربط ۱:- مخکښ ئے وقاتلوا فی سبیل الله امر ذکر کړو نو اوس تحذیر ذکر کوی چه دَ فرضیت دَ قتال نه روستو په قتال کولو کښ سستي اونکړئ اګرچه تاسو لږ یئ پشان دَ بني اسرائیلو

ورنه ذليل او رسوا به شئ

۲:- مخکښې امر وو په قتال سره نو اوس دَ هغې دَ نظام دَ پاره ضرورت دَ امیرِ جهاد (مَلِك ، بادشاه) ذکر کوی - اَلۡمَلَاءُ ، هغه جماعت ته وئیلے شی چه دَ هغوی په مینځ کښې اتفاق وی او دا اسم جمع ده - او دا اخستے شوے دَ مِلأ ته (ډکول دَ لوښی په اوبو وغیره سره) دَ عربو عادت دا وو چه دَ اوبو کودرته به جمع شول نو دَ یو بل سره به یې دَ مشکیزو او نورو لوخو دَ اوبو کښې په ډکولو کښې امداد کؤو - او اوبه خو اصل دَ حیات (ژوند) دے نو اشاره شوه چه څوک دَ یو بل سره دَ ژوند په منافعو کښې امداد کوی نو هغوی ته مَلأ وئیلے شی گویا که دوی دَ شرافتِ دُنیوی یا اخروی نه ډک دی - او زجاج وئیلی دی گویا که دوی ډک دی دَ هغه څیزونو نه چه دوی هغې ته محتاج دی - مِنۡ بَعۡدِ مُوۡسٰی ، دَ دینه مراد وفات دَ موسیٰ علیه السلام دے - اِذۡ قَالُوۡا لِنَبِیٍّ لَّهُمُ ، دَ دۀ نه مراد صمویل علیه السلام وو چه هغه ته په عربئ کښې شمویل وئیلے شی - لِنَبِیِّهِمۡ یې نه دے وئیلے ځکه چه دا نبی معروف نه وو دَ مخاطبینو دَ قرآن پۀ وخت کښې او بله وجه دا ده چه عبرت دَ واقعې په تعین دَ نبی باندے موقوف نه دے بلکه دَ هر نبی مخالفت کول دَ ذلت سبب دے - اِبۡعَثۡ لَنَا مَلِکًا نُّقَاتِلۡ فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ ، تاریخ والو لیکلی دی چه تر دے واقعې پورے په بنی اسرائیلو کښې عَصۡرُ الۡقُضَاتِ وو یعنی دَ هر یو دَ پاره دَ بنی اسرائیلو جدا جدا حاکم وو که هغه به نبی وو یا غیر نبی وو - او هغه به دَ دوی فیصلے کولے او دا صمویل علیه السلام دَ دغے زمانے آخری نبی وو - ابن کثیر وئیلی دی چه دَ موسیٰ علیه السلام نه روستو څه زمانے پورے بنو اسرائیل په خپل دین باندے پاتې وو - خو بیا به دوی کښې بدعات او شرک پیدا شو - او انبیاؤ کرامو به دوی ته دعوت کوو لیکن دوی به دَ انبیاؤ قتل کؤو یا به یې انکار کوو تر دے پورے چه په دوی باندے فلسطین والا (دُشمنان دَ دوی) غالب شول او دَ

هغوی بادشاه مشهور وو په جالوت سره - او هغه دوی لره ډکور ونو نه اوشړل او د دوی بچي ئې غلامان کړل او د تورات تابوت ئې د دوی نه قبضه کړو او په اشن ودعلاقه کښې ئې کیښودو. دغه وخت بني اسرائیل پوهه شول چه د جالوتیانو په مقابله کښې منظم قتال ضروری دے لیکن صمویل علیه السلام د بین ن لحاظ سره کمزورے شوے وو نو دوی د هغه نه مطالبه اوکړه چه د نظام قتال د پاره یو مَلِك (بادشاه) ضروری دے نو د هغې نه روستو په دوی کښې عصر الملوک پیل اشو. دا ټے واقعات د تورات په سفر صمویل الاول اصحاح سابع کښې ذکر دے.

قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ أَلَّا تُقَاتِلُوا، دا استفهام تقریری دے او اَلَّا تُقَاتِلُوا مُسْتَفْهَمٌ دے د پاره د هَلْ او خبر دے د عسی د پاره، او دلیل دے د جواب د اِنْ شرطیه - یعنې په اَلَّا تُقَاتِلُوا کښې معنیٰ د تنازع ده د هَلْ او عسی او اِنْ - نو په دیکښې معنیٰ د تحذیر ده د ترک قتال نه روستو د فرضیت نه د بعض شیطانی وسوسو او د بزدلئ د وجے نه. او د تپی گمان دا وو چه دوی به په قتال کښې بزدلی اوکړی د وجے د مخکښې گناهونو د دوی نه. قَالُوا وَمَا لَنَا أَلَّا نُقَاتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ، دا جمله په اصل کښې معطوف ده په اِبْعَثْ لَنَا مَلِكًا باندے او په مینځ کښې د دوی د تپی قول په طریقه د جملے معترضے سره دے. مَا په معنیٰ د اَيُّ شَيْءٍ سره استفهام انکاری دے. د دینه مراد دا دے چه څه سبب دے موتږ له د پریښودلو د قتال او مفهوم دا دے چه هیڅ مانع نیشته د قتال کولو نه. مقصد د دوی دا وو چه زموتږ امید دے چه الله تعالیٰ به زموتږ مدد اوکړی او بزدلی زموتږه نیشته دے - وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَأَبْنَائِنَا، دا جمله حالیه ده په طریقه د علت د مخکښې انکار د پاره. او مراد په دیکښې وجود د سبب د قتال دے طبعًا او شرعًا ځکه چه غیرت طبعي د انسان تقاضا کوی د دشمن نه د بدل اخستلو. اخراج په اصل کښې لرے کول د څیز دی د خپل ځائے او د خپل صاحب نه. نو یا معنیٰ

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ

او اُویل دوی ته نبی دَ دوی یقینًا الله تعالیٰ مقرر کړے دے

لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا ۚ قَالُوٓا أَنّٰى يَكُونُ

ستاسو دَ پاره طالوت بادشاه دوی اُویل څه رنګ به کیږی شی

لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ

دَده دَ پاره بادشاهی په مونږ باندے او مونږ ډیر حقدار یو په بادشاهئ سره

مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ۚ

دَده نه او نه ده ورکړے شوے ده ته فراخی دَ مال

اَبْنَآءِنَا ته شامل ده یعنی دَ څامنو نه ئے مونږ لرے کړی یو او هغه ئے زمونږ نه قید کړی دی. مؤرخینو لیکلی دی چه دَ دوی نه ئے څلور سوه اَوَ څلویښت هلکان غلامان کړی وو. لیکن سبب دَ ضعف دَ دوی روستو داوو چه دوی دا نه دی وئیلی چه قَدْ اَمَرَنَا اللّٰهُ بِالْقِتَالِ وَاَوْجَبَ عَلَيْنَا یعنی قصد او نیت دَ دوی امتثال دَ اَمرالله نه وو. صرف سبب دَ غیرت طبعی ذکر کړو. فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ، داخلاصه او اجمال دَ دوی دَ قصے دے چه هغه روستو په تفصیل سره ذکر کیږی. او دا هغه ضعف دے چه مخکښ دَ هغے سبب ذکر شو. او په دیکښ دَ دے اُمت دَ مؤمنانو دَ پاره تحذیر دے. یعنی اے مؤمنانو هرکله چه تاسو باندے قتال فرض شی تو تاسو دَ بنی اسرائیلو پشان دَ دُنیا پرستئ دَ وجے نه سستی او بزدلی اونکړئ. اِلَّا قَلِيْلًا، په حدیث سره ثابت ده چه دغه قلیل درے سوه دیارلس (۳۱۳) کسان وو په مقدار دَ اصحابو دَ واقعے دَ بدر چه په اسلام کښ اوله غزوه وه.

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ، په دے وعید کښ اشاره ده چه دَ فرض قتال نه مخ ګرځول ظلم دے. او دا سے ظلم دَ اقوامو دَ ذلت سبب ګرځی.

قَالَ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهٗ

اٰویل هغه یقینًا الله تعالیٰ غوره دلے ورکړیے دے دة لره په تاسو باندے او زیاتی کړے دے دة ته

بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ؕ وَاللّٰهُ

فراخی په علم او جسم کښ او الله تعالیٰ

يُؤْتِيْ مُلْكَهٗ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ

ورکوی بادشاهی خپله چالره چه او غواړی او الله تعالیٰ

وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۴۷﴾

فراخ فضل والا دے عالم دے په هر څه باندے۔

ربط: په دے آیت کښ اجابت دے د دے قول چه اِبْعَثْ لَنَا مَلِكًا، او د بنی اسرائیلو قباحت ذکر دے چه هغوی د خپل نبی قول په خپلے رائے سره رد کړے وو۔ او دا رنګ په دیکښ د امیر د پاره د صفاتو شرعیو ذکر دے۔

اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوْتَ مَلِكًا، په دیکښ تاکید دے په ذکر د لفظ د اِنَّ سره او صریح نسبت دے الله تعالیٰ ته او په لفظ د قَدْ سره اشاره ده چه دا انتخاب د طالوت بادشاه د نبی په رائے سره نه دے۔ په تورات کښ یئے د هغه نوم شاؤل ذکر کړے دے نو طالوت د هغه لقب وو۔ یا د قرآن په اصطلاح کښ او یا مخکښ د بادشاهئ د هغه نه په خپل قوم کښ دا د هغه لقب وو۔ مَلِكًا نه مراد امیر د لښکر دے (مجاهد)۔ قَالُوْٓا اَنّٰى يَكُوْنُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا، دا کلام د دوی په طریقه د تعنت سره رد دے د انتخاب د الله تعالیٰ او د قول د نبی د الله تعالیٰ او دا عادت د بنی اسرائیلو دے چه تقدیم د مفضول په فاضل باندے نه منی او فقیر انسان ته سپک ګوری او اعتبار نسب ته ورکوی ځکه چه په دوی کښ د مخکښ نه دوه خاندانونه مشهور وو یو خاندان (کورنئ) د نبوت چه هغه اولاد د لاوی بن یعقوب علیه السلام وو۔ او بله کورنئ د ملکیت وه چه اولاد د یهودا وو۔

نو دوی نسب ته اعتبار ورکړو او نسب او مال داری خو اسباب ضعیفه دی په مقابله دَ لوئے سبب کښ چه هغه قول دَ الله تعالیٰ او دَ هغه دَ رسول دے - او تقدیر او قضاء الٰهی ده - او الله تعالیٰ فرمائیلی دی چه إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ (یقیناً عزت مند ستاسو نه په نیز دَ الله تعالیٰ زیات تقوٰی والا دے) او صحیح حدیث کښ واردی چه لَا فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى عَجَمِيٍّ وَلَا لِعَجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ إِلَّا بِالتَّقْوَى (نیشته غوره والے دَ عربی په عجمی باندے او نه دَ عجمی په عربی باندے مګر په تقوٰی سره) (ابوحیان) - او دا عادت دَ بنی اسرائیلو اوس هم دَ دے امت په بعضے جاهلانو کښ شته دے چه مال اوځ او نسب له په دینداری باندے غوره والے ورکوی - وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ، دا هم مستلزم دے اعتراض کولو له په الله تعالیٰ باندے چه الله تعالیٰ زیات حقدار او غوره شخص ته حق نه دے ورکړے - او دا رنګ دا خپله تزکیه کول دی بے ځایه - او دا دواړه هم قبیح اخلاق دی - او دلته دعوٰی حقیقتاً په اعتبار دَ نسب او دَ مال سره ده - وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ، دا هم دوی دَ بادشاهئ نه مانع ذکر کوی (چه هغه فقیری او غریبی ده) دَ دوی په ګمان کښ - او دا خوی او خصلت دَ مالدارو اوس هم په یهودیانو کښ شته دے - قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ، دا جواب دے دَ دے قول دَ دوی چه نحن احق بالملك - یعنی دا انتخاب ما دَ ځان نه نه دے کړے بلکه په دے باندے امر دَ الله تعالیٰ دے او دا یقینی حجت دے او الله تعالیٰ په مصلحتونو دَ خلقو باندے ښه عالم دے - نو دَ طالوت په انتخاب کښ ډیر حکمتونه دی - وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ، دا رد دے دَ هغوی په قول باندے چه لَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ، یعنی شریعت فضیلت په مالدارئ سره نه دے ورکړے بلکه په زیادت دَ علم او جسم سره دے - او دا دَ انتخاب دَ امیر او بادشاه دَ پاره

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَةَ مُلْكِهٖٓ

او اُویل دوی ته . نبی د دوی یقیناً نخه د بادشاهئ د ده

أَنْ يَّأْتِيَكُمُ التَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ

دا ده چه راشي تاسو ته صندوق چه په هغې کښې آرام د تهولو وی

مِّنْ رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ آلُ

ستاسو د رب د طرف نه او باقي به وی د هغې نه چه پریخودلے دے آل

مُوسٰى وَآلُ هٰرُونَ تَحْمِلُهُ الْمَلٰٓئِكَةُ ۚ إِنَّ

د موسیٰ او آل د هارون علیهما السلام را وچت کړے به وی ملائکو یقیناً

فِي ذٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِينَ ﴿۲۴۸﴾

په دیکښی ضرور نخه ده تاسو لره که چرے تاسو مومنان یئ۔

شرعي صفات دي۔ او اَلْعِلْمِ نه مراد علم او پوهه د تن بیر د جنګ او سیاست د رعیت دے او دا په علم د وحی او د دین سره حاصلیږی او اَلْجِسْمِ نه مراد ځائسته او روغ بدن دے او زیات طاقت او صبر په حال د جنګ۔ ځکه چه زیادت د ظاهری جسم په لیدونکی باندے رعب او هیبت اچوی او زیادت معنوی ډیر والے د خیر او د شجاعت دے (ابن کثیر، قرطبی) او دا صفات په خلفائے راشدینو او معاویه رضی الله عنهم کښی هم پوره موجود وو دا رنګ د هغوی نه روستو په نورو خلفاؤ کښی هم موجود وو اګرچه د صحابه کرامو نه کم وو۔ وَاللّٰهُ يُؤْتِي مُلْكَهٗ مَنْ يَّشَآءُ، دا هم د هغوی د نبی په کلام کښی داخل دے۔ او دا تاکید ی رد دے د هغوی په مخالفت کولو باندے ځکه چه الله تعالیٰ فاعلِ مختار دے نو د هغه په انتخاب باندے اعتراض نشی کیدے۔

وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ، په دیکښی رد دے د هغوی په اعتراض یعنی الله تعالیٰ وسیع او فراخ فضل والا دے نو په فقیر او غریب شخص باندے هم فضل کوی۔ او په حقدار د بادشاهئ او مشرئ کولو باندے ښه علم لری۔

۲۴۸ په دے آیت کښ د الله تعالیٰ د طرف نه په حقانیت د طالوت د بادشاهئ باندے یو علامت ذکر کوی - او د انزول د برکاتِ الٰهیه دے په سبب د حق مَلِك (بادشاه) سره۔
وَقَالَ لَهُمْ، ظاهر داده چه دوی د تعنت د وجے د خپل نبی نه یو علامت غوښتلے وو نو د هغے په جواب کښ دا علامت راغے۔ او مخکښ ذکر شوی دی چه د دوی د عصیان د وجے دشمنانو (عمالقو۔ فلسطینیانو) د دوی نه تابوت قبضه کړیوو۔ نو د هغه تابوت بغیر د جنګ نه واپس راتلل او بغیر د ظاهری اسبابو نه (په واسطه د ملائکو سره) راتلل ضرور یو معجزه وه او په هغے کښ دننه هم امور معجزاته موجود وو۔ او موجوده تورات کښ په سفر صمویل کښ د تابوت د واپس راتللو وجه او طریقه بیځ ذکر کړیږه۔ او مفسرینو هم د هغے د پاره مختلف قصے ذکر کړی دی۔
اَنْ يَّاْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ، نسبت تابوت ته د راتللو مجاز دے۔ تابوت صندوق او بکسے ته وئیلے شی او د الف لام نه معلومیږی چه دا په بنی اسرائیلو معلوم او معروف وو او دا هغه وو چه په هغے کښ اصل الواح د تورات د موسیٰ علیه السلام د وخت نه پراته وو او هغے ته تابوت الشهادت وئیلے کیږلو۔
فِيْهِ سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ، په ضمیر د فِیْهِ کښ دوه اقوال دی اول قول دا دے چه ضمیر راتللو د تابوت ته راجع دے چه د هغه راتلل په خرق عادت (نا آشنا طریقے) سره وو۔ دویم دا چه ضمیر تابوت ته راجع دے یعنی په تابوت کښ دننه معجزاته څیزونه پراته وو۔ سَكِيْنَةٌ، د سکون نه اخستلے شویږے په معنیٰ د اطمینان او وقار لکه چه په حدیث د وتللو د موځ د پاره کښ وارد دی چه عَلَيْكُمْ بِالسَّكِيْنَةِ، او په حدیث د براء رضی الله عنه کښ دی تِلْكَ السَّكِيْنَةُ تَنَزَّلَتْ لِلْقُرْاٰنِ، او په حدیث د اُسید بن حضیر رضی الله عنه کښ دی تِلْكَ الْمَلَائِكَةُ كَانَتْ تَسْتَمِعُ لَهٗ
نو معلومه شوه چه په اول حدیث کښ مراد د سکینه نه اصحاب السکینه دی چه هغه ملائک دی۔ نو دلته هم تابوت

او دَ هغې راتلل سبب وو دَ اطمینان دَ هغوی دَ زړونو په باره دَ طالوت کښې - دا رنګ سبب دَ سکون دَ زړونو دَ دوی وو په حالت دَ جنګونو کښې - ځکه چه دا معجزه وه یا په دې کښې کتاب دَ الله تعالیٰ پروت وو - وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَىٰ وَآلُ هَارُونَ، بقیه په اصل کښې هغه زیاتی څیز دے چه پاتے شوے وی دَ څه ډیر څیز نه او کله نفیس او عمده (بشکلې) څیز ته هم وئیلے شي - او دلته دَ دے په مصداق کښې ډیر اقوال دی - له عصا (کونټې) دَ موسیٰ علیه السلام او جامے دَ هغه او دَ هارون علیه السلام ۲ له عصا دَ موسیٰ علیه السلام او پګړئ دَ هارون علیه السلام ۳ له علم او تورات (مجاهد او عطاء) ۴ له جهاد فی سبیل الله او په هغې باندے امر دَ الله تعالیٰ (ضحاك) په اضافت دَ آل موسیٰ او آل هارون کښې مضاف او مضاف الیه دواړه داخل دی یعنی نفس دَ موسیٰ او هارون علیهم السلام او دَ هغوی اهل بیت او تابعداران - او ابو حیان وئیلی دی چه مراد دَ دینه هغه انبیاء علیهم السلام دی چه په اولاد دَ دے دواړو کښې راغلی وو تو دغه څیزونه هغوی دَ یو بل نه په توارث (وراثت) سره نقل کړی وو او په تابوت کښې پراته وو - تر دے پورے چه عمالقو دَ دوی نه قبضه کړل -

تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ، دا جمله حالیه ده یا مستانفه ده او دا هم دلالت کوی په عظمت شان دَ دغه تابوت باندے یعنی ملائکو هغه تابوت راوړلو بغیر ظاهری اسبابو نه وو او دَ طالوت په خوا کښې یې کیښودلو. إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ، په ذَٰلِكَ کښې دَ تابوت راتلو ته اشاره ده - آيَةً نه مراد دا چه دا دلیل دے ستاسو دَ پاره په باره دَ بادشاهئ دَ طالوت کښې - دا رنګ علامت دے دَ پاره دَ نصرت دَ الله تعالیٰ تاسو سره په مقابله دَ دشمن کښې - إِنْ دَ شرط دَ پاره دے ځکه چه دیته آیت هله وئیلے شي چه څوک صحیح ایمان لری په الله تعالیٰ او دَ هغه په قدرت او په معجزاتو او ملائکو باندے - یا مؤمنین په معنیٰ دَ تصدیق

کوّونکو دے په بادشاهۍ دَ طالوت باندے.
فائده ۱:- لفظ دَ سکینه په قرآن کریم کښې شپږ کرته ذکر دے اول دا آیت بیا په سورة توبه ۲۶، ۴۰ او سورة فتح ۴، ۱۸، ۲۶ کښې. او په دے روستو پنځه واړه آیتونو کښې په نبي صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو باندے انزال دَ سکینه ذکر دے نو معلومه شوه چه دا عظیم نعمت دے دَ الله تعالیٰ. دا رنګ لفظ دَ بقیه په قرآن کریم کښې درے کرته ذکر دے اول دا آیت دویم سورة هود ۸۶، ۱۱۶ په دے دواړه آیتونو کښې دَ اکثر مفسرینو په تیز باندے دَ بقیه نه مراد طاعت دَ الله تعالیٰ او علم دَ دین او عقل او پوهه ده. نو معلومه شوه چه په دے آیت کښې هم دَ بقیه نه مراد علم دے یعني علم دَ موسیٰ او هارون علیهما السلام دَ تورات نه علاوه (ځکه چه تورات خو مصداق دے دَ سکینت دَپاره) او دا سے علم ته علم دَ حدیث دَ انبیاء کرامو وئیلے شي. او صاحب اللباب وئیلي دي چه دَ بقیه نه مراد دَ موسیٰ او هارون علیهما السلام دین او شریعت دے. یعني په سبب دَ دغه تابوت سره دَ دوي باقي دین او شریعت منتظم کړے شو. نو حاصل دا شو چه په دغه تابوت کښې دَ الله تعالیٰ کتاب (تورات) وو او دَ بني اسرائیلو دَ انبیاؤ احادیث وو. او دا دواړه سبب دَ اطمینان دَ زړونو دے او په دیکښې آیات الٰهیه هم شته دے او دیته برکاتِ الٰهیه وئیلے شي. چه دَ طالوت په وجه سره بني اسرائیلو ته دا برکات واپس راغلل. نو معلومه شوه چه دَ صالح او نیک امیر او بادشاه دَ وجے نه په ملک او وطن کښې علوم دَ کتاب الله او احادیث دَ نبي عام کیږي او خوشحالي راځي.
فائده ۲:- سوال: هر کله چه دَ بقیه نه مراد عصا دَ موسیٰ علیه السلام او جامے او پګړۍ دَ هارون علیه السلام شي او دَ هغې په وجود سره دَ زړونو سکون او اطمینان او نصرت الٰهیه حاصلیدلو نو دَ دینه ثابته شوه چه تبرک نیول په خیزونو

دَ پیغمبرانو سرہ جائز دی ؟ - جواب لہ :- مخکښې معلومه شوه چه دلته غوره تفسیر دا دے چه دَ دینه دَ هغوی علم او دین او شریعت مراد دے۔ او کتاب دَ الله تعالیٰ او احادیث دَ انبیاؤ علیهم السلام او دین او شریعت سبب دَ برکاتِ الٰهیه دے په یقین سره۔ جواب ۲ـلہ :- که چرے صحیح ثابت شی چه دغه څیزونه عصا او جامے، پګړئ وغیره وے نو هم دَ دینه انکار نشی کیدے ځکه چه په اشیاؤ دَ انبیاؤ تبرک حاصلول جائز دی او دَ دے دلیل دا دے چه صحابه کرامو به دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ اودس استعمال کړے شوے اوبو سره او دَ هغه په ویښتو مبارکو سره تبرک حاصلولو۔ دَ دے په باره کښې ډیر احادیث وارد دی۔ لیکن دَ دے تبرک دَ پاره شرطونه او شرعی طریقه ضروری ده۔ اول شرط دا دے چه په صحیح سند سره ثابت وی چه دغه جامه، پیزار، عصا او ویښته وغیره دَ نبی صلی الله علیه وسلم دی ځکه چه صحیح سند یئے نه وی او هسے په خلقو کښې مشهور ول کیږی نو افتراء راځی څه رنګه چه دَ حدیث دَ پاره صحیح سند ضروری دے نو دغه شان دَ دے څیزونو دَ صحت دَ پاره هم صحیح سند ضروری دے۔ دویم شرط دا دے چه تبرک به شرعی طریقے سره نه کوی لکه چه بعض جاهلان دَ داسے څیزونو نه طوافونه کوی او دَ هغے نه راتی پیش کوی او هغے ته سجدے کوی او سرونه ورته ټیټوی او دَ هغے عرسونه او میلے جوړوی وغیره۔ دریم شرط دا دے چه هغه به دَ برکاتو دَ پاره یو مستقل مؤثر سبب نه ګڼړی ځکه چه دَ برکت په طور دَ فاعلیت صرف الله تعالیٰ ته نسبت کیدے شی لکه چه دَ دے تفصیل موږ په تنشیط الاذهان فی اصول تفسیر القرآن باب شرک فی البرکات کښې ذکر کړیدے۔ څلورم شرط دا دے چه څیزونه دَ غیر معصوم اشخاصو په جواز دَ تبرک کښې په څیزونو دَ انبیاؤ علیهم السلام باندے نه قیاس کوی اګرچه بعض علماؤ دَ دے دَ جواز قول کړیدے لیکن په دیکښې

دَ هغوی سره هیڅ دلیل نیشته سیوا دَ قیاس کولو نه په څیزونو دَ پیغمبرانو اوحال دا چه قیاس مساوات غواړی۔ او په څیزونو دَ معصوم (نبی) او غیر معصوم کښں خو ډیر فرق دے۔ او شاطبی په کتاب الاعتصام جلد ۲ صفحه ۸ باندے ذکر کړیدی حاصل ئې دا دے چه دَ صحابه کرامو اجماع ده چه هغوی دَ غیر انبیاؤ په څیزونو تبرک نه دے طلب کړے لکه څیزونه دَ ابو بکر او عمر رضی الله عنهما او نور مشران صحابه شول۔ او دَ دے نه کولو دوه وجے دی۔ اوله وجه دا چه دَ هغوی په علم کښں ثابت دی چه دا تبرک حاصلول مختص دی په اشیاؤ دَ پیغمبرانو پورے او نور خلق په هغوی باندے نشی قیاس کیدے۔ دویمه وجه دا ده چه هغوی دَ غلو کولو او دَ شرک پیدا کیدلو نه یره کوله۔ دَ دے وجے نه عمر رضی الله عنه هغه او نه پرے کړه چه خلقو ګمان کوو چه دا هغه اونه ده چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ دے دَ لاندے دَ صحابه کرامو نه بیعت الرضوان اخستلے وو نو دے خلقو به دَ هغے لاندے بیا مونځونه کول نو عمر رضی الله عنه دَ هغے دَ پرے کولو حکم صادر کړو او هغه لارئې هم بنده کړه۔ او نن زمانه کښں ډیر جاهلانو دَ خپلو پیرانو دَ چیلے ځایونه او دَ هغوی دَ عبادت ځایونه دا سے برکت والا ګڼړلے دی لکه کعبه شریفه۔ او دغې ځایونو ته سفرے هم کوی۔ اهل علمو او ذمه دارکسانو له پکار دی چه دَ شرک پیدا کیدلو دا سے دروازے بندے کړی چه خلق په شرک کښں واقع نشی او خلقو ته ترغیب ورکړی چه دَ قرآن وصحیح احادیثو نه علمی تبرکات او فوائد حاصل کړی۔ دا سے تفصیلات شاطبی په کتاب الاعتصام کښں او مولانا عبد الحئ لکهنوی په مجموعة الفتاوی جلد اول صفحه ۲۷۸ کښں لیکلی دی۔

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِالْجُنُودِ قَالَ

نو هر کله چه اووتلو طالوت (د ښارنه) سره د لښکرو نه اُویل یې

إِنَّ اللَّهَ مُبْتَلِيكُمْ بِنَهَرٍ فَمَنْ شَرِبَ

یقیناً الله تعالیٰ امتحان کوی په تاسو باندے په یو سیند سره نو چا چه او څښلو

مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّي وَمَنْ لَمْ يَطْعَمْهُ

د هغے نه نو نه به وی دے زما نه او چا چه او نه څښلے د هغے نه

فَإِنَّهُ مِنِّي إِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً

نو یقیناً دے به وی زما نه مګر هغه څوک چه ډک یې کړو یو چونګ

بِيَدِهِ فَشَرِبُوا مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا

په لاس خپل سره نو او څښلے دوی د هغے نه مګر لږ کسانو

مِنْهُمْ فَلَمَّا جَاوَزَهُ هُوَ وَالَّذِينَ

د دوی نه نو هر کله چه پورے وتلو دے (د نهر نه) او هغه کسان چه

آمَنُوا مَعَهُ قَالُوا لَا طَاقَةَ لَنَا

ایمان یې راوړے وو د هغه سره اُویل دغه پاتے شوو خلقو طاقت نیشته مونږ له

الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالَ

نن د جالوت او د هغه د لښکر سره اُویل

الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُلَاقُو اللَّهِ

هغه کسانو چه دوی ګمان کوؤ چه یقیناً دوی مخامخ کیدونکی دی د الله تعالیٰ سره

كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً

ډیر کرته ډله لږه غالب شوے ده په ډله

كَثِيْرَةًۢ بِاِذْنِ اللّٰهِؕ وَ اللّٰهُ مَعَ

دیرہ بانرے په حکم دَ الله تعالیٰ سره او الله تعالیٰ خاص ملګرے

الصّٰبِرِيْنَ (۲۴۹)

دَ صبر کوونکو دے۔

س۲۴۹ په دے آیت کښ دَ طالوت بادشاه سیاست ذکر کوی په باره دَ صفائیٔ دَ فوجیانو کښ چه کمزوری (دُنیا پرست او دَ امیر نافرمان) دَ بهادرانو او نیکانو نه جدا شی دے دَ پاره چه په قتال کښ کامیابی حاصله شی۔ هر کله چه دوی دَ قتال دَ انتظام دَ پاره بادشاه طلب کړے وو۔ نو روستو دَ انتخاب او تصدیق دَ هغه نه په راتللو دَ تابوت سره اوس تیاری دَ قتال شروع شوه۔ فَصَلَ، دلته لازمی دے په معنیٰ دَ اِنْفَصَلَ او خَرَجَ سره یعنی جدا شو او او وتلو دَ ښار دَ آبادئ نه۔ یا دا متعدی دے او مفعول یئے پټ دے یعنی فَصَلَ نَفْسَهٗ۔ بِالْجُنُوْدِ، دا باء دَ مصاحبت دَ پاره ده یا دَ تعدیت دَ پاره ده۔ جُنُوْد جمع دَ جند ده۔ دَ مخلوق هر قسم ته جُند وئیلے شی۔ دیر مُلګرتو ته جُند وئیلے شویئے۔ ارواح ته هُم جُنُوْدٌ مُّجَنَّدَة وئیلے شوی دے۔ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِيْكُمْ بِنَهَرٍ، دَ قَالَ فاعل طالوت دے او دا قول دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه وحی ده لیکن طالوت دَ شمویل علیه السلام وحی نقل کړه ځکه چه دَ بادشاه کار دا وی چه په رعیت کښ به دَ الله تعالیٰ دَ وحی نفاذ کوی۔ مُبْتَلِيْكُمْ، په دے ابتلاء او امتحان کښ دوه فائدے دی اوله دا چه تمیز راشی په مینځ دَ مطیع او دَ عاصی او کمزوری او بهادر کښ۔ دویمه فائده دا ده چه دوی عادت شی په سختو بانرے دَ صبر کولو سره او ابتلاء دَ الله تعالیٰ دَ خلقو دَ اعلام او دَ فائدے دَ پاره وی۔ الله تعالیٰ دَ هغے نه علم او فائدے اخستلو ته محتاج نه دے۔ دَ نهر په باره کښ ماجدی وئیلی دی چه دا نهر یردن (اردن) دے چه په فلسطین کښ بهیږی او دَ شمال نه

جنوب طرف بحر مرده ته ورپریوځي - اول سرکښ یې اوبه څوړې وصفادي او مخکښ چه لاړے شي نو بیا یې اوبه خرابیږي.
او ابتلاء داسې وه چه موسم د ګرمۍ وو او دا صحرا وو او د دوی سره اوبه لږے وے نو په دوی باندې تنده راغله - نو طریقه د ابتلاء داسې وه چه - فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّيْ، د شرب نه روستو چه مِنْ راشي نو دلالت کوي په کرع باندې - (په مخے د تهر اوبه څښکل) لیکن کله عام هم استعمالیږي دلته په کرع پورے خاص نه دے په روستو قرینے سره - مِنِّيْ کښ مِنْ د تبعیض د پاره راغې یعني ټکړه او مراد د دینه جماعت او تابعداری کول دي او دا داسې دے لکه چه سورة آل عمران ۲۸ کښ ذکر دے چه فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ - او په سورة انعام ۱۵۹ کښ -
وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ فَاِنَّهٗ مِنِّيْ، طعم په اصل کښ ذوق (سکلو) ته وائي او ذائقه سکل د طعام او مشروب دواړو کیږے شي-
سوال :- وَمَنْ لَّمْ يَشْرِبْ یې ولے اونه وئیلو؟-
جواب :- نفي د طعم مستلزم ده نفي د شرب لره ځکه دا هم طعم دے چه اوبه په خله کښ واچوي او بیا یې اوباسي نو وئیلے شي چه د اوبو خوند یې اوڅکلو لیکن شرب ورته نشي وئیلے- نو په دے نفي کښ مبالغه ده چه شرب خو به بالکل نه کوي لیکن څکل قدرے به هم نه کوي او ابن عطیه وئیلي دي چه په دیکښ پټ ولو د ذرائعو د حراموته اشاره ده -
سوال :- دلته یې لَمْ يَطْعَمْهُ او وئیلو لَمْ يَطْعَمْ مِنْهُ یې نه دے وئیلے؟
جواب :- مخکښ یې شَرِبَ مِنْهُ وئیلے وو نو ظاهر دا ده چه کرع منع ده نو دلته یې مِنْ حذف کړو چه معلومه شي چه شرب په کرع سره او بغیر د کرع نه دواړه منع دے - او بله وجه دا ده چه استثناء متصل د اِغْتَرَفَ هم صحیح شي ځکه چه هغه خو په واسطه د لاس سره شرب دے کرع نه ده -
اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهٖ، دا استثناء ده د اولے جملے نه یعني فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ، ځکه چه په هغے کښ حرمت وو د شرب نو په

استثناء سره اباحت ثابت شو د یو غرفے (چونگ) او دویمه جمله په منځ کښې معترضه ده - او متمم ده د اولے جملے د پاره ځکه چه د استثناء نه مخکښې ئے راوړے ده - غُرْفَةً په پیښ د غین سره په معنیٰ د مفعول دے او داوزن استعمالیږي د لږ څیز د پاره لکه لُقْمَةً - او په زور د غین سره مصدر دے د یو کرت د پاره مبرد وئیلی دی چه په زور سره عام دے لږ او ډیر دواړو ته شامل دے او په پیښ سره خاص دے په ډک چونگ پورے - بیړه ، تفسیر دے د غُرْفَةً چه په یو لاس سره مراد دے په دواړه لاسه (لپه) سره مراد نه ده - د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه چا صبر اوکړو په هغه غرفه باندے نو الله تعالیٰ په هغے کښې برکت واچوو - او دا معجزه وه د نبي یا کرامت وو د طالوت - فَشَرِبُوْا مِنْهُ اِلَّا قَلِیْلًا مِّنْهُمْ ، دلته په مِنْهُ سره اشاره ده چه دوی د حرص د وجے نه په کرع سره او په اوخښکلے یعنی سر ئے په نهر باندے ورخکته کړو او ځان ئے ښه موړ کړو - د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه قلیل دوه قسمه وو یو قسم ډیر صبرناک وو نو هغوی بالکل او نه څښکلے او په عزیمت باندے عمل اوکړو - دویم قسم لږ صبر والا وو - نو هغوی اکتفا اوکړه یو چونگ سره نو دوی په رخصت باندے عمل اوکړو - او په حدیث د بخاری کښې ثابت ده چه دا قلیل په مقدار د عدد د اصحاب بدر وو یعنی درے سوه دیارلس کسان وو - فَلَمَّا جَاوَزَهٗ هُوَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ، ظاهر د آیت نه او قول د ابن عباس رضی الله عنهما نه معلومیږي چه پورے وتونکی صرف هغه کسان وو چه شرب (څښکل) ئے نه وو کړے یا ئے په یو چونګ باندے اکتفا کړیوه - او الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا نه مراد کامل ایمان والا دی - مَعَهٗ نه مراد تابعداری د هغه د حکم ده یا ملګرتیا ده په پورے وتلو کښې - قَالُوْا لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوْتَ

وَجُنُوْدِهٖ، دلته عبارت پټ دے یعنې ایمان والو پاتے کیں ونکو ته
آواز ورکړو چه راشئ قتال فی سبیل الله ته نو دوی جواب ورکړو
چه لَا طَاقَةَ لَنَا اه ځکه دوی ته قوت دَ جالوت دَ لښکر ته معلوم
وو نو دَ هغه وخت نه دَ دوی په زړونو کښې پټه یره پرته وه
لیکن په سبب دَ ګناه کولو رچه ښکل دَ اوبو وځ) دَ دوی جبن
(بزدلي) ښکاره شو او دیته په حدیث کښې وَهَن وئیلے شی او دَ
هغې تفسیر په یره کولو سره دَ مرګ نه او په محبت دَ دُنیا سره
کړے شوے دے. جالوت دَ فلسطینیانو بادشاه وو. او دَ یهودیانو
په کتابونو کښې هغه ته جُلیات وئیلے شوے دے. قَالَ الَّذِیْنَ
یَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوا اللّٰهِ، دَ لقاء الله نه مراد مرګ دے دَ الله تعالیٰ
په لاره کښې او ظن په خپله معنیٰ سره دے. یا دَ دیته مراد
ملاقات دے دَ ثواب دَ طاعاتو سره چه هغه جنت دے او ظن
په خپله معنیٰ سره دے. یا دَ لقاء الله نه مراد بعث بعد الموت دے
او ظن په معنیٰ دَ یقین سره دے. اَلَّذِیْنَ یَظُنُّوْنَ نه مراد هغه
خلق دی چه دَ طالوت سره پوره وتلی وو. اشاره ده چه
سبب دَ طاعت او دَ جهاد دَ دوی عقیده دَ بعث بعد
الموت وه.

كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِيْلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةً بِاِذْنِ اللّٰهِ، دَ دوی په
دے قول کښې مقصد تیزی ورکول وو دغه ملګرو ته په قتال
فی سبیل الله باندے. او ردوئ دَ یره کوونکو ته دَ جالوت او دَ لښکر
دَ هغه نه. کَمْ دلته دَ تکثیر دَ پاره دے. فِئَةٍ جماعت دَ خلقو ته
وئیلے شی دَ فِيْءٌ نه اخستلے شوے دے او رجوع ته وئیلے شی
یعنې دَ یوے دلے جماعت خلق هم یو بل ته رجوع کوی.
بِاِذْنِ اللّٰهِ کښې اذن په معنیٰ دَ نصرت او دَ توفیق سره
دے. نو په آیت کښې اشاره وه چه دَ کثرت دَ دشمن دَ وجے
نه قتال پریخودل جائز نه دی. وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ، دا
قول دَ هغوی دے یا قول دَ الله تعالیٰ دے او مقصد پکښې
تیزی ورکول دی په صبر باندے.

وَلَمَّا بَرَزُوْا لِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ قَالُوْا

او هرکله چه دوی ښکاره شول مقابلې دَ جالوت او دَ لښکرو دَ هغه ته اُویل دوی

رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّثَبِّتْ

اے ربه زمونږه راتوے کړے په مونږ باندے صبر او کلک کړے

اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۵۰﴾

قدمونه زمونږ او غلبه راکړے مونږ ته په قوم کافرانو باندے۔

ف۲۵ په دے آیت کښې مقصد دَ تعلیم دَ دُعا دے دَ میدان دَ قتال دَ پاره۔ بَرَزُوْا، براز ډاګے زمکے ته وئیلے شی۔ او مبارزه دا ده چه په میدان جنګ کښې جنګ کوونکی یو بل ته ښکاره شی دَ مقابلے دَ پاره۔ رَبَّنَا، دا لفظ دَ زیادت تضرع دَ پاره دے او دَ اصلاح دَ خپلو احوالو دَ پاره طلب دے دَ الله تعالیٰ نه۔ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا، افراغ دَ لوخی نه دَ اوبو راتویول دی تر دے پورے چه لوخے خالی شی۔ او لفظ دَ عَلٰی اشاره ده استعلاء دَ صبر ته نو افراغ دلالت کوی په ډیر والی باندے او عَلٰی دلالت کوی په غلبه او احاطے دَ صبر باندے او صَبْرًا نکره دلالت کوی په عظمت دَ هغے باندے۔ وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا، دَ خپو تثبیت دَ زړونو دَ پوخوالی نه پیدا کیږی۔ او هغه صبر دے۔ نو صبر دَ زړه سبب دے دَ پاره دَ کلکوالی دَ خپو او مراد دَ دے نه بچکیدل دی دَ تیختے کولو نه دَ میدان جنګ نه۔ وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ، دَ نصرت نه روستو لفظ دَ عَلٰی دَ پاره دَ معنے دَ غلبے دے۔ او نصرت عام دے که په پیدا کولو دَ اسبابو دَ جنګ سره وی او که په نصرت غیبی سره وی۔ یعنی مجاهد فی سبیل الله سره دَ صبر او استقلال نه نصرت الٰهیه ته محتاج دے۔

فَهَزَمُوهُمْ بِإِذْنِ اللّٰهِ ۙ وَقَتَلَ دَاوٗدُ

تو شکست ورکړه دوی هغوی لره په مدد د الله تعالیٰ سره او قتل کړو داؤد علیه السلام

جَالُوْتَ وَاٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ

جالوت لره او ورکړے وه الله تعالیٰ هغه ته بادشاهي

وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ ؕ

او نبوت او علم ئے ورکړے ورته هغه ته د هغه نه چه الله تعالیٰ غوختلو

وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ

او که چرے نه وے دفع کول د الله تعالیٰ خلقو لره بعضو لره (کافران)

بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ وَلٰكِنَّ

په بعضو سره (مؤمنان) ضرور ورانه شوے به وے زمکه او لیکن

اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۵۱﴾

الله تعالیٰ فضل والا دے په ټولو خلقو باندے۔

۲۵۱ په دے آیت کښې هزیمت د دُشمن ذکر دے۔ او د هغې نه روستو په داؤد علیه السلام باندے جمع د بادشاهئ او نبوت دواړو اُوشوه۔ او بیا حکمت د قتال او نصرت الٰهیه ذکر دے چه هغه دفع کول د فساد دی په زمکه کښې۔

فَهَزَمُوْهُمْ، فا دلالت کوی په سببیت د ځکښې د پاره د روستو یعنی اطاعت د هغې لره وکسانو د خپل امیر او توکل په الله تعالیٰ باندے، او دُعا د صبر او د نصرت په دُشمنانو باندے د غلبے سبب شو۔ بِإِذْنِ اللّٰهِ، هر کله چه اسباب خپله په تاثیر کښې الله تعالیٰ ته محتاج دی نو ځکه ئے ورسره اذن الٰهی ذکر کړو۔ هزم په اصل کښې ماتولو ته وئیلے شی او دلته ماتولو نه مراد د هغوی زور ماتول او مغلوب کول دی۔ وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ، دا

دَهغوی دَ هزیمت صورت دے یعنی په لښکر دَ طالوت کښې داؤد بن ایشا یا ایسا یو شخص شریک وو چه دَ یهوذا ابن یعقوب علیه السلام دَ اولاد نه وو۔ او دَ هغه په لاس سره جالوت قتل کړے شو۔ چه دَ هغې تفصیلی قصے مفسرینو لیکلی دی خو په قرآن یا سنت کښې دَ هغې څه ذکر نیشته۔ او په دغه جنګ کښې جالوت سره نور هم ډیر کسان دَ هغه دَ لښکر نه قتل کړے شو او باقی کسان ئے کمزوری شول۔ وَاٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ، مخکښې ذکر شوی وو چه په بنی اسرائیلو کښې دَ موسیٰ علیه السلام نه روستو بادشاهی او نبوت په یو شخص نه وو جمع شوی۔ نو داؤد علیه السلام اول نبی وو په بنی اسرائیلو کښې چه نبوت سره بادشاهی هم ورکړے شوه۔ الْمُلْكَ نه مراد کامله بادشاهی ده دا سے چه دَ انسانانو دَ شان سره ښائی۔ وَالْحِكْمَةَ، ابن کثیر وغیره وئیلی دی چه دَ دینه مراد نبوت دے۔ بل قول دا دے چه زبور کتاب ترینه مراد دے۔ او چا وئیلی دی چه مراد دَ دینه استعمال دَ هر هغه څیز دے چه مناسب وی دَ محل سره او دا هم په نبوت سره حاصلیږی۔ وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ، نه مراد زغرے جوړول دی په طریقه دَ معجزے سره لکه په سورة سبا ۱۰، ۱۱ کښې ذکر دی۔ دا رنګ دَ مارغانو په خبرو پوهیدل او علم دَ دین او طریقے دَ فیصلو کولو او خائسته آواز۔ يَشَآءُ ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے۔ او بعضو وئیلی دی چه داؤد علیه السلام ته راجع دے۔ او دا فعل مضارع په معنیٰ دَ ماضی ده په قرینه دَ عَلَّمَهٗ سره (قرطبی)۔

وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ، دا ذکر دَ حکمت دَ قتال او دَ نصرت دَ الله تعالیٰ دے دَ مؤمنانو سره۔ دلته دفع کوونکے ذکر دے چه الله تعالیٰ دے او بعضهم بدل دے دَ النَّاسَ نه۔ او بعضهم کښې مراد مدفوع (دفع کړی شویدی)۔ او ببعض کښې مراد مدفوع په دی۔ او دا دفاع عامه ده ډیرو اقسامو ته۔ اول قسم دفاع کوونکی

انبیاء علیهم السلام او نور دعوت کوونکی دَ دین چه کفر دَ کافرانو دفع کوی په اظهار دَ دلیلونو سره۔ دویم قسم دفع کوونکی امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوونکی دی چه منکرات او معاصی دفع کوی دَ خلقو نه۔ دریم قسم انبیاء علیهم السلام او خلفاء دَ مسلمانانو او ملائیک چه دَ دنیا نه فساد وته او فتنے دفع کوی۔ څلورم قسم وجود دَ صالحینو مؤمنانو چه دَ دوی په وجے سره الله تعالیٰ دَ ډیرو خلقو نه تکالیف او مصیبتونه دفع کوی۔ دَ دے دَ پاره یو حدیث هم ذکر دے خو هغه ضعیف دے۔ پنځم قسم په یو صالح مسلمان شخص سره مصیبتونه دفع کوی دَ هغه دَ اولاد، قبیلے او محلے نه په دیکښ هم ضعیف حدیث شته لیکن دَ دے تائید په سورة کهف ۸۲ سورة فتح ۲۵ او سورة انفال ۳۳ کښ شته دے۔ شپږم قسم وجود دَ ابن الودے چه په حدیث دَ علی او ابو درداء رضی الله عنهما کښ راغلی دی لیکن ابن قیم په المنار المنیف کښ وئیلی دی چه هغه حدیث ضعیف او منقطع دے۔ اووم قسم وجود دَ ګواهانو دے په فیصلو کښ چه دَ صحیح شهادت په سبب سره حقوق دَ مستحقینو حاصل شی او جګړے ختم شی۔ اتم قسم مجاهدین او مقاتلین فی سبیل الله دی چه په سبب دَ هغوی سره دَ کافرانو مشرکانو زور دفع شی او اسلام غالب شی۔ او دا مناسب ده دَ واقعه دَ داؤد علیه السلام سره په مقابله دَ جالوت کښ (دا اقوال صاحب اللباب، ابو حیان، ابن کثیر او قرطبی وغیره ذکر کړیدی) بیا صاحب اللباب وئیلی دی چه غوره دا ده چه دا جمله په اعتبار دَ عموم دَ لفظ سره دے ټولو ته شامل ده۔ لَفَسَدَتِ الْاَرْضُ، دَ عموم دَ الفاظو په وجے سره په دیکښ نظام معاش خرابیدل او فتنے، ګناهونه او تکالیف ډیریدل او باطلے دعوے کول او دَ کفر او کافرانو غالب کیدل ټول داخل دی۔ او دَ عبادت دَ الله تعالیٰ او دَ توحید مرکزونه خرابیدل او شاړیدل په سبب دَ سورة حج ۴۰ پکښ داخل دی۔ نو دا جمله رد دے په

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ

دغه آیاتونه د الله تعالیٰ دی لولو مونږ کله په تا باندې

بِالْحَقِّ ؕ وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۵۲﴾

په حقه سره او یقینًا ته ضرور د رسولانو نه یې۔

هغه چا باندې چه دعوت د حق یا جهاد کولو ته فساد او دهشت گردي وائي بلکه دا خو عین اصلاح ده۔

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ، په دې استدراک کښې دفع د وهم د مفسد ده چه هغه خیال اوکړي چه څما مقصد حاصل نه شو نو ځکه د فضل د الله تعالیٰ نه محروم شوم۔ حاصل جواب دا دې چه دغه مفسد هم په عالمینو او مخلوقاتو کښې داخل دې او فضل د الله تعالیٰ ټول عالم ته شامل دې۔ او په تیز د الله تعالیٰ د دهٔ فساد دفع کول دا په دهٔ باندې فضل د هغه دې۔

۲۵۲ په دې آیت کښې اثبات د صدق د آخري رسول الله صلی الله علیه وسلم دې یعنی اې نبي د دې تیر شوو واقعاتو ذکر خو په مخکنو کتابونو کښې شته لیکن تا خو کتابونه لوستلي نه دي او حال دا چه رشتینې او صحیح واقعات دې بیان کړل دا د وجې د وحی د الله تعالیٰ نه تا ته۔ نو دا دلیل شو ستا په رسالت باندې۔

ربط :۔ مخکښې په واقعه د داؤد علیه السلام سره معلومه شوه چه د فساد د دفع کولو د پاره سبب قتال فی سبیل الله او نصرت د الله تعالیٰ دې نو اوس ذکر کوي چه د دفعې د فساد د پاره اصل ذریعه رسولان رالیږل دي او خاصکر آخري رسول صلی الله علیه وسلم۔ تِلْكَ، اشاره ده مخکښې ټولو آیتونو ته او بالخصوص هغه آیتونه چه د واقعې د طالوت او داؤد علیه السلام سره متعلق وو چه هغه مشتمل وو په ډیرو عبرتونو او معجزاتو باندې۔ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ، دا دلیل دې چه تلاوت (لوستل) صفت د الله تعالیٰ دې بغیر د تمثیل او تاویل نه۔ بِالْحَقِّ، دا په معنیٰ د صدق او د هغه امر دې چه مطابق دې د واقعې سره

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ

دغه رسولان غوره والي ورکړي دي موږ بعضو د دوی ته

عَلٰى بَعْضٍ مِنْهُمْ مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ

په بعضو باندې بعض د دوی نه هغه څوک دی چه خبرې کړي دي الله تعالىٰ ورسره

وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ۭ وَاٰتَيْنَا

او پورته کړي دي بعض د دوی نه په ډېرو درجو سره او ورکړي دي موږ

عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ

عیسىٰ ځوی د مریم علیهما السلام ته ښکاره معجزات او کلک کړي وو موږ دی

بِرُوْحِ الْقُدُسِ ۭ وَلَوْ شَاۗءَ اللّٰهُ

په پاک روح سره او که چېرې الله تعالىٰ غوښتلی

مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ

نو جنګونه به نه وو کړي هغه کسانو چه روستو د دې رسولانو نه وو

مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَاۗءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ وَلٰكِنِ

روستو د هغې نه چه راغلي وو دوی ته ښکاره احکام او لیکن

اخْتَلَفُوْا فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ وَمِنْهُمْ

اختلاف اوکړو دوی نو بعض د دوی نه هغه څوک دی چه ایمان یې راوړی دی او بعض د دوی نه

مَّنْ كَفَرَ ۭ وَلَوْ شَاۗءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلُوْا ۣ

هغه څوک دي چه کفر یې کړی دی او که چېرې الله تعالىٰ غوښتلی نو جنګونه به نه وو کړي دوی

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ؑ ﴿٢٥٣﴾

او لیکن الله تعالىٰ کوی هغه چه اوغواړی۔

چه په کتابونو دَ اهل کتابو کښې ذکر دي - یعنې په دیکښې القاء شیطاني او کهانت وغیره نیشته - وَ اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ، دا عطف په طریقه دَ عطف دَ مسبب دے په سبب باندے او عطف دَ نتیجې دے په دلیل باندے -

۲۵۳ - ربط ۱ :- هر کله چه مخکښې آیت کښې دَ نبي صلی الله علیه وسلم صدق او تسلي ذکر شوه په بیان دَ حقانیت دَ هغه سره نو اوس تسلي ذکر کوي په اشارے کولو سره مصیبتونو دَ مخکنو رسولانو او دَ هغوي صبر و استقلال ته او دَ هغوي قتال کول دَ کافرانو سره -

ربط ۲ :- هر کله چه المرسلین لفظ نه ظاهراً معلومه شوه چه ټول رسولان په مرتبه دَ رسالت کښې برابر دي نو اوس ذکر کوي چه دَ هغوي په مرتبو کښې تفاضل شته دے -

ربط ۳ :- مخکښې دَ فساد دفع کولو دَ پاره قتال في سبیل الله او (البیدل دَ آخري نبي (صلی الله علیه وسلم) ذکر شو نو اوس یو وهم دفع کوي - هغه وهم دا دے چه کیدیشي چه دَ فساد دَ پاره سبب تفاضل دَ رسولانو وي او فرق دَ هغوي په احکامو شرعیو کښې - نو دا وهم دفع کوي چه دَ فساد سبب دَ رسولانو تفاضل نه دے - او دا تفاضل سبب دَ فساد ګرځول نه دي پکار بلکه سبب دَ فساد خو اختلاف دَ خلقو دے په ایمان او کفر کښې - یعنې فرعي اختلاف دَ فساد سبب نه دے بلکه اصولي (ایماني) اختلاف ئې سبب دے -

تِلْكَ الرُّسُلُ ، تِلْكَ لفظ ئې مؤنث ذکر کړو په تاویل دَ جماعت سره - او په تِلْكَ کښې یو څو اقوال دي - اول قول دا چه مشار الیه هغه انبیاء دي چه په دے سورت کښې مخکښې ذکر شویدي یعنې ابراهیم ، اسماعیل ، اسحاق ، یعقوب ، شمویل او داؤد علیهم السلام - دویم قول دا چه دا هغه رسولان دي چه په لفظ دَ المرسلین کښې ذکر شو او دَ فساد دَ دفع کولو دَ پاره الله تعالی (البیدلی وو - او په لفظ الرسل کښې هم دے

خصوصیت ته اشاره ده۔ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ، دا سے په
سورة بنی اسرائیل ۵۵ کښې هم ذکر دی۔ قرطبي وئیلی دی چه
دا تفاضل ماسیوا د نبوت نه په نورو احوالو، معجزاتو، مهربانئ
د الله تعالیٰ او عزتونه ورکولو کښې دے۔ او په وصف د رسالت
او نبوت کښې یوشان دی۔ نو په دے سره جواب اُوشو د هغه
حدیث چه وارد دے (لَا تُفَضِّلُوْا بَيْنَ الْاَنْبِيَاءِ، وَلَا تُفَضِّلُوْنِيْ
عَلَى الْاَنْبِيَاءِ، اولَا تُخَيِّرُوْا بَيْنَ الْاَنْبِيَاءِ نو دا منع په اعتبار
د اصل نبوت سره ده۔ او نور څلور جوابونه ابن کثیر ذکر کړیدی۔
مِنْهُمْ مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ، دا د بعض وجوهو د تفاضل تفسیر دے۔ او د
نبوت نه روستو د کلام الٰهی شرافت ډیر زیات دے۔ د دے وجے
نه یئے د دے تخصیص اُوکړو۔ مَنْ كَلَّمَ اللّٰهُ کښې اختلاف دے۔
یو قول دا دے چه دا خاص دے په موسیٰ علیه السلام پورے په
قرینه د سورة نساء ۱۶۴ سره۔ دویم قول دا چه په دے کښې
آدم علیه السلام او آخری نبي صلی الله علیه وسلم هم شریک دی
او د دے کلام نه مراد کلام دے بغیر د واسطے د جبرائیل علیه السلام
یا بلے فرښتے نه۔ خو دا په طریقه د اکرام او تشریف سره دے نو
کلام د الله تعالیٰ د ابلیس سره په دیکښې نه دے داخل ځکه چه
هغه په واسطه سره وو یا په طریقه د زورنے او تذلیل سره وو
او دا آیت دلیل دے چه کلام صفت د الله تعالیٰ دے۔ او د دغه
کلام صفت په قرآن او سنت کښې په سمع او لوستلو سره هم راغلی
دے نو هغه شامل دے کلام لفظي ته۔ لیکن بغیر د تمثیل، تشبیه
تحریف او تاویل نه۔ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ، په مصداق د بعضهم
کښې اختلاف دے یو قول دا دے چه د دینه مراد عام دے هر
یو نبي مراد کیږی ځکه چه هر یو لره هغه درجه شته چه
بل لره نیشته۔ نو دا جمله تفسیر دے د فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ۔ یعنی
فضیلت جزئیه مراد دے۔ دویم دا چه مراد د دینه صرف اولوالعزم
پنځه پیغمبران دی چه هغه په سورة احزاب ۷ او سورة شوریٰ
۱۳ کښې ذکر دی۔ او مراد د درجات نه کثرت د معجزاتو او کثرت

دَ اُمت دے۔ او دا هم دَ دغه پنځو پیغمبرانو په مینځ کښی جزئیه فضیلت دے۔ دریم دا چه دَ دینه مراد صرف آخری رسول محمد صلی الله علیه وسلم دے او مراد دَ دینه فضیلت کلیه دَ هغه دے په ټولو رسولانو باندے۔ او په لفظ دَ بعضهم سره اشاره ده علو او اوچتوالی دَ شان دَ هغه ته۔ او دَ دے دلیل هغه آیاتونه او احادیث دی چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم په فضیلت کلیه باندے دلالت کوی اول سورة انبیاء ۱۰۷ چه رحمت دے دَ ټول عالم دَ پاره۔ دویم په سورة انشراح ۴ کښی۔ دریم دا چه الله تعالیٰ دَ هغه طاعت، بیعت، رضا او استجابت دَ خپل طاعت، بیعت رضا او استجابت سره یو ځائے کړی دی په سورة نساء ۸۰، فتح ۱۰، توبه ۶۲ او سورة انفال ۲۴ کښی۔ څلورم بقاء دَ هغهٔ معجزے چه هغه قرآن کریم دے۔ پنځم سورة انعام ۹۰ چه دلالت کوی چه آخری نبی صلی الله علیه وسلم کښی ټول محاسن دَ مخکښو انبیاؤ راجمع دی۔ شپږم بعثت ټولے دُنیا او ټولو خلقو ته۔ او وم هغه حدیث چه ټول انبیاء به دَ هغه دَ جنډے دَ لاندے وی دَ قیامت په ورځ۔ او حدیث اَنَا سَيِّدُ وُلْدِ آدَمَ وَلَا فَخْرَ، مسند احمد جلد اول صفحه ۲۸۱۔ ترمذی جلد ۵ صفحه ۵۸۵۔ درمنثور جلد اول صفحه ۲۳۰۔ بخاری جلد اول صفحه ۱۹ په ردیکښی مختلف احادیث دی) او نور هم ډیر احادیث شته چه هغه په دے دلالت کوی چه مصداق دَ بعضهم آخری نبی صلی الله علیه وسلم دے۔ وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ، دَ دے تفسیر په آیت ۸۷ کښی تیر شویدے او دا هم دلته دَ فضلنا بعضهم دَ پاره تفسیر دے۔

(سوال) په مقام دَ تفصیل کښی دَ موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام تخصیص ئے ولے اوکړو؟

(جواب) دَ قرآن دَ نزول په وخت کښی دَ دے دواړو اُمتونه موجود وو۔ نو دا طعن دے دَ دوی په اُمتونو باندے چه سره دَ فضیلت دَ دے دواړو نه دَ دوی دَ اُمت خلقو دَ

هغوی دیتونه او کتابونه بدل کړل - او بیا تخصیص دَ عیسیٰ علیه السلام په بینات او په تائید سره په یهودیانو دَ رد دَ پاره دے چه هغوی دَ عیسیٰ علیه السلام دَ رسالت او معجزاتو نه انکار کوی -

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ مِنْ بَعْدِهِمْ مِّنْ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ ، اول ربط ئے دَ مخکښ سره دا دے چه دا دفع دَ یو وهم ده - هغه دا چه هر کله الله تعالیٰ رسولان دَ هدایت دَ پاره په معجزاتو او دلیلونو سره را اولیږل نو بیا ولے خلقو قتل وقتال کړو ؟ حاصل دَ جواب دا دے چه سبب دَ قتل وقتال او اختلاف په خلقو کښ په اختلاف دَ ایمان او دَ کفر سره دے -

ربط ۲ :- هر کله چه دَ انبیاؤ دَ درجاتو تفاضل او تفاوت ذکر شو نو اوس ذکر کوی چه سبب دَ قتل او قتال تفاضل او تفاوت دَ درجاتو نه دے بلکه اختلاف دے په عقیده کښ -

وَلَوْشَآءَ اللّٰهُ کښ دَ شاء مفعول پټ دے په دلیل دَ جزاء دَ هغے سره یعنی شَآءَ اَلَّا یُقَاتِلُوْا یا شَآءَ اَلَّا یَخْتَلِفُوْا - او دا مشیت په معنیٰ دَ اراده تکوینی او تقدیری سره دے - مشیت تشریعی او په معنیٰ دَ رضا سره نه دے - اقْتَتَلَ کښ کثرت دَ قتال ته اشاره ده - دَ مِنْ بَعْدِهِمْ ضمیر الرُّسُلُ ته راجع دے او مراد دَ بعدیت نه روستو والے دے په جدا جدا زمانو کښ یعنی دَ هر رسول نه روستو دَ هغه په قوم کښ اختلاف او اقتتال جوړ شو - او دَ دے مثال په واقعه دَ طالوت او جالوت کښ ذکر شو - بعضو وئیلی دی چه دَ بعدیت نه مراد دَ ټولو رسولانو دَ زمانے نه روستو اقتتال او اختلاف دے دَ دے اُمت دَ مشرکین عرب او یهودیانو او نصاراؤ سره لیکن اول قول غوره دے - مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ نه مراد هغه دلیلونه او معجزات او کتابونه الٰهیه دی چه سبب وو دَ پاره دَ دفع دَ اختلاف او اقتتال نه شرط دَ ایمان راوړلو سره - وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا ، دا استدراک دَ مَا اقْتَتَلَ نه په ذکر دَ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِمَّا
اے ایمان والو خرچ کوئ دَ هغه مال نه
رَزَقۡنَٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ
چه درکړي دے مونږ تاسوته مخکښ دَدے نه چه راښي داسے ورځ چه

سبب دَ اقتتال سره دے چه اختلاف اصولی دے - او دا اختلاف سبب شرعی دے دَ اقتتال او دا دليل دے چه سره دَ تقدير الهی نه اعمال دَ خلقو هم سبب دَ اختلاف او اقتتال دی - او په داسے افعالو کښ مشيت انسانيه لره دخل ورکړے شويدے - نو دا رد دے په جبريه ډله بانډے - او ذکر دَ مشيت الهيه رد دے په معتزله او قدريه بانډے -
فَمِنۡهُم مَّنۡ ءَامَنَ وَمِنۡهُم مَّن كَفَرَ، دا تفصيل دَ اختلاف دے. او په ديکښ اشاره ده چه اختلاف فرعی اګرچه په هغے سره خلق دَ يو بل تکفير او کوی خو هغه سبب شرعی دَ قتال نه دے بلکه خلاف دے دَ شرع نه - وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقۡتَتَلُواْ، په دے جمله کښ دوه اقوال دی - اول دا چه دا تکرار دے دَ تاکيد دَ پاره دَ رد کولو په هغه چا چه تعلق دَ تقدير دَ بندګانو په کارونو يا دَ شر په کارونو پورے نه کنړی - دويم قول دا دے چه په دواړو کښ مغائرت دے په څو وجوهو سره - اوله وجه دا چه دا متعلق دے دَ اول مشيت عدم وجود دَ اقتتال سره او متعلق دَ دويم مشيت عدم امر دے مؤمنانو ته په اقتتال سره - دويمه وجه دا ده چه په اوله جمله کښ اقتتال دَ مخکنو مؤمنانو او کافرانو مراد دے او په دے جمله کښ اقتتال دَ دے أمت دَ مؤمنانو او مشرکين عرب، يهوديانو او نصاراؤ سره مراد دے. دريمه وجه دا ده چه په مخکښ سبب سره ئے سبب شرعی دَ قتال ذکر کړو او دلته دَ مشيت سره سبب تقديری ذکر کوی چه وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يُرِيدُ، چه هغه اختلاف دَ

لَا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ وَّلَا شَفَاعَةٌ ؕ

نه به وي خرڅول په هغې کښې او نه به دوستانه وي او نه به سفارش وي

وَالْكٰفِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۵۴﴾

او کافران خاص دوی لوئې ظالمان دی۔

خلقود ے۔ چاله توفیق کا ایمان ورکوی او چاله نه ورکوی۔ په چا کښې ایمان پیدا کوی او په چا کښې کفر۔ په هغه باندې هیڅ اعتراض نیشته۔ او دا دلیل دے چه اراده هم صفت د الله تعالیٰ دے۔ او د الله تعالیٰ اراده ضرور پوره کیږی هیڅوک د هغې د پاره مانع نشته دے۔

۲۵۴ د آخری حصے خلاصه:۔ د دے آیت نه تر آخر د سورت پورے څلورمه حصه ده او دا په باره د انفاق فی سبیل الله کښې ده۔ او دا حصه تقسیم ده څلورو بابونو ته۔ اول باب تر آیت ۲۶۰ پورے دے په دیکښې اول ترغیب دے انفاق ته په وخت د قبولیت د هغې کښې۔ دویم ذکر د مسئلې د توحید دے سره د لس دلیلونو نه په ذکر د اسمائے صفاتو د الله تعالیٰ سره او دا مقصد د انفاق د مال دے۔ دریم په کښې جواب د یو سوال دے سره د ذکر د حال د دوه فریقونه او تعلق د یو فریق د الله تعالیٰ سره او د بل د شیطان سره۔ څلورم مثالونه د دوارو ډلو دی۔ اول مثال د شیطان د ډلے سره متعلق دے او دویم او دریم د الله تعالیٰ د ډلے سره متعلق دی۔

ربط له:۔ هرکله چه مخکښې آیتونو کښې ذکر د قتال اوشو نو اوس د قتال چلولو د پاره مسئله د انفاق ذکر کوی۔ نو دا ذکر د جهاد بالمال دے روستو د ذکر د جهاد بالنفس نه۔ ۲ـ هرکله چه مخکښې آیت کښې یې فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ ذکر کړل نو اوس مؤمنانو ته خاص خطاب ذکر کوی په یا ایها الذین آمنوا سره۔ یعنی د ایمان تقاضا دا ده چه اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰكُمْ، په دے انفاق کښې عموم مراد دے هر فرض انفاق او تطوع ته لیکن د ماقبل په

قرینے سره اول مراد په دیکښې دَجهاد دَپاره انفاق دے او هغه هم واجب انفاق دے۔ مِمَّا رَزَقْنَاكُمْ، هر کله چه انفاق دَ بعضے مال واجب دے دَ دے وجے مِمَّا (چه په اصل کښې مِنْ مَا دے) ذکر کړو. او هر کله چه دَ زکٰوة او صدقاتِ واجبه نه علاوه نور انفاق دَپاره خاص حد مقرر او شرط نه دے۔ دَ دے وجے نه ئے دلته مِمَّا مطلق ذکر کړو۔ او رزق نه مراد صرف حلال مال دے په دلیل دَ صحیح حدیث سره چه لَا صَدَقَةَ مِنْ غُلُوْلٍ (دَ حرام مال نه هیڅ صدقه نه قبلیږی)۔ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ، په دے جمله کښې ترغیب دے انفاق کولو ته فی الفور (سمدستی) ځکه چه دَ داسے ورځ دَ راتللو مقرر وخت معلوم نه دے۔ دَ یوم نه مراد دَ قیامت ورځ ده چه دا روستو مذکور منفی حالات دَ قیامت په ورځ کښې دی۔ او احتمال شته چه دَ دینه دَ مرګ ورځ مراد شی لکه چه په سورة منافقون ﷺ کښې دی۔ لَا بَيْعٌ فِيْهِ، یعنی هغه انفاق چه دُنیا کښې ستاسو نه فوت شی دَ هغے دَ حصول دَپاره اوله طریقه بیع ده چه انسان دَ ځان دَ پاره څه مال یا ثواب واخلی نو چه بیع (خرڅول) نیشته نو اخستل هم نیشته۔ وَلَا خُلَّةٌ، دویمه طریقه دَ حصول دَپاره دَ اخلاص دوستانه ده۔ چه یو دوست په داسے حالت کښې دَ بل دوست سره خامخا احسان کوی۔ لفظ دَ وَدٌّ یا صداقت ئے نه دے وئیلے ځکه چه خلت خالص مُوَدَّت (دوستانے) ته وئیلے شی۔ ځکه چه په مجبوریٔ او سختیٔ کښې هر دوست لاس نه ورکوی بلکه خالص دوست بکار راځی۔ نو نفی دَ خُلّت مقیں ده په غیر دَ متقیانو پورے ځکه چه دَ متقیانو خُلّت خو بویل ته فائده ورکوی لکه چه په سورة زخرف ﷺ کښې ذکر دی۔ وَلَا شَفَاعَةٌ، دریمه طریقه دَ څه خیر او فائدے دَ حصول دَپاره سفارش دے دَ داسے سفارش کوونکی چه هغه قبلیږی لیکن هغه هم نیشته۔ شفاعت کله دَ دفع دَ ضرر دَپاره وی او کله دَ څه فائدے دَ حصول دَ پاره وی۔ دلته مراد دَ شفاعت

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ

اللّٰه تعالىٰ نيشته حقدار د بندګئ سِوا دَهغه نه هميشه ژوندي دَ نظام چلوونکے دے

لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ لَهٗ

نه نيسي هغه لره پرکالی اد نه خوب خاص دَ هغه په

مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ

اختيار کښ دي هغه څه چه په آسمانونو کښ دي او هغه څه چه په زمکه کښ دي۔

مقيد دے په قبوليت سره او هغه شفاعت بِالِاذن دَ او هغه شفاعت دَ مؤمن دَ پاره دے۔ نو دا دَ منکرينو دَپاره دَ مطلق شفاعت دليل نه دے لکه چه معتزله او منکرين حديث انکار کوي۔ دَ هغوی په رد کښ ډير آيتونه او احاديث متواتره شته دے۔ او دَ دے مسئلے څه تفصيل په مقدمه ردَ اول جلد) کښ او په تفسير دَ آيت ۴۸ کښ تير شوي دے۔ وَالْكٰفِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ، دلته دَ ظلم اعلیٰ درجه مراد ده دَ دے وجے نه يې حصر په کافرانو کښ کړيدے بيا دَ دے جملے په تعلق کښ ډير توجيهات دي۔ اوله توجيه دا ده چه دا علت دے دَ پاره دَ ما قبل تقييد يعنی خُلّة او شفاعت دَ کافرانو دَپاره نيشته ځکه چه هغوی ظالمان دي او دَ ظالم سره دوستانه او احسان کول مناسب نه دي۔ دويم په ديکښ تعريض دے مؤمنانو ته چه تاسو دَ کافرانو اقتداء مه کوئ په عدم تقديم دَ انفاق کښ او نورو نيکو کارونو کښ ځکه چه هغوی په ځان باندے ظلم کړيدے دَ وجے دَ پريخودلو دَ نيکو کارونو نه۔ دريم دا چه انفاق کول دَ جهاد دَ پاره دے چه دَ کافرانو ظلم دفع شي ځکه چه هغوی په مؤمنانو باندے ظلمونه کوي۔

فائده :۔ دَ عطاء بن دينار نه روايت دے چه الحمد لله

مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا

څوک دے هغه چه سفارش به اوکړی د الله تعالیٰ سره مګر

بِإِذْنِهِ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ

په اجازت د هغه سره عالم دے په هر هغه څه چه مخکښ د دوی نه دی

وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ

او هغه څه چه روستو د دوی نه دی او نشی راګیرولے هیڅ حصه

مِّنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ ۚ وَسِعَ

د علم د الله تعالیٰ نه مګر هغه چه الله تعالیٰ اوغواړی فراخه ده

كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ۖ وَلَا

کرسئ د هغه آسمانونو او زمکے ته او نه

يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾

ستړے کوی هغه لره ساتنه د دے دواړو او هغه ډیر اوچت دے لوئے شان والا دے۔

چه الله تعالیٰ دا سے نه دی فرمائیلی چه وَالظَّالِمُونَ هُمُ الْكَافِرُونَ، ځکه چه هر ګناهګار خو ظالم دے لیکن کافر نه دے۔

۲۵۵ ربط ۱ هر کله چه مخکښ د موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام د حقانیت ذکر اوشو۔ او د هغوی اُمتیان د قرآن د نزول په وخت کښ موجود وو لیکن هغوی پخپل دین کښ کفر او ظلم پوځائے کړے په سبب د انکار د توحید نه او انکار د صفاتو د الله تعالیٰ نه نو په دے آیت کښ هغوی ته تنبیه ورکوی چه صرف په نسبت د موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام سره خلاصیدل نیشته بلکه په تاسو باندے عقیده د توحید فرض ده۔ ۲ مخکښ ئے اُوفرمائیل چه وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ نو په دے آیت کښ د هغوی لوئے ظلم ته اشاره ده چه هغه انکار دے د تفصیلاتو د توحید نه۔ ۳ هر کله چه

مخکښې انفاق ته دعوت ذکر کړے شو تو اوس هغه مسئله ذکر کوی چه هغه د انفاق فی سبیل الله د پاره مقصد دے۔
د دے آیت فضیلت:- دیته آیت الکرسی او اعظم آیت وئیلے شی (مسلم) سید البقره (بحر)، سید آي القرآن (قرطبی)۔
چا چه دا آیت ماسخوتن د اوده کیدلو نه مخکښې اولوستلو تو همیشه به په دهٔ باندے د الله تعالیٰ د طرف نه حافظ (ساتونکے) مقرر وی او شیطان به ورته تر صبا پورے نه نیژدے کیږی (بخاری)
دا د قرآن کریم د دریمے حصے سره برابر دے (بحر)۔
دا افضل آیت دے او د دے په فضیلت کښې ابن کثیر دولس احادیث ذکر کړیدی۔ په دے آیت کښې پنځوس کلمات دی او هره کلمه کښې پنځوس برکات دی۔ او دا اشرف آیت دے په قرآن کښې ځکه چه په دیکښې نوم د الله تعالیٰ په ضمیر او اسم ظاهر سره اتلس کرته راغلے دے (قرطبی)۔ او په دے کښې د توحید لس جملے دی۔ او په دیکښې استدلال دے په توحید باندے په نومونو او صفتونو د الله تعالیٰ سره۔ او په دیکښې نومونه د الله تعالیٰ پنځه ذکر دی او صفتونه د الله تعالیٰ درے ثبوتی او درے سلبی ذکر دی۔ دارنګ په دیکښې رد دے په شرك فی الالوهیت، شرك فی التصرف او شرك فی العلم۔ او رد دے د شفاعت قهریه شرکیه۔ نو دا په باب د توحید کښې یو پوره آیت دے۔
اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ، د دے تفسیر مخکښې په آیت ۱۶۳ کښې او په مقدمه کښې په مسئله د اله کښې تیر شویدے۔ دلته لفظ د الله مبتداء دہ او لا اله الا هو ئې خبر دے۔ یعنی د الله تعالیٰ د پاره صفت د الوهیت په خصوصیت سره ثابت دے او د هغه نه سیوا د هرچا نه منتفی دے۔ او دا دعوی د توحید ده چه روستو په هغے باندے لس عقلی دلیلونه ذکر کوی۔ اَلْحَیُّ، دا صفت په قرآن کښې په سورة آلعمران ۲ طه ۱۱۱ او سورة فرقان ۵۸ او سورة غافر ۶۵

کښ ذکر دے۔ دا اخیر دے ځ میتن او پتې ګ پاره یا بیل دے ګ لفظ ګ هُوَ ته۔ یا دویم خبر دے ګ لفظ الله ګ پاره یا صفت دے ګ لفظ الله۔ دا ګ الله تعالیٰ ګ اسماء حسنیٰ نه یو اسم دے او وئیلی شوی دی چه دا اسم اعظم دے۔ ګ دینه مراد الحی الذی لایموت دے لکه چه په سورة فرقان ۵۸ کښ دی۔ او یو قول دا دے چه دا په معنیٰ ګ باقی سره دے (قرطبی) او دا صفت ګ ذات ګ الله تعالیٰ دے یعنی الله تعالیٰ لره ژوند ثابت دے په دا سے ژوند سره چه همیشه دے او زوال وریاندے نه راځی۔ او ابن جریر وئیلی دی چه ګ الله تعالیٰ ګ پاره دا صفات فعلی ضروری دی لیکن په دیکښ به څوک فکر او سوچ نه چلوی یعنی ګ مخلوق سره به ئے تشبیه او تمثیل نه کوی۔ او په دے سره رد دے په آلهؤ ګ مشرکانو باندے چه هغوی مړی دی یا جمادات (بتان) دی۔ یا ژوندی دی لیکن فنا وریاندے راځی په دلیل ګ دے قول ګ الله تعالیٰ سره چه کُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ، کُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ، او وَيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ، او چا چه وئیلی دی چه حَیٌّ (ژوندے) دے لیکن بغیر ګ صفت ګ حیات نه نو دا قول ګ معتزلو دے او باطل دے۔ اَلْقَيُّوْمُ، دا صیغه ګ مبالغے ده په صفت ګ الله تعالیٰ کښ، او په قرآن کریم کښ په سورة آل عمران ۲، سورة طٰهٰ ۱۱۱ کښ ذکر دے۔ ګ دے په معنیٰ کښ اقوال دی مجاهد، ربیع او ضحاک وئیلی دی چه قائم دے په هر څیز باندے سره ګ حالاتو ګ هغے نه لکه په سورة رعد ۳۳ کښ دی۔ سعید بن جبیر وئیلی دی چه وجود ئے همیشه دے۔ ابن عباس رضی الله عنهما وئیلی دی چه زوال وریاندے نه راځی۔ او قتاده وئیلی دی چه قائم دے په تدبیر ګ ټول مخلوق باندے او په حفظ ګ هغے باندے۔ دا اقوال یو بل نه نیژدے دی او په دیکښ رد دے په مشرکانو باندے چه څوک وائی چه مدبر ګ ټول عالم ګ دوی آلهه دی او څوک وائی مدبر الله تعالیٰ دے خو آلهه ګ دوی شفعاء او شرکاء دی او تقسیم کوونکی ګ

کاروتو دَ ټولو طرفونو دی - او مشرکین یونان وائی چه دَ هر اله دَ پاره دَ مخلوقاتو نه جدا جدا اقسام دی چه هغوی پکښ تصرفات کوی - او متصوفه وائی چه تر بیر کوونکی دَ عالم قطب او غوث دی - او دَ دوی سرپیدے باب کښ هیڅ حدیث مرفوع او موقوف نیشته ما سیوا دَ بے سنده قول نه چه ابن عساکر په خپل تاریخ کښ ذکر کړے دے - او بعضے صوفیا خپل ځان او خپل پیران په دے صفت کښ الله تعالیٰ سره شریک جوړوی وائی چه فلانے قیوم زمان دے - لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ، دا دَ الله تعالیٰ سلبی دائمی صفت دے چه مستلزم دے کمال لره - او دا تاکید دے دَ قیوم دَ پاره ځکه چه دَ غفلت دَ صفت سره قیومیت امکان نه لری - او په دیکښ دفع دَ وهم ده که څوک دا وهم اوکړی چه الحی القیوم کښ په مجاز او صرف مبالغه مقصد وی نو په دے جملے سره هغه وهم دفع کړے شو. ابن کثیر وائی چه لَا تَاْخُذُهٗ په معنیٰ دَ غالب کیدلو دے لیکن مراد ترینه عدم اتصاف دے دَ الله تعالیٰ په سنة او نوم سره - سِنَةٌ، دا اوله حمله دَ خوب وی او اثر ئے په سر باندے راځی - او نعاس په سترګو راځی او نوم په زړه راځی - نو حاصل دا دے چه سِنة هغه فتور او سستی ده چه عارض کیږی انسان ته لیکن عقل او هوش وحواس ئے نه روکیږی - یعنی په الله تعالیٰ باندے هیڅ خلل (نقصان) او مَلَلْ (ستړے والے) نه راځی (قرطبی) - وَلَا نَوْمٌ، نوم هغه فتور دے چه دَ ستړیوالی دَ وجے او دَ بدنی بخاراتو دَ راتللو نه په دماغو باندے راځی - او په وخت دَ تیارو کښ دماغ استراحت طبعی غواړی - او رفته رفته دَ حواسو طاقت غائبیږی - او انسان امو ته درانه شی - نو دا عبارت دے دَ کمال غفلت نه -

سوال:- نفی دَ سِنَةٌ ئے ولے مقدم کړه په نفی دَ نوم باندے؟

جواب ۱:- دا ترقي ده په نفي کښې دَ ادنیٰ نه اعلیٰ ته يعني په الله تعالیٰ باندے نه لږ غفلت راځي او نه ډير او نه کسبي اختياري او نه غير اختياري.

جواب ۲:- بيضاوي وغيره وئيلي دي چه په دېکښې رعايت دَ دَ ترتيب وجودي چه اول په انسان باندے سِنَة (پرکالي) راځي او بيا نوم ليکن دا ضروري نه ده کله په انسان باندے نوم راشي بغير دَ راتللو دَ پرکالئ نه او کله پرکالي راشي او نوم نه وي (ابن عاشور) او هر کله چه دَ دے دواړو ملازمه نيشته دَ دے وجے نه نفي دَ سِنَةٌ او نفي دَ نوم دواړه جدا جدا ذکر کول ضروري شول.

سوال:- په دېکښې ئے دَ نعاس نفي ولے اونکړه؟

جواب ۱:- سنة په وجود کښې مستلزم وي نعاس لره دا رنګ برعکس نو په نفي دَ يو سره نفي دَ بل لازميږي.

جواب ۲:- بعضو اهل لغت سنة او نعاس مترادف (په يو معنیٰ سره) ګڼړلے دي.

تنبيه:- مفسرينو چه دلته کوم روايات دَ موسیٰ عليه السلام په باره کښې ليکلي دي نو قرطبي او ابن کثير وئيلي دي چه هغه سنداً ضعيف دي او اسرائيليات دي. او صاحب اللباب وئيلي دي چه دا دَ نبي دَ شان سره نه خائيږي. که صحيح وي نو دَ هغه قوم بعضے جاهلانو به دا سے وينا کړے وي. او دا رنګ ابو حيان په دے باندے رد کړيدے چه دا حديث حشويؤ وضع کړيدے چه دَ موسیٰ عليه السلام جهل او ګناه ثابتوي.

لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ، دا صفت ثبوتيه دے او مخکښې راوړل دَ لَهٗ دليل دَ تخصيص دے او ما لفظ دَ عموم دَ پاره دے. ذوي العقول او غير ذوي العقول ټولو ته شامل دے. او السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ نه مراد ټول مکانونه دَ موجوداتو دي او هر کله چه عموم دَ ملک الله تعالیٰ

لره دا سے ثابت دے چه دَ هغې نه هیڅ بهر نه دی. او دا هم معنیٰ دَ حصر ده او په تقدیم دَ لَهٗ سره نور تخصیص دے. نو دا یو رد دے په ډلو دَ مشرکانو باندے. دَ ستورو عبادت کوؤنکی او نور مشرکان چه په تصرفاتو دَ عالم کښې الله تعالیٰ سره خپل آلهه یا ستوری شریک گنړی. لَهٗ کښې لام دَ پاره دَ مِلك، مُلك او تصرف او اختیار دے او دیته اختیار دَ الوهیت وئیلے شی. او هرکله چه ټول موجودات مملوك او مربوب او مخلوق دی دَ الله تعالیٰ نو دوی دَ الله تعالیٰ سره په صفت دَ مِلك و مُلك کښې شریک نشی کیدے. مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا بِاِذْنِهٖ، په دے کښې هم مقصد اثبات دَ عظمت او دَ کبریاء دَ الله تعالیٰ دَے توصفت ثبوتیه دے. او په دیکښې مراد رد دے دَ مشرکانو چه هغوی دَ شفاعت قهریه شرکیه عقیده لری لکه چه په سورة یونس ۱۸ او سورة زمر ۳ کښې ذکر دی. او اِذْنِهٖ دلیل دے په ثبوت دَ شفاعت باندے په اذن سره دَ پاره دَ انبیاؤ او علماؤ او مجاهدینو او ملائیکو په هغه شرطونو سره چه په نورو آیتونو کښې ذکر دی. او دَ هغې تفصیل قرطبی دَ دے آیت په تفسیر کښې لیکلے دے. او عِنْدَهٗ متعلق دے په یشفع پورے او په مشهوره معنیٰ سره دے. یا متعلق دے په پټ لفظ پورے. یعنی چه قریب وی الله تعالیٰ ته ملائک او انبیاء او صالحین. نو هرکله چه مقربین بغیر دَ اذن نه شفاعت نشی کولے نو نور خلق خو په هیڅ حال کښې نشی کولے. یَعْلَمُ مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ، دا بل صفت ثبوتیه دے چه په دیکښې اثبات دَ علم محیط دے دَ الله تعالیٰ دَ پاره. او دا تاکید دے دَ مضمون دَ تیر شوو جملو دَ پاره. دا رنگ دا علت دے دَ جملے (مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ آه) دَ پاره چه نور مخلوق بغیر دَ اذن دَ الله تعالیٰ نه شفاعت نشی کولے. یعنی اذن دَ الله تعالیٰ دَ دے وجے نه شرط دے چه الله تعالیٰ عالم دے په هغه چا باندے

چه حق دَ شفاعت لري او په هغه چا باندے چه دَ شفاعت حق نه لري يعني شفاعت کول بل چا لره يا دَ ځان دَ پاره شفاعت حاصلول - مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ، دا ضميرونه ما في السموات او ما في الارض ته راجع دي (ټولو مخلوقاتو سماوي او ارضي ته) او په دېکښې ډېر اقوال دي - دَ مجاهد او عطاء قول دا دے چه دَ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ نه مراد دَ دنيا امور دي او دَ مَا خَلْفَهُمْ نه دَ آخرت امور مراد دي - او دَ ضحاك او کلبي قول دَ دے په عکس سره دے - او دَ ابن عباس رضي الله عنهما په روايت سره مراد دَ دېته آسمانونه او زمکے دي - او بل قول دا دے چه تېر شوي حالات او راتلونکي حالات يا دَ دے په عکس سره - يا دَ اول نه مراد محسوسات دي او دَ دويم نه مراد معقولات دي - اوکه په هر قول سره وي خو مراد ترينه عموم دَ علم دَ الله تعالیٰ دے او علم دے په شافع او مشفوع باندے - او دا جمله رد دے په منکرينو دَ علم دَ الله تعالیٰ چه هغه فلسفيان او بعضے منطقيان دي - وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖٓ اِلَّا بِمَا شَآءَ، دا جمله دَ ما قبل تتمه او تکمله ده دَ دے وجے نه ئے په عطف سره ذکر کړه او دا سے په سورة طٰه ۱۱۰ کښې هم دي او په دېکښې رد دے دَ شرك في العلم يعني مخلوقاتو کښې هيڅوک علم محيط او علم بکل شيءٍ نه لري او کوم علمونه چه دويته حاصل دي په هغے کښې هم مشيت دَ الله تعالیٰ ته محتاج دي - او دَ احاطے نه مراد علم تام دے چه شامل وي ټولو حالاتو او کيفياتو دَ هر څيز ته - دَ مِنْ عِلْمِهٖ په ضمير کښې دوه احتمالونه دي.
اول دا چه راجع دے الله تعالیٰ ته نو مصدر مضاف دے فاعل او علم په معنیٰ دَ معلوم سره دے او دويم احتمال دا دے چه ضمير راجع دے مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ته نو اضافت دَ مصدر دے مفعول ته - اِلَّا بِمَا شَآءَ دَ دے سورت آيت ۳۲ پشان دے - او مفعول دَ شاء پټ دے

يعنى شَآءَ اللهُ اَنْ يُّحِيْطُوْا بِهٖ ، او بنا په اول احتمال چه ضمير دَ عِلْمِهٖ الله تعالىٰ ته راجع شى او اضافت دَ اختصاص دَ پاره شى او علم ته مراد علم غيب حقيقى وى نو اِلَّا بِمَا شَآءَ استثناء منقطع ده يعنى لٰكِنْ يُّعْطِيْهِ الْعِلْمَ بِمَا شَآءَ بِبَعْضِ الْجُزْئِيَّاتِ - او بنا په دويم احتمال باندے استثناء متصل ده او دَ علم ته مراد علم غيب اضافى دے - او دا پشان دَ سورة آلعمران ۱۷۹ او سورة جن ۲۶ ۲۷ دے. ليكن په هغه آياتونو كښ افاده دَ علم ده دَ طرف دَ الله تعالىٰ ته او په دے آيت كښ استفاده دَ بندګانو ده علم لره. وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ، دا دَ الله تعالىٰ بل صفت ثبوتيه دے - دَ كرسىٔ په باره ډير اقوال دى. اول قول دَ ابن عباس رضى الله عنهما دے چه دا موضع دَ قدميتو دَ الله تعالىٰ دے - ابن كثير وئيلى دى چه دا قول په مرفوع سند سره صحيح نه دے او په موقوف سره صحيح دے - حاكم په مستدرك كښ وئيلى دى چه دا صحيح دے - او امام ذهبى دَ هغے تائيد كړے دے . او بيهقى په الاسماء والصفات كښ هم ذكر كړے دے نو دا دَ آيات الصفات نه دے - بغير دَ څه تشبيه او تاويل نه دَ دے منل واجب دى - دويم قول دَ حسن بصرى رحمه الله دے چه كرسى او عرش يو څيز دے - دا قول ابن كثير رد كړيدے - دريم قول په بل روايت سره دَ ابن عباس رضى الله عنهما دے چه كرسى علم دَ الله تعالىٰ دے - څلورم قول چه دا ملك او سلطان دَ الله تعالىٰ دے - ليكن دا معنے والا ارباب الالحاد دى ځكه چه دوى انكار كوى دَ عرش او كرسى نه (قرطبى) - پنځم قول دا دے چه دا اتم فلك دے او دَ اوو افلاكو نه بره دے او ديته فلك الثوابت وئيلے شى ليكن دا تخيلات دَ فلاسفؤ دى - ځكه چه الله تعالىٰ په ډيرو آياتونو كښ

صرف دَ اوو آسمانونو ذکر کړی دے۔ او دَ دے دَ وسعت ذکر په ډیرو احادیثو کښې راغلے دے یو دَ هغے نه حدیث دَ ابن جریر دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه اووه آسمانونه په کرسئ کښې داسے دی لکه اووه روپئ چه په یو ډال کښې واچولے شی۔ او دا دلالت کوی په ډیر عظمت او کبریاء دَ الله تعالیٰ باندے۔ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا، دا جمله په وَسِعَ كُرْسِيُّهُ باندے عطف ده په طریقه دَ تتمے سره۔ او صفت سلبیه دَ الله تعالیٰ دے چه کمال دَ علم او دَ قدرت باندے بنا دے ځکه چه حفظ پوره علم او قدرت غواړی۔ اِدَ يَئُودُ په معنیٰ دَ دروند والی او مشقت اچولو سره راځی۔ آوَدْ (کوږوالے) او مَوءودة (ژوندئ خخه کړے شوے جینئ) دَ دینه اخستلے شوی دے۔ هٗ ضمیر راجع دے الله تعالیٰ ته یا کرسئ ته۔ او په دے جمله کښې اشاره ده چه دا آیت لوستل دَ حفاظت دَ انسان دَ پاره فائده ورکوی لکه چه په حدیث کښې راغلی دی (مخکښې تیر شوید دے)۔ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ، دا جمله په ماقبل باندے عطف ده او په دیکښې دوه صفات ثبوتیه دَ الله تعالیٰ دی۔ ابن کثیر وئیلی دی چه دا آیت او کوم احادیث صحیحه چه دَ دے په معنیٰ کښې دی، کَرَه خیره په دیکښې طریقه دَ سلفو صالحینو ده۔ چه چلوئ دے لره څه رنګ چه په ظاهره کښې راغلی دی بغیر دَ تکیف او تشبیه نه۔ او سمعانی وئیلی دی چه عَلِی په معنیٰ دَ متعالی (اوچت) دے دَ څیزونو او شرکاؤ نه۔ او ځا وئیلی دی چه اوچت دے په بادشاهئ او سلطنت سره۔ او ابوحیان وئیلی دی چه دَ عَلِی معنیٰ اوچت دَ مخلوق دَ پاسه دے۔ او ماوردی وئیلی دی چه فرق په مینځ دَ عَلِی او عالی کښې په دوه وجوهو سره دے۔ اول وجه دا ده چه عالی هغه دے چه موجود وی په اوچت محل کښې او عَلِی هغه دے چه مستحق وی

لَآ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ ۖ قَد تَّبَيَّنَ

نیشته زور په عقیده کښې یقیناً ښه ښکاره شوې ده

الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ۚ فَمَن يَكْفُرْ

هدایت د ګمراهۍ نه تو هغه څوک چه انکار یې اوکړو

بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ

د بندګۍ د غیر الله نه او یقین یې اوکړو په الله تعالیٰ نو یقیناً

اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ ج

را ټینګه کړه هغه کړۍ مضبوطه

لَا انفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (٢٥٦)

چه نیشته جدا کیدل د هغې او الله تعالیٰ هر څه آوری عالم دے په هر څه باندې۔

د اوچتوالی۔ دویمه وجه دا ده چه عالی هغه دے چه امکان لری د شرکت د بل چا او علی هغه دے چه امکان د شرکت نه لری۔

فائده :۔ د الله تعالیٰ د اوچتوالی د پاره د قرآن اووه تعبیرات دی۔ اول علو سورة اسراء ۳۳ دویم المتعال سورة رعد ۹ دریم اعلی دوه ځله۔ څلورم عَلِيٌّ اته ځله۔ پنځم تعالی څوارلس ځله۔ شپږم فوقیت درے ځله انعام ۱۸ ۶۱ او نحل ۵۰۔ اووم استواء علی العرش سورة اعراف ۵۴ یونس ۳ رعد ۲ طه ۵ فرقان ۵۹ المسجدة ۴ حدید ۴

اَلْعَظِيمُ، یعنی قدر او شرف یې ډیر لوے دے (قرطبی)۔ خاوند د عظمت دے چه هر څیز د هغه نه خکته دے۔ نو د هغه نه هیڅ څیز اعظم نیشته (ابوحیان)۔

۲۵۶۔ ربط ۱ :۔ هر کله چه په آیت الکرسی کښې دلیلونه د توحید او د عظمت د الله تعالیٰ واضح ذکر شول چه هغه تقاضا کوی چه عقل والا خلق یې بغیر د جبر او اکراه نه

قبول کړی - نو یو سوال پیدا شو چه دا مشرکان به آیا بخیل حالت
باندې پریښودلے کیږی او که په دوی به زور کیږے شی
نو جواب اُوشو چه لَآ اِكْرَاهَ - نو دیته جمله استینافیه بیانیه وئیلے
شی - ۲ له دا متعلق دے د قَاتِلُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ سره او په مینځ
کښې ئې جملے معترضے دی نو جواب د سوال دے چه په قتال
سره معلومیږی چه په دین کښې اکراه چلیږی نو جواب اُوشو
په دے جملے سره چه لا اکراه آه -
لَآ اِكْرَاهَ فِى الدِّيْنِ، اکراه په اصل کښې زور کول دی په کولو د
مکروه (طبعی) کار یا قول باندے - او دا کیږی په یره کولو د داسے
سزا چه هغه زیاته مکروهه وی د هغه عمل نه - او فرق د
اکراه او اجبار دا دے چه په اکراه کښې رضا نه وی لیکن اختیار
باقی وی او په اجبار کښې رضا او اختیار دواړه سلب وی -
الدِّيْنِ، د دے معانی په تفسیر د سورة فاتحه کښې ذکر شوی دی -
دلته مراد د دینه عقیده د زړه ده (راغب، قرطبی او ابوحیان)
او په دے جمله کښې دوه اقوال دی اول قول دا دے چه دا جمله
خبریه ده - دویم دا چه دا خبریه په معنیٰ د انشاء (نهی) کښې ده
بنا په اول قول باندے د دے دوه معنے دی - اوله معنیٰ دا ده چه
اِکراه نیشته د الله تعالیٰ د طرف نه په ایمان او اسلام قبلولو
باندے بلکه دا بنا دے په اختیار باندے په دلیل د آیت
فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْ سورت کهف ۲۹ سره
او روستو جمله هم په دے باندے دلیل دے چه دین واضح
شوے زور ته حاجت نیشته - دویمه معنیٰ دا ده چه هیڅ
انسان د عقیدے په باره کښې په بل چا باندے زور نه شی
کولے ځکه چه عقیده د زړه عمل دے په هغے باندے زور
نه چلیږی - او د دے دلیل په سورة یونس ۹۹ کښې دے او
قرطبی وئیلی دی چه هر چه مسئله د اکراه ده په احکامو کښې
یعنی بیع، هبه، نکاح او طلاق وغیره نو دلته هغه مراد نه ده په
دے توجیهاتو سره دا جمله منسوخ یا خاص نه ده بلکه محکم

او عام دہ او بنا په دویم قول (چه دا په معنی دَ انشاء شی) نو
په دیکښې قرطبي شپږ اقوال نقل کړی دی چه په بعضو
کښې دعوی دَ نسخ دہ او په بعضو کښې تخصیص دَ آیت دے
په بعضے حالاتو پورے۔ او که آیت دَ قتال سره متعلق شی
نو په قتال کښې اکراه په ژبه باندے کیدے شی چه دَ زور دَ
وجے نه په ژبه باندے کلمه او وائی لیکن په زړه باندے
زور نشی کیدے۔ نو دَ دے جملے نسخ یا تخصیص دَ قتال
په آیتونو سره نشی کیدے۔ قَدْ تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ،
دا دَ لا اکراه دَ پاره دلیل دے۔ تبین نه مراد دا دے چه ډیر
ښکاره شوبے په دلیلونو سره په دے سورت کښې او په
آیت الکرسی او په ټول قرآن کښې۔ الرُّشْد هدایت او حقانیت دَ
رائے او مقصد نه رسیدلو ته وئیلے شی۔ الْغَيّ مقابل دَ رُشد
دے۔ او گمراهئ او خطایئ دَ عقیدے او دَ رائے ته وئیلے شی۔
دلته مراد حق او باطل او ایمان او کفر دے۔ او لفظ دَ مِنْ
دلالت کوی په فرق او تمیز باندے۔ فَمَنْ يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ
دا دَ اصحاب الرشد او اصحاب الغي تفصیل دے۔ کفر په معنیٰ
دَ انکار دے او دا معنیٰ لغوی دہ۔ طاغوت دَ طغیان نه ماخوذ
دے۔ هغه دَ حد نه تیریدل دی۔ او په دیکښې اختلاف دے
دَ نحویانو۔ په نیز دَ ابوعلی فارسی دا مصدر دے او دَ سیبویه
په نیز دا اسم جنس مفرد دے۔ او په نیز دَ مبرد دا جمع دہ۔
او کله دا مؤنث راځی په دلیل دَ والذین اجتنبوا الطاغوت ان
یعبدوها سورة زمر ستا او کله مذکر راځی لکه په وَقَدْ امروا
ان یکفروا به سورة نساء ستا کښې۔ او دَ دے په مصداق
کښې اختلاف دے اول قول، دا شیطان دے (عمر، مجاهد او
قتاده)، دویم قول دا کاهن دے (ابن جریر) دریم قول دا
ساحر دے (ابوالعالیه) څلورم دا هر هغه څیز دے چه انسان
لره سرکش کوی۔ پنځم هر هغه څوک چه دَ هغه عبادت او طاعت
کیدے شی په رضا دَ هغه سره۔ شپږم هر تعدی کوونکے یا

هغه څيز چه د هغه عبادت کيږي تنی - او وم هر معبود من دون الله - نو غوره دا ده چه دلته دا دے ټولو معانيو ته شامل دے او زمونږ مشائخو د تفسير ويئلي دي چه په شپږمه او اوومه معنی سره نيکانو ته هم شامل دے هغوی اګر چه طغيان والا نه دی ليکن عبادت د هغوی سبب د طغيان د خلقو دے او دا اطلاق مجازی دے - ليکن دا صفت د نيکانو سره مناسب نه دے - او بل کوم ځائے کښې هم د دے اطلاق په نيکانو باندے نه دے شوے قائره سله طاغوت په قرآن کښې اته کرته راغلے دے کله په معنی د حاکم غير شرعی لکه سورة نساء ستلے کله په معنی د هر شيطان او سرکش لکه وړيسے آيت کښې راځي او کله په معنی د هر معبود من دون الله لکه په دے آيت کښې او سورة زمر کښې سله کفر بالطاغوت ئے مخکښې ذکر کړلو ځکه چه دا په حقيقت کښې مخکښې دے په ايمان باندے - او دفع د فساد مخکښې وی په منفعت حاصلولو باندے -

وَيُؤْمِنْ بِاللّٰهِ، د دے ايمان نه مراد ايمان شرعی دے -

سوال :- کفر بالطاغوت مستلزم دے ايمان بالله لره نو ايمان ئے وړيسے ولے ذکر کړو؟

جواب :- دا استلزام نيشته ځکه چه کله يو انسان د طاغوت بندګی نه کوی او حال دا چه ايمان هم نه راوړی هيڅ دين ئے نه وی -

سوال :- ايمان بالله خو مستلزم دے کفر بالطاغوت لره نو هغه ئے ولے ذکر کړو؟

جواب :- په دېکښې مراد پوره انسلاخ او راوتل دی د کفر نه د دے وجے نه ئے هغه مخکښې او مستقل ذکر کړو -

فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى، دا د ماقبل د پاره جزاء ده اګر چه شرط ئے فعل مضارع دے ليکن جزا ئے مبالغتاً فعل ماضی ذکر کړے ده ګويا چه دے د مخکښې زمانے نه کلک دے -

عُرْوَةِ، د او سپنے هغه کړئ ته وئيلے شی چه انسان ئے په لاس سره

رانیولے شی۔ اَلْوُثْقٰی، مؤنث دے۔ دَ اوثق نه دے یعنی ښه کلکه او مضبوطه کړې۔ او دا سے په سورة لقمان ۲۲ کښې هم دی۔ لَا انْفِصَامَ لَهَا، دا حال دے دَ العروة نه۔ انفصام دَ فصم نه دے او فصم په فا سره قطع ده بغیر دَ جلا کولو نه او قصم په قاف سره قطع ده سره دَ جلا ایئ نه او کله دَ یو بل په معنیٰ سره راځي۔ او هر کله چه هسے قطع پکښې نه راځي نو سره دَ جلا ایئ نه قطع خو په طریق اولیٰ سره نه راځي۔ په دے جمله کښې تشبیه ده سره دَ مبالغے نه په شپږ وجوهو سره۔ اوله وجه فعلِ ماضی، دویمه وجه تمسك کول، دریمه باب استفعال دَ استمسك چه ښه کلکوالی ته وئیلے شي، څلورمه عروه، پنځمه وثقٰی، شپږمه عدم انفصام دَ هغے یعني کړئ ښه پخه او مضبوطه ده او روستو هم نه شلیږي او انسان هم ورپورے لاس ښهٔ پاښه لګولے او اخلولی دی۔ نو دا سے انسان دَ طوفان او سیلاب او پریوتلو نه بچ وی۔ او وجه دَ تشبیه دا ده چه ایمان او توحید پشان دَ کړئ دی او هغه مضبوط دی په عقلی او نقلی دلیلو نو سره او دَ هغے دلیلو نو مقابله او مناقضه هیڅوک نشي کولے۔ او دَ مؤمن یقین او علم په دغه دلیلو نو باندے پوخ دے چه هیڅ شک او شبهه ورته نه راځي نو دا سے مؤمن دَ دُنیا دَ هر قسم فتنو نه بچ وی او په قیامت کښې هم دَ هر عذاب نه بچ دے۔

سوال:۔ دا دَ اصحاب رُشد ذکر وو نو دَ اصحاب الغَیّ ذکر ئے ولے اُونکړو؟ جواب:۔ دَ هغے حکم دَ مقابلے نه معلومیږي چه دوی کافر بالله او مؤمن بالطاغوت دی لکه په سورة نساء ۵۱ کښې دی۔ او دَ دوی دَ عقیدے دَ کمزورۍ والی مثال په سورة ابراهیم ۲۶ کښې ذکر دے۔ لیکن په دیکښې په مخکښې جملو کښې ترغیب دے ایمان ته۔ دَ دے وجے نه ئے اکتفاء اوکړه په اول قسم باندے دَ پاره دَ ترغیب۔ وَاللّٰهُ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ، سمعانی وئیلی دی چه الله تعالیٰ آوری ستا دا دعوت دوی لره اسلام ته او عالم دے په حرص ستا په اسلام دَ دوی باندے۔ یا آوری کلمه دَ

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ

الله تعالیٰ خاص دوست دَ هغه کسانو دے چه ایمان ئے راوړی دے او باسی دوی لره

مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۗ وَالَّذِيْنَ

دَ تیارو نه رڼا طرف ته او هغه کسان

كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓـئُهُمُ الطَّاغُوْتُ يُخْرِجُوْنَهُمْ

چه کفر ئے کړے دے دوستان دَ هغوی شیطانان دی او باسی دوی لره

مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ۗ اُولٰٓـئِكَ

دَ رڼا نه تیارو طرف ته دغه کسان

اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ (۲۵۷)

اور والا دی دوی به هغے کښ همیشه دی

شهادت دَ مؤمن او کلمه دَ کفر دَ کافر- او عالم دے په پاکه عقیده دَ مؤمن او په پلیته عقیده دَ کافر باندے (صاحب اللباب)-

۲۵۷- په دے آیت کښ ذکر دَ حال دَ اصحاب الرشد او اصحاب الغی دے په نسبت دَ اوولے ډلے الله تعالیٰ ته په ولایت سره او په نسبت دَ دویمے ډلے طاغوت ته په ولایت سره- او ذکر دَ آثارِ مختلفه دَ دغه ولایتونو دے- اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا، په لفظ دَ الله سره دَ ابتداء کولو دوه وجے دی- اوله وجه اطمینان او تسلی ورکول په نزدیکت دَ مؤمنانو الله تعالیٰ ته- دویمه وجه دا نیزدے جمله ده وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ته- وَلِيُّ، ولی په اصل کښ نزدیکت ته وئیلے شی- او روستو په ډیرو معانیو سره استعما لیږی چه هغه ټولے معانے دلالت کوی په نزدیکت باندے دلته مراد په دیکښ مختلف اقوال دی- اول مددګار، دویم محبت کوونکے- دریم متولی (رواکدار) دَ دوی دَ کارونو- الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا، نه مراد هغه خلک دی چه ایمان شرعی ئے راوړے وی لکه چه مخکښ آیت

کښې په فمن يكفر بالطاغوت ويومن بالله سره ذکرشوېدې.
دويم قول دا چه هغه کسان مراد دي چه اراده دَايمان لري
په سبب دَ انابت سره - يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ
دَ واقدي نه ابوحيان روايت کړيدے چه په قرآن کښې هر
ځائے چه ظلمات او نور ذکر دے نو مراد تري نه کفر او
ايمان دے ما سيوا دَ سورة انعام سا نه - يا مراد دَ ظلمات
نه شبهات دي او په نور سره مراد يقين دے -
سوال :- اخراج خو مخکښې دخول غواړي نو ټول مؤمنان خو
اول په کفر کښې نه وي داخل ؟
جواب[1] :- مراد دَ دينه صرف هغه مؤمنان دي چه اول په کفر
او شرک کښې داخل وو او الله تعالىٰ هغوي له توفيق دَ ايمان
ورکړو لکه عام صحابه کرام رضى الله عنهم -
جواب ۲ :- دَ دينه مراد ټول مؤمنان دي لکه مراد دَ ظلمات نه
شبهات دي چه کله په مؤمنانو باندے عارض کيږي -
جواب ۳ :- دَ اٰمَنُوْا نه مراد هغه خلق دي چه ايمان يې نه
وي راوړے ليکن اراده دَ ايمان لري -
جواب ۴ :- مراد دَ اخراج نه منع کول دي يعنې که چرے دَ
توفيق دَ الله تعالىٰ نه خالي شي نو په ظلماتو کښې به واقع شي -
نو توفيق دَ الله تعالىٰ سبب اوګرځيدو دَ پاره دَ دفع کولو دَ
ظلمتونو -
سوال :- ظلمات يې جمع او نور يې مفرد ذکر کړے دے ؟
جواب :- دَ ظلماتو اسباب او اقسام ډير دي لکه دَ شرک او کفر
ټول قسمونه، شبهات او شکونه وغيره، او نور، ايمان او يقين
يو دے - وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاءُهُمُ الطَّاغُوتُ، دا دَ دويمې
ډلے ذکر دے چه اصحاب الغي دي او شروع يې اوکړه په
وصف دَ کفر دَ دوي سره - او اشاره ده قباحت شان دَ دوي
ته او داعلت دے دَ پاره دَ ما بعد - اولياء نه مراد دَ دوي
ملګري يا دَ دوي متبوعين (تابعداري کړے شوي) دي - الطاغوت

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرٰهِمَ

آیا نه گورے ته هغه کس ته چه جګړه یې اوکړه د ابراهیم علیه السلام سره

فِي رَبِّهِ أَنْ آتٰهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ

په باره د رب د هغه کښې د دے وجے نه چه ورکړے وه الله تعالیٰ هغه ته بادشاهي کله چه اُوئیل

إِبْرٰهِمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ

ابراهیم علیه السلام رب زما هغه ذات دے چه ژوندی کول کوی او مړه کول کوی

قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ قَالَ إِبْرٰهِمُ

هغه اُوئیل زه ژوندی کول کوم او مړه کول کوم اُوئیل ابراهیم علیه السلام

فَإِنَّ اللّٰهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ

نو یقینًا الله تعالیٰ راولی نمر د مشرق نه

فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي

نو ته یې راوله د مغرب نه نو چُپ او حیران کړے شو هغه کس چه

كَفَرَ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِينَ (۲۵۸)

کفر یې کړے وو او الله تعالیٰ هدایت نه ورکوی قوم ظالمانو ته۔

مصدر دے په معنیٰ د جنس۔ یا مفرد جنسی دے نو جمع او مفرد په دېکښې یوشان دی۔ دلته په معنیٰ د جمع سره دے ځکه چه مراد د دینه شیاطین انسی او جنی دی او هغه ډیر دی۔

يُخْرِجُونَهُمْ مِنَ النُّورِ سوال:۔ کافران خو اول په نور کښې داخل نه دی نو ځنګه رنګه او وئیلے شو چه د نور نه یې اُوباسی؟۔

جواب له:۔ د دینه خاص هغه یهود مراد دی چه مخکښې د بعثت د نبی صلی الله علیه وسلم نه په هغه باندے ایمان لرو رچه راسے نبی به راځی) لیکن روستو د بعثت نه یې کفر اوکړو په تقلید د احبار او رهبان سوء سره۔

جواب ۲ ه :- مراد تر ینه قول کافران دی او اخراج نه مراد منع کول دی دَ قبلولو دَ نور نه په اچولو دَ شبهاتو، شکونو او وسوسو سره - اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ.
په اُولٰٓئِكَ سره اشاره ده کافرانو او طواغیتو دواړو ته چه تابعین او متبوعین دی -
۲۵۸- ربط :- مخکښې ذکر شو چه الله تعالیٰ مؤمنانو لره دَ ظلماتو دَ شبهاتو، شکونو او وسوسو نه اوباسی - او طاغوت خپل ملګری په شکونو او شبهاتو کښې اخته کوی نو اوس په دے باندے دلیلونه ذکر کوی په درے واقعاتو سره دَ دے وجے نه ئے په عطف سره نه دے راوړے - نو اوله واقعه دَ دواړو جملو سره تعلق لری او روستو دواړه صرف دَ اولے جملے سره تعلق لری یعنی نمروذ دَ ظلماتو نه او نه وتلو دَ وجے دَ تابعداری دَ طاغوت نه او ابراهیم علیه السلام غالب شو په هغه باندے ځکه چه الله تعالیٰ دَ هغه ولی وو- او دا واقعه ئے دَ څو وجو نه مخکښې راوړه - اوله وجه دا ده چه دا ســے کافران ډیر دی - دویمه وجه دا چه دا نیزدے ده والذین کفروا اولیاءهم الطاغوت ته -
دریمه دا چه دا ښکاره دلیل دے دَ اثبات دَ قدرت دَ الله تعالیٰ دَپاره او روستنی دواړه امور خارقه للعادت دی دَپاره دَ اثبات دَ قدرت الهیه - اَلَمْ تَرَ، دَ دے تفسیر مخکښې تیر شوید ے - اِلَى الَّذِيْ حَآجَّ اِبْرٰهٖمَ، دغه شخص کافر وو یقینًا په دلیل دَ فَبُهِتَ الَّذِيْ كَفَرَ سره او اکثرو مفسرینو وئیلي دی چه نمروذ بن فالخ بن عابر وو دَ اولاد دَ حام بن نوح علیه السلام نه - او چا وئیلی دی چه نمروذ بن کنعان بن کوش بن سام بن نوح علیه السلام وو - او دا جبار بادشاه وو - دَ بابل ښار ئے جوړ کړے وو او په بابل کښې ئے لویه ماڼۍ جوړه کړیوه - او دغه نه نمروذ (په دال یا په ذال سره) وئیلے کیږی - حَآجَّ دَ حجت نه اخستلے شوید ے لیکن غالبًا په باطله جګړه کښې استعمالیږی دلته هم مراد دا دے

چه باطله جګړه ئې کوله دَ ابراهیم علیه السلام سره - او دَ دے وجے نه ئې فاعل دَ دے هغه کافر ګرځولے دے او باب مفاعله په اعتبار دَ زعم دَ هغه دے یعنی هغه پخپل ګمان کښ ځان غالب ګڼړلو - فِيْ رَبِّهٖٓ ، مراد دینه وصف دَ ربوبیت دَ الله تعالیٰ دے - یعنی تصرف او تدبیر دَ عالم الله تعالیٰ کوی په دیکښ ورسره هیڅوک شریک نیشته - او دلیل په دے دوستو الفاظ دی چه دهٔ ځان ته دَ احیاء او اماتت دَ تصرف نسبت کولو - نو معلومه شوه چه دَ وجود دَ الله تعالیٰ نه منکر نه وو صرف دَ خپل ربوبیت دعوی ئې کوله پشان دَ فرعون - او دعوی دَ ربوبیت مستلزم وی دعوے دَ الوهیت (معبودیت) لره - اَنْ اٰتٰهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ ، دا دَ حاجّ دَپاره علت دے په حذف دَ لام سره - او وجه دَ علتیت دا ده چه دغه پادشاهی سبب اوګرځید له دَ تکبر دَ هغه - دَ دے وجے نه ئې جګړه اوکړه - یا دا په طریقه دَ عکس او دَ تهکم سره دے - یعنی دهٔ لره کدے انعام په سبب شکر کول پکار وو لیکن دهٔ دَ شکر په ځائے کفر او محاجه اوکړه - او مراد دَ مُلك نه ډیر مال، قوت او ډیر والے دَ تابعدارانو دے او دا سے پادشاهی الله تعالیٰ کافرانو ته هم ورکوی په طریقه دَ استدراج یا ابتلاء سره - اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ، دا ظرف دے دَ حاجّ دَپاره او دا دلیل دے چه ابراهیم علیه السلام اول دعوت دَ توحید شروع کړے وو او تصرفات دَ ربوبیت ئې دَ الله تعالیٰ دَپاره خاص کړل په بیان کښ نو نمرود ورسره په دیکښ جګړه شروع کړه لکه چه موسیٰ علیه السلام فرعون ته دعوت شروع کړے وو چه اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ او بیا ئې دَ ربوبیت تفصیل ذکر کړو چه هغه په سورة شعراء کښ دَ آیت ۱۶ نه دے - او صفت دَ احیاء او اماتت په طور دَ دعوے سره دے یا په طور دَ استدلال سره دے لیکن دا ډیر واضح او جامع صفت دے او معنیٰ دَ احیاء هر عقل والا پیژنی که احیاء دَ انسان وی یا حیوان وی او که دَ زمکے وی - چه مراد دَ هغے نه پیدائش دَ انسان

او حیوان دے دَ نطفے نه- او احیاء دَ زمکے په قوتِ نباتی پیدا کولو سره ده - دا رنګ دَ اماتت معنیٰ هم هر عقل والا پیژنی چه روح جدا کول دی دَ بدن نه که دَ انسان وی او که دَ حیوان وی - او اُوچول دَ قوتِ نباتیه دی په زمکه کښ - او تمام عقل والا پیژنی چه دا فعل دَ هغه ذات وی چه قدرت په هر څیز او علم دَ هر څیز لری - او هغه په خپل حیات کښ چا ته محتاج نه وی او فنا ورپاندے نه راځی او دَ هغه مقابله هیڅوک نشی کولے او دا صفتونه دَ الله تعالیٰ دی - نو معلومه شوه چه ربوبیت هغه لره خاص دے -

سوال : په ډیرو آیاتونو کښ یئے موت دَ حیات نه مخکښ ذکر کړیدے لکه سورة بقره ۲۸، سورة شعراء ۸۱ اوسورة ملک ۲ او دلته یئے احیاء مخکښ کړه ؟ -

جواب :- دلته مقصود دعوت دَ توحید دَ ربوبیت دے نو په هغے کښ هغه تصرف مخکښ ذکر کول پکار دی چه په هغے کښ عجائب دَ پیدائش ډیر او واضح وی او دا په احیاء کښ دی -

قَالَ اَنَا اُحْيِ وَاُمِيْتُ، دا تفصیل دَ حاجّ دے او په دے قول کښ (که دعوٰی وی او که دلیل وی) مغالطه ورکول مقصد دے په دوه وجو سره - اول وجه بنا ده په مشهور قول دَ مفسرینو سره چه دهٔ قصد اوکړو هغه یو کس ته چه حکم دَ اماتت (پهانسیٔ) یئے په هغه باندے کړے وو نو هغه یئے معاف کړو لیکن دا خو اماتت نه دے بلکه قتل کول دی - دویمه وجه دا ده چه احیاء او اماتت خو پټ څیز دے او هغه په قدرت دَ الله تعالیٰ سره دے نو دهٔ په دے لفظ سره هغه خپل قدرت او عمل اوګڼړلو او دلته یئے اَنَا اُحْيِ او نئیل انا الذی اُحْيِ یئے نه دے وئیلے ځکه چه دغه شخص دعوٰی دَ حصر نشوه کولے دَ دے وجے نه چه دَ دهٔ نه مخکښ هم ډیر خلق پیدا شوی او مړه شوی وو- لیکن دهٔ دعوٰی دَ اشتراک کړیده دَ الله تعالیٰ سره په احیاء او اماتت کښ-

قَالَ اِبْرٰهِمُ فَاِنَّ اللّٰهَ يَاْتِيْ بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَاْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ

دا فا دَ جواب دَ شرط پټ دَپاره ده - ابراهيم عليه السلام دهٔ ته اوئيل چه هرکله تا دعوىٰ دَ اِحياء او اماتت دَځان دَپاره اوکړه او په دے سره دے په خلقو باندے تلبيس اوکړو- نو اوس واضح حجت واوره چه حرکات دَ نمرو تصرفات فلکيه دى او دَ بندګانو دَ دعوے نه اوچت دى - نو نمرد دَ مشرق نه راښکاره کول دَ الله تعالىٰ فعل دے يقيناً اوکه ته دَ دے يقينى تصرف مقابله کولے شے نو دا حرکات دَ نمر بدل کړه او دَ مشرق په ځائے ئے دَ مغرب نه را اوخيژوه -

سوال :- اصول دَ مناظرے خو دا دى چه په دليل دَ خصم باندے اعتراض اوکړے شى نو دَ هغے بطلان ښکاره شى - او دلته ئے دَ يو دليل نه بل دليل ته انتقال اوکړو؟

جواب ۱ :- اکثرو مفسرينو وئيلے دى چه دا انتقال دے دَ يو دليل نه بل بنهٔ واضح دليل ته دَ خصم دَ چپ کولو دَپاره او دا جائز دے دَ مستدل دَپاره ليکن ابن کثير وئيلى دى چه دا توجيه دَ منطقيانو ده او دا احسن نه ده بلکه بيا هم پدے باندے اعتراض راځى چه په ديکښ دَ خصم په نيز دَ اول دليل ضعف (کمزورى) لازميږى او دا خو صحيح نه ده- دارنګ امام رازى بل اعتراض ذکر کړيدے چه دويم دليل دَ اول دليل نه بنهٔ واضح نه دے او دَ هغے وجوه ئے ذکر کړيدى -

جواب ۲ :- ابن کثير او امام رازى وغيره ذکر کړى دى چه دا دَ يو دليل نه بل دليل ته انتقال نه دے بلکه دَ دليل دَپاره دوه مثالونه دى اول مثال احياء او دويم مثال تصرف په حرکت دَ نمر کښ - نو دليل په اصل کښ حدوث دَ څيزونو دے چه دَ هغے دَپاره يو ذات محدِث قادر مختار ضرورى دے او هغه الله تعالىٰ دے - نو دَ هغه حوادثو يو مثال دَ عدم نه وجود ته راوستل دى او دَ وجود نه عدم ته بوتلل دى- او دويم مثال حرکات دَ افلاک او دَ ستورو دى - ليکن پدے باندے اعتراض کيدے شى چه هرکله چه خصم دَ اول قسم نسبت ځانته

اوکړو نو ضروري وه چه دَ هغې ابطال کړے شوے وے۔
جواب ۳ : امام رازي او صاحب اللباب وئيلي دي چه په دیکښې هیڅ انتقال نیشته بلکه داجواب دَ سوال مقدر دے دَ خصم دَ طرف نه هغه دا سے دے چه ابراهیم علیه السلام دلیل ذکر کړو دَ اِحیاء او اماتت نو منکر اعتراض اوکړو چه دا تصرف بغیر دَ اسباب سماویه او ارضیه نه دے اوکه په واسطه دَ دغه اسبابو سره دے۔ نو اول قول خو دَ حقیقت او واقع نه خلاف دے۔ او دویم قول دلیل په مقصد باندے نشی کیدے ځکه چه یو انسان هم په اِحیاء او اماتت باندے په بعضے اسبابو سره ظاهري قدرت لري لکه دَ اِحیاء دَ پاره جماع کول دَ ښځے سره او دَ اماتت (قتلولو) دَ پاره زهر ورکول یا بل سبب استعمالول۔ نو ابراهیم علیه السلام دَ دے جواب په دے قول سره ذکر کړو چه فان الله یاتي بالشمس آه۔ حاصل دَ جواب دا دے چه صحیح ده چه احیاء اماتت په اسبابو سره دے لیکن په هغې کښې شکاره اسباب حرکاتِ فلکیه دي او دَ هغې فاعل مدبر الله تعالیٰ دے او خصم که دعوٰی کوي نو په دے اسبابو کښې دے مخالف دخل اوکړي۔ دا جواب صحیح دے لیکن تقدیر دَ سوال ته محتاج دے۔
جواب ۴ : ملیح آبادي په تفسیر مواهب القرآن کښې وئیلي دي حاصل ئے دا دے چه دَ مناظرے دَ قیام دَ پاره په جانبینو باندے اول ذکر دَ دعوے ضروري دے او بیا استدلال کول۔ نو دلته ابراهیم علیه السلام دعوٰی ذکر کړه چه رَبِّيَ الَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ په حصر او اختصاص سره نو نمروذ هم خپله دعوٰی ذکر کړه چه انا احي وامیت یعني دعوٰی ئے اوکړه چه زه منصرف یم په ایجاد او فنا دَ څیزونو کښې۔ نو ابراهیم علیه السلام دَ خپلے دعوے دَ پاره دلیل ذکر کړو په دے قول سره چه فَإِنَّ الله آه۔ او دَ خصم نه ئے هم دلیل طلب کړو لیکن هغه في الحال عاجز شو دَ دلیل پیش کولو نه۔ دا جواب

احسن دے او دَ اصولو دَ مناظرے سره پوره موافق دے۔ او خصم ورسره سم ستی چپ شو۔ او فا په دلیل کښ ذکر کیږی۔ ځکه چه دعوی تقاضا دَ دلیل کوی نو په مقتضاء کښ فا داخلیږی۔
فَبُهِتَ الَّذِیْ كَفَرَ، فاعل په ظاهر کښ ابراهیم علیه السلام او په حقیقت کښ الله تعالی دے۔ دَ دے وجے نه مجهول صیغه ذکر شوه۔ او په لفظ دَ الذی کفر کښ اشاره ده علت دَ بُهِتَ ته۔ او بَهَتَ په لغت کښ حیرانیدل او هیبت زده کیدل دی او ابن کثیر وئیلی دی چه چاړا شو او چپ شو۔ او صاحب اللباب وئیلی دی چه مغلوب شو او دَ سوال په جواب باندے قادر نه وو۔ ابن عاشور وئیلی دی چه عاجز شو دَ مناظرے نه۔
سوال:- نمرود دا جواب ولے نه کوو چه نمرد مشرق نه ځه راخیژووم ستا رب دے دَ مغرب نه را اوخیژوی؟
جواب ۱:- سیوطی وئیلی دی چه دَ دهٔ نه په عمر کښ مشران خلق موجود وو که چرے ده دا دعوی کړے وے چه نمر دَ مشرق نه ځه راخیژووم نو هغه مشرانو اگر چه دَ یرے نه به ئے ښکاره تکذیب دَ دهٔ دَ قول نه وے کړے لیکن په پټه او په زړه کښ به ئے وئیلے وے چه دا خو ستا دَ پیدائش نه مخکښ دَ مشرق نه راختلو او ستا دعوی باطله ده۔
جواب ۲:- سمعانی وئیلی دی چه دے په زړه کښ پوهیدلو که چرے ځه دَ ابراهیم علیه السلام ته طلب اوکړم چه ستا رب دے دَ مغرب نه را اوخیژوی نو ضرور به ئے الله تعالی دَ مغرب نه را اوخیژوی نو دے به بیهٔ شرمنده شوی وے۔
جواب ۳:- الله تعالی دَ دهٔ نه دا جواب هیر کړو دے دَ پاره چه خلقو ته اظهار دَ حق اوشی۔ او دا مراد دے په دے قول دَ الله تعالی کښ چه وَاللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ۔ او دَ دے هدایت نه مراد خو دلته دَ دلیل او دَ حجت ده۔ راوهر چه مؤمنان دی نو دَ هغوی په باره کښ راغلی دی والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا (سورة عنکبوت آخری آیت)

أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَّهِيَ

یا (لیدلے تا) پشان دَ هغه چاچه د ر تیرشو په یو ښار باندے او هغه

خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا ۚ قَالَ أَنَّىٰ

پریوتلے وُ په چتونو خپلو باندے اُویل هغه څه رنګ

يُحْيِي هَٰذِهِ اللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۖ

به ژوندی کوی دے لره الله تعالیٰ روستو دَ مرګ دَ هغې نه

فَأَمَاتَهُ اللَّهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ ۖ

نو مړ اوساته دهٔ لره الله تعالیٰ سل کلونه بیائې راژوندے کړو

قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۖ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا

اُویل الله تعالیٰ څومره حصار شوے ته اُویل هغه حصار شوے یم یو ورځ

أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۖ قَالَ بَل لَّبِثْتَ

یا ټکړه دَ ورځ اُویل الله تعالیٰ بلکه حصار شوے ئې ته

تو مراد دَ هدایت نه هدایت خاصه دے۔ یا مراد دَ ظالم نه عنادی اوضدی دے چه په هغه باندے مهر وهلے شوے وی۔

فائده ۱: په دے آیت کښ دلیل دے چه محاجه او مناظره په دے غرض سره چه اثبات دَ حق اُوشی داسنت دَ انبیاء علیهم السلام دے۔ په دے شرط چه ضد او عناد او تعصب او ریا پکښ مقصد نه وی۔ او قرطبی دَ دے دَ پاره نور هم دلیلونه ذکر کړی دی۔ ۲ په دے آیت کښ رد دَ شرک فی الربوبیت دے او مراد دَ ربوبیت نه تصرف کول او تدبیر کول دَ مخلوق دی۔ او دا مستلزم دے قدرت دَ الله تعالیٰ لره په بعث بعد الموت باندے چه روستو دواړه واقعے په هغې باندے صراحتًا دلالت کوی۔

مِائَةَ عَامٍ فَانْظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ

سل کاله تو اوګوره خوراک خپل

وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ج وَانْظُرْ

او څښاک خپل ته چه دې خراب شوی او اوګوره

إِلَىٰ حِمَارِكَ قف وَلِنَجْعَلَكَ آيَةً

خر خپل ته (چه دلیل پړې او نیسی) او دې د پاره چه او ګرځوؤ مونږ تا یو نخه

لِلنَّاسِ وَانْظُرْ إِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ

د پاره د خلقو او اوګوره هډوکو ته چه څه رنګ

نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا ط فَلَمَّا

را اوچتوؤ هغې لره بیا اغوندوؤ مونږ هغې ته غوښه نو هر کله

تَبَيَّنَ لَهُ لا قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ اللَّهَ

چه ښه ښکاره شوه ده ته ده اُوویل پوهه شوم (په مشاهده سره) چه یقینًا الله تعالیٰ

عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (۲۵۹)

په هر څیز باندې قدرت لرونکې دې.

۲۵۹:- دا دویمه واقعه ده او تعلق لری د اللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا سره یعنی الله تعالیٰ ایمان والا د شبهاتو نه یقین ته یوسی.

ربط ۱:- اوله واقعه کښې اثبات وو د توحید د ربوبیت چه هغه اول اصل دے د اصولو د ایمان نه نو اوس دویم اصل ثابتوی چه هغه بعث بعد الموت دے.

ربط ۲:- په اوله واقعه کښې اثبات د قدرت د الله تعالیٰ وو په احیاء او اماتت باندې او په تصرف کولو د انقلاباتو د نمر باندې. نو اوس په دې واقعه کښې په هغې باندې تفریع کوی چه دا رنګ الله تعالیٰ قادر دے په بعث

بعد الموت بانده او په امورِ خارقوٌ دَ عادت باندے۔
اَوْ كَالَّذِیْ مَرَّ عَلٰى قَرْيَةٍ، اَوْ دَ تنویع دَ پاره دے په قدرت دَ
الله تعالیٰ کښ یعنی مخکښ یو قسم اثبات دَ قدرت دے تو اوس
بل قسم دے۔ او دا عطف دے په معنیٰ دَ ما قبل باندے (په
نیز دَ کسائیؒ او فراء بغوی) او مبرد وئیلی دی چه دا عطف دے
په لفظ باندے لیکن عبارت پکښ پټ دے یعنی اَلَمْ تَرَ اِلَى
الَّذِیْ حَآجَّ اِبْرٰهِیْمَ، او اَلَمْ تَرَ مَنْ هُوَ كَالَّذِیْ مَرَّ
عَلٰى قَرْيَةٍ، او په دے دواړه حالاتو کښ کاف اسم دے په
معنیٰ دَ مثل سره دے او په دیکښ اشاره ده چه دَ دے واقعے
پشان نور مثالونه هم دَ الله تعالیٰ دَ قدرت شته دے۔ الَّذِیْ
کښ ډیر اقوال دی۔ دَ اکثرو مفسرینو په نیز مراد عزیر علیه
السلام بن شرخیا دے او دَ بعضو په نیز ارمیا بن حلقیا نبی
دے او دَ بعضو په نیز حزقیل بن بوزی نبی مراد دے۔
سمعانی وئیلی دی چه اول قول صحیح دے او ابن عاشور وئیلی
دی چه دَ تورات مطابق دریم قول صحیح دے۔ او اکثرو
معتزلو وئیلی دی چه دا (نبی حزقیل بن بوزی) کافر وو۔
قَرْيَةٍ، دَ اکثرو مفسرینو په نیز دا قریه بیت المقدس وو چه
بخت نصر جابر دا قریه دَ بنی اسرائیلو خرابه کړیوه او دَ هغے
خلقو اوسیدونکی ئے قتل کړی وو او خه کسانو تریته هجرت کړے
وو او دا رنګ تورات ئے هم خیزلے وو۔ یا دا ارض مقدسه
وه په قول دَ ضحاک سره او دا هغه قریه وه چه په زرګونو خلق
تریته تختیدلے وو لکه په آیت ۲۴۳ کښ تیر شویدی۔ ابن
عطیه دا قول رد کړیدے۔ او یا دا قریه دَ دیرِ هرقل وه یا سابور آباد
وه دا قول دَ کلبی دے۔ یا مسلم آباد وو دا قول دَ سدی
دے۔ وَهِیَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا، دا جمله حالیه ده۔ خاویه
په دوه معنو سره راځی (۱) غورځیدلے (۲) خالی۔ دلته اوله
معنیٰ مراد ده۔ او عروش جمع دَ عرش ده چهت دَ کوټے او
سیرونو ته وئیلے شی۔ یعنی دَ هغه کلی چهتونه او باغونه او

سیرو نه اول غور ځیدلی وو تو بیا دَ هغې دَ پاسه دیوالونه دَهغې آبادۍ هم را غورځیدلی وو نو دَ هغې نه ډیرکئ جوړے شوے وے - لکه اوس زمانه کښې زاړه کهنډرات په داسے طریقے سره وی -
قَالَ اَنّٰى يُحْىٖ هٰذِهِ اللّٰهُ بَعْدَ مَوْتِهَا، اَنّٰى په معنىٰ دَ کیف سره دے او احیاء دَ قریئے (بنا ر) په آبادئ او په اوسیدونکو سره وی - او موت دَ هغې شاړیدل او تړیدل دی - او دا سوال مشتمل دے په احیاء دَ هغه انسانانو چه په دغه کلی کښې آباد او ژوندی وو - او دا سوال په طور دَ انکار او شک سره نه دے بلکه په طریقه دَ استعظام دَ قدرت دَ الله تعالیٰ دے (چه دَ هغه قدرت ډیر عظیم دے) یا په طور دَ افسوس دے په مړه کړی شوی بنی اسرائیلو پسے یا په طور دَ کیفیت دَ دویم ژوند دے یعنی دویم ژوند خو حق دے لیکن طریقه او کیفیت ئے ده ته تر دغه وخت پورے معلوم نه وو چه آیا دو باره ژوند به دَ اول پیدائش پشان (تدریجا) وی یا چه څۀ رنګه مړشوے وی تو په هغه طریقے به راژوندی کیږی.
تنبیه :- بعض مفسرینو وئیلی دی چه دا قول په طریقه دَ شک سره وو او دا شخص کافر دو لکه چه زمخشری او ابوعلی (معتزلی) وئیلی دی - لیکن ابن عطیه په دے باندے رد کړیدے - او صاحب اللباب وئیلی دی چه دا تپوس دلالت کوی چه دے شخص الله تعالیٰ منلو او بعث بعد الموت ئے اجمالا منلو لیکن دَ تفصیل نه خبر نه وو تو معلومه شوه چه دا شخص مؤمن وو او هر کله چه دَ الله تعالیٰ سره مکالمه شوی ده تو دلیل دے چه دے نبی هم وو -
فَاَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهٗ، مِائَةَ ظرف دے دَ اَمَاتَهٗ دَ پاره لیکن یو لفظ پټ دے چه وَاَلْبَثَهٗ (حصار ئے کړو) او الله تعالیٰ چه ځان ته نسبت او کړو تو معلومه شوه چه الله تعالیٰ دَ مخلوق دَ نظرونو او تور دحوادثو نه هم ساتلے وو - او دا موت په جدا کولو دَ روح سره وو دَ جسم دَ هغه نه لیکن مرګ دَ نیتې نه وو بلکه دَ خرق عادت په طور سره وو - بعث په معنیٰ دَ دوباره ژوندی سره دے - او داسے واقعات په دے سورت کښې د ړے ډیر

شویدی او دا خلورمه ده۔ منکرین معجزات او منکرینِ حدیث دَ دینه انکار کوی او دَدے تحریف کوی او وائی چه قرآن کښ خو صرف دَ دُنیا ژوند او بیا مرګ او بیا دَ قیامت ژوند ذکر دے۔ جواب دا دے چه قیامت دَ دے وجے نه تاسو منئ چه په قرآن کښ ثابت دے نو دا سے واقعات هم په قرآن کښ ثابت دی نو دَ دے منل هم ضروری دی۔

سوال :- ثم بعثه ئے او وئیلو او ثُمَّ اَحْیَاهُ ئے او نه وئیلو ؟

جواب :- دَ بعث نه مراد دا دے چه په کومه حالت کښ مړ شوے وو نو په هغه حالت کښ ئے راژوندے کړو یعنی عقل علم او نظر ئے لرلو۔ او په لفظ دَ اَحْیَاء سره دا فائده نه حاصلیږی۔ مفسرینو لیکلی دی چه او بیا کلونه دَ دهٔ دَ مرګ نه روستو تیر شو نو الله تعالیٰ یو فارسی بادشاه (چه نوم ئے کوشك یا لوسك) لره قوت ورکړو او بیت المقدس ئے دوباره آباد کړو او بنی اسرائیل ئے دَ جابر دَ پنجے نه خلاص کړل او په بیت المقدس کښ آباد شول نو بیا په دیرش کاله کښ دوی پوره آباد کړو۔ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ، قرطبی وئیلی دی چه ظاهر دا ده چه تپوس کوونکے الله تعالیٰ دے په دلیل دَ روستو لفظ كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوْهَا لَحْمًا ،

سوال :- الله تعالیٰ ته خو دَ هغه دَ بعث مدت معلوم وو۔ دارنګ دا هم معلومه خبره ده چه مړے (دَ مرګ په حال کښ) دَ دُنیا دَ حال نه خبر نه وی نو دَ دے تپوس څه فائده ده ؟

جواب ١ :- دا دَ دے دَ پاره چه په هغه باندے اشتباه دَ مرګ دَ خوب سره راشی ځکه چه خوب خو عادتاً سل کالو پورے نه اوږدیږی۔

جواب ٢ :- هر کله چه دَ جاهلانو عقیده ده چه مړی دَ دُنیا دَ حالاتو نه خبر وی او دَ دُنیا والو سره امداد هم کوی۔ نو دلته الله تعالیٰ دا سوال او جواب دَ دے دَ پاره ذکر کړل چه عزیر علیه السلام اګرچه په مؤجل مرګ سره مړ نه وو لیکن

سره دَ دینه هغه ته مدت (وخت) معلوم نه وو چه په هغه څو کاله، میاشتې یا ورځې تیرې او نور دَ دُنیا احوال تیر شویوو- نو څوک چه په مقرر (مؤجل) مرګ سره مړشي نو هغه څو په طریق اولی سره دَ دنیا دَ حالاتو خبر نه لري-

قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ، دا قول دَ هغه په ګمان باندے بنا وو- هر کله چه یو خبر په غالب ګمان سره صادرشي او دَ واقع نه خلاف وي نو هغې ته دروغ (کذب) نشي وئیلے- مفسرینو وئیلي دي چه دے کوم وخت مړکیدلو نو دَ ورځے صبا وخت وؤ او چه دوباره ژوندے کړے شو نو دَ نمر دَ پریوتلو نه مخکښ وخت وو- نو چه نمر ته ئې لا کتلي نه وؤ نو اُوئیل ئې لبثت یومًا او چه نمر ته ئې اوکتل چه پوره پریوتے نه وو نو بیا ئې اوئیل چه اَوْ بَعْضَ یوم- او اَوْ په معنیٰ دَ بَلْ سره دے- قَالَ بَلْ لَبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ، دا بَلْ دَ عطف دَپاره دے په پټ کلام باندے یعنی ما لبثت یومًا او بعض یوم بل لبثت- په دیکښ دَ هغه سوال (اَنّٰی یحیي هٰذه الله بعد موتها) اول جواب دے چه دَ هغه په بدن کښ الله تعالیٰ ښکاره کړو- حاصل جواب دا دے چه دوباره ژوند به دَ مخکښ حالت په صورت کښ وي لکه چه عزیر علیه السلام څرنګه بالغ، عاقل، عالم او خاوند دَ حواسو وو نو هغسې ئې دوباره راژوندے کړو- فَانْظُرْ اِلٰى طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ، ظاهر دا ده چه دَ دهٔ سره دَ سفر توښه وه- طعام ئې اینځر وو او دَ څښکلو څیز ئې دَ انګورو رس (عصیر) وو یا پئ وو لکه چه مفسرینو لیکلي دي- او هغه په دغه سل کاله کښ دَ خپل حالت نه بدل شوی نه وو- لَمْ يَتَسَنَّهْ، دا هاء دَ دے اصلي ده او پیخ تړینه دَ لَمْ دَ وجے نه غورځیدلے دے- نحاس وئیلي دي چه دا دَ سنه نه اخستلے شویدے- او تیریدل دَ کلو نو مستلزم وي تغیر لره نو معنیٰ اصلي دا ده چه کلو نه

په دے بان سے نه دی تیر شوی. لیکن دلته معنی التزامی مراد ده یعنی نه دے بدل کړے هغے لره کلونو اونه بد بوبه شوے
او لَمْ يَتَسَنَّهْ جمله حالیه ده یعنی نظر اوکړه د دے مال نه بد لیدلو ته.

سوال :- دا صیغه مفرد ده او مخکښ دوه څیزونه تیرشوی دی طعام او شراب؟

جواب :- دا دواړه د یو بل سره لازم دی په عادت کښ نو دا په حکم د یو غذا کښ دی ځکه ورته ضمیر مفرد راجع دے.

سوال :- د بل لَبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ د توضیح د پاره انظر الی الحمار مخکښ راوړل پکار وو چه هغه دلالت کوی په ډیره موده تیریدو بانں سے. او د خوراک څښاک نه بد لیدل په ډیره موده تیریدلو دلالت نه کوی؟.

جواب :- د مِائَةَ عَامٍ نه یو وهم پیدا شو چه بدن د دهٔ په سلو کالو کښ ولے نه خرابیدلو نو په دے سره ئے وهم دفع کړو چه د الله تعالیٰ قدرت عظیمه دا دے چه خوراک څښاک چه هغه زر خرابیږی نو هغه نه دی خراب شوی په سبب د حفاظت د الله تعالیٰ سره. نو دا رنګ د بعض مړو بدن نو نه هم الله تعالیٰ محفوظ ساتی لکه بدن د عزیر علیه السلام او بدن نو نه د ټولو انبیاءِ کرامو او د بعض شهدائو او اولیاءِ کرامو. او دا رنګ د ټولو مړو نه یو هډو کے محفوظ ساتی چه هغے ته عَجْبُ الذَّنَبْ (لکه لبی وئیلے شی. نو دا د الله تعالیٰ د قدرت عظیمه لویه نښه ده.
وَانْظُرْ اِلَى حِمَارِكَ، اکثر مفسرین وائی چه د دهٔ څورلی چه حمار وو مړ شوے وو او هډوکی د هغه خوارهٔ وارهٔ پراته وو (غوښه، څرمن ترینه ختمه شوی وه) نو الله تعالیٰ د خپل قدرت عظیمه د اظهار د پاره بیله نښه اوخودله.

سوال :- د طعام او شراب سره ئے حالت ذکر کړے وو چه هغه محل د عبرت وو او دلته ئے د حمار حالت ذکر نه کړو؟

جواب :- د ضحاك او وهب بن منبه قول دا دے چه هغه

حمار د ده ژوندے اولاړ وو په خپل ځائے پاتے اود طعام اود شراب پشان الله تعالیٰ محفوظ ساتلے وو. زمخشري وئيلي دي چه هغه حمار سل کاله خوراک څښاک نه وو کړے (او ژوندے اولاړ وو) نو دا هم لويه نښه د قدرت الٰهيه ده. تو د دے وجے نه د هغه حالت ئے ذکر نه کړو.

وَلِنَجْعَلَكَ اٰيَةً لِّلنَّاسِ، فراء وئيلي دي چه د دے فعل روستو پټ دے يعنې فَعَلْنَا ذٰلِكَ (دا کار مونږ اوکړو) بل قول دا دے چه واو زياتي دے او دا متعلق دے په انظر پورے. دريم قول دا دے چه دلته کلام پټ دے يعنې اَرَيْنَاكَ ذٰلِكَ لِتَعْلَمَ قُدْرَتَنَا وَلِنَجْعَلَكَ آه. (دا مونږ تا ته اُوښودلو دے د پاره چه عالم شے په قدرت زمونږ. او مونږ تا د خلقو د پاره نښه اوګرځوو) لِلنَّاسِ کښې الف لام عهدي دي يعنې هغه خلق چه په دغه زمانه کښې وو او عزير عليه السلام ئے اُولیدلو يا الف لام جنسي دي نو مراد هغه خلق دي چه تر قيامت پورے دا واقعه اَورِي. مفسرينو ليکلي دي چه دے ځوان مړ شوے وو د څلويښتو کالو په عمر. او واپس چه راغے نو هم ځوان وو او ځامن او نوسي ئے اُوليدل چه د هغوي عمرونه د سلو کالو نه ډير وو. او هغوي دے په بعضې نښو سره او خصوصًا د تورات په حفظ سره اُوپيژندلو. ابن عطيه وئيلي دي چه د ومره موده مړ ساتل او بيا ژوندے کول د الله تعالیٰ د قدرت يو عظيمه نښه ده د دے په بوه خبره پورے تخصيص نه ضرورت نيشته.

تنبيه :- دا قصه د عزير عليه السلام د بعضې يهوديانو د پاره د دے عقيدے سبب اوګرځيدو چه عزير عليه السلام د الله تعالیٰ ځوئے دے او مظهر د تولو علمونو ئے ګرځولے دے. خو دا د دوي باطله عقيده ده بلکه دوي د توحيد د دليل نه د شرک دليل جوړ کړو

وَانْظُرْ اِلَى الْعِظَامِ، لفظ د انظر ئے مکرر راوړلو ځکه چه د دغه کښې نظر او د دے نظر په مينځ کښې فرق دے هغه دا چه اول نظر

حمار ته دوه دَ هغه دَ مړ کولو او هډوکي يې تر سل کاله پورې ساتلو
دَ پاره او دا نظر په پاره دَ دوباره ژوندي کولو کښې دے په طريقه
دَ مشاهدے سره - العظام کښې الف لام دَ اکثرو مفسرينو په
نيز عهدي دي يعني هډوکي دَ حمار - او دَ ضحاک وغيره دَ قول
په بنا دَ عظام نه مراد هډوکي دَ بعضے انسانانو يا حيواناتو وو.
كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوْهَا لَحْمًا ، دا بدل دے دَ العظام نه او دَ
بعضو په تيز حال دے - نو مراد نظر کول دي حال دَ هډوکو ته
چه روستو يې دوه حالات ذکر دي - اول حال ننشزها - دا دَ
اَنْشَزَ نه اخستلے شوے دے - او نشز په لغت کښې ارتفاع
(اوچتوالي) ته وئيلي شي - او ابن عطيه وئيلي دي چه اوچتوالے
په ذمه دمه سره او دَ يو بل سره پيوست کول دي - نو معنیٰ
دلته داده (حرکت ورکوؤ او پورته کوؤ بعضے هډوکي بعضو ته).
او په بعضے قراءتونو کښې په راء سره دے په معنیٰ دَ ژوندي
کولو دے چه په قرآن کريم کښې اکثر دَ بعث بعد الموت
دَ پاره په راء سره ذکر دے - ليکن په هغے کښې معنیٰ صرف
دَ ژوندي کولو ده او دلته ذکر دَ کيفيت دَ ژوندي کولو دے
نو دَ دے سره قرائت دَ زاء مناسب دے - دويم حال دَ
هډوکو ثم نکسوها لحمًا دے او دا دَ اول ترتيب سره په
بعضے حالاتو کښې موافق دے لکه چه په سورة مؤمنون کښې
کښې ذکر دے - فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗ ، مفعول دَ دے پټ دے يعني
کيفيت الاحياء يا مَا اَشْكَلَ عَلَيْهِ (کيفيت دَ ژوندي کولو يا
هغه خيز چه ده پاندے يې اشتباه وه) - او زمخشري وئيلي
دي چه روستو اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ، مفعول دے دَ
تبين په طريقه دَ تقدير سره او مفعول دے دَ اَعْلَمُ دَ پاره
هم په اعتبار دَ ظاهر سره - قَالَ اَعْلَمُ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ
قَدِيْرٌ ، دَ علم نه مراد علم دَ مشاهدے دے چه پيدا شوے
روستو دَ دے واقعے نه - او مخکښې علم وو ليکن بغير دَ مشاهدے
نه او دَ دے وجے نه يې فعل مضارع اُوئيلو چه نوے علم

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ

او کوم وخت چه اُوویل ابراهیم علیه السلام اے ربه او ښائے ما ته چه څه رنګ به

تُحْيِ الْمَوْتَىٰ ۖ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِن ۖ

ژوندی کوے ته مړی اُوویل الله تعالیٰ آیا ته ایمان نه لرے

قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِي ۖ

اُوویل هغه هاں (ایمان لرم) او لیکن چه کلک شي زړه زما

قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ

اُوویل الله تعالیٰ نو اونیسه څلور د مارغانو نه نو ټکړے ټکړے کړه دوی

إِلَيْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ

(او ساته ئې) د ځان سره بیا کیږده په هر غر باندے

پیدا شو۔ د آیت په فاصله کښې لفظ د قدیر د دے وجے ذکر کړو چه په دے واقعه د قدرت د الله تعالیٰ کښې ډیرے نمونے ذکر شوے ۱ محفوظ ساتل مړی ان لره۔ ۲ محفوظ سهاتل د خوراک څښاک سل کاله پورے ۳ سل کاله روستو د انسان (عزیر علیه السلام) دوباره ژوندی کول۔ ۴ بعض انسانانو له په دنیا کښې علم د مشاهدے ورکول۔

فائده:- دا آیت دلالت کوی چه څورلی د حمار سنت د انبیائے کرامو دے۔ او په حدیث صحیح د معاذ رضی الله عنه کښې هم راغلی دی چه زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم په حمار باندے څوړلی کړیده۔ او په دیگر کښې تور احادیث هم شته دے۔ تو هیڅ مؤمن لره جائز نه دی چه د حمار څورلئی ته په بد نظر سره اُوګوری او په دے زمانه کښې د چا د شرمنده کولو او سپکولو په طور سره په حمار باندے څورول دا هم د یهودیانو او انګریزانو طریقه ده دے د پاره چه د نبی د سنت توهین اوکړی۔

ثُمَّ اجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا ۚ

دَ دے نه څه ټکړه بیا آواز دے کړه هغوی ته راځي به تاته منډے به وهي

وَاعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦٠﴾

او پوهه شه چه یقینًا الله تعالیٰ زور آور حکمتونو والا دے۔

٣٥ ع ٢ ٢

سله دا دریمه واقعه ده او متعلق ده دَ اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا سره۔ یعنی الله تعالیٰ ابراهیم علیه السلام دَ یو قسم ظلمت نه (چه په سوال کښ دے) سرهٔ دَ علم یقینی نه نور (رڼا) دَ مشاهدے ته اوویستلو او په دیکښ دَ متکبر قصے نه ترقی ده۔ هلته تپوس په لفظ دَ اَنّٰی سره او دلته په لفظ دَ کیف سره دے چه دا صریح دے په سوال دَ کیفیت کښ هلته الله تعالیٰ دَ عزیر علیه السلام په بدن کښ نمونه اُوخودله او دلته نمونے دی په خارجي حیواناتو کښ۔ هلته نمونے دَ قدرت اُوخودلے او دلته یئے حکمتونه اُوخودل۔ هلته یئے بعث دَ هډوکو (بدن) دَ انسان او دَ حمار اُوکړو لیکن دَ هغے اختلاط نه وو راغلے او دلته روستو دَ اختلاط دَ هډوکو نه یئے نمونه دَ بعث خودلے ده۔ او دا فرقونه دلالت کوی په فضیلت دَ ابراهیم علیه السلام په عزیر علیه السلام باندے۔ او واقعه دَ عزیر علیه السلام یئے په دے واقعے پاندے مقدم کړے ده ځکه چه دا ترقی ده دَ ادنیٰ نه اعلیٰ ته په اثبات دَ بعث بعد الموت کښ۔

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ، او دَ دے مناسبتونو دَ وجے نه یئے دا په ماقبل باندے عطف کړے دے په حرف دَ واو سره۔ رَبِّ اَرِنِيْ كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتٰى، مفسرینو دَ دے سوال مختلف اسباب لیکلی دی لیکن غوره دا ده چه روستو سبب ذکر دے چه لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ۔ او زیاتوالے دَ علم دَ علماؤ او انبیائے کرامو په نیز مطلوب او محبوب دے۔ او لفظ دَ اَرِنِیْ دلیل دے چه علم مشاهده غواړی او کیف لفظ هم په هغه ځائے کښ استعمالیږی چه وجود دَ یو څیز دَ سائل او دَ مسئول په نیز باندے معلوم وی لیکن بعض

احوال ورته معلوم نه وی - دلته هم دا سے ده چه بعث بعد الموت باندے د ابراهیم علیه السلام یقین دے لیکن سوال دا دے چه د مړو اجزاء او اعضاء ګډوډ شی نو آیا هغه اجزاء به ټول یو ځائے راجمع کوی یا به بعض پریږدی یا به په دمه دمه راجمع کیږی او که نه سمدستی به راجمع کیږی - نو ابراهیم علیه السلام د دا سے احوالو د علم حاصلولو د پاره تپوس کوی -
قَالَ اَوَلَمْ تُؤْمِنْ قَالَ بَلٰی، په دے سوال او جواب کښ مقصد دفع د وهم د خلقو ده - یعنی که څوک وهم اوکړی چه د ابراهیم علیه السلام سوال کول دلالت کوی چه هغه په بعث بعد الموت کښ شک کولو نو حاصل د جواب دا دے چه الله تعالیٰ پخپله د هغه نه د سوال د سبب تپوس کړے وو په دے قول سره چه اَوَلَمْ تُؤْمِنْ نو هغه جواب کړیدے او په دغه جواب باندے الله تعالیٰ راضی وو ځکه چه د هغے رد نه دے کړے -
وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِىْ، طمانیت په اصل کښ سکون او اعتدال ته وئیلے شی او دا په اعضاؤ کښ ظاهر دے - لکه چه په موضع کښ تعدیل او طمانیت د ارکانو دے - او طمانیت د زړه سکون دے د فکر په هغه څیز کښ چه په هغے باندے عقیده وی او هغه څیز دلته صورت د ژوندی کولو دے نو په هغے کښ طمانیت دا دے چه علم ضروری د علم استدلالی سره یو ځائے شی نو په هغے کښ محل د شک پاتے نشی (زمخشری، ابوحیان)
طمانیت زیادت د یقین ته وئیلے شی (سعید بن جبیر)-
یا مراد د دینه زیاتوالے د ایمان دے د مخکښ ایمان سره (قتاده) د دے وجے نه امام بخاری په کتاب الایمان کښ دا د اثبات د زیادت د ایمان د پاره په طور د دلیل ذکر کړیدے - او ابن عاشور وئیلی دی چه مراد د قلب نه علم دے په ذکر د محل او اراده د حال سره او مراد د اطمینان نه علم محسوس او انشراح د نفس ده په هغے سره - نو معلومه شوه چه زیادت د مراتبو د علم ته انبیاء علیهم السلام

هم محتاج دی۔
سوال:۔ امام بخاری په کتاب التفسیر او کتاب الایمان کښې حدیث راوړی دے دَ ابو هریره رضی الله عنه چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی نَحْنُ اَحَقُّ مِنْ اِبْرَاهِیْمَ اِذْقَالَ رَبِّ اَرِنِیْ آه (موږ ډیر حقدار یو په شک کولو سره دَ ابراهیم علیه السلام نه کله چه هغه دا کلمه اووئیله) دا خو دلالت کوی چه ابراهیم علیه السلام دا کلمه دَ شک دَ وجے نه وئیلے وه او حال دا چه انبیاء کرام په قدرت دَ الله تعالیٰ کښې دَ شک نه پاک دی؟
جواب:۔ قرطبی، ابن عطیه او صاحب اللباب دَ خطابی نه په نقل سره وئیلی دی چه دا په طریقه دَ تواضع سره دے او په دیکښې مراد تعلیق دے یعنی لوکان هذا القول عن ابراهیم علی سبیل الشك فنحن احق به (که چرے دا قول دَ ابراهیم علیه السلام په طریقه دَ شک سره وے نو موږ به زیات حقدار وے دَ شک کولو لیکن هر کله چه موږ شک نه کوو نو ابراهیم علیه السلام خو په اولیٰ طریقے سره شک نه کوو)۔
او ابن جریر او طبری چه دَ دے په باره کښې دَ شک دَ جواز ذکر کړے دے نو ابن عطیه وئیلی دی چه دغه قول دَ دوی مردود دے۔ او قرطبی او نیشاپوری هم دَ هغے سخت رد ذکر کړے دے۔ قَالَ فَخُذْ اَرْبَعَةً مِّنَ الطَّیْرِ، دا دَ ابراهیم علیه السلام دَ سوال اجابت دے په عملی محسوسی طریقے سره۔ او نیول په لاس کښې سبب دَ جمع کولو دَ حاسے (دَ محسوسولو قوت) دَ لیدلو په سترګو سره او دَ حاسے دَ لمس (دَ ګوتو سره لاس لګول) نو دا سبب دَ کمال علم دے۔ اَرْبَعَةً، الله تعالیٰ دلته عدد معین ذکر کړے دے لیکن دَ مارغانو تعین ئے نه دے ذکر کړے۔ نو په هغے کښې دَ صحابه کرامو او تابعینو نه مختلف روایات نقل دی۔ دَ مجاهد او عطاء قول دے چه دا مارغان طاؤس، بانګی، کونتره او کارغه وو۔ او دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه دَ کونترے په بدل

کښې کنجئ (چه غټ مارغه دے) نقل ده۔
سوال :۔ دَ یو مارغه امریئے ولے اونکړو ؟
جواب ۱ :۔ دَ ابراهیم علیه السلام په سوال کښې مَوْتیٰ جمع ده نو جواب کښې جمع پکار وه۔
جواب ۲ :۔ دلته مقصد ژوندی کول دی روستو دَ اختلاط دَ اجزاؤ نه او دَ اختلاط دَپاره ډیر عدد پکار دے۔
سوال :۔ دَ مارغانو تعین کښې څه حکمت دے ؟
جواب ۱ :۔ دَ مارغانو صفت اوچت الوتل دی او دَ ابراهیم علیه السلام همت هم رسیدل وو ملکوت ته۔
جواب ۲ :۔ اشاره ده چه په هوا کښې په الوتلو سره هم انسان دَ مرګ او بعث بعد الموت نه نه خلاصیږی۔
سوال :۔ دَ څلور و عدد په تخصیص کښې څه حکمت دے ؟
جواب ۱ :۔ اشاره ده څلورو عناصرو ته چه په بدن دَ انسان کښې دی۔
جواب ۲ :۔ دَ مارغانو صفات په څلور قسمونو کښې منحصر دی۔ خاشت لکه چه په طاؤس کښې او شدت شهوت لکه په بانګی کښې دے۔ او ډیر حرص کول دَ خوراک لکه چه کارغه کښې دے او ډیر غفلت لکه په کونتره کښې دے یا ډیر خوراک لکه په کنجئ کښې دے۔ نو دَ هر صفت نه ئے یو یو را جمع کړو۔ او په دغه صفاتو کښې انسانان هم دَ مارغانو سره مشابهت لری۔
تنبیه :۔ دَ هر نبی دَپاره الله تعالیٰ څه معجزات خاص کړی وی په هغې سره دَ هغه نبی خصوصیت معلومیږی۔ خو موتږ په ډیر رازونو او حکمتونو دَ الله تعالیٰ بانده علم نه لرو۔
فَصُرْهُنَّ اِلَيْكَ ، ابوحیان او قرطبی وئیلی دی چه دَ ابن عباس رضی الله عنهما ، مجاهد ، ضحاک ، او ابن اسحاق په نیز دَ دے معنیٰ دا ده چه قطع (ریزے کړه) دوی لره۔ او قتاده وئیلی دی چه جدا جدا ئے کړه (دا هم دَ اولے معنے پشان دے) او عطاء وئیلی دی چه ځان سره ئے پیوست کړه۔ او دَ کسائی

قول دے چه ځان ته يې مائل کړه (يعنې عادت او اموخته يې کړه) نو په مخکنو معانيو سره اِلَيْكَ دَ خُذْ سره متعلق دے او په آخري معنیٰ سره دَ صُرْهُنَّ سره متعلق دے۔ او په ديکښې دوه مشهور قراءتونه دي يو په پېښ دَ صاد سره او بل په زير دَ صاد سره. فراء وئيلي دي چه دَ پېښ په حالت کښې مشترک دے په معنیٰ دَ قطع او اِماله (مائيل کول) کښې او په زير سره خاص دے په قطع پورې۔ زه وايم چه دلته معنیٰ دَ قطع کولو غوره ده۔ يو وجه دا ده چه په کلام کښې تقدير ته حاجت نه راځي او په معنیٰ دَ اماله (مائيل کولو) سره به قَطِّعْهُنَّ پټ را اوباسې۔ او په کلام کښې بې ضرورته تقدير دَ عربيت دَ قانون نه خلاف دے۔ دَ ترجيح نور وجوه به روستو په تنبيه کښې ذکر شي۔ ثُمَّ اجْعَلْ عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا جزء ټکړے دَ يو څيز ته وئيلے کيږي۔ دَ تَجْزِي (ټکړے کولو) نه پيدا کيږي۔ نو دا هم صريح دليل دے چه دَ صرهن نه مراد تقطيع ده۔

كُلِّ جَبَلٍ، دَ مجاهد او ضحاک په نيز دَ ديته مراد بحسب الامکان دے (چه په طاقت کښې دے غوصره وي) او دَ حسن او قتادة قول دے چه څلور واړو اطرافو ته څلور غرونه مراد دي۔ او ديته استغراق عرفي وئيلے شي۔ لفظ دَ كُلِّ په قرآن کښې کله کله دَ دے استغراق دَ پاره استعماليږي۔ او په غرونو باندے په تقسيمولو سره يو حکمت دا دے چه دَ مارغانو اکثر تعلق دَ اوسيدلو دَ غرونو سره وي۔ دويم دا چه په غرونو کښې يو څيز موندل ګران وي ليکن دَ الله تعالیٰ قدرت ته هيڅ ګران والے نيشته۔ ثُمَّ ادْعُهُنَّ، دَ دُعا نه مراد ندا (آواز) کول او راغوښتل دي۔ دا دُعا عبادت نه دے (يعنې دَ حاجت روايئ دَ پاره رابلل نه دي) ځکه چه په ډيرو آيتونو او احاديثو کښې معلومه شويده چه غير الله ته داسې کول دَ شرک کار دے او الله تعالیٰ چا ته دَ شرک کولو حکم نه کوي۔ نو دَ دے لفظ نه چه چا دا معنیٰ او مراد اخستلے دے

هغوی تحریف معنوی کړیدے - او په حال دَمرګ او ټکړے کولو کښ او آواز ورکولو او دَ هغوی ژوندی کیدلو او راتللو کښ دَ الله تعالیٰ عظیم قدرتونه او حکمتونه دی - بل په دے کښ معجزه دَ ابراهیم علیه السلام ده چه دَ هغه په آواز سره هغه مارغان ژوندی کیږی - یَأْتِينَكَ سَعْيًا ، دا مصدر په معنیٰ دَ اسم فاعل سره حال دے یعنی سَاعِيَاتٍ (منډے وهونکی) اِتیان او سعی اکثر دَ زمکے دَ راتللو سره تعلق لری یعنی په داسے طریقه دَ دوی راتلل چه دَ دوی دَ عادت نه خلاف دی (دَ دوی عادت خو الوتل دی) داهم دَ الله تعالیٰ دَ قدرت نښه ده. دَ مفسرینو په روایاتو کښ شته چه ابراهیم علیه السلام هغه مارغان راونیول او ذبح یئے کړل او غوښے، هډوکی او بنړے دَ هغوی یئے دَ یو بل سره ګډوډ کړۀ او په تیز دے غروتو یئے تقسیم کړۀ - بیا یئے ورته آواز کړو نو دَ هر یو مرغئ ټکړے دَ یو بل سره یو ځائے شوے او ابراهیم علیه السلام ته په منړه راغلی - وَاعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ، عزت متضمن دے قدرت او غلبے لره - یعنی دَ دے تا اشنا (خلاف عادت) کارونو کول دَ الله تعالیٰ دَ عزت او غلبے په مخکښ هیڅ ګران نه دی - نو چا لره نه دی جائز چه دَ دیته انکار اوکړی - حَكِيمٌ کښ اشاره ده چه په دے واقعه کښ اظهار دَ ډیرو حکمتونو دے چه بعضے هغے ته موږ بیان کړل -

فائده :- په دے کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ به دَ قیامت په ورځ دَ ټولو قسمونو انسانانو او پیریانو بعث کوی یعنی دوباره به یئے راژوندی کوی - داسے رنګ چه دوی مړه شی او دَ خاورو سره ګډوډ شی او کله دَ سیلئ په ذریعے سره یئے اجزاء دَ یو بل سره خلط شی لیکن په ورځ دَ بعث به الله تعالیٰ دَ هر یو شخص اجزاء راجمع کوی او روح به په کښ اچوی او میدان حشر ته به بیا دغه شخص په منړه سره راځغلی -

تنبیه :- په دے آیت کښ دَ فَصُرْهُنَّ ډیرے معنے ذکر کړے

شوے او په هغې کښې د مفسرینو درے اقوال دی - اول قول، د ابو مسلم اصفهانی دے (او په دے زمانه کښې د منکرین حدیث قول دے) د هغوی د قول حاصل دا دے چه د صُرْهُنَّ معنیٰ صرف اموخته کول دی او په اجابت یا تن ے عادت کول دی (لکه چه دا طریقه د مارغانو سره د لوبو کوونکو خلقو ده) او بیا ابراهیم علیه السلام ژوندی مرغو ته آواز اوکړو نو هغوی یې حواله راغلی د دوی دلیلونه دا دی چه د صرهن نه اموخته کول معنیٰ مشهوره ده - دویم قول: چه د تقطیع په معنیٰ شی نو اِلَيْكَ لفظ بے فائدے دے یا په کلام کښې تقدیم تاخیر راځی - دریم قول: د هُنَّ ضمیر اجزاؤ ته نشی راجع کیدے بلکه ژوندو مارغانو ته راجع دے - نو دا قول د معتزلو او منکرین حدیث بنا دَے په انکار د معجزاتو باندے - د دے دلیلونو جوابونه بالترتیب دا دی (۱) تفسیر د صرهن په اموخته کولو سره بالکل نه دے بلکه شاذ او ضعیف قول دے لکه روستو به ثابت شی - (۲) او لفظ اِلَيْكَ متعلق دے په خُذْ پورے او تقدیم تاخیر په کلام د عربو کښې بلکه په قرآن کریم کښې ډیر ځایه ثابت دے - (۳) ضمیر د هُنَّ اجزاؤ ته د راجع کولو هیڅ مانع نیشته - او اعتراضونه په دے قول باندے ډیر دی - اول دا چه دا بنا دے په انکار د معجزاتو باندے او هغه مفضی دی کفر ته یا کفر دے - دویم دا چه په دا سے عمل سره خو د ابراهیم علیه السلام هیڅ خصوصیت ثابت نشو بلکه دا کار خو عام بنهیر باز او د مارغانو ساتونکی خلق هم کوی - دریم دا چه لفظ د جزء او جزئی کښې فرق دے - جزء ټکړے د کل ته وئیلے شی او جزئی یو مستقل فرد ته وئیلے شی - دلته لفظ د جُزْءًا صریح دلیل دے چه هغه یې ټکړے کړی وے - څلورم دا چه ابراهیم علیه السلام د کیفیت د احیاء او اماتت تپوس کړے وو نو په دغه تفسیر سره د هغه د سوال اجابت اونه شو - دا د مقصد د قرآن نه بالکل خلاف دے -

دویم قول: د بعض اهلِ سنت مفسرینو دے چه صرهن په

معنیٰ دا موختہ کولو سرہ دے لیکن قَطَّعْنَ پہ دیکښں یئ دے او دلیل پہ ھغے باندے لفظ دَجزءًا دے۔ نو پہ دے قول کښں انکار دَ معجزاتو نیشتہ۔ لیکن دا موھم (شکی) دے دَ مخکښں قول دَ پارہ او دَ دے وجے نہ چہ دَ انکار حدیث والا پہ وراندے دا معنیٰ اوکړیشی نو ھغوی خوشحالہ شی۔ وائی چہ دا زمونږ دَ تفسیر تائید دے۔ او پہ دے باندے ځما تجربہ شوے دہ چہ ھغوی دا سے معنے کوؤنکو تہ شاباسے ورکوی۔ او حال دا چہ دَ موھما تو نہ منع کرے شوے دہ لکہ چہ تفسیر دَ راعنا کښں تیر شوے دی۔ بل دا چہ پہ دے سرہ حذف دَ فعل (قطعھن) بے ضرورتہ واقع کیږی۔ بل دا چہ دا دَ مشھور تفسیر نہ خلاف دے لکہ چہ روستو ذکر کیږی۔

دریم قول:۔ دَ اکثر اھلسنت دے چہ صرھن پہ معنیٰ دَ ټکړے کولو سرہ دے او دا راجح تفسیر دے۔ ترجیح ئے پہ لاندے وجوھو سرہ ذکر کیږی

اولہ وجہ:۔ قول دَ صاحب اللباب (متوفی ۸۸۰ھ) دے چہ وَاَجْمَعَ الْمُفَسِّرُوْنَ عَلٰی اَنَّ الْمُرَادَ مِنَ الْاٰیَۃِ الْکَرِیْمَۃِ قَطِّعْهُنَّ جلد څلورم صفحہ ۳۷۳۔ او قول دَ نیشاپوری (متوفی ۷۲۸ھ) وَزُیِّفَ قَوْلُ اَبِیْ مُسْلِمٍ بِاَنَّہٗ خِلَافُ اِجْمَاعِ الْمُفَسِّرِیْنَ۔ جلد دویم صفحہ ۳۰۔ او قول دَ ابوحیان (متوفی ۷۵۴ھ) وَاحْتَجَّ لِلْقَوْلِ الْاَوَّلِ (مراد ترینہ قطعھن دے) بِاِجْمَاعِ الْمُفَسِّرِیْنَ الَّذِیْنَ کَانُوْا قَبْلُ (ابی مسلم) (جلد دویم صفحہ ۶۴۹) او قول دَ امام رازی دے چہ اَجْمَعَ اَھْلُ التَّفْسِیْرِ عَلٰی اَنَّ الْمُرَادَ بِالْاٰیَۃِ قَطِّعْهُنَّ غَیْرَ ابی مسلم (جلد اووم صفحہ ۴۱) او قول دَ آلوسی حنفی دے (متوفی ۱۲۷۰ھ) (دَ ابومسلم دَ قول پہ بارہ کښں) چہ وَلَا یَخْفٰی اَنَّ ھٰذَا اخِلَافُ اِجْمَاعِ الْمُسْلِمِیْنَ وَضَرْبٌ مِّنَ الْھَذَیَانِ لَا یَرْکَنُ اِلَیْہِ اَرْبَابُ الدِّیْنِ آہ (جلد دریم صفحہ ۳۰) ترجمہ دَ اول قول (مفسرینو

اجماع کړیده چه مراد دَ دے آیت نه قطعهن دے) دَ دویم قول ترجمه رضعیف کړے شویدے قول دَ ابومسلم په دے وجے چه دا خلاف دے دَ مفسرینو دَ اجماع نه) دریم قول ترجمه ردلیل نیولے شویدے دَ اول قول دَپاره په اجماع دَ مفسرینو چه مخکښ دَ ابومسلم نه وو) څلورم قول ترجمه: راجماع کړیده مفسرینو چه مراد په دے قول سره قطعهن دے سیوا دَ ابومسلم نه) پنځم قول ترجمه (پته دِ نه وی چه دا قول (دَ ابومسلم) دَ اجماع دَ مسلمانانو نه خلاف دے او یو قسم بکواس (بیهوده) دے - او دیندار خلق دیته هیڅ میلان او توجه نه کوی -

سوال :- په دیکښ صرف (دَ ابومسلم) دَ قول رد دے دَ دویم قول تردید پکښ نیشته ؟

جواب اول :- مخکښ اول قول او څلورم قول کښ تصریح ده چه قطعهن معنیٰ په اجماع سره ثابت ده نو دویم قول دَ صرف په تفسیر کښ دَ اجماع نه خلاف دے -

جواب دوم :- مخکښ اووئیلے شو چه په دویم قول دَ مفسرینو کښ ایهام دے او تشبیه ده دَ اول قول سره (یعنی قول دَ ابومسلم او منکرین حدیث سره) نو دَ دے وجے نه هغه هم ردکیدے شی -

دویمه وجه دَ ترجیح دا ده چه ابن کثیر په تفسیر کښ قَطِّعْهُنَّ او اَوْ ثِقْهُنَّ دوه معنے لیکلے دی - دَ اَمِلْهُنَّ معنے ته ئے هیڅ تعریض نه دے کړے - او حال دا چه ابن کثیر تفسیر په متداول تفاسیرو کښ اصح او ارجح دے -

دریمه وجه :- قرطبی اَمِلْهُنَّ په صیغه دَ قیل سره ذکر کړیدے او نسبت ئے هیڅ قائل ته نه دے کړے - او دَ قول دَ قطعهن سره ئے نسبت دَ بعضے صحابه کرامو او تابعینو ذکر کړیدے -

څلورمه وجه :- تفصیل دَ ابن جریر دے (متوفی ٣١٠ ه) حاصل ئے

دا دے چه یوے ډلے دَ نحویانو دَ کوفے وئیلی دی چه صرهن په معنیٰ دَ قطعهن سره دَ عربو په کلام کښ معروف نه دے مګر په هغه وخت چه په کسره (زیر) دَ صاد سره شی - او دَ بصرے نحویانو وئیلی دی چه زیر او پیش دَ صاد دواړه په معنیٰ دَ تقطیع سره دی - بیا ابن جریر وئیلی دی چه دَ بصریانو دا قول ډیر نیز دے حق ته په نسبت دَ قول دَ کوفیانو سره - ځکه چه اجماع دَ مفسرینو ده چه صرهن دَ دے دوه معنو نه بهرنه دے یو معنیٰ قطعهن او بله معنیٰ اُضْمُمْهُنَّ نو په دے اجماع کښ اوضح دلیل دے په صحت دَ قول دَ بصریانو او په خطایئ دَ قول دَ کوفیانو - بیا ابن جریر په شپارس سندونو سره نقل کړیده معنیٰ په قطعهن، شَقِّقْهُنَّ او فَرِّقْهُنَّ سره او دَ دے مرادف نور ے - نو په آخر کښ ئے فیصله کړیده چه په دیکښ ښکاره دلیل دے چه هغه معنیٰ چه مونږ وئیلے ده (قطعهن) صحیح ده او دَ دینه مخالف قول فاسد دے - او بیا ئے صرق دریے سندونه ذکر کړیدی دَ معنے دَ اَوْثِقْهُنَّ ، اُضْمُمْهُنَّ او اَجْمَعْهُنَّ دَ پاره - او دَ اَمِلْهُنَّ (اموخته کړه) دَ پاره ئے هیڅ قول مسند او غیر مسند نه دے ذکر کړے - (تفسیر ابن جریر صفحه ۳۲ نه ۳۵ پورے) په سندونو کښ کلام شته لیکن په کثرت دَ سندونو سره خیر درجے دَ حسن ته رسیږی (دا اصول دَ حدیثو دی) دارنګ امام بخاری دَ صرهن معنیٰ په قطعهن سره ذکر کړیده - عینی وئیلی دی چه دا نقل دے دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه او عکرمه، سعید بن جبیر، ابومالک، حسن بصری او سدی (عمدة القاری) نه - او اَمِلْهُنَّ معنیٰ ئے په قیل (ضعیف) سره ذکر کړیده - او علامه سیوطی په (درمنثور جلد دویم صفحه ۳۵) کښ دَ سعید بن منصور، عبد بن حمید، ابن جریر، ابن المنذر، ابن ابی حاتم او دَ بیهقی (شعب الایمان) په سندونو سره دَ ابن عباس رضی الله عنهما، دا رنګ په سند دَ سعید بن جبیر دَ ابن عباس رضی الله عنهما

دارتګ دَ عکرمه نه او دَ عبد بن حمید او قتاده نه او دارتګ دَ طریقے دَ ابن جمرة عن ابن عباس رضی الله عنهما نه - په دے ټولو سندونو سره دَ قصرهن معنی قطعهن کړیده - او دَ اَمِلْهُنَّ ئے هیڅ ذکر نه دے کړے - په دے سندونو کښ اګرچه په بعضے کښ کذاب شته دے - لیکن ډیر سندونه دَ کذاب نه خالی دی - او داسے کثیر سندونه اګرچه ضعیف وی خو په حدیث کښ حُسن پیدا کوی - دَ ضعف دَ هر واحد په بهانه دَ دے تفسیر انکار کول یا مرجوح ګرځول جهل دے او انکار معجزات طرف ته میلان دے -

فائده ۵: - په دے باره کښ دا تفصیل ما دَ دے وجے نه اوکړو چه اول خو دَ منکرین حدیث دَ دے زمانے تحریفِ قرآن معلوم شی - دویم دا چه دَ دے زمانے یو مئلے شوے معاند او حاسد ځما دَ مخکنی مختصر تفسیر په باره کښ دَ خپل ارزان شهرت حاصلولو او ځما دَ تفسیر مقبولیت کمولو دَ پاره ځه بے بنیاده اعتراضونه کړیدی - دَ هغے څو تفصیلی جواب مولوی محمد اسحاق ګیرالی حفظه الله تعالی (دَ سوات) خپل کتاب کښ کړیدو - اوس علماؤ او طلباؤ ته عرض دے چه دَ هغه معاند دَ اعتراضونو او نازیبا طرزِ کلام او ځما او دَ مولوی اسحاق صاحب تفصیلی کلام کښ موازنه اوکړی - انشاء الله تعالی ضرور به او ئیلے شی چه عَامَلَهُ اللّٰه تعالٰی بِمَا یَلِیْقُ بِالْمُعَانِدِیْنَ وَالْحَاسِدِیْنَ اِنْ لَّمْ یَتُبْ -

فائده ۶: - آلوسی او نیشاپوری دَ دے آیت په تفسیر کښ وئیلی دی چه اجزاء دَ مړو مارغانو را ټولول او هغوی له آواز ورکول او ژوندی کول دلیل دے په دے خبره چه دَ انسان دَ برزخی حیات دَ پاره بُنیه (روح او سالم بدن) شرط نه دے یعنی الله تعالٰی قادر دے چه ټکړو دَ بدن له چه هر ځائے کښ وی نعمتونه یا عذابونه دَ قبر ورکړی لیکن په دیکښ دَ روح واپس کیدل شرط نه دی - او په

مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ

مثال دَ هغه کسانو چه خرج کوی مالونه خپل

فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ

په لارے دَ الله تعالیٰ کښ پشان دَ حال دَ یو دانے دے

أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ

چه زرغون کړی اووه وږی په هر وږی کښ

سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ ۗ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ

سل دانے وی او الله تعالیٰ زیاتوی

لِمَنْ يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿۲۶۱﴾

دَچا دَ پاره چه او غواړی او الله تعالیٰ فراخ فضل والا عالم دے په هر څه پاندے۔

حیات اخرویه کښ یه الله تعالیٰ ټول اجزاء دَ مړ د راجمع کوی او روغ بدن به ورله دوباره جوړ کړی او روح به ورته واپس کړی او حیات حقیقیه اُخرویه به ورکوی۔ اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْئَلُكَ الْهُدٰى وَالتُّقٰى وَالْعَفَافَ وَالْغِنٰى۔

۲۶۱: دا دویم باب دے دَ دے حصے چه هغه تر ایت ۲۷۴ پورے دے په یکښ څلور مثالونه ذکر کوی چه هغه متعلق دی دَ انفاق سره۔ اول او دریم مثال دَ شرعی انفاق دَ پاره دے۔ بیا اول دَ هغه چا دَ پاره دے چه انفاق فی سبیل الله کوی یعنی جهاد او دعوت۔ او دریم دَ هغه چا دَ پاره دے چه انفاق کوی په اخلاص سره او دَ مضبوطوالی دَ زړه دَ پاره په صحیح مصرف کښ بغیر دَ جهاد او دعوت نه۔ او دویم او څلورم دَ هغه چا دَ پاره دے چه انفاق کوی بغیر دَ شرعی طریقے نه۔ نو دویم مثال دَ هغه چا دے چه مصارفو شرعیو کښ انفاق کوی لیکن په ریا، زیادلو او اذی (تکلیف ورکولو) سره۔ او څلورم مثال دَ هغه چا دے چه انفاق کوی بغیر دَ

مصارف شرعیه نه سرهٔ دَ ظلم او فسق وفجور او پیں ځاتونه روستو دَ انفاق نه په شرعی طریقے سره - او کَ دے مثالونه روستو دَ انفاق فی سبیل الله پنځه شرطونه دی دوه سلبی دی چه مَنّ او اذی به نه کوی او درے ثبوتی دی، ابتغاء مرضات الله، تثبیت دَ زړه او انفاق دَ طیب څیز - بیا شپږ امور متعلق دی په انفاق پورے - اول دفع کول دَ وسوسے دَ شیطان نه په ۲۶۸ کښ - دویم انواع دَ انفاق په ۲۷۰ کښ - دریم طریقه دَ اداء دَ هغے په ۲۷۱ کښ - څلورم دفع دَ وهم او فائده دَ انفاق په اخلاص سره ۲۷۲ کښ - پنځم مصرف دَ انفاق فی سبیل الله په ۲۷۳ کښ - شپږم تعمیم دَ اوقاتو او احوالو دَ پاره دَ انفاق په ۲۷۴ کښ -

ربط له :- هرکله چه مخکښ واقعاتو کښ بعث بعد الموت ثابت شو نو اوس ذکر کوی توشه دَ قیامت دَ پاره چه هغه انفاق فی سبیل الله دے - ۲ له هرکله چه دَ قدرت علی البعث بعد الموت دَ پاره ئے امور خارقه للعادت ذکر کړل نو اوس دَ هغے دَ اثبات دَ پاره مثال ذکر کوی په بوتو را ویستلو سره دَ زمکے نه - ۳ له هرکله چه په آیت ۲۵۴ کښ امر دَ انفاق ئے ذکر کړو او په مینځ کښ په طور دَ جملے معترضے سره عقیده دَ توحید او دَ معاد ذکر کړه نو اوس تفصیل دَ انفاق ذکر کوی -

مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، سوال :- دَ انفاق کوونکو انسانانو مثال خو دَ دانے سره واضح نه دے ؟

جواب :- عبارت کښ تقدیر دے یعنی مَثَلُ صَدَقَاتِ الَّذِينَ یا كَمَثَلِ ذِرِ حَبَّةٍ (پیشان دَ کرونکی دَ کوونکی دَ دانے) دَ لفظ مثل او دَ انفاق تفسیر دَ سورت په اول کښ تیر شوے دے - فی سبیل الله نه مراد قتال او جهاد دے په لار دَ الله تعالیٰ کښ - او دعوت إلى الله او دَ قرآن وسنت دَ درس وتدریس مرکزونه ایا دول هم په سبیل الله کښ داخل دی - په دے ټولو سره اعلاء دَ کلمة الله حاصلیږی - دا رنګ دا انفاق عام دے که په ځان باندے وی او که په بل چا باندے وی

دے دپاره چه دجهاد او دعوت کولو دپاره ئې ان کښې تقویت راشی۔ كَمَثَلِ حَبَّةٍ اَنۢبَتَتۡ، حبه هغه دانے دی چه په هغې کښې قوت د روزئ د انسانانو او دحیواناتو وی لکه غنم، وربشے، جوار او روږے (شولے) وغیره ټول پکښې داخل دی۔ انبتت کښې نسبت د انبات دانے ته اسناد مجازی معروف دے او حقیقت کښې فاعل د انبات الله تعالی دے۔ او دا صفت د حبه مستلزم دے د انبات لوازمولره چه زمکه صالحه (ښه برابر) وی د کرونے دپاره او وخت په وخت اوبه کیږی او مناسب سره ورته هم اچولے کیږی او حفاظت ئې هم کیږی نو هله ئې په انبات کښې ترقی دی۔ سَبۡعَ سَنَابِلَ، مراد دا دے چه د هغې بوټے زرغون شی په هغې کښې اووه ښانګے جوړے شی یا بغیر د ښانګو نه وی او اووه وږی په کښې پیدا شی۔ مفسرینو لیکلی دی چه داسے بوټی جاروس، دخن او جوار دی۔ او په بعض ملکونو کښې د غنم بوټے هم داسے وی۔ او که داسے بوټی موجود نه وی لیکن د مثال دپاره تصور ذهنی هم کافی دے۔ لفظ د سنابل جمع کثرت ئې په ځائے د قلت بانرے ذکر کړیں ے ځکه چه مقصد د سبع نه صرف اووه نه دی بلکه ډیر والے مراد دے۔ ابوحیان وئیلی دی چه سبع په عشرات کښې اکثر عدد دے او سبعون (اویا) په مائاتو (سلګونو) کښې اکثر دے او سبع مائة (اووه سوه) په الف (۱۰۰۰) کښې (زرو کښې) اکثر عدد دے۔ او د عربو په محاوره کښې داسے استعمالیږی۔ په قرآن کریم کښې سبع سنبلات، سبع بقرات، سبع سماوات، سبع سنین، سبعین مره او سبعون ذراعا او په حدیث کښې سبع مائة ضعف او سبع مائة آلاف ذکر دی۔ او ابوحیان ثابت کړیدی چه سبع په اصل کښې جمع متناهی ده نو په ډیر والی بانرے دلالت کوی۔ فِيۡ كُلِّ سُنۡۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ، دا جمله صفت دے د سنابل یا د سبع دپاره۔ ابن عطیه وئیلی دی چه په وګو د غنمو کښې ډیر داسے وی چه سل دانے وی پکښې

او دَ دے نه علاوه دَ جوارو وغيره په وګوکښ دَ سلو نه هم زياتے دانے وي - او دلته هم مقصد تحديد نه دے بلکه تکثير دے - وَاللّٰهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ، دا جمله دليل دے چه ما قبل کښ مراد تکثير دے - او دَ دے زياتوالي (تضعف) نه مراد زياتوالے دے تر اووسوو پورے لکه چه مخکښ ذکر شو يا اووسوو نه زيات مراد دے - او دا جمله متعلق ده دَ مثال سره يعني دَ بعضو دانو نه دَ اوو سوو نه زياتے پيدا کړي. يا دَ ممثل سره متعلق ده يعني بعضو انفاق کوونکو لره دَ اووسوو چنده نه زيات بے اندازے ثوابونه ورکوي چه دَ هغے تحديد په اوو زرو يا په نهه څلويښت لاکهه (۴۹۰۰۰۰) کښ يا په بل څه مخصوص عدد کښ متحصر او مناسب نه دے - وَاللّٰهُ وَاسِعٌ، دا هم دليل دے دَ کثرت بغير دَ تحديد نه - دَ دے تفسير مخکښ تير شوے دے - دلته مراد واسع قدرت والا دے په واسعه (فراخه) جزاء ورکولو باندے. عَلِيْمٌ پوهه دے په نيتونو دَ انفاق کوونکي او په تفاوت دَ درجاتو دَ هغوي باندے -

فائده ۱ :- قرطبي وشبلي دي چه دا آيت دلالت کوي چه کسب دَ زراعت ډير ښائسته کسب دے ځکه چه دَ دے خير او فائدے متعدي او غير منقطع دي او دَ دينه انسانانو، ځارووو او مارغانو ټولو ته فائدے رسيږي (خو شرط دا دے چه دَ زميندارئ په کار کښ دَ مشغولتيا په وجه به دَ دين کار يعني موسيحُ، جهاد او نور وعبادتو ته نه پريږدي) -

فائده ۲ :- تفصيل دَ مثال دا دے لکه چه يوه دانه په صحيح زمکه کښ کرلے شوے ده او بشۀ تربيت ئے کيدے شي نو دَ هغے نه اول دَ اوو وګو په شکل سره اووه سوه دانے پيدا شوے - دَ دغه وګو تعلق دَ يو بوټي سره دے او دَ اوه سوو دانو تعلق دَ وګو سره دے بيا چه دا اووه سوه دانے هم په صالحه او برابره زمکه کښ او کرلے شي او او به خور

او صحیح پالنه او ساتنه یې اوشي او وه سوه ضرب کړه په او وه سوه کښې نو څلور لاکهه او نوی زره (۴۹۰۰۰) دانې ترې جوړې شوې۔ بیا دا ټولې دانې چه په لوئې فراخه او صالحه پټې کښې اوکرلې شي سره دَ پالنې او ساتنې نه نو دَ دیته په کروړونو دانې پیدا کیږي چه بوریٔ اوکنډوان تړینه ډکیږي او چه دَ کروندې دا سلسله جاري وي نو بې شماره حد ته رسیږي۔ انسانان او حیوانات به تړینه دَ خوراک فائده اخلي، پټي او زمکې به شنې وي او خلق به په روزیٔ ماړه وي۔ او دې مثال ته قریب مثال دَ سورة فتح ۲۹ هم دې (کَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْاَهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰی عَلٰی سُوْقِهٖ یُعْجِبُ الزُّرَّاعَ) نو تطبیق دَ مثال دا دې چه دَ لږ مال په خرچ کولو سره دَ یو داعي یا مجاهد دَ روزیٔ انتظام اوکړیشي او دَ هغه عقیده وي، عملي او اخلاقي تربیت اوکړیشي او دَ قرآن وحدیث په تعلیم سره دَ هغه دَ ذهن او به خور اوکړیشي بیا هغه داعي یا مجاهد پخپل کوشش سره دَ نورو او وکسانو تربیت اوکړي بیا هر یو دَ دغه او وکسانو نه کوشش دَ دعوت او دَ جهاد اوکړي تر دې پورې چه دَ یو عقیدې او مسلك په زرګونو داعیان او مجاهدین خائسته عقیدې او عملونو سره ګل ګلزار شي او بې شمار مرکزونه به دَ قرآن وحدیث دَ درسونو او دَ دعوت وجهاد پیدا شي لیکن اول شخص چه کوم مال خرچ کړې وو او دا ټوله سلسله دَ خیر دَ هغې نه جوړه شوه نو به تقاضا دَ حدیث چه مَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهٗ اَجْرُهَا وَاَجْرُمَنْ عَمِلَ بِهَا آه به دَ دغه اول شخص دَ ثوابونو انتها نه وي۔

ترجمه: (چاچه یو خائسته طریقه کیخودله نو دغه شخص لره دَ هغې ثواب دې او ثواب دَ هغه چا (دَ عمل هم دَ دهٔ کې) چه په دې باندې عمل کوي او حال دا چه دَ هغه دَ برخې نه به څه ثواب نه کمیږي)۔ نو دیته اجر غیر ممنون و ئیلې شي او دا مقصد دې دَ وَاللّٰهُ یُضٰعِفُ لِمَنْ یَّشَآءُ، او دې

مضمون ته اشاره ده په هغه حدیث کښ چه چا صدقه اوکړه په مقدار دَ کهجورے سره دَ حلال کسب نه تو الله تعالیٰ هغه قبلوی په ښی لاس سره بیا ئے زیاتوی دَپاره دَ هغه صاحب لکه چه پالنه کوی بوتن ستاسو دَ خپل بیا تړکی ترد ے چه په شان دَ یو غر اوګرځی (بخاری کتاب التوحید) او ابن کثیر وئیلی دی چه په دے مثال کښ اشاره ده چه نیک اعمال الله تعالیٰ زیاتی کوی کوونکو دَ هغې لره لکه چه زیاتوی فصل هغه چا لره چه په صالحه زمکه کښ اوکری۔

٢٦٢ په دے آیت کښ ذکر دَ دوه شرطونو دَ قبولیت او دَ هغه زیاتوالی دَ اجر دے چه په مخکښ آیت کښ ذکر شو۔ او دا شرطونه سلبیه دی چه مَن او اذی به نه وی۔

ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَا أَنفَقُوا مَنًّا وَلَا أَذًى، زمخشری وئیلی دی چه ثُمَّ دلته دَ تراخی دَ زمان دَپاره نه دے بلکه دَ تفاوت دَ انفاق او دَ اِتباع دَ مَن (زیاتنه) او اذی دَپاره دے۔ یعنی دا دواړه کاروته یو ځائے کول دَ عقل نه لرے خبرے دی او قاسمی وئیلی دی چه

دا ئُمَّ دلالت کوي په دوام او همیشوالي د روستو فعل په مخکښ فعل پسې یعنې زیاد ته پرېښودل او اذی نه کول به همیشه وي د یو وخت د پاره به نه وي او لفظ د اتباع هم د دے تقاضا کوي۔ دارنګ لفظ د اتباع دلالت کوي چه انفاق په لار د الله تعالیٰ کښ روان وي لیکن من او اذی ورله لار ېښ نه کړي۔ مَن زیاد ته کولو ته وئیلے شي یعنې چه چا ته څۀ څیز نفقه کښ ورکړي او بیا روستو ورته وائي چه ما تا سره فلانے احسان کړیں ے۔ یا بل چا ته او وائي چه ما فلانی سره احسان کړیں ے او هغه دۀ ته را اُورسیږي قرطبي وئیلي دي چه زیاد ته ګناهِ کبیره دے۔ او اذی دا ده چه چا باندې ئې احسان کړے وي بیا هغه ته بد رد وائي او خپل منت ته تریته احلی یا ئې بل دا سے تن ته لن کره کوي چه دے شخص باندے د هغه خبرېدل بد لګیږي۔ تو دا عمل هم غیر مناسب دے۔
لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ، دا جزاء مشروط ده په عدم د کفر او شرک سره په دلیل د نورو نصوصو سره۔
سوال:۔ دلته ئې فا نه ده ذکر کړے اګرچه موصول مبتداء متضمن وي معنیٰ د شرط لره پشان د آیت ۲۷۴؟
جواب:۔ کوم ځائے کښ چه مقصد بیان وي د مستحق د جزاء په حصر سره نو هلته فا نه راوړي یعنې څوک چه انفاق د مال کوي په شرط د عدم مَن او اذی سره نو صرف هغه مستحق د اجر دے نه هغه څوک چه من او اذی کوي۔ او روستو آیت کښ عموم د احوالو او د اوقاتو مقصود دے حصر مقصد نه دے نو هلته ئې فا راوړې ده چه صرف په سببیت باندے دلالت کوي۔
وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ، د دے یو معنیٰ دا ده چه په دوي باندے به یره نه وي د ردکېدلو د انفاق روستو د وجود د هغے نه او نه به غمژن کیږي په عدم وجود د هغے باندے۔ دویم دا چه په دوي باندے یره د عذاب نه وي په راتلونکي وخت کښ او نه به خفګان وي په تیر شوي وخت پسے۔

قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ وَّمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ
| ويناً نيکه او بخنه غوره ده |

مِّنْ صَدَقَةٍ يَّتْبَعُهَآ اَذًى ۭ وَاللّٰهُ
| دَ داسې صدقې نه چه وروسته اوشي تکليف ورکول او الله تعالیٰ |

غَنِيٌّ حَلِيْمٌ ﴿۲۶۳﴾
| بې حاجته صبر ناک دے۔ |

۲۶۳:۔ په دے آيت کښې دَ صدقے نه روستو دَ آذی ورکولو دَ قباحت بله طريقه ذکر کوی۔ او ادب ذکر کوی دَ پاره دَ واپس کولو دَ سائل۔ قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ، داسے قول چه زړونه ئے قبلوی۔ توهغه واپس کول دی دَ سائل په خائسته طريقے سره۔ او عطاء وائی چه خائسته وعده ورسره اوکړی۔ او سمعانی نقل کړيدی چه لږ څيز ورکوی او دُعا دَ برکت ورته اوکړی يا نه ورکوی تو دُعا دَ خير ورته اوکړی۔ دَ مَغْفِرَةٌ، مراد دا چه دَ هغه په حاجت باندے پرده واچوی۔ دارنګ که چرے سائل په سوال کولو کښې سختی اوکړی نو دے ورته معافی اوکړی۔ يا په سبب دَ قول معروف سره چه مغفرت دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه حاصليږی بيا په قول معروف کښې نفع ده بغير دَ ضرر نه نو هغه غوره دے دَ مغفرت نه ځکه ئے مخکښې راوړے دے۔ او قول معروف دلالت کوی په لږ والی۔ او تنوين دَ صدقةٍ دَ ډير والی دَ پاره دے يعنی لږ معروف قول (خائسته جواب) دَ هغه ډيرے صدقے نه غوره دے چه وروسته اذی ورکوی۔

سوال:۔ دلته ئے صرف اَذًى ذکر کړه او مَنّ ئے ذکر نه کړو؟

جواب:۔ ديته اکتفا وئيلے شی چه يو څيز ذکر کړی او بل حذف کړی ليکن هغه مذکور دلالت کوی په هغه پټ باندے۔ دلته هم اَذًى عام ده او مَنّ لره مستلزم ده ځکه چه مَنّ دَ دے وجے نه قبيح دے چه اَذًى پيدا کوی۔ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَلِيْمٌ، غنی

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا

اے ایمان والا مه برباد وئ

صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى كَالَّذِىْ

(ثواب) دَخپلو صدقو په زیاته کولو او تکلیف ورکولو سره پشان دَ هغه چا

يُنْفِقُ مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا

چه خرچ کوی مال خپل دَ پاره دَ ریاء دَ خلقو او نه لری

يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ فَمَثَلُهٗ

ایمان په الله تعالیٰ او په ورځ روستنۍ نو مثال دَ هغه

كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ

پشان دَ هموارے کټے دے چه په هغے باندے خاورے وی نو اورسیږی هغے ته.

وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ صَلْدًا ؕ لَا يَقْدِرُوْنَ

شَبے دَ باران نو پریږدی هغے لره خویه قدرت نه مومی

عَلٰى شَىْءٍ مِّمَّا كَسَبُوْا ؕ وَاللّٰهُ لَا

په څیز باندے دَ هغه عمل نه چه دوی کړے وی او الله تعالیٰ نه

يَهْدِى الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۶۴﴾

ورکوی هدایت (توفیق) قوم کافرانو ته۔

کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ دَ بندګانو دَ صدقاتو نه مستغنی دے۔ بندګانو ته دَ هغے حکم دَ دے وجے نه ورکوی چه هغوی ثواب حاصل کړی۔ نو اشاره ده چه مَن او اذی په اصل کښ یو قسم شرک لره مستلزم دی او الله تعالیٰ دَ هغه عمل نه غنی دے چه په هغے کښ بوئی دَ شرک وی۔ حَلِيْمٌ یعنی څوک چه مَن او اذی کوی نو هغه له زر عذاب نه ورکوی بلکه مهلت ورکوی دے دَ پاره چه توبه اوباسی۔

سلا پہ دے آیت کښې د مخکښې خَیۡرٌ مِّنۡ صَدَقَةٍ آه د پاره علت ذکر کوي او دا رنګ په منع د مَنّ او اذی کښې ډیر تاکیدات ذکر کوی - اول خطاب په لفظ د آمنوا سره دے چه دغه صفت د ایمان کامل سره منافی دے - دویم تصریح کول په ابطال د صدقاتو په مَنّ او اذی سره - دریم تمثیل د ریاکارئ سره - څلورم تمثیل د صفوان آه سره -
لَا تُبۡطِلُوۡا صَدَقٰتِكُمۡ بِالۡمَنِّ وَالۡاَذٰی، بطلان د عمل دا دے چه د هغې په کولو باندے شرعی اثر مرتب نشی نو که عمل واجب وی نو بطلان بۓ دا دے چه ذمه د مکلف په هغې سره فارغه نشی ځکه چه یو رکن یا شرط د یو عمل نقصانی شی نو ټول عمل نقصانی کیږی - او که عمل د نفل وی نو د بطلان نه مراد عدم ثواب د هغې دے - د وجے د مانع شرعی نه دلته لفظ صدقات عام دے واجب او نفل دوا ړو ته نو معنی د بطلان هم عامه ده - سمعانی یو قول ذکر کړیدے چه مَنّ په صدقه کښې دا سے دے لکه یے اودسی په مونځ کښې - او قرطبی وئیلی دی چه د آیت مراد دا دے چه کومه صدقه کښې مَنّ او اذی اوشی نو هغه به باطله شی - نو رے صدقے یا نور اعمال په دے سره نه باطلیږی - او هرچه شرک او کفر دے نو په هغې سره هر عمل باطلیږی - او عرب پخپله محاوره کښې هغه صدقے ته چه ورپسے مَنّ او اذی اوشی نو رلاس وائی او هغه چه بغیر د سوال نه ورکړے شی هغې ته سپین لاس وائی او هغه چه په سوال کولو سره ورکړے شی هغې ته شین لاس وائی : او لَا تُبۡطِلُوۡا عام دے دوه وجوهو ته اوله دا چه د صدقے سره مَنّ او اذی کوی - دویمه دا چه اول صدقه په اخلاص سره اوکړی لیکن روستو ورپسے مَنّ او اذی اوکړی -
كَالَّذِیۡ یُنۡفِقُ مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ، دلته مضاف پټ دے یعنی کَاِبۡطَالِ الَّذِیۡ آه - رِئَآء د رای نه اخستلے شویدے - مراد پکښې ځانښته عمل خلقوته ښکاره کول دی دے د پاره چه د دغ

تعریف اوکړی یعنی ریا کار دَ خلقو نه عوض (مدح کول) غواړی او وجه دَ تشبیه دا ده چه دَ ریا کار شخص دَ الله تعالیٰ مخ او رضا مقصد نه وی بلکه دَ خلقو نه مدح حاصلول ئې مقصد وی - دا رنګ چه په فقیر باندے مَنّ او اذیٰ کوی دَ صدقے دَ دیے نه نو دَ هغه مقصد هم رضا او مخ دَ الله تعالیٰ نه دے - او دا رنګ په دواړو طریقو کښې دا صدقه کؤونکے خلقو ته دا ښکاره کوی چه څه دَ دین کار کؤوم او الله تعالیٰ رضا کووم او پټ مقصد ئې بل دے نو دوی دواړه په ظاهر عمل او پټ مقصد کښې یو شان دی - او دَ ریا په قباحت کښې ډیر نصوص راغلی دی - اول دا چه دا عمل دَ منافقانو دے لکه چه په سورة نساء س۳۸، س۱۴۲ او سورة ماعون س۶ کښې دی - او حدیث صحیح کښې دیته شرک خفی او شرک اصغر وئیلے شوے دے -

وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ، په دیکښې دوه اقوال دی اول دا چه دلته مراد نفی دَ ایمان حقیقتًا نه ده بلکه هر کله چه دغه ریا کار دَ الله تعالیٰ دَ رضا او ثواب قصد نه کوی نو دا سے شوه چه یقین ئې نیشته په ثواب دَ الله تعالیٰ او په ورځ دَ قیامت باندے - دے قول ته ابن کثیر اشاره کړیده - دا رنګ مهائمی په تبصیر الرحمٰن کښې هم وئیلی دی - نو مراد دَ دینه ریا کار مسلمان دے - دویم قول دا دے چه مراد نفی دَ ایمان حقیقی شرعی ده یعنی کافر دے لیکن په منافقت سره ځکه چه صریحی کفر سره خو هسے هم عمل برباد وی لیکن دَ دهٔ کفر پټ دے او ریا کاری ئې معلومه ده نو هغه سبب ظاهری دے دَ پاره دَ بربادئ دَ عمل دَ دهٔ - نو مراد دَ دینه منافق ریا کار دے -

فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ ، په ضمیر دَ مَثَلُهٗ کښې دوه احتمالات دی - اول دا راجع دے اَلَّذِیْ یُنْفِقُ ته نو دا مثال دَ مثال دے یعنی تمثیل دَ ریا کار دے دَ

کرونے کوونکی سره په یو کتہ (تیګه) باندے۔ دویم دا راجع دے مَانْ او مُوْذِیْ ته نو دا دویم مثال دے روستو دَ مثال اول ته۔ صفوان غټه کتہ چه هواره، خویه او مئینه وی۔ او په دیکښ دَ اهل لغت درے اقوال دی دا مفرد دے دا جمع ده دا مفرد او جمع دواړه ده۔
فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ، دا ة ضمیر صفوان ته راجع دے یا تراب ته۔ وابل ډیر او سخت او ګنړو څاڅکو دَ باران ته وئیلے شی (اَخْذًا وَّبِیْلًا هم دَ دینه اخستے شوید دے) او لفظ دَ اصاب هم په ډیروالی دلالت کوی۔
فَتَرَکَهٗ صَلْدًا، دا ضمیر خو صرف صفوان ته راجع دے۔ صَلْدًا، خویه کتہ او خالی دَ خاورو نه او وچه۔ تشبیه دَ مفرد دَ مفرد سره دا ده چه کافر پښتان دَ صفوان دے چه هیڅ عمل ئے قبول نه دے۔ تراب مثال دَ انفاق دے په دے سره دے خپل ځان پټوی لکه خاوره (دوړه) چه صفوان پټوی۔ او وابل کفر دَ دهٔ دے او ریاء، مَنّ او اذی دَ دهٔ دی چه په هغے سره ئے هغه انفاق او نور عملونه باطل شی۔ صَلْدًا یعنی دے بعضے مؤمنانو ته ښکاره شی چه خالص کافر دے او په دُنیا کښ پرے علامات دَ کفر اووینی۔ او په آخرت کښ به ټولو خلقو ته ښکاره شی کله چه جهنم ته روان کړیشی۔ حاصل دَ مثال دا دے لکه چه یوه صفا پاکه کتہ وی او دَ هغے دَ پاسه خاوره (دوړه) پرته وی نو څوک کم عقل ګمان اوکړی چه دا یو هواره زمکه ده نو تخم پکښ واچوی په دے اراده سره چه دا به زرغون شی او فائده به راکړی لیکن هر کله چه په هغے باندے تیز باران اوشی نو هغه خاوره، تخم وغیره هر څه او تختوی او کتہ خالی پاکه پاتے شی نو هغه کم عقل شخص حیران اوخفه شی چه ځما محنت هسے برباد شو او مال م هم تاوان شو خو بیا صرف افسوس

کوی او په لاس ئې څه نه راځي - نو دارنګ منافق ریا کار، مَنْ او اذی کوُونکے د یر صدقات، خیراتونه او نیک اعمال ئې کړي وي په مقصد دَ ریاء، مَنْ او اذی سره او دَ دهٔ خیال دا دے چه دا به ما ته فائده راکوی، لیکن هغه ته صرف فائده دَ مدحے دَ خلقو ملاؤ شي - تاخبره خلق دَ هغه تعریفونه او ستائینې کوی چه دا ډیر سخي او ښه سړے دے نو دا تعریفونه دَ خلقو په منزله دَ خاورے دی چه دَ دهٔ حال په هغې سره پټ دے۔

لطیفه: (دَ دے وجے نه په حدیث کښ راځي اذا رأیتم المداحین فاحثوا فی وجوههم التراب (مسلم، مشکوٰة) نو دَ دے په معنیٰ سره دا یو برابر بدلے ته اشاره ده چه دَ هغه په مخ خاورے واچوئ) لیکن هر کله چه بعضے مؤمنانو ته دَ دهٔ منافقت په علاماتو سره معلوم شو چه هغه ریا کاری، مَنْ او اذی ده نو دَ دهٔ دَ عزت پرده از شلیږی - او په آخرت کښ هم دَ منافقت دَ وجے نه دَ دهٔ ثوابونه برباد شی - نو خالي لاس به پاتے شي - حیران او پریشان به وی۔

لَا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُوْا، په دیکښ درے اقوال دی۔ اول دا چه دا ضمیر راجع دے مخاطبینو ته په دے قول کښ چه لا تبطلوا صدقاتکم - یعنی تاسو چه دا سے کار او کړئ نو دَ خپل عمل نه به په هیڅ خیز باندے نفع وانخلئ - دویم دا چه ضمیر راجع دے الذی ینفق ته ځکه چه الذی په معنیٰ کښ جمع دے یعنی دغه ریا کار، مَنْ او اذی کوُونکے په هیڅ ثواب باندے وس نه مومی ځکه چه هغه باطل شو - دریم دا چه ضمیر عام دے یعنی هغه کروندګر کوُونکے په صفوان باندے روستو دَ تیز باران نه په هیڅ فائده باندے وس نه مومی نو دوی مشابه شول دَ کافرانو سره۔

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ، دَ دینه مراد ایصال دے (رسول دی ثواب دَ آخرت ته) او په دیکښ یره ورکول دی مؤمنانو ته دَ مشابهت دَ کافرانو نه۔

وَمَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ

او مثال د هغه کسانو چه خرچ کوي مالونه خپل

ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِّنْ

د پاره د طلب کولو د رضا د الله تعالی او د دې کلک والي د

أَنفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ

نفسونو خپلو ته پشان د حال د یو باغ دے په خربه زمکه باندې

أَصَابَهَا وَابِلٌ فَآتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ

چه اورسيږي هغې ته کنړ باران نو ورکوي ميوې خپلې دوچند دوچند

فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ

نو که او نه رسيږي هغې ته کنړ باران نو لږ باران پوره دے،

وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (۲۶۵)

او الله تعالی ستاسو عملونو لره ليدونکې دے۔

۲۶۵ په دے آيت کښې دريم مثال دے د پاره د هغه چا چه د سبيل الله نه علاوه په نورو صحيح مصارفو کښې خرچ کوي په شرعي شرطونو او په صحيح مقصد سره۔ او د دے د مخکښې آيت سره تقابل او تضاد دے يعني داسې د هغه دے ځکه چه هلته رِئَاءَ النَّاسِ ذکر وو نو دلته د هغې مقابل اِبْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ ذکر دے۔ او هلته لَا يُؤْمِنُ آه ذکر وو نو دلته وَتَثْبِيتًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ ذکر دے۔

اِبْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ، دا مفعول لهٗ دے يا حال دے۔ ابتغاء په معنیٰ د طلب ده په پوره کولو د قصد سره۔ مرضات مصدر ميمي دے په معنیٰ د پوره رضا سره۔ وَتَثْبِيتًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ، په ديکښې هم دوه احتمالات دي چه دا مفعول له دے يا حال دے په نيز د ابن عطيه مفعول له کيدل يې صحيح نه دي ليکن

تفصیل دا دے که دَ تثبیتاً سره تفسیر اُوشی یعنی الثواب عَلٰی تِلْكَ النَّفَقَةِ، او دا په معنیٰ دَ تصدیق او یقین سره وی نو دا باعث کیږی شی دَ انفاق کولو دَ پاره یعنی دَ وجے دَ یقین دَ ثواب دَ صدقے نه خرچ کوی - او که تفسیر اُوشی یعنی اَعْمَالُهُمْ بِاِخْلَاصِ النِّيَّةِ، او مِنْ په معنیٰ دَ لام سره شی (لِاَنْفُسِهِمْ) او تثبیتاً په معنیٰ دَ احتساب (ثواب گنړلو) شی نو بیا باعث او مفعول له نه دے بلکه غایه ده یعنی په خرچ کښ مقصد دَ ځان دَ پاره ثواب حاصلول دی په خپلو عملونو سره په اخلاص دَ نیت سره.
او مفسرینو دَ تثبیتاً ډیرے معنے ذکر کړیدی - تصدیق، یقین، ثواب گنړل، تبیُّن (تحقیق کول دَ مصرف چه صحیح دے او که نه دَ) بصیرت او اخلاص - او دا ټولے معنے صحیح کیږی لیکن غوره دا ده چه دا دواړه په موضع دَ حال کښ دی او غایے دی دَ پاره دَ انفاق کولو لکه چه ابن عطیه او ابن عاشور دے له ترجیح ورکړیده یعنی انفاق دَ دے دَ پاره کوی چه الله تعالیٰ رضا شی او دَ دے دَ پاره چه نفس پوخ شی په انفاق کولو په صحیح مصرفونو او بخل نه کوی - او په غایاتو کښ هم معنیٰ دَ علتیت وی یعنی دا اسباب هم کیږے شی - او روستو تشبیه هم دَ دے تائید کوی - كَمَثَلِ جَنَّةٍۢ بِرَبْوَةٍ، جَنَّةٍ په اصل کښ بوټیل پټولو ته وئیلے شی او په عرف کښ هغه ټکړه ده دَ زمکے چه په هغے کښ خائسته اونے او بوټی وی او زمکه ئے پټه کړے وی - رَبْوَةٍ، هغه اُوچته زمکه چه خوړه وی او لږه اُوچته وی - او دَ داسے زمکے بوټی خائسته وی دیته څرپه زمکه وئیلے شی لیکن دَ اُوچتوالی دَ وجے ته هغے ته نهر ونه نهٔ ورخیژی دَ دے وجے نه ئے دَ هغے دَ پاره وَابِل او طَل ذکر کړیدے -
سوال:- خائسته بوټی او فصل خو دَ هموار ے زمکے وی نو دلته ئے ربوه ولے ذکر کړه؟ -
جواب له:- دا ئے دَ عربو دَ عرف مطابق وئیلی دی چه دَ هغوی په علاقه کښ داسے صفت والا زمکے ښه فصل کوی اگر چه

نهرونه ورته نه رسیږی۔
جواب ۲ : امام رازی وئیلی دی چه دَ دینه مراد اوچته زمکه نه ده بلکه په دلیل دَ سورة حج کښې هغه زمکه ده چه خړبه اوبوله وی نو هغې ته کے دلته ربوه وئیلے ده۔
اَصَابَهَا وَابِلٌ ، دا صفت دَ رَبْوَةٍ یا جَنَّةٍ دے۔ فَاٰتَتْ اُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ، اٰتت دوه مفعوله غواړی یو حذف دے یعنی اَهْلَهَا۔ او اکلها دویم مفعول دے او ضعفین حال دے۔ یا اٰتت په معنیٰ دَ اُخْرِجَتْ دے او اکلها ئے مفعول دے۔ او نسبت دَ اِیتا مجازی دے۔
اُكُلُ هغه څیز ته وئیلے شی چه خوړلے کیږی او اکثر دَ اوتو په میوؤ کښی استعمالیږی لکه دَ وَاَتَیْ اُكُلٍ خَمْطٍ (سورة سبا) تؤتی اکلها کل حین باذن ربها (کهف) ضعفین تثنیه دَ تکرار دَ پاره ده یعنی ډیرے میوے ورکوی۔ او عطاء وئیلی دی چه په کال کښی دو مره میوے ورکوی چه نور باغونه هغه په دوه کاله کښی ورکوی۔
فَاِنْ لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ، دَ دے خبر پټ دے یعنی يَكْفِيْهَا ، یا فعل پټ دے یعنی فَيُصِيْبُهَا طَلٌّ۔ طل نری نری څاڅکی دَ باران او بعضو وئیلی دی چه دا پرخه (شبنم) ده لیکن دا مجازی معنیٰ ده دلته مراد نه ده۔ دَ مثال تفصیل دا دے چه هغه باغ چه په یو خړبه زمکه باندے وی نو دَ لاندے نه ورته هر وخت نمی (لوند والے) ور رسیږی او تازه وی۔ او هر کله چه دَ بره طرف نه ور باندے غټ باران کیږی نو اونے یا بوټی ئے غټیږی او میوے پکښی ډیریږی۔ نو دَ دے باغ اوبه خور په دوه طریقو سره کیږی ځکه ئے میوے هم دوچند وی۔ او کله چه ورته دَ بره طرف نه غټ باران او نه رسیږی نو لږ باران سره هم میوے ورکوی لیکن دَ محکښ نه کمے وی ځکه اوبه کیدل صرف دَ لاندے نه دی او دَ بره طرف نه صرف دَ لاندے نمئ دَ حفاظت دَ پاره لږ باران کیږی (تطبیق لـه دَ مثال) یو مؤمن چه انفاق کوی

أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تَكُونَ لَهُ جَنَّةٌ

آیا خوخوی یو کس ستاسو چه دی دِ هغه لره باغ

مِّنْ نَّخِيلٍ وَّأَعْنَابٍ تَجْرِي

دَ کجورو او انګورو بهیږی

مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ لَهُ فِيهَا مِنْ

لاندے دَ هغے نه ویلے دهٔ دَپاره په هغے کښ دی دَ

كُلِّ الثَّمَرٰتِ وَأَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهُ

هر قسم میوۓ نه او رسیدلے وی دهٔ ته بوډاوالے او دَ ده دَپارهٔ

ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَاءُ فَأَصَابَهَا إِعْصَارٌ

بچی کمزورے وی نو اورسیږی هغے ته تیزه سیلۍ

دَخپل حلال مال نه اودَ هغه مقصد وته یا اسباب هم دوه وی یو دَ بره طرف سره تعلق لری یعنی ابتغاء مرضات الله او دویم دَ لاندے سره تعلق لری چه تثبیت دَ نفس دے نو دَ هغه دَ انفاق به ډیر زیات ثوابونه وی۔

او کله یٔے چه صرف تثبیت مقصد وی چه هغه اخلاص لره مستلزم دے او دَ ریاء، مَنْ او اذی نه پاک دے نو دا هم سبب دَ یو ثواب دے۔ یعنی سبب دَ ثواب یٔے شته او دَ حبط سبب یٔے نیشته (تطبیق ۲ه) لکه چه دغه باغ په هر حال کښ میوه ورکوی۔ برابر خبره ده که میوه یٔے لږه وی او که ډیره وی۔ دا رنګ صدقه دَ مؤمن چه دَ ریاء، مَنْ او اذی نه پاکه وی نو هغه قبوله ده په نیز دَ الله تعالیٰ که لږه وی او که ډیره وی۔

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ، خطاب عام دے انفاق کوونکو او نورو خلقو ته او بصیر کښ اشارهٔ ده چه دَ نفقاتو مقدار او کیفیات او دَ هغے اسباب دَ الله تعالیٰ نه پټ نه دی او اشارهٔ ده وعد او وعید دواړو ته

فِيْهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ۭ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ

چه په هغې کښې اور دی نو او سوزوی دغه باغ د غسې بیانوی

اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۶۶﴾

الله تعالیٰ تاسو ته آیاتونه (مثالونه) دَ دے دَپاره چه فکر اوکړئ تاسو۔

۲۶۶ په دے آیت کښې دَ مثال دَپاره اگرچه صریح لفظ نیشته لیکن عبارت دلالت کوی په مثال باندے ضرورتاً۔ او داخلوم مثال دے هغه څوک چه انفاق په باطلے طریقے سره کوی او نور هم داسے اعمال کوی چه مخکښې صحیح انفاق او صحیح اعمال ئے باطل شی او عمر او مال وغیره هرڅه ئے برباد شی په داسے وخت کښې چه بیا هیڅ کته نشی کولے۔

اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ، همزه دَ استفهام انکاری دَپاره دے۔ يَوَدُّ وُدّ دَ زړهٔ کامل محبت ته وئیلے شی چه په زړه ورسره تمنا هم ملګرے شی لفظ دَ یحب پا یریدے ئے نه دے وئیلے اشاره ده چه محبت دَ هر سړی دَ عدم دَ دے حالت سره کامل محبت دے نو دیته انکار تام وئیلے شی۔ اَنْ تَكُوْنَ لَهٗ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ، جنة اسم جنس دے او مراد ترینه هغه باغونه دی چه په هغې کښې دا دواړه قسمه اونے (کهجورے او انګور) ډیرے وی۔ نخیل اسم جمع ده۔ یا جمع ده دَ نخل چه اسم جنس دے بنا په اختلاف باندے۔ امام راغب وئیلی دی چه دیته نخیل ځکه وئیلے شی چه دا منخول (چاڼ کړے شوے) ده په اونوکښې ځکه چه دَ دے منافع ډیر دی او مشابهت ئے دے دَ بنی آدم سره۔ دلته ئے دَ دے دواړه اونو ذکر ځکه اوکړو چه دَ عربو په زمکه کښې دا ډیرے وے او دا رنګ دواړه په اونوکښې ډیرے اشرف دی او فائدے ئے دَ ټولو نه ډیرے دی اگرچه په باغ کښې دَ دیته علاوه نورے اونے او بوټی هم وی۔

سوال:۔ قرآن کریم کښې اکثر دَ نخیل ذکر کوی او دَ هغې دَ میوے ذکر ئے نه دے کړے او دَ کرم (دَ انګورو اونه) ئے میوه ذکر

کړے دہ چہ اعناب (انګور) دی؟
جواب:- پہ دے وجہ چہ دَ نخیل منافع دَ ھغے پہ میوہ، پاڼو، خانګو، پوستکی اوتنہ ټولوکښ دی او دَ انګورو منافع صرف پہ دانو (میوہ) کښ دی دَ ھغے اونہ یا پاڼړو وغیرہ کښ نور څہ خاص فائدہ نیشتہ۔
تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهَارُ، دا دَ جنۃ (باغ) صفت دے او پہ دیکښ اشارہ دہ چہ دغہ باغونہ باران تہ محتاج نہ دی بلکہ خپلے اوبہ ئے شتہ دے چہ نھرونہ دی نو دَ سوکړے دَ وجے دَ وچوالی خطرہ ئے نیشتہ۔
لَهٗ فِیۡهَا مِنۡ کُلِّ الثَّمَرٰتِ، یعنی سیوا دَ کهجورو او انګورو نہ نورے میوے او غلے پکښ هم وی۔ زمخشری وئیلی دی چہ دَ دینہ مراد هغہ مختلف منافع دی چہ دَ هغے نہ حاصلیږی۔ مِنۡ دَ اخفش پہ نیز زیاتی دے۔ او دَ کوفیانو پہ نیز زیاتوالی دَ پارہ روستو نکرہ ضروری دہ او دَ بصریانو پہ نیز نکرہ او مخکښ منفی کلام ضروری دے او دغہ شرطونہ نیشتہ نو دَ دوی پہ نیز مِنۡ زیاتی نہ دے بلکہ عبارت کښ تقدیر دے یعنی لَهٗ فِیۡهَا ثَمَرَاتٌ مِّنۡ کُلِّ الثَّمَرٰتِ۔
وَ اَصَابَهُ الۡکِبَرُ، دا جملہ حالیہ دہ یا عطف دَ ماضی دے پہ یَوَدُّ یا پہ تکون باندے پہ اعتبار دَ معنیٰ سرہ۔ غورہ پہ دیکښ عطف دے او انکار دے پہ دیکښ دَ جمع دَ روستو صفاتو دَ مخکښ صفت سرہ چہ کیدل دَ باغونو دی۔ یعنی دَ دواړو حالتونو جمع کیدل هیڅوک نہ غواړی۔ او پہ لفظ دَ اصاب کښ اشارہ دہ بوډا والی تہ۔
وَلَهٗ ذُرِّیَّةٌ ضُعَفَآءُ، دَ ضعفاء نہ مراد ډیر واړہ بچی دی چہ کار کسب نشی کولے یا تربیتہ مراد فقراء دی یعنی دغہ اولاد پہ نفقہ کښ پہ پلار باندے بوج وی دوی دَ هغہ سرہ هیڅ مدد نشی کولے۔
فَاَصَابَهَاۤ اِعۡصَارٌ فِیۡهِ نَارٌ فَاحۡتَرَقَتۡ، اعصار پہ اصل کښ نچوړولو

ته وئیلے شی او په عرق کښ دا دَ یو قسم سیلئ نوم دے.
دَ اکثرو په نیز هغه تیزه سیلئ ده چه دَ زمکے نه دَ
آسمان طرف ته الوزی پشان دَ تیغے ستنے او تاویږی نو دا
دَ ځان سره اونے او بوټی نچوړوی - او بعضو ئیلی دی
چه دا دریځ نچوړوی - او دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت
دے چه دا هغه سیلئ ده چه په هغے کښ گرم سوزوونکے باد وی.
ابن عطیه وئیلی دی چه دا په سخته گرمئ او سخته یخنئ
کښ پیدا کیږی - تاؤ نه مراد سخته گرمه هوا ده یعنی
سموم او دیته تشبیه بلیغ وئیلے شی ، فَاحۡتَرَقَتۡ یعنی سوزیږی
داسے دی چه په دے سره میوے او پاترے ټولے مړاوے
او اوچے شی او خکته راپریوځی - نو دا دَ یو سخت حاجت په
وخت کښ ناساپه محرومتیا او نا امیدی ده - دَ مثال تفصیل
دا دے لکه یو شخص دے او یو باغ ئے لګولے (زنال کړے)
وی او په هغے کښ ډیرے میوے او فائدے وی لیکن هغه
بخیله بوډا شوے وی او بچی (ځامن او لونړه) ئے هم
ماشومان او کمزورے وی نو دَ دے ټولو دَ ژوند ضروریات
دَ دغے باغ نه پوره کیږی - دغه شخص بخیله او بچی ئے هم
بل کسب او مزدوری نشی کولے یعنی دَ بچو بوج هم په پلار
باندے وی نو ناساپه الله تعالیٰ په دغه باغ باندے دَ اور نه ډکه
سیلئ راأولیږی او هغه باغ أوسوزی - او س کدے شخص طاقت
نیشته چه دویاره داشان باغ اولګوی او اولاد ئے هم کمزوړے
دے کدد سره مددلشی کولے نو په داسے وخت کښ دے ډیر
زیات غمژن او پریشان حاله وی - (دَ مثال تطبیق) امام بخاری
دَ عمر رضی الله عنه حدیث ذکر کړیدے چه هغه یوه ورځ کصحابه
کرامو نه دَ دے تفسیر طلب کړو نو هغوی دَ عجز اظهار اوکړو په
دے قول سره چه والله اعلم نو دے غصه شو- نو ابن عباس
رضی الله عنهما جواب اوکړو چه دا دَ عمل مثال دے نو هغه
أوئیل کوم عمل نو دهٔ اوئیل چه یو مالدار شخص دے چه

دَ الله تعالیٰ په طاعت سره یې عملونه کول بیا وریاندې شیطان مقرر کړے شو (دَ ابتلاء په طور سره) نو دا سې کارونه یې شروع کړل چه خپل تیر شوی نیک اعمال یې ځان له برباد کړل۔
ابن کثیر وئیلی دی چه په دے حدیث کښې کفایت دے دَ پاره دَ تفسیر دَ دے آیت۔ (لیکن دَ وضاحت دَ پاره یې) تفصیل دا دے چه یو شخص مالدار دے هر قسم مالونه ورسره شته او مالونه دَ الله تعالیٰ په لار کښې او په طاعاتو دَ الله تعالیٰ کښې خرچ کوی او لکه څرنګه چه دَ دهٔ باغونه دوه قسمه دی نو دا رنګ انفاق یې هم دوه قسمه دے یعنی فرض انفاق او نفلی۔ او څنګه چه دَ دهٔ دَ باغونو تهرونه هم شته نو دا سې دا صدقات ورکول یې هم وخت په وخت ډیریږی او ایمان ورسره هم شته چه په هغې سره دَ صدقاتو سیرابی کیږی۔ او لکه څنګه چه دَ دهٔ نور ثمرات او منافع هم شته دے نو دا رنګ دَ دهٔ نور طاعات او اعمالِ خیر هم شته دے (عبادات بدنیه او مالیه) او څرنګه چه دے بوډا شو نو ضعیف او کمزورے شو دَ نور کسب کولو نه نو دا رنګ دَ نیت او دَ عقیدے ضعف پکښې راغے دَ شیطان په وسوسو سره یې ایمان او نیک اعمال پریخودل۔ او څرنګه چه دَ باغ دَ مالک اولاد شته خو کمزوری وو نو دا رنګ په دے شخص باندے دَ بندګانو حقوق هم راغلل په سبب دَ ظلم دَ دهٔ او هغه اهلِ حقوق دَ دهٔ سره هیڅ قسم امداد نشی کولے بلکه دَ دهٔ نه دَ خپلو حقوقو مطالبه کوی او لکه چه په باغ باندے ګرمه او نچوړوونکے سیلۍ راغله نو دا رنګ دَ دهٔ په انفاق کښې ریاء، مَنّ او اذی راغله په اعمالو کښې رسمونه او بدعات شروع شول چه هغې سره دَ طاعاتو نه ثوابونه نچوړ شو۔ او لکه چه دَ سیلۍ سره اور دے نو دا رنګ دغه شخص بیکاره شرک او کفر شروع کړو۔ او لکه چه په سیلۍ او اور سره باغ او سوزیدلو نو دا رنګ دَ دے شخص طاعات او عبادات بدنیه او مالیه په دا سې وخت

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا مِنْ

اے ایمان والو خرچ کوئ دَ

طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ اَخْرَجْنَا

کرہ هغه مال نه چه تاسو گټلے وی او دَ هغه څیزونو نه چه را ویستلی مونږ

لَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ ۠ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيْثَ

ستاسو دَ پاره دَ زمکے نه او قصد مه کوئ دَ ردی

مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ وَلَسْتُمْ بِاٰخِذِيْهِ

دَ دغه مال نه چه خرچ کوئ او نه يئ تاسو اخستونکی هغے لره په خپل حق کښ

اِلَّآ اَنْ تُغْمِضُوْا فِيْهِ ؕ وَاعْلَمُوْٓا

مگر هغه وخت چه سترگے پټے کړئ په هغے کښ او پوهه شئ

اَنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ﴿۲۶۷﴾

چه یقیناً الله تعالیٰ بے حاجته دے ستائیلے شوے دے.

کښ برباد شول چه دے دَ نورو طاعاتو او عباداتو وس او طاقت نه لری نو دے پس دَ هلاکت او دَ مرگ نه په عذاب دَ قبر او دَ حشر کښ میتلا شی ځکه چه اعتبار خاتمے ته دے۔ او دا رنگ دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه هم دَ مثال تطبیق په اجمال سره نقل دے چه دا مثال دَ هغه چا دے چه عملونه دَ طاعاتو کوی لیکن خاتمه ئے په ناکاره عقیده او عمل سره اوشی (ابوحیان)

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ، په دے جمله کښ ترغیب دے آیاتونو دَ قرآن ته په علم او عمل سره او تفکر پکار دے دَ پاره دَ تطبیق دَ مثال او ممثل لهٗ۔ او دَ پاره دَ تمیز کولو په مینځ دَ صحیح انفاق چه مفید وی او باطل انفاق کښ چه غیر مفید وی۔

۲۶۷. ربط له :- هر کله چه تیر شوی آیاتونو کښ انفاق ته ترغیبات او دَ هغې دَ موانعو دَ قبولیت ذکر تیر شو او هغه تمهید وو۔ نو اوس مقصد ذکر کوی چه امر دے په انفاق کولو سره۔
ربط ۲له :- هر کله چه مخکښ سلبی او ایجابی شرطونه دَ فعل دَ انفاق دَ پاره ذکر شول دَ هغې دَ قبولیت دَ پاره نو اوس دَ مُنْفَق (خرچ کړے شوی مال) په باره کښ ایجابی شرط ذکر کوی۔
اَنْفِقُوْا ، دَ علی رضی الله عنه ، حسن بصری او ابن سیرین رحمهما الله نه روایت دے چه دا امر دَ فرضیت دَ پاره دے۔ او دَ دینه مراد زکوٰة او عشر دے۔ او دَ بعضو علماؤ نه نقل دے چه دا فرض او نفل دواړو ته عام او شامل دے۔
مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ ، هر کله چه انسان دَ مال په لحاظ سره دوه قسمونه دی اول سرمایه دار چه تجارت پیشه او کارخانه دار خلق دی۔ دویم قسم جاګیردار او زمیندار او صاحب جائیداد خلق دی۔ نو په دے آیت کښ په دواړه قسمونو کښ دَ انفاق امر ذکر کوی۔ په دے مذکور جمله کښ اول قسم انسانان ذکر دی۔ طیبات جمع دَ طیب ده۔ دا صفت غالبه دے۔ یعنی بغیر دَ موصوف نه ذکر کیږی۔ دَ دے معنٰی مخکښ تیرے شوی دی دلته مراد کره (روغ) مال دے او صفت دَ حلال ورسره هم مراد دے۔ كَسَبْتُمْ ، کسب هغه عمل دے چه دَ بدن په ستړی والی سره کیږی نو هغه تجارت، مزدوری، نوکری کاریګری او تجارت دَ څارو وغیره ټولو ته شامل دے۔
وَمِمَّآ اَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ ، په دیکښ دویم قسم ذکر کوی یعنی هغه آمدنی او ګټه چه دَ زمکے نه حاصله شی یعنی فصلونه او معدنیات وغیره دی۔ او په دیکښ فریضه هغه اداکول دَ عشر (لسمه حصه یا شلمه) او زکوٰة دے۔
تنبیه :- مَا كَسَبْتُمْ او مَا اَخْرَجْنَا لَكُمْ دواړه عام دی لیکن دَ دے تشریح په احادیثو کښ ذکر ده۔ دَ روپو اشرفو وغیره سره زرو سپین زرو او دَ تجارت دَ مالونو نصاب او دَ هغې

نه دَ زکوٰۃ دَ واجب کیدلو مقدار څلویښتمه حصه ده اودَ فصلونو نصاب اوپه هغې کښې عشر یا شلمه وغیره اودَ څاروو نصابونه او په هغې کښې مقدار دَ وجوب دَ زکوٰۃ دا ټول په احادیثو کښې په تفصیل سره ذکر دی - په قرآن کریم باندې دَ احادیثو نه بغیر عمل نشی کیدې -

فائده ۱ :- دَ ماکسبتم سره یې طیبات ذکر کړې وو او دَ ما اخرجنا سره یې نه دې ذکر کړې ؟

حاصل جواب دا دې چه دیته اکتفاء وئیلې شی چه په یو قسم کښې ذکر شو نو په بل کښې هم مراد دې -

فائده ۲ :- زَرَعۡتُمۡ یا اَنۡبَتۡنَا یې نه دې وئیلې ځکه چه ایجاب دَ عشر وغیره دَ فصلونو دَ حاصلیدلو په وخت کښې وی او په هغې باندې لفظ دَ اخراج دلالت کوی - دا رنګ دَ زمکې معدنیاتو ته انبات او زرع شامل نه ده بلکه اخراج لفظ ورته شامل دې -

وَلَا تَيَمَّمُوا الۡخَبِيۡثَ مِنۡهُ تُنۡفِقُوۡنَ ، تیمم په لغت کښې قصد کولو ته وئیلې شی - دَ اَمَّ یا یَمَّمَ نه اخستلې شوې دې - خلیل وئیلې دی چه اَمَمۡ قصد کول دی دَ مخکښې طرف نه او یَمَمۡ قصد کول دی دَ هر طرف نه - اَلۡخَبِيۡثَ دلته په معنیٰ دَ ردی سره دې او وصف دَ حرام هم ورسره دې - مِنۡهُ ضمیر راجع دې ماکسبتم او ما اخرجنا ته او تنفقون حال دې - او په دې جمله کښې مقصد تاکید دې دَ انفاق دَ کره او حلال مال - او دفع دَ یو وهم ده - وهم دا دې چه په مالونو کښې خو اکثر کره او ردی ګډ وډ موجود وی نو دَ هغې نه کره جدا کول خو تکلیف دې ؟

نو په دې جملې سره یې وهم دفع کړو حاصل دَ دفع دا دې چه ردی دَ کره مال دَ مینځ نه راټولول دَ انفاق دَ پاره منع دی او که ګډ وډ وی نو انفاق یې جائز دې -

فائده :- دَ الخبیث ماده په قرآن کریم کښې شپاړس کرته

ذکر دہ او دَ هغې اووه معنې دي - اول په معنې دَ ردي مال په دے آیت کښې - دویم په معنې دَ منافق سورة آل عمران ۱۷۹، دریم په معنې دَ حرام سورة ۱۰۰، څلورم په معنې دَ شرک سورة الانفال ۳۷، پنځم په معنې دَ خوړو ژمکے سورة اعراف ۵۸، شپږم په معنې دَ ترخے اونے (بوټي) سورة ابراهیم ۲۶، اووم په معنې دَ گناهونو سورة الانبیاء ۷۴،

وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ إِلَّا أَنْ تُغْمِضُوا فِيهِ، په دے جمله کښې دَ ردي تعریف دے - او دا جمله حالیه ده یا علت دے دَ لَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ دَ پاره - یعنې کوم مال چه تاسو دَ بل چا نه دَ ځان دَ پاره نهٔ قبلوئې په اخستلو خرڅولو، قرض او په اجرت دَ عمل کښې نو دغسے مال په زکوٰة کښې هم مه ورکوئې یعنې ورکول یې قیاس کړل په کسب پاندے - او اغماض په اصل کښې سترگے پټولو ته وئیلے شي په یو ځائے کولو دَ زیږمو سره - او دَ دے سره دوه څیزونه لازم دي یو آرام کول او دویم تسامح او آسانتیا کول په یا ره دَ یو مکروه څیز کښې - دلته آخري معنې مراد ده - یعنې یو شخص ته چه دَ هغه حق ورکیږے شي نو هغه پکښې ردي څیز نه قبلوي لیکن کله چه مجبوره شي دَ هغې اخستلو ته نو تسامح اوکړي یعنې سترگے پرے پټے کړي او قبول یې کړي دَ وجے دَ خپل احتیاج نه -

وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ، وَاعْلَمُوا سره تنبیه مقصد ده هغه انسان ته چه دَ ردي مال په خرچ کولو سره گویا چه دے الله تعالیٰ محتاج گنړي - او دا جواب دَ سوال دے که څوک سوال اوکړي چه هر کله انسان په خپل حق اخستلو کښې اغماض کوي نو الله تعالیٰ یه هم اغماض کوي؟ حاصل جواب دا دے چه انسان خو دَ احتیاج دَ وجے نه اغماض کوي او الله تعالیٰ خو غني (بے حاجته) دے نو هغه اغماض ته حاجت نه لري - او حمید په معنې دَ محمود دے په هغه انعاماتو چه تاسو باندے یې کړیدي یا په معنې دَ حامد دے یعنې نیک اعمال چه تاسو یې کوئې نو الله تعالیٰ دَ هغې حمد کوي - او دا صفت دَ غني سره دَ دے وجے نه دے چه

اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَاْمُرُكُمْ

شيطان ويره وى تاسو دَ فقيرئ نه او حكم دركوى تاسو ته

بِالْفَحْشَآءِ ۚ وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ مَّغْفِرَةً

دَ بخل كولو او الله تعالىٰ وعده كوى تاسو سره دَ بخنے دَ گناهونو

مِّنْهُ وَفَضْلًا ۗ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۶۸﴾

دَ طرف خپل نه او دَ زياتى كولو دَ مال او الله تعالىٰ فراخه فضل والا دے عالم دے په هرڅه پاندے۔

په بدن كا نوكښ مال ار سرے چه تساهح هم دَ چا سره نه كوى نو هغه بدا گنړلے كيږى او الله تعالىٰ خو سره دَ غنا نه ستا ئيلے شوے په خاشته صفتونو سره۔

۲۶۸ :۔ دَ دے آيت نه دَ آيت ۲۷۴ پورے شپږ امور ذكر كوى چه هغه متعلق دى په انفاق پورے۔ او په دے آيت كښ اوله خبره ده چه ځان بچ كول دى دَ وسوسے دَ شيطان نه دَ انفاق په باره كښ۔

ربط :۔ هر كله چه مخكښ دَ انفاق ترغيبات او په آخر كښ دَ كره او پاك مال خرچ كول ذكر شو۔ خو چونكه دَ دے عمل نه منع كوونكے شيطان دے نو اوس په دے آيت كښ دَ هغه مانع دَ اتباع نه منع كوى په طريقه دَ تقابل دَ شيطانى وسوسے او احكام الٰهيه سره۔

يَعِدُكُمْ ، وعده په خير او شر دواړو كښ استعماليږى۔ مثال دَ خير په سورة فتح ۲۰ كښ دے او مثال دَ شر په سورة حج ۸۲ كښ دے۔ دلته هم دَ شر سره ذكر دے چه هغه فقر دے۔ او كله چه دَ خير او شر ذكر نه وى نو بيا وعد په خير كښ او وعيد په شر كښ ذكر كيږى۔ او دلته يعدكم په معنىٰ دَ يره وركولو دے۔ او شيطان عام دے جنى او انسى بلكه نفس امارة بالسوء ته شامل دے۔ اَلْفَقْرَ ، په اصل كښ دَ ملا هډوكى ته وئيلے شى۔ او په عرف كښ سخت احتياج دے

لوازماتو دَ ژوند ته دَ وجې دَ نیشتوالی یا کموالی دَ مال نه تو فقیرهم
په اصل کښې ملاماتے وی یعني کمزورے وی په مالی کمزوری
سره۔ مقصد دا چه شیطان انسان ته وسوسه اچوی چه مال
مه خرچ کوه فقیر به شې۔
وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَاءِ ، مخکښې سلبی صفت وو او دا ثبوتی
صفت دے نو ترقی ده په تحذیر کښې دَ وسوسو دَ شیطان
نه، يَأْمُرُ، امر په اصل کښې کلام کول دی دلته ئې په وسوسو
باندے اطلاق شوے دے چه هغه هم په زړه کښې قوی
تاثیر پیدا کوی نو مراد تری نه ترغیب ورکول دی بد کارونو
ته او ناشائسته کارونو ته یا ښکاره کول دی دَ هغې۔ الْفَحْشَاءِ دَ فحش
نه اخستلے شوے دے دَ حد نه تجاوز کولو ته وئیلے شی نو
فحشاء نوم دَ هغه قول یا فعل دے چه په قباحت کښې دَ حد
نه ورتیر شوے وی تر دے پورے چه هر عقل سلیم والا دَ
هغې په قباحت باندے اقرار کوی۔ او قرطبی وئیلی دی چه
فحشاء ټولو گناهونو ته وئیلے شی او بخل کول پکښې هم
داخل دے۔
فائده:۔ تخویف دَ فقر ئې مخکښې راوړو په امر دَ فحشاء باندے
ځکه چه بخل دَ ټولو عقل والو په نیز باندے قبیح دے نو
شیطان دا وَس او طاقت نه لری چه هغه دَ اول نه یو کار
چا ته ښکاره کړی نو په دمه دمه کار کوی۔ یعني اول
ورته دَ فقر نه یره ورکړی نو بیا ئې په بخل باندے آماده
کړی۔ دا دلیل دے چه دَ شیطان په هره وسوسه کښې دَ
خیر امید نیشته بلکه مقصد ئې شر وی۔
وَاللَّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ، لفظ دَ الله ئې دَ ډیر
تسلئ او ترغیب دَ پاره مخکښې ذکر کړو۔ او دلته يَعِدُ په
معنی دَ وَعَد سره دے۔ مغفرةً لفظ نکره راوړل او په
مِنْهُ سره مقید کول دلالت کوی په عظمت دَ مغفرت
باندے۔ او دا شامل دے دَ ټولو گناهونو بخښنے ته او پټولو

يُّؤْتِى الْحِكْمَةَ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ

ورکوي يوهه دَ قرآن	هغه چاته چه اوغواړي	او څوک چه

يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِىَ خَيْرًا

ورکړے شوه هغه ته پوهه دَ قرآن نو يقيناً	ورکړے شو هغه ته خير

كَثِيْرًا ؕ وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۲۶۹﴾

ډير	او نصيحت نه اخلي	مګر	صاف	عقل والا .

دَ عيبونو نه . وَ فَضْلًا نه مراد عام دے يعني زياتوالے او برکات په مال کښ په دُنيا کښ او بيا ثواب په آخرت کښ . قرطبي دَ ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل کړيدے چه پدے ايت کښ دَ الله تعالىٰ دَ طرف نه دَ خير دوه وعدے دي او دوه وعدے دَ شر دي دَ شيطان دَ طرف نه . نو عقل والو له ضروري دي چه دَ دے دواړو په اتصاف سره موازنه اوکړي او دَ شيطان نه ځان بچ کړي .

وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ، جود ، فضل او مغفرت دَ الله تعالىٰ فراخه دے . پديکښ اشاره ده چه الله تعالىٰ دَ خپلو وعدو خلاف ځکه نه کوي چه دَ هغه په فضل و رحمت کښ تنګسيا نيشته . عَلِيْمٌ يعني عالم دے په مناسب ځايونو دَ فضل کولو . او بعضے وخت په چا باندے تنګسيا راولي ځکه چه دَ هغه په حال باندے عالم دے .

سـ۲۶۹ ربط :- هرکله چه وعده ذکر شوه دَ الله تعالىٰ او دَ شيطان نو دَ دے دَ تميز دَ پاره سيب پکار دے چه هغه حکمت دے نو اوس دَ هغه تقسيم ذکر کوي په مقتضا دَ علم خپل سره چه عليم دے .

يُّؤْتِى الْحِكْمَةَ مَنْ يَّشَآءُ ، دَ ايتاء استعمال په اعيانو، مالونو، اعراضو او معانيو ټولو کښ کيديشي . څوک چه وائي چه دا په مالونو يا په اعيانو پورے خاص دے نو دَ هغوي هيڅ دليل

نیشته - اَلْحِکْمَةَ مصدر دے دَ احکام نه - نو حکمت مضبوطوالے دے په علم، قول او عمل کښ - ابن عطیه اوقرطبی وئیلی دی چه کتاب الله او سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم حکمت دے - او دَ دے په مصداق کښ ابوحیان یوکم دیرش (۲۹) اقوال ذکر کړیدی - ابن عطیه وئیلی دی چه دغه ټول اقوال یو بل ته قریب دی ما سیوا دَ قول دَ سدی نه چه هغه وئیلی دی چه حکمت نبوت دے - دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه دَ علی بن طلحه، قتاده او ابو عالیه روایات دا دی چه پوهه دَ قرآن کریم او دَ هغے ناسخ او منسوخ، محکم متشابه، مخکښ نازل شوے او روستو نازل شوے معلومول دا حکمت دے - دا رنګ دَ ابوعثمان قول دا دے چه دا یو نور (علم) چه دَ وسوسے او الهام په مینځ کښ فرق کولے شی - نو دا معنے غوره دی او په دے سره دَ مخکښ آیت سره ربط هم معلومیږی - حاصل دا چه دَ قرآن وسنت دا سے پوخ علم چه دَ هغے په ذریعه دَ حق او باطل په مینځ کښ پوره فرق کیدیشی او عمل کوی په حق باندے او دَ باطل نه ځان بچ کوی نو دا پوره حکمت شرعیه دے - او امام رازی اشاره کړیده چه ترجیح دَ وعدے دَ الله تعالیٰ په حکمت او عقل سره معلومیږی او ترجیح دَ شیطان دَ وعدے په شهوت او هوی سره معلومیږی - او حکمت او عقل خو دَ شهوت او هوی نه ډیر غوره دی او څوک چه دَ دینه دَ یونانیانو فلسفیانو حکمت مراد کوی نو هغوی دَ قرآن کریم تحریف کوی - وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ، لفظ دَ حکمت ئے دوباره ذکر کړو دَ وجے دَ اهمیت او شرافت دَ دے نه - فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا -

سوال :- شرط فعل مستقبل دے نو جزاء ئے فعل ماضی ولے ذکر شوه ؟

جواب :- هغه فعل ماضی چه قَدْ ور باندے داخل وی

وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ نَّفَقَةٍ اَوْ نَذَرْتُمْ

او هغه چه خرچ کوئ تاسو څه خرچه یا منخته کوئ تاسو

مِّنْ نَّذْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُهٗ ؕ وَمَا

څه منخته کول نو یقینًا الله تعالٰی پوهه دے په هغے باندے او نیشته

لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿۲۷۰﴾

ظالمانو د پاره هیڅوک مدد کاران۔

اوجواب ئے شرط وی نو دا په لفظ کښ ماضی وی او په معنیٰ کښ مستقبل وی نو په دیکښ تقدیر د عبارت ته حاجت نیشته۔ او کله چه سره د قد نه لفظًا او معنًا دواړه فعل ماضی وی نو هلته جواب شرط پټ وی لکه وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ۔

خَيْرًا تنکیر د تعظیم د پاره دے او عظمت ئے په اعتبار د کیفیت سره دے۔ او كَثِيْرًا نه مراد کثرت په اعتبار د افرادو سره دے۔ قرطبی وئیلی دی چه علم د قرآن چا ته ورکړے شو نو علم د مخکنو کتابونو او صحیفو هم ورکړے شو۔ او دا سے په حدیث د بخاری کښ هم دی چه مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ (د چا په باره کښ چه الله تعالٰی د ډیر خیر اراده اوکړی نو هغه له په دین کښ ډیر علم او پوهه ورکړی۔

فائده :- حلال مال ته په آیت ۱۸۰ کښ خیر وئیلے شوے دے او علم د قرآن ته خیر کثیر وئیلے شوے دے نو دا ښکاره دلیل دے په فضیلت د علم په دنیا داری باندے۔ نو دا رنګ د انفاق په باره کښ چه کوم ترغیبات او کوم شرطونه مخکښ ذکر شول نو هغه په باره د خیر کثیر کښ هم مراد دی۔

وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ، اَلْبَاب جمع د لُب ده هغه خالص عقل ته وئیلے شی چه د مقابلے د وهمونو نه پاک وی۔ اشاره ده چه د حکمت نه د فائدے اخستلو د پاره خالص عقل ضروری

دے۔ او ذکر ډ دے صفت په دے سورت آیت ۱۹۱ کښ او سورة آلعمران ۱۹۱، سورة زمر ۱۸ او سورة طلاق ۲ کښ تفصیلی ذکر شوی دے۔

۲۷۰ ډ حکمت بو تقاضا داده چه انسان مالی خرچ کوی لیکن په دوه طریقو سره۔ کله په طریقه ډ الزام په ځان باندے چه هغے ته نذر وئیلے شی او کله بغیر ډ الزام نه چه هغے ته نفس انفاق وئیلے شی۔ او په دے آیت کښ دویم امر ذکر دے چه هغه متعلق دے ډ انفاق سره او هغه تقسیم دے دوه قسمونو ته۔ وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن نَّفَقَةٍ، ظاهر داده چه مراد ډ دینه عام انفاق دے که هغه شرعی وی او که غیر شرعی وی لکه چه ډ دے دواړو ذکر په تیر شوو مثالونو کښ او کړے شو۔ او ډ مِّن نَّفَقَةٍ په تعمیم کښ مقصد دادے چه که لږ وی او که ډیر وی، فرض وی او که نفل وی، عبادت بدنیه وی او که مالیه وی۔ أَوْ نَذَرْتُم مِّن نَّذْرٍ، دلته هم دغه دواړه تعمیمات مراد دی یعنی که نذر ډ طاعت وی او که ډ معصیت وی، مشروط وی او که غیر مشروط وی، نذر مسمّٰی وی او که غیر مسمّٰی وی۔ ډ دے ټولو مختلف احکام په احادیثو کښ په تفصیل سره ذکر دی۔ او نذر په لغت کښ هغه ترلے دی ډ انسان خپل زړه (اراده) لره په یو څیز یورے۔ او په شریعت کښ دا هغه عبادت دے چه یو مکلف ئے واجب کوی په خپل ځان باندے دا سے چه الله تعالیٰ په هغه باندے نه وی لازم کړے۔ فَإِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُهُ، مخکښ ما شرطیه دے او دا جواب شرط دے۔ او دا کنایه ده ډ جزا ورکولو نه که جزاء ډ خیر وی او که ډ شر وی۔ او ۀ ضمیر مفرد دے لفظ ډ ما ته راجع دے۔ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ، دا وعید دے ډ ناجائز انفاق او نذر کوونکو ډپاره او لفظ ډ ظالمین عام دے ټولو مشرکانو او ګناه ګارو ته شامل دے او خاصکر په انفاق کښ ظلم کول انفاق نه کول دی یا په غیر شرعی مصارفو کښ خرچ کول یا په ریاء، مَن او اذی سره کول دا ظلم دے

إِنْ تُبْدُوا الصَّدَقٰتِ فَنِعِمَّا هِيَ ج

که چرې ښکاره ورکوئ تاسو صدقات نو ښه دي دغه

وَإِنْ تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ

او که چرې پټ ورکوئ هغه او ورکوئ يئ محتاجانو ته

فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ط وَيُكَفِّرُ عَنْكُمْ

نو دا غوره دے تاسو لره او لرے کوي الله تعالی ستاسو نه

مِّنْ سَيِّاٰتِكُمْ ط وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ

ګناهونه ستاسو او الله تعالی ستاسو په عملونو باندے

خَبِيرٌ (۲۷۱)

خبردار دے۔

او نن زد معصیت او نن ر په شرکی طریقه یعنی په نوم د غیرالله که خارول وی او که نقود وی او که نور عبادات وی دا ټول ظلمونه دی۔

سوال :- د دے نه معلومیږی چه د ګناهګارو د پاره شفاعت نیشته (او دا مذهب د منکرین حدیث او د معتزلو دے)؟

جواب :- شفیع نه په عرف کښ ناصر لشی وئیلے کدیځه په دے سورت آیت ۱۲۳ کښ نفی د شفاعت او نفی د نصرت یځ جدا جدا کړیده ځکه چه شفیع صرف مهربانی او شفقت کوی او ناصر په قوت او زور سره کار کوی۔ ۲ :- دا آیت عام دے ټولو اشخاصو او اوقاتو ته او دلیلونه د اثبات د شفاعت خاص دی او خاص مقدم وی په عام باندے۔

۲۷۱ :- په دے آیت کښ دریم امر د انفاق سره متعلق ذکر کوی چه هغه ادا د صدقاتو ده ښکاره وی او که پټه۔

ربط :- هر کله چه مخکښ معلومه شوه چه الله تعالی په هر انفاق باندے عالم دے نو وهم پیدا شو چه په دیکښ

اظهار عبث دے تو جواب اوشو چه اظهار د نورو فوائدو د پاره جائز دے په شرط د عدم ریاء سره۔
إِن تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ، ابداء نه مراد ورکول دی په ښکاره طریقه سره یعنی چه نور خلق یې اووینی۔ الصَّدَقَاتِ، ماده د صدق دلالت کوی په صحت او کمال باندے نو زکوٰة او خیرات ته صدقه د دے وجے نه وئیلے شی چه سبب دے د صحت او د کمال د مال۔ یا دلیل دے په مصداق د ایمان او کمال د ایمان د بنده باندے۔ او دلته لفظ د صدقات عام دے فرض او نفل دواړو ته شامل دے۔ او حسن او قتاده وئیلی دی چه مراد ترینه فرض زکوٰة دے او عام مفسرینو وئیلی دی چه مراد ترینه نقل دے۔ د صدقات فرضیه په ښکاره ورکولو کښ ابن عباس رضی الله عنهما وئیلی دی چه اظهار افضل دے د پټ ورکولو نه۔ او ابن جریر په دے باندے اجماع نقل کړیده۔ او اصح دا ده چه دا موقوف ده په نیت باندے چه نیت صفا وی او ریاء پکښ نه وی او مقصد یې اظهار د سنت وی او ادا د فرض وی او د دے د پاره چه نور خلق هم د هغه اقتداء اوکړی په زکوٰة ورکولو کښ او ځان به د خلقو د بدگمانئ نه بچ کوی نو په دغه بنیاد سره ښکاره ورکول غوره دی او که داسے نه وی نو بیا پټ ورکول غوره دی۔ او نقل صدقات خو په هرحال کښ پټ ورکول غوره دی۔
فَنِعِمَّا هِيَ، دا په اصل کښ نعم الشیٔ شیئًا هی دے۔ او ضمیر د هِيَ ابداء الصدقات ته راجع دے۔ معنیٰ دا چه ښه خیز دے د خیز په لحاظ سره دغه ښکاره ورکول د فرض صدقاتو۔ لفظ د نعم دلالت کوی په صرف جواز باندے سره د معمولی ترجیح نه لکه چه دا د مواضعو د استعمال نه معلومیږی او د دے وجے نه دۀ ته فعل مدح وئیلے شی۔
وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ، په دے جمله کښ د اخفاء (پټ ورکولو) تفصیل ذکر کوی په شرط د

ورکولو سره فقراؤ ته.
سوال :- صدقات نه چه مراد فرض زکوٰة دے او تخفوها کښې ضمیر هم هغې ته راجع دے. نو مخکښې معلومه شوه چه هغه خو ښکاره ورکول غوره دی دا رنګ دَ هغې ورکول خو فقراؤ پورے خاص دی نو دَ وتؤتوها الفقراء قید لګولو څه فائده ده؟
جواب ۱ :- دَ صدقات نه مراد نفل دی په قول دَ عامو مفسرینو سره نو هغه ښکاره ورکول صرف جائز دی او پټ ورکول افضل دی او فقراؤ ته ورکول هم دَ مالدارو په نسبت غوره دی.
جواب ۲ :- صدقات فرض او نفل دواړو ته عام دے لیکن په إن تبدوا الصدقات کښې فرض مراد دے او تخفوها ضمیر کښې نفل مراد دے او دیته علم بدیع کښې استخدام وئیلے شی چه په لفظ سره یو معنیٰ مراد شی او په ضمیر سره بله معنیٰ مراد شی.
جواب ۳ :- اول هم فرض صدقات مراد دی او په ضمیر کښې هم فرض مراد دی لیکن افضلیت په سبب دَ بچکیدلو دَ ریاء او سمعت نه دے او جواز ئے صرف په نیت دَ عدم ریاء سره دے چه دَ نورو فوائدو لحاظ پکښې نه وی.
فائده :- په ابداء کښې دَ ایتاءِ فقراء ذکر نه دے کړے او په اخفاء کښې کړے دے. دَ دے حکمت دا دے چه عصام وئیلی دی چه په ښکاره ورکولو کښې فقیر معلومیږی خلق ئے پیژنی نو ذکر ته حاجت نیشته او په پټ ورکولو کښې کله ورکوونکی ته دَ فقیر دَ فقر پته نه لګی نو په ذکر کښې اشاره ده چه په دغه وخت کښې پوره تفتیش پکار دے هسے نه چه غیر فقراء ئے واخلی. بل دا چه خفاجی په شرح دَ تفسیر بیضاوی کښې وئیلی دی چه دَ اول سره ئے ذکر نه کړو ځکه چه هلته فرض زکوٰة مراد دے او دَ زکوٰة دَ پاره دَ فقراؤ نه علاوه نور مصارف هم شته دے

لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ

نیشته په تا باندے حق ته رسول ذدوی او لیکن الله تعالیٰ

يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَا تُنْفِقُوْا

حق ته رسوی هغه چا لره چه اوغواړی او هغه چه خرچ کوئ تاسو

اوپته صدقه خو صرف نفلی ده او هغه هم غیر فقراؤ له جائز ده لیکن فقراؤ ته ورکول افضل دی۔

فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ کښې ظاهر دادے چه دا اسم تفضیل دے او مفضل علیه مخکښې ذکر شو یعنی مِنْ اِبْدَآءِهَا (ابوحیان).

وَيُكَفِّرُ عَنْكُمْ مِّنْ سَيِّاٰتِكُمْ، دا قراءت په صیغه دَ غائب سره په رفع سره دے اگرچه په دے کښې نور قرائتونه هم شته دے۔ په دے قرائت سره واو دَ پاره دعطف دَ جملے دے په جمله باندے او دا جمله مستانفه ده او مبتداء ئے پټه ده یعنی وَاللّٰهُ يُكَفِّرُ آه۔ او ضمیر دَ یکفر الله تعالیٰ ته راجع دے یا هُوَ ضمیر پټ دے او راجع دے ابداء اخفاء او ایتاء ته۔ تکفیر پټولو ته وئیلے شی او مراد ترینه مغفرت دے۔

مِنْ سَيِّاٰتِكُمْ کښې مِنْ دَ تبعیض دَ پاره دے ځکه چه په صدقاتو سره ټول گناهونه نه معاف کیږی۔ سَيِّاٰتِكُمْ جمع دَ سیئة ده نا کاره حالت ته وئیلے شی نو په هغے کښې گناهونه، سختئ او مصیبتونه داخل دی ځکه چه په صدقاتو سره مصیبتونه هم دفع کیږی۔

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ، خبیر دَ پټو خیزونو په علم کښې استعمالیږی۔ نو دلته هم اشاره ده چه نیت دَ اخلاص یا ریاء او سمعت کولو دَ صدقاتو په ښکاره یا پټ ورکولو کښې الله تعالیٰ ته معلوم دے۔ نو دَ اخلاص والو دَ پاره وعده دَ ثواب ده او دَ ریاء والو دَ پاره وعید دے۔ دا رنگ اشاره ده چه پټ ورکول دَ صدقاتو غوره دی ځکه چه الله تعالیٰ په پټ خیزونو باندے علم لری۔

مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ ؕ وَمَا تُنْفِقُوْنَ

څه حلال مال نو ستاسو د فائدې د پاره دے او تاسو خرچ نه کوئ

اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ اللّٰهِ ؕ وَمَا تُنْفِقُوْا

مګر د پاره د لټولو د مخ د الله تعالىٰ او هغه چه خرچ کوئ تاسو

مِنْ خَيْرٍ يُّوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ

څه حلال مال نو پوره به درکړے شی تاسو ته (ثواب د هغې) او په تاسو باندې

لَا تُظْلَمُوْنَ ﴿۲۷۲﴾

به ظلم نشی کیدلے.

۲۷۲ په دے آیت کښ د انفاق سره متعلق څلورمه خبره ده۔ د آیت په اول کښ دفع د یو سوال ده او روستو ترغیب دے د اخلاص پیں اکولو په صدقاتو کښ د پاره د حاصلولو د اجر۔

ربط :- هرکله چه مخکښ آیتونو کښ ډیر قسمونو د خلقو ته اشاره اوشوه چه هغوی ګمراه دی، ریاکار، مَن او اذی ورکوونکی، د شیطان وسوسے قبلوونکی او غیر شرعی انفاق اوتر ورکوونکی دی۔ او د داسے خلقو وجود په نبی صلی الله علیه وسلم باندے بوج وو چه دوی ولے احکام شرعیه نه منی۔ او د اسباب نزول نه معلومیږی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم یا صحابه کرامو به په مشرکانو خپلوانو باندے انفاق نه کوو د دے د پاره چه اسلام را اوړلو ته مجبوره شی نو په دے آیت کښ ئے نبی کریم صلی الله علیه وسلم او د هغه تابعدارانو ته تسلی ورکړه چه د دوی هدایت ستا په اختیار کښ نه دے. نوکه دوی ایمان ته راوړی نو ته خفګان مه کوه لیکن صدقات ورله ورکوئ دے د پاره چه د هغوی زړونه دے طرف ته مائیله شی لیکن د دے نه مراد نفلیه صدقات دی او صدقات فرضیه عام مشرکانو ته نه شی ورکیدے۔ لیکن د تالیف قلب د پاره ئے ورکول جائز دی۔

فائده :- په دے آیت کښ هغه چا ته تسلی ده چه مال په

دعوت کښې خرچ کوی لیکن هرکله چه گمراه خلق بیا هم ایمان نه راوړی نو خرچ کوونکے پخپل خرچ کولو باندے پښیمانه شی نو حاصل دادے چه خرچ په نیت دَ اخلاص دَ دعوت سره کوئی که څوک په لار راځی او که نه راځی ځکه چه هدایت دَ الله تعالیٰ په اختیار کښې دے۔
لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰهُمْ، دَ دینه مراد توفیق ورکول او په زور سره هدایت ته راوستل دی۔ نو دا دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ نورو بندګانو نه منتفی دے لکه چه په سورة قصص ۵۶ کښې دی۔
وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ، دَ دے هدایت نه مراد هغه دے چه په مخکښې جمله کښې دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه منتفی شوې دے۔ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ، هرکله چه اختیار دَ هدایت دَ خلقو نه نفی کړے شو نو اوس ترغیبات ورکوی انفاق ته یعنی کوم کار چه ستاسو په اختیار کښې دے چه انفاق دَ مال دے نو هغه مه پریږدئ۔ په دے جمله کښې اول ترغیب دے۔ یعنی ستاسو دا مال خرچ کول دَ خلقو دَ هدایت دَ پاره دا ستاسو دَ نفسو نو فائده ده نو دَ خپلے فائدے کار مه پریږدئ۔ خَيْرٍ په معنیٰ دَ مال سره دے په دے شرط چه حلال وی ځکه چه په مال کښې دَ دُنیا او دَ آخرت فائدے شته دے۔
وَمَا تُنْفِقُوْنَ اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ اللّٰهِ، دا دویم ترغیب دے۔ فراء بغوی وثعلبی دی چه دا نفی په معنیٰ دَ نهی سره ده او علت دَ پاره دَ مخکښې جملے دے چه دَ انفاق دَ خیر فائده تاسو ته دَ دے وجے درسیږی چه ستاسو مقصد ابتغاء وجه الله ده ریاء او سمعت نه دے۔ او هرکله چه دا صفت دَ یو کامل مؤمن دَ پاره هر وخت کښې وی دَ دے وجے نه ئے په صیغه دَ نفی راخبار سره ذکر کړے دے۔ دَ دے وجے نه قرطبی لیکلی دی چه په دے جمله کښې شهادت دے دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دَ صحابه کرامو دَ اخلاص دَ نیت په صدقاتو ورکولو کښې او دا دَ هغوی لوئے فضیلت دے۔ وَجْهِ اللّٰهِ، دَ متشابهاتو نه دے په اعتبار

لِلْفُقَرَآءِ الَّذِيْنَ اُحْصِرُوْا فِيْ

(صدقات) د پاره د محتاجانو دی هغه کسان چه بند کړے شوے دي په

سَبِيْلِ اللّٰهِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ضَرْبًا

لار د الله تعالیٰ کښ طاقت نه لری د سفر کولو

فِي الْاَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ

په زمکه کښ ګمان کوی په دوی باندے ناخبره کس

اَغْنِيَآءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُمْ

مالداران د وجے د ځان بچ کولو د حراموله ته پیژنے دوی لره

د کیفیت سره او په اعتبار د حقیقی معنے سره ظاهر او محکم دے چه مراد د دیته مخ دے لیکن بغیر د تمثیل او تاویل نه۔ او دا د سلفو صالحینو مذهب دے۔

وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ يُّوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ، دا دریم ترغیب دے او په دیکښ جواب د وهم دے هر کله چه په انفاق سره هدایت حاصل نشی نو د ثواب د نقصان وهم پیدا کیږی۔ نو په دے جمله کښ ئے دا وهم دفع کړو۔ او دا جمله بنا ده په مخکښ جملو باندے یعنی چه تاسو انفاق د خپلے فائدے د پاره کړے وی او مقصد مو پکښ غوښتل د مخ د الله تعالیٰ وی نو د دے وجے نه د هغے ثواب به پوره درکیدے شی بغیر د څه نقصان نه۔

یُوَفَّ د وفا نه دے چه دا د ډیر والی سره منافی نه دے۔ او وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ د یوف د تاکید د پاره دے او ظلم په معنیٰ د نقص سره دے لکه چه په سورة کهف ۳۳ کښ دی۔

بِسِيْمٰهُمْ ۚ لَا يَسْـَٔلُوْنَ النَّاسَ

په خاص نخو د دوی سره سوال نه کوی د خلقو نه

اِلْحَافًا ؕ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ

بے ضرورته او هغه چه خرچ کوئ تاسو څه مال حلال

فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿۲۷۳﴾

نو یقیناً الله تعالیٰ په هغې باندے ښۀ علم لری۔

۲۷۳:۔ په دے آیت کښ د انفاق سره متعلق پنځمه خبره ده چه هغه مصرف دے د انفاق فی سبیل الله۔ هر کله چه مخکښ آیت انفاق په هغه چا ذکر کړو چه هغوی ته ئې فائده او نه رسیدله یعنی هدایت ئې حاصل نه کړو نو اوس انفاق ذکر کوی په پوره هدایت والو باندے۔

لِلْفُقَرَآءِ، دا متعلق دے په پټ لفظ پورے یعنی النفقات فی سبیل الله للفقراءِ۔

فائده:۔ د صدقات فرضیه مصارف ئې په سورة توبه ۶۰ کښ ذکر کړی دی۔ او دا مصرف صرف د انفاق فی سبیل الله (دعوت وجهاد) د پاره دے۔ د دے وجے نه ئې دلته صفتونه د دعوت وجهاد والو ذکر کړی دی۔ په هغه زمانه کښ اصحاب صفه په مسجد نبوی کښ دیره وو قرآن او سنت ئې ایزده کولو او بیا به ئې د هغې دعوت کولو او چه وخت د جهاد به راغے نو دوی به جهاد له هم تلل۔ دلته ئې د هغوی د فقر سره شپږ صفات ذکر کړی دی۔ نو چه اوس هم په چا کښ دا صفتونه وی نو هغه مصرف دے د انفاق فی سبیل الله۔ اول صفت ئې د فقر ذکر کړو چه دا اصل سبب دے یعنی دوی په خوراک څښکاک، لباس او د ژوند په نورو ضروریاتو او په لار د دعوت وجهاد کښ مالونو ته محتاج دی لیکن مالونه ورسره نیشته چه په هغې سره

دغه حاجات ضروريه حاصل شي -
الَّذِيْنَ اُحْصِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، دا ئې دويم صفت دے۔ احصار دا دے چه انسان ته يو داسے عارض راپيښ شي چه دَ سفر کولو نه ئې منع کړي لکه مرض، دُشمن، نيشتوالے دَ خرچے يا درس، دعوت وجهاد، دلته دا روستنے عارض مراد دے په دليل دَ في سبيل الله سره۔
اُحْصِرُوْا صيغه دَ مجهول هم دلالت کوي چه په دے کار کښ دومره مشغول دي چه دَ هغے نه ورته فراغت او فرصت نه ملاويږي۔
لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ضَرْبًا فِي الْاَرْضِ، دا دريم صفت دے۔ دا جمله حال دے يا استيناف دے او مخکښ جمله کښ ذکر دَ سبب وو او ديکښ ذکر دَ مسبب دے۔ ضرب في الارض کنايه ده دَ تجارت کولو نه او وجه دَ عدم استطاعت دَ سفر نه شغل دے په کارونو دَ في سبيل الله پاندے۔ يا کثرت او غلبه دَ دُښمنانو مشرکانو ده۔ نو احصار دَ دوی صفت ثبوتيه دے او عدم استطاعت صفت سلبيه دے۔ او دا په اصل کښ سبب دے دَ دوی دَ فقر دَ پاره ځکه ئې په دے پاندے تصريح اوکړه۔
يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ اَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ، دا ئې څلورم صفت دے۔ الْجَاهِلُ، دلته جهل مقابل دَ علم مراد نه دے بلکه مقابل دَ تجربے مراد دے يعني ناخبره دَ حال دَ دوی نه په سبب دَ تجربے نه لرلو سره۔ مِنَ التَّعَفُّفِ کښ مِنْ اجليه دے يا دَ ابتداء دَ پاره دے۔ او دا متعلق دے په يَحْسَبُهُمْ پورے۔ التعفف عفت نه اخستلے شوے دے۔ او عفت اعراض دے دَ يو څيز نه سره دَ قدرت نه په هغے پاندے دَ وجے دَ دين کنټرولو نه۔ او مراد دا دے چه دوی دَ حرام خوراکونو او دَ بے ضرورته سوالونو نه ځان بچ ساتي۔ او صيغه دَ تفعّل دلالت کوي په مبالغه پاندے يعني دَ هر قسم حراموته دَ ځان ساتلو په وجے سره ناخبره خلق گمان کوي چه دا مالدار دے ځکه دَ شرک دَ مالونو او خوراکونو او بدعاتو او دَ رسمونو دَ خوراکونو نه ځان بچ ساتي او هر کله چه خلق په دوی پاندے دَ مالدار گمان کوي

تودوی له زکوٰة او صدقات نه ورکوی۔ دا هم دلیل دے کہ دوی په فقر یاتی دے۔ تَعۡرِفُهُمۡ بِسِيمٰهُمۡ، دا ئے پنځم صفت دے او دا جمله جواب دَ سوال دے چه هر کله دوی مالدار معلومیږی نو کہ مسلمانان تو صدقات په دوی نه څرنګ رسیږی؟ حاصل جواب دا دے چه تیز دے مسلمانان خو دَ دوی دَ فقر نه خبر دی په سبب دَ خاص نښو دَ دوی سره۔ او په دیکښې اشاره ده چه هوښیار مسلمان له پکار دی چه په علامو سره فکر اوکړی او دَ دوی دَ حال نه (یا دَ داسے متکرو دَ حال نه) ځان خبر کړی۔ او په دے سِيمَا کښې اقوال دی۔ دَ مجاهد په نیز خشوع ده حو اثر دَ هغے په ظاهر کښې شته دے چه تواضع ده۔ او دَ ربیع او سدی په نیز دا دَ لوږے آثار دی چه په دوی کښې ښکاری۔ او ضحاک وائی چه هغه زیړوالے دَ مخونو دَ دوی دے چه دَ خوراک دَ کموالی یا دَ لوږے دَ وجے نه دے۔ ابن عطیه وئیلی دی چه دَ دینه مراد آثار دَ ډیر و سجدو کولو دی۔ او امام رازی وئیلی دی چه دَ دینه مراد دَ دوی هیبت او رعب دے په زړونو دَ خلقو کښې چه خلق ئے په لیدلو سره متاثره شی۔ او دے وائی چه دلته ظاهری علامات مراد نه دی کنه بیا خو په نورو خلقو هم پیژندلے۔

لَا يَسۡـَٔلُوۡنَ النَّاسَ اِلۡحَافًا، دا ئے شپږم صفت دے۔ اِلۡحَافًا مفعول مطلق دے دَ پټ فعل دَ یا ده۔ یا په موضع دَ حال کښې دے۔ او دا اخستلے شوے دے دَ لحف نه۔ لکه چه لحاف (بړستن) په انسان پورے جوخته وی نو دا رنګ دغه انسان په سوال کولو کښې په خلقو پورے انختلے وی او دَ هر چانه سوال کوی۔

سوال:۔ دَ دے نه معلومیږی چه سوال کوی خو ملګیږی نه یعنی الحاف نه کوی او دَ التعفف نه معلومه شویږه چه دوی خو بالکل سوال نه کوی؟

جواب ۱:۔ دلته نفی دَ مقید او دَ قید دواړو ده یعنی سوال او الحاف دواړه نه کوی۔

جواب ۲: دلته الحاف په معنی لازمی سره دے یعنی بے ضرورته

اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ بِالَّيْلِ

هغه کسان چه خرچ کوی مالونه خپل د شپې

وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً فَلَهُمْ

او د ورځې پټ او ښکاره نو دوی لره

اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ

ثواب د دوی دے په نيز د رب د دوی . او نه به وی هيڅ ديره

سوال نه کوی - او د تعفف نه مراد ځان ساتل دی د حرام سوال کولو نه او هغه سوال دے بے ضرورته - او دا معنیٰ په حديث کښې ذکر ده چه مَنْ سَاَلَ وَلَهٗ اَرْبَعُوْنَ دِرْهَمًا فَقَدْ اَلْحَفَ (چا چه سوال کوو او د دهٔ سره څلويښت درهمه (روپئ) شته نو دے شخص الحاف اوکړو) (نسائي او بيهقی) بل حديث دا دے چه مَنْ سَاَلَ مِنْكُمْ وَلَهٗ اُوْقِيَةٌ اَوْعِدْلُهَا فَقَدْ سَاَلَ اِلْحَافًا (چا چه سوال کوو او حال دا چه د هغه سره اُوْقِيَة (څلويښت درهمه) يا د هغې برابر ماليت شته دے نو دے شخص الحاف سوال اوکړو او د عطاء نه د الحاف په تفسير کښې نقل دی چه هر کله يو شخص سره د غداء (غرمے خوراک) طاقت وی نو د بيگائي د خوراک سوال به نه کوی - دا رنگ برعکس هم. نو مقصد دا دے چه بے ضرورته سوال به نه کوی (اللباب) - او قرطبی وئيلی دی چه چا سره د څلويښت درهمو په مقدار ماليت شته دے او دے سوال کوی نو دے ملحف دے - نو په دے توجيه سره تقوٰ قيد ده لکه چه دا عامه طريقه د عربيت ده چه نفی په کلام مقيد کښې متوجه وی فقط قيد ته - او امام رازی وئيلی دی چه نښے د غريبئ او د فقر ښکاره کول دا الحاف دے. په دے معنیٰ سره د مخکښې جملے سره هم مناسبت شته دے هغه دا چه دوی خپل فقر او د هغے آثار ولے نه ښکاره کوی ؟ ځکه چه دا الحاف دے او دوی د الحاف نه ځان بچ ساتی -

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (۲۷۴)

په دوی باندے او نه به دوی غمژن کیږی.

وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ، دا جمله دا تاکید ترغیب دَ انفاق دَ پاره ده- او فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ. هم ترغیب دے په په حصول دَ اجر او ثواب سره یعنی الله تعالیٰ ستاسو په انفاق باندے عالم دے نو هغه ثواب دَچا نه ضائع کوی.

ربط ۲۷۴: په دے آیت کښ شپږمه خبره ده چه متعلق ده دَ انفاق فی سبیل الله سره او مراد دَ دینه تعمیم دَ اوقاتو او دَ احوالو دَ انفاق دے. او په آیت کښ بشارت اخرویه دے دَ پاره دَ انفاق فی سبیل الله.

اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ، آیت عام دے او ترغیب دے تعمیم دَ اوقاتو او احوالو ته دَ ضرورت او حاجت منا سب.
او ابن جریر او قرطبی وئیلی دی چه دا آیت دَ هغه کسانو په باره کښ دے چه دَ جهاد دَپاره اسونه تیار ساتی او هغه دَ شپے او دَ ورځے سریکی او کله پټ او کله ښکاره وی. نو په حدیث دَ بخاری کښ راغلی دی چه دَ هغے اسونو مرید ل په گیاه وغیره او په اوبو سره او دَ هغے خشتره او واړه یول به په ورځ دَ قیامت په میزان دَ حسناتو کښ اچول کیږی.
بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ، په دے تعمیم کښ اشاره ده چه تخصیص دَ یو شپے ریکه دَ جمعے شپه یا دَ مړی دَ خیرات دَپاره او له یا دویمه، دریمه شپه وغیره) خاص کول بدعت دے.
او دَ لفظ اللیل په مخکښ راوړلو کښ اشاره ده چه دَ شپے صدقه ورکول دَ ورځے دَ صدقے ورکولو نه افضل ده.
سِرًّا وَّعَلَانِيَةً، دَ حالاتو سره مناسب کله پټه صدقه اوکړی او کله ښکاره چه ریاء، مَنّ او اذی پکښ نه وی. دلته ئے هم سِرًّا مخکښ راوړو دلیل دے چه پټه صدقه غوره ده دَ ښکاره نه ځکه چه په ښکاره صدقه ورکولو کښ احتمال دَ ریاء او سمعت زیات وی.

الَّذِیْنَ یَاْکُلُوْنَ الرِّبٰوا لَا یَقُوْمُوْنَ

هغه کسان چه خوری سود نه به پاسیږی د قبرونو نه

اِلَّا کَمَا یَقُوْمُ الَّذِیْ یَتَخَبَّطُهُ

مګر پشان د پاسیدلو د هغه چا چه ګډ وډ کړے دی

الشَّیْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ ؕ ذٰلِکَ

هغه شیطان (سرکش پیری) د وجے د لیونتوب نه دا په دے وجے سره

بِاَنَّهُمْ قَالُوْٓا اِنَّمَا الْبَیْعُ

چه یقیناً دوی وائی یقیناً خرڅول

مِثْلُ الرِّبٰوا ۘ وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَیْعَ

پشان د سود دی او حلال کړے دی الله تعالیٰ خرڅول

وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ؕ فَمَنْ جَآءَهٗ

او حرام کړے ئے دے سود نو هغه څوک چه راغے هغه ته

مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ فَانْتَهٰی فَلَهٗ

وعظ د طرف د رب د هغه نه نو منع شو نو ده لره

مَا سَلَفَ ؕ وَاَمْرُهٗٓ اِلَی اللّٰهِ ؕ

هغه ده مخکښ تیر شوے (یاد کړے دے) او معامله د ده سپارلے شوے ده الله تعالیٰ ته

فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ، دا جزاء ده د الذین حکه
چه هغه متضمن دے معنی د شرط او علتیت لره۔
یعنی دغه انفاق علت دے د پاره د اجر عند الله۔
او لفظ د عند الله دلالت کوی په عظمت د دے اجر
باندے۔ او ذکر د اَجْرُهُمْ ثبوتی جزاء ده او ولاخوف الخ
ئے سلبی جزاء ده۔

وَمَنْ عَادَ فَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۚ

او څوک چې را وګرځي لو حلال ګڼړلو د سود ته نو دغه کسان او د والا دي

هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿۲۷۵﴾

دوی به په هغې کښ همیشه وی -

سے ۲۷۵- خلاصه د دریم باب :- د دے آیت نه تر سے ۲۸۳ پورې دریم باب دے په دیکښ اول زجر او تخویف دے هغه ربا خوړونکو ته چه هغوی ربا حلال ګڼړی. بیا بشارت دے په صفاتو د ایمان او د عبادت بدنیه او مالیه ځکه چه دغه صفات د اهل ربا (سود والو) نه دی - بیا منع ده د ربا نه مؤمنانو لره په آیت سے ۲۷۸ سے ۲۷۹ کښ - او ترغیب دے په قرض ادائی کښ نرمے معاملے کولو ته سره د تخویف نه په آیت سے ۲۸۰ سے ۲۸۱ کښ بیا په آیت د مداینه کښ ذکر د آدابو دے د پاره د دفعے د اختلاف او فساد په مالی معاملاتو کښ- لکه چه سود سبب د فساد دے- دا رنګ د دغه آدابو نه خلاف کول هم سبب د فساد دے- دا په دوه آیتونو کښ ذکر دی سے ۲۸۲ سے ۲۸۳ -

ربط سله هرکله چه انفاق فی سبیل الله ته ترغیبات ذکر شول نو اوس منع ذکر کوی د حرام مال ګټلو نه په طریقه د ربا سره- دے د پاره چه انفاق کول د خبیث مال نه هیڅ فائده نه ورکوی

سله انفاق سره مال کمیږی او په ربا سره زیاتیږی نو د دوی په مینځ کښ مناسبت د تضاد دے- نو اول سبب د برکاتو دے او دویم سبب د بے برکتئ دے په دُنیا او آخرت کښ-

سله په مخکښ آیت کښ بشارت اُخرویه ذکر شو په عمل صالح باندے چه انفاق شرعی دے نو په دے آیت کښ تخویف اُخروی دے په ناکاره عمل چه هغه ربا ده-

اَلَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ الرِّبٰوا، دا مستقل کلام دے ځکه چه د مقابل نه مخالف دے. د دے وجے نه په ماقبل ئې نه دے عطف کړے - د اکل (خوراک) نه مراد حاصلول دی د حرام مال

دَ ربا په طریقې سره - لیکن خوراک دَ ګټیا دا روا هم او لویې مقصد دَ
دَ دې وجې نه یې اکل ذکر کړو- او اشاره ده قباحت دَ ربوا والو ته
چه دَ دوي کار صرف خپله خیټه ساتل دي او دا مقصد خو دَ څناورو
هم وي- الرِّبٰوا رِبا په لغت دَ عربو کښ اُوچتوالي او زیادت ته
وئیلې شي لکه رَبَتْ په سورة حج ۵ کښ- او په شرع کښ ربا
دوه قسمه ده- اول ربا دَ نسیئې (قرض) او دویم ربا زیادت عوض.
اول قسم خو په جاهلیت کښ ډیر مشهور وو چه چاله قرض مال
ورکړي او بیا هره میاشت یا دَ کال په تیرېدو سره په هغې
پیسې مقدار زیاتوي لکه چاله سل روپئې قرض ورکړي او میاشت
پس ترېنه څلور روپئې دَ پاسه سل غواړي- دا رنګ په دې زمانه
کښ دَ بینکونو سره معامله کول چه دَ هغوي سره نقد مبلغ کیږدي
او هغوي ورله بیا میاشت یا کال وغیره پس اضافه ورکوي- یا دَ
هغوي نه قرض مبلغ راواخلي نو بیا هغوي ورپاندې مبلغ زیاتي
کوي یعنې سود ترېنه اخلي- دویم قسم (یعنې ربا دَ زیادت) مثلاً
دَ غنمو دانې یو من ورکوي او بیا دَ هغې په عوض کښ ترېنه
دوه منه اخلي اګرچه په ردي او کره کښ فرق وي نو دا په
حدیث مشهور سره حرام دي چه په هغه حدیث کښ شپږ
اجناس ذکر کړي دي چه دا به برابر وي دَ بدل سره او لاس
په لاس به وي- نور تفصیلي احکام دَ سود دَ احادیثو او فقهاءٍ
په کتابونو کښ معلومیدې شي- او په حدیث دَ ابن عباس
رضي الله عنهما کښ شته دې چه دَ ربا آیت دَ قرآن په آیتونو
(یعنې دَ احکامو) کښ دَ نزول په لحاظ سره آخري دې- او قرآن
کریم دَ دې ذکر په سورة روم ٣٦ کښ کړې دې هلته مفسرینو
لیکلي دي چه څوک چاله هدیه (تحفه) ورکوي او نیت دَ
زیاتوالي کوي نو دا هم سود دې- دا رنګه دا یې صفت دَ یهودیانو
ذکر کړې دې په سورة نساء ١٦١ کښ- او مؤمنان یې منع
کړي دي په سورة آل عمران ١٣٠ کښ-
لَا یَقُوْمُوْنَ، ابن عباس رضي الله عنهما، سعید بن جبیر، قتاده

اودَ مجاهد نه نقل دی چه دَ دینه مراد قیام دے دَ قبرونو نه په ورځ دَ بعث بعد الموت کښ او تائید دَ دے دَ ابن مسعود رضی الله عنه قرائت دے چه په هغے کښ یوم القیامة ذکر دے۔ په دے معنیٰ سره دا تخویف دے۔ او دَ ابن عطیه نه نقل دی چه دلته قیام په معنیٰ مجازی سره مراد دے یعنی ژوند تیرول دَ دوی په ډیر حرص دَ مال سره۔ اوځان سترے کول او ترېخ او سترے ژوند تیرول دَ دوی دَ لیونو پشان۔ یعنی دے دَ مال لیونے دے سروالے اوبروالے کوځی۔ تو په دے معنیٰ سره دَ سود والو بدحالی مراد ده په دُنیا کښ۔ غوره په دیکښ اول تفسیر دے دویم یکښ صرف دَ تاویل په طور سره داخلیدلے شی۔

إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ، خبط په اصل کښ داسے وهلو ته وئیلے شی چه په هغے سره ګډ وډ شی۔ او په عرف کښ ګډوډ کیدلو دَ تګ (رفتار) ته وئیلے شی۔ او دَ شیطان نه مراد سرکش جنی دے۔ او په دیکښ دوه احتمالات دی۔ اول دا چه الله تعالیٰ قدرت ورکړی شیطان جنی لره په یو انسان باندے تر دے پورے چه دَ هغے انسان دماغ اوحواس خراب شی نوهغه ته مجنون وئیلے شی۔ ابوحیان وئیلی دی چه دَ دے عقلی مانع نیشته۔

دویم دا چه الله تعالیٰ په انسان کښ ګډوډ کیفیات پیدا کړی اونسبت ئے شیطان ته مجازاً یا تشبیهاً وی۔

مِنَ الْمَسِّ، په دیکښ دَ مفسرینو دوه اقوال دی۔ اول دا چه دا متعلق دے په يَتَخَبَّطُهُ پورے دَ پاره دَ دفع کولو دَ وهم۔ او وهم دا دے چه تخبط په معنیٰ مجازی سره وی یعنی اغواء کناهونه خائسته کول دی۔ نو مِنَ الْمَسِّ سره داوهم لرے شو او په دے معنیٰ سره مراد دَ مس نه تسلط دَ جنی شیطان دے په انسان باندے یعنی دَ انسان په بدن کښ داخل شی نو دَ هغه په حواسو او دماغو باندے

اثر اوکړي - قرطبي وائي چه دا آیت دلیل دے د هغه چا په ردکښ چه په انسان باندے د پیریانو د راتللو نه انکار کوي او بل دلیل د دے صحیح حدیث دے چه الشیطان یجري من الانسان مجری الدم (شیطان د انسان په هغه رګونو کښ ګرځي چه په کوموکښ وینه چلیږي) (تاویلونه کول د معتزلو مسلك دے) زمخشري معتزلي هم وئیلي دي چه ما د دے پیریانو په باره کښ ډیر واقعات لیدلي دي چه د هغے نه انکار کول د مشاهداتو نه انکار کول دي - دویم قول دا دے چه دا متعلق دے په لا یقومون پورے او مس نه مراد جنون دے تو بنا په تاویل د ابن عطیه باندے د جنون نه مراد تشبیهي جنون دے - لیکن بنا په اول تفسیر باندے ابوحیان په دے (تعلق په لا یقومون پورے) باندے په دوه طریقو سره رد کړیدے - اوله طریقه دا ده چه په قیامت کښ جنون حقیقي په خلقو باندے نه راځي - او دویمه طریقه دا ده چه د إِلَّا استثنائیه نه روستو بولفظ د ماقبل د استثناء سره تعلق نه شي لرلے مګر هله چه د توابعو د استثناء نه وي او دلته خو داسے نه د -
ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوٓا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبٰوا ۘ په ذٰلِكَ سره اشاره ده دغه قیام مخصوص ته چه عذاب دے یا قباحت د شان دے - یا ذٰلِكَ اشاره ده حوراکت د ربٰوا ته - یعني مال د ربٰوا د دے وجے نه خوري چه حلال یې ګنړي - او حاصل د قول د دوي دا دے چه بیع او ربٰوا یو شان دي په دواړوکښ زیاته فائده حاصلیږي - یعني زیاتوالے په وخت د رارسیدلو د لینې د قرض کښ زیکه چه دا عادت دے د سود والو پښان د زیات ثمن اخستلو په اول د عقد کښ - دلته مقصد د دوي تشبیه د ربٰوا ده په جواز کښ د بیع شرعي سره تو جمله یې برعکس او وئیله د ډیرے مبالغے د پاره - او دا تشبیه صریح دلیل دے چه دوي ربٰوا حلال ګنړي او ربٰوا چه څوک حلال ګنړي نو هغه صریح کافر دے - د دے وجے نه معلومه شوه چه دغه

عذاب (لا يقومون آه) دَ کافرانو دَ پاره دے.
وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا، دا دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دَ هغوی دَ قول رد دے یعنی دَ تحلیل او تحریم اختیار الله تعالیٰ سره دے او هغه دَ دے دواړو فرق کړیدے. ابوحیان وئیلی دی چه دا دلیل دے چه دَ نص په مقابله کښ قیاس جائز نه دے. او فرق دَ دے په معنیٰ لغوی، اصطلاحی او آثار مرتبه کښ پوره واضح دے. بعضو وئیلی دی چه دا هم دَ کافرانو کلام دے چه دَ الله تعالیٰ په فرق باندے دوی تشنیع کوله. دا ئے بل کفر دے چه سره دَ علم نه په حکم دَ الله تعالیٰ باندے مسخرے کوی.
فَمَنْ جَآءَهٗ مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ، موعظة تانیث حکمی دے دَ دے وجے نه ورسره فعل مذکر ذکر دے. او دلته دَ موعظه نه مراد قرآن دے او وعید او تحریم دَ ربٰوا دے. دا مختلف اقوال دی لیکن مقصد ئے یو دے. مِّنْ رَّبِّهٖ متعلق دے په جاء پورے یا صفت دَ موعظة دے په تقدیر سره لیکن چه دواړه حالتونو کښ عظمت دَ دے وعظ ته اشاره ده او په لفظ دَ رب کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ دَ خپلو بندګانو اصلاح کوی په دے حکم سره نو قبلول ئے ضروری دی.
فَانْتَهٰى، تابع شوُ دَ نهی، توبه کړیُ دَ معاملے دَ ربٰوا نه او دَ هر حرام کسب نه. او ابن کثیر دلته حدیث دَ زید بن ارقم رضی الله عنه ذکر کړیدے چه هغه دَ یو زنانه نه یو وینزه په قرض په اته سوه درهمه (روپئ) اخستلے وه. بیا ئے په هغه زنانه باندے دَ قرض دَ نیتے نه مخکښ په نقدو په شپږ سوه درهمه خرڅه کړه. نو عائشه رضی الله عنها هغه زنانه ته او وئیل چه تا کوم خرڅول اخستل کړیدی نو دا ډیر ناکاره کار دے او زید بن ارقم رضی الله عنه ته ئے خبر ورکړو چه که

توبه دے اُوکړه نو الله تعالیٰ به ستا جهاد باطل اوګرځوي.
نو بیا هغې زنانه زید بن ارقم رضی الله عنه ته هغه
دوه سوه درهمه معاف کړل. نو عائشه رضی الله عنها دا آیت
اُولوستلو. اشاره ده چه آیت هر فاسد عقد ته شامل دے.
فَلَهُ مَا سَلَفَ، دَ سلف نه مراد هغه عمل دَ ربٰوا دے چه مخکښ
دَ تحریم نه یا دَ نزول دَ دے آیت نه چا کړے وې نو دَ هغې ګناه
په هغه باندے نیشته. یا مراد دا دے چه کوم قرض په طور
دَ ربٰوا سره مخکښ دَ توبے نه یئے ورکړے وو نو روستو دَ توبے نه
به صرف هغه قرض واپس اخلی سود به ور پسے نه اخلی.
وَاَمْرُهٗ اِلَى اللهِ، دَ هٗ په ضمیر کښ څلور اقوال دی. اول دا چه دا
راجع دے منتهی ته (منع کیدونکی ته دَ سود نه) او امر نه مراد
ټول امور دَ هغه دی یا صرف امر دَ ربٰوا دَ هغه دے چه سپارلے
شوے دے الله تعالیٰ ته په جزاء او حساب کښ. یا په معافئ کولو
او سزا ورکولو کښ. یا دَ دهٗ اجر دَ وعظ دَ قبلولو دَ وجے نه په الله
تعالیٰ باندے دے (حسن). دویم قول دا چه دا راجع دے ما سلف
ته یعنی معامله دَ تیر شوی عمل دَ سود الله تعالیٰ ته راجع ده
په عفو کولو او تاوان زائیل کولو کښ. دریم قول دا چه ضمیر
راجع دے خاوند دَ ربٰوا ته چه پخوی هغه لره په منع کیدلو
باندے یا واپس کیدلو ګناه ته. څلورم قول دا دے چه دا راجع
دے نفس ربٰوا ته په تحریم دَ الله تعالیٰ کښ ربٰوا لره.
وَمَنْ عَادَ، مراد دا چه واپس اُوګرځی دغه قول ته چه اِنَّمَا الْبَيْعُ
مِثْلُ الرِّبٰو یعنی ربٰوا حلال اُوګنړی. عود نه مراد صرف فعل
دَ ربٰوا نه دے ځکه چه صرف په عمل دَ ربٰو سره همیش والے
په جهنم کښ نه حاصلیږی به سبب دَ نورو نصوصو سره.
فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ، معتزله لکه زمخشری
وئیلی دی دا آیت دلالت کوی چه فاسق به همیشه په جهنم
کښ وی لیکن مخکښ جواب اُوشو چه دلته مراد دَ ربٰوا حلال
ګنړونکے دے او هغه کافر دے او دَ دے وجه دا ده چه عود

يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ ؕ

کموی | الله تعالی | مال دَ سود | او زیاتی کوی مال دَ صدقاتو

وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ اَثِيْمٍ (۲۷۶)

او الله تعالی مینه نه کوی دَ هر ډیر کفر کوونکی ډیر گنهگار سره

رجوع ده اول قول ته او دلته اول قول دا دے چه اِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبٰوا۔

۲۷۶:- په دیکښې تحذیر دے دَ ربٰوا نه په ذکر دَ فرق سره دَ ربٰوا او دَ صدقاتو په مینځ کښې۔ او وجه دَ تقابل دا ده چه ربٰوا کوونکے صدقات نه کوی دَ وجے دَ حرص دَ ډیر مال نه۔

يَمْحَقُ، محق په اصل کښې نقص او محو کولو (ورانولو) ته وئیلے شی۔ محق دَ ربٰوا په دُنیا کښې په څلورو وجوهو سره دے۔ اوله وجه دا ده چه عاقبت دَ هغے فقر او زوال دَ برکت دے۔ دویمه وجه دا ده چه عاقبت دَ هغے زوال دَ عدالت او امانت دَ هغه شخص دے۔ نو بیا هغه فاسق شی او زړهٔ ئے سخت شی۔ دریمه وجه دا ده چه هر هغه کس چه دهٔ ترینه سود اخستلے دے نو هغه ورته خیرے کوی نو ددهٔ دَ نفس او مال نه برکات ختم شی۔ څلورمه وجه دا ده کله چه دے په خلقو کښې مشهور شی چه دے مالدار شوید دے په سبب دَ حرام مالونو سره نو بدمعاشان، غلاگر او ډاکوان هم په دهٔ پسے دَ نقصان کولو کوشش کوی۔ او محق په آخرت کښې په درے وجوهو سره دے۔ اول قول دَ ابن عباس رضی الله عنهما دے چه دَ دے سودگر عبادت نه قبلیږی۔ دویم دا چه په دهٔ باندے گناه او عقوبت پاتے شی او مال به ترینه زر زر هلاک شی۔ دریم دا چه نیکان مالدار به دَ فقراؤ نه درے سوه کاله روستو جنت ته داخلیږی نو

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ
يقيناً هغه كسان چه ايمان ئې راوړے دے او عملونه نيک كړي دي (مطابق د دې سره)
وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ
او پابندي كوي د مانځه او وركوي زكوٰة دوى لره

په حرام مال سره مالدار شوي كسان خو به ډير روستو وي۔
وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ، ارباء زياتي كولو ته وئيلے شي دا هم په دُنيا او آخرت دواړو كښ شته او دا په ضد د هغه امور وكښ دي چه په محق كښ ذكر شول (اللباب) او ابن كثير وئيلي دي چه محق دا دے چه هغه مال د ده بالكل واخلي يا ئې د بركت د هغے نه محرومه كړي يا رولك او غرق كړي دغه شخص لره په دُنيا كښ او عذاب ورله وركړي په آخرت كښ۔ او د دے پيشان په سورة روم ۳۹ كښ هم دي۔
وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ، ابن كثير وئيلي دي چه د دېنه مراد كافر دے په زړه سره او هغه چه گناهگار وي په وينا او په عمل كښ۔ او وجه د مناسبت دا ده چه سود كوونكے په تقسيم د الله تعالى باندے رضا نه دے او په شرعي كسب باندے اكتفاء نه كوي او كوشش كوي چه په باطلے طريقے سره مالونه حاصل كړي نو دے منكر دے د نعمتونو د الله تعالى نه او گنهگار دے په خوراک د مالونو د خلقو سره په باطلے طريقے سره۔ ابوحيان وئيلي دي چه په دې كښ اشاره ده چه ربوا كول عمل د كافرانو دے۔ او لفظ اثيم ئې د مبالغے او تاكيد د پاره ذكر كړيدے۔ او صاحب اللباب وئيلي دي چه كفار او اثيم اوزان د مبالغے دي۔ معنىٰ دا ده چه كفر كول او گناه كول د ده عادت وي او دا لائق ده د هغه چا سره چه د ربوا د حرمت نه انكار كوي۔ او بله وجه دا ده چه وصف د كفار راجع دے

أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ

ثواب دَ دوی دے په نیز دَ رب دَ دوی او نه به وی هیڅ ویره

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾

په دوی باندے او نه به دوی غمژن کیږی۔

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ

اے ایمان والو اویریږئ دَ الله تعالیٰ نه

هغه چا ته چه ربٰوا کوی او حلال ئے گنړی۔ او وصف دَ اثیم راجع دے هغه چا ته چه حلال ئے نه گنړی لیکن کوی ئے۔

۲۷۷:۔ دَ تخویف نه روستو بشارت دے او ذکر دَ احسن صفاتو دے روستو دَ ذکر دَ قبیح صفاتو نه او دَ دے صفاتو تفسیر مخکښ تیر شوے دے۔

سوال:۔ هر کله چه یو شخص صحیح ایمان لری او په فرضیت دَ مونځ او زکوٰة باندے عقیده لری نو په نیز دَ اهل سنت والجماعت دے دَ اهل الثواب نه دے۔ نو معلومه شوه چه استحقاق دَ ثواب موقوف نه دے په عمل کولو باندے نو دائے ولے ذکر کړیدی؟

جواب:۔ دَ اعمالو ذکر دَ ثواب دَ استحقاق دَ پاره نه دے بلکه دَ دے وجے نه چه دَ هر عمل صالح دَ پاره څه اثر شته دے په حصول دَ ثواب کښ په خلاف دَ مذهب دَ مرجئه سره۔ نو په دے اعمالو سره زیادت دَ درجاتو حاصلیږی یا دخول اولاً دَ جنت حاصلیږی (اللباب)۔

او په دے آیت کښ ایتاء الزکوٰة خصوصاً دَ ربٰوا کوونکو په مقابله کښ دے چه ربٰوا والا زکوٰة نه ورکوی نو معلومه شوه چه ربٰوا دَ مؤمن صفت نشی کیدے۔

وَذَرُوْا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰوٓا اِنْ

او پرېږدئ هغه چه باقي دي دَ سود نه که چرې

كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۷۸﴾

يئ تاسو مؤمنان

۲۷۸:۔ مخکښ آيتونو کښ رد وو په عقيدهٔ دَ کافرانو چه ربٰوا حلاله گڼړي نو اوس خطاب کوي مؤمنانو ته۔ دا رنګ فَلَهٗ مَا سَلَفَ کښ احتمال وو چه کوم مالونه دَ سود مخکښ دَ تحريم نه قبضه کړې شوي دي دَ هغې حساب نيشته دا رنګ احتمال وو چه کوم مقدار قبض کړې شوې نه وي ليکن په ذمه دَ مقروض کښ پاتې شي نو هغه په هم جائز وو۔ نو په دې آيت کښ دويم احتمال رد کوي په دې قول سره چه وَذَرُوْا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰوٓا چه غير مقبوض مال دَ ربٰوا حلال نه دې هغه پرېږدئ۔ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ، په خطاب سره تيزي ورکول مقصد دي په راتلونکي حکم منلو سره۔ او تقوٰی په امر سره ذکر کولو کښ اشاره ده چه دَ ربٰوا دَ مال پرېښودل دَ ځان دَ پاره سبب دَ وقايت (بچکيدلو) اوګر ځوئ دَ اور دَ جهنم نه۔ مَا بَقِيَ کښ دوه احتمالات دي اول هغه مال چه په ذمه دَ مقروض پاتې دَ ربٰوا دَ مال نه باقي پاتې شوې وي۔ دويم دَ ديته مراد دَ ربٰوا هغه تور طريقې دي چه په عام ملکونو کښ جاري دي۔ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ، دا شرط دَ تاکيد دَ پاره دې۔ او دَ مقاتل نه روايت دې چه اِنْ په معنٰی دَ اِذْ سره دې يا په اول خطاب کښ ايمان دَ ژبې مراد دې او په لفظ مؤمنين کښ ايمان دَ زړه مراد دې۔

فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ

نو كه چرې او نكړۍ تاسو دا كار نو خبر شئ په جنګ سره

مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ۖ وَإِن تُبْتُمْ

دَ طرف د الله تعالىٰ او دَ رسول دَ هغه نه او كه چرې تاسو توبه اوكړه

فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ

نو تاسو لره اصل دَ مالونو ستاسو دے تاسو به ظلم نه كوئ

وَلَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾

او نه به په تاسو بانديے ظلم كيږي شي۔

سـ۲۷۹۔ په ديكښ تخويف شديد دے هغه مسلمانانو ته چه دَ تحريم نه روستو ربٰوا كوي۔

فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا، مراد دَ فعل نه ترك دے يعني پريخودل دَ مابقي دَ ربٰوا او دارنګ پريخودل دَ نفس ربٰوا كولو ته هم شامل دے۔او امام رازي وئيلي دي چه مراد دا دے چه تاسو اقرار نه كوئ په تحريم دَ ربٰوا باندے۔

فَأْذَنُوا، دَ اذن نه مراد علم دے يا استماع ده يعني غوږ كيخودل۔

بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ، دا كه په باره دَ كافرانو كښ وي چه ربٰوا حلال ګڼړي نو مراد دا دے چه دَ دوي سره قتال كول پكار دي په حكم دَ الله تعالىٰ او دَ رسول دَ هغه سره۔ او كه دا په باره دَ مؤمنانو كښ وي نو مراد دَ ديته مبالغه ده په زور نه وركولو كښ۔ او مراد دا دے چه مسلمان بادشاه له پكار دي چه دَ هغوي سره جنګ اوكړي پشان دَ باغيانو۔ بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ، كښ لفظ دَ حرب نكره ده او نسبت الله تعالىٰ ته دَ مبالغے او دَ تاكيد دے په دے جنګ كښ۔ او حرب الله ئے نه دے وئيلے ځكه چه په هغے كښ احتمال وو دَ اضافت كولو مفعول ته او حال دا دے چه

وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ

اوکه چرے وی قرضدارے تنګسیا والا نو لازم دے په تاسو باندے مهلت ورکول

مَيْسَرَةٍ ۚ وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ

وخت د مالداری ته او خیرات کول (معاف کول) غوره دی

لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٨٠﴾

تاسو لره که چرے تاسو علم لرئ۔

دلته حرب دے د طرف د الله تعالیٰ نه او په دیکښ ډیر تاکید دے۔ وَرَسُولِهِ، حرب د رسول په ژوند د هغه کښ قتال کول دی یخپله او روستو د وفات د هغه نه قتال کول دی په حکم د سنت د هغه سره۔ وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ، دا ترغیب دے توبے کولو ته د هر قسم ربوا نه۔ تفصیل د توبے قرطبی لیکلی دے هغه دا دے چه د دهٔ په لاس کښ مال د ربوا موجود او معلوم وی او د چا نه ئے چه اخستلے وی نو هغه هم حاضر وی نو هغه ته دے واپس ورکړی او که حاضر نه وی نو هغه دے را اوغواړی۔ او که هغه د ژوند نه نا امیده شی نو تصدق دے اوکړی په هغه مال سره۔ دا رنګ دا حکم د هر هغه مال دے چه په ظلم او حرامه طریقے سره حاصل کړے شوے وی۔ رُءُوسُ جمع د راس ده اصل مال مراد دے چه د ربوا د پاره ئے ورکړے وی۔ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ، اوله صیغه د معلوم ده او مفعول ئے پټ دے یعنی الغریم المقروض (تاسو به په قرضدار باندے ظلم نه کوئ) یعنی د راس المال نه به زیات نه غواړئ۔ او وَلَا تُظْلَمُونَ، صیغه د مجهول ده یعنی په تاسو به ظلم نه شی کیدے په نقصان د راس المال سره یا په تال متول کولو سره۔ په اوله جمله کښ ظلم په معنیٰ د زیادت دے او په دویمه کښ په معنیٰ د نقصان باندے دلالت کوی۔ نو معلومه شوه چه

لفظ ظلم په اصل لغت کښې شریک دے په زیادت او نقصان دواړو کښې -

۲۸۰ په دے کښې د خاوند انو د قرض د پاره یو ادب دے او دا معطوف دے په قول باندے چه فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ، یعنی خاوند د قرض د پاره حق دے د طلب کولو د قرض اړی ته فی الحال په دے شرط چه د هغه د ادا کولو وس رسیدړی او که د هغه د ادایئ یې وس نه وی نو خاوند د قرض دے هغه له څه وخت مهلت ورکړی- قرطبی د ابو هریره رضی الله عنه او د حسن او د عامو فقهاؤ قول ذکر کړیدے چه دا آیت عام دے هر تنګدست شخص ته که د ربوا په باره کښې وی او که نور قرضونه وی- کَانَ، دا تامه دے او په معنی د وجود او وقوع سره دے نو دا صرف فاعل غواړی- او کوفیانو وئیلی دی چه دا کان ناقصه دے او خبر یې پټ دے چه لفظ د غریمًا دے- او عُسْرَةٍ (تنګوالی) د حال دے په سبب د نیشتوالی د مال سره- فَنَظِرَةٌ، د دے مبتداء پټه ده یعنی فَالْوَاجِبُ، یا خبر یې پټ دے یعنی فعلیکم نظرة، او نظرة په معنی د انتظار او مهلت ورکولو دے- إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ، دا د یُسْر نه اخستلے شوے- او مراد د دینه وخت د یسار (مقابل د اعسار) دے- او مراد تر دینه حصول د دومره مال دے چه په هغې سره هغه قرضه ادا کولے شي- دیره مالداری مراد نه ده- وَأَن تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَّكُمْ، أَن تَصَدَّقُوا په تاویل د مصدر سره مبتداء ده او په دیکښې دوه اقوال دی- اول قول دا چه د دینه مراد مهلت ورکول دی او تصدق یې ورته د ترغیب د پاره وئیلے دے- دویم دا چه مراد د دینه قرض معاف کول دی قرضدار ی ته او دا دلیل دے چه قرضه معاف کول قرضداری ته صدقه ده- خَيْرٌ لَّكُمْ، نه مراد دا چه غوره دے په نسبت د مهلت ورکولو- او وجه د خیریت (غوره والی) یې دا ده چه دا سبب د ښه تعریف کولو دے په دُنیا کښې او سبب د لوئے ثواب دے په آخرت کښې - إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ، دا شرط قید دے

وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى

او ویره اوکړئ د داسې ورځ نه چه او به کرځولے شئ تاسو په هغې کښ

اللَّهِ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا

الله تعالیٰ ته بیا به پوره ورکړے شي هر نفس ته بدله د هغه

كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٨١﴾

عمل چه دهٔ کړے وی او په دوی باندے هیڅ ظلم نشي کیدلے۔

د پارۀ د خیریت یعنی فرق د ښه او بد په علم سره معلومیږی۔ یا دا شرط صرف د ترغیب د پارۀ دے۔ او تعلمون نه مراد صرف معنیٰ مصدری ده یعنی که تاسو علم والا یئ۔ یا ئې مفعول پټ دے یعنی فَضْلَ التصدق علی الانظار، که پوهیږئ په غوره والی د تصدق سره په مهلت ورکولو باندے۔

سلا۲۸۱:- په دے آیت کښ تخویف اُخروی دے د پاره د رغبت د عمل کولو په تیر شوے احکامو باندے او خصوصًا د ربوا نه بچکیدل او د تنګ ست سره ګزارۀ کول په مهلت ورکولو یا په تصدق کولو سره۔

يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ، د یومًا نه مخکښ عذاب او حساب لفظ پټ مراد دے۔ او رجوع الی الله نه مراد پیش کیدل دی د پاره د سوال، حساب او میزان۔ الی الله لفظ دلیل دے چه په هغه ورځ د الله تعالیٰ نه سیوا بل ځائے د پناهٔ نیشته او بادشاهی هم په هغه پورے خاص ده۔ او د اکثرو مفسرینو په نیز د دے یوم نه مراد د قیامت ورځ ده۔

ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ، د پیش کیدلو نه روستو جزا او سزا ده د دے وجے نه ئې ثم ذکر کړو۔ او تفصیل د توفی په سورۃ زلزال سے۔۸ کښ دے۔ قرطبی وئیلی دی چه ما کسبت دلیل دے چه دارو مدار د جزاء او سزا په عقیده او اعمالو باندے دے۔ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ،

يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَدَايَنْتُمْ

اے ایمان والو هر کله چه معامله کوئ تاسو

بِدَيْنٍ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوْهُ ؕ

په قرض سره تر نیټې مقرر پورے نو او لیکئ هغه

وَلْيَكْتُبْ بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ بِالْعَدْلِ ۪

او لیکل دِ اوکړی په مینځ ستاسو کښ لیکونکے په انصاف سره

وَلَا يَاْبَ كَاتِبٌ اَنْ يَّكْتُبَ كَمَا

او انکار دِ نه کوی لیکونکے دَ لیکلو نه لکه چه

عَلَّمَهُ اللّٰهُ فَلْيَكْتُبْ ۚ وَلْيُمْلِلِ

خودنه کړے ده دَ ته الله تعالٰی نو لیکل دِ کوی او اِملاء دِ کوی

الَّذِىْ عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ

هغه څوک چه په هغه باندے قرض دے او ویره دِ کوی دَ الله تعالٰی نه

رَبَّهٗ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْــًٔا ؕ فَاِنْ

چه رب دَ ده دے او کمے دِ نه کوی دَ هغے نه هیڅ خیز نو که چرے

كَانَ الَّذِىْ عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيْهًا

دی هغه کس چه په هغه باندے قرض دے بے عقله

اَوْ ضَعِيْفًا اَوْ لَا يَسْتَطِيْعُ اَنْ يُّمِلَّ

یا کمزوری بدن والا یا طاقت نه لری چه اِملاء اوکړی

دلته لفظ دَ ظلم کمی او زیاتی کولو دواړو ته شامل دے.
او مناسبت دَ دے آیت دَ مخکښ سره دا دے که تاسو
غواړئ چه الله تعالٰی دے مونږ سره په ورځ دَ حساب
باندے آسانه معامله اوکړی نو تاسو هم په دُنیا کښ دَ

هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهٗ بِالْعَدْلِ ط

هغه نو املاء دِ اوکړی مختیار د هغه په انصاف سره

وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ ج

او گواهان طلب کړئ دوه گواهان د نارینو ستاسو

فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ

نو که چرے نه وو سړی نو یو سړے

وَّامْرَاَتٰنِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ

او دوه زنانه (دِ شهادت اوکړی) د هغه چا نه چه تاسو خوخوئ هغوی د

الشُّهَدَآءِ اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰىهُمَا

گواهئ کوونکی نه که هیریدل اوکړی د یو د دے دواړه

فَتُذَكِّرَ اِحْدٰىهُمَا الْاُخْرٰى ط وَ

نو یاداشت به ورکړی یو هغې بلې ته او

لَا يَاْبَ الشُّهَدَآءُ اِذَا مَا دُعُوْا ط

انکار دِ نه کوی گواهان کله چه اوبللے شی د پاره د گواهئ

وَلَا تَسْـَٔمُوْٓا اَنْ تَكْتُبُوْهُ صَغِيْرًا

او ځان مه ستړے کوئ د لیکلو د هغې نه که لږ وی

الله تعالیٰ د بندګانو سره آسانه معامله اوکړئ۔ د امام بخاری په روایت کښ دی چه دا په نزول کښ د قرآن کریم آخری آیت دے۔ او په بل روایت د ابن عباس رضی الله عنهما کښ دی چه دا آخری د ما انزل الله دے لیکن جبرئیل علیه السلام اوئیل چه دا د دوه سوه اتیا آیت نه روستو کیږده۔ بیا اختلاف دے چه نبی صلی الله علیه وسلم د دے

أَوْ كَبِيرًا إِلَىٰ أَجَلِهِ ذَٰلِكُمْ أَقْسَطُ

یا ډیر دی تر نیټې د هغه پورے دا حکم ډیر انصاف دے

عِندَ اللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ

په نیز د الله تعالیٰ او ډیر برابرونکے دے د پاره د ګواهۍ ورکولو

وَأَدْنَىٰ أَلَّا تَرْتَابُوا إِلَّا أَن تَكُونَ

او ښه نژدے دے دې خبرے ته چه شک به نه کوئ لیکن که وی

تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا

تجارت لاس په لاس چه اړوئ تاسو هغې لره

بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ

په مینځ ستاسو کښې نو نیشته په تاسو باندے ګناه

أَلَّا تَكْتُبُوهَا ۗ وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ

که نه لیکئ تاسو هغه او ګواهان اونیسئ کله چه تاسو خرڅول کوئ

وَلَا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ ۚ

او ضرر دې نه ورکوی لیکونکے او نه ګواه

وَإِن تَفْعَلُوا فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ ۗ

او که چرے تاسو اوکړو دا کار نو یقیناً دا نافرمانی انښتے ده په تاسو پورے

وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ وَيُعَلِّمُكُمُ اللَّهُ ۗ

او ویره اوکړئ د الله تعالیٰ نه او تعلیم درکوی تاسو ته الله تعالیٰ

وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿۲۸۲﴾

او الله تعالیٰ په هر څیز باندے ښه عالم دے ۔

آیت نه یو اتیا یا یویشت یا اوه ورځے یا درے ورځے روستو وفات شوے دے - والله اعلم -

۲۸۲ ربط له:- هرکله چه امر اوشو په انفاق فی سبیل الله او په
ترك دَ ربٰوا سره نو په دواړو کښې وهم وو دَ کموالی دَ مال. نو اوس
ذکر کوی حلاله طریقه دَ زیاتوالی دَ مال سره دَ طریقے دَ حفاظت نه
۲ له مخکښې منع اُوشوه دَ ربٰوا نه چه هغه ذریعه دَ فساد ده- نو اُوس
دَ فساد نه دَ بچکیدلو دَ پاره په معاملاتو کښې نورے طریقے ذکر
کوی- ۳ له دَ ربٰوا او سَلَم (دَ یو څیز قیمت پیشگی ورکول) صورتونه
یو بل ته نیزدے دی- په ربٰوا کښې مخکښې مال ورکوی او په
سلم کښې هم لیکن ربٰوا حرامه طریقه ده نو اوس حلاله طریقه
ذکر کوی-

دَ آیت خصوصیت:- دا آیت په ټول قرآن کریم کښې اُوږد آیت
دے او دیته آیت المداینه وائی- بعض مفسرینو وئیلی دی
چه په دے آیت کښې سره دَ روستو آیت نه دَ معاملاتو پنځویشت
احکام دی او موږ درے دیرش لیکلی دی- مفسرینو وئیلی دی
چه په دے آیت کښې اوامر دَ ارشاد دَ پاره دی لیکن مقصد دا نه
دے چه دا صرف مستحب دی بلکه هرکله چه گمان وی دَ
فساد او اختلاف پیداکولو په سبب دَ مخکښې قرض ورکولو سره
نو په دغه وخت کښې دا اوامر دَ ایجاب دَ پاره دی او هرکله چه
گمان دَ فساد او اختلاف لږ وی نو وړ پسے آیت دَ رهان ذکر
کوی- او چه هیڅ یره دَ اختلاف نه وی نو بیا ئے مسئله دَ امانت ذکر کړیده
یَآیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا، خطاب په دے لفظ سره دلالت کوی چه
معاملات شرعیه جاری کول هم دَ ایمان مقتضٰی ده-

اِذَا تَدَایَنْتُمْ، هرکله چه دَ تجارتونو دَ پاره قرض معاملے لوئے
سبب دے ځکه چه کله یو انسان فهم او فراست لری په
تجارت او صنعت پاندے لیکن مال ورسره نه وی او بل
انسان سره مال وی لیکن پوهه نه لری دَ تجارت کولو
نو دَ دے دواړو دَ تداین په معاملے سره دَ تجارت (مال زیاتی
کیدلو) دروازه پرانستلے کیږی. دَ دے وجے نه معامله دَ قرض
پورې ئے اول ذکر کړه- تداین باب تفاعل دے یعنی چه یو

دَبل سره معامله دَقرض اوکړی برابره خبره ده که ورکړونکے دَ
قرض وی اوکه اخستونکے دَ قرض وی۔ دارنګ که روپئ پیسے
قرض وی او مبیعه (اخستلے شوے) نقد وی تو دیته قرض
سودا وئیلے شی یا مبیعه قرض وی او قیمت ئے نقد وی نو
دیته سلم او سلف وئیلے شی۔ نو دا دواړه قسمونه دَ سودا
کولو جائز دی۔ او بیعه دَ قرض په قرض باندے جائز نه ده۔
بِدَیْنٍ، دَ دے لفظ په ذکر کولو کښ دره فائدے دی۔ اول
دا چه هر قسم ته شامل شی که لږ وی اوکه ډیر وی۔ قیمت
وی اوکه سودا وی۔ دویمه دا چه روستو ضمیر دَ فَاكْتُبُوْهُ دیته
راجع شی۔ دریمه دا چه تداین مجازًا جزاء او بدله ورکولو ته
هم وئیلے شی۔ نو په لفظ دَ دَیْنٍ سره معلومه شوه چه دغه
معنیٰ مجازی مراد نه ده۔ قرطبی وئیلی دی چه دین (قرض)
عبارت دے دَ هر هغه معاملے نه چه یو دَ عوضینو نه په هغے کښ
نقد وی او بل عوض پکښ قرض وی۔ او ابن عاشور وئیلی دی
چه دین مؤخر عوض ته وئیلے شی۔ اِلٰٓى اَجَلٍ، اجل په لغت
کښ هغه وخت ته وئیلے شی چه دَ یو څیز دَ انتهاء دَ پاره مقرر
شوے وی۔ نو اجل دَ قرض دا دے چه دَ هغے یو انتها په راتلونکے
زمانه کښ مقرر وی۔ مُسَمًّى، دا هغه دے چه معین کړے شی
په یو خاص نوم سره۔ نو دا دلیل دے چه نا معلومه نیټه
مقرر کول صحیح نه دی لکه لئونه او غوبلے شروع کیدل
دَ فصل رارسیدل یا دَ حاجیانو واپس کیدل وغیره۔ لفظ
دَ تَدَايَنْتُمْ مستلزم دے نیټے لره لیکن دلته مقصد تعین دَ
هغے وو نو دَ دے وجے نه لفظ دَ اجل ئے صراحتًا ذکر کړو او تعین
دَ نیټے په قرض سودا کښ شرط دے۔ او په سلم کښ دَ دینه
علاوه نور شرطونه هم شته۔ قرطبی وئیلی دی چه نهه شرطونه
دی او هغه په احادیثو کتلو سره معلومیږی۔ فَاكْتُبُوْهُ، ضمیر
راجع دے دَیْنَ او اجل مسمی دواړو ته په دے امر کښ۔
او دَ دینه روستو او امر کښ دَ اهلِ علمو اختلاف دے چه

د وجوب د پاره دی او که د استحباب د پاره دی۔ لیکن غوره داده (لکه چه مخکښې ذکر شوی دی) چه اکثر حالاتو کښې په یو بل باندې اعتماد نه وی نو غالب گمان داوی چه په دا سې معاملو سره جگړې او فساد پیدا کیږی او دفع د فساد واجب ده۔ نو دا او امر د وجوب د پاره دی په دلیل د روستو قول سره چه اَدْنٰی اَلَّا تَرْتَابُوْا دے او ابن عاشور هم دا سې تحقیق ذکر کړې دے۔ تر دے لفظ (فَاكْتُبُوْهُ) پورې پنځه مسائیل معلوم شول۔ اول جواز د بیع په قرض سره۔ دویم جواز د سلم دریم اجل معین څلورم فساد د اجل مجهول، پنځم ایجاب د لیکلو۔
فائده:- ابن کثیر د سوال جواب په طریقې سره لیکلی دی چه په حدیث د مسلم کښې راغلی دی چه اِنَّا اُمَّةٌ اُمِّيَّةٌ لَا نَكْتُبُ وَلَا نَحْسِبُ، (موږ امی (ان پړه) اُمت یو حساب او لیکل نه شو کولے)؟ جواب:- دین په حیثیت د دین سره لیکلو ته محتاج نه دے ځکه چه نه صحابه کرامو اکثر د قرآن او د احادیثو نقل په حفظ سره کړې دے۔ او امر په کتابت سره د جزوی مسائیلو په باره کښې دے۔ د دے نور جوابونه هم په خپل مناسب محل کښې کیږی شی۔
وَلْيَكْتُبْ بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ، په دے جمله کښې ایجاب دے (واجب کیدل) د لیکلو په هغه چا باندې چه اهل وی د کتابت نو دفع د وهم ده چه فَاكْتُبُوْهُ خو دلالت کوی چه دا بین او مدیون به پخپله کتابت کوی۔ حاصل د دفع د وهم دا دے چه حصول د کتابت ضروری دے که د هر کاتب نه دی او لفظ د بینکم دلالت کوی چه کتابت په حضور د فریقینو کښې ضروری دے بِالْعَدْلِ متعلق دے په وَلْيَكْتُبْ پورې او عدل خو یو صفت دے چه د هغې په سبب سره انسان ځان د گناه کبیره او د بیا بیا کولو د وړو گناهو نه بچ ساتی۔ او دلته د دے لفظ دلالت دے دا امور داخل دی چه زیاتے او کمے به نه کوی او مجمل او محتمل الفاظ به نه لیکی او حق به لیکی او هیڅ یو

ذجانبینو ته به په زړه او په قلم سره گناه ته میلان نه کوی۔ او
داکتابت میتي ذ شهادت ده او په شهادت کښ صفت ذعدالت
شرط دے لکه روستو ذکر کیږی نو په کتابت کښ هم شرط دے۔
وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ اَنْ يَّكْتُبَ، دا تاکید ذماقبل دے۔ امام شعبي وئیلی
دی چه داکتابت فرض کفائي دے کله چه نور عادلان کاتبان
موجود وی۔ او چه نور کاتبان موجود نه وی نو بیا فرض عین دے۔
كَمَا عَلَّمَهُ اللّٰهُ فَلْيَكْتُبْ، په تعلق ذ دمے کاف کښ درے اقوال دی
اول قول دا دے چه دا متعلق دے په اَنْ يَّكْتُبَ پورے او په
عبارت کښ پټوالے دے۔ معني دا ده چه دا سے لیکل چه په شان
ذ هغے وی چه الله تعالیٰ ده ته ذ هغے علم ورکړیدے۔ دویم قول
دا دے چه دا متعلق دے په روستو فَلْيَكْتُبْ پورے۔ او زمخشري
وئیلی دی چه فرق په دواړو کښ دا دے چه په اول قول سره
نهی (منع) ده ذ امتناع ذ کتابت مقیده یعني ذ کتابت معلومه (په
علم ذ الله تعالیٰ سره) نه دے انکار نه کوی۔ تو وروسته ئے اوئیل
چه فَلْيَكْتُبْ یعني لیکل دے اوکړی په دغه کتابت مقیده سره۔
او په دویم قول کښ نهی ده ذ امتناع ذ کتابت مطلقه نه نو په
اَنْ يَّكْتُبَ باندے کلام ختم شو او بیا ئے امر اوکړو چه کتابت دے
مطابق ذ علم سره اوکړی نو زیات تاکید حاصل شو۔ دریم قول
چه ابن عطیه غوره کړیدے دا دے چه دا متعلق دے په لَا يَأْبَ
پورے او کاف ذ تعلیل ذپاره دے یعني ذ کتابت نه دِ انکار
نه کوی ځکه چه الله تعالیٰ په دے کاتب باندے احسان کړیدے
په تعلیم ورکولو ذ کتابت سره نو په ده باندے لازم دی چه ذ
نورو محتاجو سره احسان اوکړی۔ او په دے جمله کښ پنځه
مسائیل دی۔ اوله مسئله دا چه په اهل کتابت باندے لیکل
کول فرض دی (فرض کفائی یا عین) دویم دا چه په دے وخت
کښ حاضریدل ذ دواړو طرفو شرط دے۔ دریم عدالت شرط دے
او څلورمه دا چه انکار کول ذ کتابت نه گناه دے ذ ضرورت په
وخت کښ او پنځمه مسئله دا چه کتابت علم دے ذ علومو

شرعیو نه ځکه الله تعالیٰ ځان ته نسبت کړیدے په طور دَ احسان سره۔

وَلْيُمْلِلِ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ، دا ذکر دَ طریقے دَ کتابت دے یعنی مکتوب (رسید یا اسټام) به دَچا دَ طرف نه لیکلے کیږی۔ دَ وَلْيُمْلِلْ فعل ماضی په اصل کښں اَمْلَلَ دہ او کله دغه لام په الف سره بدلیږی نو اَمْلٰی استعمالیږی لکه په دے قول دَ الله تعالیٰ کښں فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَّ أَصِيلًا (فرقان) او دلته په اصل سره مستعمل دے او دَ دواړو معنیٰ اِلقاء (غورځول) دَ کلام دہ آوریدونکی ته دَ لیکلو یا نقل کولو یا حفظ کولو دَپاره۔ اَلْحَقُّ کښں دَحق نه مراد دین (قرض) دے چه لازم دے په ذمه دَ قرضداری باندے۔ او دا املاء متضمن دہ اقرار دَ قرض او دَجنس او دَ صفت او نیټے وغیرہ لرہ۔

وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهُ، په یکښں ډیر تاکید دے په اقرار کوونکی باندے او دَ تاکید دَپارہ ئے لفظ الله او رب دواړه جمع کړی دی۔ دا اشارہ دہ علت دَ تقوٰی ته چه توحید دَ الوهیت دَ الله تعالیٰ او ربوبیت دَ هغه دا علت دے دَپارہ دَ تقوٰی دَ هغه ته۔ او مراد دا دے چه انکار دَ وجوب دَ قرض او دَ مقدار او جنس او صفت دَ هغے نه او نکړی۔

وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْئًا، دا هم طریقه دَ تقوٰی دہ۔ منه ضمیر حق ته راجع دے۔ بخس مطلق نقصان ته وئیلے شی او خاصکر نقصان په طریقه دَ پټولو سره۔ او دلته مراد نقصان دے په حق کښں په طریقه دَ دهوکے او حیلے او انکار وغیرہ سرہ۔ او دا معنیٰ په سورة اعراف ۸۵ کښں دہ چه هلته ئے فرما ئیلی دی، وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ،

فَإِنْ كَانَ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيهًا، په دے جمله کښں هغه عذرونه ذکرکوی چه دَ هغے سره اِملاء او اقرار نشی کیدلے یا نه قبلیږی۔ او په یکښں مسئله دَ نیابت ذکر کوی۔ دلته ئے درے عذرونه ذکرکړیدی او حرف دَ

او چه په مینځ دَ دوی کښ راغلی دے نو دلالت کوی په فرق دَ دوی باندے۔
اول عذر:- سفیهًا دے۔ دَ سفاهت تفسیر په آیت ۱۳ کښ تیر شوے دے دلته دَ مفسرینو نه مختلف تعبیرات نقل دی مثلاً جاهل په امورو او په املاء کولو باندے، ښځه یا نابالغ تبذیر کوونکے دَ مال او فاسدوونکے دَ دین، کم عقل، (هغه کس چه دَ مال په قدر باندے نه پوهیږی نو تبذیر او اسراف کوی)، جاهل دَ دین اسلام نه۔ دا ابوحیان ذکر کړی دی۔
دویم عذر:- اَوْ ضَعِيفًا، چه بدن ئے کمزورے وی او په بدن سره معذوره وی یا ډیر بیمار وی، ډیر بوډا وی۔
دریم عذر:- اَوْ لَا يَسْتَطِيعُ اَنْ يُّمِلَّ هُوَ، عدم استطاعت دَ چاره والی دَ وجے نه یا دَ غیبوبت دَ وجے نه یا دا چه په لغت دَ کاتب باندے نه پوهیږی۔ او دا آئ دَ پاره دَ منع دَ خلو دے کله کله یکښ دا دوه یا درے حالات هم جمع شی۔ هُوَ ضمیر ئے دَ دوه وجو نه ذکر کړو۔ اول دا چه دا تصریح ده په عدم استطاعت باندے پخپله۔
دویمه وجه دا چه دفع دَ مجاز ده په نسبت کښ پټ ضمیر ته۔ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهٗ بِالْعَدْلِ، دَ وَلِيُّهٗ ضمیر راجع دے الذی علیه الحق ته چه موصوف وی په یو دَ دغه صفاتو سره۔ او ابن جریر وئیلی دی چه حق ته راجع دے۔ وَلِی نه مراد هغه دے چه اختیار لری دَ کار چه هغه وصی (چه هغه ته وصیت کړے شوے وی) دَ سفیه او دَ وړوکی دے او ترجمان دے دَ چاره او ګونګا۔ او وکیل دے دَ لایستطیع والا دَ پاره او دَ ټه ته ولی دَ نیابت وئیلے شی۔ او ولی قائمول دَ سفیه په ځائے باندے دلالت کوی چه سفیه په شرع کښ محجور دے دَ تصرفاتو نه په خپل مال کښ لکه چه په سورة النساء۵

کښ دی۔ بِالْعَدْلِ متعلق دے په فَلْیُمْلِلْ پورے۔ اقرار دَطرف دَغیر نه په شان دَشهادت دے نو په دیکښ هم عدالت شرط دے۔ په دے جمله کښ شپږ احکام دی۔ اول داچه په مکتوب کښ دَقرضدار اقرار لیکل ضروری دی۔ دویم داچه په اقرار کښ تقوٰی او احتیاط واجب دے۔ دریم داچه په هغے کښ هر قسم خیانت حرام دے۔ څلورم داچه په وخت دَعذار دَمدیون (قرضدار) کښ نیابت جائز دے۔ پنځم داچه دَنیابت اقسام وصی، وکیل او ترجمان دی۔ شپږم داچه په سفیه باندے شرع کښ دَتصرفاتو دَمال او دَنفس بندیز لګول ضروری دی۔

وَاسْتَشْهِدُوْا، دَقرض پور دَمعاملے دَپاره دوه کاره دی ضروری دی یو کتابت (لیکل کول) هغه خو تردے ځائے پورے ذکر شو۔ دویم شهادت (ګواهی) اوس هغه ذکر کوی او دَدے دواړو فائدے دا دی چه هر کله نیټه روستو وی نو بعضے وخت په انسان باندے نسیان راشی نو انکار اوکړی۔ نو په دے سره دَجانبینو دَمال حفاظت اوشی۔ بل داچه قرض ورکوونکی ته معلوم وی زما قرض لیکلے شوے دے نو دَزیادت مال طلب نشی کولے۔ او دَنیټے نه هم مخکښ غوښتنه نشی کولے۔ او قرضداری ته معلومه وی چه لیکل شوی دی نو هغه دَقرض نه انکار او روستو الے دَنیټے نه نشی کولے۔ نو دَجګړے او فساد اسباب په لیکلو او ګواهئ سره دفع کیږی۔ او په وَاسْتَشْهِدُوْا کښ سین دَطلب دَپاره یا دَتاکید دَپاره دے۔ شَهِیْدَیْنِ، شهید کښ په نسبت دَشاهد سره مبالغه ده یعنی داسے ګواه اوګورئ چه دَشهادت عادت لری او دَهغے مواقع او احکام پیژنی او دَهغه شهادتونه رد کړے شوے نه وی۔ نو په دیکښ صفت دَعدالت ته اشاره شوه او عدد دَشهادت هم ذکر شو

چه دوه دي.
مِنْ رِّجَالِكُمْ، دا متعلق دے په وَاسْتَشْهِدُوْا پورے یا په شَهِيْدَيْنِ پورے او صفت دے دَهغه په اعتبار دَ لفظ پټ سره. لفظ رجال دلالت کوی په بلوغ باندے یعنی شهادت دَ نابالغه صحیح نه دے. او دا قول دَ اکثر اهل علمو دے. او لفظ دَ كُمْ دلالت کوی چه دَ مؤمن شهادت شرط دے یعنی دَ کافرانو شهادت قبول نه دے او دا مریانو (غلامانو) نه هم شامل دے لیکن دَ هغوی په شهادت کښ (په معاملاتو کښ) دَ علماؤ اختلافات دے.
فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ، په دے یکون کښ دوه اقوال دی. اول دا چه کان ناقصه دے او ضمیر تثنیه چه راجع دے شهیدین ته هغه اسم دے او رجلین خبر دے. نو حاصل معنیٰ دا ده که خاوند دَ حق یا کتابت والا دَ غفلت دَ وجے نه یا قصداً دَ یل څه غرض دَ وجے نه دوه سړی پریږدی نو دَ یو سړی او دوه ښځو شهادت پوره دے. یعنی دَ شهادت دَ ښځو دَ پاره عدم دَ سړو مطلقاً لازم نه دی. او دویم قول دا دے چه کان تامه دے او رَجُلَيْنِ منصوب دے په حالیت باندے. حاصل دَ معنیٰ دا ده چه که دوه نارینه بالکل نه پیدا کیږی نو هله به دَ ښځو شهادت ته رجوع کیدے شی. ابن عطیه وئیلی دی چه دا قول ضعیف دے. او صاحب اللباب وئیلی دی چه دا دَ اجماع نه خلاف قول دے. ابن عاشور وئیلی دی چه اوله معنیٰ مراد ده په هغے کښ اشاره ده چه اسلام زنانه له دَ گواهیٔ کولو مستقل حق ورکړیدے په خلاف دَ جاهلیت دَ قانون سره.
فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتَانِ، دا مبتداء ده او خبرئے پټ دے یعنی یشهدون. یائے مبتداء پټه ده فالشاهد. او آیت ظاهر دے په دلالت کولو کښ چه دَ زنانو شهادت سره دَ سړی شاهد نه په مالیو معاملاتو کښ قبول دے ځکه

چه داسے معاملات په انساناتوکښې ډیر واقع کیږی نو په شهادت کښې وسعت اوکړے شو۔ او د دینه علاوه په نورو کاروتوکښې د زنانو په شهادت کولو کښې د علماؤ اختلاف دے۔ هاں په باره د هغه امورو کښې چه د زنانو د علم سره خصوصیت لری لکه ولادت، بکارت او نور عیوب د زنانو نو په هغے کښې اتفاق دے چه شهادت د یوازے ښځو قبول دے۔

مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ، غوره دا ده چه دا متعلق دے د وَاسْتَشْهِدُوْا سره نو دا قید به شامل شی ټولو شهادت کوونکو ته۔ د ترضون خطاب عام دے ټولو مسلمانانو ته او دا قید دلالت کوی چه په مسلمانانو کښې داسے خلق هم شته چه د هغوی شهادت قبول نه دے۔ ابوحیان او صاحب اللباب وئیلی دی چه هغه کسان چه د شهادت د پاره د صحیح مسلمانانو په نیز خوښ وی نو هغه هغه څوک کیدیشی چه لاندے ذکر شوی لس صفات پکښې راجمع وی۔

عا مسلمان ع۲ آزاد چه غلام نه وی ع۳ بالغ ع۴ عادل ع۵ عالم په هغه څه چه شهادت کوی په هغے باندے ع۶ چه په شهادت کولو سره ځان له نفع نه راکاږی ع۷ او د ځان نه ئے ضرر دفع کول مقصد نه وی ع۸ چه په ډیرے خطایئ سره مشهور نه وی ع۹ او په خلاف د انسانیت او سړیتوب کارونو سره هم مشهور نه وی ع۱۰ او د ده او د مشهود علیه په مینځ کښې کینه او دشمنی نه وی۔

اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰىهُمَا فَتُذَكِّرَ اِحْدٰىهُمَا الْاُخْرٰى، دا په تقدیر د لام اجلیه سره دے یعنی لِاَنْ تَضِلَّ، او دا علت دے د امر ء تان د پاره یعنی اقامت د دوو ښځو د یو سړی په ځائے د علت د وجے نه دے یعنی که د یوے ښځے نه هیر شی نو بله به ورته یا دوی راو په دیکښې ضلال علت دے د تذکر (یادولو) د پاره د دے وجے نه ئے فتذکر

کښې فاسببیه ذکر کړیده) او مجموعه بیا علت دے دَ امرء تان دَپاره - او ابن حاجب په امالی کښې ذکر کړیدی چه دَعربو دَ لغت قاعده داده چه هر کله دوی علت ذکر کوی لیکن دَ دغه علت دَپاره بل علت وی نو دوی علت العلت مخکښې ذکر کوی او روستو علت په فاسره ذکر کوی.
او صاحب کشاف وئیلی دی چه په دے ترتیب کښې اهتمام دے دَ شان دَ تذکیر - تَضِلَّ - دَ ضلال معنے مخکښې په تفسیر دَ سورة فاتحه کښې ذکر شویدی دلته ضلال په معنیٰ دَ نسیان سره دے - او قرطبی دَ ابوعبید نه نقل کړیدی چه ضلال دَ شهادت نه دا دے چه یوجزء ترینه هیر شی او بل جزء ورته یاد وی نو انسان حیران (ضال) پاتے شی - او چه ټول شهادت ترینه هیر وی نو په هغے کښې ضَلَّ فِیهَا نشی وئیلے کیدے - نو په دیکښې اشاره ده چه ټول شهادت ترینه هیر وی نو په یادولو دَ بلے سره فائده نه کیږی - احداهما ئے دوه کرته اُوئیلو ځکه چه دَ اول مصداق ناسیه (هیروُنکے) ده او دَ دویم مصداق یادوونکے ده نو په ضمیر باندے اکتفاء نه شوه کیدلے - ابوحیان وئیلی دی چه په طبیعت دَ زنانو کښې دَ ډیر برودت (یخوالی) او دَ رطوبت (لوند والی) دَ وجے نه نسیان غالب وی لیکن په دوو باندے داوهم کول دَ عقل نه لرے ده - او په صحیح حدیث کښې ذکر دی چه دا دَ وجے دَ نقصان دَ عقل دَ دوی نه ده یعنی مجموعی یا اکثری طور سره دَ نارینه عقل دَ زنانه نه زیات وی - (او ما دَ بعضے مشائخو نه اوریدلی دی چه دَ نسیان وجه په اصل کښې گناهونه دی او په زنانو کښې نسبتًا گناهونه ډیر وی نو نسیان دَ هغوی ډیر وی لیکن حکم دَ الله تعالیٰ په علتونو باندے نه دے بنا) - دَ دے وجے نه په خپل عقل او رائے سره دَ الله تعالیٰ

دا حکم بدلول او یوه ښځه دَ یو سړی سره په ګواهئ کولو کښې برابرول دَ دے وخت دَ ګمراهانو لاره دَه۔
وَلَا یَأْبَ الشُّهَدَآءُ اِذَا مَا دُعُوْا، لکه چه دَکتابت دَ تاکید دَ پاره ئې وئیلی وو۔ وَلَا یَأْبَ کَاتِبٌ آه نو دا سے دَ شهادت دَ تاکید دَ پاره داجمله دَه۔ اِذَا مَا دُعُوْا کښې دَ قتاده او ربیع قول دا دے چه دَ دینه مراد تحمل دَ شهادت دے (یعنی شاهد جوړیدل) او شهداء ئې مجازاً اُوئیلو په اعتبار دَ راتلونکی وخت سره۔ او په دیکښې اشاره ده چه تحمل دَ شهادت فرض کفائي دے۔ او دَ اکثر مفسرینو په نیز دَ دینه مراد دَ شهادت اداکول په وخت دَ دعوت کښې (راغوښتلو کښې) فرض عین دَه۔ او قول دَ زجاج دا دے چه مراد دواړه دی یعنی تحمل دَ شهادت او ادا دَ شهادت۔ په دے جملو کښې نهه احکام دی ع۱ استشهاد په کتابت کښې ضروری دے ع۲ عدد دَ دوه والی دَګواهانو ضروری دے ع۳ دَ یو سړی په ځائے دَ دوو ښځو ګواهی صحیح دَه ع۴ په ګواهانو کښې بلوغ شرط دے ع۵ دارنګ اسلام شرط دے ع۶ په ګوهانو کښې عدالت شرط دے ع۷ دَګواهانو یو بل ته تذکیر ورکول (یادول) جائز دی ع۸ تحمل دَ شهادت فرض کفائي دے ع۹ او ادا دَ شهادت فرض عین دَه۔
وَلَا تَسْئَمُوْآ اَنْ تَکْتُبُوْهُ صَغِیْرًا اَوْ کَبِیْرًا اِلٰی اَجَلِهٖ، لکه چه نهی ئې اوکړه دَ امتناع دَ شهادت نه دَ پاره دَ دفع دَ جګړے او حفاظت دَ مالونو دَ خلقو۔ نو اوس نهی ذکر کوی دَ امتناع دَکتابت نه په عذر دَ لږ مال یا ډیر مال۔ دا هم دَ جګړے دَ دفع کولو او دَ مالونو دَحفاظت دَ پاره۔ تَسْئَمُوْآ، سأمت په لغت کښې ستړے کیدل او خفه کیدل دی او مراد تربینه کسل (ناراستی) دے۔ لیکن کسل صفت دَ منافق دے دَ دے وجے نه ئې ذکر نه کړو۔

اَنْ تَكْتُبُوْهُ، دا مفعول دَ تَسْئَمُوْا دے په حذف دَ حرف جر سره چه مِنْ دے یا متعدی دے بالذات او هٔ ضمیر دَ دَیْن حق ته یا کتاب ته راجع دے - صَغِيْرًا اَوْ كَبِيْرًا، دا حال دے دَ ضمیر دَ تَكْتُبُوْهُ نه یعنی دغه دین (قرض) که په هر حال بانْدے وی که لږ وی او که ډیر وی - دارنګ هغه لیکل (سند) مختصر وی او که اوږد وی - او دا دواړه ئے دَ دے وجے نه ذکر کړل چه بعض شخص وائی چه دا لږ قرض دے تو لیکلو ته ئے حاجت نیشته - او بعض وائی چه داخو ډیر قرض دے دَ دینه انکار نشی کیدے او نه هیریږی. نو دا دواړه عذرونه ئے دفع کړل - صغیر او کبیر ئے ذکر کړل او قلیل او کثیر ئے نه دے وئیلے اشاره ده چه دلته اعتبار دَ قرض بوجهـ ته دے او دَ بوجهـ په باره کښ صغیر او کبیر استعمالیږی -

اِلٰی اَجَلِهٖ کښ دوه اقوال دی - اول داچه دا متعلق دے په محذوف پورے او حال دے یعنی مُسْتَقِرًّا فِی الذِّمَّةِ اِلٰی اَجَلِهٖ - دویم قول داچه دا متعلق دے په تَكْتُبُوْهُ پورے او اِلٰی په معنیٰ دَ مع دے - او ذکر دَ اجل ئے دَ دے وجے نه اوکړو چه په کتابت کښ دَ نیټے دَ لیکلو اهتمام ډیر ضروری دے -

ذٰلِكُمْ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ، دَ کتابت او اشهاد دړے فائدے ذکر کوی او دَ دے وجونه دا واجب دی - ذٰلِكُمْ اشاره ده مجموعه ماقبل ته - او اَقْسَطُ په معنیٰ دَ اعدل دے یعنی دا ډیر اتصاف دے په حکم دَ الله تعالیٰ کښ دَ باره دَ دفع کولو دَ ظلم او اختلاف - اقسط کښ دړے اقوال دی - اول قول داچه دا دَ اَقْسَطَ نه په معنیٰ دَ عدل سره دَ قَسَطَ (په معنیٰ دَ ظلم) نه ماخوذ دے لیکن وزن دَ افعل دَ رباعی نه شاذ دے - دویم قول داچه دا دَ قُسُوْط نه ماخوذ دے (پیښ دَ سین سره) په معنیٰ دَ عدل او قَسَاط (په زور سره) په معنیٰ دَ جور او دَ ظلم دے - دریم داچه ابن قطاع او وعیبی وئیلی دی چه دا مشترک دے په معنیٰ دَ ظلم او عدل دواړه سره راځی -

وَاَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ، دا دویمه فائده ده یعنی ښه برابرونکے دپاره

دَ شهادت کولو دَ شاهدانو۔ یعنی دَ وجې دَ دې کتابت نه شاهدان په صحیح شهادت ورکوی او دَ هغې نه خلاف نشی کولے۔ اوله فائده دَ پاره دَ تحصیل دَ رضا دَ الله تعالیٰ ده۔ او دویمه فائده دَ پاره دَ دُنیوی مصلحت ده او دینی مصلحت مخکښې دے په دُنیوی مصلحت باندې دَ دے وجې نه اقسط ئې په اقوم باندې مخکښې ذکر کړو۔

وَ اَدْنٰٓى اَلَّا تَرْتَابُوْٓا ، ډیر نیزدے دے شک لرے کولو ته دَ زړونو دَ دائن او مدیون نه۔ او دا دریمه فائده راجع ده دفعې دَ ضرر ته دَ نفسونو نه ځکه چه شک دَ نفس سبب دَ خفګان او پریشانئ دے او دفع دَ ضرر ده دَ غیر ته چه نور څوک په دویته نسبت دَ دروغو نه کوی او په ګناه دَ غیبت کښې په نه واقع کیږی۔ دا رنګ ارتیاب (شک کول) خو سبب دَ جنګ او دَ فساد دے دَ دائن، مدیون او ګواهانو په مینځ کښې۔ شک په مدیون باندې دَ انکار کولو دَ قرض نه او په دائن باندې دَ زیات مال دعوٰی کولو او په ګواهانو باندې دَ طرف دارئ کولو۔ او دا رنګ حاکم او قاضی په هم شک نه کوی۔ او دا فائده اهم ده په باره دَ وجوب دَ کتابت کښې۔ په دې جمله کښې درې احکام دی اول انکار کول دَ کتابت نه په عذر دَ لږ او ډیر سره منع دے۔ دویم په دغه کتابت باندې دَ شاهدانو عمل او موافقت ضروری دے۔ دریم دَ دغه کتابت په سبب په ټول کسان ځان دَ شکونو نه بچ او ساتی۔

اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيْرُوْنَهَا بَيْنَكُمْ، په دې استثناء کښې دوه اقوال دی۔ اول دا چه دا استثناء متصل ده یعنی کتابت لازم دے په ټولو معاملاتو کښې مګر په حال دَ حضور دَ تجارت کښې۔ دویم قول دا چه دا استثناء منقطع ده یعنی تجارتِ حاضره کښې کتابت لازم نه دے۔ او دا قول اکثرو غوره کړیدے۔ او تکون دلته ناقصه دے او اسم دَ هغې په دَ دې

يعنى تَكُوْنَ الْمُعَامِلَةُ اَوِالتِّجَارَةُ - حَاضِرَةً نه مراد دا دے
چه په مبيعه يا په ثمن كښں نيته نه وى دارنګ هغه
مبيعه چه مشترى (راخستونكے) يُ فى الحال قبض كوى -
تُدِيْرُوْنَهَا بَيْنَكُمْ نه مراد قبض كول دى لاس په لاس.
يا هر وخت كښں داسے بيعه كول - نو په قيد دَحَاضِرَةً سره
يُ احتراز اوكړو دَ قرض سودا كولو او دَ سلم نه -او په
تُدِيْرُوْنَهَا سره يُ احتراز اوكړو دَ بيع غيرمنقول نه
يعنى دَ زمكو او كورونو (جائيداد) بيع كښں كتابت ضرورى
دے اګرچه نقد سودا وى -

فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَلَّا تَكْتُبُوْهَا ، جُنَاحٌ په معنىٰ دَ مضرت
دے په نيز دَ هغه چاچه امر دَ كتابت دَ وجوب دَپاره نه
وائى -او په معنىٰ دَ ګناه دے په نيز دَ هغه چاچه امر دَ
كتابت دَ وجوب دَ پاره وائى -او وجه دَ عدم جناح دا ده
چه نقد تجارتونه په منقولاتو كښں ډير واقع كيږى نو
دَ دے كتابت واجب كول سبب دَ تكليف او دَ مشقت دے
او پره دَ انكار هم نيشته -

وَاَشْهِدُوْآ اِذَا تَبَايَعْتُمْ ، هر كله چه په نقد بيعه كښں يُ
كتابت ساقط كړو نو دَ توثق (مضبوطوالى) دَ پاره حكم دَ
اشهاد يُ باقى پريښودلو - او تَبَايَعْتُمْ عام دے كه بيع په
نقد وى او كه په نيته سره وى او په دے امر كښں
اختلاف دے چه دا منسوخ دے په روستو سره يا
محكم دے - او په نيز دَ بعضو دا امر دَ استحباب دَپاره
دے ليكن غوره قول دا دے چه په وخت دَ اعتبار او اعتماد
كښں امر دَ استحباب دَپاره دے او په وخت دَ ګمان او
اختلاف پيدا كيدلو كښں امر دَ ايجاب دَپاره دے -اِذَا
شرطيه دے نو په نيز دَ بعضو يُ جزاء پټه ده او دَ
بعضو په نيز يُ جزاء مقدم ده - يا اِذَا ظرفيه دے
او دا غوره دے -

وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَّلَا شَهِيْدٌ، دا دَ ادابو ذکر دے او متعلق دے دَ حکم دَ کتابت او دَ اشهاد سره - وَلَا يُضَآرَّ کښ دوه احتمالات دی - اول دا چه دا صيغه دَ معلوم ده او کاتب او شهيد ئے فاعل دے او مفعول ئے پټ دے - دويم دا چه دا صيغه دَ مجهول ده او کاتب آه - نائب فاعل ئے او اصل فاعل ئے پټ دے - دَ مضاره معنیٰ دا ده چه يو بل ته ضرر او تکليف ورکوی يعنی دائن او مديون دا کاتب او گواهان په تکليف او په تاوان کښ اچوی او هغوی له هيڅ اجرت او کرايه نه ورکوی او بے ضرورته ئے راغواړی يا په هغوی بانده دَ طرف دارئ کولو کوشش کوی - او دا شان کاتب او گواه به دائن او مديون ته ضرر او تکليف نه ورکوی - يعنی کاتب به په ليکلو کښ زياتے کمے نه کوی او موقع ته به حاضريږی او شاهد به شهادت نه پټوی او نه به ئے بدلوی او نه به دَ شهادت نه انکار کوی. دا رنگ دَ اضرار نورے طريقے هم شته چه دَ هغے نه هر يو له ځان ساتل ضروری دی -

وَاِنْ تَفْعَلُوْا فَاِنَّهٗ فُسُوْقٌ بِكُمْ، دَ تَفْعَلُوْا مفعول پټ دے يعنی الاضرار - يا عام دے هغه او امرو او نواهيو ته چه دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه دی نو دَ هغے مخالفت او کړی - فسوق نه مراد فسق عملی دے اشاره ده چه دغه مخالفت او تکليف او ضرر ورکول گناه کبيره دے - بِكُمْ کښ با دَ بارهٔ دَ الصاق ده يعنی دا گناه په تاسو پورے پيوست کيدونکے ده او سبب دے دَ بد تاثير دَ پاره چه بغير دَ توبے نه نه لرے کيږی - يا با په معنیٰ دَ فِیْ ده - او هر کله چه مخکښ گناه دَ فسق ئے ذکر کړيدے نو اوس په وَاتَّقُوا اللّٰهَ سره امر ورکوی چه تقویٰ کوئ دَ دے دَ پاره چه په فسق کښ اخته نه شئ -

وَيُعَلِّمُكُمُ اللّٰهُ، په دے جمله کښ ترغيب دے ما قبل

وَاِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ وَّلَمْ

او که چرې يئ تاسو په سفر باندې او نه

تَجِدُوْا كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقْبُوْضَةٌ ؕ

مومئ تاسو ليکونکے نو جائز ده چه (داخلې) نوکانړه قبض کړ شوې دي

فَاِنْ اَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ

نو که چرې اعتماد اوکړي بعض ستاسو په بعض باندې نو ادا دې کړي

الَّذِى اؤْتُمِنَ اَمَانَتَهٗ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ

هغه کس چه اعتماد پرې کړې شوے امانت خپل او ويره دې اوکړي دَ الله تعالىٰ نه

احکامو ته دَ پاره دَ عمل کولو او اشاره ده چه ما قبل احکام دَ معاملاتو په علومو شرعيو کښې داخل دي - او تر دے ځائے پورې پنځه احکام ذکر شول - اول نقد يعنې لاس په لاس اغستل او خرڅول کول جائز دي - دويم په ديکښې اشهاد ضروري دے - دريم مضاره (ربويل ته تکليف ورکول) حرام ده - څلورم داګناه کبيره او سبب دَ فسق دے - پنځم دا احکام دَ معاملاتو په علومو شرعيو کښې داخل دي - تر دے ځائے پورې په دے آيت کښې مجموعه ظاهري احکام اته ويشت (۲۸) معلوم شول -

وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ، دا هم ترغيب دے ما قبل احکامو باندے عمل کولو ته چه په دے احکامو کښې ستاسو دُنيوي او اُخروي مصالح دي ځکه چه علم دَ الله تعالىٰ په ټولو څيزونو باندے محيط دے په دے روستو دريو جملو کښې لفظ الله يئے درے کرته ذکر کړيدے - دا دَ پاره دَ تعظيم دَ دے احکامو -

رَبَّهٗ ؕ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ ؕ وَمَنْ

چه رب دَ دهٔ ئے او مه پټوئ شهادت لره او څوک چه

يَّكْتُمْهَا فَاِنَّهٗٓ اٰثِمٌ قَلْبُهٗ ؕ وَ

پټ کړی شهادت لره نو یقیناً ګناهګار دے زړه دَ هغه او

اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۲۸۳﴾

الله تعالیٰ په هغه عملونو چه تاسو کوئ ښه علم لری

۲۸۳:۔ دا عطف دے په مضمون دَ ما قبل آیت باندے په هغے کښ ذکر دَ بیع مؤجل وو په کتابت او اشهاد سره نو اوس ذکر کوی بیع مؤجل په رهن (ګانړه کولو) سره او بیع مؤجل په امانت سره۔ دا دوه اقسام دَ مخکښ نه بالکل جدا وو دَ دے وجے نه ئے مستقل آیت کښ ذکر کړیدی۔ دا رنګ (مخکښ آیت کښ وئیلے شویدی) چه هر کله دَ عقد کوونکو په یو بل باندے دَ جګړے ګمان وی نو دَ هغوی دَ پاره حکم دَ کتابت او دَ اشهاد وو۔ نو په دے آیت کښ ذکر کوی چه هر کله چه لږ اعتماد وی نو بیا حکم دَ رهن دے او چه ډیر اعتماد وی نو بیا حکم دَ امانت دے۔

وَاِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ ، لفظ دَ عَلٰی دلالت کوی چه دا سے وی چه هیڅ قسم اقامت پکښ نه وی نو ګواهانو پسے ګرځیدل ګران وی۔

وَلَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا ، دا عطف دے په فعل شرط باندے یعنی کنتم باندے۔ یا په لفظ دَ سفر باندے۔ یا حال دے دَ اسم دَ کنتم نه۔

فَرِهٰنٌ ، دا خبر دے او مبتدا ئے پټه ده معنیٰ فَالْوَثِيْقَةُ رِهَانٌ یا مبتدا ده او خبر ئے پټ دے یعنی فَرِهَانٌ تَكْفِيْ۔ یا فعل پټ دے یعنی فَتَكْفِيْ عَنْ

ذَالِكَ رِهَانٌ، او رِهَان مصدر په معنیٰ دَ مفعول دے یا جمع دَ
رهن ده او هغه به معنیٰ دَ مفعول دے. او رهن په لغت کښ دوام
او استمرار او ثبوت ته وئیلے شي- او دَ شریعت په اصطلاح کښ
بندیدل دَ یو عین خیز دی دَ پاره دَ وثوق دَ حق (قرض) دَ دے
دَ پاره چه په وخت دَ عدم ادا دَ حق (قرض) کښ دَ هغه عین
خیز نه یا دَ هغې دَ منافعو نه خپل حق حاصل کړي- قرطبي وئیلي
دي چه رهن دلالت کوي چه مرهونه به لاس دَ مرتهن
او دَ راهن ته به نه واپس کیږي تر ادا دَ حق پورے-
مَقْبُوْضَةٌ، دا صریح دے چه قبض دَ مرهون (گانړه شوي
خیز) شرط دے دَ صحت دَ رهن دَ پاره یا دَ هغې دَ اتمام
دَ پاره بنا بر اختلاف- او قبض مستلزم نه دے دَ انتفاع
دَ پاره بلکه دا قبض صرف دَ وثوق دَ پاره دے- دَ دے وجے
نه گانړه کوونکی له جائز نه دي چه دَ گانړه شوي خیز
نه به فائده اخلي- قرطبي وئیلي دي چه دَ امام مالك،
امام شافعي او امام ابوحنیفه او دَ امام احمد او امام
اسحاق (رحمهم الله علیهم) په نیز دَ سورلۍ دَ خیز
نه په سورلۍ کولو سره او دَ پیو والا ځاروی نه په پیو
اخستلو فائده اخستل جائز دي- او دَ فائدے اخستلو
دَ پاره دَ اجارے حیله جوړول جائز نه ده مګر چه اجاره
معروفه وي-
فائده :- دَ مجاهد په نیز دَ رهن دَ جواز دَ پاره سفر او
عدم وجود دَ کاتب شرط دے- او په نیز دَ جمهورو
علماؤ باندے رهن په سفر او حضر او په وجود دَ
کاتب او عدم وجود دواړو حالتونو کښ جائز دے- په
دلیل دَ حدیث دَ صحیحینو سره چه نبی صلی الله علیه
وسلم خپله زغره په مدینه کښ دَ یو یهودي سره
رهن کړے وه- لیکن شرط دَ سفر او عدم وجود دَ کاتب
په اعتبار دَ غالب اوقاتو سره دے ځکه چه په دا سے حال

کښې اکثر ګواهان او اسباب د کتابت حاصلول مشکل شي.
فَاِنْ اَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا، دا دریم قسم بیع ذکر کوي یعني بیع مؤجل بغیر د کتابت او رهن نه او دا واقع کیږي په وخت د ډیوه اعتماد کولو کښې په بل باندې د دې وجې نه لفظ د اَمِنَ یې ذکر کړې یعني اَمِنَ وَقْتَ الْبَيْعِ الْمُؤَجَّلِ بَعْضُكُمْ (اعتماد دې او کړي په وخت د قرض سودا کښې په یو بل باندې). فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اؤْتُمِنَ اَمَانَتَهٗ، اَلَّذِي اؤْتُمِنَ نه مراد مدیون دی که خرڅوونکې وي او که اخستونکې وي یا هسې مقروض وي. او په وصف د اؤْتُمِنَ سره ذکر کولو کښې ترغیب دې ادا ییٔ ته. د اَمَانَتَهٗ ضمیر راجع دې الَّذِي ته یا خاوند د قرض ته. امانت مصدر دې لیکن مراد د دینه قرض دې او دا ښکاره دلیل دې چه ادا د امانت او د قرض واجب ده.
وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ، مخکښې امر د تقوٰی وو په وخت د اقرار کولو د قرض کښې نو اوس امر دې په وخت د ادا کولو د قرض کښې. او په جمع کولو د لفظ د الله او د رب کښې ډیر تاکید دې په تقوٰی باندې او دلته مراد د هر قسم خیانت نه ځان ساتل دي په امانت او په ادا د هغې کښې.
وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ، د کتمان نه مراد پټول دي په نه ادا کولو سره. او په دیکښې اشاره ده چه حفظ (یادول) د شهادت دې استعمال کړي. او دا نهي د تحریم د پاره ده.
وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَاِنَّهٗ اٰثِمٌ قَلْبُهٗ، دا دلیل دې چه ما قبل نهي د تحریم د پاره ده ځکه چه سبب د ګناه دې او هر کله چه شهادت علم د قلب دې او کتمان هم د زړه سره تعلق لري د دې وجې نه نسبت د اٰثِمٌ یې زړه ته اوکړو. او هر کله چه زړه ګناهګار شي نو ټول اندامونو کښې ګناه ورننوځي په دلیل د حدیث سره (اِذَا صَلُحَتْ صَلُحَ الْجَسَدُ كُلُّهٗ وَاِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهٗ). ترجمه دا ښکاره ده چه روغه وي نو ټول بدن روغ وي او چه کله فاسد شي نو ټول وجود فاسد شي).

لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِی

خاص دَ الله تعالیٰ په اختیار کښ دی هغه څیز وله چه په آسمانونو کښ او هغه څه چه په

الْاَرْضِ ؕ وَ اِنْ تُبْدُوْا مَا فِیْٓ

زمکه کښ دی او که چرے ښکاره کوئ تاسو هغه څه چه په

اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ یُحَاسِبْكُمْ

زړونو ستاسو کښ دی یا پټ ساتئ هغه حساب به او کړی تاسو سره

بِهِ اللّٰهُ ؕ فَیَغْفِرُ لِمَنْ یَّشَآءُ

په هغے باندے الله تعالیٰ نو بخنه کوی هغه چاته چه او غواړی

وَ یُعَذِّبُ مَنْ یَّشَآءُ ؕ وَ اللّٰهُ

او عذاب ورکوی هغه چاته چه او غواړی او الله تعالیٰ

عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۲۸۴﴾

په هر څیز باندے قدرت والا دے۔

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِیْمٌ، په دے جمله کښ تخویف دے او مَا تَعْمَلُوْنَ کښ کتمان دَ شهادت او ادا دَ هغے داخل دی۔ او علم دَ الله تعالیٰ کښ اشاره ده جزاء او سزا ورکولو ته۔ په دے آیت کښ شپږ احکام ذکر دی ۱؎ جواز دَ تجارت په سفر کښ ۲؎ جواز دَ عقد دَ رهن کولو ۳؎ په رهن کښ دَ قبض شرط لګول ۴؎ قرض په حکم دَ امانت کښ دے۔ ۵؎ اداکول دَ امانت واجب دی ۶؎ شهادت پټول ګناه کبیره دے۔ ۲۸۴؎ خلاصه دَ څلورم باب:۔ دَ دے آیت نه تر آخر دَ سورت پورے څلورم باب دے۔ په دیکښ دَ توحید دَ مسئلے ذکر دے او صدق دَ رسول دے او تاکید دَ مضمون دَ سورت دے په تصدیق دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم او دَ صحابه کرامو سره په آیت ۲۸۵؎ کښ او بیا ترغیب دے په وسع (خپل طاقت) صرف کولو سره۔ وسع نفسی چه جهاد دے او وسع مالی چه هغه انفاق فی سبیل الله دے۔ دَ پاره

دَ نشرو اشاعت دَ مضمون دَ دے سورت۔ او اختتام دے په دُعا سره چه متعلق دے دَ عمل کولو سره په دَ سورت باندے۔

ربط ۱ه:۔ هر کله چه مخکښ ئے ذکر کړل چه دَ شهادت پټول دَ زړه ګناه ده۔ نو اوس دَ هغے وعید ذکر کوی۔ او دَ قلب نه ئے په انفس سره تعبیر کړیدے۔ او شعبی او عکرمه وئیلی دی چه دا آیت دَ شهادت دَ کتمان په باره کښ نازل شویدے۔

ربط ۲ه:۔ دَ مخکښ آیت اختتام ئے اوکړو په ذکر دَ علم دَ الله تعالیٰ سره نو په دیکښ دَ هغے علت ذکر کوی په ذکر دَ تصرف کلی دَ الله تعالیٰ سره په طریقه دَ آلَا یَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ چه متصرف او خالق دے۔ نو معلومه شوه چه عالم دے په ټولو څیزونو باندے۔ دا قول ابو مسلم ذکر کړیدے۔

او ابو حیان وئیلی دی چه دَ دے آیت مناسبت دَ ټول سورت سره دا دے چه په سورت کښ دلائل دَ توحید دَ نبوت او دَ معاد ذکر شول۔ او مونځ، زکوٰة، روژه، حج، جهاد، قصاص، حیض، طلاق، عدت، ایلاء، خلع، رضاعت، ربوا، بیع او طریقے دَ مداینے ئے ذکر کړے نو اوس اولًا دَ دے علت ذکر کوی چه مالك او متصرف دَ هر څه الله تعالیٰ دے نو دَ هغه خوښه ده چه په څرنګ احکامو سره خپل بندګان مکلف کوی په هغه باندے هیڅ اعتراض نشی کیدے۔ او ثانیًا تخویف ذکر کوی چه دَ دے تکالیفو محل دَ اعتقاد زړونه دی نو په آخرت کښ دارومدار دَ ثواب او عذاب په نیت باندے دے چه هغه عمل دَ زړه دے۔

په دے آیت کښ مسئله دَ توحید ده په رد دَ شرک فی التصرف او فی العلم سره۔ او دا په دے سورت کښ څلورم کرت دے دَ دعوے دَ توحید دَ ذکر کولو۔

لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ، تفصیل دَ رد دَ شرک فی التصرف او تعبیرات دَ هغے دَ تفسیر دَ اول جلد په مقدمه کښ ذکر شویدی۔ لِلّٰهِ کښ لام دلالت کوی په مِلْك او مُلْك

او عبدیت بانددے او ما فی السمٰوٰت و ما فی الارض کښې ټول موجودات اعیان او اعراض داخل دی۔ او سمٰوات ئې د هغې د عظمت شان د وجې نه مخکښې ذکر کړو او ظرف په حکم د مظروف کښې داخل دے۔

وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ ۔ لفظ د مَا عام دے ټولو افعالو د نفسونو (زړونو) ته که اختیاری وی او که غیر اختیاری دی لکه محبت، اراده، علم، جهل، د شهادت پټول، شک او یقین، وسوسے او خواطر وغیره۔ او مقصد دا دے چه حالت د اخفاء او ابداء (چه په نسبت د مخلوق سره دی) په نسبت د الله تعالیٰ کښې برابر دی۔ او ابداء د ما فی انفسکم په ژبه سره کیږی چه د قبیلے د اقوالو نه وی۔ او په اندامونو سره کیږی چه د قبیلے د اعمالو نه وی۔

يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ ، حساب عام دے کله په طریقه د عرض (پیش کیدلو) سره وی د صالحینو د پاره او کله په مناقشے (ړدونکے حساب کولو) سره وی۔ نو هر حساب مستلزم د عذاب نه دے۔ د دے وجے نه وروستو ئې مغفرت او عذاب دواړه مرتب کړیدی۔ حساب کول صریح دلیل دے په علم د الله تعالیٰ سره په هر پټ او ښکاره باندے۔

فائده: د دے آیت په باره کښې د مفسرینو دوه اقوال مشهور دی۔ اول قول د اکثر مفسرینو دے چه دا منسوخ دے بنا په دے چه لفظ د مَا عام دے غیر اختیاری وسوسو ته۔ او تفصیل ئې په حدیث د مسند احمد کښې دے چه ابن کثیر ذکر کړیدے چه دا آیت سخت شو په صحابه کرامو باندے نو دوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اوئیل چه مونږ خو مکلف یو په داسے اعمالو چه د طاقت د لاندے دی لیکن د

دے آیت خو طاقت نه لرو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل آیا تاسو دَ مخکنو کتابیانو پشان سمعنا وعصینا وایئ بلکه او وایئ چه سمعنا و اطعنا غفرانك ربنا و الیك المصیر- نو صحابه کرامو دغسے اوئیل نو ورپسے آیت نازل شو دَ هغوی دَ امتثال (عمل کولو) په باره کښ- نو هر کله چه په دغه آیت کښ دَ صحابه کرامو دَ اطاعت امتثال ذکر شو نو منسوخ کړو الله تعالی مخکنے حکم په نزول دَ آخری آیت سره (او دا سے روایت مسلم ذکر کړیدے) دویم قول ابن جریر، قرطبی ابن عطیه او ابن کثیر ذکر کړیدے چه دا آیت محکم دے او دَ هغے درے وجوه دی- اوله وجه دا چه محاسبه دَ گناه او دَ معاقبے دَ پاره مستلزم نه ده بلکه حساب کله صرف په عرض سره وی نو نسخ ته حاجت نیشته- دویمه وجه دا ده چه ما فی انفسکم نه مراد هغه عقیدے او امور دی چه په زړه کښ متقرر شوے وی- لفظ دَ فی په دے باندے دلالت کوی- او دارنګ نسبت دَ ابداء او اخفاء بندیکانو ته دلالت کوی په اختیار دَ دوی باندے نو وسوسے پکښ داخل نه دی۔

محاکمه:- دَ دواړو اقوالو په مینځ کښ محاکمه دا ده چه لفظ دَ ما فی انفسکم دَ بعض صحابه کرامو په فهم کښ عام وو غیر اختیاری وسوسو ته نو په هغوی باندے ځکه اشکال راغے نو په لا یکلف الله نفسًا آه سره الله تعالی تشریح اوکړه چه لفظ دَ ما غیر اختیاری امورو ته نه دے شامل ځکه چه هغه دَ انسان دَ طاقت نه بهر دی- نو دیته تشریح او تقیید وئیلے شی او دَ متقدمینو په اصطلاح کښ دا په نسخ کښ داخل دے-

فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ، دلته مبتداء پټه ده یعنی فهو یغفر- دا تفریع ده په یحاسب باندے

اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ

ايمان راوړے دے رسول (صلی اللہ علیه وسلم) په هغه وحی چه نازل کړے شوے ده ته

مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ؕ كُلٌّ اٰمَنَ

دَ طرف دَ رب دَ ده نه او مؤمنانو هر يو ايمان لری

بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ ۟

په الله تعالیٰ او په ملائکو دَ هغه او په کتابونو دَ هغه او په رسولانو دَ هغه

لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ۟

فرق نه کوؤ مونږ په مينځ دَ هيچا کښی دَ رسولانو دَ هغه نه

وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَكَ

او دوی وائی واورېدو مونږ او منل کوؤ مونږ غواړو بخنه ستا نه

رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿۲۸۵﴾

اے ربه زمونږه او خاص تا ته ګرځېدل دَ ټولو دی۔

او دليل دے چه هر حساب دَ عذاب دَ پاره مستلزم نه دے۔ او دا دليل دے چه نيکانو ته ثواب ورکول او بدانو ته عذاب ورکول په الله تعالیٰ باندے واجب نه دی بلکه دَ هغه خوښه ده چه څهٔ رنګه غواړی۔

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ، هر کله چه مغفرت او عذاب سره دَ علم دَ الله تعالیٰ نه متعلق دی په صفت دَ قدرت دَ الله تعالیٰ پورے نو دَ دے وجے نه ئے دا صفت ذکر کړو۔ نو په آيت کښی عموم دَ علم دَ الله تعالیٰ او عموم دَ تصرف او قدرت دَ هغه دواړه ذکر دی۔

۲۸۵ - ربط اول :- مخکښی آيت کښی په قول اول کښی ذکر شو چه صحابه کرامو دَ يُحَاسِبْكُمْ په باره کښی شکايت دَ ثقل اوکړو نو نبی صلی الله عليه وسلم دوی ته دَ ادب تعليم ورکړو نو صحابه کرامو هغه ادب ادا کړو نو په دے آيت کښی دَ هغوی مدح (تعريف) ذکر کړے شوه۔

ربط ۲ ۂ :- قرطبي دَ زجاج نه نقل کړيدی چه په دے سورت کښ عقيده او ډير احکام الهيه ذکر شول نو په آخر کښ ذکر کوی تصديق دَ نبی صلی الله عليه وسلم او دَ صحابه کرامو په هغه ټولو امورو کښ چه په دے سورت کښ ذکر دی (دَ پاره دَ تاکيد) لکه چه يو حاکم حکمنامه جاری کړی نو دَ هغې دَ پوخوالی دَ پاره دَ ستخط دَ نائب او دَ نورو ملګرو ضروری وی۔

ربط ۳ ۂ :- ابوحيان وئيلی دی چه دَ قرآن کريم په لويو سورتونو کښ دا عادت الهيه دے چه آخر دَ اول سره موافق وی۔ نو داسے دَ دے سورت په اول کښ دَ مؤمنانو دَ ايمانياتو ذکر اوشو نو اوس په آخر کښ هم دَ هغې بعضے تفصيل ذکر کوی او لفظ دَ بالغيب تفصيل کوی په دے آيت کښ په ذکر دَ مؤمَنٌ بِهٖ څيزونو سره۔

اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ ، الرسول کښ الف لام عهدی دی يعنی محمد رسول الله (صلی الله عليه وسلم) بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ کښ ټول مؤمَنٌ بِهٖ احکام داخل دی چه په قرآن او سنت کښ او خصوصًا په دے سورت کښ ذکر دی۔ او دا دليل دے چه رسول الله صلی الله عليه وسلم هم مکلف دے په ايمان لرلو سره۔ او دَ دے بعضے تفصيل په سورة اعراف ۱۵۸ کښ دے او رسول الله صلی الله عليه وسلم يقين کوونکے وو چه دا کلام سحر، کهانت او القاء دَ شياطينو نه دَه بلکه نازل کړے شويدے دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه۔

وَالْمُؤْمِنُوْنَ ، دا په الرسول باندے عطف دے۔ يا دا مبتداء دَه او روستو جمله دَ دے خبر دے۔ اول قول غوره دے۔ ابن عاشور وئيلی دی چه دا دلته لقب دے دَ صحابه کرامو نو سوال نه راځی چه لفظ دَ اٰمَنَ سره المومنون ذکر کول خاص فائده نه لری۔

كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ، دا تفصيل دے دَ اجمال دَ اٰمَنَ دَ پاره۔ ايمان په الله تعالیٰ عبارت دے دَ تصديق نه په وجود دَ هغه او په توحيد دَ هغه دَ ټولو اقسامو سره او دا اوله مرتبه دَ ايمان ده۔

وَمَلٰٓئِكَتِهٖ، ايمان په ملائكو عبارت دے دَ تصديق دَ وجود دَ هغوی نه او دَ صفاتو دَ هغوی نه چه په قرآن او احاديثو كښې ذكر دی خلاف دَ عقيدے دَ اهل جاهليت نه۔ او دا دَ ايمان دويمه مرتبه ده ځكه چه ملائك واسطے دی په مينځ دَ الله تعالیٰ او دَ بندګانو دَ هغه كښې په باره دَ احكامو راړسولو كښې۔

وَكُتُبِهٖ، دَ الله تعالیٰ په ټولو كتابونو باندے ايمان چه دَ هغې اجمالی يا تفصيلی تصديق په قرآن كريم كښې موجود دے۔ او دا دريمه مرتبه دَ ايمان ده۔ چه دَ ملائكو په ذريعه سره دا كتابونه رسولانو ته رارسيدلے دی۔

وَرُسُلِهٖ، ايمان په هغه رسولانو چه دَ هغوی اجمالی يا تفصيلی ذكر په قرآن او په احاديثو كښې ثابت دے او دَ هغوی صفتونه دَ عبديت، بشريت او رسالت وغيره۔ او دا څلورمه مرتبه دَ ايمان ده چه دَ ملائكو او كتابونو الهيهٔ په واسطے سره دوی ته احكام الهيه دَ دے دَ پاره رالیږلے شويدی چه دوی ئے خپل امتونو ته اورسوی۔

لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ اَحَدٍ مِّنۡ رُّسُلِهٖ، دا جمله حاليه ده په تقدير دَ يقولون سره۔ په دې كښې دفع دَ وهم ده چه فرق دَ رسولانو په مرتبو كښې په فضيلت او په فروعو كښې شته دے نو آيا په ايمان لرلو كښې په دوی باندے هم فرق شته۔ نو اُوئيلے شو چه دَ مراتبو او فروعو فرق مستلزم نه دے فرق لره په رسالت كښې۔ او دا صريح رد دے په ايمان دَ يهودو او نصاراؤ باندے چه

هغوی په بعضے رسولانو باندے ایمان راوړی او په بعضو ئے
راوړی- سوال: لفظ دَ بَيْنَ مضاف کیږی متعدد ته او اَحَدٍ
کښ تعدد نیشته؟-
جواب ١: احد په معنیٰ دَ جمیع دے- (خو په دے باندے بعض
مفسرین رد کړے دے)-
٢: په عبارت کښ تقدیر دے یعنی بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ وَبَيْنَ
غَيْرِهٖ-
٣: په دے لفظ احد کښ عموم دے ځکه چه په نفی کښ
مستعمل دے نو معنیٰ دَ جمیع ادا کوی نو اضافت دَ بین ورته
صحیح دے-
وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَ اَطَعْنَا، هر کله چه کمال دَ ایمان بغیر دَ علم نه
نیشته بلکه مقصد دَ ایمان قبولیت دے عقیدتاً او عملاً- او دا قول
دَ صحابه کرامو (مخکښ په حدیث کښ ذکر شوے دے) په خلاف
دَ قول دَ یهودیانو او دَ نصاراؤ دے چه هغوی وئیلی دی سمعنا
وَعصینا- او دَ دے مفعولونه پټ دی یعنی سَمِعْنَا قولك وَاَطَعْنَا
امرك- او امام رازی وئیلی دی چه عدم ذکر دَ مفعول دلالت کوی
چه بل قول او امر داسے نیشته دے چه دَ هغے سمع او اطاعت دے
اوکړے شی- او مراد دَ سمع نه صرف آوریدل نه دی ځکه چه په
هغے سره مدح نشی کیدلے بلکه سمع دَ قبولیت ده نو معنیٰ ئے
داده چه زموږ علم او یقین راغلے دے چه هر هغه حکم چه په
واسطه دَ ملائیکو او انبیاء علیهم السلام سره موږ ته رارسیدلے
دے نو هغه حق او صحیح او واجب القبول دے- او سمع په دے
معنیٰ ذکر ده په سورة ق ۳۷ کښ- او اَطَعْنَا هم دلالت کوی چه
دَ قبولیت سره عمل کول ضروری دی او دیته پوره ایمان وئیلے شی
غُفْرَانَكَ رَبَّنَا، هر کله چه په قبولیت او په طاعت کښ خامخا دَ بنده
نه څه قسم قصور واقع کیږی او مخکښ اُو وئیلے شو چه فَيَغْفِرُ لِمَنْ
يَّشَاءُ نو دَ دے وجے نه ئے سوال دَ مغفرت ذکر کړو- او دَ دے نه
مخکښ دَ سیبویه په نیز لفظ اِغْفِرْ پټ دے- او دَ مغفرت معنیٰ

لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ؕ

تکلیف نه درکوی الله تعالی هیڅ نفس ته مګر په قدر د وس د هغه

لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ؕ

هر نفس لره بدله د هغه نیک عمل ده چه کړے ئے دی او په هر نفس باندے سزا د هغه بد عمل ده چه کړے ئے

رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ اِنْ نَّسِيْنَآ

(وائی دوی) اے ربه زمونږ مه نیسه مونږ که چرے هیر کړو دوخه حکمونه ستا په قصد سره

اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ

یا خطائی اوکړو په ګناه کولو سره اے ربه زمونږه او مه راچوئ په مونږ باندے

اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ

دروند بوج لکه چه تا اچولے کړ دا سے بوج په هغه کسانو باندے

مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا

چه زمونږ نه مخکښ وو اے ربه زمونږه او مه اچوے په مونږ باندے

مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ وَاعْفُ عَنَّا ۟ وقفة

هغه څه چه نیشته طاقت مونږ لره د هغے او معافی اوکړے زمونږ نه

وَاغْفِرْ لَنَا ۟ وقفة وَارْحَمْنَا ۟ وقفة اَنْتَ مَوْلٰىنَا

او بخنه اوکړے مونږ ته او رحم اوکړے په مونږ باندے ته مولی زمونږ ئے

وسیع دے چه انبیاؑ علیهم السلام ته هم عام دے۔ وَاِلَیْکَ الْمَصِیْرُ، هر کله چه طلب د مغفرت د قیامت د خوف د وجے نه دے نو په دے جمله کښ ذکر شو ایمان په قیامت باندے (یعنی ورکرځیدل الله تعالی ته) او ایمان په قیامت اګرچه د اصول ایمان ایته د ایمان نه دے لیکن علت غایه دے د پاره د قبولیت په عقیدے او عمل سره د دے وجے نه ئے ذکر کړو۔ (صاحب اللباب)۔

فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۸۶﴾

تۀ غلبه راکړے موږ له په	قوم	کافرانو باندے۔

ع ۳ / ۸

سـ۲۸۶:۔ په دے آیت کښ ترغیب دے په خرچ کولو دَ وس اوطاقت خپل سره دَ پاره دَ قبولیت او طاعت کولو۔ بیا ذکر دَ دُعا دے متعلق دَ عمل کولو په سورت باندے سره دَ عدم مواخذه په نسیان اوخطا باندے او عدم حمل دَ اصر (چه کفر، شرک او عدم توبه کول دی) او دَ وس اوطاقت نه زیات دَ دعوت وجهاد دَ مصیبتونو عدم تحمل۔ بیا درے دُعاګانے دی۔ او څلورمه دُعا دَ نصرت په مقابله دَ هغه خلقو کښ ده چه انکار کوی دَ مقاصدو دَ دے سورت نه او مقابله کوی۔

ربط له:۔ دَ مخکښ نه یو وهم پیدا شو چه کیدے شی چه دُعا دَ مغفرت دَ دے وجے نه وی چه تکلیف دَ الله تعالیٰ دَ طرف دَ طاقت او وس نه زیات دے نو جواب اوشو چه تکلیف الٰهیه دَ طاقت سره برابر دی (او بیا هم په هغے کښ په کوتاهئ سره الله تعالیٰ مغفرت کوی۔

ربط ۲ه:۔ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا جمله دَ مؤمنانو په کلام کښ داخل وی نو دا علت دے دَ پاره دَ قول دَ هغوی چه سمعنا او اطعنا دے۔ او که کلام دَ الله تعالیٰ وی په طریقه دَ استیناف سره نو بیا تسلی ده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه هغه چا ته چه سمعنا او اطعنا ئے وئیلے دی چه سمع او اطاعت همیشه کوئ ځکه چه تکلیف ستاسو دَ طاقت نه زیات نه دے۔ او تعلیم دَ دُعا دے په وخت دَ کوتاهئ کولو کښ۔

ربط ۳ه:۔ مخکښ دَ يحاسبكم به په اول قول کښ تیر شویدی چه هغه منسوخ دے په دے جمله سره چه لایکلف الله آه۔ نو دا ذکر دَ ناسخ دے (تخفیف دے) روستو دَ ذکر دَ منسوخ (تثقیل) نه۔

لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا، دا سے په آیت ۲۳۳ کښ تیر

شوی دی او په سورة انعام ۱۵۲ اعراف ۴۲ او سورة مؤمنون ۶۲ کښ په صیغه دَ متکلم (لا نکلف) سره ذکر دے - یکلف متعدی دے په اصل کښ دوه مفعولونو ته۔ دویم مفعول په اصل کښ پټ دے یعنی عبادةً او شیئًا۔ دلته استثناء مفرغ په ځائے دَ دویم مفعول کښ قائم ده۔ تکلیف په اصل کښ په چا باندے څه ذمه واری کیښودل دی۔ او هغه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دوه قسمه دے - مصیبتونه کونیه لکه مرضونه او حوادث وغیره - او احکام شرعیه (قلبی، بدنی او مالی) دلته دَ دواړه قسمه احتمال شته دے۔ لیکن دَ سورت دَ احکامو ذکر کولو په مناسبت سره دویمه معنیٰ غوره ده - وُسْعَهَا کښ معنیٰ دَ فراخئ موجود ده چه انسان ئے وس او طاقت لری بغیر دَ تنګسیا نه - او دا لفظ دَ مصدر دے مراد تری نه مفعول دے - دَ قدرت، طاقت او جهد دَ الفاظو په نسبت دے لفظ کښ اسانتیا ډیره ده او دا دلیل دے چه تکلیف مالا یطاق یعنی بتکلیف بالمحال واقع نه دے او دَ دے په وقوع او امکان کښ ډیر اختلاف دے - قرطبی، جصاص، صاحب اللباب او ابن عاشور وغیره په تفصیل سره لیکلی دی - او په لفظ الا وسعها سره غیر اختیاری کارونه لکه وسوسے وغیره خارج دی نو په ما فی انفسکم کښ نه دی داخل یا ئے دَ هغے نه تخصیص شویدے چه هغے ته نسخ وئیلے شویده -

لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ، دا جمله حال دے دَ نفسًا نه او تقسیم دَ کیفیت دَ وسع دے دوه قسمونو ته - یا به ئے حسنات (نیکئ) کړے وی نو هغه به دَ هغه نفس کسب کړونکی دَ پاره نفع او فائده وی - یا به ئے سیئات (بدئ) کړے وی نو دا به په هغه نفس باندے ضرر او نقصان وی - او کسب او اکتساب اختیاری امور ته وئیلے شی نو خواطر او وسوسے تری نه بهر دی - دَ

اهل لغت په نیز صحیح دا دہ چه کسب او اکتسبت بو شان دی په خیر او په شر کښ په دلیل دَ سورة البقرہ ۸۱ انعام ۱۶۴ او سورة مدثر ۳۸ سره۔ او دلته فرق په سبب دَ لام او علی سره دے۔ او بعضو فرق کړیدے چه اکتساب خاص دے دَ کسب نه۔ یعنی کسب تقسیم دے۔ دَ ځان دَ پاره کسب او دَ غیر دَ پاره کسب۔ او اکتساب صرف دَ ځان دَ پاره کسب کولو ته وئیلے شی۔

سوال :۔ دَ خیر سره کسبت او دَ شر سره اکتسبت ذکر کولو کښ څهٔ حکمت دے ؟

جواب :۔ ابن عطیه وئیلی دی چه دَ حسناتو کسب کښ په اصل کښ تکلیف نیشته ځکه چه کارونه دَ دین آسان دی نو دَ هغے سره کسبت ذکر شو او دَ سیئاتو په کسب کښ په اصل کښ تکلیف دے ځکه اکثریئے دَ خلقو نه په پټه کوی او مشقت پکښ برداشت کوی او په نسبت دَ آخرت سره هم تکلیف دے دَ دے وجے نه دَ هغے دَ پاره اکتساب ذکر شو۔ او په دے آیت کښ دلیل دے چه بنده ته دَ فعل نسبت په لفظ دَ کسب سره پکار دے په لفظ دَ قدرت سره موهم دے۔ او په دواړه جملو کښ لها او علیها مخکښ راوړل دَ تخصیص دَ پاره دی۔ په اول کښ رد دے په شفاعت شرکیه باندے او په دویم کښ موافقت دے دَ لَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰی سره۔

رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا ، په دیکښ دوه احتمالات دی اول دا چه په دیکښ قالوا پټ دے او حکایت دے دَ مؤمنانو دَ روستو قول نه چه قالوا سمعنا و اطعنا دے او په مینځ کښ جملے معترضے دی۔ یعنی مؤمنان دَ ایمان دَ اقرار او اطاعت نه روستو توجه کوی دُعا او تضرع کولو الی الله ته۔ دویم احتمال دا دے چه دا تلقین دے دَ

الله تعالیٰ دَ طرف نه پشان دَ سورة فاتحه نو قولوا پېږ دي.
مواخذه دَ اخذ نه ده په معنیٰ دَ عقوبت او عذاب ورکولو
لکه سورة عنکبوت سنه کښې - او مفاعله په معنی دَ مجرد
ده دَ مبالغې او تاکید دَ پاره په دُعا کښې - یا اخذ دَ الله تعالیٰ
دَ طرف نه په عقوبت سره دے او دَ بنده دَ طرف نه په
طلب دَ عفو سره دے.

اِنْ نَّسِيْنَآ اَوْ اَخْطَاْنَا ، نسیان مقابل دَ ذکر دے. هیرول
دَ هغه څيز چه په کولو دَ هغې سره امر شوے وي - یا کول
په هیره سره دَ هغه څيز چه دَ هغې دَ کولو نه منع ذکر
شوے وي - لکه دَ مونځ وخت تر ینه هیر شي ، یا روژه
نیول تر ینه هیر شي او خوراک اوکړي یا دَ یو خوراک نه
منع شوے وي او دَ دهٔ نه دغه تهي هیره شي - په قرآن
کریم کښې دَ دے ماده پنځه څلویښت (۴۵) کرته ذکر ده
او دَ هغې استعمال په مختلف طریقو سره شوے دے.
اول په معنیٰ دَ هیرولو دا په ډیرو آیاتونو کښې دے لکه
سورة طٰه سـ۱۱۵ کهف سـ۶۱ دویم دَ دے صفت نفي دَ الله
تعالیٰ نه په سورة مریم سـ۶۴ طٰه سـ۵۲ کښې ده - دریم
په معنیٰ دَ ترک عمدًا سره سورة اعراف سـ۱۶۵ جاثیه سـ۳۴
کښې څلورم ترک دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه اهانتًا او په طریقه
دَ مجازات سره لکه سورة توبه سـ۶۷ اعراف سـ۵۱ پنځم
نسبت دَ دے شیطان نه په طریقه دَ ګمراهئ سره سورة
مجادله سـ۱۹ شپږم نسبت شیطان ته په طریقه دَ تسلط
یا صرف په خوشحاله کیدلو دَ شیطان لکه سورة یوسف
سـ۴۲ کهف سـ۶۳ اووم نسبت الله تعالیٰ ته تشریعًا سورة
بقره سـ۱۰۶ - امام راغب وئیلي دي چه هر هغه نسیان
چه الله تعالیٰ په طریقه دَ ذم (بدئ) سره ذکر
کړے دے نو هغه عمدًا پریښودل دي او کوم چه
عذر دے نو هغه هغهٔ دے چه په قصد سره نه وي.

اَوْ اَخْطَأْنَا ، امام راغب وئیلی دی چه اراده دَ یو کار
اوکړی او تا ساپه ترینه بل کار اوشی نو دیته خطا
وئیلے شی او په دیکښ درے قسمونه دی - اول دا
چه یو شخص اراده اوکړی دَ هغه کار چه اراده ئے
بنه کار نه وی او دے ئے اوکړی نو دیته خوخطاء تام
وئیلے شی داخو گناه دے - شرک اوکفر ته هم خطا
وئیلے شی لکه وَاَحَاطَتْ بِهٖ خَطِیْئَتُهٗ ، دویم دا چه
اراده اوکړی دَ هغه کار چه کول ئے بنه کار وی لیکن
اوشی خلاف دَ هغے نه او دا مراد دے په دے حدیث
سره چه رُفِعَ عَنْ اُمَّتِیْ اَلْخَطَاءُ وَالنِّسْیَانُ - او وَمَنْ
قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً ، دریم دا چه اراده اوکړی دَ ناجائز
کار لیکن بنه کار ترینه صادر شی نو دے په اراده کښ مخطی
دے او په عمل کښ مصیب دے نو دے هم قابل ذم دے
سوال :- دَ سنن ابن ماجه حدیث دے رُفِعَ عَنْ اُمَّتِیْ
الْخَطَاءُ وَالنِّسْیَانُ وَمَا اسْتُکْرِهُوْا عَلَیْهِ ، (معاف شویدے
ځما دَ اُمت نه خطاء او هیره او هغه چه جبر (زور) پرے
اوکړیشی) نو هر کله چه دا معاف دی نو دَ هغے دَ دُعا
غوښتلو څه مطلب دے ؟
جواب ۱ :- دَ نسیان نه مراد پریښودل دَ فعل مامور
بِهٖ دی په سبب دَ تاویل فاسد سره او مراد په خطا
سره کول دَ یو فعل منهی عنه دی په تاویل فاسد
سره (صاحب اللباب)
جواب ۲ :- نسیان په دوه قسمه دے اول هغه دے چه
صاحب دَ هغے معذور وی - لکه یو شخص بخپله جامه
کښ پلیتی نه وی لیدلے او مونځ اوکړی - یا یو شخص
همیشوالے کوی په تلاوت دَ قرآن باندے او سره
دَ دیته دَ هغه قرآن لوستل هیر شی نو په دیکښ انسان
معذوره دے - دویم قسم هغه دے چه په هغه کار

کښې معذوره نه وی لکه یو شخص په جامه یا بدن کښې پلیتی او وینی لیکن و ئنځل دَ هغې روستو کړی ترد ے پورے چه هیرشی تربته او مونځ په کښې اوکړی - یا دَقرآن تلاوت اوتکرار نه کوی تو هیرشی تربته په دے حال کښې دے قصور وار غیرمعذور دے - توکَ روستنی شخص نه طلب کَ غفران (بخنے غوښتلو) کیدے شی - دا رنګ کَ خطأ اطلاق په عمداً ګناه باندے هم کیدے شی - دلته هغه مراد دے -
جواب ۳ :- دا دُعا کَ عفوکَ خطأ او نسیان نه مخکښې ده نو دُعا قبوله شوه - نوکَ قبولیت کَ دُعا نه روستو په طریقه کَ ذکرکَ نعمت سره ذکرکیږی -
رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ إِصْرًا، اِصْر په اصل کښې ثقل او بوجه ته وئیلے شی او په معنیٰ کَ عهد او میثاق سره راځی لکه په سورة العمران ۸۱ کښې دی - ابو حیان نور اطلاقات هم ذکرکړیدی لکه هغه ګناه چه کفاره او توبه پکښې نه وی، مسخ کَ شکلونو او زر عذاب راتلل - دلته مراد هغه سخت اعمال او تکالیف او سزاګانے دی چه په ملت کَ بنی اسرائیلو کښې مقرر وے - لکه پنځوس مونځونه په شپه او ورځ کښې، زکوٰة کښې څلورمه حصه ورکول او کَ جامے نه پلیت ځائے لرے کول (پریکول) وغیره - قفال وئیلی دی چه دَ تورات په سفر خامس کښې کَ هغې تفصیلات موجود دی -
سوال :- دغه تکالیف خو الله تعالیٰ په دے اُمت باندے نه دی کیښودلی نو دَ دُعا کولو څه فائده ده ؟ -
جواب ۱ :- کَ دے دُعا نه روستو الله تعالیٰ هغه په دے اُمت کښې نه دی فرض کړی لکه په حدیث کَ مسلم کښې ذکر دی چه کَ دے دُعا په جواب کښې الله تعالیٰ اُوفرمائیل نعم - قد فعلت (ابن کثیر)
جواب ۲ :- کَ دے دُعا غوښتل په طریقه کَ ذکر کَ نعمت دی - یا کَ اصر نه مراد هغه ګناه دے چه توبے ترینه نه وی (توبه نه اُوباسی) یا بغیر کَ توبے نه نه معاف کیږی لکه شرک او کفر -
وَلَا تُحَمِّلْ نه مراد دا دے چه یا الله مونږ پرے اُوساتے کَ دا سے

گناه کولو ته (سمعانی ـ اللباب)
كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا، بنا په اول احتمال دَ ديته مراد يهوديان دی ـ او په دويم احتمال مخکين مشران مشرکان مراد دی که کتابی وی او که غير کتابی وی ـ
رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَالَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ، غوره دا ده چه دَ ديته مراد هغه تکاليف او مصيبتونه دی چه په حق دعوت کولو کښ راځی لکه چه په انبياء عليهم السلام باندے راغلی دی ـ اگرچه هغه دَ هغوی دَ طاقت سره مناسب وو ليکن دَ هر يو شخص دَ طاقت او استطاعت اندازه جدا جدا وی دَ دے وجے نه ئے دلته دَ مخکښ کسانو سره تشبيه ذکر نه کړه ـ او مالا طاقة لنا سخت دے دَ اصر نه ځکه چه اصر دَ انسان په طاقت کښ کيدلے شی دَ دے وجے نه اصر سره ئے حمل په تخفيف سره ذکر کړو او دلته حمل په تشديد سره ـ يعنی دَ اصر حمل ممکن دے او دَ مالا طاقة حمل امکان نه لری هغه که راځی نو په تحميل (حمل مجبورئ) سره به راځی ـ
وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا، امام راغب او ابن کثير وئيلی دی چه انسان په باره دَ گناهونو کښ درے څيزونو ته محتاج دے ـ اول عفو چه هغه دَ گناه عقوبت ساقط کول دی ـ دويم مغفرت يعنی پرده اچول دَ دے دَ پاره چه شرمنده گی رانشی ـ دريم رحم يعنی نور احسانات (نيکئ) کول او ځان دَ آئينده دَ پاره دَ گناه نه بچ ساتل ـ او هر روستنے دَ مخکښ نه ابلغ دے ـ
سوال :ـ دَ دے سره ئے ربنا نه دے راوړے؟
جواب :ـ اوله وجه دا ده چه عرب په خپله محاوره کښ په يو لفظ کښ تکرار دَ دريو ځلو نه زيات بد گڼړی ـ بله وجه دا ده چه هغه مخکښ درے فروع دی دَ پاره دَ دے دريوارو ـ
عفو اصل دے دَ عدم مواخذے دَ پاره او مغفرت

اصل دے دَ مشقت لرے کولو دَ پارہ - او رحم اصل دے دَ پارہ دَ لرے کولو دَ عقوبات دُنیویہ او اُخرویہ۔ نو استجابت دَ مخکښ دریو مستلزم دے دَ دے دریوارو استجابت لرہ۔

اَنۡتَ مَوۡلٰىنَا ، دا په اصل کښ علت دے دَ ټولو دُعاګانو دَ پارہ دَ دے وجې نه ئې بغیر دَ عطف نه ذکر کړو۔ یعنی موږ ستا نه دغه تیرے شوے دُعاګانے دَ دے وجې نه غواړو چه ته زموږ مولا ئې او مولا په خپلو مریانو باندے رفیق کوی - او دا رنګ دا یو خاص وسیله ده دَ روستو جملې دَ پارہ۔

فَانۡصُرۡنَا عَلَى الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ ، حرف دَ فَا دَ تاکید دَ پارہ دے یعنی ولایت دَ الله تعالی مؤمنانو لرہ خامخا مستلزم دے دَ نصرت کولو او دا جامعه او پوره دُعا ده ځکه چه نصرت په کافرانو سبب دے دَ سلامتیا دَ فتنو نه او دَ اشاعت دَ دین او دَ خاتمت دَ ذِلت دُنیوی دَ پارہ۔ دا رنګ دا اشاره ده جهاد ته ځکه چه دَ اشاعت دَ احکامو دَ دے سورت دَ پارہ دَ مخالفینو (رکاوټ پیدا کوونکو) سره مناظرے کول او قتال کول ضروری دی او هغه په نصرت دَ الله تعالی سره کیږی - او دَ نصرت نه مراد دلته غلبه حاصلیدل دی - ابن کثیر دَ معاذ رضی الله عنه نه دَ دے سورت په آخر کښ آمین لوستل نقل کړی دی۔ (آمین)

امتیازات دَ دے سورت :- ‎۱ دا اول سورت دے چه په مدینے طیبے کښ نازل شوید ے او رد دے په یهودیت باندے۔ ‎۲ دَ هجرت دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په اول وخت کښ چه کومو کسانو منافقت کړے وو نو دَ هغوی اوصاف ئې ذکر کړی دی۔
‎۳ ذکر دَ استخلاف دَ آدم علیه السلام او دَ تعلیم الاسماء

او سجود دَ ملائکو۔ ع۲ ذکر دَ خاص اوامرو او نواهیو دَ بنی اسرائیلو دَ خلافت دَ بقاء دَ پاره ع۵ ذکر دَ انعامات خاصوُ په بنی اسرائیلو باندے په وخت دَ اتباع دَ موسیٰ علیه السلام کښ چه هغوی کړے وه۔ ع۶ دَ بنی اسرائیلو دَ هغه قبائحو ذکر چه سبب اوګرځیدو دَ پاره دَ نقل دَ نبوت او خلافت دَ هغوی نه بنی اسمٰعیلو ته۔ او دغه قبائح تقریبًا پنځوس دی۔ ع۷ ذکر دَ امامت دَ ابراهیم علیه السلام او جوړول دَ هغه بیت الله لره۔ او دَ هغه دَ ملت خلاصه۔ ع۸ ذکر دَ تحویل قبله۔ ع۹ ذکر دَ امورو دَ تهذیب الاخلاق انفرادی، سیاسی او منزلی۔ ع۱۰ ذکر دَ اقسامو دَ طلاق، دَ عدت او دَ رضاع۔ ع۱۱ ذکر دَ واقعے دَ طالوت او جالوت۔ ع۱۲ ذکر دَ مثالونو دَ انفاق او دَ هغے شرطونه وغیره۔ ع۱۳ ذکر دَ حرمت دَ ربوا۔ ع۱۴ ذکر دَ عقد دَ مداینے او په هغے کښ تقریبًا دیرش احکام۔ ع۱۵ ذکر دَ دلیلونو دَ توحید په کثرت سره (۵+۱۰+۱۰) هغه په درے انواعو سره دی یو استدلال په اعیانو دَ موادو دَ تربیت۔ دویم استدلال په کیفیاتو دَ اعیانو او دریم استدلال په اسمأ و صفاتو دَ الله تعالیٰ سره۔ ع۱۶ اثبات دَ رسالتِ رسول په دفع دَ خاص شبهاتو سره۔ ع۱۷ ذکر دَ توحید دَ دعوے په څلورو تعبیراتو سره۔

اعبدوا ربکم، لا اله الا هو الرحمٰن الرحیم، الله لا اله الا هو او لله ما فی السمٰوات وما فی الارض۔ ع۱۸ ذکر دَ اتو مثالونو درے په اول کښ یو په مینځ کښ او څلور په آخر کښ۔ ع۱۹ ذکر دَ حکم دَ خمر (شرابو)، جواری کول، نکاح او حیض۔ ع۲۰ رد په مظالمو او رسمونو دَ جاهلیت باندے۔

الحمد لله دَ سورت بقره تفسیر (څما دَ کم علم مطابق) ختم شو دَ الله تعالیٰ نه دُعا ده چه څما تولے خطایانے او ګناهونه معاف کړی۔ او الله تعالیٰ دا تفسیر خپل دربار کښ قبول اوګرځوی (آمین)

سورة آل عمران مدنية | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | مائتا اٰية وعشرون ركوعا

خاص په نوم دَ الله تعالیٰ امداد غواړو په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے۔

الٓمّٓ ﴿۱﴾ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ

الله تعالیٰ دَ دے په مراد پوهه دے۔ الله تعالیٰ نیشته حقدار دَ بندګئ سوا دَ هغه نه همیشه ژوندے دے

الْقَیُّوْمُ ﴿۲﴾ نَزَّلَ عَلَیْكَ الْكِتٰبَ

دَ دنیا نظام چلوونکے دے۔ نازل کړے دے په تا باندے کتاب

بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَیْنَ یَدَیْهِ

په رشتیا سره تصدیق کوونکے دے دَ هغه کتابونو چه مخکښې دَ ده نه دی

وَاَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِیْلَ ﴿۳﴾

او نازل کړیدے تورات او انجیل

سورة آل عمران

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دَ دے سورت نور نومونه :- آلوسی او قرطبی ذکر کړیدی چه دے سورت ته طیبه، الزهرا، امان دَ ماراتو نه، خزانه دَ مسکین دَ پاره، معینه، مجادله، سورة الاستغفار هم وائي - او وجوه دَ نومونو ئے المهائمی په تبصیر الرحمن کښې ذکر کړی دی - او مشهور نوم ئے آلعمران دے ځکه چه په دے سورت کښې حال دَ عمران دے چه پلار دَ مریم علیها السلام وو - او آل دَ هغه چه بی بی او لورئے دی او خپله دَ هغه بی بی دَ زکریا علیه السلام وه او کفالت کوونکے دَ مریم علیها السلام چه زکریا علیه السلام وو - او ځوئے دَ زکریا علیه السلام چه یحییٰ علیه السلام وو-

دَ دے نو لو حالات پکښی ذکر دی ۔ او په دیکښی رد دے په شبه دَ نصاراؤ په باره دَ مریم علیها السلام او څوئی دَ هغې کښی چه عیسیٰ علیه دے او دوی آل عمران وو ۔
غوره قول دا دے چه دا سورت دَ سورة الانفال نه روستو نازل شوید ے ځکه چه په سورت انفال کښی واقعه دَ بدر ذکروه چه هغه په دویم کال دَ هجرت دَ رمضان په میاشت کښی واقع شوے وه او په دے سورت کښی واقعه دَ غزوه احد ذکر ده چه هغه په دریم کال دَ هجرت دَ شوال په میاشت کښی واقع شویوه ۔ په دغه وخت کښی دوه لوے واقعات پیښی شوے وو ۔ یو واقعه دَ وفد دَ نجران چه مدینے طیبے ته دَ مناظرے کولو دَ پاره راغلی وو ۔ او دوی په هغه وخت کښی پاخه نصارا وو ۔ په دوی کښی ډیر مشهور راهبان وو او دوی په نجران کښی دَ مسیحیت کعبه جوړه کړیوه ۔ دوی شپیته کسان وو او دَ امیر نوم ئے عاقب وو ۔ او دَ دوی منتظم ایهم نومید و ۔ هرکله چه دوی دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره مناظره اوکړه او دَ عیسیٰ علیه السلام په باره کښی شبهات ذکر کړل نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم دویته جوابونه ورکړل (دَ هغے تفصیلی ذکر مهاتی په تبصیر الرحمان کښی کړیدے) لیکن دوی انکار کوو نو بیائے ورته دَ مباهلے دعوت ورکړو ۔ دوی دَ هغے نه ځان په چل او طریقے سره بچ اوساتلو ۔ نو دَ هغوی په باره کښی څه دَ پاسه اتیا آیتونه نازل شول ۔ او دویمه واقعه دَ غزوه اُحد وه نو روستو حصه دَ هغے په باره کښی نازل شویده ۔
ربط دَ سورة بقره سره :۔ هغه په ډیرو وجوهو سره دے ۔ ۱ سورة بقره کښی اقامت دَ حجت وو په توحید او رسالت باندے نو په دے سورت کښی ازاله دَ شبهاتو ده په باره دَ دغه دواړو کښی ۔ ۲ مخکښی سورت کښی رد

وو په یهودیانو باندے او په دے سورت کښ رد دے په نصاراؤ باندے ع۳ څلور مقاصد چه په سورت بقره کښ وو (توحید، رسالت، جهاد او انفاق) په یو طریقے سره نو په دے سورت کښ هغه په بل طریقے سره ذکر دی ع۴ په دے سورت کښ تشریح ده د بعضے امورو اجمالیه د سورة بقره - اول دا چه هلته ذکر وو (وقودها الناس) نو په دے سورت کښ دے ان الذین کفروا تر اُولئك هم وقود النار پورے - دویم دا چه په هغه سورت کښ کفر د کتابیانو بغیًا ذکر وو نو په دے سورت کښ ئے اختلاف بغیًا ذکر دے په آیت ۱۹ کښ - دریم دا چه په مخکښ سورت کښ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا الحيوة الدنیا ذکر وو نو په دے سورت کښ ئے زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ ذکر کړو په ۱۴ کښ - څلورم دا چه په هغه سورت کښ امامت د ابراهیم علیه السلام ذکر وو او په دے سورت کښ اصطفاء د آدم، نوح او د آل ابراهیم او آل عمران علیهم السلام ذکر ده - پنځم دا چه په هغه سورت کښ د جهنم د اُور په باره کښ اُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ذکر وو نو په دے سورت کښ د جنت په باره کښ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ذکر دے په ۱۳۳ کښ - شپږم دا چه په هغه سورت کښ قولوا امنا بما انزل الینا ذکر وو نو په دے سورت کښ قل امنا بما انزل الینا ذکر دے په آیت ۸۴ کښ - اووم دا چه په هغه سورت کښ دُعا د ابراهیم علیه السلام ذکر وه په باره د آخری نبی کښ - رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا آه - نو په دے سورت کښ د هغه د رسالت احسان ذکر کوی په مؤمنانو باندے په لَقَدْ مَنَّ اللهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سره په ۱۶۴ کښ - اتم دا چه هلته ربوا کول د کافرانو عمل او امر ذکر وو مؤمنانو ته د ربوا په پریښودلو نو په دے سورت کښ ئے نهی

ذکر کړه دَ مؤمنانو دَ ربو کولو نه په ۱۳۰ کښې - نهم داچه په هغه سورت کښې دَ منافقانو دَ صفاتو ذکر وو چه هغه متعلق وو دَ هجرت دَ زمانے سره - نو په دے سورت کښې دَ هغوی دَ هغه صفاتو ذکر دے چه متعلق وو دَ غزوه اُحد سره - لسم داچه هلته په اول دَ سورت کښې دَ متقیانو دَ صفاتو ذکر وو نو دلته ئے دَ سورت په مینځ کښې دوه درجے دَ متقیانو ذکر کړیدی په ۱۳۴ ، ۱۳۵ کښې - یوولسم داچه هلته ئے جوړول دَ بیت الله ذکر کړیدی - نو په دے سورت کښې دَ هغے اولیت او حکم دَ حج ذکر کړیدے په ۹۶ ، ۹۷ کښې - دولسم داچه په هغه سورت کښې دَ اهل کتابو قبائح ذکر شول نو په دے سورت کښې منع ده دَ هغوی دَ طاعت کولو نه په آیت ۱۰۰ کښې - دیارلسم داچه دَ هغه سورت اختتام په دُعا سره وو نو دَ دے سورت اختتام هم په دُعا سره دے -

دعوی دَ سورت :- په دیکښې اثبات دَ توحید دے او خصوصًا رد دے په شرک دَ نصاراؤ باندے په لس وجوهو سره - اوله وجه ، مختلف تعبیرات دی دَ توحید دَ مسئلے په اته آیاتونو کښې او ورسره درے کرته تفریع دَ توحید ده (۲-۶ (تف) - ۱۸ (رد - تق) - ۲۶ - ۲۷ - ۵۱ - ۶۲ (تف) ۶۴ - ۱۰۹ - ۱۲۹ - ۱۸۹) دویمه وجه ، دفع دَ شبهاتو دَ نصاراؤ ده په باره دَ عمران ، بی بی دَ عمران ، لور دَ عمران چه مریم علیها السلام وه او په باره دَ زکریا علیه السلام کښې په ذکر دَ عجز او عبدیت دَ هغوی سره نو هغوی آله نشي کیدے - او په باره دَ ابراهیم علیه السلام کښې چه دَ هغه په ملت (دین) کښې شرک نه وو - دا ټول شپږ شبهات وو او دَ هر یو دفعه اوشوه - دریمه وجه ، ذکر دَ اقوالو دَ راسخینو (دلائل نقلیه په توحید باندے) قول دَ ښځے دَ عمران په آیت ۳۵ کښې -

قول دَ مریم علیها السلام په ت۳۷ کښ- قول دَ زکریا علیه السلام په ت۳۸ کښ قول دَ عیسیٰ علیه السلام په ت۵۰ کښ- او قول دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ت۶۴ کښ- او قول دَ صحابه کرامو په ت۱۷۳ کښ-

څلورمه وجه، رد په بعضے اقسامو دَ شرک پا ندے. شرک فی العلم په ت۵، ت۲۹، ت۴۴، ت۱۱۹ او ت۱۵۴ کښ- شرک فی التصرف په ت۶، ت۲۶، ت۲۷، ت۴۸، ت۱۰۹، ت۱۲۹، ت۱۶۰ او ت۱۸۹ کښ- شرک فی العبادات په ت۵۱ او ت۶۴ کښ-

پنځمه وجه، ذکر دَ قبائحو دَ منکرینو دَ توحید دَ اهل کتابو نه په ت۶۹، ت۷۰، ت۷۱، ت۷۲، ت۷۳، ت۷۵، ت۷۷، ت۷۸، ت۸۶، ت۹۴، ت۹۸ او ت۹۹ کښ-

شپږمه وجه، اثبات دَ صدق دَ رسول چه دعوت دَ توحید ئے کړیدے په جواب دَ درے شبهاتو سره- یو په باره دَ حل او حرمت کښ په ت۹۳ کښ بل په ت۹۶ کښ دَ بیت الله په باره کښ- او دریم دَ هزیمت اُحد په باره کښ- او جواب دَ روستنئ شبهے په ذکر دَ دیار لس علتونو دَ هزیمت سره دے.

اوومه وجه، ذکر دَ عقلی، نقلی او وحی دلیلونو په اختصار سره په ت۲، ت۳، ت۵، ت۶، ت۱۸، ت۲۶ او ت۲۷ کښ-

اتمه وجه، ذکر دَ لس صفاتو دَ مؤحدینو چه اولوالباب دی په آخر دَ سورت کښ-

نهمه وجه، منع کول دَ موالات (دوستانے) دَ منکرینو دَ توحید نه که ظاهرًا منکرین وی لکه په ت۲۸ او ت۱۰۰ کښ او که باطنًا منکرین وی لکه په ت۱۱۸، ت۱۴۹ او ت۱۵۶ کښ-

لسمه وجه، ذکر دَ اسماء حسنیٰ دَ الله تعالیٰ دَ توحید دَ معرفت دَ پاره چه هغه پکښ شپږ ویشت ذکر دی بغیر دَ تکرار نه-

خلاصه دَ سورت:- (اجمالي خلاصه) اول اثبات دَ توحيد او رد په شبهاتو دَ نصارٰی باندې (دَ پاره دَ اثبات دَ الوهيت دَ عيسٰی عليه السلام) او بيا دعوت دَ توحيد په واسطه دَ آخري رسول صلی الله عليه وسلم اهل کتابو ته۔ او ذکر دَ قباحتونو دَ هغوی۔ او په آخر کښې منع دَ دوستانې ده دَ هغوی نه۔ بيا خطاب په يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا سره او په هغې کښې ذکر دَ څلورو قوانينو دَ تاسيس دَ تنظيم دَ مؤمنينو او دَ جهاد دَ پاره۔ او تفريع دَ واقعې دَ بدر او اُحد په هغه قوانينو باندې۔ بيا ذکر دَ آدابو دَ تهذيب دَ نفوسو دې چه هغه يو ديرش دي۔ او جوابونه دَ هزيمت دَ شبهې په اُحد کښې۔ او په آخر کښې بيا زجرونه دي په قباحتونو دَ کتابيانو باندې۔ او اختتام په ذکر دَ اولوالالباب۔ او دَ هغوی صفات او دُعاګانې۔

تفصيلي خلاصه:- په دې سورت کښې څلور حصې دي اوله حصه تر آيت ۳۴ پورې ده هغه په باره دَ اثبات دَ توحيد کښې ده په رد دَ شبهاتو سره۔ او په دې حصه کښې درې بابونه دي۔ اول باب تر آيت ۱۰ پورې دے۔ په دې باب کښې دعوٰی دَ توحيد ده او په هغې باندې دليلونه دي عقلي، وحي او نقلي۔ او تفريع دَ توحيد ده تر آيت ۱۹ پورې۔ بيا جواب دے دَ هغه چا چه دليل نيسي په متشابهاتو سره دَ پاره دَ اثبات دَ الوهيت دَ عيسٰی عليه السلام دَ پاره (او نورو مشرکينو او مبتدعينو) بيا تعليم دَ دُعا دَ تثبيت دے په داسې وخت کښې تر آيت ۹ پورې۔ بيا تخويف اُخروي دے په ۱۰ کښې۔ او تخويف دُنيوي دے په ذکر دَ مغلوب کيدونکو سره په ۱۱ کښې۔ او تمثيل دے په ذکر دَ بدر والو سره دَ پاره دَ عبرت په ۱۲ کښې۔ بيا تذليل دَ دُنيا او ترغيب دے آخرت ته په ذکر دَ بشارت اُخرويه سره۔ او هغه صفات ذکر دي چه په هغې سره جنت حاصليږي په ۱۷ کښې۔

تفسیر ۱: الٓمٓ ، دَ دے تشریح دَ سورة بقره په ابتداء کښ تیره شویده - او په سورت بقره کښ دا دَپاره دَ تحدی او دَپاره دَ اظهار دَ اعجاز دَ قرآن دے په مقابله دَ یهودیانو کښ او دلته په مقابله دَ نصاراؤ کښ دے - او دا دلیل دے چه کلام په داسے مقطعاتو سره شروع کول مشهور عادت وو په نیز دَ کتابیانو او عوامو مشرکانو - دَ دے وجې نه هغوی په قرآن کریم کښ دَ دے مقطعاتو په باره کښ هیڅ اعتراض نه دے کړے.

س ۲ : دا دعوی دَ توحید ده په مقابله دَ ټولو مشرکانو کښ خصوصًا په مقابله دَ نصاراؤ دَ نجران کښ - چه هغوی دَ عیسیٰ او مریم علیهما السلام دَ الوهیت عقیده لرله - اللّٰهُ ، یو قول دا دے چه دا مبتداء ده او نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ خبر دے - او په مینځ کښ جمله معترضه یا حالیه ده - او دویم قول دا چه دا مبتداء ده او لا اله الا هو خبر دے - لفظ دَ عَلَمْ (الله) ئے ذکر کړو دَ زیادت تخصیص دَپاره او دَ هیبت پیدا کولو دَپاره په زړونو دَ اوریدونکو کښ -

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ، یعنی داسے الله چه پاک دے دَ حلول او اتحاد نه او وجود دَ هغه بالذات دے په خپل وجود کښ هیچا ته محتاج نه دے - نو هغه صرف الله تعالیٰ دے عیسیٰ او مریم علیهما السلام وریسره شریک نشی کیدلے.

اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ، دا بدل دے دَ هُوَ نه - یا خبر دے دَ مبتداء محذوف - یا دویم خبر دے دَ لفظ الله دَپاره. او دَ دے تفسیر په آیت الکرسی کښ تیر شویدے - او دَ دے دواړو صفتونو تخصیص ئے په دے وجې سره اوکړو چه الوهیت (حقه) مقتضی دَ صفاتو دَ کمال دے. او اول او جامع دَ دے صفتونو حیات دے - چه علم، اراده ، سمع ، بصر ، قدرت او کلام په حیات بانداے

موقوف دی او دویم دا چه ټول کمالات دَ مخلوق دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دی - او دا معنیٰ دَ قیومیت ده - او عیسیٰ او مریم علیهما السلام کښ دا صفات نیشته - ځکه چه مخکښ پیدا نه وو بیا پیدا شو دَ مور نه او بیا ورباندے مرګ راغے په قول دَ نصاراؤ سره - یا په ورباندے مرګ روستو راځی په نیز دَ اهل حق - او ټول کمالات پکښ بالذات نه وو ځکه هغه قائم بالذات نه وو بلکه پخپل وجود کښ الله تعالیٰ ته محتاج وو -

۳ :- دا دلیل وحی دے دَ پاره دَ دعوے دَ توحید یعنی نبی صلی الله علیه وسلم دا دَ ځان نه نهٔ ده جوړه کړے بلکه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه نازل شویده - او نَزَّلَ په باب تفعیل سره دلالت کوی په قوت دَ فعل باندے په اعتبار دَ کیفیت یا کمیت (مقدار) سره - او باب افعال صرف دَ تعدیب دَ پاره دے - دلته دَ قرآن په باره کښ نَزَّلَ او دَ تورات او انجیل په کښ اَنْزَلَ دلالت کوی په تقویت دَ نزول دَ قرآن باندے دَ پاره دَ عظمت دَ شان دَ قرآن او کوم فرق دَ تنزیل او انزال چه زمخشری کړے دے چه اول دلالت کوی په لږ لږ نازلولو او دویم دلالت کوی په یو کرت نازلولو باندے نو په هغے باندے ابوحیان او ابن عاشور رد کړے دے -

اَلْکِتٰبَ ، دلته الف لام عهدی دی - یا الف لام جنسی دی - لیکن مراد په جنس سره فرد کامل دے چه قرآن دے - اشاره ده کمال دَ قرآن کریم ته -

بِالْحَقِّ ، باء د ملابست دَ پاره ده یعنی قرآن په اعتبار دَ الفاظو او معانو سره مشتمل دے په حق باندے -

قرطبی وئیلی دی چه بالحق دَ نزل سره نه دے متعلق بلکه حال دے دَ الکتاب نه - او حق په معنیٰ دَ صدق یا په معنیٰ دَ حجت غالبه سره دے -

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ، دا دے تفسیر مخکښې تیر شویدے او دادویم حال دے د الْكِتَاب ته۔ مهائمي وئیلي دي چه د تصديق نه مراد تعریف او اخبار دے د صدق د مخکنو کتابونو۔ او ابو مسلم وئیلي دي چه د تصديق نه مراد موافقت دے یعني مخکنو انبیاؤ دعوت کړیدے توحید او ایمان ته او منع یئے کړیده د شرك نه۔ او قرآن هم په دے باندے مشتمل دے۔

وَأَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ وَالْإِنْجِيْلَ، دا دلیل نقلي دے د اثبات د دعوے د توحید د پاره او دا هم تصدیق د قرآن دے مخکنو کتابونو لره۔

التَّوْرٰىةَ کښې دوه قولونه دي۔ اول قول دا دے چه دا د عبراني لغت کښې طورا دے په معنیٰ د هدایت باندے او یهودیان دیته سِفر طورا وائي۔ نو عربي لغت ته د نقل په وخت کښې الف لام پکښې داخل شول او طاء یئے په تا سره بدل کړه۔ دویم قول دا دے چه دا عبراني موافقت دے د عربۍ ژبے سره۔ او دا اخستلے شویدے د وَرْی نه (اُور را ویستل د ګټو د لرګو نه په بویل پورے) نو دلالت کوی په معنیٰ د رڼا باندے۔ او د دے وجے نه تورات ته ضیاء وئیلے شویده په سورة انبیاء کښې۔

الْإِنْجِيْلَ کښې هم دوه قولونه دي۔ اول قول دا دے چه دا لفظ یوناني دے (سریاني لفظ چه چا وئیلے دے نو غلط شویدے) او هغه په یوناني لغت کښې انکلیون (اناجیلیوم) په معنیٰ د خبر طیب وو۔ یا د (انیلیون) په معنیٰ د لفظ فصیح دے او دا نوم د هغه وحی دے چه عیسیٰ علیه السلام ته شوے وه۔ او د هغه اصحابو را جمع کړیده (او روستو پکښې تحریف شوے دے) دویم قول دا دے چه دا اخستلے شویدے د نجل نه اصل ته وئیلے شي یا هغه اُوبه چه را اُوځي د زمکے نه۔ یا وسعت ته وئیلے شي۔ قرطبي د دے تحقیق کړیدے۔ او قاسمي وئیلي دي چه تورات په عبراني ژبه کښې شریعت ته وئیلے شي او انجیل په یوناني لغت کښې زیری او خائسته خبر ته وئیلے شي۔ او هغه وئیلي دي چه دا حق قول دے او نقل دے د علماؤ د کتابونو نه۔

مِنْ قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَ اَنْزَلَ

مخکښې دَ دے قرآن نه هدایت (دَ توحید) دَپاره دَ خلقو او نازل کړے دے

الْفُرْقَانَ ۘ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

جدا کوونکی دَ حق او باطل (تورے صحیفے او وحی) یقیناً هغه کسان چه کفر ئے کړے دے

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ؕ

په آیاتونو دَ الله تعالیٰ دوی لره عذاب سخت دے

وَ اللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿۴﴾

او الله تعالیٰ زور آور بدله اخستونکے دے۔

۴: مِنْ قَبْلُ، دا متعلق دے په انزال پورے یا حال دے دَ التوراة والانجیل نه۔ او مراد ترینه مخکښې دَ دے زمانے نه یا مخکښې دَ قرآن نه۔ او په دے لفظ راوړلو کښې دوه فائدے دی۔ اوله فائده دا ده چه معلومه شی چه دَ تورات او انجیل هدایت دَ قرآن کریم نه روستو باقی پاتے نه دے هغه په مخکښې زمانے پورے خاص وو۔ دویمه فائده دا ده چه نازلیدل دَ تورات او انجیل په اصل کښې مقدمه ده دَ قرآن دَ نزول دَپاره او په قرآن کښې اصل مقصد دے۔

هُدًى لِّلنَّاسِ، دا دویم حال دے دَ التوراة والانجیل نه۔

سوال:- په سورة الاسراء ۲ کښې دی چه تورات صرف دَ بنی اسرائیلو دَپاره هدایت دے او دلته ئے لِلنَّاس وئیلی دی؟

جواب ۱:- په دے کښې الف لام عهدی دی یعنی صرف یهود او نصاریٰ۔

جواب ۲:- دلته استغراق عرفی مراد دے یعنی غیر دَ بنی اسرائیلو نه که چا اراده کړیده دَ هدایت حاصلولو دَ

تورات او انجيل نه نو هغوی ته هم هدايت حاصل شويو۔ هاں په دے لفظ کښ اهل قرآن نه دی داخل په قرينه دَ هغه نصوصو سره چه دلالت کوی په تاسخيت دَ مخکنو کتابونو سره ۔

جواب ۳ه :- دَ هدايت نه مراد هدايت دَ اصولو دَ ايمان دے او په هغے کښ ټول کتابونه الهيه متفق دی ۔

وَاَنْزَلَ الْفُرْقَانَ ، دا هم دليل نقلی دے دَ مخکښ کتابونو او صحيفونه چه سيوا دَ تورات او انجيل نه دو ۔ دَ دے لفظ تحقيق دَ سورة بقره آيت ۵۳ په تفسير کښ تير شوی دے ۔ دلته په مراد دَ فرقان کښ ډير اقوال دی ۔ امام رازی په ديکښ څلور اقوال ذکر کړی دی - اول قول دا چه مراد په دے سره زبور کتاب دے ۔ دويم قول دا دے چه مراد په دے سره قرآن دے ۔ دَ تعظيم دَ شان دَ دۀ او دَ مدح دَ پاره ئے په دے صفت سره دوباره ذکر کړو ۔ بل دَ دے دَ پاره چه دَ تورات او انجيل نه ئے روستو ذکر کړو چه يهود او نصاراؤ هر کله اختلاف کړيدے نو دَ هغوی دَ فيصلے دَ حق او باطل دَ پاره قرآن کريم دے ۔ دريم دا چه مراد په دے سره دغه درے کتابونه دی لکه چه هغه هدايت دے نو دا رنګ فرق راوستونکی دی په مينځ دَ حق او باطل کښ ۔ بيا امام رازی دا درے واړه اقوال ضعيف کړی دی او څلورم قول ئے ذکر کړيدے او هغه ئے غوره کړيدے چه مراد په دے سره معجزات دی چه هغه دغه انبياء عليهم السلام ته سره دَ کتابونو ته ورکړے شوی دی او هغه معجزات تائيد دے دَ دغه کتابونو دَ پاره ۔ ابن جرير پنځم قول ذکر کړيدے چه مراد په دے سره فصل دے په مينځ دَ حق او دَ باطل کښ په هغه خبرو کښ چه ډلو دَ نصاراؤ په هغے کښ اختلاف کړيدے په باره دَ عيسیٰ عليه السلام او نورو خبرونو کښ ۔ ابن کثير

شپږم قول (عام) ذکر کړیدے چه مراد هغه حجتونه، بینات، واضح دلیلونه او یقینی براهین دی چه الله تعالیٰ ئے بیانوی دَ پاره دَ فرق په مینځ دَ حق او باطل او هدایت اوضلال کښ - او قاسمی اووم قول ذکر کړیدے چه په دے سره مراد میزان دے لکه چه په سورة حدید ۲۵ کښ ذکر دی - او مهائمی اتم قول ذکر کړیدے چه دے سره مراد اقامت دَ دلیلونو او رفع دَ شبهاتو ده چه په مخکنو کتابونو او په دے کتاب کښ ذکر دی - او نیشاپوری نهم قول ذکر کړیدے چه مراد په دے سره جنس آسمانی کتابونه دی ځکه چه هغه ټول فرق راولی په مینځ دَ حق او باطل کښ او دا قول زمخشری هم ذکر کړیدے - او سمعانی لسم قول ذکر کړیدے چه هر هغه څیز (کتاب، صحیفه، معجزه) چه الله تعالیٰ نازل کړیدے نو هغه فرق راولی په مینځ دَ حلال او حرام کښ او هغه فرقان دے -

تنبیه :- په دے ټولو اقوالو کښ منافات نیشته ټول مراد کیدے شی دَ وجے دَ تعمیم دَ لفظ نه لیکن ځما په نیز غوره دا ده چه تصریح اوکړے شی په ذکر دَ صحیفو دَ انبیاؤ مخکنو باندے دَ درے وجو نه - اوله وجه دا ده چه قول دَ نیشاپوری، زمخشری او سمعانی دیته شامل دے - دویمه وجه دا ده درے کتابونه قرآن، تورات او انجیل مخکښ ذکر شو نو دا لفظ نورو صحیفو ته اشاره کیدے شی - او دَ زبور دَ اراده په باره کښ امام رازی تردید کړیدے چه په هغے کښ احکام نه وو چه فرق راولی دَ حق او باطل - او په صحیفو مخکنو کښ معلومیږی چه احکام او دلیلونه موجود وو دَ پاره دَ فرق دَ حق او باطل په قرینه دَ سورة نجم ۳۶، ۳۷ او سورة اعلیٰ ۱۸ سره -

إِنَّ اللَّهَ لَا يَخْفَىٰ عَلَيْهِ شَيْءٌ

يقيناً الله تعالى نه شي پټ كيدلے په هغه باندے هيڅ څيز

فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ ﴿٥﴾

په زمكه كښ او نه په آسمان كښ

دريمه وجه دا ده چه لفظ فرقان په لغت كښ هغے ته شامل دے۔ او تخصيص دَ اقوالو مخكنو دَ پاره نص صريح او حديث صحيح مرفوع نيشته۔

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ، دا جمله مستانفه ده په ذكر دَ تخويف سره دَ پاره دَ مخالفت كوونكو دَ نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ، او په الذين كفروا كښ مشركين او يهودو نصارىٰ او خاصكر نصارىٰ دَ نجران داخل دى۔ او په آيات الله سره مراد دلته قرآن كريم دے۔ يا هغه آيات چه په تورات او انجيل كښ وو مخكښ دَ تحريف نه نو كفر تحريف كولو ته هم شامل دے۔

لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ، جزاء دَ جنس دَ عمل نه وى يعنى هر كله چه كفر دَ كتابيانو شديد دے نو دَ هغوى عذاب هم شديد دے۔

وَاللَّهُ عَزِيزٌ ذُو انْتِقَامٍ، اشاره ده چه دغه مشركان په شرك دَ الله تعالىٰ كښ په صفت دَ عزت پورے استهزاء كوى حُكه ورله سخته سزا وركوى۔ انتقام عذاب دے په اعتداء كولو باندے سره دَ غضب نه او په نقمت كښ معنىٰ دَ كراهيت هم وى او معنىٰ دَ بدل اخستلو هم وى۔ يعنى دغه مشركانو دَ الله تعالىٰ دَ بے عزتئ داراده سره سره دَ هغه توحيد او اصحاب توحيد هم بدګنړلى دى دَ دے وجے نه الله تعالىٰ دوى له انتقامى سزا وركوى۔ او لفظ دَ ذو دلالت كوى په ملكيت باندے نو دا انتقام دَ الله په مِلك او اختيار كښ دے دَ هغه نه دَ دے

هُوَ الَّذِيْ يُصَوِّرُكُمْ فِي الْأَرْحَامِ

خاص هغه داسے ذات دے چه شکل جوړوی ستاسو په بچه دانی د ماندو کښ

كَيْفَ يَشَاءُ ۚ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ

چه څه رنگ اوغواړی نیشته حقدار د الوهیت سوا د هغه نه

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٦﴾

زور آور حکمتونو والا دے۔

صفت زوال نه کیږی۔

ف ۱:۔ دا دلیل عقلی علمی دے د پاره د دعوے د توحید او ورسره رد د شرك فی العلم دے۔ او دا صفت د علم ئے په طریقه د نفی سره راوړے دے لکه په سورة ابراهیم ۳۸ کښ۔ ځکه دا صفت په دے تعبیر سره نصارٰی په عیسٰی علیه السلام کښ نه شی ثابتولے۔ لکه چه مفسرینو لیکلی دی چه نبی صلی الله علیه وسلم د هغوی نه داسے تپوس کړے وو په باره د عیسٰی علیه السلام کښ او هغوی چپ شول۔ او شیءٌ نکره په سیاق د نفی کښ د عموم د پاره ده او فی الارض ولا فی السماء کښ نور عموم د مکانونو ذکر دے او مراد د ارض نه عالم سفلی دے چه په هغے کښ دریابونه داخل دی۔ او مراد د سماء نه جنس آسمانونه دی یعنی عالم علوی۔ او ارض ئے د دے وجے نه مخکښ ذکر کړو چه انسان ته د زمکے د بعضے خیزونو علم ورکړے شوے دے۔ او د آسمانونو سره د انسان علم په هیڅ طریقه سره تعلق نه لری۔

ف ۶:۔ مخکښ آیت کښ بیان وو د وصف د اَلْحَیُّ نو په دے آیت کښ بیان دے د معنٰی د قیومیت۔ او دا بل دلیل عقلی دے د اثبات د توحید د پاره۔ او دلته د قیومیت نه ئے تصویر فی الارحام خاص کړو په ذکر سره ځکه چه

هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ

خاص الله تعالىٰ دا سے ذات دے چه نازل کړیدے په تا بانديے کتاب

مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ

چه بعض دَ هغے نه آیاتونه ښکاره معنىٰ والا دی دغه اصل دے

الْكِتٰبِ وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ؕ فَاَمَّا

دَ ټول کتاب او نور ایاتونه پټے معنے والا دے نو هر چه

الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ

هغه کسان دی چه په زړونو دَ هغوی کښ کوږوالے دے

فَيَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ

نو تابعداری کوی دَ هغه (آیاتونو) چه پټے معنے والا دی دَ دے نه

ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَآءَ تَاْوِيْلِهٖ ۚ

دَ پاره دَ طلب کولو دَ فتنے او دَ پاره دَ طلب دَ حقیقت دَ هغے

وَمَا يَعْلَمُ تَاْوِيْلَهٗٓ اِلَّا اللّٰهُ ؐ وَ

او نه پوهیږی په حقیقت دَ هغے بانديے مګر الله تعالىٰ او

دا ډیره عجیبه نښه (دلیل) دَ الله تعالىٰ دَ قدرت ده - او رد دے په نصاراؤ بانديے چه دَ عیسیٰ علیه السلام دَ شکل تصویر په رحم (بچه دانئ) دَ مور کښ الله تعالىٰ دَ خپل مشیت موافق جوړ کړیدے نو هغه څو الله نشي کیدے. او هر کله چه دَ عیسیٰ علیه السلام پلار نه وو دَ دے وجے نه تصویر فی الصلب ئے نه ذکر کړے - او تفسیر دَ تصویر فی الارحام په سورة حج ۵ او په سورة مؤمنون کښ دَ آیت ۱۳ نه او سورت زمر ۶ کښ دے - كَيْفَ يَشَآءُ، یعنی ښائسته شکل او قبیح او بد شکل، تور او سپین،

وَالرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ

او ځاخه	خلق	په علم (دَدين) کښې	دائي	دوي

اٰمَنَّا بِهٖ ۙ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ رَبِّنَا ۚ

ايمان راوړے مونږ په دغه بانديٰ داټول	دَ نيز	دَ الله تعالیٰ نه دي

وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ⑦

او نصيحت نه اخلي	مګر	صفا عقل والا ۔

او نږد او لندا، پوره اتن امونو والا او نيمګړے اتن امونو والا وغيره ۔

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ، دا نتيجه ده دَ مخکښې دليلونو دَ پاره۔ مراد په مقام دَ دعوی کښې الوهيت په معنیٰ دَ حقدار دے دَ هر قسم بندګۍ۔ او مراد په دے نتيجه کښې الوهيت په معنیٰ دَ متصف دے په صفت دَ حيات او قيوميت باندے ۔ او انزال دَ کتابونو او علم په هر څيز او تصوير ورکول او نور صفات دَ تصرف دي ۔

الْعَزِيْزُ، اشاره ده ټولو صفاتو دَ تصرف ته او اَلْحَكِيْمُ، کښې اشاره ده ټولو صفتونو دَ علم ته او دا خلاصه ده دَ عقلي دليلونو ۔

ڪ :- ربط :- دَ مخکښې آيت سره په دريو طريقو سره دے۔ اوله طريقه دا ده چه دَ نجران نصاراؤ دَ خپلے عقيدے دَ ابن الله او دَ الوهيت دَ عيسیٰ عليه السلام دَ پاره دَ قرآن کريم په بعضے الفاظو باندے دليل نيولو چه په قرآن کريم کښې دَ عيسیٰ عليه السلام په صفت کښې کلمة الله، وروح منه او دا رنګ دَ الله تعالیٰ په باره کښې صيغه دَ جمع او دَ نحن الفاظ راغلي دي نو روح منه دلالت کوي چه دے دَ روح جزء دے دَ الله تعالیٰ نو دَ دے وجے نه ابن الله دے او جمع دلالت کوي چه الٰه درے دي (الله، عيسیٰ، مريم) او يحي الموت لفظ دلالت

کوی چه عیسیٰ علیه السلام متصرف الٰه وو- تو کړ دے شبهے په جواب کښې دا آیت نازل شو- حاصل د جواب دا دے چه په کتاب د الله تعالیٰ کښې دوه قسمه آیاتونه دی- تو محکمات پریښودل او په متشابهاتو پابندے عمل کول د اهلِ زیغو کار دے- دویمه طریقه دا ده چه مخکښې صفت د قیومیت ذکر شو چه قیام دے په مصالحو د بندګانو پابندے او مصالح دوه قسمه دی- اول قسم جسمانی مصالح هغه په یصورکم سره ذکر شول- دویم قسم روحانی مصالح دی تو هغه په دے آیت کښې ذکر کوی- دریمه طریقه دا ده چه دا تاکید او تفصیل دے د اَنۡزَلَ عَلَيۡكَ الۡكِتٰبَ، په طریقه د تقسیم او د استدلال سره او بیانول کیږی د دوه قسمه علماؤ سره-

هُوَ الَّذِیۡۤ اَنۡزَلَ عَلَيۡكَ الۡكِتٰبَ، دا حصر دلالت کوی چه دا کتاب تعلیم د بشر نه دے او کهانت او سحر نه دے- او لفظ د اَنۡزَلَ هم دلالت کوی چه دا خاص دے په الله تعالیٰ پورے ځکه چه انزال دلته مرادف د وحی دے او د دے وجے نه اتاك یا اعطاك یئ نه دے وئیلے-

مِنۡهُ اٰيٰتٌ، ضمیر د مِنۡهُ الکتاب ته راجع دے او دا لفظ دلالت کوی په تقسیم پابندے-

مُّحۡكَمٰتٌ، اِحکام په اصل لغت کښې دلالت کوی په منع پابندے او په معنیٰ د پوخوالی سره راځی او دلته په مراد شوے معنیٰ کښې ډیر اقوال دی لـه امام راغب وئیلی دی چه محکم هغه ته وئیلے شی چه په هغے کښې په اعتبار د لفظ او د معنیٰ سره هیڅ شبهه پیش نه راځی- ۲ـه شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائیلی دی چه اِحکام په قرآن کښې په درے قسمه دی- اول اِحکام په تنزیل کښې په مقابله د القاء د شیطانانو کښې تو په دے معنیٰ سره فصل تمیز او فرق او تحدید د الفاظو او د معانی او د شیطانی شبهاتو نه پیژندلو نه وئیلے شی- دا په سورة حج ۵۲ کښې ذکر دی- دویم اِحکام په مقابل د نسخ شرعی کښې د

یعنی غیر منسوخ ته محکم وئیلے شی۔ الکتاب الحکیم په معنیٰ د محکم کښې دا معنیٰ واضح ده چه روستو د قرآن نه بل کتاب ناسخ نشی راتللے۔ دریم احکام په تاویل او معنیٰ کښې دے۔ او هغه تمیز د حقیقتِ مقصوده دے په داسے طریقے سره چه اشتباه پکښې پاتے نشی۔ او دا په مقابله د متشابه کښې دلته مراد دے (قاسمی)
۳ه د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه محکمات د سورة انعام په درے آیتونو کښې دی ۱۵۱ ۱۵۲ ۱۵۳ او په سورة اسراء کښې د آیت ۲۳ نه تر ۳۷ پورے۔
که د مجاهد او عکرمه نه نقل دی چه محکم هغه آیتونه دی چه هغے کښې حلال او حرام ذکر دی۔ ۵ه قتاده او ضحاك وغیره نه نقل دی چه محکم هغه ناسخ ته وئیلے شی چه په هغے باندے عمل کیږی ۶ه د ابن عباس رضی الله عنهما نه بل روایت دے چه محکمات د قرآن ناسخ او حلال او حرام او حدود او فرائض دی ۷ه د محمد بن جعفر نه نقل دی چه محکم هغه دے چه د یو وجے نه علاوه نور احتمال د تاویل نه لری۔
۸ه او اصول الفقه کښې وئیلی دی چه محکم هغه دے چه هیڅ اخفاء او احتمال او اجمال پکښې نه وی او په اعلیٰ مرتبه د ظهور کښې وی د ظاهر او نص او مفسر نه اوچت وی۔ دا ټول اقوال یو بل ته قریب دی او اقسامو د محکم ته پکښې اشاره ده۔ او د اکثر مفسرینو په نیز دلته مراد هغه لفظ دے چه دلالت ئے په معنیٰ او مراد خپل باندے ښکاره وی۔ نو ظاهر، نص، مفسر او محکم ټولو ته شامل دے۔
هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ، دا صفت د محکمې دے۔ سوال:۔ هُنَّ جمع ده او اُمُّ مفرد دے؟۔
جواب:۔ د دیته مراد هر یو دے یا مجموعه په ځائے د یو آیت دے یا مفرد په ځائے د جمع باندے واقع دے۔ یا دا چه دلته اُمُّ په معنیٰ د اصل دے او اصل خو یو وی۔ اُمُّ د څیز اصل او مرجع او مجمع ته وئیلے شی۔

الکتٰب نه مراد قرآن دے او دا غیر دے دَ ام الکتاب نه رچه لوح محفوظ ته وئیلے شی) - او دیته ام محکه وئیلے شی چه دیته دَ اعتقاد او تشریح، آداب او مواعظو رجوع کیږی. دارنګ رجح دَ متشابه رچه تشریح او تفسیر او تاویل ئے ممکن وی) دغه محکماتو ته کیږی.
وَ اُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ، دا دویم قسم دے - او هر کله چه محکمات ډیر وی په نسبت دَ متشابهاتو سره نو دَ دے وجے نه هغه ئے په منهُ سره ذکر کړو او دا ئے په اُخَرُ سره ذکر کړے دے - متشابهات دَ تشابه نه اخستلے شوی دے.
په لغت کښ مماثلت دَ دوه څیزونو ته وئیلے شی په اعتبار دَ کیفیت سره - او دَ هغے دَ وجے نه تمیز دَ یو بل نه ګران شی او سبب شی دَ اشتباه دپاره - او دا تشابه په مشابهت من بعض الوجوه کښ ډیر استعمال شوی دے لکه په سورة بقره ۷۰ کښ ان البقرة تشابه علینا - او په ۱۱۸ کښ تشابهت قلوبهم - او په ۲۵ کښ او توا به متشابها.
او په سورة انعام ۹۹ کښ مشتبها وغیر متشابه.
او په ۱۴۱ کښ متشابها وغیر متشابه - او په سورت زمر ۲۳ کښ کتابا متشابها - په دے ټولو کښ تشابه په بعضے صفاتو کښ مراد ده - او کله په معنیٰ دَ اشتباه سره راځی لکه سورة نساء ۱۵۷ کښ ولکن شبه لهم.
او سورة رعد ۱۶ کښ فتشابه الخلق علیهم.
او دلته دَ متشابهات په معنیٰ کښ ډیر اقوال دی.
اول قول دا چه متشابهات مجملات دی لکه مقطعات په اول دَ سورت کښ (ابن عاشور).
دویم قول دَ ابن مسعود او ابن عباس رضی الله عنهم نه نقل دی چه متشابه منسوخ ته وئیلے شی.
دریم دَ اصم رحمه الله نه نقل دے چه متشابه هغه دی چه تدبیر او تفکر ته محتاج وی.

څلورم دَ امام مالك رحمه الله نه دَ اشهب روایت دے چه متشابه هغه دے چه علم ئے په الله تعالیٰ پورے خاص دے.
او خفاجي دَ دے نسبت احنافو ته کړیدے - او شاطبي په موافقات کښ دیته میلان کړیدے.
پنځم قول دَ امام رازي دے چه متشابه هغه دے چه دلالت ئے په معنیٰ (مراد) باندے پټ وي - او په دے معنیٰ سره مجمل او مؤول هم په متشابه کښ داخل دي - او دا طریقه شوافعو ته منسوب ده (ابن عاشور).
شپږم متشابهات هغه دي چه ما سیوا دي دَ حلال او حرام نه نو دَ یو بل سره په حق او په تصدیق کښ متشابه دي.
دا قول دَ عکرمه او مجاهد نه نقل دے.
اووم قول دا چه متشابه هغه دي چه دَ هغے په معنیٰ کښ اشتباه او التباس وي.
اتم متشابهات هغه دي چه په افاده دَ معنیٰ کښ مستقل نه وي مګر استدلال ته محتاج وي او رد کیدے شي محکمات طرف ته (سمعاني).
نهم شاطبي وئیلي دي چه تشابه دوه قسمه ده اول حقیقي چه دَ هغے دَ فهم معنے ته هیڅ لار نه وي - دویم اضافي ده چه دَ هغے په معنیٰ کښ اشتباه وي دَ وجے دَ احتیاج نه دلیل او قرینے ته.
لسم ابن جریر اول دا قول ذکر کړیدے چه متشابهات دي په تلاوت کښ او مختلفات دي په معنیٰ کښ.
یؤولسم ابن جریر دَ جابر بن عبد الله نه نقل کړیدی او دا ئے غوره کړیدے چه متشابه هغه دي چه دَ هغے علم ته دَ هیچا لار نه وي لکه دَ عیسیٰ علیه السلام دَ راتللو دَ وخت خبر - او وخت دَ طلوع دَ نمر دَ مغرب نه - او وخت دَ قیامت دَ راتللو - او فنا دَ دُنیا. او حروف مقطعات هم په دیکښ داخل دي - او دا قول امور یقینیه دي ایمان

په هغې باندې فرض دے لیکن دَ هغې دَ وخت تحدید او تعین ته دَ بندګانو حاجت دُنیوي یا دینیه نیشته۔ نو دَ هغې علم په الله تعالیٰ پورے خاص دے۔ او په دے معنیٰ سره دا متشابه هغه دے چه علماء دَ اصول فقه دَ خفي مشکل او مجمل نه روستو مرتبه په دے سره مسمّیٰ کړیده چه دَ هغې دَ خفاء دَ زائل کولو دَ پاره هیڅ لار نیشته۔
دولسم قول، ماوردي وئیلي دي چه محکم هغه دي چه معقول المعنیٰ وي یعني عقل یې ادراک کولے شي او متشابه هغه دي چه عقل یې ادراک نشي کولے لکه شمار دَ رکعتونو دَ مونځونو او اختصاص دَ روژے په رمضان میاشت پورے وغیره۔
دیارلسم، مراد دَ متشابهات نه هغه آیاتونه دي چه دَ هغوي په مینځ کښې په ظاهر کښې تعارض وي۔
څوارلسم قول، دا چه دَ متشابهات نه مراد هغه آیاتونه دي چه په عبارت او مضمون کښې یو بل سره مشابهت لري او په مینځ کښې لږ فرق وي۔ په دے اقوالو کښې غوره قول (دَ امام رازي) پنځم او اتم قول (دَ سمعاني) او لسم او یوولسم دَ ابن جریر دي۔
فائده: امام راغب دَ متشابه تعریف او اقسام ذکر کړيدي تعریف یې دا دے چه متشابه دَ قرآن هغه دي چه دَ هغې تفسیر مشکل وي دَ وجے دَ مشابهت نه دَ غیر سره او تقسیم یې داسے دے۔ محکم مطلق، متشابه مطلق، محکم من وجه، او متشابه من وجه۔ او دریم بیا درے قسمه دے۔ متشابه په جهت دَ لفظ سره فقط، متشابه په جهت دَ معنیٰ سره فقط، او متشابه په دواړه جهتونو سره۔ او بیا متشابه په جهت دَ لفظ سره دوه قسمه دے۔ اول په الفاظ مفرده کښې دَ وجے دَ غرابت (نااشنائي) نه یا دَ وجے دَ اشتراک نه۔ دویم قسم په جملو (کلام مرکب) کښې۔ او دا روستنے هم درے قسمه دے۔ اول دَ وجے دَ اختصار دَ کلام نه دویم دَ وجے دَ زیادت نه په کلام کښې۔ دریم دَ وجے دَ تقدیم تاخیر نه په کلام کښې۔ (دا څو اقسام وو دَ متشابه په جهت دَ لفظ سره)۔

اوکړ دے مثالونه امام راغب ذکر کړی دی. او مثال د متشابه په جهت د معنیٰ سره او صاف د الله تعالیٰ او احوال د قیامت دی. او متشابه په جهت د معنیٰ او لفظ دواړو سره پنځه قسمه دے. (۱) په اعتبار د مقدار یعنی عموم او خصوص سره (۲) په اعتبار د کیفیت یعنی وجوب او استحباب سره (۳) په اعتبار د زمانے سره لکه ناسخ او منسوخ (۴) په اعتبار د مکان او اسباب نزول سره چه هغه متعلق وی د جاهلیت والو د عاداتو سره او څوک یئے علم نه لری. (۵) په اعتبار د شرطونو د صحت او د فساد سره. بیا یئے وئیلی دی چه اقوال د مفسرینو (چه مخکښې ذکر شول) هغه د دے تقسیماتو نه بهر نه اوځی. بیا یئے وئیلی دی چه متشابهات درے قسمه دی اول قسم هغه دی چه هیڅ طریقه د علم د هغے د بنده د پاره نه وی لکه وخت د قیام د قیامت او راتلل د دابة الارض او د هغے کیفیات وغیره. دویم قسم هغه دی چه د انسان د پاره د هغے د علم لار وی لکه غریب او ناآشنا الفاظ او ګران احکام وی چه په تفتیش یا اجتهاد او تدبر سره معلومیږی. دریم قسم متردد د دے دواړو مخکنو په مینځ کښې یعنی چه راسخین فی العلم پورے د هغے علم خاص وی او نورو خلقو باندے پټ وی.

فائده ۲۰:- د امام راغب په قول کښې د تشابه بعضے اسباب معلوم شول. او نور اسباب یئے سره د تقسیم نه دا دی.

ع۱ سبب اشتراک د لفظ په مختلف معانیو کښې په اعتبار د وضع د لغت سره لکه لفظ د العین، الوجه، معیت او دُعا وغیره.

ع۲ سبب د احتمال د معنیٰ حقیقی او معنیٰ مجازی په یو لفظ کښې لکه ید حقیقتاً په معنیٰ د لاس سره دے او مجازاً په معنیٰ د قدرت سره دے. او عین په معنیٰ د سترګے او مجازاً په معنیٰ د حفاظت سره وغیره.

ع۳ سبب خفاء د معنیٰ په وضع د لغت کښې لکه مقطعات

دَ سورتونو چه دَ هغې معانې وصفیه لغویه نیشته دے.
ع۲ خفاء دَ مراد (کیفیت) سره دَ ظهور دَ معنٰی لغوی حقیقی
نه لکه استواء دَ الله تعالیٰ عرش باندے یا صفت دَ انسان
دَ حیات په قبر کښ اوعذاب او تنعیم په قبر کښ- او مسئله
دَ قدر او قضاء دَ دے معانے لغوی حقیقی ښکاره دی لیکن
کیفیات ئې معلوم نه دی دَ دے نه دَ تشابه څلور
قسمونه هم معلوم شول- دغسے ابن عاشور لس اسباب
او اقسام ذکر کړیدی (التحریر والتنویر ص ۱۵۸ ج ۳)-
فائده ۳ :- اسماء وصفات الهیه په متشابهات کښ
داخل دی او که نه دی؟ په دے کښ دَ سلفو صالحینو
صحیح قول دادے چه دَ دے معنے ظاهری حقیقی معلوم
دی دَ هغې نه انکار کول جهل دے لکه رحمانیت دَ الله تعالیٰ،
علم او قدرت دَ هغه عین، ید، وجهه او استوا په عرش
باندے فوقیت وغیره نو په اعتبار دَ دے دَ معانیو سره
دا محکمات دی بغیر دَ تحریف او تاویل نه لیکن کیفیات
دَ دے معلوم نه دی او دَ هغې نه بحث او سوالونه کول بدعت
دے- او په لحاظ دَ کیفیاتو سره دا متشابهات دی تمثیل
او تشبیه ئې نشی کیدے لکه چه مخکښ ذکر شول په باره
دَ حیات او عذاب او تنعیم دَ قبر او مسئله دَ قدر وغیره
کښ- او دا قول آلوسی په خپل تفسیر کښ ذکر کړیدے-
او دا مذهب دَ سلفو صالحینو شیخ الاسلام ابن تیمیه
رحمه الله په مجموعة الفتاوٰی جلد پنځم صفحه ۲۶،
۵ کښ او امام ذهبی په کتاب مختصر العلو کښ او ابن قیم
الجوزیه په الصواعق المرسله او ملا علی قاری په شرح
فقه اکبر صفحه ۴۲ کښ او تفسیر دَ سورة زمر کښ ابن
کثیر او نورو هم ډیرو مفسرینو او محدثینو دا قول ذکر
کړیدے- چه دَ هغې مونږ ځائے په ځائے دَ آیات الصفات
په تفسیر کښ بیان کړیدے- نو په دے اسمائو صفاتو کښ

تاویل کول دَ زائغینو عمل دے۔
فائده ۱۵: سوال :۔ په متشابهاتو باندے چه دَ بندګانو علم نه حاصلیږی یا دَ بعضو په علم کښ ډیر تکلیف راځی او غلطو عقیدو والا او مبتدعین دَ هغے نه دَ ځان دَ پاره دلیلونه نیسی۔ نو دَ دے څه فائدے دی؟
جواب :۔ علماؤ دَ متشابهاتو ډیر فوائد ذکر کړیدی بعضے دَ هغے نه دا دی۔ اوله فائده دا ده چه الله تعالیٰ په دُنیا کښ پخپلو بندګانو باندے ابتلا ګانے او ازمیښتونه کوی. نو په متشابهاتو کښ دَ اهل باطل دَ پاره دا ابتلاء ده چه دَ باطل دَ اثبات دَ پاره دَ هغے نه دلیل نیسی۔او په اهل حق (راسخینو) باندے ابتلاء دا ده چه دَ باطل پرستو مقابل کښ به جوابونه کوی او دَ اثبات او اظهار دَ حق دَ پاره به په قرآن کښ فکرونه کوی۔دویمه فائده داده چه قرآن کریم کښ چه هر کله محکم او متشابه دواړه شته نو انسان به محتاج وی تحقیق او استدلال ته او دَ تقلید دَ تیرونه به خلاص شی۔ (امام رازی)۔
دریمه فائده دا ده چه هر کله په قرآن کښ محکم او متشابه دواړه شته نو دَ متشابه دَ صحیح تاویل دَ پاره به محکماتو ته رجوع کوی او علومو دَ لغت او عربیت او اصولی علمونو ته ضرورت پریوځی نو ډیر علمونه به حاصلوی۔ څلورمه فائده داده چه په وخت دَ وجود دَ متشابهاتو کښ حق ته په رسیدلو کښ مشقت راځی او زیادت دَ مشقت سره زیات ثواب حاصلیږی۔
پنځمه فائده داده چه هر کله بعضے متشابهاتو ته دَ انسان علم نه رسیږی نو دے به دَ تکبر دَ صفت نه خلاص شی او پوهه به شی چه واقعی (فوق کل ذی علم علیم) حق دے۔ او هیڅوک به دَ علم بکل شئ دعوی نه کوی سیوا دَ الله تعالیٰ نه۔

فائده ۵: سوال :- په دے آیت کښې دَ قرآن دَ آیتونو تقسیم کړے شوے چه بعضے محکم دی او بعضے متشابه دی او حال دا دے چه په سورة هود اول آیت کښې ټولو آیتونو ته محکم وئیلی دی - او په سورة یونس اول آیت کښې دَ قرآن کریم په صفت کښې الحکیم راغلے دے چه هغه په معنیٰ دَ محکم دے - او په سورة زمر ۲۳ کښې ټول قرآن ته ئې متشابهًا وئیلی دی؟

جواب :- کله دَ یو لفظ دَ پاره ډیرے معنے وی نو په یو ځائے کښې یو معنیٰ مراد وی او په بل ځائے کښې بله معنیٰ نو تعارض نه راځی - دلته هم دَ محکم معنیٰ دَ (ښکاره دلالت په معنیٰ او مراد خپل باندے) دے - او دَ حکیم او احکمت معنیٰ دا ده چه دَ حکمتونو نه ډک دے - یا معنیٰ دا ده چه په دهٔ کښې تغیر او تبدیل څوک نشی کولے او دَ دهٔ نه روستو نسخ کوونکے نشی راتللے نو په دے معنیٰ سره ټول قرآن محکم دے - او سورة زمر کښې دَ متشابه معنیٰ دا ده چه ټول آیاتونه دَ قرآن دَ یو بل سره په فصاحت بلاغت او صدق کښې مشابه دی - او دَ یو بل تصدیق کوی - نو په دے معنیٰ سره ټول قرآن متشابه دے.

فَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ، هر کله چه دَ آیتونو دوه قسمونه ذکر شول (محکمات او متشابهات) نو اوس تفصیل کوی دَ متعلقینو دَ هغوی - دَ محکماتو حکم خو په هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ کښې ذکر شو یعنی دَ هغے دَ فهم دَ پاره خو یو وجه وی هر څوک دَ لغت عربئ په هغے باندے پوهیږی برابره خبره ده که ایمان په هغے باندے لری او که نه لری - نو اوس دَ متشابهاتو سره متعلق حکم ذکر کوی - دَ هغے متعلق دوه قسم خلق دی یو راسخین بل اهل زیغ - دلته دَ هغوی ذکر کوی - هر کله چه اهم مقصد دلته رد وو په نصارا وُ باندے چه هغه اهل

زیغ دی نو دَ هغوی ذکر یئے مخکښې اوکړو۔ زیغ په اصل کښې میلان او اوړیدل دی دَ مقصد نه لکه چه مَازَاغَ الْبَصَرُ کښې دا معنیٰ مراد ده او دَ شریعت په اصطلاح کښې کړیدل دی دَ استقامت نه یو جانب ته یعنې دَ حق نه باطل ته او دا په اصل کښې مرض دے دَ زړونو دَ دے وجے نه یئے فِی قُلُوبِهِمْ ذکر کړو۔ او اهلِ زیغ کښې نصارئ، یهود، خوارج، منافقون، مشرکان، زنادقه، باطنیه او ټول مبتدعین داخل دی ځکه چه هره یو طائفه اوړیدلے ده دَ حق نه۔ او دا لفظ دے ټولو ته شامل دے (ابوحیان)۔ او په دے عموم باندے دلیل حدیث دے دَ صحیحین چه عائشه رضی الله عنها ته رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی وو چه هر کله او وینے هغه خلق چه په ماتشابه پسے روان وی نو دا هغه دی چه الله تعالیٰ دَ هغوی نوم اهل زیغ سره ذکر کړیدے او ځان تری بچ ساته۔

فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ، دَ اتباع نه مراد همیشه شغل، بحث او ګرځیدل دی په متشابه پسے لکه چه په آیت دَ قصاص کښې فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ راغلے دے۔ ماتشابه لفظ دلالت کوی چه دغه اتباع دَ وصف دَ تشابه دَ وجے نه کوی دَ قرآنی آیت دَ وجے نه یئے نه کوی۔

ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ، په اتباع دَ تشابه کښې دَ دوی دوه غرضونه دی اول ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ، لفظ دَ ابتغاء دلالت کوی په زیات کوشش کولو باندے لکه چه انسان دَ یو مقصد په لټولو کښې ډیر کړاؤ کوی نو فتنه دَ دوی اصل مقصد دے۔ دا دلیل دے چه بحث کول په متشابه کښې په طریقه دَ تدبر او تفکر سره چه موافقت ئے کوری دَ ام الکتاب سره نو دا منع دے۔ الْفِتْنَةِ، ربیع وئیلی دی چه دَ دیته مراد شرک دے۔ مجاهد وئیلی دی چه مراد ئے تلبیس او شبهات پیدا کول دی

په جاهلانو باندے - اصم وئیلی دی چه فساد، جګړے او قتل وقتال مراد دے ځکه چه په دے سره په دین کښ اختلاف او تفریق پیدا شی او هغه سبب وی دَپاره دَ فساد - او بعضو ویلی دی چه فتنه پخول دَ بدعت او ګمراهئ دی په زړونو کښ (صاحب اللباب) - او زجاج وئیلی دی چه مراد ترینه فساد دَ کورنئ دے. دویم غرض دَ دوی دا دے چه دَ ابْتِغَآءَ تَاْوِيْلِهٖ، دا مستقل مقصد دے دَ دے وجے نه ئے لفظ دَ ابتغاء دوباره ذکر کړیدے - او لفظ تاویل کښ دوه قولونه دی. اول دا چه دَ آل یؤول نه اخستلے شویدے په معنیٰ دَ رجع سره دے - بیا دا مصدر په معنیٰ دَ مفعول یا ظرف سره دے یعنی مرجع او عاقبت - دویم قول دا چه دا دَ اِيَالَة نه اخستلے شویدے په معنیٰ دَ سیاست (چلول) نو مراد په تاویل سره چلول دَ کلام دی او استعمالول په یو مقصد کښ - او دَ تفسیر او تاویل تفصیلی فرق ما په کتاب تنشیط الاذهان کښ ذکر کړیدے - امام رازی وئیلی دی چه دلته مراد دَ تاویل نه هغه معنیٰ او مقصد دے چه په کتاب (او سنت) کښ په هغے باندے دلیل نه وی لکه وخت دَ قیامت - او چا وئیلی دی چه تاویل نه مراد حقیقت دَ معانیو دے (ابوحیان) - او ابن کثیر وئیلی دی چه مراد دَ دینه دَ دوی تحریف دے په موافق دَ خواهش دَ دوی سره -
فائده لـه : شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په مجموعه الفتاوی کښ ذکر کړیدی او دلته قاسمی هم نقل کړیدی چه دَ تاویل درے قسمونه دی - اول قسم دا چه تاویل په معنیٰ دَ حقیقت دَ خبر او مصداق دَ هغے دے - لکه تاویل دَ اوامرو دَ الله تعالیٰ عمل کول دی په هغے باندے لکه په حدیث دَ بخاری

کښې راځي چه نبي صلی الله علیه وسلم په رکوع او سجده کښې سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وئيل (پناول) عمل بې کوو په دې آيت باندې چه فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ - او تاويل د اخبارانو وقوع د عين مخبر به وي لکه په يَوْمَ يَأْتِي تَاوِيْلُهٗ کښې مراد راتلل د هغه أمور و دي چه د قيامت سره او د هغې د علاماتو سره تعلق لري - او ديته مرجع او عاقبت هم وئيلې شي او په دې معنی سره سورة يوسف ۶، ۳۶، ۳۷، ۴۴، ۴۵، ۱۰۰ کښې او سورة کهف ۷۸، ۸۲ کښې هم دې -

دويم قسم دا چه تاويل په معنی د تفسير د کلام دې که د ظاهر سره موافق وي او که نه وي په دې شرط چه په صحيح قول سره ثابت وي او دا مراد دې په قول د ابن جرير (په تفسير د هغه کښې) لفظ تاويل الآيات او دې دواړو ته تاويل محمود وئيلې شي - او دريم قسم په عرف د متاخرينو، متکلمينو، متصوفينو، اصوليانو وغيره کښې چه اړول دي د لفظ د معنی راجح نه (حقيقي نه) معنی مرجوح (مجازي) ته بغير د قرينې او دليل صحيح نه يعني چل ول کول - او په دې تاويل کښې دوه خبرو ته ضرورت دې - اول بيان د احتمال د لفظ د غه معنی (مرجوح) لره - او دويم ذکر د دليل يا قرينې چه په سبب د هغې سره ظاهر پرېږدي - او دا معنی مراد ده په مسئله د صفاتو الٰهيو کښې په نيز د متاخرينو او جهميؤ - او دې قسم ته تاويل مذموم وئيلې شي - ځکه چه دا مستلزم کېږي تحريف لره - او په دې آيت کښې ابتغاء تاويله ېنا په قول د ابن کثير او اکثرو مفسرينو دا معنی مراد ده -

فائده ۲ : په متشابهاتو کښې د فتنې پيدا کولو د پاره د اهل زيغو مثالونه دا دي - ۱ استدلال د

نجران دَ نصاراؤ په لفظ دَ روح منه او اُحیِ الـمَوْتیٰ سره او دَ الله تعالیٰ په باره کښ صیغې دَ جمع دا متشابهات دی. نو دوی دَ دینه دَ عیسیٰ علیه السلام ولدیت او جزئیت دَ الله تعالیٰ نه او تصرف دَ الوهیت او تثلیث ثابتوی. او راسخین خلق دا راجع کوی محکما تو ته چه لم یلد ولم یولد، وَقَال الله لا تتخذوا الٰهین اثنین او ما لا یملك لکم ضرا ولا نفعا، دا په باره دَ عیسیٰ علیه السلام کښ دی. او نورهم ډیر آیاتونه دی نو دَ دے په وجه سره تأویل محمود دا دے چه روح نه مراد خاوند دَ روح دے او منه نه مراد دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه. او احیِ الموتیٰ په معنیٰ دَ دے قول دے مړی ته چه ژوندے شه په حکم دَ الله تعالیٰ سره. او صیغه دَ جمع دَ تعظیم دَ پاره ده. ۲ـ جاهلان وائی چه دَ محمد صلی الله علیه وسلم نور دَ الله تعالیٰ دَ نور نه جزء دے او استدلال کوی په آیت قد جاءکم من الله نور سورة مائدة ۱۵ سره. دوی وائی چه مِنْ دَ تبعیض دَ پاره دے. دَ دوی په رد کښ هم دا محکمات پوره دی چه لم یلد ولم یولد، ما اتخذ صاحبة ولا ولدا (سورة جن ۳)، انی یکون له ولد ولم تکن له صاحبة (سورة انعام ۱۰۱). او جواب دا دے چه مِنَ الله په محکښ کړیږے په نور پاندے نو دلیل دے چه مِنْ په معنیٰ دَ جهت سره دے. ۳ـ جاهلان وائی چه آواز کول مړو ته جائز دی په دلیل دَ دے قول سره چه ابراهیم علیه السلام ته او وئیلے شو چه مړو مرغو ته آواز اُوکړه چه ادعهن هر کله چه دُعا لفظ مشترك دے په مینځ دَ آواز کولو او دَ رامن دشه وئیلو کښ نو دوی دویمه معنیٰ مراد کړه لیکن محکما تو آیاتونو کښ بلنے دَ غیر الله ته (په عقیده دَ اُلوهیت سره) شرك او ضلال وئیلے شوے دے لکه سورة احقاف ۵، سورة حج ۱۲ او سورة فاطر ۱۳ کښ. نو په دے لفظ (ادعهن) کښ دُعا په معنیٰ دَ صرف آواز ده او دا خو معجزه ده دَ دینه دَ نورو

دَپاره عموم نشي ثابتيدلے - څلورم مثال دا دے چه قـول
دَ مجسمؤ او مشبهؤ دے چه الله تعالیٰ لره جسم ثابتوی په
دلیل دَ ید الله ، بل یداه ، استوی علی العرش وغیره -
لیکن دَ دوی په رد کښ محکمات آیتونه دا دی چه لیس
کمثله شیءٌ ، لا تضربوا لِلّٰهِ الامثال ، اولـم یکن لـه
کفواً احد - نوعقیده صحیحه دا ده چه دا امور الله تعالیٰ
لره ثابت دی په معنیٰ حقیقي سره لیکن بغیر دَ تشبیه ،
تجسیم او تمثیل نه -
پنځم مثال جهمیه دَ دے آیتونو دَ حقیقي معنونه انکار کوی او
دَ دے ارتکاب کوی په مجازی او کنائی معنیٰ سره په دغه آیتونو
کښ - لیکن دا آیتونه محکمات دی په اعتبار دَ معنیٰ حقیقي
ظاهری سره - او هیڅ دلیل نیشته چه دلالت اوکړی
په پریښودلو دَ حقیقي معنیٰ او اخستلو دَ مجازی معنیٰ
سره - نو دَ دوی تاویلات تحریفات دی او دوی اهـل
زیغ دی -
شپږم مثال خوارج استدلال کوی په اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ سره په
اثبات دَ کفر دَ علی رضی الله عنه چه هغه حکمین منلے وو - او
اثبات دَ کفر دَ هغه چاچه حکم بما انزل الله نه کوی
(او دا حکم ئے مطلق دے) او استدلال کوی په من لـم
یحکم بما انزل اللهِ فاولئك هم الکافرون سره - او حال دا
چه حکم لفظ مشترک دے په مینځ دَ حکم دَ الله تعالیٰ اودَ حکم
دَ حکمینو کښ - او دا رنګ ترک دَ حکم بما انزل الله مشترک
دے په انکار او توهین او هسے پریښودلو کښ (یعنی یو شخص دَ الله
تعالیٰ دَ حکم نه انکار نه کوی بلکه اقرار کوی خو په ځائے ئے نه
راوړی) - او محکمات آیتونه موجود دی په جواز دَ حکم
دَ بندګانو او حکمینو جوړولو کښ - او دا رنګ محکمات
موجود دی چه بغیر دَ انکار او لوازمو دَ انکار نه کفر نه
لازمیږی - نو دوی په مشترک باندے استدلال کوی -

اووم شیعګان استدلال کوی چه علی رضی الله عنه او نورو اماماتو ته علم بکل شئ ورکړے شوے دے او دا رنګ امامت افضل دے د نبوت نه - د اول د پاره دلیل پیش کوی وکل شئ احصیناه فی امام مبین - او دویم د پاره دلیل پیش کوی چه انی جاعلك للناس اماما - حال دا چه لفظ د امام مشترک دے لوح محفوظ او تورات ته هم وئیلے شوے دے - او دا رنګ امامت نبوت ته هم وئیلے شی - لیکن دوی د اول تاویل کوی په علی رضی الله عنه او نورو اماماتو سره - او د دویم تاویل کوی په امامت غیر د نبوت نه - او حال دا چه محکمات آیتونه دلالت کوی چه علم غیب سوا د الله تعالیٰ نه بل هیچا د پاره ثابت نه دے - او دا رنګ نبوت اعلیٰ دے د صفت د امامت نه - اتم مثال دا دے چه مقلدین د تقلید شخصی په اثبات کښی استدلال کوی د فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون نه - تپوس خاص کوی په تپوس د صرف حکم سره بغیر د تپوس د دلیل نه - او اهل الذکر خاص کوی په یو امام پورے - او عدم علم خاص کوی په عدم علم د حکم پورے - او حال دا چه دا دریواړه عام دی - نو تخصیص ئے په یو پورے بغیر د دلیل شرعی نه ناروا دے او دلیل جانب ته محکمات شته دے چه هغه بیشماره دلیلونه دی په اطاعت د الله تعالیٰ او اطاعت د رسول کریم صلی الله علیه وسلم او کرځول د حکم د تنازع په وخت کښی کتاب الله او سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته -

نهم مثال مبتدعین د انبیاؤ، شهداؤ او اولیاؤ د پاره دنیوی ژوند ثابتوی او ورسره لوازم د دغه ژوند ثابتوی یعنی ادریدل، لیدل، خوراک څښاک، امداد کول وغیره - دا ثابتوی د لفظ د احیاء نه په سورة بقره ۱۵۴ کښی او آل عمران ۱۶۹ کښی - او حال دا چه لفظ د حیات عام دے

حیات دُنیویه، برزخیه او اُخرویه ټولو ته. نو دَدے تخصیص په دُنیوی ژوند پورے بغیر دَ دلیل شرعی نه دا زیغ دے.
اوحال دا چه محکمات آیتونه په نفی دَ حیات دُنیویه کښ شته په باره دَ ټولو امواتو (مړو) کښ. لسم مثال دا دے چه عام مبتدعین دَ بدعاتو دَ عباداتو دَ اثبات دَپاره دَ مطلق آیتونو نه استدلال کوی. دَ موځ دَ قضاعمرئ دَپاره دَ اقیموا الصلوٰة نه او دُعا په هیئت اجتماعی سره پس دَ فرض یا سنت موځو نو او پس دَ جنازے دَموځ ته په ادعوا ربکم سره وغیره. او حال دا دے چه دا مطلق شرعی دی. مطلق لغوی نه دی او مطلق شرعی په افراد شرعیه باندے حمل کیږی. او بل جانب ته محکمات موجود دی چه ښکاره دلالت کوی چه په عبادات شرعیه کښ اتباع رسول شرط ده. لکه قل ان کنتم تحبون الله فاتبعونی یحببکم الله الآیة. او دغسے نور ایاتونه هم دی.
تنبیه:- دا مثالونه اکثر بنا دی په دے خبره چه متشابه مشترک او محتمل دَحقیقت او مجاز ته شامل دے لکه چه مخکښ تیرشویدی نو په دیکښ هغه معنیٰ اخستل چه دَ محکماتو نه خلاف ده دَ اهل زیغو کار دے.
وَمَا يَعْلَمُ تَاْوِيلَهٗٓ اِلَّا اللّٰهُ ، دا رد دے په اهل زیغو باندے چه هغوی دَ علم دعوی کوی او بحثونه کوی په هغه علم کښ چه خاص دے په الله تعالیٰ پورے. او دلته دَ تاویل معنیٰ حقیقت یا تفسیر دے. دَ دے وجے نه ئے مخکښ تاویل ته ضمیر راجع نه کړو بلکه لفظ دَ تاویله ئے مستقل ذکر کړو.
وَالرّٰسِخُوْنَ فِى الْعِلْمِ ، په دیکښ دوه اقوال دی. اول قول دا چه عطف دے په الله باندے نو په دے وجے سره وقف نیشته په لفظ الله باندے. اویقولون خبر دے دَ مبتداء محذوف یا دا جمله حالیه ده.

دویم قول دا دے چه والرا سخون مبتداء دے او یقولون خبر دے او عطف دَ جملے دے په جمله باندے.
لیکن په اوله جمله کښ په لفظ الله باندے وقف لازم دے.
اول قول نقل دے دَ ابن مسعود، أبیّ بن کعب، ابن عباس او عائشه رضی الله عنهم او حسن بصری، عروة، عمر بن عبد العزیز، امام مالک، کسائي او ابو عبید رحمهم الله وغیرهم نه - او مراد دَ تاویل نه حقیقت دے او دَ متشابه نه مراد صرف هغه دے چه خاص دے علم دَ هغے په الله تعالیٰ پورے لکه وخت دَ قیامت او تفصیلی حالات دَ قیامت، تفصیل دَ تقدیر او تفصیلی حالات دَ قبر وغیره۔
دا حقیقتونه دَ الله تعالیٰ نه سیوا هیچا ته نه دی معلوم اگر چه راسخین وی - او دویم قول نقل دے کا ابن عباس رضی الله عنهما، مجاهد، ربیع، محمد بن جعفر رحمهم الله او اکثر متکلمینو نه او دَ تاویل نه مراد حقیقت یا تفسیر دے (دَ تاویل اوله معنیٰ یا دویمه معنیٰ). او متشابه نه مراد هغه نور اقسام دی چه مخکښ تیر شوی دی یعنی مشترک، محتمل دَ حقیقت او مجاز- روح منه، دَ الله تعالیٰ دَ پاره صیغے دَ جمع، او معانی حقیقتا دَ اسماؤ صفاتو بغیر دَ تکییف نه، او تعارض دَ آیاتو او منسوخ وغیرها- ابوحیان دَ اول قول دَ ترجیح دَ پاره ډیر دلیلونه ذکر کړی دی او بیا ئے دَ ترجیح دَ پاره هم بعض وجوه ذکر کړی دی. او ابن عطیه وئیلی دی چه دَ محکم په علم کښ خو راسخ او غیر راسخ برابر دی لیکن متشابه کښ یو قسم هغه دے چه علم ئے په الله تعالیٰ پورے خاص دے لکه حقیقت دَ روح او احوال دَ قیامت وغیره۔
او بل قسم هغه دی چه په دلیلونو او قرینو سره او په رد الی ام الکتاب سره راسخین دَ هغے علم لری نو معلومه شوه چه اختلاف کښ ډیر بُعد (لرے والے) نیشته۔
رَاسِخُونَ دَ رسوخ نه دے پوخوالی ته وئیلے شی یعنی دَ دوی

رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ

(روائی دوی) اے ربه زمونږه مه کږه وئ زړونه زمونږ روستو د دے نه چه

هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ

تا هدایت راکړے دے مونږ ته او راوبخښه مونږ ته خاص ستا د طرف نه

علم په شبهاتو سره نه زائله کیږی۔ او امام مالک رحمه الله وئیلی دی چه عالم سره د عمل او اتباع نه راسخ دے۔ او بل قول دا دے چه راسخ کښ څلور صفتونه پکار دی۔ ۱ تقوی فیما بینه وبین الله ۲ تواضع بین الخلق ۳ زهد فی الدنیا ۴ او مجاهده کول د نفس سره۔
يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ رَبِّنَا، دلته قول په معنی د اعتقاد دے او ایمان نه مراد ایمان اجمالی دے ربنا په اول قول باندے) یعنی ایمان په متشابه او په صفت د متشابه سره۔ او بنا په دویم قول مراد ایمان تفصیلی دے په هغے باندے چه د دوی علم هغے ته ورسیږی۔ او احتمال دا دے چه دا قول د دوی هغه عامو مسلمانانو ته وی چه مرتبے د رسوخ ته نه وی رسیدلی ۔ بیا هر کله چه د متشابه د پوره علم نه حاصلیدلو په وجه چه شبه پیدا کیږی چه دا به د الله تعالی د طرف نه وی او که نه وی ؟ نو د هغے شبهے د دفع کولو د پاره وائی چه کل من عند ربنا ۔ او مراد کُلٌّ نه محکم او متشابه دواړه دی ۔
وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُوا الْأَلْبَابِ، دا جمله د الله تعالی د طرف نه ده د راسخینو د مدح په بیان کښ چه دا مقام دوی ته د دے وجے نه حاصل شوے دے چه د دوی عقلونه صفا دی د وهمونو او وسوسو نه۔

رَحْمَةً ۚ إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿٨﴾

بیرغ والے (په ایمان باندے) یقیناً ته خاص ته بخشش ورکوونکے یې۔

ف ؛ دا په قول د راسخین کښې داخل دے۔ یا تعلیم د دُعا دے د الله تعالیٰ د طرف نه موږ ته (قرطبی)۔ هرکله چه د مخکښې آیت نه معلومه شوه چه اهل زیغ خلق بوږ وخلقولره په فتنه کښې اچوی نو د زیغ او د فتنو د فتح کولو د پاره دا دُعا ده۔
لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا، ازاغه نه مراد گمراه کول دی۔ او زجاج وئیلی دی چه معنیٰ دا ده چه په موږ باندے داسے دروند تکلیف او عبادت مه راولے چه زموږ د زیغ سبب اوګرځی۔ بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا، هدایت مقابل د ضلال مراد دے۔ یا مراد د دینه هدایت دے محکم او متشابه ته مناسب د دواړو سره۔ دا آیت صریح دلیل دے چه زیغ (گمراهی) او هدایت دواړه خلق (پیدا ئش) د الله تعالیٰ دے۔ او دا مذهب د اهلِ سنت دے۔ دوی وائی چه زړه الله تعالیٰ داسے پیدا کړے دے چه په هغه کښې صلاحیت دے د ایمان او میلان کفر ته۔ لیکن هیڅ یو جانب ته د دهٔ میلان نشی کیدے تر څو پورے چه الله تعالیٰ یو باعث او سبب نه وی پیدا کړے نو چه هغه سبب د کفر وی نو هغے ته خذلان، ازاغه، صرف، ختم، رین او قسوت وغیره وئیلے شی۔ او چه دغه سبب او باعث د ایمان وی نو دیته توفیق، ارشاد، هدایت، تسدید، تثبیت او عصمت وغیره وئیلے شی۔ وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً، مخکښې دُعا سلبی وه (د فاسد وعقائدو نه د بچ کیدلو د پاره) او دا دُعا ثبوتی ده۔ هِبه: عطیه او بخشش ته وئیلے شی چه بغیر د بدل او عوض نه وی۔ مِنْ لَّدُنْكَ کښې اشاره ده چه زموږ د جانب نه هیڅ سبب یا بدل نه نیشته۔ د رَحْمَةً نه دلته مراد تثبیت او توفیق دے لکه چه په سورة کهف ۱۰ کښې دی۔ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ، دا وسیله د دغه دُعا ده په نوم د الله تعالیٰ سره او پشان د علت دے د ماقبل د پاره۔

رَبَّنَآ اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ

اے ربه زمونږه یقینًا ته راجمع کوونکے د ټولو خلقو ئے داسے ورځ کښ

لَّا رَيْبَ فِيْهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ

چه شک نیشته په هغے کښں یقینًا الله تعالیٰ خلاف نه کوه

الْمِيْعَادَ ﴿۹﴾

د وعدے نه۔

۹:۔ دا دُعا تتمه ده د مخکښں دُعا د پاره۔ اشاره ده چه مخکښں د زیغ نه او تثبیت په هدایت باندے د دُنیا د څه مصلحت د پاره نه دے بلکه لوئے مقصد خوف د آخرت دے۔ او زجاج وئیلی دی چه اقرار کول په ورځ د قیامت داسے تاویل دے چه راسخون د هغے علم لری او مخالف دے د متابعت د متشابهاتو نه۔

جَامِعُ النَّاسِ، روستو د تفرق د انسانانو نه (د زمکے په مخ په دُنیا کښں) دوی به جمع کوی په میدان حشر کښں۔

لِيَوْمٍ، دا د پاره د جزاء د دغے ورځے دے یا لام په معنیٰ د فی سره دے۔

لَا رَيْبَ فِيْهِ، د دے تحقیق د سورة بقره په دویم آیت کښں تیر شوی دے۔ دلته اشاره ده لکه چه قرآن کریم بیشکه کتاب دے نو دا رنګ دوباره ژوندی هم بیشکه دے۔

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ، دا کلام د الله تعالیٰ دے د پاره د تاکید د ورځے (یوم) د جمع کولو۔ یا دا کلام د دُعا کوونکو دے په طریقه د التفات د خطاب نه غائب ته۔ او مراد د دیته طلب د وعدے د جنت دے د ځان د پاره۔ لکه چه د دے سورت په آخر آیت ۱۹۴ کښں دی۔

سوال:۔ دلته ئے اِنَّ اللّٰهَ ذکر کړو او په ۱۹۴ کښں اِنَّكَ ذکر کړے دے؟

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن تُغْنِيَ

یقینًا هغه کسان چه کفر یې کړی دی هیڅ به دفع نه کړی

عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُم

دَ دوی نه مالونه دَ دوی او نه اولاد دَ دوی

مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمْ

دَ (عذاب) دَ الله تعالیٰ هیڅ خیز او دغه کسان دوی

وَقُودُ النَّارِ ﴿۱۰﴾

خشاک دَ اور دی۔

جواب لهٔ:- په اول احتمال خو دا کلام دَ الله تعالیٰ دے او هغه کلام دے دَ دُعا کوونکو۔

جواب ۲:- په دویم احتمال سره دا مقام دَ عظمت او دَ جلال دَ الله تعالیٰ دے په راجمع کولو او حساب کولو دَ انسانانو سره۔ نو دَ دے سره لفظ دَ الله مناسب دے او په ۱۹۴ کښې مقام دَ تضرع او طلب دے نو دَ هغے سره خطاب مناسب دے۔

سوال:- په دے دُعا کښې خو طلب دَ خه خیز نیشته نو دا خه رنګ دُعا ده ؟

جواب:- په دے کښې دُعا پټه ده یعنی موږ دَ زیغ نه بچ کړے او رحمت را کړے (سمعانی)۔ یا جمله دَ لا یخلف آه قائم ده په ځائے دَ طلب دَ وعدے دَ جنت کښې۔ میعاد عام دے وعد او وعید دواړو ته شامل دے۔ لیکن وعید دَ فاسقانو مشروط دے په عدم دَ عفو سره په دلیل دَ نورو نصوصو سره۔ یا دلته مراد میعاد دَ مؤمنانو دے ځکه چه خلاف دَ وعدے نه قابل دَ ملامتیا او قبیح دے۔ او خلاف دَ وعید نه کرم او سبب دَ مدح دے۔

ﻧﻂ ۔ په دیکښې تخویف او ذکر دَ حال دَ اهل زیغو دے روستو
دَ حال دَ راسخینو نه۔ او هرکله چه دا دَ هغې ضد دے دَ دے
وجې نه ئې عطف کړے نه دے۔

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا، په دیکښې درے اقوال دی۔ اول
قول دا چه دا هغه وفد دَ نصاراؤ دَ نجران دے چه په
دوی کښې یو تن وو هغه وئیل چه څه پوهیږم چه دا رسول
حق دے لیکن دَ روم بادشاه موتږ له مالونه راکوی نو که
څه دَ حق اعلان اوکړم نو هغه مالونه به راباندے بند کړی۔
دویم قول دا چه مراد دَ دینه بنو نضیر او بنو قریظه دی
چه په پخپلو مالونو او ځامنو باندے ئې فخر کړو۔
دریم قول دا چه دا آیت عام دے ټولو کافرانو ته۔ او
داسے آیت په دے سورت ۱۱۶ کښې او سورة مجادله ۱۷
او سورة تبت ۲ کښې هم راغلے دے۔

لَن تُغْنِيَ عَنْهُمْ، إغناء په معنیٰ دَ کافی کیدلو او دفع
کولو سره راځی او دا متعدی دے یو مفعول ته لیکن
هرکله چه په دهٔ کښې معنیٰ دَ دفع هم شته نو دَ دے
وجې نه دَ دهٔ سره دویم متعلق ذکر کیږی۔ چه دَ هغې
مقصد دفع کول دَ ضررونو او تحل هغه نه په مِنْ سره
متعدی کیږی۔

أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ، هرکله چه دَ مال فائدے دَ
اولاد نه په باره دَ مدافعت او حفاظت کښې ډیرے دی
دَ دے وجې نه اموال ئې مخکښې ذکر کړو۔ او په مالونو
سره فدیه ورکیدلې شی دَ عذاب دَ دفع کولو دَ پاره او په
اولاد سره نصرت او امداد کیږی دَ دے وجې نه دَ دے
دواړو تخصیص ئې اوکړو

مِنَ اللهِ، دَ کشاف په نیز دا مِنْ دَ بدل دَ پاره دے نو
تقدیر دَ عبارت دے یعنی من رحمت الله او من طاعت
الله۔ او په نیز دَ ابن عطیه دا مِنْ دَ ابتداء دَ پاره دے

كَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ

حال دَ دوی پشان دَ حال دَ فرعونيانو دے او دَ هغه كسانو چه

مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ

دَ دوی نه مخكښ تير شوی دی دروغژن ئے گڼړل آيا تونه زمونږ

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ۭ

نو اونيول دوی لره الله تعالىٰ په سبب دَ گناهونو دَ دوی

وَاللّٰهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ⑪

او الله تعالىٰ سخت عذاب ورکوونکے دے

نو تقدير دَ عبارت داد ے چه من عذاب الله او من غضب الله ۔ او دَ ابوعبيده په نيز په معنیٰ دَ عند دے او په نيز دَ بعضو دَ تبعيض دَ پاره دے ۔

وَ اُولٰٓئِكَ هُمْ وَقُوْدُ النَّارِ ، هر كله چه ماقبل جمله كښ دَ دُنيا عذاب ته اشاره وه نو دَ دے وجے نه ئے دا جمله په هغے باندے عطف كړه ۔ او دا تخويف دے په عذاب أخروی سره ۔ او دَ دے تفسير په آيت ۲۴ دَ سورة بقرة كښ تير شوے دے ۔ او قرطبی او ابن كثير حديث دَ ابن مبارك نه نقل كړيدے چه دَ هغے په آخر كښ راغلی دی چه روستو خلق به راشی قرآن به لولی ۔ او وائی به چه څوک زمونږ نه زيات قاری او زيات عالم دے ربا ئے او وئيل) چه دغه خلق دَ دے اُمت نه دی او خشاك دَ اور دی ۔

۱۱ :- دا مثال دَ تخويف دُنيوی دے په مخكنو اقوامو مكذبو سره ۔

كَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ، دَ دے مبتدا ء پټه ده يعنی دَاْبُهُمْ ۔ نور اقوال هم په دےكښ شته دے ليكن دا قول غوره دے ۔ دَأب په اصل كښ په عمل كښ كړاؤ كول

او بار بار کول دي - او په عرف کښې حال، شان، امر او عادت وغیره ته وئیلے شي - اوحاصل دَ تشبیه دا دے چه دَ دے موجوده کافرانو هلاکت او دَ مال او لاد فائده نه ورکول پشان دَ حال دَ آل فرعون (کافرانو) دے - دَ آل فرعون ته ئې شروع په دوه وجو سره کړے ده -
اول دا چه مخکښې ذکر دَ نصاراؤ تیر شو او هغوی بنی اسرائیل وو دَ فرعون دَ حال نه پوره خبر وو -
دویم دا چه استیصالی عذابونه (چه ټول قوم او امت په یوځل هلاک شي) دا په فرعون باندے ختم شویدي دَ فرعون دَ عذاب غرق نه روستو داسے استیصالی عذاب نه دے راغلے لکه چه په تفسیر دَ سورة قصص ۴۳ کښې دیته اشاره شویده -
وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ، دا عطف دے په آل فرعون باندے - یا دا مبتداء ده او روستو ئې خبر دے - او دَ هغوی ذکر په سورة حج ۴۲، ۴۳، ۴۴ توبه ۷۰ اوسورة ق ۱۲، ۱۳، ۱۴ کښې شوید ے -
كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا، په اول توجیه باندے (کَذَّبُوا) حال دے یا استیناف دے - او په دویمه توجیه باند ے خبر دے دَ والذین دَ پاره - او دا تفسیر دے دَ دَاب دَ پاره - آیات هغه دي چه په کتابونو دَ الله تعالیٰ کښې وو- یا معجزات مراد دي -
فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ، اخذ کنایه ده دَ راګیرولو نه په عذاب کښې - او په بذنوبهم کښې باء سببیه ده. یا باء دَ ملابست ده او حال دے - یعنی دوی متلبس وو په ګناهونو سره توبه ئې نه وه کړے - او تقسیم دَ اخذ (عذابونو) په سورة عنکبوت ۴۰ کښې ذکر دے - ذنوب ئې جمع ذکر کړیده ځکه چه دَ کفر او شرک سره نور ګناهونه هم یوځائې شوي چه هغه دَ تفصیل دَ بعضے

قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَتُغْلَبُوْنَ

ته اوايه هغه كسانو ته چه كفر ئې كړے دے زر دے مغلوب به كړے شئ تاسو

وَتُحْشَرُوْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ ؕ وَبِئْسَ

او جمع به كړے شئ تاسو جهنم ته او بد ځائے

الْمِهَادُ ⑫

تيار كړے شوے (دا جهنم)

اقوامو سره په بعضے سورتونو كښ ذكر شوى دى۔
وَاللّٰهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ، په ديكښ اشاره ده شدت د گناهونو د هغوى ته۔ دا رنگ په سورة انفال ۵۲ كښ كفر ذكر دو او ورپسے آيت ۵۴ كښ تكذيب ذكر دے۔ كفر مرض د زړه دے او تكذيب مرض د ژبے دے۔ د دے وجه نه ئې كفر مخكښ كړے دے په تكذيب باندے۔
۱۲: دا متعلق دے د ان الذين كفروا سره۔ او جواب د وهم د دغه كافرانو دے۔ وهم دا وو چه مخكنى قومونه ځكه هلاك شويدى چه هغوى كمزورى وو او مونږ خو طاقت والا يو په ډير مالونو او ځامنو سره۔ بل وهم دا دے چه دغه كافرانو (يهودو او نصارا د نجران) وئيل چه هغوى (مخكنى قومونه) ځكه هلاك شوى دى چه دين سماوى ئې نه منلو او مونږ خو دين د موسى عليه السلام يا عيسى عليه السلام منلے دے۔ نو مونږ غالب يو۔ نو د دواړو وهمونو جواب په دے آيت كښ اوشو۔
قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا، غوره دا ده چه مراد د دے نه كافران يهود او نصارى دى چه د سورة آل عمران د نزول د وخت پورے دوى په ظاهر كښ طاقتور وو۔
سَتُغْلَبُوْنَ، دا پيشنگوئى رشتيے ده په طريقے د معجزے

قَدْ كَانَ لَكُمْ اٰيَةٌ فِيْ فِئَتَيْنِ

يقيناً شته دے ستاسو دپاره عبرت په دوه ډلو کښې

الْتَقَتَا ؕ فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

چه مخامخ شول دواړه یوځلے جنګ کولو په لارے دَ الله تعالیٰ کښې

وَاُخْرٰى كَافِرَةٌ يَّرَوْنَهُمْ مِّثْلَيْهِمْ

او بله ډله ده چه کفر ئې کولو لیدل دوی هغوئ لره دوچنده خپل

رَاْيَ الْعَيْنِ ؕ وَاللّٰهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهٖ

په لیدلو دَ سترګو سره او الله تعالیٰ کلکوی په مدد خپل سره

مَنْ يَّشَآءُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً

هغه چاله چه اوغواړی یقیناً په دیکښې ضرور عبرت دے

لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ﴿۱۳﴾

خاوندانو دَ پوهے لره -

سره او هم داسے واقع شوه - ځکه چه بنو نضیر اوشړلے شول خیبر ته او بیا روستو دَ خیبر نه هم اوشړلے شول - او بنو قریظه اووژلے شول - او په دیکښې مصداق دے دَ دے قول چه لن تغنی عنهم اموالهم ولا اولادهم من الله شیئاً - وَتُحْشَرُوْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ، دا مصداق دے دَ اُولئك هم وقود النار - اِلٰی پخپله معنٰی سره دے - یا په معنٰی دَ فی دے - او دَ دے دواړو په ذکر کښې اشاره ده عذاب دَ دُنیا او دَ آخرت دواړو ته - وَبِئْسَ الْمِهَادُ، مهاد هغه بستره ده چه تیاره کړے شوے وی دَ آرام دپاره - تو جهنم ته ئې مهاد په طریقه دَ تهکم (مسخرے) سره وئیلے دے - او دَ مجاهد نه قرطبی نقل کړی دی چه مهاد هغه عملونه دی چه دوی دَ ځان دپاره تیار کړی دی -

۱۳ دا متعلق دے دَ سَتُغْلَبُوْنَ سره په طریقه دَ دلیل دَ هغے

دَپاره- نوخطاب دے الذین کفروا ته-
قَدْ کَانَ لَکُمْ اٰیَةٌ، دا اسم دے دَکان دَپاره. کانتُ ئے ذدرے وجونه
او نه وئیلو له دا مؤنث مجازی دے لهٔ دا په معنیٰ دَ دلیل او برهان
دے ۳ه په لکم سره فصل راغلے دے دَکان او دَ اسم په مینځ کښ
او اٰیَةٌ نه مراد نښه، دلیل او لوئے قدرت الهیه دے-
فِیْ فِئَتَیْنِ الْتَقَتَا، لَکُمْ خبر دے دَکان او فِیْ فِئَتَیْنِ په محل کښ صفت
کښ دے دَ اٰیَةٌ دَپاره. یا فِئَتَیْنِ خبر دے او لَکُمْ متعلق دے
په کان پورے. فِئَتَیْنِ تثنیه ده دَ فِئَةٌ دَپاره او فِئَةٌ هغه جماعت
ته وئیلے شی چه هغے ته په سختئ کښ رجوع کیږے شی. او دَ
دینه مراد بالاتفاق ډلے دے دَ مؤمنانو او کافرانو په غزوه
دَ بدر کښ- التقتا په محل دَ خبر کښ صفت دے دَ فئتین
دَپاره- التقاء نه مراد مخامخ کیدل دی دَ جنګ کولو دَپاره-
فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَ اُخْرٰی کَافِرَةٌ، فِئَةٌ خبر
دے دَ میتداء محذوف احداهما (یو دَ دواړو نه) دَپاره.
یا خبر پټ دے یعنی منهما- او په دے جملو کښ اکتفا ده.
یعنی هره جمله کښ ئے هغه څیز حذف کړیدے چه
په مقابل کښ ئے ثابت کړیدے- نو په اوله جمله کښ
مؤمنةٌ پټ دے او په بله جمله کښ فی سبیل الشیطان
پټ دے لکه چه په سورة نساء ۷۶ کښ دی-
یَرَوْنَهُمْ مِثْلَیْهِمْ رَاْیَ الْعَیْنِ، په دیکښ درے توجیهات
دی- ۱ یرون ضمیر فاعل راجع دے مؤمنانو ته او ضمیر مفعول په
یرونهم او مثلیهم کښ کافرانو ته راجع دے- معنیٰ دا ده
چه رلیدل مؤمنانو کافرانو لره دوچند دَ هغوی) - او په
دیکښ لوئے قدرت دَ الله تعالیٰ ته اشاره ده چه سرهٔ دَ
دومره ډیر عدد دَ هغوی نه مؤمنان ورباندے غالب شول
په طریقه دَ کم من فئة قلیلة غلبت فئة کثیرة باذن الله
سره-
سوال:- په سورة انفال ۴۴ کښ دی واذ یریکموهم

اذ التقیتم فی اعینکم قلیلاً دا خو دلالت کوی چه کافران مؤمنانو ته لږ ښکاره کیدل ؟
جواب :- دا حمل دے په جدا جدا حالاتو باندے.
اول ئے ورته ډیر ښکاره کړل دَ مؤمنانو دَ ازمیښت دَپاره.
بیا ئے ورته لږ ښکاره کړل په قتال باندے دَ تشجیع دَپاره
ع۲ - دویمه توجیه دا ده چه یرون ضمیر فاعل مؤمنانو او هُمْ ضمیر کافراتو ته راجع دے او مِثْلَیْهِمْ ضمیر مؤمنانو ته راجع دے معنیٰ دا ده چه ولیدل مؤمنانو کافرانو لره دوچند خپل) ځکه کافران په اصل کښې تقریباً (۳۱۳) نهه سوه وو او مؤمنان درے سوه دیارلس وو- نو دالیدل (۹۰۰) په حالت اصلیه کښې دی په اول وخت کښې ع۳ ضمیر دَ یرون کافراتو ته راجع دے او هُمْ ضمیر مؤمنانو ته راجع دے.
او مِثْلَیْهِمْ ضمیر کافرانو ته راجع دے نو معنیٰ دا شوه چه ولیدل کافراتو مؤمنانو لره دوچند خپل)- دا دے دَپاره چه په کافرانو باندے رعب پریوځی- یا دا چه دَ مؤمنانو سره ملائیک ملګری وو او کافرانو ته به دَ مؤمنانو په شکل ښکاره کیدل- او دا یو حال دے او سورة انفال ع۴ کښې تقلیل بل حال وو نو تعارض نه راځی او په دے مقام کښې صاحب اللباب وغیره نور توجیهات هم لیکلی دی لیکن دغه درے واضح دی - او غوره توجیه په دیکښې کموالے دَ مؤمنانو او ډیر والے دَ کافرانو واله ده- چه هغه په اوله توجیه کښې ډیردی په نسبت دَ دویمے توجیه سره- ځکه چه دلته مقصود ذکر دَ لوئے قدرت دَ الله تعالیٰ دے چه مؤمنان دَ کافرانو په تعداد کښې ډیر لږ وو لیکن په مدد دَ الله تعالیٰ غالب شول او کافران اګرچه ډیر وو لیکن دَ الله تعالیٰ په قدرت سره مغلوب او ذلیل شول-
رَأْیَ الْعَیْنِ، هرکله چه رائ مشترک دے په مینځ دَ لیدلو دَ سترګو او دَ پوهے دَ زړه کښې نو العین ئے دَ دے دَپاره ذکر کړو چه اوله معنیٰ مراد ده- بیا په اوله توجیه او دویمه توجیه صرف لیدل

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ

دولې کړے شوېدے انسانانو ته مینه کول دَ هغه څیزونو چه نفس يې غواړي دَ

النِّسَاءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ

زنانو ته او دَ ځامنو ته او دَ خزانو

الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ

جمع کړے شوې نه دَ سرو زرو او دَ سپینو زرو نه

وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ؕ

او دَ اسونو ښائسته (نخاربه) نه او څاروؤ او دَ فصلونو نه

دَ سترګو وو اګرچه په اصل کښې لږ وو او په دریمه توجیه کښې لیدل دَ سترګو دَ اصل سره برابر وو- لیکن په دے لفظ ذکر کولو کښې فائده داده چه سرۀ دَ ډیروالي نه الله تعالیٰ دا کافران مغلوب کړل نو معلومه شوه چه دَ الله تعالیٰ په نیز ظاهري کثرت ته هیڅ اعتبار نشته-

وَاللّٰهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهٖ مَنْ يَّشَاءُ ، دا دلیل دے چه الله تعالیٰ په دې کښې دَ مؤمنانو سره غیبي امداد اوکړو- اګرچه په ظاهر کښې هغوی لږ وو لکه په آل عمران ۱۲۳ او سورة انفال ۲۶ کښې دی- يُؤَيِّدُ، دَ ايد نه اخستے شوے دے قوت ته وئیلے شي- او دَ مَنْ يَّشَاءُ نه صرف مؤمنان مراد دي دا مشیت مرادف دَ رضا دے-

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ، ذٰلِكَ اشاره ده نصرت یا ښکاره کولو لږ ولره ډیر- عبرت په اهل کښې دلالت کوی چه تجاوز اوشي دَ یو څیز دَ یو ځائے نه بل ځائے ته- او دا رنګ وئیلے شي استدلال دَ یو څیز نه په بل دا سے څیز چه دَ هغې سره مشابه وي او دینه اِتِّعَاظ (وعظ اخستل) هم وئیلے شي- الْاَبْصَارِ دَ بصر نه دے په معنیٰ دَ لیدلو په سترګو سره دے- یعني چا چه دغه دواړه ډلے په سترګو لیدلے وے- یا په معنیٰ دَ رویت قلبي دے او دینه بصیرت وئیلے شي یعني خاوندان دَ روغ او سالم عقل-

ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ
دا ټول لګه نفع ده د ژوند دنیوي
وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴿۱۴﴾
او د الله تعالیٰ خاص د هغه سره ښائسته ځائې د ورتللو دے.

سا دا تزهيد (بے رغبتي ورکول) دے په دُنیا کښ او ترغیب دے د آخرت ته۔ او متعلق دے د لن تغني اموالهم ولا اولادهم سره۔ او جواب د سوال دے چه هر کله دغه مالونه او اولاد دې کافرانو ته هیڅ فائده نه ورکوي نو دوئ بیا د څه د پاره جمع کوي نو دے آیت کښ د هغې جواب ته اشاره ده۔

زُيِّنَ لِلنَّاسِ، تزيين ولیلے شي یو څیز لره ښائسته ښکاره کول چه د هغې قباحت او ناکاره والے پا پس شکلی د زره او سترګو ته لرې شي او صرف ښائست او فائده ئې ښکاره یږي ۔ لِلنَّاسِ نه مراد کافران دي په قرینه د آیت ۲۱۲ سورة بقره سره۔ یا مراد عام دے که کافران وي او که فاسقان دُنیا پرست وي۔ زُيِّنَ صيغه د مجهول ده لیکن قرآن کریم کښ د دے نسبت په درے طریقو سره دے اول دا چه نسبت ئې اوشي الله تعالیٰ ته لکه په سورة انعام ۱۰۸ او سورة نمل ۴ کښ۔ دویم دا چه نسبت ئې اوشي شیطانانو ته لکه په سورة انعام ۴۳، ۱۳۷، سورة انفال ۴۸ سورة نحل ۶۳ او سورة عنکبوت ۳۸ کښ۔ دریم دا چه مجهول ذکر شي لکه په دے آیت کښ او سورة بقره ۲۱۲ سورة انعام ۱۲۲ سورة توبه ۳۷ سورة یونس ۱۲ سورة رعد ۳۳ سورة فاطر ۸ سورة غافر ۳۷ سورة محمد ۱۴ او سورة فتح ۱۲ کښ۔ هر کله چه نسبت ئې الله تعالیٰ ته اوشي نو معنیٰ د هغې دا ده چه الله تعالیٰ دغه څیزونه پیدا کړي دي او په هغې کښ ئې د مخلوق د ازمیښت د پاره لذتونه پیدا کړي دي او د هر څیز پیدا کوونکے الله تعالیٰ دے او شیطان ته نسبت په اعتبار د وسوسه اچولو سره دے۔

حُبُّ الشَّهَوٰتِ، شهوات جمع دَ شهوت ده - مصدر دے او مراد په دے سره مفعول دے یعنی مشتهیات نو دا حمل مبالغتًا دے او هغه خیزونه وئیلے شی چه نفس ورته میلان کوی او دا کله خیر وی لکه مشتهیات دَجنت په سورة حم سجده ۳۱ او سورة زخرف ۷۱ کښ - او دلته امور دُنیویه مراد دی او دا شهوت دَ شر دے - او په دے لفظ ذکر کولو کښ اشاره ده نفرت ورکولو ته دَ هغے نه - او حُبُّ ئے ورته مضاف کړے دے اشاره ده چه محبت غیر دے دَ مشتهی نه - نو شهوت غیر اختیاری وی او حب دلته اختیاری دے چه هغه ترجیح ورکول دی یو خیز لره په نورو خیزونو باندے - یعنی دَ انسان کله دَ یو خیز سره محبت وی لیکن غواړی چه دا محبت ختما نه وے او دا محبت غیر اختیاری وی - او کله دَ یو خیز سره محبت کوی او غواړی چه دا محبت دے همیشه وے - نو دا چه په جانب دَ خیر کښ وی نو سعادت دے او چه په جانب دَ شر کښ وی نو بیا شقاوت او بدبختی ده - نو معلومه شوه چه دلته درے رتبے دی اول اشتهاء دَ مشتهیاتو دویم محبت او ترجیح ورکول دغه مشتهیاتو ته په مقابل دَ هغے کښ - دریم زینت، یعنی عقیده ساتی چه دا محبت ښه کار دے او دَ هغے قباحت او بدی ورته ښکاریږی - نو دا درے درجے چه په چا کښ جمع شی نو هغه دَ آخرت نه بالکل غافل شی -

مِنَ النِّسَآءِ، په دیکښ دَ شهواتو دَ اصولو بیان دے چه هغه جامع دَ ټولو شهواتو دی - او دا رنګ په دے کښ اختلاف دَ اُمتونو او زمانو او اطرافو نیشته دے - نو اول ئے نساء ذکر کړے ځکه چه دَ هغوی سره شهوت دَ نارینه په طبیعت کښ کیښودلے شوے دے - تر دے پورے چه دغه شوق او شهوت په نارینه باندے چرته نه بوج کیږی - او دَ دوی فتنه په نارینه باندے دَ هرے فتنے نه زیاته ضرری

او نقصان دہ لکہ چہ پہ حدیث کښ هم راغلی دی او دَ دے وجے نہ هغه سبب گرځی دَ پارہ دَ قطع کولو دَ خپلولیٔ او دَ جمع کولو دَ حرام مال- او دویم ئے ذکر کړے دے وَ الْبَنِينَ ، دَ دوی محبت هم امر طبعی دے لیکن پہ دوی کښ یوہ فتنه دہ یعنی حرام جمع کول دَ هغوی دَ پارہ - او دا محبت دَ نارینه اولاد سرہ زیات وی پہ نسبت دَ ښځینه اولاد سرہ -

وَ الْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ ، (دا دریم دے) قناطیر جمع دَ قنطار دہ - او دا وزن دَ سلو رطلونو دے - او دا لفظ پہ اصل کښ رومی لا تینی دے یا سریانی دے چہ پہ هغه ژبه کښ کینتال وو او پہ عربیٔ کښ قنطار شو- او دَ زجاج پہ نیز دا اخستلے شوے دے دَ قنطر نہ پہ معنیٰ دَ تړلو او محکم کولو سرہ دے - یا دَ قطر نہ دے (پہ زیادت دَ نون سرہ) او پہ معنیٰ دَ بهیدلو سرہ دے- او پہ مقدار دَ قنطار کښ ډیر اختلاف دے - دَ ابی بن کعب رضی الله عنه پہ روایت کښ زر او دوہ سوہ (دولس سوہ) اوقیه نه و ټیلے شی (اوقیه څلویښت درهم دی)- او دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے چہ دولس زرہ درهمه یا زر اشرفیٔ - او پہ بل روایت کښ زر او دوہ مثقالونه دی - او دَ ابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دے (مرفوع) چہ مراد دولس زرہ اوقیه دی - او پہ روایت دَ انس رضی الله عنه زر دینارہ دی - او پہ روایت دَ ابن المسیب او قتادہ کښ اتیا زرہ - نور اقوال هم شته دے - ابو عبید او امام رازی و ئیلی دی چہ قنطار دا سے وزن دے چہ حد ئے معلوم نه دے - الْمُقَنْطَرَةِ ، هر وصف چہ دَ موصوف سرہ پہ مادہ کښ شریک وی نو دلالت کوی پہ تاکید باندے لکہ ظِلًّا ظَلِيْلًا نو دا دلالت کوی پہ ډیر والی باندے بغیر دَ تحدید نه - او پہ دے لفظ کښ اشارہ دہ چہ مال نه خرچ کوی پہ مصارفو دَ خیر کښ

بلکه جمع کوی ئے او خزانه کوی ئے۔

مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، دا بیان دَ القناطیر دے۔ او دا ئے ځکه ذکر کړو چه دَ دیته کالی (زیورات) جوړیږی او دَ دیته نقود (روپۍ) جوړیږی۔ او دا چه هره زمانه او هر ملک کښ قیمت دَ نورو مالونو وی۔ ذهب دلالت کوی په تللو (زوال) باندے۔ او فضة دلالت کوی په تفرق باندے نو دا دواړه دلالت کوی په زوال او عدم استقلال باندے۔

فائده:- په مقام دَ محبت کښ ئے اولاد مخکښ کړیدے په مالونو باندے او دا واضح دے۔ ځکه چه محبت کښ اولاد مخکښ دے په مال باندے۔ او په مقام دَ فتنه او دَ إغناء (دفع کولو) کښ ئے مال مخکښ کړیدے ځکه چه فتنه دَ مال ډیره ده دَ اولاد نه او دا رنګ دفاع اول په مال سره کیږی۔ (فتنه په سورة انفال ۲۸ تغابن ۱۵ او اغناء په دے سورت ۱۰، ۱۱۶ او سورة مجادله ۱۷ کښ ذکر دے)۔

وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ، دا ځلورم څیز دے۔ او دا عطف دے په النساء باندے لیکن په ترتیب دَ محبت کښ دَ ذهب او فضة (سرو سپینو) نه روستو دے نو دَ دے وجے نه ئے په هغے پسے ذکر کړو۔ او دَ دے په محبت طبیعه باندے دلیل دا دے چه په تن زمانه کښ دَ سورلۍ هر قسم اعلیٰ اسباب شته لیکن بادشاهان او مالداران بیا هم اسونه ساتی۔ سورلۍ او مسابقے (مقابلے) پرے کوی او ګاډی او بګۍ او ټانګے وریاندے راکاږی۔

او لفظ دَ خَيْل دَ سیبویه په نیز اسم جمع ده او دَ اخفش په نیز جمع تکسیر ده او دَ واحدی په نیز دا جمع ده لیکن واحد ئے نیشته لکه چه لفظ دَ قوم، نساء او رهط دے۔ الْمُسَوَّمَةِ، په دیکښ اختلاف دے دَ بعضو په نیز دَ تسویم نه دے په معنیٰ دَ تعلیم یعنی

هغه اسونه چه تعلیم ورکړے شوے وي- او د بعضو په نیز اخستلے شوي ے د سیما او سیمة نه په معنی د علامت سره- او داسپین والے دے د هغے اسونو په تنداو باندے یا بړک والے د غرمن دے- او د بعضو په نیز دا اخستلے شوي ے د سوم نه په معنی د رعي (سَرَولو) سره- اشاره ده چه د دوی د مالکانو لوئے لوئے پټي او چراګاهونه دي چه په هغے کښ ئے دا اسونه آزاد پریښودلی وي او په هغے کښ سرېږي- او اسونه په دا سے سرېدلو سره ډیره ترقي کوي- او د بعضو په نیز د سیمیاء نه اخستلے شوي ے په معنی د حسن یعني ښائسته او ښاریه دي-

وَالْاَنْعَامِ، دا پنځم څیز دے- انعام جمع د نعم ده- او ښانو، غواتو اوګډو بېزو وغیره ته وئیلے شي- په دیکښ ډیرے فائدے دي چه هغه په سورة نحل ۵ ۶ ۷ کښ ذکر دي- او د دے سره د یانړو والو زمینداران ډیر محبت وي او مالداران خلق ئے صرف د ښائست او د تماشو یا د بعض ضرورت په بنیاد یانړے ساتی او ډیره مینه ورسره کوي-

وَالْحَرْثِ، دا مصدر په معنی د مفعول دے د دے وجے نه ئے جمع نه ده ذکر کړے- او دا شپږم څیز دے- او دا شامل د باغاتو فصلونو او سرسبز و شاداب صحراګانو او چمنونو ته چه د بعضو سره د ښار والو محبت وي او د بعضو سره د یانړو والو محبت وي- قرطبي وئیلي دي چه د نساء او بنون نه روستو ئے څلور قسمه مالونه ذکر کړي دي- او دا هر قسم په یو قسم د خلقو پورے خاص دي- اول قسم ذهب او فضه (سرۀ او سپین زر) مال دے د تاجرانو، دویم قسم اسونه چه هغه مال دے د بادشاهانو او امیرانو، دریم قسم څاروي دي چه هغه د یانړو چیانو مال دے- څلورم قسم زمکے او جائیدادونه دي چه د زمینداراو او باغبانانو مال دے-

ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا، ذٰلِكَ اشاره ده دغه ټولو ته په تاویل د مجموع سره- متاع د دے معنی مخکښ ذکر شوې ده

قُلْ أَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ ط

ته اوايه آيا خبر درکړم تاسو لره په غوره سره د دغه خيزونو نه

لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ

شته دے د پاره د هغه کسانو چه تقوی يې کړيده په نيز د رب د دوی

جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

باغونه چه بهيږی په لاندے د هغې نه نهرونه

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ

هميشه به وی دوی په هغې کښې او بيبيانے پاکے ساتلے شوے

او په ديکښې قلت (کنوالی) او فنا د هغې ته اشاره ده - او په دے سره فائده اخستل څلور قسمه ده - اول هغه چه په دے سره ځان له فائده اخلی او د بخل د وجے نه بل چاله نه ورکوی - دويم په دے سره انتفاع پريږدی د ضرورت په وخت کښې - او بے ضرورته يې خرچ کوی - دريم انتفاع په مباح طريقے سره اخلی ليکن د آخرت د مصالحو د پاره يې ذريعه نه ګرځوی - دا دريواړه شرعًا او عرفًا مذموم دی - او څلورم قسم انتفاع اخلی په دا سے طريقے سره چه هغه ذريعه اوګرځی د آخرت د فائدو د پاره او دا قسم ممدوح دے -

وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ، دا ترغيب دے آخرت ته په مقابل د امورو د دنيا کښې - الْمَاٰب ځائے د رجوع (واپسی) ته وئيلے شی - دلته په معنیٰ د ظرف سره دے يا په معنیٰ د مصدر سره دے - مآب دوه قسمه دے - يو ناکاره چه جهنم دے لکه په سورة نباء ۲۲ کښې - دويم قسم خائسته چه جنت دے - د دے وجے نه دلته حسن مآب نه مراد جنت دے او حسن د هغې د دے وجے دے چه هميشه دے نه فنا کيږی او نه کميږی - او سبب دے د ابدی خوشحالو د پاره -

وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ

او رضا مندي د الله تعالٰی د طرف نه او الله تعالٰی

بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ۝١٥

ليدونكے دے بندګانو لره -

١٥ :- د تزهيد في الدنيا نه روستو اوس ترغيب ورکوي آخرت ته - دا رنګ مخکښې حسن المآب ذکر شو نو اوس د هغې تفصيل او د هغې د مستحقينو ذکر کوي -

قُلْ اَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ، لفظ د قل ئې د اهتمام او ترغيب الى الآخرت د پاره ذکر کړو - اَؤُنَبِّئُكُمْ کښې همزه د استفهام داخل دے په فعل مضارع صيغه د متکلم مفرد بانندے او دا استفهام تقريري دے د پاره د شوق ورکولو مخاطبينو ته د اوريدلو د روستو کلام - كُمْ مفعول اول دے او بخير مفعول ثاني دے - او دا معنٰی اعلام لره متضمن نه دے کنے بيا به ئې درے مفعولو ته غوختل - مِنْ ذٰلِكُمْ کښې اشاره ده چه خير اسم تفضيل دے. او ذٰلِكُمْ اشاره ده متاع الدنيا ته چه مخکښې ذکر شوي دے. او مِنْ ذٰلِكُمْ صله ده د پاره د خير - نو تفضيل دا دے چه تير شوے څيزونو د متاع کښې څه بعض خيريت شته ليکن په نعمتونو د جنت کښې ډير خيريت دے. يا خير اسم تفضيل نه دے صفت دے بنا په دے سره په متاع د دُنيا کښې هيڅ خير نيشته. (دا قول ابوحيان غوره کړيدے).

لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا، په ديکښې يو احتمال دا دے چه دا متعلق دے په خير پورے - عِنْدَ رَبِّهِمْ او جَنّٰتٌ استيناف د بيان دے د پاره د خير - دويم احتمال دا دے چه دا خبر مخکښې دے او جنّٰتٌ مبتداء ده - دلته مراد د تقوٰی نه د شرک او کفر نه ځان بچ کول دي چه هغه اوله مرتبه د تقوٰی ده -

عِنْدَ رَبِّهِمْ، دا حال مقدم دے د جَنّٰتٌ نه - يا متعلق دے په

اَلَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اِنَّنَآ

هغه کسان چه وائي دوی اے ربه زمونږ یقینًا مونږ

اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا

ایمان راوړے دے نو بخنه اوکړے مونږ ته د ګناهونو زمونږ

خبرې ړے او د عدن نه مراد عند یت د تقرب دے۔

جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا، جمع کښ اشاره ده کثرت د باغونو ته او نکره کښ اشاره ده چه د هغې حالات او نعمتونه ډیر تا اشنا دی۔ نور تفسیر سورة بقره کښ تیر شویں دے۔ په دیکښ ډیر بشارات دی۔ اول خیر، دویم عِنْدَ رَبِّهِمْ، دریم جنات، څلورم تجری او پنځم خٰلِدِيْنَ فِيْهَا، شپږم وَاَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ (د دے تفسیر هم مخکښ تیر شویں دے)۔

وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ، دا اووم بشارت دے۔ او مخکښ مادی نعمتونه وو او دا روحانی نعمت دے۔ د دینه مخکښ لفظ د لهم پټ دے یا دا عطف دے په جنّٰتٌ باندے۔ او دا لوئے نعمت دے د مخکنو نعمتونو په نسبت سره۔ ځکه چه په حدیث د بخاری او مسلم کښ راغلی دی چه الله تعالیٰ به جنت والو ته اوفرمائی چه آیا تاسو ته د ټولو نعمتونو نه غوره نعمت نه درکوم۔ نو دوی به اووائی اے ربه د دینه لا غوره نعمت کوم یو دے۔ نو الله تعالیٰ به اوفرمائی چه نازلووم په تاسو باندے رضا خپله او نه به غصه کیږم په تاسو باندے هیچرے، او دا زیرے په سورة توبه ۷۲ ۷۲ او سورة حدید ۲۰ کښ دے۔ او دا ئې په صیغه مصدر سره نکره ذکر کړیں ده د پاره د ډیر عظمت د دے نعمت۔ او مِنَ اللّٰهِ سره نور تاکید دے۔

وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ بِالْعِبَادِ، بصیر متضمن دے معنیٰ د علم لره د دے وجے نه ئې په صله کښ باء ذکر کړیں ده۔ او د الْعِبَادِ نه مراد الذین اتقوا دی۔ او الف لام عهدی دی یعنی هغه خلق چه عبدیت ئې الله تعالیٰ لره خاص کړیں دے۔

وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿١٦﴾ اَلصّٰبِرِيْنَ

او بچ اوساتے مونږ د عذاب د اور نه - چه صبر کوونکی دی

وَالصّٰدِقِيْنَ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْمُنْفِقِيْنَ

او رشتیا ویونکی دی او تابعداری کوونکی دی او خرچ کوونکی دی

وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ ﴿١٧﴾

او بخنه طلب کوونکی دی په وخت د پیشمنی کښ -

۱۷ :- په دے آیت کښ د العباد عبدیت ذکر کوی د هغوی په خاص دعا کولو سره -

اَلَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ ، په دیکښ رفع ، نصب ، او جر دریواړه احتمالات دی - خبر د مبتداء پټ د پاره دے یعنی هُمْ - یا مبتداء ده او خبر ئے پټ دے یعنی الذین آه یستجاب لهم - یا لفظ د اعنی او امدح پټ دے - یا صفت دے او یا بدل دے د العباد د پاره -

رَبَّنَآ اِنَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا ، په دیکښ اول ذکر د توسل (وسیله نیولو) دے په صرف ایمان سره - او دا دلالت کوی چه صرف صحیح ایمان د مغفرت د پاره سبب کیدے شی - لکه د دے سورت په آیت ۱۹۳ کښ دی او دا دلیل دے چه غوره وسیله د مؤمن د پاره ایمان د هغه دے - او په دیکښ اشاره ده چه انسان اول مغفرت د ګناهونو ته ډیر محتاج دے -

وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ، دا دویم مقصد دے او مراد د بچ کیدلو نه دا دے چه هیڅ وخت په عذاب د اور کښ داخل نشی بلکه د ابتداء نه جنت ته لاړ شی - دا هم دلیل دے چه صرف ایمان هم جنت ته د دخول اولی د پاره سبب کیدے شی - نو معلومه شوه چه اعمال صالحه جزء (په طریقه د رکنیت مستقله سره) د ایمان نه ندی لکه چه معتزله او خوارج داسے وائی -

۱۷ :- دا د کمال ایمان د پاره صفات دی په دُنیا کښ - او

دَحصول دَلویو درجاتو دَپاره په جنت کښې- په دے آیتونو کښې خائسته ترتیب دے- اول ئې تقوٰی ذکر کړه چه هغه دَ هر قسم کفر او شرک نه ځکیدل دی- دویم ئې په ایمان خالص سره عبدیت ذکر کړ- دریم ئې دغه ایمان وسیله اوګرځوله په دُعا او تضرع په مغفرت دَګناهونو سره- څلورم اوس نور صفات ذکر کوی دَکمال دَایمان دَپاره-

اَلصّٰبِرِیْنَ، دَ دے دَ اعراب محل دَ الذین یقولون پشان دے- اول صفت صبر دے په ادا دَ طاعاتو او په اجتناب دَ محرماتو او په تکالیفو دَدین باندے- نو په دے صفت کښې اقامت (پایندی) دَ مونځ او ادا دَ روژے داخل ده-

وَالصّٰدِقِیْنَ، دا دویم صفت دے- صدق په قول فعل او نیت دریواړو کښې دے یعنی په ژبه دروغ نه وائی- او دَ عقیدے خبره دَ زړه سره موافق کوی او اعمال پوره کوی- او په نیت کښې ئې اخلاص وی ریاء او دَ دُنیا طلب ئې مقصد نه وی- نو په دیکښې اشاره ده چه دَ منافقانو دَ صفاتو نه اجتناب کوی-

وَالْقٰنِتِیْنَ، دا دریم صفت دے دَ دے تفسیر په سورة بقره کښې تیر شوید ے- او دلته دَ قنوت نه مراد دوام او همیشوالے دے په ټولو طاعاتو باندے- او په دیکښې دَ شپے عبادت کول داخل دی په قرینه دَ سورة زمر سره-

وَالْمُنْفِقِیْنَ، دا څلورم صفت دے- مخکښې صفات عبادات بدنیه وو او دا صفت عبادت مالیه دے- فرض نفل وغیره ټول ته شامل دے- دَ انفاق تفسیر هم په سورة بقره کښې تیر شوید ے-

وَالْمُسْتَغْفِرِیْنَ بِالْاَسْحَارِ، دا پنځم صفت دے- او دا صفت دَ مخکنو صفاتو دَ تکمیل دَپاره دے یعنی په تیر شوی صفاتو باندے دا سے اعتماد نیشته چه استغفار ته حاجت پاتے نشی بلکه دَ ټولو عباداتو سره استغفار

ضروري دے دَ پاره دَ قصور دفع کولو په دغه عباداتو کښ او اسحار جمع دَ سحر ده زجاج وئیلی دی چه دَ طلوع دَ فجر (صبا) نه مخکښ وخت دَ سحر دے یعنې دَ پیشمنی وخت - او دا آخري شپږمه حصه دَ شپے ده - او امام راغب وئیلی دی چه سحر کښ والے ریوځائے والے) دَ تیارے دَ شپے دے دَ رنړا دَ صبا سره - او بعضو وئیلی دی چه دَ دے اطلاق دَ شپے دَ آخرے حصے نه تر رنړا دَ صبا پورے باندے کیږي - دَ دے وخت تخصیص ئے دَ دے وجے نه اوکړو چه اشاره اوشي چه دوی دَ شپے عبادت کوي تو سحر پورے او په آخر کښ استغفار غواړي - او بله وجه داده چه دا وخت دَ اجابت دَ دُعا گانو دے په سبب دَ حدیث دَ بخاري او مسلم سره چه دَ شپے په روستئ دریمه حصه کښ الله تعالیٰ را کوزیږي آسمان دَ دُنیا ته - او وائي چه څوک دے چه ځما نه دُعا اوغواړي چه قبول ئے کړم او څوک سوال کوي چه ورکړم او څوک بخښنه غواړي چه ورته اوکړم -

فائده ۱: (سوال) دَ دے صفتونو په مینځ کښ ئے واو دَ عطف ولے ذکر کړیدے ؟

جواب ۱:- دا دخول دَ واو دَ تفخیم (عظمت) دَ هر صفت دَ پاره دے -

جواب ۲:- دا صفتونه متفرق دی په انسانانو کښ سره دَ جمع دَ اصل صفاتو نه یعنې په کامل صالح بنده کښ دا ټول راجمع وی لیکن په بعضے کسانو کښ یو صفت غالب وی او په بعضے کښ بل غالب وی -

فائده ۲:- په دے صفاتو کښ دَ ایمان نه روستو عبادات بدنیه (دَ زړه صبر، دَ ژبے صدق او دَ نورو اندامونو قنوت) او عبادات مالیه ذکر شویدی -

فائده ۳:- سوال دا دے چه په سورة احزاب ۳۵

شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ

گواهي کړے ده الله تعالٰی په دے خبره چه نيشته حق دار د بندګئ سوا د هغه نه

وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا

او ملائکو او علم والو (هم داسے حال) چه اولاړ وی

بِالْقِسْطِ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ

په انصاف سره نيشته حقدار د بندګئ سوا د هغه نه چه زور آور

الْحَكِيْمُ ؕ ﴿۱۸﴾

حکمتونو والا دے۔

کښې يُ خو لس صفات ذکر کړيدی ؟

جواب :- دا مقام د نصارا ؤ دے چه په هغوی کښې د صالحينو دا پنځه صفات وی روستو د تقوٰی او د ايمان نه - او سورتِ احزاب کښې مقام د صحابه کرامو او صحابياتو دے يعنی په هغوی کښې لس صفات موجود دی - د هغوی شان د نورو اُمتونو او خلقو نه اوچت دے۔

۱۸ - د دويم باب خلاصه :- د دے ځائے نه دويم باب دے تر آيت ۲۵ پورے - په دے باب کښې اول دعوٰی د توحيد ده سره د دليل وحی ، نقلی او عقلی او نتيجے نه په آيت ۱۸ کښې - بيا جواب دے د هغه چاچه دليل نيسی په اقوالو د باغيانو خلاف د دين اسلام نه - بيا دعوت دے هغوی ته په محاجه کولو سره - بيا ذکر د اسبابو د عذاب دے سره د تخويف اخروی نه او دا اسباب په باغيانو کښې دی په آيت ۲۲ کښې - بيا محال دے د باغيانو د مقلدينو - او اعراض د هغوی د کتاب الله نه په دوه اسبابو سره په ۲۳ ، ۲۴ کښې - بيا تخويف اُخروی دے دوی ته په ۲۵ کښې۔

النصف

ربط :- هر کله چه مخکښ ئې صفات دَ اولو العلم ذکر کړل. نو اوس په توحید باندے دَ هغوی شهادت ذکر کوی ځکه چه دَ قبول دَ شهادت دَ پاره دَ صفاتو دَ عدال ضرورت دے او دغه صفتونه دَ عدالت دی نو دَ هغوی شهادت ځکه قبول دے. بیا دَ تاکید دَ شهادت دَ اولوالعلم دَ پاره اول شهادت دَ الله تعالیٰ او دَ ملائیکو ذکر کوی. اشاره ده چه دَ دوی شهادت مطابق دے دَ شهادت دَ الله تعالیٰ او دَ ملائیکو سره.

تفسیر :- شَهِدَ اللّٰهُ ، مفسرینو دلته دَ شَهِدَ معنے ډیرے لیکلی دی. اوله معنیٰ قال (وئیلی ئې دی) دویمه معنیٰ بَیَّنَ (بیان کړید ے) دریمه معنیٰ حَکَمَ (حکم ئې کړیدے) څلورمه معنیٰ اعلم (خبر ئې ورکړید ے). پنځمه معنیٰ قضٰی (فیصله ئې کړیده) شپږمه معنیٰ ذکر دَ مسئلے دَ توحید په ډیرو سورتونو کښ سره دَ دلیلونو نه دا شهادت دَ الله تعالیٰ دے.

اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ، الوهیت په معنیٰ دَ معبودیت، واکدارئ او تصرف کولو دے چه هغے ته صفات الالوهیت وئیلے شی. او رد دے په نصاراؤ باندے چه دا سے صفات په عیسیٰ علیه السلام کښ نیشته.

وَالْمَلٰٓئِكَةُ ، دَ ملائکو شهادت راوړل دَ وحی دَ توحید دی په انبیاء علیهم السلام باندے په هره زمانه کښ. او دا په سورة صافات څلورم آیت کښ هم ذکر دے. او دَ دے نه مراد ټول ملائک دی په دلیل دَ سورتِ صافات سره. او وَالْمَلٰٓئِكَةُ عطف دے په لفظ الله باندے یا دا جمله ده او لفظ دَ شهد پکښ پټ دے.

اُولُوا الْعِلْمِ، دَ دینه مراد علماء دَ توحید دی چه په هره زمانه کښ ئې دَ توحید دعوت کړیدے او کوی. انبیاء علیهم السلام، صحابه کرام او علماء دَ مؤمنانو اهلِ کتابو او ټول مؤمنان چه شهادت دَ توحید کوی په دیکښ داخل دی.

سوال :- الله تعالیٰ خو مدعی دَ توحید دے نو هغه ته دَ شهادت

نسبت په څه وجه سره أوشو؟
جواب ۱:- محققين د شهد معنے ذکر شوے چه قال- بَيَّنَ، حکم، قضٰی او اعلم دی په هغے کښ د شهادت معروفه معنٰی نيشته
جواب ۲:- شهادت په معنٰی د اثبات کؤونکی دے په دليلونو د توحيد سره- نو دا معنٰی د دعوے سره منافی نه ده-
سوال:- د الله تعالٰی شهادت جدا دے او د ملائکو او اولوالعلم شهادت جدا دے نو په يو لفظ (شهد) سره دواړه معنے څنګه مراد کړے شوی دی؟
جواب:- څوک چه د عموم مشترک قائيل دی نو د هغوی په نيز هيڅ اشکال نيشته- ليکن هرکله چه معنٰی د شهد عام ده قال او اعلم وغيره ته نو دا اقرار او دعوت کولو د ملائکو او اولوالعلم ته حقيقتًا شامل دے-
فائده ۱:- قرطبی او صاحب اللباب وئيلی دی چه دا آيت نيکاره دليل دے په شرافت د علم باندے ځکه چه الله تعالٰی د دوی شهادت د خپل ځان او د ملائيکو د شهادت سره يو ځائے ذکر کړے دے- ۲:- دلته شهادت د الله تعالٰی په توحيد باندے ذکر کړيں شوے او دا رنګ په سورة انعام ۱۹ کښ هم دے- او په سورة نساء ۱۶۶ کښ شهادت دے په قرآن باندے او په سورة منافقون اول آيت کښ شهادت دے د الله تعالٰی د منافقانو په کذب باندے- او په سورة نساء ۷۹ کښ شهادت د الله تعالٰی دے په رسالت د آخری رسول باندے او دا رنګ په سورة اسراء ۹۶ کښ-
قَآئِمًا بِالْقِسْطِ، دا منصوب دے بنا په حاليت او حال دے د لفظ الله نه يا د لفظ د هُوَ نه يا حال دے د دريواړو نه او د قيام بالقسط نه مراد قيام دے په تدبير د خلقو باندے په عدل او انصاف سره- خو دا په هغه وخت کښ چه حال شي د لفظ الله يا هُوَ نه او که د دريواړو نه حال شي نو معنٰی دا ده چه دريواړه پاتے دی په خبره د قسط باندے چه

توحيد دے، په ديکښ هيڅ تيندګي نه راولی - آلوسی وئيلی دی
چه دا ذکر د کمال دے د الله تعالیٰ په افعالو او تصرفاتو کښ
روستو د کمال ذاتی د هغه نه - او قسط لفظ په قرآن کښ پنځلس
کرته راغلی دے - هرځائے کښ په معنیٰ د عدل او په معنیٰ
د ورکولو د حق دے خاوند د حق ته -
لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ، د دے د تکرار ډیر وجوه دی - اوله وجه داچه اوله
کلمه کښ صرف اختصاص د الله تعالیٰ په الوهيت سره مراد وو
او په دے کلمه کښ اختصاص په دوؤ صفتونو سره مراد دے
يعنی الوهيت او عدل کول (کشاف) - دويمه وجه داچه اوله
کلمه په شهادت د الله تعالیٰ سره ذکر ده - او دويمه په شهادت
د ملائيکو او اولوالعلم سره ذکر ده - ليکن دا وجه بنا ده چه
د وَالْمَلٰٓئِكَةُ نه وړاندے لفظ د شهادت پټ دے او دا وجه
مرجوح ده - دريمه وجه داچه د دے په تکرار کښ اشاره ده
کثرتِ ذکر د دے کلمے ته ځکه چه دا لوئے عبادت دے - څلورمه
وجه داچه په اوله کلمه کښ اشاره ده توحيد ته په صفاتو د تنزيه
سره او په دويمه کښ اشاره ده صفاتو د تمجيد ته په سبب
د ذکر کولو د الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ - پنځمه وجه داچه اوله په طور د
دعوے سره وه او روستو د شهادت ذکر کولو نه په طور د
نتيجے سره ذکر شوه -
الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ، دا صفات هم په طريقه د دليل سره دی
د پاره د توحيد د الوهيت ځکه چه اول صفت کښ اشاره ده ټولو
صفاتو د قدرت او تصرف ته په دويم صفت کښ اشاره ده
صفت د علم د الله تعالیٰ ته (ابوحيان) -
فائده:- په دے آيت کښ لفظ د شَهِدَ کښ اشاره ده دليل
وحی ته - او وَالْمَلٰٓئِكَةُ او اُولُوا الْعِلْمِ کښ اشاره ده دليل نقلی
ته - او په قَآئِمًۢا بِالْقِسْطِ کښ اشاره ده دليل عقلی ته - او اول
لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ دعویٰ ده او دويم نتيجه ده -

إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ ۗ قف

یقیناً دین (قبول کړی شوی) په نیز دَ الله تعالیٰ اسلام دے

وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ

او اختلاف نه دے کړے هغه کسانو چه ورکړے شوے دے هغوی ته کتاب

إِلَّا مِن بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ

مګر روستو دَ هغے نه چه راغلے دے دوی ته علم

بَغْيًا بَيْنَهُمْ ۗ وَمَن يَكْفُرْ بِآيَاتِ

دَ دے دَضد کولو نه په مینځ دَ دوی کښ او چا چه کفر اوکړو په آیاتونو دَ

اللَّهِ فَإِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿١٩﴾

الله تعالیٰ نو یقیناً الله تعالیٰ زر حساب کوونکے دے -

۱۹ - ربط ۱ :- هر کله چه مخکښ آیت کښ لا اله الا هو ثابت کړے شو په شهادت خاصه سره نو په دے آیت کښ دَ هغے توم ذکر کوی چه اسلام دے -

ربط ۲ :- دا رنګ مخکښ دَ نصاراؤ دَ شبهے جواب اوکړے شو (شبهه دَ هغوی دلیل نیول وو په متشابهاتو سره) نو اوس هغوی ته دَ اصل مقصد دعوت ورکوی چه اسلام دے -

إِنَّ الدِّينَ ، دَ لفظ دَ دین تفسیر په سورة فاتحه کښ تیر شوے دے - دین په عرف کښ مجموعه دَ هغه عقائدو او اعمالو وی چه یو قوم په هغے پابند تلل کوی دے دَ پاره چه جزاء ورته ملاؤ شی - برابره خبره ده که دا دین صحیح وی او که خطا وی - دَ دے وجے نه دَ مشرکانو دین ته هم دین وئیلے شوے دے په سورة الکافرون کښ (لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ) او دَ شریعت په اصطلاح کښ دین مقرر کول دَ عقائدو

او اعمالو دي دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه دَ ذوی العقولو دَ پاره
چه هغوی ئے په خپل اختیار سره غوره کړی دَ خپل ځان
دَ پاره - دلته الـذین کښ الف لام جنسی دی -
عِنۡدَ اللّٰهِ، دلته عند دَ اعتبار او قبولیت دَ پاره دے - دَ
علم دَ پاره نه دے -
الۡاِسۡلَامُ، قتاده وئیلی دی چه اسلام شهادت دَ لا اله الا الله
دے او اقرار په هغه څیزونو دے چه دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه
په وحی سره راغلی وی - او دا هغه دین دَ الله تعالیٰ دے
چه دَ هغے تشریع ئے کړیده او په هغے سره ئے رسولان
رالیږلی دی - او دَ هغه دوستانو هغے ته دعوت کړیدے
او دَ هغے نه سیوا بل هیڅ دین نه قبلوی - او بغیر دَ هغے نه
په بل دین باندے جزاء (ثواب) نه ورکوی (ابن جریر) -
اسلام په لغت کښ انقیاد، طاعت، تسلیم او متابعت ته وئیلے
شی او دَ شریعت په اصطلاح کښ ایمان دے سره دَ
انقیاد نه ظاهراً او باطناً - ایمان او اسلام په اعتبار دَ
شرعے سره یو شان دی لکه چه په سورة ذاریات ۳۵،
۳۶ کښ دی - او کله اسلام صرف اعمال ظاهریه ته وئیلے
شی لکه په سورة حجرات ۱۴ کښ - دا رنګ ایمان کله
صرف تصدیق دَ زړه ته وئیلے شی او دَ هغے اظهار کول
په ژبے سره - او کله کله ئے اطلاق په اعمالو باندے هم
کیږی -
دلته حصر دَ مسند الیه شویدے په مسند کښ - نو لازم
دَ حصر سره دادہ چه نیشته هیڅ دین مګر اسلام دے -
لیکن دینونه خو ډیر دی په دُنیا کښ په معنیٰ عرفی سره
نو لفظ دَ عند الله دلالت کوی چه دلته معنیٰ دا ده چه
یقیناً هغه دین چه مقبول او مرضی او معتبر دے په نیز
دَ الله تعالیٰ نو هغه صرف اسلام دے - او دَ مخکښ معنے دَ
اسلام نه معلومه شوه چه دَ ټولو انبیاء علیهم السلام

دین ته اسلام وئیلے شی - لکه چه دین دَ ابراهیم علیه السلام ته ډیرو آیتونو کښ اسلام وئیلے شوے دے لکه بقرة ۱۳۲ او آلعمران ۶۷ - او دین دَ یعقوب علیه السلام او دَ ځامنو دَ هغه هم اسلام دے بقرة ۱۳۳ - دین دَ حوارئینو دَ عیسیٰ علیه السلام هم اسلام دے مائده ۱۱۱ - دَ تابعدارو دَ موسیٰ علیه السلام دین هم اسلام دے اعراف ۱۲۶ - دین دَ سلیمان علیه السلام اسلام دے نمل ۳۱ دین دَ حق پرستو اهل کتابو مخکنو اسلام دے سورة قصص ۵۳ - دین دَ تابعدارو دَ لوط علیه السلام هم اسلام دے سورة ذاریات ۳۶ نو دلته دَ اسلام نه دا مراد دے - بیا په وخت دَ نزول دَ قرآن کښ دا نوم په دین دَ محمد صلی الله علیه وسلم پورے خاص شو - او په دے جمله کښ رد دے په نصارا ؤ دَ نجران باندے چه هغوی دَ نصرانیت (محرف) دین ته مقبول دین وئیلو -

وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ، دا جواب دَ یو پټے شبهے دے - شبه دا ده چه یهودیانو خو عزیر علیه السلام ته ابن الله وئیلے دے او نصارا ؤ عیسیٰ علیه السلام ته ابن الله وئیلے دے او نور هم دَ شرک کارونه پکښ شته بلکه هغه دوی پخپل کتابونو کښ هم لیکلی دی - او دَ آخری نبی او قرآن نه هم انکار کوی - او دَ دے دَ پاره ئے پخپلو کتابونو کښ تحریفونه کړیدی او محرف کلمات ئے لیکلی دی - نو که غوره دین صرف اسلام وے نو دغه علماؤ او پیرانو وغیره به منلے وے او دَ دینه به ئے مخالفت نه کولے - نو په دے جمله کښ دَ دے جواب دے چه دَ دغه احبارو او رهبانو دا مخالفت په ضد او عناد او بغی باندے بنا دے دَ دوی دا تحریفات او مخالف کیدل دَ دین اسلام په خلاف کښ هیڅ دلیل نشی کیدے - اوس هم بعضے جاهلان دا سے وائي چه دَ توحید و سنت خلاف خو لوئے لوئے عالمان کوی او هغوی دَ شرک او بدعاتو په

اثبات کښې ډیر کتابونه او رسالې لیکلې دی. یا ئې په صحیح کتابونو کښې د ځان نه باطلې خبرې داخل کړی دی (دَښ ئې کړې دې) نو که توحید وسنت حق وې نو دغه علماؤ ولې مخالفت کړې دې نو د هغې هم دغه جواب دې چه د دوی دا مخالفت په دلیل باندې نه دې بنا بلکه د ضد او حسد د وجې نه دې. او دا سې آیت په سورة بقره ۲۱۳، سورة شورٰی ۱۴ او سورة جاثیه ۱۷ کښې هم دې.

اَلْعِلْمُ نه مراد ښکاره دلیلونه د حقانیت د اسلام مردی او هغه په تورات او انجیل کښې او په قرآن کښې هم شته.

بَغْیًا مفعول له دې د اخْتَلَفَ د پاره یا حال دې د الذین نه. بَیْنَهُمْ، د دې یل جانب حذف دې یعنی وَبَیْنَ اَهْلِ الْحَقِّ. لیکن د حق والو د طرف نه حسد نیشته. د دې وجې نه ئې د هغوی ذکر او نکړو. یا دلته یو لفظ پټ دې (نشاً وَبَاض بینهم) پیدا شو او لګئ ئې واچولې د دوی په مینځ کښې. او ابن عاشور په التحریر والتنویر کښې ډیر تفصیلی لیکلی دی چه دلته د اختلف متعلق ئې ځکه نه دې ذکر کړې چه د اختلاف ډیر اقسام دی دا هغه ټولو ته شامل دې. اول قسم، اختلاف د هر امت دې د یل سره په صحت د دین کښې لکه وقالت الیهود لیست النصارٰی علی شیئ وقالت النصارٰی لیست الیهود علی شیئ. دویم قسم، افتراق د هر امت دې په امت کښې ډیرو ډلو ته. لکه چه په حدیث کښې راغلی دی چه په یهودو کښې یواویا فرقې وې او په نصاراؤ کښې دوه اویا فرقې وې. دریم قسم، دوی اختلاف کړیدې په کورنۍ کښې په مخالفت د اسلام باندې په بغی او حسد سره د علم د حقانیت د هغې نه. نو دلته دا ټول اقسام مراد دی خصوصًا دریم قسم.

وَمَنْ یَّکْفُرْ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ، په دیکښې اشاره ده چه دغه اختلاف په اصولو د اسلام کښې ذې او دا کفر دې یعنی د دوی

فَإِنْ حَآجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ

نو كه دوى جګړه كوى تاسره نو ته اُوايه چه تابع كړے دے ما

وَجْهِىَ لِلّٰهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ ؕ وَقُلْ

مخ خپل الله تعالىٰ ته او هغه څوك چه زما تابعدارى كريږه او ته اُوايه

لِّلَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ وَالْأُمِّيّٖنَ

هغه كسانو ته چه كتاب دركړے شوے دے او اميانو ته

ءَأَسْلَمْتُمْ ؕ فَإِنْ أَسْلَمُوا

آيا تاسو تابعدارى كوى نو كه چرے دوى تابعدارى اوكړله

فَقَدِ اهْتَدَوا ۚ وَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا

نو يقيناً هدايت يئ اوموندلو او كه چرے دوى مخ اوګرځوؤ نو يقيناً

عَلَيْكَ الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيرٌۢ

په تا باندے (لازم دى) رسول او الله تعالىٰ وينى

بِالْعِبَادِ ﴿٢٠﴾ ع

خپلو بندګانو لره ۔

دغه اختلاف مستلزم دے كفر لره په آيا تو نو دَ الله تعالىٰ باندے چه تورات، انجيل او قرآن كښ دى۔ فَإِنَّ اللّٰهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ، حساب په معنىٰ دَ مناقشے دے يا كنايه ده دَ جزاء وركولو نه۔

نمبر ٢:۔ په ديكښ دَ اختلاف دَ نتيجے ذكر دے او محاجه كول او دَ هغے ادب خودل دى مسلمانانو ته يعنى هر كله چه دوى دَ دين اسلام نه مخالفت كوى نو خامخا به دوى دَ خپل مخالفت سره څه حجتونه پيش كوى۔ او حجتونه دَ باطل دَ پاره نشى كيدے نو معلومه شوه چه مراد دَ

دینه صرف جګړه کول دی او دا صفت دَ ضد یانو اوحاسدانو دے۔
فَإِنْ حَاجُّوكَ کښ ضمیر راجع دے اختلف الذین ته چه هغه یهود او نصاری دَ نجران دی اګرچه حکم عام دے۔
فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلَّهِ ، دَ دے جملے اوله توجیه دا ده چه په دیکښ مقصد تصریح کول دی پخپله دعوی باندے یعنی هغه اسلام چه دین حق دے نو ځه په هغے باندے پوخ یم - دَ الله تعالیٰ سره هیڅ قسم شرک نه کوم - او تاسو (اے کتابیانو) شرک او کفر کوئ۔ یعنی زمونږ محاجه په فرعی مسائلو کښ نه ده بلکه په اصولو دَ اسلام کښ ده - دویمه توجیه دا ده چه دا قول دَ محاجے دَ ختمولو دَ پاره دے یعنی هر کله چه په توحید باندے دلیلونه ذکر شول او دَ شبهاتو جوابونه اوشول او شهادتونه قائم شول او روستو حکم اوشو چه دَ دوی مخالفت کول په ضد او حسد باندے بنا دے۔ نو په آخر کښ ئے اوئیل چه هر چه ځه یم نو ځه خود حق منقاد او تابع یم او س ستاسو خوښه ده که موافقت کوئ او که مخالفت کوئ۔ او دا طریقه دَ حق پرستو ده په مقابله دَ باطل پرستو کښ۔ وَجْهِيَ کښ وجه نه دے او مراد ترینه مخ دے لیکن تابع کول دَ مخ کنایه ده دَ تابع کولو دَ ذات نه۔ یا وجه په معنیٰ دَ عمل ده (فراء بغوی)۔
وَمَنِ اتَّبَعَنِ ، دا عطف دے په تاء دَ متکلم باندے په أَسْلَمْتُ کښ۔ یا مبتداء ده او خبر ئے پټ دے یعنی کذالك۔ دَ دے لفظ اول مصداق صحابه کرام دی او دا تصریح ده په اسلام دَ صحابه کرامو باندے۔ هان روستو تولو تابعدارانو ته شامل دے۔ او لفظ دَ أَسْلَمْتُ ټولو اصولو او فروعو دَ اسلام ته شامل دے

چه هغه کمال اسلام دے۔

وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ وَالْأُمِّيِّينَ ءَأَسْلَمْتُمْ، دا هغه دعوے ته دعوت دے چه په اسلمت کښې ذکر شوه۔ یعنی روستو د دعوے نه دعوت ورکول پکار دی۔ هر کله چه په مخکښې آیاتونو کښې خطابات وو اهل کتابو ته او د هغوی اختلاف ئې ذکر کړو نو د دے وجے نه د هغوی ذکر ئې اول اوکړو۔ او ورپسے د عموم د دعوت د پاره ئې امیین ذکر کړل۔ او د امیین نه مراد مشرکین عرب دی ځکه چه د هغوی سره سماوی کتاب نیشته۔ او نه هغوی دعوی کوی۔ نو د دیته مراد یے کتابه کافر دی لکه چه په دے زمانه کښې هندوان، سکهان او نور مذهب والا دی وغیره۔ یا دوی اکثر اهل د کتابت (لیکونکی) او قراءت والا (لوستونکی) نه وو د دے وجے نه ورته امیین اوویلے شو۔ نو په دے وجه امیانو د دے اُمت ته هم شامل دے۔

ءَأَسْلَمْتُمْ، استفهام په معنیٰ د طلب دے یعنی اسلام قبول کړئ فَإِنْ أَسْلَمُوا فَقَدِ اهْتَدَوا، روستو د دعوت د اسلام نه دوه لارے دی یا اسلام قبلول دی یا د هغے نه مخ اړول دی نو دواړه حکمونه ئې ذکر کړل۔

اهْتَدَوا، کښې اشاره ده چه د هر قسم کفر گمراهئ نه هر یو شخص په اسلام قبلولو سره بچ کیږی۔

وَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ، اصل جواب پټ دے یعنی فَلَا تَحْزَنْ (مه خفه کیږه) وَلَا تَبِعَةَ عَلَيْكَ (په تا باندے هیڅ تاوان نیشته) او فَإِنَّمَا علت دے د پټ جواب د پاره۔

وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ، دلته عباد عام دے مؤمن او غیر مؤمن دواړو ته۔ او علم د الله تعالیٰ کنایه ده د جزاء او سزا ورکولو نه هرچا ته په مناسب طریقے سره۔

إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ

يقينًا هغه كسان چه كفر كوى هغوى په آيا تونو دَ الله تعالىٰ باندے

وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ حَقٍّ لا

او وژنى پيغمبران په غير دَ جرم شرعى نه

وَيَقْتُلُونَ الَّذِينَ يَأْمُرُونَ

او وژنى دوى هغه كسان چه حكم كوى

بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ فَبَشِّرْهُمْ

په انصاف سره دَ خلقو نه نو زيرے وركړه دوى ته

بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢١﴾

په عذاب دردناك سره

سالا په دے آيت كښ دَ اِنْ تَوَلَّوْا تفصيل دے۔ يعنى دغه اهل كتابو (يهودو نصاراؤ) دَ اسلام نه مخ كرځولے دے په دليل دَ دے درے كارونو دَ هغوى۔ او هغوى ته تخويف اُخروى ذكر كوى۔ اول كار ئے دا دے چه اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ، دَ اٰيٰتِ اللّٰه نه مراد تورات، انجيل او قرآن دے چه دوى دغه آيا تونو دَ توحيد او دَ رسالت دَ آخرى رسول نه مخالفت كړيدے۔ دا صفت دَ دوى په مشرانو كښ وو او دا رنګ په كشرانو كښ ئے هم دے۔ دَ دے وجے نه ئے په صيغه دَ فعل مضارع سره ذكر كړيدے۔ او دويم كار ئے دا دے چه وَيَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ حَقٍّ، دَ دے تفسير په سورت بقره كښ تير شويدے۔ او دا صفت صرف دَ دوى دَ مشرانو وو ليكن كشرانو تعريف كوو دَ دغه كار دَ خپلو مشرانو او حق ئے كڼلو نو ګويا چه كشران هم په دغه كار كښ شريك شول دَ مشرانو سره۔ دَ دے وجے نه ئے په صيغه دَ فعل مضارع سره ذكر كړو۔

سوال:۔ دلته حَقٍّ ئے نكره ذكر كړيده او په سورة بقره كښ

الحق معرفه ذکرده - جواب :- هر کله چه دلته په ان الذین
آه موصول سره ذکر شوه چه متضمن دے معنیٰ دَ شرط
لره نو تعمیم فائده کوی نو نکره ذکر شوه دَ تعمیم دَ پاره.
او په سورتِ بقره کښ آیت دَ معهود کسانو په باره کښ
دے - او هغه حق شرعی چه په هغے سره دَ انسان قتل
کول جائز کیږی هغه هم هغه کسانو ته معلوم وو دَ دے
وجے نه ئے په الف لام سره معرفه ذکر کړو - او دریم
کار دَ دوی دا دے چه وَيَقْتُلُوْنَ الَّذِيْنَ يَاْمُرُوْنَ بِالْقِسْطِ
مِنَ النَّاسِ ، لفظ دَ من الناس کښ اشاره ده چه
دا غیر وو دَ انبیاء علیهم السلام نه - یعنی نور علماء وو
چه دعوت به ئے کولو حق ته - او قسط نه مراد دعوی
دَ توحید او اسلام دے او هر کله چه په دیکښ یأمرون
بالقسط ذکر کړو او هغه دلالت کوی چه دَ دوی دَ قتل
کولو دَ پاره دلیل نیشته نو بغیر الحق ذکر کولو ته حاجت
نیشته - په دے کارونو کښ وجه دَ ترتیب دا ده چه
اول دَ دویم دَ پاره سبب دے او دویم دَ دریم دَ پاره
سبب دے نو سبب ئے مقدم کړے دے په مسبب باندے.
دَ حسن بصری نه روایت دے چه دَ امر بالمعروف او
نهی عن المنکر کوونکی مرتبه په عظمت کښ دَ انبیاؤ
مرتبے ته نیزدے ده -

سوال :- النبیین نه معلومیږی چه دے خلقو ټول انبیاء
قتل کړیدی - او دا خو صحیح نه ده ؟

جواب :- په النبیین کښ الف لام عهدی دی - او بعضے
دَ هغوی نه مفسرینو ئے نومونه ذکر کړیدی - ابن عاشور
وئیلی دی چه دوی زکریا علیه السلام قتل کړو ځکه چه
هغه دَ یحییٰ علیه السلام (خپل ځوئے) دَ قتل نه دَ بچ
کولو کوشش کولو - او یحییٰ علیه السلام ئے قتل کړو ځکه
چه هغه دَ عیسیٰ علیه السلام تصدیق کوو - او انبیاء

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ

دا هغه خلق دي چه برباد شوي دي عملونه دَ دوي

فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَا لَهُمْ

په دنيا او آخرت کښ او نيشته دوي لره

مِّن نَّاصِرِينَ (۲۲)

هيڅوک مددګاران

او حزقيل عليهما السلام ئې قتل کړي وو ځکه چه هغوي په دَ دوي دَ ناکاره عملونو رد کوو - او اشعياء عليه السلام ئې په اره يا ننه دوه ټکړے کړے وو - او ابن جرير او ابن کثير په سند سره دَ ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه نقل کړيدي چه ما دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو چه دَ چا عذاب ډير سخت دے دَ قيامت په ورځ - نو هغه او فرمائيل چه هغه سړے چه قتل کړي نبي لره يا هغه چا لره چه امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي - بيائې دا آيت اولوستو او او فرمائيل ئې اے ابوعبيده بني اسرائيلو دَ ورځے په اول کښ درے څلويښت انبياء عليهم السلام په يو ساعت کښ قتل کړل - نو بيا يو سل او يا کسان راپاسيدل او نهي عن المنکر ئې کوله نو دَ ورځ په آخر کښ ئې هغوي هم په يو ځل قتل کړل - دَ دے وجے نه الله تعالیٰ او فرمائيل چه فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ، هر کله چه مبتداء موصول متضمن ده معنیٰ دَ شرط لره نو په خبر کښ فاء راوړه -

سوال:- بشارت خو دَ خوشحالئ خبر ته وئيلے شي او دلته ئې دَ عذاب سره ذکر کړو؟

جواب:- دلته په عربئ کښ تهکم وئيلے شي يا تلميح - او اطلاق دَ يو ضد دے په بل ضد باندے -

سلا پہ دے کښې دَ مخکښې تخویف اخروی تاکید دے او جواب دَ یو وهم دے - هغه دا چه دَ دوی دَ پاره نیک اعمال شته دے یا دوی ځان دَ پاره شفعاء (شرکاء) نیولی دی - او دَ دوی تابعدار مریدان او مقتدیان شته دے هغوی به ئے بچ کوی دَ عذاب نه - نو حاصل دَ جواب دا دے چه دَ دوی نیک اعمال په سبب دَ کفر بالآیات او په قتل کولو دَ انبیاؤ سره باطل شوی دی - او دَ دوی شفعاء او مریدان وغیره دَ دوی سره امداد نه شی کولے -

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، أُولَٰئِكَ سره اشاره ده مخکښې صفتونو ته یعنی دَ دغسې صفتونو دَ وجې نه دَ دوی اعمال برباد شوی دی - حَبط په اصل کښې دَ اوښانو مرض دے چه په ډیر خوراک سره ئے خیټه اوپرسیږی او دَ دے وجې نه مړشی - نو دَ دوی دَ اعمالو دَ حبط تشبیه ئے دَ اوښانو دَ دغه حالت سره ورکړې ده - په دُنیا کښې حبط دا دے چه دَ دوی مدح بدله شوه په ذم سره - او ثناء ئے په لعنت سره او امن ئے په قتل یا په قید کولو سره بدل شول - او حبط په آخرت کښې دا دے چه دغه کارونه سبب دَ نجات دَ اور دَ جهنم نه جوړ نه شو -

وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ، او هر کله چه ډیر کسان نصرت نه شی نو یو کس به څه رنګه مدد او کړی دَ دے وجې نه ئے جمع ذکر کړه -

فائده :- ابوحیان وئیلی دی چه هر کله دَ دوی درے صفات قبیحه ئے ذکر کړل نو په هغې باندې درے عذابونه په ترتیب سره مرتب کړل - یعنی په کفر بالآیات باندې بشارت دَ عذاب الیم - او په قتل دَ انبیاؤ باندې بربادیدل دَ عملونو او په قتل دَ نورو حق پرستو باندې عدم نصرت دَ ناصرینو مرتب کړې دے -

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا

آیا نه گورے ته هغه کسانو ته چه ورکړے شوے ده هغوی ته

نَصِيبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُدْعَوْنَ

یو برخه دَ کتاب دَ الله تعالیٰ بللے کیدیشی دوی

إِلٰى كِتٰبِ اللّٰهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ

کتاب دَ الله تعالیٰ ته دَ پاره دَدے چه فیصله اوکړی په مینځ دَ دوی کښ

ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيقٌ مِّنْهُمْ

بیا مخ اوګرځوی یو ډله دَ دوی نه

وَهُمْ مُّعْرِضُونَ ﴿۲۳﴾

او دوی همیشه مخ ګرځوونکی دی۔

س۲۳ :۔ مخکښ دَ دوی دَ لویو علماؤ حال ذکر شو چه هغوی اختلاف بغیًا کړیوو۔ او څه کتابونه ئے هم په ضد او عناد سره دَ دین اسلام نه مخالف لیکلی وو۔ او هغوی مقلدین دی۔ نو اوس دَ دوی دَ نیمګړی علماؤ حال ذکر کوی چه دَ کتاب په بعضے حصه باندے علم لری او دا دَ مخکښنو مقلدین دی۔ دا رنګ مخکښ آیاتو کښ دَ دوی بغی او او عناد ذکر شو نو اوس دَ دوی دَ عناد غایه او دلیل ذکر کوی۔

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتٰبِ ، أَلَمْ استفهام دَ ډیر تعجیب دَ پاره دے۔ أُوتُوا نَصِيبًا کښ دوه احتمالات دی۔ اول دا چه دَ دینه مراد صرف یهود او نصاریٰ دی چه دَ جنس کتابونو الهیونه هغوی ته یو کتاب ورکړے شوید ے۔ دویم احتمال دا چه دَ دینه مراد هغه کتابیان دی چه دَ یهودو او نصاراؤ او دَ دے أمت نه چه هغوی دَ کتاب په الفاظو پوهیږی

او په معنیٰ د نه پوهیږی، یا په لږه حصه پوهیږی چه هغوی ته نیمګړی مُلیان وئیلے شی - او دا غوره قول دے. ځکه چه دَ اوتوا الکتاب او دَ اوتوا نصیبًا من الکتاب په مینځ کښې فرق پکار دے - بل دا چه قرآن کښې دوی اکثر په یو بل پسے ذکر کوی لکه په سورة نساء ۴۴، ۴۶، ۴۹، ۵۱ کښې - او په سورة شوری ۱۴ کښې دَ دواړو قسمونو ذکر دے - او ابوحیان هم دیته اشاره کړیده چه نصیبًا په معنیٰ دَ طرف او ظاهر دَ بعضے کتاب دے ځکه چه دوی په ټول کتاب باندے علم نه لری -

یُدۡعَوۡنَ اِلٰی کِتٰبِ اللّٰہِ ، دَ دینه مراد تورات دے چه مشتمل دے په دین دَ ابراهیم علیه السلام چه ملت اسلامیه دے. او په هغے کښې رجم دَ زانی ، مسئله دَ توحید او صفات دَ آخری نبی کریم صلی الله علیه وسلم هم ذکر دی - یا دَ دینه مراد قرآن کریم دے چه تصدیق کوونکے دے دَ تورات او انجیل په دغه تیر شوو خبرو کښې -

لِیَحۡکُمَ بَیۡنَهُمۡ ، دا سے په سورة نور ۴۸ کښې هم دی - ضمیر دَ یحکم راجع دے کتاب الله ته او دا دلیل دے چه مقصد دَ کتاب الله فیصلے کول دی -

ثُمَّ یَتَوَلّٰی فَرِیۡقٌ مِّنۡهُمۡ ، نسبت یو فریق ته دَ دے وجے نه او شو چه بعضے کسانو دَ دوی نه اسلام قبول کړیدے لکه ابن سلام رضی الله عنه - یا په دے زمانه کښې هم بعضے ایمان راوړی -

وَهُمۡ مُّعۡرِضُوۡنَ ، دا جمله حالیه ده او تاکید دے دَ اولے جملے دَ پاره که دَ تولی او اعراض معنیٰ یوه وی. یا دَ بیان دَ حال دَ پاره دے که مراد دَ تولی نه مخ اړول شی دَ داعی نه - او مراد دَ اعراض نه مخ ګرځول دی دَ هغه مسئلے نه چه دَ دوی ورته دعوت کړے شویدے. او که مراد دَ تولی نه تولی په اعتبار دَ ظاهر بدن سره

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا

دا دَ دے وجے نه چه دوی وائی هیچرے به اونه رسیږی مونږ ته

النَّارُ اِلَّآ اَیَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ۪ وَّغَرَّهُمْ

اور دَ جهنم مګر یو څو ورځے شمارلے شوے او دهوکه ورکړے ده

فِیْ دِیْنِهِمْ مَّا کَانُوْا یَفْتَرُوْنَ﴿۲۴﴾

دوی ته په باره دَ دین دَ دوی کښ هغه خبرو چه دَ دوی (مشرانو) ئے دَ ځان نه جوړے کړے دی

شی او مراد دَ اعراض نه ګرځیدل شی په زړه سره - یا مراد دَ تولی نه تولی وی په وخت دَ دعوت کښ - او مراد دَ اعراض نه استمرار او همیشه اعراض کول وی - قرطبی وئیلی دی چه دا دلیل دے چه څوک کتاب الله ته دَ فیصلے دَ پاره را اوبللے شی او مخالفت اوکړی نو هغه له په مناسب زجر ورکړی - او هغه په حکم دَ دے آیت کښ داخل دے -

۲۴ :- په دے آیت کښ دَ تولی او اعراض کولو دَ پاره دوه علتونه ذکر کوی - اول علت دا دے چه ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَیَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ، په ذالك کښ اشاره ده تولی او اعراض ته - یعنی دا عقیده ساتل چه مونږ جنتیان یو او دَ جهنم دَ اور نه ځے یو دا سبب دے دَ دے خبرے چه دوی ځان په حقه بانده ګنړی په خلاف دَ کتاب الله کښ او څوک چه ځان په حقه ګنړی نو هغه فیصلے دَ کتاب الله ته نه راځی - زمخشری وئیلی دی لکه چه جبریه او حشویه داسے دی - او ځه وایم چه داسے دَ مقلد یو حال دے په تقلید شخصی جامد سره - او دَ دے جملے تفسیر په سورة بقرة ۸۰ کښ تیر شوید ے - او دویم علت ئے دا دے چه وَغَرَّهُمْ فِیْ دِیْنِهِمْ مَّا کَانُوْا یَفْتَرُوْنَ، غرور دهوکے ته وئیلے شی -

فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ

تو څه رنګ به وی حال د دوی په هغه وخت کښې چه راجمع به موږ دوی په دا سے ورځ کښې چه شک نيشته

فِيهِ ۚ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ

په هغې کښې او پوره به ورکړے شي هر نفس ته بدله د هغه عمل چه هغه کړے وی

وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٥﴾

او په دوی باندے هيڅ ظلم نشي کيدے.

د كَانُوا يَفْتَرُونَ ضمير فاعل د دوی لويو ملايانو ته راجع
دے چه هغوی يعنی ضد او عناد کړے وو- او د ځان ته يې مسئلے
د جواز د شرك او بدعت او نور باطلو جوړے کړے وے. او
دغه چه روستو وړو ملايانو اوريدلے نو د هغوی تقليد يې
کړو او هغے ته يې دين وئيلو- يا ضمير د فاعل وړو ملايانو
ته راجع دے چه هغوی لَن تَمَسَّنَا النَّارُ خبره او نورے دا سے
غلطے خبرے کولے- او فِی دِينِهِمْ اشاره ده چه افتراء په دينی
احکامو کښې سبب د هلاکت او غرور دے- د دينه معلومه شوه
چه د کومو کسانو عقيده وی چه موږ جنتيان او بخلے شوی يو
يا زموږ د پاره عذاب ابدی نيشته او د باطل خبرو تقليد
کوی- نو دا سے خلق د قرآن او سنت اتباع والا نه دی-
۲۵ په دے آيت کښې منکرينو ته تخويف اخروی دے- فَكَيْفَ
دا لفظ د تعجيب د دوی د حال د پاره دے. او دا استفهام جواب
نه غواړی او حالهم لفظ پټ دے- إِذَا جَمَعْنٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ،
هر کله چه په دغه ورځ کښې جمع د ټولو خلقو ده نو ځکه ورته
يوم الجمع وئيلے شی- د يوم نه مراد مطلق وخت دے او د لَا رَيْبَ
نه مراد نفی د ريب ده په حقيقت د وقوع د دغه ورځ اګرچه
شک کونکی ډير خلق دی- وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ، دلته
د مَا كَسَبَتْ نه مخکښې لفظ جزاء پټ دے. او مَا كَسَبَتْ عام
دے خير او شر ته او د هر يو سره په سبب د نورو نصوصو سره

قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِی

ته اوایه اے الله اختیارمند دَ بادشاهۍ ورکوے ته

الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ

بادشاهي هغه چاته چه اوغواړے او راکاږے ته بادشاهي

مِمَّنْ تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ

دَ هغه چاته چه ته اوغواړے او عزت ورکوے هغه چاته چه ته اوغواړے

وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ

او ذلت ورکوے ته هغه چاته چه ته اوغواړے په لاس ستاکښ ټول خیر دے

اِنَّكَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۲۶﴾

یقینًا ته په هر څیز باندے قدرت والا یئے۔

جدا جدا شرط دے یعنی جزاء دَ خیر به پوره ورکیدلشی په دے شرط چه په شرک او کفر سره برباد شوے نه وی۔ او جزاء دَ شر به ورکیدے شی په دے شرط چه په توبه یا په فضل دَ الله تعالٰی سره معاف شوے نه وی۔

وَهُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ، ظلم په معنٰی دَ نقصان دے په ثواب دَ نیک عمل کښی او په معنٰی دَ زیادت دے په سیئا تو کښی دواړه ته شامل دے۔

۲۶ دَ دریم باب خلاصه:- دَ دے آیت نه دریم باب دے تر آیت ۶۳ پورے۔ په دیکښی اول اثبات دَ توحید دے په ذکر دَ دولس صفاتو دَ الوهیت سره په ۲۶، ۲۷ کښی۔ دویم منع کول دی دَ دوستانے دَ کافرانو نه او په هغے باندے تخویف دے تر آیت ۳۰ پورے۔ دریم ترغیب دے اتباع دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چه په هغے سره دوستانه دَ الله تعالٰی حاصلیږی۔ څلورم دفع دَ شبهاتو دَ نصاراؤ ده په ذکر دَ عبدیت دَ آباؤ دَ انبیاؤ سره په ۳۳ کښی او خصوصًا دَ مریم علیها السلام

دَ مور په باره کښې شبه او په باره دَ زکریا علیه السلام کښې - او شبه په باره دَ مریم او عیسیٰ علیهما السلام کښې په اثبات دَ عبدیت دَ هغوی سره تفصیلاً او خصوصاً عبدیت دَ عیسیٰ علیه السلام په ذکر دَ پنځویشت صفاتو دَ عبدیت دَ هغه سره - او رد دے په هغه نصاراؤ باندے چه دلیل نیسی دَ الوهیت دَ عیسیٰ علیه السلام دَ پاره - او دَ ابنیت دَ هغه امور خارقه للعادت سره تر ۵۹ پورے - پنځم اعلان دَ مباهلے نصاراؤ ته او دَ هغوی ځنګ کرځول - او اختتام دے په ذکر دَ دعوے دَ توحید سره -

ربط ۱ :- هر کله چه دوی دَ قرآن نه اعراض کړو په سبب دَ دے چه دلالت کوی په انتقال دَ نبوت او بادشاهۍ دَ بنی اسرائیلو نه عرب امیینو ته - نو په دے آیاتونو کښې اظهار کوی چه دا تصرف او اختیار دَ الله تعالیٰ دے - په دے باندے اعتراض نشی کیدے -

ربط ۲ :- هر کله چه مخکښې دَ عناد یانو حال او تخویف ذکر کړو نو اوس امر ورکوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ذکر دَ خاص دُعا سره او دا صفت دَ اتابت کوونکو دے -

ربط ۳ :- تیر شوی تولو آیتونو کښې ردوو په نصاراؤ دَ نجران باندے په رد دَ بعضے شبهاتو دَ هغوی سره - نو اوس رد دے دَ هغوی په باطله عقیده باندے په باره دَ عیسیٰ علیه السلام کښې په ذکر دَ صفاتو دَ الوهیت سره چه دا صفتونه په عیسیٰ علیه السلام کښې نیشته نو څرنګ تا سو هغه لره الوهیت ثابتوئ -

تفسیر : اَللّٰهُمَّ ، خلیل او سیبویه وائي چه دا په اصل کښې یا الله دے - هر کله چه یا حذف شوه نو دَ هغے په بدل کښې په آخر کښې ئے میم مشدد راوړو - میم مشدد په اصل کښې دوه میمونه دی نو دا عوض دی په بدل دَ یا او الف کښې چه هغه هم دوه دی - او په لفظ قل کښې

اشاره ده چه الله تعالیٰ په دے طریقے سره یادول پکار دی. دَ دے دَپاره چه رد اوشی په نصاراؤ باندے او په نورو مشرکانو باندے. او دَ دے وجے نه ئے مقصود بالنداء نه دے ذکر کړے دَپاره دَ تعمیم هر مقصد شرعی نه. دَ نضر بن شمیل رحمه الله نه روایت دَے چه چا په دُعا کښ اللهم اُوئیلو نو داسے شوه په ټولو اسماء حسنیٰ سره ئے دُعا اوغوښتله.

مٰلِكَ الْمُلْكِ، سیبویه وئیلی دی چه دلته بل حرفِ نداء پټ دے ځکه چه دا دَ اللهم دَپاره صفت نحویه نشی کیدے. او زجاج وئیلی دی چه دا دَ اللهم دَپاره صفت کیدیشی. مٰلِكَ، متصرف په ټولو څیزونو کښ په هغه طریقه چه غواړی ئے په ذواتو، منافعو او ثمراتو کښ. الْمُلْكِ دا یو قسم دے دَ مِلك نه او دا اعلیٰ قسم دے ځکه چه دا تصرف کول دی په ډیر جماعت کښ په طریقه دَ تنظیم او اقامت دَ حقوقو او په رعایت دَ مصالحو سره. او الملك کښ الف لام دَپاره دَ جنس دی او په دیکښ مضاف پټ دے یعنی ورکول، تقسیمول، فراخول او تنګول دَ مُلك. او مجاهد وئیلی دی چه دَ مُلك نه مراد نبوت دے لیکن تخصیص ته ضرورت نیشته.

تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ، ابوحیان وئیلی دی چه دَ دے مُلك نه مراد سلطان او غلبه ده او دا تفسیر دَ مالکیت دے یعنی مالکیت صفت فعلیه دے په طریقه دَ ایتاء او نزع سره. او ایتاء ئے ذکر کړه او تملیك ئے نه دے ذکر کړے ځکه چه تملیك اختیار ته وئیلے شی او مُلك کښ اختیار حقیقی نه ورکوی.

وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ، نزع په اصل کښ لرے کول دَ یو جسم دی دَ خپل ځائے نه. او استعمالیږی په لرے کولو دَ صفاتو او دَ معانیو کښ. نو دلته مراد دا دے چه

راکاږی صفت دَ مُلك دَ هغه چا ته چه اوغواړی- په دے کښ بعضے مفسرینو تخصیص کړیدے چه محمد صلی الله علیه وسلم او دَ هغه اُمت په اول من تشاء کښ مراد دے او فارس، روم او غټان دَ قریشو او یهود او نصارٰی په دوېم من تشاء کښ مراد دی لیکن غوره دا ده چه دا عام دے او دغه پکښ داخل دی-په تنزع تعبیر کښ اشاره ده چه مُلك اکثر خلق په خپل اختیار او خوښے سره نه پر یږدی بلکه په زور سره دَ هغه نه اخستلے کیږی او په مجبورئ سره ئے پریږدی لکه په حدیث کښ دی نعمت المرضعه وبئست الفاطمه (امارت ښه ئې ورکوونکے دے او ناکاره دَ بیوته پریکوونکے دے)-

وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ، دا دَ مُلك نه عام دے ځکه چه اعزاز (عزت) په دُنیا کښ مال، هیبت او رعب او دبدبه ورکول دی-او په دُشمنانو باندے غلبه ورکول دی- او نشرو اشاعت دَ دین دے-او ذلت دَ دے مقابل وی-او په آخرت کښ اعزاز جنت ته دَ اول وخت نه داخلول دی-او لوے لوے درجات او مرتبے ورکول دی-او ذلت په آخرت کښ په جهنم کښ، میدان حشر کښ شرمنده کول او دَ هغه دَ پاره شفاعت نه قبلول دی-

بِيَدِكَ الْخَيْرُ، په دیکښ دَ اعزاز نه هم زیات تعمیم دے. هر قسم خیر (منافع او فوائد او امن ورکول او ټول حاجات پوره کولو) ته شامل دے-او اصل تصرف دا وی چه پخپل لاس سره او کړیشی دَ دے وجے نه دلته ئے لفظ ید ذکر کړو-دَ ید معنیٰ حقیقی ظاهری مراد ده بغیر دَ تمثیل، تشبیه، تاویل او تحریف نه-

سوال:- الخیر ئے ذکر کړو او الشر ئے نه دے ذکر کړے؟

جواب له:- دیته اکتفاء وئیلے شی چه یو څیز ذکر شی او

تُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُوْلِجُ
ننه باسے ته شپه په ورځ کښ او ننه باسے ته

النَّهَارَ فِي الَّيْلِ وَتُخْرِجُ الْحَيَّ
ورځ په شپه کښ او را او باسے ته ژوندے

مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ
دَ مړ نه او را او باسے ته مړ کړه

مِنَ الْحَيِّ وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَاءُ
دَ ژوندی نه او روزی ورکوے ته هغه چاته چه ته اوغواړے

بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۲۷﴾
په غیر دَ حساب نه۔

مقابل ئے حذف شی۔

جواب ۲ ۔ قضا او تقدیر دَ خیر اصالتًا دے او دَ شر بالواسطه عارضی دے۔

جواب ۳ :۔ نسبت دَ شر په داسے مقام کښ بے ادبی ده په دُنیا کښ شر محض نیشته بلکه خیر مطلق دے یا مخلوط دے دَ خیر او شر نه په داسے طریقے سره چه شر پکښ مغلوب دے۔

إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، دا دَ مخکښ نه هم عام دے۔ مخکښ ته هم شامل دے او دَ هر خیر او شر او دَ هغے جزئیاتو او اجزاؤ ته شامل دے۔ او دا علت او دلیل دَ ماقبل دے۔ دَ دے وجے نه واو دَ عطف ئے نه دے ذکر کړے۔

۲۷ :۔ په دیکښ دَ تصرفات الٰهیه نور صفات فعلیه ذکر کوی۔ په تیر شوی آیت کښ امور معقوله معنویه ذکر وو او په دے آیت کښ امور محسوسه ذکر دی۔

تُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ، يعنى دَ شپې نه څه ساعات (وخت) كم كړے شي او دغه ساعات په ورځ كښ داخل كړے شي تو ورځ اُوږده شي او دغه شان برعكس.
او په ديكښ اشاره ده چه كله تيَره ذكفر او شرك په رڼا دَ ايمان او توحيد سره پن لرے كړے شي او كله رڼا دَ ايمان او توحيد پن له كړے شي په تيَرو دَ شرك او كفر سره. دَ نبي صلى الله عليه وسلم په بعثت سره اول حالت پيداشو يعنى رڼا راغله او تيارهٔ ختمه شوه نو دَ دے وجےته هغه ئے مخكښ ذكر كړے دے.

وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ، دَ ولوج (ننويستلو) مقابل اخراج دے نو په ديكښ ربط دَ تقابل دے. او دا عام دے ډيرو حالاتو ته شامل دے. اول دا چه حيوان راُوباسى دَ نطفے نه او دغسے په عكس سره لكه په دے قول كښ چه كنتم امواتًا فاحياكم. دويمه دا چه مرغئ راُوباسى دَ اگئ نه او په عكس سره. دريم دا چه مؤمن دَ كافر نه لكه دا قول چه او من كان ميتًا فاحييناه، او كافر دَ مؤمن نه. څلورم بوټى دَ اوچ زمكے يا دَ اوچ تخم نه. او اوچ تخم او اډوكى دَ شنو بوټو نه او ميوو نه. او پنځم دا چه عالم دَ جاهل نه او جاهل دَ عالم نه.

وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ، مخكښ حالات دَ ايجاد سره متعلق وو او دا دَ تربيت سره متعلق دے ځكه چه تربيت بنا دے په رزق باندے او دا رنگ اخراج په څلورم معنے سره سبب دے دَ پاره دَ رزق وركولو دَ دے تفسير په سورة بقره ۲۱۲ كښ ذكر شوے دے.

فائده:- په اول آيت كښ دَ الله تعالى اووه صفات فعليه ذكر كړى او په دويم آيت كښ پنځه ذكر دى اشاره ده چه دَ دے صفتونو نه يو هم په عيسى عليه السلام كښ موجود نه دے نو څرنګه اِله كيدے شي.

لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ

نه دِ نيسي مؤمنان كافرانو لره

اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ج

دوستان سوا دَ مؤمنانو

وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ

او چا چه اوكړو دا كار نو نه دے

مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا

دَ الله تعالىٰ (دَ دين) نه په هيڅ څيز كښې مګر په هغه وخت چه ځان بچ كوئ تاسو

مِنْهُمْ تُقٰىةً ط وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ

دَ دوی نه ځان بچ كول او ويره دركوی تاسو ته الله تعالىٰ

نَفْسَهٗ ط وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ (۲۸)

دَ خپل ځان نه او خاص الله تعالىٰ طرف ته ګرځيدل

س ۲۸ : ربط له :- هر كله چه مخكښې آيتونو كښې تعظيم دَ الله تعالىٰ ذكر شو (چه هغه په مؤمن باندے واجب دے) او هغه معامله ده دَ الله تعالىٰ سره - نو اوس معامله دَ مخلوق سره ذكر كوی هغه چه هغه دشمنان دَ الله تعالىٰ دی او منكر دی دَ تعظيم دَ الله تعالىٰ نه -

ربط ۲ له :- هر كله چه مخكښې رد وو په عقيده دَ نصاراؤ مشركينو باندے - نو اوس دَ هغوی سره دَ دوستانے لرلو نه منع كوی -

لَا يَتَّخِذِ ، دا نهی ده او متعدی دے دوه مفعولونو ته-
الْكٰفِرِيْنَ مفعول اول دے او اولياء مفعول ثانی دے-
مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ، حال دے دَ فاعل نه او دون په معنیٰ دَ تجاوز سره دے يعنی مُتَجَاوِزِيْنَ مِنْ وِلَايَةِ

الْمُؤْمِنِيْنَ إِلَى الْكَافِرِيْنَ إِسْتِقْلَالًا وَإِشْتِرَاكًا، (یعنی ورتیریدونکی دی دَ مؤمنانو دَ دوستانے نه دَ کافرانو دوستانے ته نو پریږدی دوستانه دَ مؤمنانو یا دَ دوارو سره دوستانه ساتی) او لفظ دَ من دون المومنین کښ اشاره ده چه مؤمنان شته نو دَ کافرانو سره دوستانے ته هیڅ حاجت نیشته - او دَ کافرانو سره موالات درے قسمه دے - اول قسم دا چه رضا شی په کفر دَ هغه باندے او هغه ښه کارګنړی او دَ کفر په کارونو کښ ورسره شرکت کوی - او دَ کفر دَ وجے نه ورسره دوستانه ساتی نو دا خویقینی کفر دے - او یو مؤمن شخص چه دا سے کار اوکړی نو هغه ته مرتد وئیلے کیږی - دویم قسم دا چه دَ کفر په کارونو او شرک کښ ورسره امداد کوی او اسباب ورله مهیا کوی او عقیده لری چه دغه دین (کفر او شرک) باطل دے - نو دا کار کفر خو نه دے لیکن حرام دے او کله کله کفر ته رسول کوی - دریم قسم دا چه دَ کافرانو او مشرکانو عزت او احترام کوی او هغوی ته سلام او قیام کوی نو دا هم ګناه او ممنوع کار دے - آلوسی وئیلی دی چه هر کار چه په عرف کښ تعظیم ګڼړلے شی او مسلمانان ورته دوستانه او موالات وائی - او دَ کمزوری مؤمنانو په زړونو کښ شک پیدا کوی (یعنی هغوی کفر او بے دینئ ته مائله کوی) نو دا منع دے - ملا علی قاری په مرقات کښ وئیلی دی چه اهل ذمه (کافرانو) ته دَ ادب دَ پاره او دریدل او هغوی له په مجلس کښ مشری ورکول ګناه ده - نو په دے آیت کښ دغه دریواړه قسمونه داخل دی سره دَ اختلاف دَ حکم دَ هغوی نه - او ابن عاشور اته اقسام ذکر کړیدی - او دَ دے آیت مضمون په سورة آلعمران ۱۱۸ مائده ۵۱ مجادله ۲۲ او سورت ممتحنه اول آیت کښ هم شته دے

سوال :- من دون المؤمنين دلالت کوي چه دَ مؤمنانو او کافرانو دواړو سره تعلق ساتل جائز دي ؟
جواب :- هرکله چه دون په معنیٰ دَ تجاوز سره دے نو دا احتمال ساقط دے.

وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ ، په دے کښې تاکید دے په ترك دَ موالات کښې او په کلام کښې حذف دے یعنی من ولایة الله او من دینه او من حزبه - فِيْ شَيْءٍ خبر دے دَ لَيْسَ دَ پاره او مِنَ اللّٰهِ په موضع دَ حال کښې دے او په دے جمله کښې نفي دَ ولایت دَ الله تعالیٰ ده دَ هغه چا نه چه دَ الله تعالیٰ دَ دُشمنانو سره دوستانه کوي.
اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقٰىةً ، دا استثناء مفرغ ده دَ مفعول له پښ نه یعنی دَ کافرانو سره دَ هیڅ سبب دَ وجے نه دوستانه مهٔ کوئ مګر دَ وجے دَ تقاة نه جائز ده خو صرف په قول او عمل سره نه په زړه سره - په تقاة کښې درے اقوال دي - اول قول دا چه دا مصدر مفعول مطلق دے په معنیٰ اتقاءً - دویم دا مفعول به دے او تتقوا په معنیٰ دَ تخافوا دے او تقاة مصدر دے په معنیٰ دَ هغه څیز چه دَ هغے نه یره کیدیشي - دریم قول دا دے چه دا منصوب دے بنا په حال موکده سره او دا جمع ده یعنی په دے حال کښې چه تاسو یره کوُونکي یئ - دلته غوره معنیٰ دا ده چه یره کوئ تاسو دَ دوی (کافرانو) نه یره کول - یا ځان ساتئ دَ دوی نه ځان ساتل - یعنی هرکله چه یو مؤمن یواځے وي او کافران ئے راګیر کړي او ورته وائي چه دَ کفر کلمه اووایه یا عمل دَ کفر او کړه ګنی نو مونږ دے وژنو - نو په دا سے وخت کښې په قول یا فعل سره دَ هغوی موافقت کول جائز دے - او دا په طریقه دَ رخصت سره اګرچه عزیمت نه دے - او دا پښان دَ دے قول دَ الله تعالیٰ دے چه اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ وَقَلْبُهٗ

مُطۡمَئِنٌّ بِالۡاِیۡمَانِ ، (سورة نحل ۱۰۶)
فَائده :- تقیه وئیلی شی محافظت دَ نفس یا دَ عزت یا مال ته دَ شر دَ دُشمنانو نه - او دا دوه قسمه دے یو ځان ساتل دی دَ دینی دُشمنانو نه - بل دا چه دُشمنی وی ورسره په دُنیوی اغراضو باندے لکه مال جائیداد او دَ دُنیا مشری وغیره - دَ اول قسم حکم شرعی دا دے چه مؤمن په داسے ځائے کښ وی چه خپل دین عملاً او قولاً نشی ښکاره کولے - دَ مخالفینو دَ یرے دَ وجے نه نو په دهٔ باندے دَ خپل دین دَ حفاظت دَ پاره هجرت کول فرض دی - او که چرے دَ دهٔ دَ پاره عذر شرعی موجود وی لکه زنانه ، ضعیفان ، په سترګو معذور وغیره او هجرت نشی کولے او دَ دُشمنانو دَ طرف نه غالب ګمان دا وی چه دَ دین په اظهار سره یٔے هغوی قتلوی یا ترینه روزی بندوی یا ورله اولاد قتلوی نو بیا ورله پټے کیدل جائز دی او خپل دین به پټ ساتی - خو کوشش دَ هجرت کولو به کوی اګرچه په څه حیلے سره وی - او که دَ دُشمنانو نه صرف دَ وهلو یا دَ لړے مودے دَ پاره جیل وغیره کښ دَ بندولو یره وی نو بیا دَ هغوی سره موافقت جائز نه دے او په حالت دَ جواز کښ صرف رخصت دے - او عزیمت دا دے چه خپل دین به نه پریږدی که قتل کړے شو نو شهید دے - او دَ دویم قسم حکم شرعی کښ اختلاف دے دَ علماؤ - بعضو وئیلی دی چه هجرت واجب دے په دلیل دَ لا تلقوا بایدیکم الی التهلکة سره - او بعضو وئیلی چه هر کله دینی نقصان نه جوړیږی نو هجرت پرے لازم نه دے - او بعضو وئیلی دی چه دَ خپل نفس یا دَ اولاد دَ هلاکیدو یره وی نو هجرت پرے لازم دے ځکه چه حفاظت دَ نفس اوشی - او دا څه عبادت او قربت نه دے ځکه چه په دیکښ صرف دُنیوی غرض دے - او حالت

دَ جواز کښې مدارات کول په نرم کلام سره او هغوی ته خوشحالی ښکاره کول او څه هدیې او تحفې ورکول جائز دی۔ دا موالات نه دے بلکه مدارات دے په طریقه دَ تقیه سره۔ او آلوسی دَ دے جواز دَ پاره ډیر روایات او احادیث ذکر کړی دی۔
فائده ۲: دَ تقیه په باره کښې دَ خوارجو او شیعه ګانو متضاد مذهبونه دی۔ دَ خوارجو په نیز تقیه په هیڅ حال کښې جائز نه ده۔ دَ دین په مقابل کښې دَ نفس، مال او عزت رعایت نشی کیدے۔ دوی وئیلی دی که یو شخص مونځ کوی او یو غلا کر دَ دهٔ ټول مال پټوی یا غصب کوی نو جائز نه دی چه دے مونځ پریږدی۔ نور هم داسے مثالونه دی۔ او دَ شیعه ګانو په نیز دَ تقیه واجب ده په وخت دَ خوف دَ خپل نفس کښې بلکه په مال بانده هم۔ نو دَ دوی په نیز یو شیعه شخص دَ اهل سنت سره په مونځونو، روژه او حج کولو وغیره کښې دَ تقیې دَ وجے نه موافقت کوی اګرچه دَ دوی په نیز سنی عبادت باطل دے۔ دَ دوی په روایاتو کښې شته دے چه چا په یو سنی پسے مونځ په طریقه دَ تقیه سره ادا کړو نو داسے دے لکه چه په نبی پسے مونځ ادا کړی۔ بلکه دَ معمولی خوف په وخت کښې دَ دوی په نیز اظهار دَ کفر واجب دے۔ او دَ دوی لوئے مقصد ابطال دے دَ خلافت دَ صدیق، فاروق او عثمان رضی الله عنهم۔ دَ دوی په کتابونو کښې دَ هغے تفصیل موجود دے۔ او حاصل دَ تقیه منافقت کول دی۔ او دَ دوی په کتاب نهج البلاغه او شرح دَ راوندی کښې دَ تقیې دَ جواز په رد کښې نصوص موجود دی۔ او دَ دے تفصیل مفسر آلوسی په دے مقام کښې کړے دے۔

وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ، دلته مضاف پټ دے یعنی

قُلْ إِنْ تُخْفُوا مَا فِي صُدُورِكُمْ

ته او وایه که چرې تاسو پټ ساتئ هغه خبرې چه ستاسو په سینو کښ دی

أَوْ تُبْدُوهُ يَعْلَمْهُ اللَّهُ ۗ وَيَعْلَمُ

یا ښکاره کوئ هغه عالم دے په هغې باندې الله تعالیٰ (بلکه چه) الله تعالیٰ عالم دے

مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ

په هر هغه څیز باندې چه په آسمانونو او په هر هغه څیز باندې چه په زمکه کښ دی

وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (۲۹)

او الله تعالیٰ په هر څیز باندې قدرت لرونکے دے۔

عقاب نفسه - یعنی که چرې موالات دَ کافرانو سره کوئ او نور منهیات کوئ نو الله تعالیٰ تاسو لره په هغې دَ خپل عذاب نه یره درکوی - او په لفظ دَ نفس کښ اشاره دَ سخت عذاب ته دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه - او دا فائده په صرف یحذرکم الله سره نه حاصلیږی او لفظ دَ نفس اطلاق په الله تعالیٰ باندې حقیقی دے بغیر دَ تشبیه او تاویل نه - آلوسی هم داسې ذکر کړیدی -

وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ ، په مخکښ جمله کښ تخویف دنیوی ذکر وو او په دیکښ تخویف اُخروی مراد دے -

۲۹ :- په دے آیت کښ زجر دے په موالات کولو دَ کافرانو سره پټ وی او که ښکاره وی -

مَا فِي صُدُورِكُمْ ، مَا عام دے او موالات په هغې کښ داخل دے - صُدُورِ نه مراد زړونه دی - ذکر دَ محل او مراد تری نه حال دے یعنی زړه په سینه کښ دے لکه په سورة الناس ۵ کښ دی -

أَوْ تُبْدُوهُ ، حالت دَ تقیه او غیر تقیه دواړو ته شامل دے - اِخفاء ئې دَ دے وجې نه مخکښ ذکر کړه چه موالات دَ کافرانو سره پټه (یعنی په زړه کښ) په هر حال سره

يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا

په هغه ورځ چه اوبه مومي هر يو نفس هغه چه

عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ۚ

څه عمل يې کړے دی د خير نه حاضر

وَمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوٓءٍ ۚ تَوَدُّ لَوْ

او هغه چه عمل يې کړے دی د بدے نه غواړي په چه ارمان دے

أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهٗٓ أَمَدًا

وے په مينځ د دے نفس او په مينځ د دے ورځ کښ مزل

بَعِيدًا ۗ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ۗ

لرے او ويره درکوی تاسو ته الله تعالی د خپل ځان نه

حرام دے - او ابداء په تقيه سره جائز ده -

يَعْلَمْهُ اللّٰهُ، علم کنايه ده په هغې بانـدے د جزاء ورکولو نه او اشاره ده چه اخفاء هيڅ فائده نه ورکوی ځکه چه د الله تعالی نه اخفاء (پټول) نشي کيدے -

وَيَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ، دا مستقل کلام دے په يعلمه بانـدے عطف نه دے - او دا دليل دے د ماقبل د پاره - او ذکر د عام دے روستو د خاص نه -

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، دا هم د تحذير د پاره دے او کمال د قدرت د الله تعالی د کمال او عموم علم سره ډير آيتونو کښ ذکر دے - اشاره ده چه د الله تعالی علم د قدرت نه جدا نه دے نو په دے سره وهم دفع کوی - که څوک وهم اوکړی چه الله تعالی عالم خو دے په هر څيز بانـدے (چه يو د هغې نه موالات دے) ليکن کيدے شي چه قدرت نه لری په سزا ورکولو سره - نو جواب اوشو په ذکر د عموم د قدرت د هغه سره -

وَاللّٰهُ رَءُوْفٌ بِالْعِبَادِ ﴿٣٠﴾

او الله تعالىٰ ډېر شفقت کوونکے دے په بندګانو باندې۔

نمبر ۳: دا تخويف أخروي دے موالات کوونکو ته۔ يَوْمَ، په دېکښې اقوال دي۔ اول داچه دا متعلق دے دَ قدير سره۔ دويم داچه دا متعلق دے دَ مخکښې يحذركم الله سره او مضاف پټ دے يعنې عذاب يوم۔ دريم داچه دا متعلق دے دَ روستو تودٌ سره۔ هر کله چه حضور دَ اعمالو په دغه ورځ اهتمامي خبره ده۔ ددے وجے نه هغه ئے مخکښې ذکر کړيدے۔ او دا قول زمخشري وغيره غوره کړيدے۔ تَجِدُ، دَ وجدان نه دے۔ متعدي دے يو مفعول ته چه ماعملت دے او محضرًا حال دے۔ يا تجد په معنىٰ دَ علم دے دوه مفعولو ته غواړي نو محضرًا ئے دويم مفعول دے ليکن اوله توجيه غوره ده۔
مَا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ، په دېکښې دوه احتمالات دي۔ اول دا چه نفس عمل مراد دے۔ دويم داچه دَ هغې جزاء مراد ده۔
مُحْضَرًا، دَدے دوه معنے دي۔ اوله داچه حاضر به وي ليکلے شوے په عملنامه دَ دوي کښې۔ دويمه معنىٰ داچه پوره به وي هيڅ کمے به پکښې نه وي۔
وَمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْٓءٍ، په دېکښې هم دوه احتمالات دي۔ اول داچه دا عطف دے په مخکښې ماعملت من خير باندې او محضرًا دلته پټ دے۔ او دا موافق دے دَ سورت زلزال فمن يعمل مثقال ذرة خيرا يره و من يعمل مثقال ذرة شرًا يره، سره۔ دويم احتمال داچه دا دَ سر نه کلام دے يعنې دا مبتداء ده۔ او سوءٍ عام دے دَ کافرانو سره موالات کولو ته شامل دے۔
تَوَدُّ لَوْ اَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهٗٓ اَمَدًا بَعِيْدًا، په دېکښې هم دوه احتمالونه دي۔ اول داچه دا خبر دَ ماعملت د پاره۔

قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللّٰهَ

ته اُوایه که چرے ئے چه محبت کوے دَ الله تعالٰی سره

فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ

نو تابعداری اوکړئ زما نو مینه به اوکړی تا سو سره الله تعالٰی او بخنه به اوکړی تا سو ته

دویم دا چه دا دَ سر ته کلام دے - تَوَدُّ په معنیٰ دَ تمنا کولو دے - او لَوْ هم دَ تمنا دَ پاره دے - بیتها کښ ضمیر دَ ها نفس ته راجع دے - او بینه ضمیر کښ دوه احتماله دی - اول دا چه دا راجع دے ما عملت من سوءٍ ته او هغه مبتداء ده - دویم دا چه دا یوم ته راجع دے او ما عملت من سوءٍ په مخکښې یا ند ے عطف دے نو ضمیر ته حاجت نه لری - اَمَدًا ، امام راغب وئیلی دی چه اَمَدْ او اَبَدْ یو بل ته په معنیٰ کښ نیزدے دی لیکن اَبد هغه مدت دَ زمانے دے چه دَ هغے دَ پاره حد مقرر نه دی - او امد داسے مدت دے چه دَ هغے دَ پاره حد مجهول وی - بَعِيدًا په معنیٰ دَ طویل دے یعنی اوږده موده -

وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ، اول تحذیر دَ عمل دَ کافرانو سره دَ موالات ته وو او دا تحذیر دَ عمل سوء ته دے - یا مخکښې تحذیر دَ عمل دَ موالات ته وو او دا دَ یوم دَ قیامت ته دے -

وَاللّٰهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ ، دَ العباد نه مراد ټول عباد دی - او رأفت دَ الله تعالٰی عام دے چه مؤمنانو لره دَ بد عملونو او دَ هغے دَ سزا نه بچ کوی او کافرانو لره په دُنیا کښ مهلت ورکوی دَ توبے کولو دَ پاره - یا العباد نه مراد خاص بندګان دی چه هغه مؤمنان دی او په هغوی باند ے رأفت دا دے چه په دُنیا کښ تحذیر او تخویف ورکوی دَ دے دَ پاره چه دَ ګناهونو نه بچ شی او په آخرت کښ دَ دوی په نیک

ذُنُوْبَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۱﴾

دَ ګناهونو ستاسو او الله تعالیٰ بخنه کوونکے رحم کوونکے دے۔

عمل پاتې دے ډیره یې اله ورکوي۔

۳۱: ربط له:- هرکله چه مخکښې دَ دُشمنانو دَ الله تعالیٰ سره دَ موالات نه تحذیر ذکر شو نو اوس ترغیب ذکر کوي موالات او محبت دَ الله تعالیٰ نه او دَ هغې ذریعه ذکر کوي۔ ۲ له مخکښې یې رؤف بالعباد ذکر کړو نو اوس دَ رآفت (او محبت) الهی دَ حصول دپاره ذریعه ذکر کوي۔ ۳ له مخکښې تردید وو په نصارا او دَ نجران پاتې دے نو هغوی اُوئیل چه مونږ کومه عقیده دَ عیسیٰ علیه السلام په باره کښې لرو نو دا محبت دَ الله تعالیٰ دے نو په دے آیت کښې دَ هغوی دَ دے قول تردید کوي۔

قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ، امام غزالی وئیلي دي چه حب عبارت دے دَ میلان دَ طبیعت نه یو داسې څیز ته چه لذت او خوند ورکوي نو دا میلان چه کله پوخ شي نو هغې ته عشق وئیلے شي نو حب په محسوساتو پورے خاص نه دے بلکه هغه معاني او صفات چه په عقل معلومیږي او دَ هغې په علم او ذکر سره دَ زړه میلان او لذت حاصلیږي نو هغې ته هم حب عام دے۔ نو دَ محبت حقیقي دَ بنده نه دَ الله تعالیٰ سره انکار نشي کیدے او تاویل ته حاجت نه راځي۔ او بعضے علماؤ وئیلي دي چه محبت دَ الله تعالیٰ سره کنایه ده دَ اراده دے کولو دَ بنده نه تخصیص دَ عبادت دَ الله تعالیٰ لره نو معنیٰ په حذف دَ مضاف سره ده یعنی طاعت دَ الله تعالیٰ یا ثواب دَ الله تعالیٰ۔ او ازهري وئیلي دي چه محبت دَ بنده دَ الله تعالیٰ سره او دَ رسول دَ هغه سره په معنیٰ دَ طاعت دَ هغوی سره دے۔ ابوحیان وئیلي دي چه محبت دَ بنده دَ الله تعالیٰ سره میلان دَ زړه دَ هغه دے هغه څیز ته چه هغه ته یې خوښ دے او امر یې ورته کړے دے او عمل په هغې کوي او بندګي خاص کوي هغه لره۔ حاصل دا دے چه محبت

دېښ ه دَ الله تعالیٰ سره مینه دَ زړه ده دَ الله تعالیٰ سره لیکن دامینه مستلزم ده طاعت لره لکه چه وراندې وئیلې دي۔

تَعْصِي الالٰه وَانت تُظْهِرُ حُبَّهُ هَذَا الْعَمْرِيْ فِي الْقِيَاسِ بَدِيْعُ
لَوْكَانَ حُبُّكَ صَادِقًا لَاَطَعْتَهُ اِنَّ المحب لِمَنْ يُحِبُّ مُطِيْعُ

ترجمه:- نافرماني دَ الله تعالیٰ کوې او خال داچه محبت ورسره ښکاره کوې۔ قسم دے چه داخو په عقل کښې ډیره لرے خبره ده که چرے ستا مینه رښتینې وے نو تا به دَ هغه اطاعت کولے۔ یقینًا مینه کؤونکے خو اطاعت کوي دَ هغه چا چه محبت ورسره کوي۔ فَاتَّبِعُوْنِيْ، هرکله چه طریقه دَ محبت دَ الله تعالیٰ او دَ هغه دَ رضا حاصلولو عبادت او طاعت کول دَ هغه دي۔ او طریقې دَ عبادت او دَ هغې احکام په عقل سره نه معلومیږي بغیر دَ اتباع دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نو دَ دے وجے نه محبت دَ الله تعالیٰ سره یې حصر کړو په اتباع دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم کښې او اتباع په عمل کښې په هغه پسے ورتلل دي نو رد دے په ډیرو ګمراه فرقو باندے چه هغوي بغیر دَ رسول دَ اتباع نه دَ الله تعالیٰ دَ محبت دعوے کوي۔ اوله فرقه مشرکین دي هغوي وائي چه مانعبدهم الا لیقربونا الی الله زلفی۔ یعنی شرك فی العبادت کوي او وائي چه دا معبودان زمونږ وسیلے دي الله تعالیٰ ته۔ نو رد دے په هغوي باندے چه وسیله شرعیه خو اتباع ده دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم۔ دویمه فرقه منکرین دَ حدیث دي هغوي وائي چه مونږ صرف په اطاعت دَ قرآن سره مکلف یو۔ حاصل دَ رد دا دے چه قرآن کریم اتباع دَ نبي صلی الله علیه وسلم شرط کړیده دَ حب الٰهي دَ پاره۔ او اتباع په اعمالو کښې وي او اعمال دَ احادیثو نه معلومیږي۔ دریمه فرقه دَ ګمراه صوفیاؤ او پیرانو ده هغوي وائي چه الله تعالیٰ ته رسیدل په شریعت سره نشي کیدے بلکه په طریقت سره کیږي حاصل دَ رد دا دے چه شریعت اتباع دَ نبي صلی الله علیه وسلم نه وئیلے شي بغیر دَ اتباع دَ هغه نه محبت الٰهي نه حاصلیږي

اونه طریقت ـ څلورمه فرقه دَ مبتدعینو پیرانو او ملایانو ده چه هغوی عبادات دَ بدعاتو په طریقې سره کوی لکه پیران دَ ذکر دپاره حلقات جوړوی او په ځان جذبې راولی او رقص وسرودونه کوی او وائی چه په دے طریقے سره تقرب الی الله حاصلیږی ـ او ناکاره ملایان په عباداتو کښ عملی بدعات کوی لکه قضاء عمری او حیله اسقاط او په لزوم سره په هیئت اجتماعی سره دُعا ګانے کول روستو دَ فرض ، سنتو او جنازو مونځونو نه او وائی چه دا ثواب دے او بده کارونه دی ـ او حال دا چه ذریعه دَ ثواب هغه عبادات دی چه په اتباع دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وی ـ

فائده :ـ دَ دے آیت په ذیل کښ مفسرینو دَ اتباع رسول (صلی الله علیه وسلم) په باره کښ ډیر ښه کلمات لیکلی دی ـ

۱ څوک چه دَ الله تعالیٰ دَ محبت دعوی کوی او بداخلاق کوی دَ سنت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نو دغه شخص سخت دروغژن دے او دَ الله تعالیٰ کتاب دَ هغه تکذیب کوی (مدارك ، کشاف) ـ

۲ ابن کثیر وئیلی دی چه دا آیت کریمه حاکم دے په هر هغه چا باندے چه دَ الله تعالیٰ دَ محبت دعوی کوی او نه وی روان په طریقه دَ محمد صلی الله علیه وسلم باندے نو دے دروغژن دے په دغه خپله دعوی کښ تر دے پورے چه اتباع اوکړی دَ شرع محمدی او دین نبوی (صلی الله علیه وسلم) په ټولو اقوالو او افعالو دَ هغه کښ ـ

۳ خطیب شربینی وئیلی دی چه هر کله تهٔ اووینے هغه څوک چه ذکر کوی محبت دَ الله تعالیٰ او لاس ټپ وهی او چغے وهی نو شک نیشته چه دا شخص نه پیژنی چه الله تعالیٰ څوک دے او نه پوهیږی چه محبت دَ الله تعالیٰ څه دے ـ

یُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ، دا تصریح ده چه په اتباع دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دوه فائدے

قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ

ته اوايه تابع كوے دَ الله تعالىٰ او دَ رسول نو كه چرے

تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۲﴾

تاسو مخ واړوئ نو يقيناً الله تعالىٰ مينه نه كوى دَ كافرانو سره۔

حاصليږى۔ اول محبت او مينه دَ الله تعالىٰ دويم مغفرت او بخنه دَ ګناهونو نه۔ يعنى چه محب شى سره دَ اتباع رسول نه نو محبوب دَ الله تعالىٰ اوګرځى او محبوبيت لويه مرتبه ده۔ او دا ته حبيب الله وئيلے شى۔ او محبت صفت دَ الله تعالىٰ حقيقتاً دے بغير دَ تشبيه وتمثيل او تحريف و تاويل نه۔ او ذنوب لفظ عام دے ټولو ګناهونو ته که لوے وى او که واړه وى۔ نو دَ اتباع رسول (صلى الله عليه وسلم) په بعضے اقسامو سره لوے ګناهونه معاف كيږى او په بعضے سره واړه ګناهونه معاف كيږى۔

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ، دا علت او تاكيد دے دَ مخكښ جملو دَ پاره په طريقه دَ لف نشر غير مرتب سره۔ يعنى دَ غفوريت دَ صفت په وجے سره ګناهونه معاف كوى او دَ رحيميت په وجے سره محبت كوى۔

۳۲:۔ مفسرينو ليكلى دى چه دا جواب دے دَ سوال دَ منافقانو۔ دوى وئيل چه دا نبى زمونږ نه غواړى چه دَ عيسىٰ عليه السلام پشان ئے معبود اوګڼړو۔ حاصل جواب دا دے چه اطاعت دَ دهٔ فرض دے په ضمن دَ اطاعت دَ الله تعالىٰ كښ۔ او فرض دے په حيثيت دَ رسالت دَ دهٔ سره نه په حيثيت دَ الوهيت سره۔

سوال :۔ په اتباع كښ صرف دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم ذكر اوكړے شو او په اطاعت كښ الله تعالىٰ او رسول دواړه ذكر وو؟

جواب :۔ اتباع په عمل كښ اقتداء كول دى او عملى

إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ آدَمَ وَنُوحًا

یقیناً الله تعالیٰ غوره کړے دے آدم علیه السلام او نوح علیه السلام

وَآلَ إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ

او اولاد دَ ابراهیم علیه السلام او اولاد دَ عمران علیه السلام

عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿۳۳﴾

ټولو خلقو باندے۔

اقتداء دَ الله تعالیٰ نشي کیدے هغه په رسول پورے خاص ده او اطاعت اکثر په قول کښې وي او قول دَ الله تعالیٰ قرآن کریم دے۔ او قول دَ رسول دَ هغه احادیث دي۔ او دا دواړه ذکر دي په سورة طٰهٰ ۳۰ کښې۔

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ، تَوَلَّوْا فعل ماضي ده یا فعل مضارع ده په حذف دَ تا سره۔ او دَ تولی نه مراد اعراض دے دَ اتباع او اطاعت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه بالکلیه او دا حقیقي کفر دے۔ فَإِنَّ اللَّهَ کښې دَ فَإِنَّه په ځائے او الکافرین کښې دَ ضمیر دَ هم په ځائے باندے ذکر کړیدی دَ ډیر تاکید دَ پاره۔ او که تولی او اعراض په فرعي احکامو کښې وي بغیر دَ انکار نه نو دا حقیقي کفر نه دے نو دلته په لفظ دَ کافرین کښې اشاره ده ردته په نصاراؤ دَ نجران باندے ځکه چه هغوی کافر دو۔

۳۳: ربط : هر کله چه مخکښې آیاتونو کښې رد وؤ په نصاراؤ باندے چه دعوی دَ محبت الٰهیه ئے کوله بغیر دَ اتباع رسول نه او هغه باطل ده نو اوس رد کوی دَ هغوی په عقیده باندے تفصیلاً عقیده ئے دا ده چه عیسیٰ الله دے او ابن الله دے۔ او تفصیل دَ رد دا دے چه عیسیٰ علیه السلام دَ اولاد دَ بشر نه دے چه دَ آدم علیه السلام نه شروع شویدی او دغه وخت تر

آل عمران پورے رسیدلی دی او مور دَ دۀ دَ عمران نه پیدا وه او عیسٰی دَ خپلے مور (مریم علیها السلام) نه پیدا وۀ او دا ټول عاجز او محتاج بندګان وو نو عیسٰی علیه السلام څرنګ اله یا ابن الله کیدیشی ۔

ربط ۲ :- هر کله چه مخکښ فرضیت دَ اتباع او اطاعت رسول ذکر شو نو اوس دَ هغه نه وړاندے مصطفین ذکر کوی چه دَ هغوی اتباع او اطاعت دَ هغوی په زمانه کښ فرض وۀ نو اتباع دَ دے رسول فرض کیدل څه نوے مسئله نه ده ۔

تفسیر :- إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ ، دا دَ صَفْوَ نه اخستلے شویدے دَ خیری نه خالی کولو ته وئیلی شی - دَ اصطفاء معنٰی صفا کول دَ خیر دی او دَ اختیار معنٰی غوره کول او دَ اجتباء معنٰی منتخب کول دی - او اصطفاء دَ الله تعالٰی بندګانو لره یا په ایجاد دَ الله تعالٰی سره دا سے شخص لره وی چه صفا وی دَ هغه خیرو نه چه په نورو کښ وی او کله په حکم دَ الله تعالٰی سره وی اګرچه دَ ابتداء نه نه وی - او اصطفاء په قرآن کښ په اوو طریقو سره دیارلس کرته ذکر ده ۔

اوله طریقه اصطفاء دَ دین اسلام بقره ۱۳۲ دویمه طریقه اصطفاء دَ انبیاء علیهم السلام په دے آیت کښ او سورة نمل ۵۹ اعراف ۱۴۴ بقره ۱۳۰ ص ۴۷ دریمه طریقه اصطفاء دَ مریم علیها السلام سورة آل عمران ۴۲ ۔

څلورمه طریقه اصطفاء دَ طالوت بقره ۲۴۷ پنځمه طریقه اصطفاء دَ قرآن والو فاطر ۳۲ شپږمه طریقه اصطفاء دَ ملائکو حج ۷۵ اوومه طریقه په طریقه دَ زجر سره اصطفاء دَ بناتو صافات ۱۵۳ هر ځائے کښ اصطفاء دَ هغه ځائے مناسب مراد ده دلته اصطفاء دَ نبوت او دَ هر نبی یو جدا جدا خصوصیات مراد دی (ادَمَ وَ نُوحًا وَّ آلَ إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعَالَمِينَ) دا څلور واړه

په اصطفاء دَ نبوت کښ شریک دی او قرطبی لیکلی دی
چه اصطفاء دَ هر یو دَ دوی نه په پنځه پنځه طریقو
سره ده دَ آدم علیه السلام اصطفاء په پنځه طریقو سره
داسے ده اول دا چه الله تعالیٰ دهٔ لره په خپل لاس سره
جوړ کړیدے دویم دهٔ ته تعلیم دَ اسماؤ ورکړیدے
دریم ملائکو دهٔ ته سجده کړیده څلورم په جنت کښ
ئے اوسولے دے۔ پنځم دا چه دَ انسانانو پلار ئے ګرځولے
دے۔ او دَ نوح علیه السلام پنځه طریقے دَ اصطفاء دا
دی چه اول بشر دویم پلار ګرځولے شویدے ځکه چه
روستو دَ غرق دَ قوم دَ دهٔ نه صرف دَ دهٔ دَ ځامنو اولاد
ئے باقی ګرځولی دی دویم عمرئے اوږد ورکړیدے
دریم دَ هغه دعاء شرئے په کافرانو باندے او دُعاءخیر
دَ مؤمنانو دَ پاره قبول کړیده۔ څلورم دے ئے په کشتۍ
کښ سره دَ اهل نه بچ کړیدے۔ پنځم دهٔ اول نسخ
دَ بعضے شرائعو کړیده لکه نکاح کول دَ خویندو او ترورو
او ماسیګانو سره دَ دهٔ په شریعت کښ حرام کړے شو۔
او دَ ابراهیم علیه السلام پنځه طریقے دَ اصطفاء دا دی
اول دا چه دے ئے پلار دَ انبیاء علیهم السلام ګرځولے
دے ځکه دَ دهٔ نه روستو انبیاء علیهم السلام ټول دَ دهٔ
په اولاد کښ راغلی دی۔ دویم دے ئے خلیل جوړ کړے
دے۔ دریم دَ اور دَ دُشمنانو نه ئے بچ ساتلے دے۔
څلورم امام دَ خلقو ئے جوړ کړیدے۔ پنځم دَ کلماتو
په امتحان کښ کامیاب شویدے۔ او دَ آل عمران اصطفاء
دا ده چه دَ دهٔ ښځے نذر دَ یحیٰ کړے وو دَ پاره دَ خدمت
دَ دین۔ دویم مریم علیها السلام لور ئے هغه ته ورکړله
چه دَ نارینه نه ئے غوره کړے وه۔ دریم عیسیٰ علیه
السلام ئے مریم علیها السلام ته ورکړو بغیر دَ مسح کولو
دَ نارینه نه۔ څلورم عیسیٰ علیه السلام له ئے لوے معجزات

ذُرِّيَّةً بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ ط

نسل دے بعض د هغوی پیدا شوے دی د بعضو نه

وَاللّٰهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (۳۴)

او الله تعالیٰ هر څه آوری او په هر څه پوهه دے۔

ورکړی وو۔ بنځم هغه ځی تر اوسه پورے په آسمان کښې ژوندی دے ساتلے دے۔ آلَ اِبْرٰهِيْمَ، مراد ددینه ددهٔ اولاد اسماعیل او اسحاق او یعقوب علیهم السلام او اسباط د هغوی او آخری نبی صلی الله علیه وسلم دے۔ وَآلَ عِمْرَانَ مراد ددینه مریم او عیسیٰ علیه السلام دی او د عمران په نوم دوه اشخاص دی یو پلار د موسیٰ او هارون علیهما السلام او دویم عمران پلار د مریم علیهما السلام او نیکه د عیسیٰ علیه السلام دے دلته دا روستنے مراد دے او بعضو مفسرینو وئیلی دی چه د دوی په مینځ کښې اتلس سوه کاله فاصله وه۔ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ، مراد ددینه ټول جن او انس دی سره د نور مخلوق نه۔ او د ملائیکو نه د فضیلت په باره کښې اختلاف دے۔

۳۴ په ذُرِّيَّةً، کښې دوه احتمالونه دی۔ اول دا بدل دے د آدم او د هغې د معطوفاتو نه او د ذُرِّيَّةً اطلاق په آباؤ باندے هم کیدے شی۔ دا قول د یو جماعت د مفسرینو دے۔ یا بدل دے د نوح او روستو معطوفاتو نه دا قول د ابوالبقاء دے۔ یا بدل دے د آل نه او دا قول د زمخشری دے۔ دویم احتمال دا دے چه دا حال دے د آدم نه۔ او امام راغب وئیلی دی چه د ذریة اطلاق په واحد او جمع او اصل او نسل ټولو باندے کیدے شی او زیاته نه دراړی وئیلے شی۔ او جرجانی وئیلی دی چه دا د ذرءَ نه اخستلے شوے دے نو پلار ته ذرءَ وئیلے شی ځکه چه اولاد خور شوی دی د هغه نه۔ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ، په دیکښې مِنْ د پاره د اتصال دے یعنی بعض پیوست دی په بعضو پورے په قرابت کښې او په نبوت او توحید او اخلاص کښې نو معلومه شوه چه عیسیٰ علیه السلام

إِذْ قَالَتِ امْرَأَتُ عِمْرَانَ رَبِّ

هرکله چه اُوئيل ښځې دَ عمران علیه السلام اے ربه زما

إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي بَطْنِي

يقيناً ما منخته کړے ده خاص تاله دَ هغه ولن چه زما په خيټه کښ دے

مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّي ۚ إِنَّكَ

آزاد کړے شوے (دَدين دَپاره) نو قبول کړے زما نه يقيناً ته

أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٣٥﴾

خاص ته هر څه آورے او په هر څه پاندے عالم يې۔

هم ذريت دے او قرابت لري دَ انسا نا تو ر انبياؤ سره نو هغه هم انسان دے اله او ابن دَ الله تعالىٰ نه دے۔ وَاللهُ سَمِيعٌ، آوريدونکے دے اقوالو دَ بندګا نو لره خصوصًا متضا د اقوال دَ يهودا و نصاراؤ په باره دَ عيسىٰ علیه السلام کښ۔ عَلِيمٌ، عالم دے په نيتونو دَ خلقو خصوصًا په مختلف عقيدے دَ يهودو او نصاراؤ په باره دَ عيسىٰ علیه السلام کښ۔

ف۳۵ هرکله چه مخکښ اصطفاء دَ آل عمران اجمالي ذکر شويده او نصارىٰ دَ آل عمران (مريم او عيسىٰ عليهما السلام) عبادت کوو نو اوس دَ آل عمران عينيت ذکر کوي اول حالات دَ مريم عليها السلام تفصيلاً بيا حالات دَ عيسىٰ علیه السلام تفصيلاً ذکر کوي چه هغه دلالت کوي چه دوي اِلٰهَ نشي کيدے۔

إِذْ قَالَتِ امْرَأَتُ عِمْرَانَ، اخفش او مبرد وئيلي دي چه دَ اِذْ نه مخکښ لفظ دَ اُذْکُرْ تقريبًا دے او هغه عامل دے په اِذْ کښ۔ مراد دَ عمران نه عمران بن ماثان دے چه پلار دَ مريم عليها السلام دے او ښځه دَ هغه مشهوره وه په حنه سره حنه لور دَ فاقوذا وه او زکريا علیه السلام دَ هغې خور سره نکاح کړے وه چه نوم يې ايشاع لور دَ فاقوذا وه۔ نو يحيىٰ او مريم عليهما السلام دَ ماسي اولاد شول او دا روايت دَ حاکم دے دَ ابو هريره نه۔

سوال :۔ په حدیث صحیح دَ معراج کښې راغلی دی چه په دویم آسمان کښې عیسیٰ او یحییٰ علیهما السلام او لیدلے شول او دوی دواړه دَ ماسی اولاد دوُ نو مخکښې تاریخ خو دَ دے حدیث نه خلاف دے ؟

جواب ۱ :۔ اعتبار حدیث ته دے تاریخ دَ حدیث په مقابله کښې قبول نه وی۔

جواب ۲ :۔ حدیث په مجاز باندے حمل دے یعنی مریم علیها السلام لور دَ ترور (خاله) دَ یحییٰ علیه السلام ده او عیسیٰ علیه السلام ځوئے دَ لور دَ ترور دَ هغه وو لیکن ځوئے دَ لور دَ ترور ته هم ځوئے دَ ترور مجازًا ویلے شی۔

جواب ۳ :۔ آلوسی وئیلی دی چه ایشاع دَ حنه اخیا فی خور وه یعنی صرف په مور کښې ئے شریکه وه او دَ مریم علیها السلام علاتی خور وه یعنی صرف دَ پلار نه یعنی عمران اول نکاح اوکړو دَ مور دَ حنه سره نو ایشاع تری نه پیدا شوه بیا ئے نکاح دَ حنه سره اوکړو او په هغه زمانه کښې دَ پرکتئ سره نکاح کول جائز ووُ او دَ هغې نه مریم علیها السلام پیدا شوه په دے طریقے سره دَ دواړه روایاتو تطبیق کیدے شی۔

رَبِّ اِنِّيْ نَذَرْتُ لَكَ مَا فِيْ بَطْنِيْ مُحَرَّرًا ، دا واقعه دلیل دے په عبدیت دَ آل عمران باندے دَ پاره دَ الله تعالیٰ دَ دے وجے نه لفظ رب ئے ذکر کړو او تلفظ په نذر سره دَ الله تعالیٰ دَ پاره دا دلیل دے چه نذر دَ غیر الله دَ پاره دَ هغوی په دین کښې هم ناجائز وو۔ دا هم رد دے په نصاراؤ باندے چه نذرونه په نوم دَ عیسیٰ علیه السلام باندے کوی۔ معنیٰ دَ نذر دا ده چه لازم اوګرځوی انسان په ځان باندے هغه عمل چه په ده باندے شرعًا لازم نه وی لیکن دَ قبیلے دَ اعمال صالحه نه وی که په شرط سره وی او که بغیر دَ شرط نه

وی۔ مَا فِیْ بَطْنِیْ، دلیل دے چه دا په دغه وخت کښ حامله شوے وه دَ عمران نه او عمران وفات شوے وؤ۔
مُحَرَّرًا، دا مذکر لفظ په اعتبار دَ ارادے دَ هغے سره دے یعنی هغے طلب دَ هلک کوؤ ځکه چه هغه وخت کښ دَ خدمت دَ بیت المقدس دَ پاره نارینه اولاد نذر کیدل او زنانه دَ مسجد دَ خدمت دَ پاره مناسب نه وے۔
او دا لفظ دلیل دے چه دغه ځوئے ئے دَ خپل سکون قلب او اطمینانِ انسانی دَپاره نه طلب کوؤ بلکه دَ دین دَ خدمت دَ پاره ځکه چه دَ عمران دَ وفات نه روستو دَ دین دَ خدمت دَ پاره دَ دوی په کورنئ کښ هیڅوک نه وؤ نو دے نارینه اولاد دَ دین دَ خدمت دَ پاره طلب کوؤ۔
سوال:۔ دَ دے اولاد خو دَ دے ملکیت نه دے په ملکیت رقبی سره او نذر خو په غیر مملوک کښ صحیح نه وی لکه چه په حدیث کښ وارد دی لَا نَذْرَ فِیْمَا لَا یَمْلِكُ ابْنَ آدَمَ؟
جواب ۱:۔ دا سے نذر په شریعت دَ هغوی کښ جائز وؤ چه نارینه اولاد په ئے دَ دین او بیت المقدس دَ خدمت دَ پاره نذر کول په هغے کښ ملکیت رقبی شرط نه وؤ۔
جواب ۲:۔ یا دا نذر حکمًا دے لکه چه په دے زمانه کښ یو مسلمان لازم اوګنړی چه ځه به خپل اولاد دَ دین دَ علم دَ پاره وقف کوم دَ دُنیا هیڅ کاروبار تربیته نه اخلم او هغه اولاد چه بالغ شی نو هم دَ پلار په دغه اراده پاتے روان وی۔
مُحَرَّرًا، مراد دَ دینه آزاد دَ مشاغلو دَ دُنیا نه۔ یا خالص دَ خدمت دَ بیت المقدس دَ پاره۔ یعنی علم دَ دین به ایزده کړی او دَ مدرسینو دَ بیت المقدس خدمت به کوی ځکه چه بیت المقدس درسګاه دَ دین وؤ۔ فَتَقَبَّلْ مِنِّیْ، تقبل اخستل دَ یو څیز دی په

فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّيْ

نو هر کله چه هغې او زېږوله هغه اُويل ئې يا ربه يقيناً ما

وَضَعْتُهَا أُنْثَىٰ ؕ وَاللَّهُ أَعْلَمُ

او زېږوله هغه جينۍ او الله تعالىٰ ښه پوهه دے

بِمَا وَضَعَتْ ؕ وَلَيْسَ الذَّكَرُ

په هغه چه هغې زېږولے ده او نه دے هغه نارينه (چه دُ طلب کړے وُ)

كَالْأُنْثَىٰ ۚ وَإِنِّيْ سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ

پشان دَ هغه زنانه (چه ورکړے شوه) او يقيناً ما نوم ايخودلے دَ هغې مريم

وَإِنِّيْ أُعِيْذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا

او يقيناً زه پناه غواړم هغې لره په تا سره او اولاد دَ هغې لره

مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ﴿۳۶﴾

دَ شيطان رټلي شوي نه۔

طريقے دَ رضا سره اشاره ده چه بندګان سره دَ نيک عمل کولو نه دُعا دَ قبوليت نه هم محتاج دى۔
إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ، آوريدونکے دے تضرع ځما او دُعا او آواز ځما لره او عليم دے په زړه او په نيت ځما او دا صفات په آخر کښې ذکر کول وسيله شرعيه ده دَ پاره دَ دُعا۔
۳۶ :۔ فَلَمَّا وَضَعَتْهَا، ضمير دَ ها راجع دے لفظ دَ ما ته په اعتبار دَ معنىٰ سره يا په اعتبار دَ نسمت يا نفس سره يا په اعتبار دَ مولوديت سره دا دَ مفسرينو اقوال دى۔
قَالَتْ رَبِّ إِنِّيْ وَضَعْتُهَا أُنْثَىٰ، دا جمله خبريه دَ پاره دَ اخبار نه ده بلکه دَ پاره دَ اظهار دَ حسرت او افسوس ده دَ مقصد په نه حاصليدلو باندے يا په طور دَ عذر

کولو دَ ولادت دَ دا سے ولں چہ دَ خدمت دَ بیت المقدس دَ پارہ صلاحیت نہ لری۔

وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ، پہ دے قراءت کښں دا صیغہ دَمؤنث غائب دہ نو دا جملہ معترضہ دہ دَ طرف دَ اللہ تعالیٰ نہ او پہ دیکښں تنبیہ دہ پہ لوئے والی دَ قدر دَ دے بچی باندے او اشارہ دہ چہ دَ دے شان پہ تیز دَ اللہ تعالیٰ ډیر اوچت دے چہ دا او دَ دے ولد (عیسیٰ) بہ آیۃ (نخہ) گرځی دَ پارہ دَ عالمیتو لیکن دَ هغے مور تہ دا حال معلوم نہ وؤ۔ نو پہ دے کښں دَ هغے تسلی وہ۔

وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنْثَىٰ، دا هم دَ مخکښں جملے پشان جملہ معترضہ دہ او دلیل دے دَ پارہ دَ هغے دَ لوئے والی دَ قدر چہ پہ مخکښں جملہ کښں معلوم شو او الف لام پہ الذکر او پہ کالانثیٰ کښں دَ پارہ دَ عہد دی یعنی هغہ ناریتہ اولاد چہ دغہ ښځے طلب کوؤ نہ وؤ پہ شان دَ هغہ جینۍ چہ هغے تہ ورکړے شوہ بلکہ دغہ جینۍ دَ هغہ نہ پہ لوئے والی دَ شان کښں زیاتہ وہ۔ او بعض مفسرینو وئیلی دی چہ دا کلام دَ هغہ ښځے دے او مراد دَ دیتہ تحسر او افسوس کول دی پہ ولادت دَ جینۍ باندے یعنی جینۍ څو دَ هلك پشان نشی کیدے ځکہ چہ هلك خدمت دَ مسجد پہ کمال سرہ کولے شی او جینۍ ئے پہ کمال طریقے سرہ نشی کولے لیکن پہ دے توجیہ باندے پہ دے جملے کښں قلب لازمیږی یعنی لَيْسَتِ الْأُنْثَىٰ كَالذَّكَرِ، نو دا قول ضعیف دے۔

وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ، دا عطف دے پہ إِنِّي وَضَعْتُهَا باندے او پہ مینځ کښں دوہ جملے معترضے دی۔ صاحب اللباب وئیلی دی چہ دا دلیل دے چہ عمران پہ دغہ وخت کښں وفات شوے وؤ ځکہ چہ عادتاً اختیار دَ نوم کیښودلو دَ پلار دَ پارہ وی۔ قرطبی او نورو مفسرینو وئیلی دی چہ مریم پہ لغت دَ دوی کښں عابدہ تہ وئیلے شی۔ ابن کثیر وئیلی دی چہ دا دلیل دے چہ نوم کیښودل پہ ورځ دَ ولادت دَ بچی کښں پکار دی او دَ اووے ورځ نہ خو روستو کول پکار نہ دی۔

وَاِنِّىٓ اُعِيْذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ، دا جمله شكاره دليل دے چه آلعمران په تعوذ كښ الله تعالىٰ ته محتاج دى خصوصًا اولاد دَ هغے چه عيسىٰ عليه السلام دے هم په تعوذ كښ الله تعالىٰ ته محتاج دے او دا ټول رد دے په نصاراؤ بانډے او په دے دُعا كښ ضِمنًا طلب دے دَ اوږد والى دَ عمر دَ مريم عليها السلام او دَ پيدائش دَ اولاد دَ هغے - الرَّجِيْمِ، رجم په كاڼړو سره ويشتل دى او شامل دے په سب ويشتم او په لعنت كولو سره او دا روستو معنىٰ مراد ده په باره دَ شيطان كښ او مراد دَ ديته ابليس او دَ هغه ټول سركشان اولاد دى - او په حديث دَ صحيحين كښ په روايت دَ ابوهريره رضى الله عنه سره ثابت ده چه هر بچے چه پيدا كيږى نو شيطان دَ هغه نخس او طعن اوكړى نو هغه آواز اوچت كړى په چغه وهلو سره ما سيوا دَ مريم عليها السلام او دَ ځوئے دَ هغے نه بيا ابوهريره رضى الله عنه دا آيت اولوستلو -

سوال :- دا دلالت كوى په افضليت دَ عيسىٰ او مريم عليهما السلام په نبى صلى الله عليه وسلم بانډے ؟

جواب ۱ :- دے ته فضيلت جزئيه وئيلى شى او فضيلت كلى خو زمونږ دَ نبى صلى الله عليه وسلم دَ ټولو پيغمبرانو نه زيات دے -

جواب ۲ :- عام نصوص دَ فضيلت دَ نبى صلى الله عليه وسلم متضمن دى دے فضيلت لره هم -

سوال :- معتزله وائى چه دا په مجاز بانډے حمل دے مراد دَمَسِّ الشَّيْطٰنِ نه قدرت دے په اغواء دَ هغه بانډے ؟

جواب :- هر كله چه حقيقت ممكن وى نو مجاز ته تلل جائز نه دى دلته حقيقت ممكن دے او قرطبى وئيلى دى چه نخس او طعن نه اضلال او اغواء دَ مسه كړے شوى نه لازميږى -

فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ

نو قبوله هغه رب د هغې په قبولو ښائسته سره

وَّ اَنْۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا ۙ وَّ كَفَّلَهَا

او زرغون یې کړه هغه په زرغونولو ښائسته سره او اوسپارله هغه

زَكَرِيَّا ۖ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا

زکریا علیه السلام هر وخت چه داخل به شو په هغې باندې

زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ ۙ وَجَدَ عِنْدَهَا

زکریا علیه السلام عبادت خانې ته او موندلو د هغې په خوا کښې

رِزْقًا ۚ قَالَ يٰمَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ

روزي اُویل هغه اے مریم د کوم ځائے نه تا لره

هٰذَا ۖ قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۖ

دا دے هغې اُویل دا د نیز د الله تعالیٰ نه دے

سوال :- دغه د حدیث نه معلومه شوه چه نخس او طعن د شیطان متصل د ولادت سره وی لیکن مریم او عیسیٰ علیهما السلام بچ شوی دی د دے دُعا د وجے نه او د آیت نه معلومیږی چه مریم علیها السلام پیدا شوه او نوم ئې ورله کیخودلو نو روستو دا دُعا اوشوه نو بچ کیدل د مریم علیها السلام د مَس د شیطان نه په سبب د دے دُعا سره نشي کیدلے ځکه چه مسبب روستو وی د سبب نه ؟ .

جواب له :- آلوسی وائی چه اعیذ د پاره د استقبال نه دے بلکه د استمرار د پاره دے زمان ماضی نه هم شامل دے -

جواب ٢ :- مسببات شرعیۀ کښې جائز ده چه د اسباب شرعیه نه مخکښې موجود شی - نور جوابونه هم محدثینو کړی دی -

إِنَّ اللّٰهَ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَاءُ

يقيناً الله تعالٰى روزي وركوي چا لره چه اوغواړي

بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۷﴾

په غير د حساب نه -

۳۷ :- دا تفريع ده په مخكښ دعا بان ے اشاره ده چه هغه دعا زر قبوله شوه او دا كرامت دے -
فَتَقَبَّلَهَا ، تقبل په معنىٰ د مجرد (قَبِلَ) سره دے ليكن صيغه د تفعل دلالت كوي چه فاعل ډير اهتمام كوي په اظهار د دغه فعل بان ے نو اشاره ده اظهار د دے قبوليت ته په نيز د نورو خلقو او معنىٰ د قبوليت رضا كيدل د الله تعالىٰ دي په قبوليت د هغه مؤنث سره په ځائے د مذكر بان ے (صاحب اللباب)-
په لار د نيك بختانو ئے روانه كړه (قرطبي)- او حسن بصري وئيلي دي چه هغے له ئے په هيڅ ساعت د شپے او ورځے كښ عذاب نه دے وركړے -
سوال :- د قبول حسن په ځائے بان ے بتقبل حسن ولے او نه وئيلو
جواب :- هر كله چه تقبل كښ يو معنىٰ د مبالغے ده او بله معنىٰ د تكلف ده نو قبول حسن ئے ذكر د دے د پاره ذكر كړو چه په دي كښ معنىٰ د تكلف نيشته ځكه الله تعالىٰ بان ے هيڅ كار گران نه دي -
بِقَبُولٍ حَسَنٍ ، باء زياتي ده يعني قبولاً يا باء په خپل ځائے اصلي ده او قبول اسم دے د پاره د هغه څيز چه قبلولے شي په هغے سره يو څيز -

وَأَنْبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا ، او په دي كښ ډير اقوال دي اول دا چه په يو ورځ كښ به داسے لوئيدله لكه نور بچي چه په كال كښ لوئيږي دويم قول دا چه د هغے بدن ئے برابر كړو بغير د زيادت او نقصان نه - دريم قول دا چه په خلق او په خُلُق (خوئي) كښ ښه لويه كړه يعني په صلاح او عفت او طاعت كښ لويه كړه- او دا قبوليت او انبات په تا اشنا طريقے سره اشاره ده چه د دے راتلونكي

احوال به هم د عادت نه په خلاف سره وی لکه پیدائیدل د عیسیٰ علیه السلام۔

وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا، كفالہ په اصل کښ ضامن کیدلو ته وئیلے شی او استعمالیږی په معنیٰ د پیوست کولو او اخستلو او په دے کفالت کښ هم اشاره ده فضیلت د مریم علیها السلام ته ځکه چه د نبی په کفالت کښ دینی ترقی ده او طریقه د کفالت د هغه په آیت ۴۴ کښ ذکر کیږی۔ او واو د پاره د ترتیب نه دے ځکه چه اثبات د کفالت په یو وخت کښ وؤ۔ او زکریا علیه السلام په هغه وخت کښ نبی وو او د هغه ښځه د مریم علیها السلام تروړ وه یا خور د هغے وه۔ لکه چه مخکښ ذکر شویدی لیکن اول قول غوره دے۔

كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ، المحراب، مفعول فیه دے یا مفعول به دے۔ په محراب کښ مختلف اقوال دی۔ ابوعبیده وئیلی دی چه اشرف د مجالسو ته وئیلے شی او ابن العلاء وئیلی دی چه قصر (ماڼۍ) ته وئیلے شی او اصمعی وئیلی دی چه بالاخانے ته وئیلی شی مبرد وئیلی دی چه محراب ته وی مگر هغه ځائے چه په پاؤنړه وړته ختل کیږی۔ ابن عاشور وئیلی دی چه هغه آبادی چه جوړه شی د پاره د خلوت د عبادت او اکثر دا په اوچت ځائے باندے وی او غیر وی د مسجد نه۔ دا سے په سورة سبا کښ دی۔ بعضو وئیلی دی چه دا مشتق دے د حرب نه گویا که دغه عبادت خانه الله د جنگ کولو ده د شیطان سره۔ او مراد په دے سره دغه محراب نه دے کوم چه مشهور دے په نن زمانه کښ۔ ځکه دا خو په مسجد نبوی کښ په خلافت د ولید بن عبدالملک او په وخت د امارت د عمر بن عبدالعزیز کښ په مدینه منوره کښ اول ځل جوړ شویدے۔ مفسر آلوسی لیکلی دی چه موږ کول په هغه محرابونو کښ چه زموږ په زمانه کښ په مساجدو کښ جوړیږی یو جماعت د ائمه کرامو دا مکروهه

کنړلی دی او دا قول دَعلی رضی الله عنه او ابراهیم نخعی دَ
مصنف ابن ابی شیبه کښ دَ دوی نه روایت دے - او دا
دَ هغه بدعاتو نه دی چه په اوله زمانه (زمانه دَ صحابه
کرامو) کښ نه وُو - او دَ ابو موسی جهنی نه مرفوع روایت
دے چه همیشه به ځما امت په خیر سره وی ترڅو پورے
چه خپلو مساجدو کښ مذابح جوړ نه کړی پشان دَ مذابحو
دَ نصارای - او دَ ابن ابی الجعد نه روایت دے هغه وئیلی
دی چه اصحابو دَ نبی صلی الله علیه وسلم به وئیل چه دَ
قیامت دَ بعضے علاماتو نه دا ده چه په مساجدو کښ به
مذابح جوړ شی - او دَ ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت
دے چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ځان اوساتئ
دَ دے مذابحو نه (او مراد دَ مذابحو نه په دے روایاتو
کښ محاریب دی) او روایات په دے باب کښ ډیر دی
امام سیوطی په دے مسئله کښ مستقله رساله لیکلے ده
(انتهی) - دَ دے روایاتو اسانید او دَ هغے حالت ماته
معلوم نه دے لیکن ځما په تیز غوره خبره دا ده چه دا
محاریب جوړول بدعت للدین (بدعت فی الوسائل)
دے او حرام په نصوصو سره بدعت فی الدین کے للدین
نه دے - دَ هغے دواړو فرق په خپل ځائے کښ پیژندلے
کیږی یعنی محراب په دین کښ داخل عمل نه دے لیکن
دَ دے په وسیلے سره دَ مسجد قبله او دَ صف وسط
معلومیږی او علم دَ قبلے او دَ وسط دَ صف دین دے نو
په مسجد کښ محراب جوړول بدعت للدین شو
هاں چه څوک محراب جوړول دین ګنړی او دَ هغے په
جوړولو باندے خرچه په طریقه دَ اسراف سره کوی
لکه په دے زمانه کښ په اکثر مساجدو کښ داسے کړے
شوی دی نو دا ګناه دے - دا رنګ التزام په مونځ کولو
دَ امام په محراب کښ بدعت سیئه دے - او دَ دے آیت

نه استدلال کول په جوړولو دَ معروف محراب باندے جهل دے
وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا ، رزق نکره ده او دَ تنکیر دوه وجے دی
اوله وجه دا چه رزق دَ اوړی په ورسره ووُ په وخت دَ
ژمی کښ او رزق دَ ژمی په ورسره ووُ په وخت دَ اوړی
کښ - دویمه وجه دا ده چه دَ هغے کمرے ته دروازے
بندے وے یل چا ته دَ دننه تللو اجازت نه ووُ نو دَ زکریا
علیه السلام دَ ذریعے نه علاوه رزق (که هر قسم وی)
راتلل نا اشنا کار ووُ ځکه چه یل سبب معلوم نه ووُ دا
قول ابوحیان ذکر کړیدے -
قَالَ يٰمَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا ، اَنّٰى یعنی دَ کوم ځائے نه یا
په کوم کیفیت سره تاله دا رزق راغلے دے او دا دلیل
دے چه انبیاء علیهم السلام علم دَ غیب نه لري ځکه دلته
زکریا علیه السلام په ظاهری سبب دَ رزق باندے علم
نه لرلو -
قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ، یعنی هغے اُوئیل چه ما ته دَ دے
سبب معلوم نه دے او دَ کوم څیز سبب ظاهری چه معلوم
نه وی نو نیکان خلق دَ هغے نسبت الله تعالیٰ ته کوی او دا
غوره قول دے -
سوال :- زکریا علیه السلام خو په هر صورت دَ مریم
علیها السلام نه په مرتبه او علم کښ لوئے دے :- ولے
هغه ته دا جواب معلوم نه ووُ ؟
جواب :- تعجب دَ زکریا علیه السلام او تپوس دَ هغه
په اعتبار دَ عدم دَ سبب ظاهری وو او جواب دَ مریم
علیها السلام په عدم علم دَ هغے دے په سبب ظاهری
باندے او چا ته چه سبب ظاهری معلوم نه وی نو هغه
حواله په الله تعالیٰ باندے ورکوی دا دلیل دَ دے نه
دے چه دَ هغے علم زیات وو دَ زکریا علیه السلام
اِنَّ اللّٰهَ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ، په دیکښ دوه

احتمالونه دی اول احتمال داچه دا قول دَ مریم علیها السلام دے او دا تاکید دے دَ مِنْ عِنْدِ اللّٰه دَ پاره۔ دویم احتمال داچه دا قول دَ الله تعالیٰ دے په عموم سره او دلته بِغَيْرِ حِسَابٍ نه مراد يَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ دے یعنی چاله په داسے طریقه رزق ورکوی چه دَ هغه گمان کښ نه وی او سبب ورته معلوم نه وی۔
فائده له:۔ دَ دے آیت په ذیل کښ ابوحیان او آلوسی او صاحب اللباب او ابن کثیر او خطیب شربینی او نورو مفسرینو لیکلی دی چه په دیکښ دلیل دے په ثبوت دَ کرامات الاولیاء باندے چه حصول دَ رزق په طریقه دَ خرق عادت سره کړیده او وجود دَ میوځیز په خلاف عادت طریقے سره دَ اولیاؤ کرامو دَپاره په اصطلاح دَشریعت کښ کرامت دے۔ او صاحب اللباب په طریقه دَ استدلال سره پنځه طریقے لیکلی دی مشهوره طریقه دا ده چه هرکله داخرق عادت کار روؤ نو یا به معجزه دَ زکریا علیه السلام وی یا به کرامت دَ مریم علیها السلام وی لیکن معجزه دَ هغه خو نشی کیدے ځکه چه هغه په دے علم نه لرلو په قرینه دَ دے جملے سره اَنّٰى لَكِ هٰذَا ، نو معلومه شوه چه دا کرامت دَ مریم علیها السلام دے او مقدمه ده دَپاره دَ پیدائش دَ یحییٰ علیه السلام او عیسیٰ علیه السلام په خرق عادت طریقے سره۔ او معتزله انکار کوی دَ کرامت الاولیاء نه او دَ هغوی دَ شبهاتو صاحب اللباب په تفسیر دَ دے آیت کښ جوابونه ذکر کړی دی۔
فائده ۲ له:۔ کرامات دَ اولیاء الله دَ اهل سنت په نیز حق او ثابت دی په نصوصو دَ قرآن او احادیث صحیحه سره۔ او معنیٰ دَ هغے دا ده چه یو خلاف عادت کار دَ داسے شخص نه ښکاره شی چه هغه ولی الله وی (په هغه معنیٰ سره چه سورة یونس ۶۳ کښ ذکر ده) او حکمت دَ هغے په

شرح فقه اکبر ص۹۶ کښې دَ شیخ سهروردي نه نقل دے
چه په داسے کارونو سره دَ هغه یقین په الله تعالیٰ باندے
زیات شي او دَ هغې یقین دَ وجے نه زهد في الدنیا او
رغبت دَ آخرت او ترکِ دَ خواهشاتو په هغه کښې پیدا شي.
او دَ دے کرامت په باره کښې دَ عقیدے په طور سره
لاندے امور شرط دي - اول دا چه په دغه شخص
باندے دَ ایمان او تقویٰ په باره کښې هیڅ شرعي
اعتراض نه وي ځکه چه دَ غیر متشرع شخص نه داسے
امور په طریقه دَ استدراج یا سحر سره ښکاره کیږي
هغې ته کرامت نشي وئیلے داسے خطیب شربیني په
تفسیر دَ سورت یونس کښې لیکلي دي چه فَكُلُّ مَنْ كَانَ
لِلشَّرْعِ عَلَيْهِ اِعْتِرَاضٌ فَهُوَ مَغْرُوْرٌ مُخَادِعٌ (هر هغه
څوک چه دَ شرعے په هغه باندے اعتراض وي نو هغه
مغرور او دهوکه باز دے) - دویم شرط دا دے چه
په کرامت کښې قدرت او اختیار دَ ولي نه وي بلکه هغه
فعل دَ الله تعالیٰ وي او الله تعالیٰ یې ظاهروي دَ اکرام
دَ دغه شخص دَ پاره - دا فتوح الغیب دَ شیخ عبدالقادر
جیلاني او فتاوٰی رشیدیه او نورو کتابونو لیکلي دي او
دَ قرآن نصوص هم په دے دلیل دے بلکه کله ورته
علم هم نه وي حاصل په دغه کرامت باندے لکه
امام نووي په شرح دَ حدیث دَ زیادت دَ طعام دَ ابوبکر
رضي الله عنه کښې لیکلي دي - او دَ دے مثال داسے دے
لکه چه خط دَ قلم نه صادریږي لیکن فاعل دَ هغې
کاتب وي دَ قلم په دغه خط کښې اختیار نه وي - دریم
شرط دا دے چه ولي به دَ هغې دَ پټ ساتلو کوشش کوي
دے دَ پاره چه عوام خلق په دهوکه کښې نه پریوزي لکه
چه ابن قیم په مدارج السالکین جلد ۳ ص۴۲ او ملا علي
قاري په مرقات شرح مشکوٰة ص۲۷ کښې لیکلي دي

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ ۚ قَالَ

دَ دغه وجې نه دعا اوغوښتله زكريا عليه السلام دَرب خپل نه اُويل هغه

رَبِّ هَبْ لِىْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِّيَّةً

اے ربه زما او بخښه ما ته دَ خپل تيز نه اولاد (ربچې)

طَيِّبَةً ۚ اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَآءِ ﴿۳۸﴾

پاک يقيناً ته آوريدونكے دَ دُعا ئې -

يُجِبُ عَلَى الْوَلِيِّ اِخْفَاءُ كَرَامَتِهٖ (لازم دى په ولى باندے پټ ساتل دَكرامت خپل) څلورم شرط دا دے چه دَ الوهيت كار ته كرامت دَ ولى وئيل جائز نه دى دَ دے وجے نه شيخ عبدالقادر جيلانى وئيلى دى لَا كَرَامَةً لِىْ اَنْ اَكُوْنَ مَعَهٗ فِىْ شَيْءٍ مِنْ تَدْبِيْرِهٖ وَتَصَارِيْفِهٖ الفتح الربانى ص۱۵۸ (ما له دا سے كرامت نيشته چه څه شريك شم دَ الله تعالىٰ سره په يو څيز كښ دَ تدبير او تصرفاتو دَ الله تعالىٰ نه) پنځم شرط دا دے چه كوم امور خلاف عادت چه روستو دَ مرګ دَ ولى نه ښكاره شى هغه ټول دَ قبيلے دَ حفاظت الهيه نه دى لكه چه ساتل دَ بدن دَ عاصم رضى الله عنه دَ مشركانو نه او ښكاره كول دَ رڼا په قبر دَ نجاشى كښ ديته مجازًا كرامت وئيلے شى - دَ دے مسئلے بعضے بحث ما په كتاب التبيان كښ ذكر كړيدے هلته ئې اوګورئ.

س۳۸ :- دَ دے آيت نه واقعه دَ زكريا عليه السلام ذكر كوى او لوئے مقصد پكښ دا دے چه دے اګرچه نبى وو ليكن الله تعالىٰ ته محتاج وو په طلب دَ ولد كښ نو دے اِلٰه نشى كيدے او په ديكښ رد دے په زعم دَ نصاراؤ باندے هغه دا دے چه زكريا عليه السلام دَ مريم كفالت كوؤ نو كيديشى چه دَ دے عمل دَ وجے نه په هغه كښ څه صفت دَ الوهيت پيدا شوے وى لكه چه

دَ نورو مشرکانو باطله عقیده ده چه په عبادت اومحنت سره صفات دَ الوهیت حاصلیږی او هغې ته مرتبه دَ فَنَا فِي الله اووحدت وجود وئیلے شی ۔ او دا باطله عقیده ده۔
هُنَالِكَ ، دا لفظ کله دَ مکان دَپاره استعمالیږی لکه فَقُتِلُوْا هُنَالِكَ ۔ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُوْرًا ، او کله دَ زمان دَپاره استعمالیږی لکه په هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُوْنَ کښ دلته دواړه صحیح دی یعنی په هغه مکان کښ چه محراب وؤ دَ زکریا علیه السلام او دَ مریم تربیت ئے پکښ کولو او دَ دے دَپاره دلیل روستو آیت دے وَهُوَ قَائِمٌ يُّصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ، یا په هغه وخت کښ چه رزق دَ مریم علیها السلام ئے اولیدلو۔ او سیوطی اتقان کښ وئیلی دی چه هنالك دلته په معنٰی دَ ثَمَّ (دَ دغه وچے نه) سره دے او ابوحیان او بعضے مفسرینو لیکلی دی چه دا دلیل دے چه بنده لره په وخت دَ دُعا کښ دَ مبارک مکان او مبارک وخت رعایت پکار دے لکه مسجد او ملتزم او مقام ابراهیم او لاندے دَ میزابِ رحمت نه (پرنالہ دَ کعبے شریفے) او نور هم ډیر مواضع دی او په اوقاتو کښ دَ شپے آخری حصه او فرض مونځونو پسے او په وخت دَ روژه ماتی کښ وغیره۔ لیکن تخصیص دَ مکان او زمان دَپاره دلیل شــرعی ضروری دے۔
سوال :۔ قبرپرستو دَ دے زمانے دَ دے آیت نه استدلال کړیدے چه زکریا علیه السلام په دربار دَ مریم علیها السلام کښ دُعا اوغوختله نو قبوله شوه نو دَ قبرونو دَ اولیاؤ په خوا کښ دُعاگانے ښه قبلیږی ؟
جواب :۔ دا استدلال په جهل باندے بنا دے ځکه هغه مکان (محراب) ځوځائے دَ عبادت دَ زکریا علیه السلام وؤ یعنی دا دَ هغه خپل دربار وؤ، مریم علیها السلام خو پکښ دَ هغه دَ کفالت دَ لاندے اوسیدله

دَ هغې دربار نه وو۔ دا رنګ په صریح نصوصو سره ثابت دی چه دَ اولیاؤ درجه دَ انبیاؤ نه خکته ده۔
تنبیه: عامو مفسرینو لیکلی دی چه زکریا علیه السلام هرکله دَ مریم په خواکښې بے وخته رزق اولیدلو نو توجه ئې پیدا شوه چه الله تعالیٰ بے وخته اولاد هم ورکولے شی دَ دے وجے نه دا دُعا ئې اوغوختله۔ په دے توجیه باندے سوال واردیږی چه زکریا علیه السلام خو دَ مخکښې نه په قدرت دَ الله تعالیٰ باندے عالم وو نو ولے ئې دُعا نه غوختله؟
جواب ١:۔ علم ئې وو لیکن په مشاهدے سره هغه علم زیات شو او دا مشاهده (دَ رزق دَ مریم علیها السلام بے وخته) سبب اوګرځیدله دَ پاره دَ توجه دغه دعا ته۔
جواب ٢:۔ غوره خبره دا ده چه صرف لیدل دَ بے وخته رزق سبب دَ دُعا نه دے بلکه هرکله چه زکریا علیه السلام بوډا شوے وو او دَ عمران نارینه اولاد او نشو بلکه مریم علیها السلام پیدا شوه نو زکریا علیه السلام سره دَ دعوت او تبلیغ دَ دین فکر زیات پیدا شو چه زمونږ په نسل کښې نارینه اولاد نیشته نو دَ دے دین الٰهی دعوت به څوک کوی دَ دے وجے نه دَ خپل ولد دَ پاره ئې دُعا اوغوختله او دا توجیهه غوره ده په درے وجوهو سره۔ اوله وجه، سورة مریم کښې دَ ضرورت دَ ولد دَ پاره ئې ذکر کړی دی، يَرِثُنِيْ وَ يَرِثُ مِنْ اٰلِ يَعْقُوْبَ، او مراد دَ دینه وراثت دَ دین دے په اتفاق دَ مفسرینو سره۔ دویمه وجه دا ده چه صرف بے وخته رزق لیدلو سره دَ نارینه ولد طلب کولو څه خاص مناسبت نیشته نو حاجات هم دَ انسانانو شته دے هغه ئې ولے نه طلب کول۔
دریمه وجه سیوطی وئیلی دی چه هنالك په معنیٰ دَ مِنْ ثَمَّ سره دے یعنی دَ ماقبل دَ حالاتو دَ وجے نه او په ماقبل حالاتو کښې لوئے حال پیدا ئښ دَ مریم دے په اولاد

فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ

نو آواز در کړو هغه ته ملائکو او دے ولاړ وؤ

يُّصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ ۙ اَنَّ اللّٰهَ

مونځ ئې کولو په عبادت خانه کښې چه يقيناً الله تعالىٰ

يُبَشِّرُكَ بِيَحْيٰى مُصَدِّقًاۢ بِكَلِمَةٍ

زيرے درکوی تا لره په يحيٰی عليه السلام تصديق کوونکے دے د کلمے

دَ عمران کښې چه هغه زنانه وه پوره صلاحيت دَ دعوت دَ دين نه لري۔

دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ قَالَ رَبِّ هَبْ لِيْ، دا روستو جمله تشريح ده دَ اولے جملے يعنی دُعا دَ پاره۔ هِبَة (بخشش) په هغه ځائے کښې استعماليږی چه دَ غوختونکی سره هيڅ سبب او بدله نه وی او دا په ډير عجز يانه دلالت کوی۔

مِنْ لَّدُنْكَ، يعنی په خالص قدرت ستا سره، په ديکښې تاکيد دے دَ هَبْ دَ پاره يعنی دَ والديو دَ طرف نه عادتی اسباب هم نيشته ځکه دواړه دَ توليد دَ وخت نه وتلی دی۔

ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً، لفظ دَ ذريت جنس دے يو او ډيرو دَ پاره استعماليږی دلته يو مراد دے په قرينه دَ لفظ دَ وَلِيًّا چه په سورة مريم کښې ذکر دے او په لفظ دَ ذريت کښې اشاره ده ډير والی دَ منافعو دَ هغه ولد ته۔ طَيِّبَةً، صالح او مبارک (قرطبی) او سليم بدن او دين والا۔ او بعضو وئيلی دی چه په دين کښې مرتبے دَ نبوت ته او رسيږی (ابوحيان)۔ او په سورة مريم ۵ کښې لفظ دَ رَضِيًّا پدے دليل دے۔

اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَآءِ، دا دليل او علت دے دَ پاره دَ تخصيص دَ دُعا دَ رب تعالىٰ ته او وسيله ده دَ پاره دَ اجابت دَ

مِّنَ اللّٰهِ وَسَيِّدًا وَّحَصُوْرًا وَّ

چه دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه ده او سردار به وی او پاک لمنے به وی او

نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۳۹﴾

نبی به وی دَ جماعت دَ کاملو نیکانو -

دُعا په نوم دَ الله تعالیٰ سره - او سمیع دلته په معنیٰ دَ قبلوونکی دے - ابوحیان وئیلی دی چه دا دُعا دَ زکریا علیه السلام په سورة انبیاء کښ په اختصار سره ده او په سورة مریم کښ په اوږد والی سره ده او دلته په توسط (درمیانه) طریقے سره ده -

ش۳۹ : په دے آیت کښ استجابت دَ دُعا دَ زکریا علیه السلام ذکر دے او په سورة انبیاء ن۸۰ کښ تعبیر دَ استجابت ذکر کړے وو ځکه چه په قصه دَ نوح او ایوب او ذالنون علیهم السلام کښ دا تعبیر ذکر وو او په سورة مریم کښ صرف تفسیر دَ نداء ذکر دے په دے کښ ځکه هلته نداء دَ زکریا علیه السلام نداء خفی ذکر وه نو دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ډیره اخفاء اوشوه یعنی نداء ئے حذف کړه - او دا خو په باره دَ دے قصه کښ اول سورت دے دَ دے وجے نه ئے دلته تعبیر دَ نداء دَ ملائکو او تفسیر دَ هغے ئے دواړه ذکر کړی دی -

فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ ، مراد دَ دیته جنس ملائکه دی یعنی جبرئیل علیه السلام او هر کله چه دَ هغه سره اتباع او ملګری وو نو دَ هغے په لحاظ سره ئے جمع ذکر کړیده او په اعتبار دَ جنس سره روستو په سورت مریم کښ مفرد صیغے ذکر کړی دی او نداء په پیښ دَ نون یا په زیر دَ هغے سره رفع الصوت (آواز اوچتول) ته وئیلے شی او استعمالیږی دَ فریاد او بشارت دَ پاره -

وَهُوَ قَآئِمٌ يُّصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ ، صلاة کښ دلته

دوه احتمالونه دی اول دا په معنیٰ دَ مونځ سره دے او دلیل دے چه مونځ کوونکی ته په حال دَ مونځ کولو کښ دَ ضرورت په وخت کښ آواز کول جائز دی دویم دا په معنیٰ دَ دُعا سره دے او اشاره ده چه په اولاد پسے حالت کښ هم دُعا غوختل جائز دی۔ او دَ فِي الْمِحْرَابِ معنیٰ مخکښ ذکر شوے ده او دا دلیل دے چه عبادت خانه کښ دُعا غوختل غوره دی۔

أَنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ، دا تفسیر دَ نِدا ء دے او توم دَ هغه الله تعالیٰ دَ خپل طرف نه راولیږلو۔ مفسرینو وئیلے دی چه پنځه انبیاء علیهم السلام اسحاق او یعقوب او یحییٰ او عیسیٰ او محمد صلی الله علیه وسلم دی چه دَ هغوی نومونه الله تعالیٰ یخپله کیخودلی دی۔

مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللَّهِ، مراد دَ کلمه نه تورات او انجیل او نور کتابونه دی چه دَ دینه مخکښ نازل کړے شویدی نو مراد دَ کلمه نه جمع ده یا مراد دَ دے نه عیسیٰ علیه السلام دے او هغه ته کلمه دَ دے وجے نه وئیلے شی چه هغه پیدا کړے شوے وو په کلمه دَ کُنْ سره بغیر دَ واسطے دَ پلار نه یا مراد دَ کلمه نه بشارت دَ الله تعالیٰ دے مریم علیها السلام لره په ولادت دَ عیسیٰ علیه السلام نو یحییٰ علیه السلام دَ دے بشارت او دَ عیسیٰ علیه السلام تصدیق کړیدے هغه اوس هم په انجیل دَ نصاراؤ کښ ذکر دے۔

وَسَيِّدًا، دَ دے لفظ په معنیٰ کښ ډیر اقوال دی۔ کریم، فقیه، عالم چه غضب ورباندے غلبه نه کوی، سردار چه اتباع ئے کیدیشی، خائسته خوئ والا، مطیع دَ الله تعالیٰ، تقوی دار، هغه څوک چه حسد نه کوی، قناعت کوونکے په خپله برخه باندے، سخی او صبرناک (صاحب اللباب)۔ او دا دلیل دے چه دَ انسان (صالح) صفت په سید سره صحیح دے لکه چه په حدیث کښ سعد رضی الله عنه ته سید او حسن رضی الله عنه ته سید وئیلے شویدی۔ نو

قَالَ رَبِّ أَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّ

هغه اُویل اے ربه زما څه رنګ به کیږی ما لره هلک او

قَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ وَامْرَاَتِيْ

حال دا چه دا رسیدلے ما ته بوډا والے او ښځه زما

عَاقِرٌ ؕ قَالَ كَذٰلِكَ اللّٰهُ

شنډه ده - اُویل هغه ته به دغسے دے الله تعالیٰ

يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿۴۰﴾

کوی څه چه اوغواړی -

صفت دَ سیدی او سید تا زمونږ دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ پاره په اتفاق سره جائز دے لیکن دَ ظالم او منافق دَ پاره او کافر دَ پاره دا مد ح جائز نه ده (ابوحیان)۔

وَحَصُوْرًا ، دَ دے معانی هم ډیرے دی . هغه څوک چه راز پټ لری، هغه څوک چه زنانه ته راتلل نشی کولے - پاکباز چه زنانه ته په زنا کولو سره راتلل نه کوی - غوره قول دا روستو دے

وَنَبِيًّا ، هر کله چه په سیداً کښ اشاره ده صفت دَ مصالحو دَ خلقو ته په اعتبار دَ دین او په اعتبار دَ دُنیا سره او حصوراً کښ اشاره ده پوره زهد ته نو دَ دے دواړه صفاتو مجموعه نبوت دے دَ دے وجے نه نَبِيًّا ئے روستو ذکر کړو۔

مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ، دا مستقل صفت دے مراد دَ دینه صلاحیت کامله دے په دُنیا کښ یا جماعت دَ صالحینو دے روستو دَ مرګ نه او په آخرت کښ او دے مرتبے ته انبیاء علیهم السلام محتاج دی لکه چه په دُعا دَ سلیمان علیه السلام په سورة نمل سـ۱۹ کښ ذکر دی۔

نکته :- دا بله دُعا ده دَ زکریا علیه السلام دَ پاره دَ بچګاره کولو دَ ډیر عجیب قدرت دَ الله تعالیٰ په طریقه دَ سوال او جواب۔

سوال :- هرکله چه دهٔ دُعا طلب کړې وه او ملا ئکو ورله اواز دَ اجابت ورکړو نو بیا ولے تپوس کوی په دُعا کښں ؟
جواب ۱ :- دلته اَنّٰی په معنیٰ دَ کیف سره دے یعنی تپوس کوی دَ کیفیت په باره کښں چه ایا پیدا ئش به زمونږ دَ بوډا والی په حال کښں کیږی او که نه څوانی ته به واپس کیږو او آیا دَ دے ښځے نه به کیږی او که دَ بلے نه به وی نو حاصل جواب دا دے چه په حال دَ بوډا والی دَ دواړو کښں به دَ دے ښځے نه پیدا ئش دَ ولد کیږی او دا په الله تعالیٰ باندے گران نه دے۔
جواب ۲ :- دا استعظام دَ قدرت دَ الله تعالیٰ دے او دا خالت دَ ډیرے خوشحالئ نه هم پیدا کیږی۔ او مفسرینو نور جوابو نه هم لیکلی دی لیکن اکثر دَ هغے دَ انبیاء علیهم السلام دَ حال سره مناسبت نه لری۔
غُلٰمٌ دا دَ غلمت او اغتلام نه اخستلے شوے دے په معنیٰ دَ طلب دَ نکاح نو غلام نوی عمر والا څوان ته وئیلے شی او وړوکی ته مجازًا او تفاؤلًا وئیلے شی۔
وَقَدْ بَلَغَنِیَ الْکِبَرُ، په دا سے احوالو کښں بلوغ (رسیدل) دَ دواړه طرفونو نه استعمالیږی یعنی بوډا والے ما ته رارسیدلے دے یا زهٔ بوډا والی ته رسیدلے یم دا دواړه وئیل جائز دی دَ دے وجے نه په سورت مریم کښں دی چه وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْکِبَرِ عِتِیًّا۔ او مفسرینو لیکلے دی چه زکریا علیه السلام په دغه وخت کښں شپږ شلے یا دوه نوی کالو ته رسیدلے وو۔
وَامْرَاَتِیْ عَاقِرٌ، دا جمله حالیه ده۔ اِمْرَءَة ئے او ئیلو څکه چه مقام دَ حمل او دَ ولادت دے او هغه وصف دَ اِمْرَاَة دے۔ عَاقِرٌ، دَ عقر نه اخستلے شوے دے او عقر قتل ته وئیلے شی لکه فَعَقَرُوا النَّاقَة ، دا رنګ عقر اصل دَ څیز ته وئیلے شی او قرطبی وئیلی دی چه عاقر په اصل کښں هغه ډیر کئی دَ شکو ته وئیلے شی چه هیڅ بوټے پکښں نه کیږی۔ او په اصطلاح کښں هغه څوک چه اولاد ئے نه کیږی که

سړے وی او که بنځه وی او عقیم وو نه هم وئیلے شی۔او هر کله چه دا دَ صفاتِ مشترکه دَ سړی او دَ ښځے نه دے په معنیٰ دَ ذات عقر سره دَ دے وجے نه مؤنث دَ پاره هم عاقر استعمالیږی۔او وئیلے شوی دی چه دَ هغے عمر په دغه وخت کښې دوه کم سل کاله وو۔
سوال:۔ بَلَغَنِیَ الْکِبَرُ، جمله فعلیه او امرأتی عاقر جمله اسمیه ده نو وجه دَ فرق ئے څه ده؟
جواب:۔ کِبَرُ دَ صفات عارضه نه دے لږ لږ زیاتی کیږی نو دَ هغے سره جمله فعلیه مناسب وه او عاقر حالت مستمره دے په یو حالت پاتے دے نو دَ هغے سره جمله اسمیه مناسب ده۔
سوال:۔ په سورة مریم کښې حالت دَ ښځے ئے عاقر مخکښې ذکر کړے دے په قَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْکِبَرِ عِتِیًّا پاتے او پدے سورت کښې برعکس دے؟
جواب:۔ په سورة مریم کښې دَ اول نه زکریا علیه السلام خپل بوډا والے په دُعا کښې ذکر کړے دے او روستو ئے عقر دَ ښځے ذکر کړے دے نو په دویمه دُعا کښې ئے عقر مخکښې کړو په کبر خپل پاتے دَ رعایت دَ فاصلے دَ آیاتو نو دَ پاره او دا رنګ عقر دَ ښځے دَ استعظام په مقام کښې لوئے سبب دے نو هغه ئے مخکښې ذکر کړو او دلته خو مخکښې ذکر دَ کبر دَ زکریا علیه السلام نیشته نو په دویمه دُعا کښې اول خپل حال ذکر کړو او روستو حال دَ ښځے خپلے۔
تنبیه:۔ ابوحیان دَ ماتریدی نه نقل کړی دی چه په تعبیراتو کښې دا اختلافات دَ دے وجے نه دی چه دا حکایات دی او په حکایاتو کښې رعایت دَ معانی کیږی نه رعایت دَ الفاظو۔
قَالَ کَذٰلِکَ اللّٰهُ یَفْعَلُ مَا یَشَآءُ، فاعل دَ قال الله تعالیٰ دے چه په رَبِّ اَنّٰی یَکُوْنُ لِیْ غُلٰمٌ کښې ذکر دے یا

قَالَ رَبِّ اجْعَل لِّيْٓ اٰيَةً ؕ

اُویل هغه اے ربه زما اوګرځوه ما دپاره یوه نخه

قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ

هغه اُویل ستا نخه داده چه خبرے به نه کوے د خلقو سره

ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ اِلَّا رَمْزًا ؕ وَاذْكُرْ

درے ورځے مګر په اشاره کولو سره او یادوه

رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ

خپل رب لره ډیر او تسبیح وایه بیګائی

وَالْاِبْكَارِ ﴿٤١﴾

او صبائی ۔

مراد په دے سره جبرئیل علیه السلام دے ۔ كَذٰلِكَ ، دغسے تا اشنا کارونه د الله تعالیٰ دی لکه دا کار (ابوحیان). یا مبتدا پټه ده اَنْتُمَا كَذٰلِكَ (تاسو دواړه په هم داسے یئ لکه چه ځنګه یئ) (ابن عطیه) ۔ مَا يَشَآءُ ، په عموم اختیار او تصرف د الله تعالیٰ باندے دلالت کوی او پیدا کیدل پیدا ئش د ۔ یحی په حال د یوډا والی د مور او پلار کښ داخل دی ۔

سلا :۔ روستو د ذکر د طریقے د ولادت نه په سوال او اجابت سره اوس ذکر کوی طلب د علامت په ولادت باندے ۔ بعضے مفسرینو لیکلی دی چه د دے سبب دا وو چه زکریا علیه السلام شک کوؤ چه دا کلام او بشارت د الله تعالیٰ د طرف نه نه دے د دے وجے نه هغه علامت طلب کوؤ لیکن دا قول د دوی د انبیاء علیهم السلام د شان بے ادبی ده ځکه چه انبیاء علیهم السلام باندے په کلام د الله تعالیٰ کښ هیڅ التباس نه راځی بلکه دا قول د دوی د اسرائیلیا تو

نه دے چه انجیل لوقا کښ ذکر دے۔ او اهل تحقیق مفسرینو لیکلی دی چه طلب دَ علامت دَ زیاتے تسلیٔ او دَ پوره والی دَ بشارت دَ پاره دے ځکه چه نعمت راتلل روستو دَ انتظار کولو نه ډیر لذیذ او قیمتی وی۔ ایَةً نه مراد هغه علامت دے چه دلالت کوی په ابتداء دَ حمل دَ بی بی دَ هغه پاندے او چه معلومه شی چه نیزدے دے او که لرے دے۔

قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ، په دیکښ دَ مفسرینو دوه اقوال دی اول دا چه دا بندیدل دَ ژبے دی بے اختیاره یعنی الله تعالیٰ دَ هغه ژبه بنده کړله دَ خبرو کولو نه دَ خلقو سره سرهٔ دَ قدرت نه په ذکر الهی باندے او په دے نښه کښ پوره معجزه وه او په دے نښه کښ حکمت دا وو چه دَ نعمت دَ راتللو په انتظار کښ ټوله توجه الله تعالیٰ طرف ته او کړځی او دا لویه طریقه ده دَ شکر ادا کولو دَ پاره۔ یل دا چه هغه ژبه چه خوزیدله په خبرو باندے هغه بنده شوه دَ خبرو نه او هغه بی بی چه بنده وه دَ ولد راوړلو نه تیاره شوه دَ پاره دَ راوړلو دَ ولد نو دا نښه دَ ضد شوه په خپل ضد باندے دویم قول دا دے چه دا بندش دَ کلام په امر دَ الله تعالیٰ سره دے چه عبادت په بنی اسرائیلو کښ دا وو چه په روژه کښ خبرے کول منع وے نو درے ورځے کلام بندول اختیاراً په حکم دَ الله تعالیٰ سره نښه ده چه ولد په درے ورځے روستو پیدا کیږی او دا هم طریقه دَ ادائیګئ دَ شکر دَ نعمت الهیه ده۔ په دیکښ اول قول غوره دے ځکه چه په سورةِ مریم کښ ثَلٰثَ لَيَالٍ ذکر دے او ظاهر دا ده چه دَ شپے روژه نه وی۔ او لفظ دَ ایام په عرف کښ شپو ته هم شامل وی یعنی درے شپے او ورځے ئے ژبه بنده وه۔

سوال:۔ دلته لفظ ایام او په سورةِ مریم ۱۰ کښ

لفظ دَ لیال کښې څه حکمت دے ؟
جواب :- هرکله چه هغه سورت دَ دے سورت نه مخکښې نازل شوے وؤ او شپه دَ ورځې نه مخکښې وی دَ دے وجې نه هلته ئې شپې ذکر کړې دی او دلته ئې ورځې ذکر کړیدی دَ دے دَ پاره چه معلومه شی چه دا حکم په شپې پورې خاص نه دے بلکه ورځې پکښې هم داخل دی۔
اِلَّا رَمۡزًا ، په دیکښې دوه اقوال دی چه رمز دَ جنس دَ کلام نه نهٔ دے نو دا استثناء منقطعه ده دویم قول دا دے چه رمز یعنی آواز ته شامل دے نو دَ جنس دَ کلام نه دے نو استثناء متصله ده۔ روستو قول غوره دے ځکه چه فقهاؤ تصریح کړیده چه په باب دَ قسم کښې رمز په حکم دَ کلام کښې داخل دے۔
وَاذۡكُر رَّبَّكَ كَثِيرًا وَسَبِّحۡ بِالۡعَشِيِّ وَالۡإِبۡكَارِ ، ذکر په زړه سره مراد دے او تسبیح په ژبې سره یا ذکر عام دے او تسبیح نه مراد مونځ کول دی. کثیرًا صفت دے دَ موصوف پټ دَ پاره یعنی ذکرًا کثیرًا یا زمانًا کثیراً ، او په دیکښې اشاره ده چه عام ذکر الٰهی دَ پاره تحدید او توقیت نیشته دے۔ او کثرت په دوه قسمه دے اول په اعتبار دَ عدد سره او دَ دیر وخت سره او دویم کثرت معنویه دے یعنی په اخلاص او سنت طریقے سره ځکه چه اخلاص او طریقه دَ سنت نه وی نو ذکر ته اعتبار نیشته۔ بِالۡعَشِيِّ ، زمخشری وئیلی دی چه عشی وخت دے دَ زوال دَ نمر نه تر پټیدلو دَ هغې پورے۔
واحدی وئیلی دی چه دا جمع دَ عشیه ده آخر دَ ورځې ته وئیلے شی په هغے کښې ماسپخین او مازیګر داخل دی او په تیز دَ راغب اصفهانی په دیکښې ماښام او ماسخوتن هم داخل دی۔
وَالۡإِبۡكَارِ ، دا وخت دے دَ صبا ختلو نه تر وخت دَ ساخت (ضحٰی) پورے۔ نو په تیز دَ اکثرو مفسرینو دا دواړه طرفونه دَ شپې او دَ ورځې دی لیکن مراد دَ دے نه همیش والے دے

وَإِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ

او کوم وخت چه اُویل ملائکو اے مریم

إِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰكِ وَطَهَّرَكِ

یقینًا الله تعالیٰ غوره دالے درکړے تا ته او پاکه ساتلے یئ ته

وَاصْطَفٰكِ عَلٰى نِسَآءِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۲﴾

او غوره کړے یئ ته په زنانو دَ خلقو باندے.

لکه په سوره مریم ۵۲ کښ او په قول دَ راغب باندے (په تفسیر دَ عشی) کښ پنځه اوقاتو دَ مونځونو ته اشاره ده.

۴۲:- هرکله چه دَ مریم علیها السلام ولادت او تربیت ذکر کړے شو نو بیا په مینځ کښ قصه دَ زکریا علیه السلام ذکر کړه (په طور دَ جملے معترضے سره) دَ پاره دَ اظهار دَ عبدیت دَ هغه نو اوس انتقال کوی ذکر دَ حالاتو دَ مریم علیها السلام ته روستو دَ بلوغ دَ هغے نه او په دیکښ رد دے په یهودیانو باندے چه هغوی مریم علیها السلام ته نسبت دَ فاحشه کوی. وَإِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ، قرطبي او ابن حزم او ابن عاشور وئیلی دی چه مریم علیها السلام نبیه وه رسوله نه وه او دلیل په دے باندے خطاب دَ ملائکو دے دَ هغے سره دا رنګ نور صفات دَ هغے دَ اصطفاء او دَ تصدیق دَ کلماتو دَ الله تعالیٰ په دے دلالت کوی - او اکثر اهل علمو وئیلی دی چه دا خطاب او صفتونه مستلزم دَ نبوت دَ پاره نه دی بلکه خطاب دَ ملائکو په طریقه دَ کرامت سره دے لکه ذکر دَ وحی دَ مور دَ موسیٰ علیه السلام ته - دا رنګ وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا او ارسال نبوت ته شامل دے دا رنګ په سوره مائده کښ اعلیٰ مرتبه دَ عیسیٰ علیه السلام یئ رسالت ذکر کړیدے او اعلیٰ مرتبه دَ مریم علیها السلام یئ صدیقیت ذکر کړیدے دَ پاره دَ رد کولو په یهودیانو

بانده ئے توکه دا نبیه وے نو مناسب دا وه چه هلته یئے صفت دَ نبوت دَ هغې ذکر کړے وے. الْمَلٰٓئِكَةُ، مراد دَ دے صرف جبرئیل علیه السلام دے لکه چه سورة مریم کښ ذکر دے او احتمال لري چه دَ جبرئیل په ملګرتیا کښ نور ملا ئک وو.

اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰكِ، دا اصطفا شامل ده قبولیت او تربیت دَ هغې ته او کفالت دَ زکریا علیه السلام ته او بچ ساتل دَ مس دَ شیطان ته او نا اشنا رزق ورکولو ته چه مخکښ ذکر کړے شویدی.

وَطَهَّرَكِ، پاک والے دَ کفر او ګناهونو ته او بچ ساتل دَ ناربنه او دَ حیض او نفاس او ناکاره اعمالو او اخلاقو ته دلته مراد دے.

وَاصْطَفٰكِ عَلٰى نِسَآءِ الْعٰلَمِيْنَ، مخکښ اصطفاء ذاتي وه او دا اصطفاء نسبتي ده او په دے اصطفاء کښ دوه اقوال دي اول غوره والے مطلقًا په ټولو زنانو باندے او دا دلیل دے دَ هغه چا چه دَ نبوت دَ هغې قائل وي دویم قول اصطفاء په ولد ورکولو سره په غیر دَ لګیدلو دَ سړي ته دَ هغې سره او دا په اعتبار دَ راتلونکے زمانے سره دے یعني پیشنګوئي ده او تسلي او تیارول دَ هغې دي ولادت دَ عیسی علیه السلام ته او په دیکښ هم اصطفاء په ټولو زنانو مراد ده ځکه چه دَ بلے هیڅ زنانه دَ پاره دا فضیلت نیشته لیکن دا فضیلت جزوي دے دلالت نه کوي په فضیلت دَ مریم علیها السلام په ټولو زنانو باندے.

فائده:- په باره دَ فضیلت دَ بعضے زنانو کښ مختلف احادیث راغلي دي اول په روایت دَ بخاري او مسلم کښ دَ هشام بن عروه په سند سره چه غوره دَ زنانو ددَ زمکے او اسمان په مینځ کښ) مریم علیها السلام لور دَ عمران او خدیجه لور دَ خویلد ده. دویم په روایت دَ انس رضی الله عنه کښ دي چه پوره ده تا لره دَ زنانو دَ عالمینو نه (په اعتبار دَ فضیلت سره) مریم علیها السلام او خدیجه او فاطمه لور دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دا روایت کړیدے

يٰمَرْيَمُ اقْنُتِيْ لِرَبِّكِ وَاسْجُدِيْ

اے مریم تابعداری کوه دَ رب خپل او سجده کوه

وَارْكَعِيْ مَعَ الرّٰكِعِيْنَ (۴۳)

او رکوع کوه سره دَ رکوع کوؤنکو نه۔

ترمذی او وئیلی دی چه دا صحیح روایت دے۔ دریم روایت دَ انس رضی الله عنه دے چه غوره دَ زنانه دَ عالمینو نه څلور دی مریم علیها السلام۔ آسیه، خدیجه او فاطمه رضی الله عنهن ابن کثیر دا روایت راوړے دے دَ ابن مردودیه په سند سره۔ څلورم روایت دَ بخاری دے چه نه دی کامل شوی دَ زنانو نه مگر درے مریم علیه السلام آسیه او خدیجه او فضیلت دَ عائشه رضی الله عنها په تورو زنانو باندے پشان دَ فضیلت دَ ماتے روټئ دے په باقی طعامونو باندے۔ پنځم روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما دے چه سرداره دَ زنانو دَ عالم نه مریم ده بیا فاطمه ده بیا خدیجه ده بیا آسیه ده دا سیوطی په درمنثور کښ راوړے دے او کنز العمال جلد ۱۲ ص۱۴۳ کښ شته او صاحب اللباب او قرطبی وئیلے دی چه دا حدیث حسن دے نو په دے حدیث سره ترتیب معلوم شو او اشکال ختم شو او قرطبی دے ترتیب له ترجیح ورکړیده او بعضے علماؤ په دیکښ توقف کړیدے وئیلے دی چه دا څلور غوره دی لیکن دَ دوی په کورنئ کښ ترجیح دَ یوے په بله باندے یقیناً ثابت نه دے۔

۴۳:۔ هرکله چه مخکښ دَ مریم علیها السلام لوئے والے دَ مرتبے ذکر کړو نو اوس دَ وهم دَ دفع کولو دَ پاره دَ هغے عبدیت ذکر کوی۔ اول رد وؤ په یهودیانو باندے نو په دے آیت کښ رد کوی په نصاراؤ باندے او دَ دے وجے نه ئے يَا مَرْيَمُ دوباره ذکر کړو چه اهمیت

ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ

داچه ذکر شول بعضې دي دَ پټو خبرونو نه	وحي کوؤ مونږ دَ دے

واضح شي ۔ اُقْنُتِيْ لِرَبِّكِ ، مراد دَ قنوت نه هر طاعت او بندګي ده نو په دیکښې او بدوالے دَ قيام او دَ رکوع په مانځه کښې داخل دے۔

وَاسْجُدِيْ وَارْكَعِيْ ، دا تخصيص دے روستو دَ تعميم نه ۔ يا دَ قيام نه روستو ذکر دَ سجدے او رکوع دے او دَ مجموعه نه مراد مونځ ادا کول دي۔

سوال :۔ سجده يې مقدم ذکر کړه په رکوع باندے ؟

جواب ؐله: سجده ډير افضل او اشرف جزء دے دَ اجزاؤ دَ مونځ نه نو دَ شرافت دَ وجے نه يې مخکښې ذکر کړو۔

جواب ؐله :۔ مراد دَ سجدے نه مونځ کول دي په ذکر دَ جزء سره او مراد ترينه کل دے او مقصد دَ دے نه انفرادي مونځ کول دي او وارکعي سره دَ جماعت مونځ ذکر کوي په ذکر دَ رکوع او مراد ترينه پوره مونځ دے۔

جواب ؐله :۔ واو دَ پاره دَ ترتيب نه دے بلکه صرف دَ عطف يا دَ جمع دَ پاره راځي ليکن بيا هم دَ تقديم دَ پاره مخکښې حکمتونه ذکر کول پکار دي۔

مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ، په مع کښې دوه اقوال دي اول داچه معيت دَ اقتداء مراد دے نو مراد دَ دے نه مونځ دَ جماعت دے۔ دويم مع په معنیٰ دَ اشتراک دَ صفت دے يعني دَ دوی پشان مونځ کوه۔

سوال :۔ مع الراکعات يې ولے او نه وئيلو ؟

جواب ؐله :۔ صاحب اللباب وئيلی دي چه اقتداء دَ زنانه په نارينو پسے په شرط دَ ستر سره غوره ده دَ اقتداء کولو نه په زنانه پسے۔

جواب ؐله :۔ هر کله چه په دعوت او تصديق دَ کلماتو الهيه کښې دَ دے همت پشان دَ نارينوؤ او دَ نارينه په ځائے دَ خدمت دَ پاره قبوله شوے وه دَ دے دَ وجے نه دلته يې صيغه دَ مذکر ذکر کړله۔

إِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ
ستا طرف ته او نه وې ته د دوی سره حاضر

إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَامَهُمْ أَيُّهُمْ
كله چه دوی غورځول خپل قلمونه (چه معلوم شي) چه كوم يو كس به

يَكْفُلُ مَرْيَمَ ۖ وَمَا كُنْتَ
پالنه كوي د مريم او نه وې ته حاضر

لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿۴۴﴾
د دوی سره كوم وخت چه دوی بحث كوو په باره (د ساتلو د مريم كښې) .

سکا :- دا جمله معترضه ده په مينځ د خطابا تو د مريم عليها السلام كښې د پاره د اثبات د صدق د نبي صلى الله عليه وسلم -
ذٰلِكَ ، اشاره ده واقعے د زكريا او د يحيىٰ او د ښځے د عمران او مريم عليهم السلام ته په تاويل د مذكور سره -
مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ ، مِنْ د پاره د تبعيض دے ځكه چه دا بعضے واقعات دي - أَنْبَاءِ جمع د نبأ ده هغه خبر ته وئيلے شي چه د هغے شان لوئے وي او انْبَاءِ خبر وركول دي د غائب خيز نه - الْغَيْبِ ، مصدر په معنىٰ د فاعل سره دے يعنې هغه خبرونه چه غائب وو ستا د علم نه (اے نبي) ځكه چه تا هيڅ كتاب لوستلے نه دے او غائب وو د علم د نورو مخاطبينو د قرآن نه ځكه چه دا خبرونه يهوديانو او نصاراؤ پټول - يهوديانو د دے وجے نه پټول چه په ديكښې اوچت والے د شان د زكريا او مريم عليهما السلام وو او هغوی دوی ته بد كتل - او نصاراؤ د دے وجے نه پټول چه په ديكښې عبديت او احتياج د دوی ذكر دے نو حق دار د الوهيت نشي كيدلے او دوی ورته اِلٰه وئيل -

نُوۡحِیۡهِ اِلَیۡكَ، قرطبي ونیلي دي چه وحی په لغت کښ خبر
ورکول دي په پټے طریقے سره او دَ ابن فارس نه ئے نقل
کړے دي چه وحی اشاره، کتابت، رسالت او هر هغه
څیز دے چه بل چا ته ئے غورځوے دَ پاره دَ دے چه
علم حاصل کړي - او متضمن دے معنیٰ دَ سرعت لره - او
دا ماده په قرآن کریم کښ اته اویا کرته ذکر ده په مختلفو
وجوهو سره اوله وجه په معنیٰ دَ الهام کولو اولیاء ته لکه
مور دَ موسیٰ علیه السلام ته په سوره قصص ۷ او سوره
طه ۳۸ کښ او حواریونو ته په سوره مائده ۱۱۱ کښ -
دویمه وجه په معنیٰ دَ اشاره کولو لکه په سوره مریم ۱۱
کښ. دریمه وجه په معنیٰ دَ تعلیم فطري دَ طرف دَ
الله تعالیٰ نه لکه سورت نحل ۶۸ کښ - څلورمه وجه په
معنیٰ دَ امر کولو سره لکه سوره زلزال ۵، حم سجده
۱۲ - پنځمه وجه په معنیٰ دَ وسوسے سره لکه سوره انعام
۱۱۲، ۱۲۱ - شپږمه وجه وحی کول ملائکو ته لکه انفال ۱۲
کښ - اوومه وجه ارهاص (دَ نبوت نه مخکښ وحی کول)
لکه سوره یوسف ۱۵ کښ - اتمه وجه وحی دَ رسالت او
نبوت بغیر دَ واسطے دَ ملك نه لکه سوره شوریٰ ۵۱ کښ -
نهمه وجه وحی دَ رسالت او نبوت په واسطے دَ مَلَكْ
(جبرئیل) سره او نسبت ئے جبرئیل ته وی لکه په سوره
شوریٰ ۵۱ کښ - لسمه وجه دغه وحی دَ رسالت او نبوت
په واسطه دَ ملك سره چه نسبت ئے الله تعالیٰ ته کړے
شوے وی او دا خو په قرآن کښ په کثرت سره دے - په دے
آیت کښ دا زوستنے قسم دَ وحی مراد دے - نُوۡحِیۡهِ، ضمیر
دَ ۂ راجع دے الغیب ته او دا صاحب اللباب غوره کړیدے
او دَ دے وجے نه فعل مضارع ذکر کړے چه تور و مغیبات
ته هم شامل شي یا راجع دے ذٰلِكَ ته لکه چه قرطبي
ذکر کړے دہ -

وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُوْنَ أَقْلَامَهُمْ، دا تاکید دے
دَغیبویت دَ دے واقعاتو او دفع دَوهم ده دَ بعضے
جاهلانو (بریلیان دَ دے وخت) چه هغوی عقیده لری
چه نبی صلی الله علیه وسلم مخکښ دَ پیدائش او روستو
دَ پیدائش نه هر ځائے حاضر او ناظر دے او دا باطله
عقیده ده نو الله تعالیٰ دَ هغے نفی اوکړله په دے جملے
سره او صاحب اللباب لیکلی دی چه په دے جمله ذکر
کولو کښ (اګرچه دَ دے نفی بدیهی ده) فائده دا ده
چه په دیکښ تهکم (مسخره کول) دی په منکرینو دَ
نبوت دَ نبی صلی الله علیه وسلم پورے یعنی هر کله چه
معلومه ده چه دا نبی امی دے لوستل او دیچا نه ئے
ایزده کول نه دی کړی او نه په هغه موقع یا ندے حاضر
وؤ نو متعین شوه چه علم دَ دهٔ په دے واقعاتو باندے
په ذریعه دَ وحی الهی سره دے نو دا یقینی دلیل دے دَ
اثبات دَ نبوت دَ هغه دَ پاره او داسے مضمون په سوره یوسف
۱۰۲، او سوره قصص ۴۴، ۴۵، ۴۶ کښ هم راغلی دے او
او دَ دے وجه دَ ذکر کولو دا ده چه یهودیانو او نصاراؤ دغه
واقعات پټ ساتلے وؤ نو الله تعالیٰ دَ آخری نبی په واسطے
سره ښکاره کړل ځکه دَ دهٔ صفت په سوره مائده ۱۵ کښ
(يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيْرًا مِمَّا كُنْتُمْ تُخْفُوْنَ مِنَ الْكِتٰبِ) دے.
أَقْلَامَهُمْ، په روایت دَ ابن جریر سره دَ عکرمه نه نقل ده
چه هغه قلمونه مراد دی چه دوی په هغے سره تورات
لیکلو او دَ دے نه ازلام مراد نه دی لکه چه ابومسلم وئیلی
دی ځکه چه هغه دَ جاهلیت والو طریقه وه او پدغه روایت
کښ ذکر دی چه قلمونه ئے روانو (جاری) اوبو ته
اوغورځول او دوی اوئیل چه دَ چا قلم په اوبو کښ په خپل
ځائے باندے اودریدلو یا دَ اوبو په برِه طرف باندے
روان شو نو هغه به کفالت دَ مریم علیها السلام کوی او

إِذْ قَالَتِ الْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ

کوم وخت چه أویل ملائکو اے مریم

إِنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ

یقیناً الله تعالیٰ زیرے درکوی تاته په یو کلمے دطرف دَ الله تعالیٰ نه

اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ

نوم دَ هغه مسیح عیسیٰ ځوئے دَ مریم دے

وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ

مخوریز دے په دنیا او په آخرت کښ

وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿۴۵﴾

او دَ نزدے کړے شوؤ نه دے۔

ظاهر داده چه دا دوی ته په وحی سره معلوم شوے وه۔ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ ، دا مبتدا او خبر په ځائے دَ نصب کښ دے دَ پاره دَ فعل پټ دے چه يَقُولُونَ يا لِيَعْلَمُوا دے۔ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ، غوره داده چه مراد دَ اختصام نه دَ دوی دَ هر يو رغبت کول وؤ په کفالت دَ مريم کښ۔ دَ دے وجے نه چه هغه دَ دوی دَ امام لور وه او په خرق عادت طریقے سره قبوله شوه۔ او فیصله ئے مقدم ذکر کړله په اختصام باندے دَ قبیلے دَ تقدیم دَ اَهم نه په غیر اهم باندے۔ او دَ دے آیت په تفسیر کښ قرطبی مسئله دَ قرعه (خسنړی اچولو) په حکم دَ شرع کښ په تفصیل سره لیکلے ده او امام بخاری باب القرعه فی المشکلات کښ دا آیت په دلیل کښ لیکلے دے۔

ف۴۵ : إِذْ قَالَتِ الْمَلَٰٓئِكَةُ ، دَ دے آیت نه عبدیت دَ عیسیٰ علیه السلام په تفصیل سره ذکر کوی او دَ هغے دَ پاره ئے پنځویشت وجوه ذکر کړیدی۔ او دا دَ سره

کلام دے یا بدل دے دَ وَاِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ نه چه په ۴۲ کښ ذکروؤ او په مینځ کښ جمله معترضه ده او وجه دَ ترتیب ئې داده چه په ۴۲ کښ بشارت دَ مریم علیها السلام ذکر شو په اصطفاء او تطهیر او په امر دَ عبادت سره ستو هغه تمهید او مقدمه ده دَ پاره دَ بشارت په یو امرِ خارق للعادت (نا آشنا کار) سره چه پیدائش دَ ولد دے بغیر دَ نارینه دَ لریدلو دَ هغې سره - اَلْمَلٰٓئِكَةُ، دا جمع ده مراد ترینه جبرئیل علیه السلام دے په دلیل دَ سوره مریم ۱۷ سره او کیدیشی چه دَ جبرئیل علیه السلام سره په دغه وخت کښ نور ملائک هم وؤ-

اِنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكِ، په دے آیت کښ دَ عبدیت دَ عیسٰی علیه السلام شپږ وجے دی-

بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ، مراد دَ کلمے نه عیسٰی علیه السلام دے په دلیل دَ روستو کلماتو سره او تعبیر ترینه په دے لفظ سره دَ دے وجے نه کړیدے چه په کلمه دَ كُنْ سره (بغیر دَ واسطے دَ ناریتو نه) پیدا کړے دے او قتاده وئیلی دی چه دَ عیسٰی علیه السلام په باره کښ وعده ذکر ده په تورات کښ نو هغې ته ئې کلمه اوئیله - یا دَ دے وجے نه چه دے هر وخت کلمے دَ توحید ته دعوت ورکوؤنکے دے یا مراد دَ دے نه بشارت ورکول دَ ملائکو دی مریم علیها السلام ته - مِنْهُ، مِن دَ پاره دَ تبعیض نه دے بلکه دَ پاره دَ ابتداء غایه دے یعنی دا کلمه صادر وه دَ طرف دَ الله تعالٰی نه (اللباب)-

اِسْمُهُ، ضمیر دَ مذکر كَلِمَة ته راجع دے په اعتبار دَ معنٰی دَ هغې سره چه ولد دے - او لفظ دَ اِسم عام دے عَلَم (ذاتی نوم) او صفت، اسم کنیت او لقب ټولو ته شامل دے او روستو دا درے واړه ذکر دی لقب (المسیح) عَلَم (عیسٰی) کنیت (ابن مریم) - په لفظِ

مسیح کښې دوه وجوه دی اول دا چه دا عبرانی لفظ دے
عربۍ ژبې ته نقل کړیده یا عربي لفظ دے او چه
عربي شي نو په دیکښې دوه وجوه دی اول دا چه دا وزن
دَ فعیل په معنیٰ دَ مفعول دے دویم دا فعیل په معنیٰ
دَ فاعل سره دے۔ بِنا په اول قول دا په اصل کښې
مسیحا دے په معنیٰ دَ مبارک سره دے او بِنا په دویم
قول چه مسیح په معنیٰ دَ ممسوح شي نو په دے کښې
ابوحیان او قرطبي اووه وجوه ذکر کړے دی چه ۱
مسح کړے شوے په برکت سره ۲ یا په خاص تیلو سره۔
۳ پاک کړے شویدے دَ ګناهونو نه ۴ مسح کړے شوے
دے په وزر دَ جبرئیل علیه السلام سره ۵ قدم (دَ خپے
تلے) ئې هموار وو۔ ۶ په خائست سره۔ ۷ پاک کړے شوے
دَ کنډګو دَ نورو بچو نه چه حیض او نفاس دَ میندو وی۔
او بِنا په دریم چه مسیح په معنیٰ دَ فاعل شي نو په هغې
کښې پنځه وجوه دی ۱ مسح کوونکے دَ آفاتو دَ بدن
وو په خیل لاس سره نو هغه به جوړ شو۔ ۲ مسافتونه
دَ زمکے (په سفر سره) قطع کوونکے وو۔ ۳ سیاحت کوونکے
وو۔ ۴ صِدیق دے۔ ۵ بادشاه دے۔ او لقب ئې ځکه
مخکښې راوړو چه هغه دَ عَلَم (عیسیٰ) نه ډیر مشهور وو
(ابن انباری) - او دجال ته هم مسیح وئیلے شي لیکن دَ
هغې معنیٰ دا ده چه یوه سترګه ئې مسح کړے شویده۔
عِیْسَی ، په عبرانۍ کښې هغه ته ایسوع یا یسوع وئیلی
شي - او په عربۍ ژبه کښې ماخوذ دے دَ عاس یعوس نه
په معنیٰ دَ سیاست او انتظام کولو سره نو دواړه لغتونه
یو بل سره موافق دی۔
اِبْنَ مَرْیَمَ ، دا اسم کنیت دے هر کله چه پلار ئې نه وو
نو مشهور شو په نسبت کولو سره مور ته او دا خصوصیت
دَ عیسیٰ علیه السلام دے۔

وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ

او خبرے به کوی دَ خلقو سره په غیږ دَ مور کښې

وَكَهْلًا وَّمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۴۶﴾

او په پوخ عمر کښې او دَ پوره نیکانو نه به وی۔

وَجِيْهًا فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ، وجیه یعنی خاوند دَ مرتبے دے (ابن قتیبه) محبوب او مقبول دے (ابن درید) شریف دے او خاوند دَ قدر او مرتبے دے (اخفش) مخوریز دے په خلقو کښې۔ نو وجاهت دَ عیسیٰ علیه السلام په دنیا کښې په اعتبار دَ نبوت او په معجزاتو او په طاعت او په اوچت شان سره دے او په بچ کولو سره دے دَ قتل او صلیب نه۔ او په آخرت کښې په اوچت والی دَ مرتبے او شفاعت کولو دے او خاوند دَ لوئے درجاتو دے په جنت کښې۔

وَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ، یعنی مُقَرَّبًا مِّنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ، او په دیکښې اشاره ده چه مقربین نور خلق هم شته لکه ملائک مقربین او مؤمنان مقربین۔ او مقرب والے دَ عیسیٰ علیه السلام په ډیرو وجوهو سره دے آسمان ته پورته کول۔ ملګرتیا دَ ملائکو کښې ساتل۔ په جنت کښې په اوچته مرتبه کښې ساتل۔

سـ۴۷ :- په دے آیت کښې درے امور دَ عبدیت دَ عیسیٰ علیه السلام ذکر کوی چه تعلق لری تیرېدلو دَ زمانے سره په هغه بانډے او په طریقه دَ خرقِ عادت سره۔

وَيُكَلِّمُ النَّاسَ ، دا عطف دے په وجیها بانډے۔

فِي الْمَهْدِ ، هغه کلام په سوره مریم کښې دَ بـ۳۰ نه تر بـ۳۲ پورے ذکر دے او په هغه کلام کښې تفصیل دے دَ عبدیت دَ هغه په ذکر دَ دیارلس حالاتو سره۔

مَهْدًا دا ماده په قرآن کښې شپاړس کرته ذکر ده

دلالت کوی په تیا رولو دَ آرامګاه باندے۔ په دیکښې شپږ کرته دَ جهنم دَپاره ذکر شوید ے په طریقه دَتهکم او استهزاء سره او په صفت دَ زمکه کښې شلور کرته ذکر دے او په صفت دَ جنت کښې یو کرت ذکر دے او په مالونو دَ دنیا کښې دوه کرته ذکر دے او په پاره دَ عیسٰی علیه السلام کښې درے کرته ذکر دے۔ او مهد په عرف کښې ځائے دَ سملاستلو دَ وړوکی ته وئیلے شی په حال دَ پئ روولو کښې (قرطبی ابوحیان) او صاحب اللباب وائی چه هغه ځائے چه دَ وړوکی دَ تربیت دَپاره تیار کړے شوے وی او دا مصدر دے په معنیٰ دَ مکان یا ظرف مکان دے نو مهد دَ بچی دَپاره اول غیر دَ مور ده لکه چه سورۃ مریم کښې دی فَاَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا تَحْمِلُهٗ قَالُوْا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا ، او بیا هغه ځائے چه بچے دَ آرام کولو دَپاره په هغے کښې اچولے کیږی که زانګو وی یا بستره وی او په حدیث دَ بخاری او مسلم کښې ثابت دی چه په وړوکالی کښې درے کسانو خبرے کړے دی عیسٰی علیه السلام او صاحب جریج او صاحب جبار (بخاری کتاب الانبیاء او کتاب التفسیر سورۃ مریم) او دا عدد په حصر سره ذکر کړید ه او په صحیح مسلم کښې په واقعه دَ اصحاب الاخدود کښې هم یو وړوکے ذکر دے لیکن دَ دغے نه علاوه دَ نورو بچو په باره کښې صحیح حدیث ثابت نه دے۔

وَكَهْلًا ، په زمانه دَ کهولت کښې اختلاف دے دوه دیرش یا درے دیرش کلونه او بعضو شلویښت او پنځوس ذکر کړیدی او دیته پوخ عمر وئیلے شی۔ او اکتهال په لغت کښې پورته کیدلو ته وئیلے شی۔کاهل هم پورته شوید ے دَ زمانے دَ شباب نه دَ زمانے دَ کهولت ته۔

سوال :۔ په دا سے حال (دَ کهولت) کښې خو خبرے هر

قَالَتْ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ

اُویل (مریم) اے ربه زما څه رنګ کیدے شي ما ته

وَلَدٌ وَّلَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ ؕ

بچے او هیڅ لاس نه دی لګولی زما سره هیڅ بنده

قَالَ كَذٰلِكِ اللّٰهُ يَخْلُقُ

اُویل (جبریل) دغسے به ئے الله تعالٰی پیدا کوی

مَا يَشَآءُ ؕ اِذَا قَضٰۤى اَمْرًا

څه چه اوغواړی هر کله چه فیصله اوکړی د یو کار د کیدلو

فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۴۷﴾

نو اُوائی هغه ته اوشه نو هغه اوشی

څوک کولے شي نو د دے د ذکر کولو څه فائده ده ؟

جواب ۱ :- ابن جریر وئیلی دی چه دا دلالت کوی چه په عیسٰی علیه السلام باندے په زمانه تیریږی او عمر به ئے د یو حال نه بل حال ته بدلیږی نو دا دلیل دے چه هغه اِلٰه نشی کیدلے ۔

جواب ۲ :- د ابو العباس او حسین بن الفضل او ابن زید نه نقل دی چه مراد په دیکښ دا دے چه دے به په زمانه د کهولت کښ د آسمان نه راکوزیږی او بیا به خلقو سره دینی خبرے کوی او په صحیح احادیثو کښ وارد دی چه دجال به قتل کوی دا قول قرطبی ، امام رازی ، ابوحیان ، صاحب اللباب ، خطیب شربینی ، بیضاوی ، ابو السعود ، سیوطی او آلوسی وغیره ټولو ذکر کړیدے ۔

وَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ، ابن کثیر وئیلی دی چه صلاحیت به وی په قول او عمل د هغه کښ او علم صحیح او عمل صالح به لری ۔ او صلاحیت په اولاد کښ مطلوب دے

لکه په سوره اعراف س۱۹۱ او سوره آل عمران س۳۹ او صافات س۱ و س۱۱۲ کښې.

س۴۷:- قَالَتْ رَبِّ، هرکله چه مریم علیها السلام ته اوئیلې شو چه الله تعالیٰ تاله زیرے درکوی دَدے وجے نه هغې دَ الله تعالیٰ سره خطاب شورو کړو په رَبِّ سره او ابوحیان او زمخشری وئیلې دی چه چا دا وئیلې دی چه دا رَبِّ آواز دے جبرئیل ته په معنیٰ دَ سیدی سره نو دا خطاء دے.
اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ وَلَدٌ، اَنّٰى دَپاره دَ تعجب دے په اعتبار دَعادت سره نه په اعتبار دَ قدرت دَ الله تعالیٰ سره او دَ تاکید دَ تعجب دَپاره اوئیل چه وَلَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ، لاس نه دی راوړی ما ته هیڅ بنده په نکاح او نه په زنا سره او بغیر دَ نارینه دَیوځائے کیدو نه دَ ولد پیدا کیدل دَ عادت نه خلاف دی. یا اَنّٰى په معنیٰ دَ کیف دے لکه په واقعه دَ زکریا علیه السلام کښې چه دی یعنی آیا نکاح به کوؤم یا به په قدرت دَ الله تعالیٰ سره پیدا کیږی. بَشَرٌ، په دے لفظ کښې مفرد او تثنیه او جمع او مذکر مؤنث ټول برابر دی.
قَالَ كَذٰلِكِ اللّٰهُ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ یعنی اَنْتِ كَذٰلِكِ، (ته به دغه شان یئے بغیر دَ نزدیکت دَ نارینه نه).
يَخْلُقُ، په قصه دَ زکریا علیه السلام کښې یئے يَفْعَلُ وئیلې وو او دلته يَخْلُقُ ځکه چه هغه واقعه ډیره ناآشنا نه وه عام عادت ته نیزدے خبره وه او دا واقعه خو دَ عادت نه ډیره لرے ده نو ډیره عجیبه او ناآشنا ده.
اِذَا قَضٰى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ، دَدے جملے تفسیر په سوره بقره کښې تیر شویدے یعنی اراده دَ الله تعالیٰ پوره کول هیڅ سبب ته حاجت نه لری. فَيَكُوْنُ کښې هُوَ ضمیر محذوف دے او هغه مبتدا ده.

وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ

او خودنه به کوی دی ته دَ کتاب او دَ سنت

وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ﴿۴۸﴾ وَرَسُوْلًا

او دَ تورات او دَ انجیل او گرځوی به ئے رسول

اِلٰى بَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ اَنِّىْ

بنی اسرائیلو ته روائی به ئے چه بیشکه

قَدْ جِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۙ

راوړی دی ما تاسو ته معجزات ستاسو دَ رب دَ طرف نه

اَنِّىْٓ اَخْلُقُ لَكُمْ مِّنَ الطِّيْنِ

چه بیشکه څه جوړوم تاسو لره دَ خټو نه

۴۸: په دے آیت کښ دَ هغه دَ عبدیت شپږ وجوه نور ذکر کوی چه هغه احتیاج دَ هغه دے په علم او معجزاتو کښ الله تعالیٰ ته او دَ هغه اِذن ته۔

وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ، دا عطف دے په يخلق ما يشاء باندے او دا غوره قول دے په اقوالو کښ۔ تعلیم دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه انبیاء علیهم السلام ته په طریقه دَ وحی سره وی۔ اَلْكِتٰب ، په دیکښ مختلف اقوال دی۔ کتابت یعنی خط کول یا نور نازل شوی کتابو نه چه الله تعالیٰ ته معلوم دی۔ او الف لام په الکتاب کښ جنسی دی یعنی تورات او انجیل او عطف دَ پاره دَ تفسیر دے۔ او حکمت نه مراد سنت دَ انبیاء علیهم السلام دی او درست او برابر اقوال و اعمال ترینه هم مراد دی (البحر المحیط)۔ یا مراد دَ دے نه قرآن او حدیث دی روستو دَ راکوزیدلو دَ عیسیٰ علیه السلام نه په آخره زمانه کښ (جواهر القرآن للشیخ غلام الله خان رحمه الله) او په دیکښ اشاره ده نزول دَ عیسیٰ علیه السلام ته په

كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ فَاَنْفُخُ فِيْهِ

پشان دَ شكل دَ مرغۍ نو پوكے كوم په هغے كښ

فَيَكُوْنُ طَيْرًاۢ بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ

نو شي هغه مرغۍ الوتونكے په حكم دَ الله تعالىٰ سره

وَاُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ

او جوړوم زۀ دَ موره پيدا شوے ړوند او برګي والا

وَاُحْيِ الْمَوْتٰى بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ

او ژوندے كوم مړو لره په حكم دَ الله تعالىٰ لره

وَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَاْكُلُوْنَ وَمَا

او خبر دركوم تاسو ته دَ هغه خوراك چه خورئ په تاسو او هغه خوراك

تَدَّخِرُوْنَ ۙ فِيْ بُيُوْتِكُمْ ۭ اِنَّ

چه ذخيره كوئ تاسو په كورونو خپلو كښ يقيناً

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ

په دے كښ ډير معجزات دي ستاسو دَ رهنمايت) دَپاره كه چرے

كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝۴۹

تاسو ايمان والا يئ -

روستو زمانه كښ او دا پيشنګوئي ده مريم عليها السلام ته لكه چه انجيل هم نه وۀ نازل شوے ليكن پيشنګوئي ئے ورته اوكړه -

۴۹ :- وَرَسُوْلًا اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ، په زور دَ رسولاً كښ ډير وجوه دي اول دا چه فعل پټ دے (وَيَجْعَلُهٗ رَسُوْلًا) - دويم دا چه دا حال دے دَ يُعَلِّمُهٗ دَضمير نه - دريم دلته اُرْسِلْتُ ، لفظ پټ دے ليكن اوله وجه غوره ده - او دا آيت

دلیل دے چه عیسیٰ علیه السلام رسول وؤ بنو اسرائیلو
ته لکه چه په سوره صف ۱۲کښ دی۔
اَنِّیْ قَدْ جِئْتُکُمْ، په دے عبارت کښ تر صراط مستقیم پورے
دوه اقوال دی اول قول دا دے چه دا متعلق دے په رسولاً
پورے په تقدیر دَ باء سره۔ او داخل دے په خطاب دَمریم
علیها السلام کښ۔ دویم قول دا دے چه دلته ادماج دے
یعنی کلام په رسولاً باندے ختم شو او دا کلمات پټ دی
(چه عیسیٰ علیه السلام پیدا شو لکه چه سوره مریم کښ
ذکر دی او بیا ورته وحی شوروع شوه او رسول شو نو بنی
اسرائیلو ته یئے اوئیل) اَنِّیْ قَدْ جِئْتُکُمْ بِاٰیَةٍ، مراد دَ
نه هغه ټول آیات (معجزات) دی چه روستو ذکر دی
یعنی مفرد (اٰیَة) په معنیٰ دَ جمع سره ده۔
اَنِّیْ اَخْلُقُ لَکُمْ مِّنَ الطِّیْنِ، دا اَنِّیْ بدل دے دَ اٰیَةٍ نه یا
دَ مخکښ اَنِّیْ نه۔ اَخْلُقُ، دلته خلق په معنیٰ دَ تصویر
دے (شکل جوړول) لکه په سوره مؤمنون ۱۴کښ دی
لَکُمْ لام اجلیه دے یعنی دَ پاره دَ حصول دَ ایمان ستاسو
کَهَیْئَةِ الطَّیْرِ، اخفش وئیلی دی چه دا کاف اسم دے په
معنیٰ دَ مِثل سره دے او نورو نحویانو وئیلے دی چه دا
حرف دے او صفت دے دَ پټ مفعول دَ پاره یعنی هَیْئَةً
مِثْلَ هَیْئَةِ الطَّیْرِ، اول قول غوره دے ځکه چه ضمیر دَ
فَاَنْفُخُ فِیْهِ کاف ته راجع دے او هغه په اعتبار دَ لفظ
سره مذکر دے او په سوره مائده ۱۱۰کښ ضمیر دَ مؤنث
ذکر دے ځکه چه دلالت کوی په هیئت باندے۔
فَیَکُوْنُ طَیْرًا، مفسرینو لیکلی دی چه بنو اسرائیلو ورته
اوئیل چه موتږ دَ پاره خفاش (ښاپیرک) جوړ کړه ځکه
چه هغه عجیبه خلقت والا دے وزرے شته چه په هغے
سره الوځی لیکن بنړے وریاندے نیشته دے او دارنګ
هغه مرغئ په دَ دوی په مخکښ الوتله اوچه غائب به

شو نو بیا یه پریوتله (بحر محیط)
بِإِذْنِ اللّٰهِ، دا متعلق دے په اَخْلُقُ پورے نو جوړول او پوکے کول او مرغۍ جوړیدل او الوتل ټول په اذن دَ الله تعالیٰ سره وۀ نو دَ دیته دا استدلال نشی کیدلے چه تصویرونه او بُتان دَ حیواناتو جوړول جائز دی ځکه چه دا خاص اذن دَ الله تعالیٰ وۀ عیسیٰ علیه السلام ته او دَ دے وجے نه ئې په سوره مائده کښ باذن الله دَ تخلق سره ذکر کړیدے۔
سوال :- دلته ئې باذن الله دَ اَخْلُقُ سره مستقل ذکر نه کړو؟
جواب :- په سوره مائده کښ مقصد ذکر دَ نعمتونو دَ الله تعالیٰ دے په عیسیٰ علیه السلام باندے په میدان حساب کښ نو هلته ئې باذنی مکرر وئیلے دے او دلته مقصد خو صرف پیشنګوئي کول دی په معجزاتو دَ هغه باندے نو یو کرت باذن الله هم کافی دے چه متعلق دے دَ اخلق سره لکه چه مخکښ ذکر شول۔
دَ اُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ بِإِذْنِ اللّٰهِ، براءت په اصل کښ خلاصیدل دی دَ هغه څیز نه چه بد ګڼړل کیږی او په معنیٰ دَ اکمه کښ ډیر اقوال دی غوره دادے چه مراد دَ دے نه هغه څوک دی چه موړ نه پوند پیدا شی دَ سترګو نظر ئې پوره بند وی۔ زمخشری وئیلی دی چه زمونږ په امت کښ دا سے شخص قتاده (راوی دَ تفسیر) پیدا شوے وۀ۔ وَالْاَبْرَصَ، هغه څوک دے چه مرض دَ برص ورته اورسیږی۔ او ابن عاشور وئیلی دی چه دا جلدی (دَ څرمنے) مرض دے سپین داغونه په څرمن کښ ښکاره شی نو که په څرمن کښ دننه داخل وی دا ابرص دے او که څرمنے سره برابر وی نو دا بهق دے نو دَ بعضے سپینو داغونو چه بعضے حکیمان علاج کوی او جوړشی نو دغه بهق وی او دَ

برص علاج نشي كيدلے۔
تنبيه: الله تعالىٰ په هره زمانه كښ خپلو رسولانو له هغه معجزات وركړيدي چه د هغے زمانے سره مناسب وي لكه قوم د صالح عليه السلام د ګټو نه ختيز ونه جوړول نو الله تعالىٰ ورته د ګټے نه اوښه راويستله چه دوي د هغے نه عاجز شول او د يوسف عليه السلام په زمانه كښ تعبير د خوبونو رواج وو نو الله تعالىٰ هغه له معجزانه علم د تعبير وركړو او د موسىٰ عليه السلام زمانه كښ د سحر د مارانو جوړولو وغيره چرچا وه نو هغه له يے د همسا نه مار جوړ كړو چه خلق تر ينه عاجز شول۔ او د عيسىٰ عليه السلام په زمانه كښ د طبابت چرچه ډيره وه او د يونان حكماؤ به په هغے سره فخر كوؤ نو عيسىٰ عليه السلام له الله تعالىٰ داسے معجزه وركړله چه طبيبان او حكيمان د هغے نه عاجز پاتے شول ځكه چه د اكمه او ابرص علاج نشي كيدلے او په خته او مړي كښ هيڅوك روح نشي اچولے۔ او زمونږ د نبي صلى الله عليه وسلم په زمانه كښ د فصاحت او بلاغت ډيره چرچه وه نو الله تعالىٰ زمونږ نبي صلى الله عليه وسلم له داسے كتاب وركړو چه ټول فصحاء بلغاء د هغه د مقابلے نه عاجز شول (ابن كثير)۔

وَأُحْيِ الْمَوْتَىٰ بِإِذْنِ اللَّهِ، مراد د احياء نه نفخ د روح او جمع كول د اعضاؤ او د ذراتو د بدن د هغه نه دي دا خو په الله تعالىٰ پورے خاص دے بلكه عيسىٰ عليه السلام به دعا او غوختله د الله تعالىٰ نه د يو مړي په باره كښ چه يا الله تعالىٰ دے را ژوندے كړے نو الله تعالىٰ به هغه ژوندے كړو او دا دعا د ده هم په اذن د الله تعالىٰ پورے موقوف وه په دليل د دے لفظ سره چه بِإِذْنِ اللَّهِ۔

وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ

او (راغلے یم) تصدیق کوونکے د هغه کتاب چه مخکښې زما نه (نازل کړے شوے دے)

وَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ، دا معجزه
ده د قسم د انباء بالغیب الصادق نه یعنی رښتنی پیشنګوئی کول
او دا هم معجزه ده په دلیل د اول د دے کلام سره چه قَدْ
جِئْتُكُمْ بِآيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ، او روستو کلام سره او داسے معجزه
د یوسف علیه السلام ذکروه په سوره یوسف ۳۷ کښې او زمونږ
د نبی صلی الله علیه وسلم داسے معجزات خو د شمار نه هم
ډیر دی۔

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِينَ، دا جمله داخل
ده په کلام د عیسیٰ علیه السلام کښې یا دا کلام د الله تعالیٰ
دے او دیکښې تاکید دے چه تیر شوی کارونه معجزات
وو دلیلونه د توحید د الله تعالیٰ او د صدق د رسول د پاره۔

إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِينَ، تعلیق په دے شرط پورے د دے
وجے نه دے چه مراد په آيَةً سره آیتِ نافعه دے او
نفع اخستلو د پاره ایمان شرط دے یا إِنَّ په معنیٰ د
اذ سره دے۔

فائده :- دغه معجزات ئے په صیغه د فعل مضارع سره
ذکر کړیدی اشاره ده چه دا یو کرت نه وو بلکه داسے د
عیسیٰ علیه السلام نه ډیر ځلے صادر شوی وو۔ او هر کله
چه أَخْلُقُ لَكُمْ کښې اعجاز ډیر وو په نسبت د أُبْرِئُ الأكمه
سره نو بِإِذْنِ اللَّهِ ئے د اول سره ذکر کړو او دویم ئے
په هغے باندے قیاس کړو دا رنګ أُحْيِ الْمَوْتَىٰ کښې اعجاز
ډیر وو په نسبت د أُنَبِّئُكُمْ، سره نو دلته هم د اول
سره ئے بِإِذْنِ اللَّهِ ذکر کړو او دویم سره ئے مقائیسنا
پریخودلو د اختصار د کلام او د بلاغت د پاره۔

مِنَ التَّوْرٰىةِ وَلِاُحِلَّ لَكُمْ

چه تورات دے او چه حلال کړم (په بیان سره) تاسو ته

بَعْضَ الَّذِیْ حُرِّمَ عَلَیْكُمْ

بعض هغه څیزونه چه حرام کړے شوے دی په تاسو باندے

وَجِئْتُكُمْ بِاٰیَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ قف

او راوړے دی ما تاسو ته ډیر معجزات ستاسو د رب د طرف نه،

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوْنِ ﴿۵۰﴾

نو ویره او کړئ د الله تعالیٰ نه او زما خبرے او منئ۔

ف۵ :۔ په دے آیت کښ د عبدیت د عیسیٰ علیه السلام درے وجوه دی د پاره د رد په نصاراؤ باندے او د صدق د رسالت د هغه د پاره هم درے وجوه دی۔

وَمُصَدِّقًا ، دا عطف دے په رسولًا باندے یا جِئْتُكُمْ لفظ پټ دے او عطف دے په معنیٰ د مخکښ کلام باندے یعنی د نزول د انجیل نه مخکښ پوره عمل کوونکے وو په تورات باندے۔ او د نزول د انجیل نه روستو بعضے احکام د تورات منسوخ شول لیکن تصدیق په اعتبار د ایمان لرلو سره په هغے باندے باقی پاتے دۀ۔

وَلِاُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِیْ حُرِّمَ عَلَیْكُمْ ، دا عطف دے په معنیٰ د مصدقًا باندے ځکه چه هغه په معنیٰ د لِاُصَدِّقَ سره دے او نسبت د تحلیل عیسیٰ علیه السلام ته په طریقه د بیان کولو دے په طور د رسالت سره د طرف د الله تعالیٰ نه ځکه چه رسول پخپل اختیار سره تحلیل او تحریم نشی کولے۔

بَعْضَ الَّذِیْ حُرِّمَ عَلَیْكُمْ ، په دیکښ د مفسرینو دوه اقوال دی اول دا چه په تورات کښ بعضے کارونه چه

حرام کړے شویوؤ په بنی اسرائیلو باندے نو په انجیل کښ
هغه منسوخ شول او حلال کړے شول او هغه داسے خیزونه
وؤ چه حرام کړے شویوؤ په سبب دَ گناهونو دَ دوی لکه
اوښان، بطه، شتر مرغ او بعضے اقسام دَ وازدے داسے
په سورة انعام سـ۱۴۶ کښ ذکر دی۔
سوال :۔ مصدقًا خو دلالت کوی چه په پوره تورات باندے
عیسٰی علیه السلام عمل کوؤ او دا جمله دَ هغے نه په
خلاف باندے دلالت کوی ؟
جواب لهٔ: مخکښ ذکر شول چه تصدیق دلته په دوه معانو
سره دے او په هغے سره دَ دے اعتراض جواب کیدے شی۔
دویم قول مراد دَ دیته هغه خیزونه دی چه ناکاره احبارو
(ملا یانو) په دوی باندے بے دلیله حرام کړے وؤ نو
دَ هغے عیسٰی علیه السلام تردید اوکړو او دوی ته ئے
دَ هغے تحلیل بیان کړو لیکن په دے توجیه باندے
سوال دے چه په دے قول سره خو لفظ کل ذکر کول
پکار وؤ دَ دے اول جواب دادے چه کله کله بعض په
معنیٰ دَ کل سره راځی دَ قرینے په وجے سره۔
جواب ۲: ناکاره ملا یانو دوه قسمه خیزونه حرام کړی وو
یو قسم هغه چه په دلیل سره وؤ او دویم قسم هغه چه
بغیر دَ دلیل نه وؤ نو دا روستنی بعض شول په نسبت
دَ کل سره۔

دَ جِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ، ابوحیان وئیلی دی چه دا
جمله په طور دَ تاسیس سره ده دَ دوه وجو نه
اوله وجه داده چه مخکښ دَ اٰیَةٍ نه مراد په هغه
معجزات ووچه مخکښ ذکر شول او دلته دَ اٰیَةٍ نه مراد
روستو جمله ده (فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوْنَ)۔
دویمه وجه، دَ مخکښ آیت نه مراد هغه معجزات وؤ
چه مخکښ ذکر شول او دَ دے آیت نه مراد انجیل دے

إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ

یقینًا الله تعالیٰ زما رب دے او ستاسو رب دے نو هغه لره بندګي خاص کړئ

هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ (۵۱)

دا لاره نیغه ده۔

چه عیسیٰ علیه السلام باندے نازل شو او فَاتَّقُوا اللَّهَ وَ أَطِيعُونِ دَ انجیل دَ مضمون خلاصه ده۔ په اوله جمله کښ توحید او رد دَ ټولو اقسامو دَ شرک مراد دَ دے۔
وَأَطِيعُونِ، کښ صدق دَ رسالت او اتباع دَ سنت مراد ده او دا دواړه جملے دَ ټولو انبیاء علیهم السلام نه نقل دی لکه په سوره شعراء په ۱۰۸، ۱۱۰ کښ دَ نوح علیه السلام نه. په ۱۲۶، ۱۳۱ کښ دَ هود علیه السلام نه تر ۱۴۴، ۱۵۰ کښ دَ صالح علیه السلام نه۔ په ۱۶۳ کښ دَ لوط علیه السلام نه۔ ۱۷۹ کښ دَ شعیب علیه السلام نه۔ او په سوره زخرف ۶۳ کښ دَ عیسیٰ علیه السلام نه۔ او په سوره نوح ۳ کښ دَ نوح علیه السلام نه او سوره تغابن ۱۶ کښ دَ آخری رسول نه نو دعوت دَ توحید او اتباع دَ رسول دَ ټولو رسولانو اجماعی مسئله ده۔
۵۱ :- دا علت دے دَ فَاتَّقُوا اللَّهَ دَ پاره دَ دے وجے نه بغیر دَ عطف نه ئے ذکر کړے دے او په دے کښ دَ عبدیت دَ عیسیٰ علیه السلام یو وجه ذکر ده او صریح رد دے په نصارا باندے چه هغوی عیسیٰ او مریم علیهما السلام په الوهیت کښ دَ الله تعالیٰ سره شریک جوړ کړے دی۔ او په دے آیت کښ توحید دَ ربوبیت ذکر دے په إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ سره او توحید دَ عبودیت (الوهیت) ذکر دے په فَاعْبُدُوا سره او دا جمله دَ عیسیٰ علیه السلام نه نقل ده په سوره مریم ۳۶ او سوره زخرف ۶۴ کښ۔ او دَ دے پشان په

فَلَمَّآ اَحَسَّ عِيْسٰى مِنْهُمُ

نو هر كله چه بنه معلوم كړو عيسٰى عليه السلام دَ دوى نه

الْكُفْرَ قَالَ مَنْ اَنْصَارِیْٓ

كفر كول اُويل ئے څوك دى ما سره مرسته كوونكى

اِلَى اللّٰهِ ؕ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ

دَ الله تعالىٰ دَ پاره اُويل مخلصانو ملګرو

نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ۚ

موږ مرسته كوؤ دَ الله تعالىٰ (دَ دين) ايمان راوړے دے موږ په الله تعالىٰ باندې

وَاشْهَدْ بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿۵۲﴾

او ته ګواه شه په دے خبره چه موږ تابعداری كوونكے يو۔

سوره مائده ۱۱ كښ۔ او تفريع دَ قاعده وا په مخكښ جمله باندے دلالت كوى چه توحيد دَ ربوبيت مستلزم دے توحيد دَ عبوديت لره او توحيد دَ عبوديت تفريع او لازم دے دَ توحيد دَ ربوبيت سره۔

هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ، هذا اشاره ده مجموعه دَ مخكښ جملے ته يعنى توحيد دَ ربوبيت او الوهيت مجموعى طور سره صراط مستقيم دے۔

۵۲ :۔ په ماقبل آياتو كښ صفات دَ عبديت دَ عيسٰى عليه السلام سره دَ صفاتو دَ رسالت دَ هغه ته ذكر شول اوس ذكر كوى مجاهده دَ هغه او دَ ملګرو دَ هغه دَ پاره دَ دعوت دَ توحيد او دَ رسالت دَ هغه دَ دے وجے نه ئے دلته فاء ذكر كړه په فَلَمَّآ اَحَسَّ سره يعنى روستو دَ دعوت دَ هغه ته بنو اسرائيل دوه ډلے شول يو ډلے پوره دشمنى او كفر ښكاره كړو او بله ډلے دَ هغه دَ نصرت اعلان اوكړو۔ اوله ډله مشهوره شوه په يهوديانو سره او دويمه مشهوره

شوه په نصاراؤ سره ، اَحَسَّ ، احساس علم حاصلیدل دی
په حواسو سره یعنی په سترګو سره ئې دَ هغوی مخالفت کول
اُولیدل او په غور ونو سره ئې دَ هغوی نه دَ دشمنئ خبرے
واوریدلے چه هغه سبب شو دَ پاره دَ طلب دَ ملګرتیا دَخلقو
په ایمان او په دین کښ په اخلاص سره نو ځکه ئې
قَالَ مَنْ اَنْصَارِیْٓ اِلَی اللّٰهِ ، دلته مراد دَ نصرت نه مرسته
او ملګرتیا کول دی - مجاهد وئیلی دی چه مراد دا دے
چه څوک څما تابعداری کوی (ابن کثیر) - اودا نصرت
دَ بندګانو وی دَ یو بل سره او مقصد په دیکښ اظهار دَ
دعوت دَ توحید او بچ کیدل دی دَ شر دَ قوم نه - او دَ
دے نصرت ارمان کړے وو لوط علیه السلام لَوْ اَنَّ لِیْ
بِکُمْ قُوَّةً اَوْ اٰوِیْٓ اِلٰی رُکْنٍ شَدِیْدٍ ، اِلَی اللّٰهِ ، فراء
وئیلی دی چه الی په معنیٰ دَ مع دے یعنی چه نصرت
خپل یو ځائے کړی دَ نصرت دَ الله تعالیٰ سره - زمخشری
وئیلی دی چه متعلق دَ الیٰ پټ دے یعنی ذاهبًا الی الله ،
او حسن بصری وئیلی دی الی په معنی دَ فی دے یعنی
فی سبیل الله - او فارسی وئیلی دی چه اِلیٰ په معنی
دَ لام سره دے (اللباب) -
قَالَ الْحَوَارِیُّوْنَ ، حواریون جمع دَ حواری ده په دیکښ
دوه اقوال دی اول قول دا دے چه دَ حور نه اخستلے
شوے دے په معنیٰ دَ اخلاص او دَ خیری نه پاکیدلو
او سپین والی سره دے او دَ دے وجے نه جامو وینځلو
نه هم وئیلی شی او په عرف کښ حواری مخلص مدد کوونکی
ته وئیلے شی لکه چه په حدیث دَ بخاری (کتاب الجهاد)
کښ دی اِنَّ لِکُلِّ نَبِیٍّ حَوَارِیًّا وَحَوَارِیَّ الزُّبَیْر - ملګرو
دَ عیسیٰ علیه السلام ته حواریون ځکه او ئیلے شو چه
دوی به جامے وینځلے یا دَ دے وجے نه چه ډیر په سخت
وخت کښ دَ هغه سره دَ نصرت کولو اعلان ئې کړے وو

رَبَّنَآ اٰمَنَّا بِمَآ اَنۡزَلۡتَ وَاتَّبَعۡنَا

اے ربه زمونږ ایمان راوړے مونږ په هغه څه چه تا نازل کړدی او تابعداری کړے ده مونږ

الرَّسُوۡلَ فَاكۡتُبۡنَا مَعَ الشّٰهِدِيۡنَ ﴿۵۳﴾

د رسول نو اولیکه مونږه د ګواهی کوؤنکو (د توحید او رسالت) سره۔

نو زړونه د دوی پاک وو د ضد او عناد نه۔ بل قول دا دے چه حواریون د حَارَ يَحُوۡرُ نه اخستلے شویں ے په معنیٰ د رَجَعَ سره نو دوی رجوع کوؤنکی وو الله تعالیٰ ته۔

نَحۡنُ اَنۡصَارُ اللّٰهِ، مضاف پټ دے یعنی اَنۡصَارُ نَبِيِّهٖ وَدِيۡنِهٖ۔

اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَاشۡهَدۡ بِاَنَّا مُسۡلِمُوۡنَ، دا تفسیر دے د نصرت د امت د خپل نبی سره یا علت دے د پاره د ما قبل ځکه ایمان بالله سبب دے د پاره د نصرت د دین۔

مُسۡلِمُوۡنَ، دا دلیل دے چه د عیسیٰ علیه السلام هم دین اسلام وو۔ اسلام چه د ایمان سره ذکر شی نو مراد دا دے چه مونږ ایمان د زړه سنکاره کوؤ په ژبه او په اندامونو او په علمونو او نصرت او جهاد کولو سره۔

س ۵۳:۔ روستو د اقرار د ایمان او اسلام نه تضرع کوی الله تعالیٰ ته۔

رَبَّنَآ اٰمَنَّا بِمَآ اَنۡزَلۡتَ وَاتَّبَعۡنَا الرَّسُوۡلَ، مراد د الرسول نه عیسیٰ علیه السلام دے۔ ایمان او اتباع د رسول ئے په طور د وسیلے سره ذکر کړو او دعا ئے دا ده چه

فَاكۡتُبۡنَا مَعَ الشّٰهِدِيۡنَ، مراد د دے نه امت د محمد صلی الله علیه وسلم دے لکه چه سوره بقره س ۱۴۳ کښ ذکر دی یا مراد د دینه انبیاء علیهم السلام دی یا هر هغه څوک چه شهادت ئے کړے دے په توحید او په انبیاؤ باندے او په دے بیان کښ تفصیلی رد دے په نصاراؤ د نجران باندے یعنی د دوی مشرانو د اسلام

وَمَكَرُوْا وَمَكَرَ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ

او پټه جرګه اوکړی دوی (د هغه د قتل کولو) او الله تعالی پټ چل اوکړ د هغه د بچ کولو او الله تعالی

خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ﴿۵۴﴾

غوره د چل جوړوونکو ته دے۔

اقرار کړے دے او د آخری امت سره د ملګرتیا مطالبه ئے کړیده او نصاراؤ د نجران او اوسنی نصاریٰ د خپلو اسلافو خلاف کوی۔

ت۵۴:۔ مکر په لغت کښ ستر (پټولو) ته و ئیلے شی او احتیال او خداع (دهوکے) ته هم وئیلے شی او هر پټ تدبیر ته هم وئیلے شی او مکر دوه قسمه دے اول قسم محمود دے چه په هغے سره د ښهٔ کار اراده اوکړیشی لکه په صفت د الله تعالیٰ کښ چه ذکر دے۔ دویم مذموم دے چه په هغے سره د فساد او بد کار اراده اوکړیشی لکه مکر د بندګانو او ماده د مکر په قرآن کریم کښ درے خلویښت کرته ذکر ده او دا په ډیرو وجوهو سره ده اوله وجه مکر په معنیٰ د پټے جرګے کولو د پاره د فساد کولو او د عیب وئیلو د پاره په بل چا باندے لکه په سوره یوسف ت۳۱ اعراف ت۱۲۳ کښ دی۔ دویمه وجه ګمراهی او شرک ته دعوت ورکول لکه په سوره نوح ت۲۲ او سبا ت۳۲ کښ۔ دریمه وجه خیرے او دعاء شر کول لکه سوره فاطر ت۴۳ کښ۔ څلورمه وجه طعن او اعتراض کول په آیاتونو د الله تعالیٰ باندے لکه سوره یونس ت۲۱ کښ۔ پنځمه وجه ګناه هو ته کول لکه نحل ت۴۵، او یونس ت۲۱ کښ۔ شپږمه وجه پټ پټ چلو ته جوړول او حیلے کول د بل چا د ضرر ورکولو د پاره لکه سوره یوسف ت۱۰۲ کښ۔ او دا معنیٰ خو ډیره استعمال ده۔ اوومه وجه نسبت کول الله تعالیٰ ته هغه په معنیٰ د عذاب پټ سره لکه په سوره اعراف ۹۹ کښ او په معنیٰ د پټ تدبیر

إِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيسٰى إِنِّي مُتَوَفِّيكَ
په هغه وخت چه اُویل الله تعالیٰ اے عیسیٰ یقیناً زهٔ تا پوره اخلم

وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِينَ
او تا خان ته پوره راولم او پاکوم تا لره دَ هغه کسانو نه چه

كَفَرُوا وَجَاعِلُ الَّذِينَ اتَّبَعُوكَ
کفر یَے کړے دے او گرځوم هغه کسانو لره چه ستا تابعداری یَے کړے ده

فَوْقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ يَوْمِ
پورته دَ هغه کسانو نه چه کفر یَے کړے دے تر ورځ دَ

الْقِيٰمَةِ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ
قیامته پورے بیا په ما طرف ته ستاسو راگرځیدل دی

کولو دَ پاره دَ بیچ کولو لکه سوره نمل ۵۰ او په دے آیت کښ۔ نو دلته معنیٰ دَ مَکَرُوا، دا ده چه دوی پټه جرگه اوکړله دَ عیسیٰ علیه السلام دَ قتل کولو دَ پاره یا یَے چل ول جوړ کړو دَ پاره دَ قتل کولو لکه چه دا قرطبی او ابن کثیر وغیره ذکر کړے دی یا یَے طعنو ته اوټیل او تکذیب یَے اوکړو دَ عیسیٰ علیه السلام چه دے مفسد او دروغژن دے پادشاه ته یَے داسے شکایت اوکړو یا یَے دعوت شور وکړو گمراهیٔ او مخالفت دَ عیسیٰ علیه السلام ته دا ټولے معانی صحیح دی خو اوله معنیٰ غوره ده۔

وَمَكَرَ اللّٰهُ، یعنی الله تعالیٰ پټ تدبیر اوکړو دَ هغه دَ بیچ کولو دَ پاره یعنی ژوندی یَے پورته کړو اسمان ته لکه روستو آیت کښ ذکر دی۔

وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِينَ، داسے په سوره انفال ۳۰ کښ هم ذکر دی په واقعه دَ بیچ کولو دَ آخری نبی صلی الله علیه وسلم کښ دَ شر دَ اهلِ مکه نه۔ قرطبی لیکلی دی چه دا په نومونو دَ الله تعالیٰ کښ شمار دے او داسے دعا جائز ده چه یا خیر

فَاَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيْمَا كُنْتُمْ

تو فیصله به اوکړم په مینځ ستاسو کښې په هغه خبرو کښې چه تاسو

فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۵۵﴾

په هغې کښې اختلاف کوئ -

الْمَاكِرِيْنَ اُمْكُرْلِيْ ، او په دعا د نبي صلى الله عليه وسلم کښې ثابت ده اَللّٰهُمَّ اُمْكُرْلِيْ وَلَا تَمْكُرْ عَلَيَّ ، -

ف۵۵ :- دا متعلق دے دَ مکر الله سره یعنی ذکر دے دَ پټ تدبیر دَ الله تعالیٰ دَ بچ کولو دَ عیسیٰ علیه السلام دَ پاره دَ قتل کولو یا صلیب بانډے خیژولو دَ دشمنانو نه - يَا عِيْسٰى ، دا خطاب دَ استیناس دے دَپاره دَ تسلئ ورکولو هغه ته په څلورو بشارتونو سره (چه روستو ذکر دی) - او هر کله چه په دے آیت کښې حفاظت دَ عیسیٰ علیه السلام مقصود وو دَ هغه په الوهیت او ابنیت بانډے رد کول مقصد نه دے دَ دے وجے نه دلته ئے ورسره ابن مریم نه دے ذکر کړے او کوم ایاتو کښې چه رد په الوهیت او ابنیت دَ هغه بانډے مقصد وی نو هلته ابن مریم ذکر وی - اول بشارت اِنِّيْ مُتَوَفِّيْكَ ، په دیکښې دَ مفسرینو مختلف اقوال نقل دی اول دا چه ستا عمر پوره کوونکے یم ، دویم قول دا چه مړ کوونکے یم تا لږه او بیا په دیکښې درے اقوال دی اول قول دَ وهب دے چه درے ساعاته ئے مړ کړو بیا ئے ژوندے کړو او پورته ئے اوخیژولو - دویم قول دَ محمد بن اسحاق دے چه اووه ساعاته ئے مړ کړو بیا ئے ژوندے کړو او پورته ئے کړو - دریم قول دَ ربیع دے چه اوده ئے کړو او آسمان ته ئے اوخیژولو - څلورم قول په متوفیك کښې دا دے چه دَ شهواتو انسانیو نه دِ خالی کوؤم او دَ ملائکو پشان دِ کرځوم او آسمان کښې درله ژوند دَ ملائکو سره درکوؤم - پنځم پوره دِ قبض کوؤم یعنی بدن سره دَ روح نه او پوره دِ آسمان ته خیژوم -

شپږم کرځوم دِ پښان دَ وفات کړے شوی چه یږ مکه ئے
اثر پاتے نشي - اووم ستا عملونه پوره کووُم - دا اقوال
اللباب او بحر المحیط وغیرِه ذکر کړی دی. لیکن صحیح
په دیکښ پنځم قول دے چه پوره قبض کووم تا لره دَ
ځمکے نه او آسمان ته دِ پوره پورته کووُم بغیر دَ مرګ
یا خوب را اوستلو نه او دَ دے تحقیق روستو ذکر کیږی.
دویم بشارت وَرَافِعُكَ اِلَیَّ ، رفع په حقیقت کښ نقل
دَ یو څیز دے دَ ځکته نه بره طرف ته او په حدیث
صحیح دَ معراج کښ ذکر دی چه نبی صلی الله علیه
وسلم دَ هغه سره په دویم آسمان کښ ملاقات کړے دے.
او اِلَیَّ په معنیٰ حقیقی سره دے ځکه چه الله تعالیٰ پورته
دے لکه چه نور سکاره دلیلونو سره ثابت دی رفوق او
علو او استوا په عرش باندے دا دَ هغه صفاتِ حقیقیه
دی بغیر دَ تشبیه او تمثیل او تحریف او تاویل نه او
دا مذهب دَ سلف صالحینو دے) - او عطف دَ رَافِعُكَ
په ما قبل باندے په طریقه دَ عطف تفسیر سره دے
یعنی کیفیت دَ توفی په طریقه دَ مرګ یا خوب سره نه
دے بلکه په طریقه دَ رفع الی السماء سره دے -
فائده : ماده دَ رفع په قرآن کښ نهه ویښت کرته واقع
ده دَ هغے نه په دولس ځایونو کښ په رفع دَ درجاتو سره
او په معنیٰ مجازی سره ده او دَ هغے سره په اکثر
ځایونو کښ لفظ دَ درجات ذکر دے لکه په سوره بقره ۲۵۳
او سوره انعام ۱۶۵ کښ یا دَ بلے قرینه نه معلومیږی لکه په
اعراف ۱۷۶ او سوره انشراح سک کښ - او په اوولس ځایونو
کښ معنیٰ حقیقی مراد ده دَ هغے نه یو ځائے دا دے او بل
په سوره نساء ۱۵۸ کښ دے نو څوک چه وائی چه دلته
رفع په معنیٰ دَ عزت ورکولو سره مراد ده دا قول
خطاء دے - او ابن کثیر قرطبی وغیره دَ ضحاک په روایت

سره واقعه دَ اوچتو لو دَ عیسیٰ علیه السلام ذکر کړے ده
ردَ هغے خلاصه دا ده) چه هرکله یهودیانو اراده اوکړه دَ
قتل دَ عیسیٰ علیه السلام نو دولس حواریون دَ یرے دَ
وجے نه په یو کوټه کښ جمع شول او عیسیٰ علیه السلام هم
دَ ځان سره ورسره په کولو دَ پاره هغه کوټے ته داخل شو یهودیان
چه خبر شول نو څلور زره کسان دروازے دَ هغه کوټے ته
راغلل- او یل روایت کښ دی چه یهودیانو دَ دهٔ په باره
کښ بادشاه ته رپورټ ورکړو چه دا مفسد دے او ستا
دَ دین خلاف کوی او دروغ شها دتونه ئے دَ هغه په
فساد بانده پیش کړل نو بادشاه دے سره دَ ملګرو نه په
جیل کښ بند کړو او بیا ئے په هغه بانده دَ پهانسی کولو
حکم اوکړو- نو عیسیٰ علیه السلام خپل حواریونو ته اوئیل
چه په تاسو کښ کوم یو غواړی چه ځما په شکل سره جوړ
شی- او چه ځما په ځائے قتل کړے شی- او ځما سره په جنت
کښ یو ځائے شی نو یو شخص دا ذمه قبوله کړه نو الله تعالیٰ
دَ هغه کوټے چت سورے کړو او عیسیٰ علیه السلام ئے په
هغے سوری کښ پورته او خیژولو دوی (یهودیان) چه هغه
کمرے ته داخل شو نو مشابه دَ عیسیٰ علیه السلام ئے
او موندلو نو هغه (حواری) ئے قتل کړلو- بیا قتل کوؤنکو
یهودیانو په کورنۍ کښ اختلاف اوکړو چه عیسیٰ علیه
السلام او وژلے شو نو هغه بل ملګرے څه شو او دے
واقعے دَ تشبیه ته اشاره ده په سورة نساء ۱۵۷ کښ-

وَ مُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ، دا دریم بشارت دے
او فائده دَ رفعے ئے ذکر کړیده یعنی مقصد په رفع سره
دا دے چه پاکوی تا لره دَ کافرانو نه یعنی تا دَ کافرانو نه
لرے کوؤ دَ دے دَ پاره چه دَ هغوی دَ پلیتئ نه پاک
شے او دَ هغوی دَ اذیتونو نه بچ شے او دَ هغوی دَ قتل
کولو نه لرے لاړ شے او په تا بانده په دَ هغوی وس

نه رسیږی ۰ وَجَاعِلُ الَّذِیْنَ اتَّبَعُوْكَ فَوْقَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا اِلٰى یَوْمِ الْقِیٰمَةِ ، دا هم عطف دے په ما قبل باندے او څلورم بشارت دے عیسٰی علیه السلام ته په باره دَ امت دَ هغه کښې او مراد دَ اِتَّبَعُوْكَ نه هغه کسان دی چه په توحید او رسالت او ایمان کښې دَ هغه اقتداء ئے کړے وی که دَ هغه امت وی او که دا امت روستنے دے او مراد دَ فوق نه فوقیت دے په حجت او دلیل کښې او په عزت او کرامت کښې په نیز دَ الله تعالٰی- او دا قول دَ جمهور مفسرینو دے او په نیز دَ بعضو مراد دَ اتَّبَعُوْكَ نه صرف نصارٰی دی چه دَ ځان نسبت عیسٰی علیه السلام ته کوی اګرچه په هغوی کښې دَ الوهیت دَ عیسٰی یا دَ ولدیت عقیده وی نو دوی پورته دی په بادشاهئ او اقتدار کښې په یهودیانو باندے لکه چه اوس دا سے حال موجود دے (اللباب)- بعضے مفسرینو وئیلی دی چه وَجَاعِلُ کلام مستقل دے او دا خطاب دے زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم ته لیکن دا قول بعید دے دَ قبولیت نه-

ثُمَّ اِلَیَّ مَرْجِعُكُمْ فَاَحْكُمُ بَیْنَكُمْ فِیْمَا كُنْتُمْ فِیْهِ تَخْتَلِفُوْنَ، اختلاف عام دے که په باره دَ عیسٰی علیه السلام کښې دے او که نور اختلافات دینیه دی او اشاره ده چه روستو دَ رفع دَ عیسٰی علیه السلام نه په نصاراؤ کښې ډیر اختلافات او فرقے جوړے شولے-

فائده :- (مسئله دَ حیات او دَ رفع دَ عیسٰی علیه السلام او دَ نزول دَ هغه دَ آسمان نه مخکښې دَ قیامت نه) په دیکښې بحثونه دی اول بحث کښې ذکر دَ اختلافاتو دَ خلقو دے- دَ یهودیانو دعوی او عقیده ده چه عیسٰی علیه السلام په صلیب (پهانسئ) سره او وژلے شو او څه ورځے په هغے باندے آویزان وو او بیا دفن کړے شو او هغه مړ دے- هغوی دَ هغه دَ نبوت او دَ حیات نه بالکل منکر دی دوی خو یقینًا کافر دی- او دَ نصاراؤ قول او عقیده دا ده چه

عیسیٰ علیه السلام په صلیب بانده اوخیژولے شو او مړ کړے شو او بیا دفن کړے شو او یو ورځ یا درے ورځے روستو دَ قبرنه را اوېستلے شو او ژوندے کړے شو او بره اوخیژولے شو دا قول هم باطل دے الله تعالیٰ دَ دواړو اقوالو په رد کښ فرمائیلے دی وَمَا قَتَلُوْهُ وَمَا صَلَبُوْهُ وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ، نساء ۱۵۷- اودَ مسلمانانو قول اوعقیده دا ده چه دوی نه قتل کړے دے او نه ئې پهانسئ بانده خیژولے دے بلکه رپه قول دَوهب سره درے ساعاته ئې مړکړو بیا ئې ژوندے کړو اوپه قول دَابن اسحاق سره اووه ساعاته ئې مړکړو بیا ئې ژوندے کړو او په قول دَ ربیع سره اول ئې اوده کړو او بیا ئې بره اوخیژولو او په نیز دَ جمهور اهل اسلام بانده ژوندے او بیدار ئې آسمان ته اوخیژولو او اوس ژوندے ئې ورکړے دے او دَ قیامت نه په مخکښ را کوزیږی لیکن په صفت دَ نبوت سره به نه وی بلکه په صفت دَ امتی دَ محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم سره به ژوند تیروی او بیا به وفات کړے شی- او قرطبی وئیلی دی چه صحیح قول دا دے چه الله تعالیٰ ده لره آسمان ته پورته اوخیژولو بغیر دَ مرګ او بغیر دَ خوب نه دا قول دَحسن بصری او ابن زید دے اودَ ابن عباس اودَ ضحاک دے اوطبری هم غوره کړیدے ـ په دے امت کښ دَ دے عقیدے مخالفت کوونکی په سلفو اوخلفو کښ مونږ ته هیڅوک معلوم نه دی اګرچه اختلاف نقل دے صرف په معنیٰ دَ متوفیک کښ ـ خو صرف په دے تیز دے زمانه کښ قادیانان چه دَ مرزا غلام احمد امت دے او منکرین حدیث دی دَ ژوند دَ عیسیٰ علیه السلام اودَ رفع دَ هغه نه آسمان ته انکار کوی او په مختلفو شبهاتو سره ګمراه کړے شوی دی روستو دَ هغے شبهاتو جوابونه ذکر کیدے شی ـ

دویم بحث :- اثبات دَ عقیدے دَ حیات دَ عیسیٰ علیه السلام

او رفع او نزول دَ هغه دے دَ دے دَ پاره ډیر دلیلونه دی
اول دلیل دا لفظ دے چه مَكَرَ اللّٰهُ، یعنی دوی مکرونه
اوکړل دَ هغه دَ قتل کولو دَ پاره او الله تعالیٰ تدبیر اوکړو
دَ هغه دَ بچ کولو۔ نوکه دوی هغه لره وژلے وے نو بیا دَ
الله تعالیٰ دَ تدبیر څه معنیٰ شوه۔
دوییم دلیل لفظ دَ رافعك اِلَیَّ دے او بل رفعه الله الیه
دے چه مراد دَ رفع نه رفع حقیقی ده لکه چه مخکښ ذکر
شو او اِلَیَّ او اِلَیْهِ هم په حقیقت باندے حمل دی او مراد
تربیه آسمان دے۔
دریم دلیل لفظ دَ بل دے په بل رفعه الله الیه کښ۔ وجه
دَ استدلال دا ده چه بل روستو دَ نفی نه اثبات دَ ضد دَ
منفی کوی یعنی دوی قتل نه دے کړے او په پهانسئ باندے
ئے نه دے خیژولے (او دَ نفس مرګ خو په یهودو او
نصاراؤ کښ هیڅوک قائل نیشته) نو معنیٰ دَ بَلْ دا ده
چه بلکه ذوند الله تعالیٰ ځان ته پورته خیژولے دے۔
څلورم دلیل آیت سورت نساء ۱۵۹ دے۔ ابن جریر او ابن
کثیر په تفسیر دَ دغه آیت کښ دَ تابعینو ډیر اقوال نقل کړے
دی او وئیلے ئے دی چه اولیٰ قول په صحت سره دا دے چه
باقی به پاتے نشی دَ اهل کتابو نه هیڅوک په وخت دَ نزول دَ
عیسیٰ علیه السلام کښ مګر په هغه باندے به ایمان راوړی
مخکښ دَ مرګ دَ هغه نه او دلالت کوی په دے باندے احادیث
متواتره۔ او ابن کثیر حدیث دَ بخاری دَ کتاب الانبیاء ذکر کړیدے
چه راکوز به شی په تاسو کښ ابن مریم (تر آخره پورے) او
بیا ابوهریره رضی الله عنه اوئیل او لولئ که تاسو غواړئ
دا آیت وَاِنْ مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ (الآیة)
او دا حدیث ئے دَ مسلم او امام احمد نه سره دَ دے آیت نه
نقل کړیدے۔
پنځم دلیل وَاِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ (زخرف ۶۱) په هغه قول

دَ مفسرینو چه ضمیر دَ اِنَّهٗ راجع دے عیسٰی علیه السلام ته (یعنی نزول دَ هغه دَ آسمان نه) چه دا علامت دَ قیامت دے ابن کثیر دَ ابو هریره رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله عنهما، ابو العالیه، ابو مالک، عکرمه، حسن، قتاده او ضحاک نه نقل کړے دے چه صحیح داده چه ضمیر دَ اِنَّهٗ راجع دے (نزول) دَ عیسٰی علیه السلام ته مخکښ دَ قیامت نه۔ او وئیلی ئے دی چه دا قرآن ته راجع کول ډیره لرے خبره ده۔ دا رنګ ابن جریر دَ حسن او مجاهد، قتاده، سدی، ضحاک، ابن زید او ابن عباس نه په مختلف سند ونو سره دا قول نقل کړے دے۔
شپږم دلیل په تفسیر دَ کهلا کښ تیر شویدی صاحب اللباب ذکر کړے دی چه حسین بن الفضل ته او ئیلے شو چه ذکر دَ نزول دَ عیسٰی علیه السلام په قرآن کښ شته دے؟ نو هغه ورته دَ کهلا آیت او لوستلو او داسے ابن جریر دَ ابو زید په روایت سره په تفسیر دَ کهلا کښ ذکر کړے دی۔
اووم دلیل احادیث دَ نزول دَ عیسٰی علیه السلام دی مخکښ دَ قیامت نه ابن کثیر دَ هغے دَ لسو نه زیاتے طریقے (سندونه) ذکر کړیدی او امام ترمذی وئیلی دی چه په حدیث دَ نزول عیسٰی علیه السلام او قتل کول دَ دجال دَ عمران بن حصین، نافع بن عیینة، ابو برزة اسلمی، حذیفة بن اسید، ابو هریرة، کیسان، عثمان بن ابی العاص، جابر، ابو امامه، ابن مسعود، ابن عمرو، سمره بن جندب، نواس بن سمعان، عمرو بن عوف، حذیفة بن الیمان رضی الله عنهم نه نقل دے۔ ابن کثیر او ابن جریر او ابن عطیة او ابو حیان وغیره وئیلی دی چه دا حدیث متواتر دے۔ او مونږ په کتاب توضیح الحجة کښ توئی احادیث ذکر کړیدی
اتم دلیل آلوسی حدیث مرفوع ذکر کړے دے چه اِن عیسٰی لم یمت و انه راجعُ الیکم قبل یوم القیامة، دَ دے په سند باندے الله تعالٰی عالم دے۔
نهم دلیل اجماع دَ سلف او خلف ده او دَ مفسرینو او

محدثینو ده چه عیسیٰ علیه السلام ژوندی دے دا اجماع ابن حجر په تلخیص الحبیر او مفسر د جامع البیان او شوکانی په حجج الکرامه ص۳۲۴ کښ ذکر کړے ده - دا دلیلونه مجموعی طور سره او خصوصًا احادیث متواتره په باره د نزول عیسیٰ علیه السلام کښ دلالت کوی چه دا مسئله قطعی ده هغه اهل علمو غلطی کړیده څوک چه وائی چه دا ظنی مسئله ده -

دریم بحث په جواباتو د شبهاتو د منکریتو د حیات د عیسیٰ علیه السلام کښ دے

اوله شبه - اِنِّیْ مُتَوَفِّیْكَ ، توفی صرف مرګ ته وئیلے شی معلومه شوه چه عیسیٰ علیه السلام الله تعالیٰ مړکړے دے - جواب د دے په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه توفی په لغت کښ پوره اخستلو د څیز ته وئیلے شی او دا معنیٰ حقیقی ده او په معنیٰ د مرګ باندے ئے په طور د مجاز سره اطلاق کیدے شی ځکه چه روح واخستلے شی نو ډیرے نه تول حواس ختم شی نو هغه هم داسے شو لکه چه پوره اخستلے شوے وی لیکن څو پورے چه حقیقت ممکن وی نو مجاز ته تلل ناجائز دی دا یو مسلم او کامل قانون دے -

تنبیه :- ماده د و ف ی په قرآن کریم کښ شپږ شپیته کرته ذکر ده په مختلفو وجوهو سره - پوره ادا کول د ذمه دارئ ، پوره ورکول د جزا ، پوره حساب کول ، پوره کول د عهد ، پوره ادا کول د کیل او میزان او د ننوونو ، د چا نه ساه اخستل (مړکول) ، خوب راوستل (لکه سوره انعام ۶۰ او سوره زمر ۴۲ کښ دی او پوره قبض کول -

ابن منظور وئیلی دی چه د توفیت المال معنیٰ دا چه ټول مال واخستلے شی - نو دلته آخری معنیٰ مراد ده او دے ته قرطبی او ابن جریر او ابن کثیر او کبیر صحیح قول وئیلے دے امام رازی وئیلی دی چه توفی جنس دے د هغے د

لاندے ډیر انواع دی بعضے دَ هغے نه په مرګ سره دی او بعضے په خیژولو سره دی آسمان ته دلته په قرینه دَ رافعك سره آخری معنیٰ مراد ده ـ خازن او رازی وئیلے دی چه هر کله نصاراؤ وئیلے دی چه دَ عیسیٰ علیه السلام روح او جت خیژولے شویدے او ناسوت ئے په زمکه کښ پاتے دے نو الله تعالیٰ په په متوفیك سره په هغوی باندے رد اوکړو چه روح او جسم ے دواړه پوره کړیدی ـ
محمد طاهر الفتنی لیکلی دی چه کله کله وفات په معنیٰ دَ قبض سره وی بغیر دَ مرګ نه او متوفیك معنیٰ دا ده چه ستا وجود په زمکه کښ ختموؤ (مجمع البحار ج ۵ ص۹۹) ـ
دویمه وجه، دا جواب خازن او ابن کثیر او ابن جریر وغیره دَ ربیع نه نقل کړیدے چه دلته دَ توفی نه مراد خوب دے په قرینه دَ سوره انعام ۶۰ سره ـ دَ ریمه وجه، توفی په معنیٰ دَ مرګ سره دے لیکن دا خو اسم فاعل دے او فراء او ضحاک وئیلے دی چه په عبارت کښ تقدیم او تاخیر دے یعنی اوس تا پوره کوؤم او روستو دَ نزول نه په تا مرکوؤم ـ او تفسیر کبیر کښ وئیلی دی چه تقدیم تاخیر په قرآن کښ ډیر واقع دے لکه وَاسْجُدِیْ وَارْكَعِیْ مَعَ الرَّاكِعِیْنَ کښ ـ څلورمه وجه، توفی په معنیٰ دَ مرګ ده لیکن درے ساعاتو یا اوؤ ساعاتو نه روستو الله تعالیٰ بیا ورته حیاتِ دنیویه ورکړو او پورته ئے اوخیژ ووٓ لکه چه په مخکښ قول دَ وهب او دَ ابن اسحاق کښ تیر شو ـ اګر چه دا روستنی وجوه ضعیف دی لیکن په ذکر کولو کښ فائده دا ده چه دَ توفی معنیٰ که په مرګ سره دَ چانه نقل ده نو هغوی دَ ژوند دَ عیسیٰ علیه السلام نه انکار نه دے کړے اګر چه صحیح وجه په دیکښ مخکښنۍ ده ـ
دویمه شبه :ـ امام بخاری دَ ابن عباس نه دَ متوفیك، معنیٰ په ممیتك (مرکوؤم تا لره) سره نقل کړیده دَ

دے جواب هم په دیرو وجوهو سره دے۔ اوله وجه دا ده چه دا روایت امام بخاری بغیر د سند نه ذکر کړیدے او حال دا دے چه په صحیح سند ونو سره ئے نزول د عیسیٰ علیه السلام ذکر کړے دے نو دا موقوف بے سنده روایت د دغه مرفوع متواتر احادیثو مقابله نشی کولے۔ دویمه وجه دا ده چه د دے سند ابن جریر ذکر کړیدے او د هغے په سند کښ علی بن ابی طلحه راوی دے او هغه ضعیف او منکر الحدیث دے او د ابن عباس رضی الله عنهما نه ارسال کړے دے په دے بانده میزان الاعتدال ص۲۲۷ ج ۲ او تقریب ص۱۸۴ او تهذیب ص۳۴۰ ج ۷ کښ کلام په تفصیل سره ذکر دے۔ دریمه وجه دا ده چه مخکښ ذکر شوه چه تفسیر د متوفیك په ممیتك سره منافی د ثبوت د حیات د هغه سره نه دے۔

دریمه شبه۔ ابن کثیر په تفسیر د آل عمران آیت ۸۱ کښ حدیث ذکر کړیدے چه لوکان موسیٰ وعیسیٰ حیین لما وسعهما الا اتباعی، جواب په دیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا چه د دے حدیث سند نیشته او بے سنده حدیث قبول نه وی او حال دا دے چه ابن کثیر په متواتر سند ونو سره نزول د عیسیٰ علیه السلام ذکر کړے دے۔ دویمه وجه دا ده چه اتباع د آخری نبی په هغه چا لازم ده چه په زمکه کښ ژوندے وی او عیسیٰ علیه السلام خو په آسمان کښ ژوندے دے او کله چه زمکے ته راکوز شی نو ضرور به اتباع د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم کوی۔

څلورمه شبه۔ جامع العتبیه کښ قول د امام مالك ذکر دے چه مات عیسیٰ و هو ابن ثلاث وثلثین سنه۔
جواب، دا کتاب د امام مالك نه دے دا تصنیف د یو فقیه اندلسی قرطبی دے او د دے قول هیڅ سند ئے نه دے

فَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَأُعَذِّبُهُمْ

نو	هغه	كسان	چه كفر ئې كړے دے نو عذاب به وركړم	دوی لره

عَذَابًا شَدِيدًا فِي الدُّنْيَا

عذاب	سخت	په	دُنيا كښ

ذكر كړے۔
پنځمه شبه:۔ نزول دَ عيسٰی عليه السلام نه مراد پيدائش دَ هغه دے او مراد دَ دے نه مثيل عيسٰی دے يعنی دَ عيسٰی عليه السلام مشابه شخص به پيدا شی ردا تاويل دَ مرزا غلام احمد قاديانی دے) او هغه وئيلی دی چه انزلنا عليكم لباسا او انزلنا الحديد كښ انزال په معنٰی دَ پيدائش دے۔ (جواب) دَ عيسٰی عليه السلام په باره كښ يَنزل فيكم راغلے دے او ينزل مجرد صيغه ده په معنٰی دَ پيدائش هيچرے نه ده راغلے اوكوم شواهد چه هغه پيش كړے دی نو هغه انزال فعل مزيد ده هغه كله په معنٰی دَ هغه پيدائش راځی چه په تدبيرات سماوية سره وی. دا رنګ په هيڅ حديث كښ مثيل لفظ نه دے ذكر شوے نو دا خو صرف تحريف دَ حديث دے۔
شپږمه شبه۔ دَ عيسٰی عليه السلام په نازليدلو سره قريب دَ قيامت كښ دَ عقيدے دَ ختم النبوت سره تضاد پيدا كيږی؟ جواب دا دے چه عيسٰی عليه السلام چه روستو راكوزشی نو دَ نبی په وصف سره به نه راځی بلكه دَ متبع (امتی) په حيثيت سره به راځی په دليل دَ حديث لوكان موسٰی حيًا لما وسعه الا اتباعی، او ختم النبوت معنٰی دا ده چه زمونږ دَ نبی صلی الله عليه وسلم نه روستو نوے نبی نشی جوړيدلے نه تشريعی او نه غير تشريعی۔

وَالْاٰخِرَةِ ۫ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۵۶﴾

او په آخرت کښ او نشته دوی لره هیڅوک مدد کوونکی۔

وَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

او هر چه هغه کسان دی چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړی دی

الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ ؕ

نیک (برابر د سنت سره) نو پوره به ورکړی الله تعالیٰ دوی ته ثوابونه د عملونو د دوی

وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۷﴾

او الله تعالیٰ مینه نه کوی د ظلم کوونکو سره۔

۵۶:۔ په دے آیت کښ تفصیل د فیصلے دے چه په ورځ د قیامت کښ به واقع کیږی او په دے آیت کښ تخویف دنیوی او اخروی دے کفر کوونکو ته عموماً او خصوصاً د عیسیٰ علیه السلام نه انکار کوونکو ته۔

شَدِيْدًا ، یعنی کیفیت ئے سخت دے یا مقدار ئے ډیر دے او همیشه دے۔

فِي الدُّنْيَا ، قید کول او وژل او جزیه لګول او نور د دنیا عذابونه مراد دی۔

وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ، د دوی شرکاء او ډلے او تابعداران د دوی مدد نشی کولے۔

۵۷:۔ په دیکښ بشارت دے۔ فَيُوَفِّيْهِمْ ، توفیه په معنیٰ د پوره کولو د اجر دے چه په هغے کښ هیڅ نقصان نه وی۔

وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ، په دیکښ دفع کول د یو وهم دی هغه دا دے چه الله تعالیٰ خو کافرانو له په دنیا کښ ډیر مالونه او عمرونه او مزے ورکوی آیا دا دلیل د محبت دے؟ نو جواب او شو چه دا د محبت د الله تعالیٰ د وجے نه ته دے بلکه مهلت او استدراج دے۔

ذٰلِكَ نَتْلُوْهُ عَلَيْكَ مِنَ الْاٰيٰتِ

دا چه ذکر شو بیانوو موږ دا په تا باندے دَ آیاتو نه

وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ ﴿۵۸﴾ اِنَّ مَثَلَ

او دَ نصیحت حکمت والا نه - یقینًا حال

عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ

دَ عیسٰی علیه السلام په نیز دَ الله تعالٰی پشان دَ حال

اٰدَمَ ۗ خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ

دَ آدم علیه السلام دے جوړ کړے دوهغه دَ خاورو نه

۵۸ :- په دیکښ خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلم ته او جمله معترضه ده دَ پاره دَ اثبات دَ صدق دَ هغه۔

ذٰلِكَ ، اشاره ده ما قبل واقعاتو دَ زکریا او مریم او عیسٰی علیهم السلام ته۔

نَتْلُوْهُ ، نسبت دَ تلاوت الله تعالٰی ته حقیقتًا دے او دلیل دے چه دا الفاظ دَ قرآن کریم کلام دَ الله تعالٰی دے۔

مِنَ الْاٰيٰتِ ، مِنْ دَ پاره دَ تبعیض دے ځکه آیاتو نه صرف دغه نه دی کوم چه بیان شول بلکه نور هم شته۔ او مراد دَ آیات نه آیاتِ قرآنیه دی یا معجزات او امورِ خارقه دی په قصه دَ زکریا او مریم علیهما السلام کښ چه دا بیانول زموږ دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ پاره معجزه ده

وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ ، دَ دینه مراد هم قرآن کریم دے ځکه چه په دیکښ تذکیر دَ عقیدے او دَ اعمالو دے - حکیم په معنٰی دَ محکم یا دَ حکمتونو نه ډک کړے شوے دے دا حکمتونو دلالت کوی چه دا کتاب دَ حکیم ذات دَ طرف نه نازل شوے دے یا مراد دَ ذکر حکیم نه لوح محفوظ دے چه ټول قرآن په هغے کښ موجود دے۔

ثُمَّ قَالَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۵۹﴾

بیا ئې اُوئیل هغه ته شه ته (انسان پوره) نو هغه دغسې شو.

۵۹ :- دا جواب دَ شبهې دَ نصاراو دے هغوی وئیل چه عیسیٰ علیه السلام بغیر دَ ناریته ته پیدا شوے دے نو معلومه شوه چه دے دَ الله تعالیٰ ولد دے او اِله دے او دا قول دَ دوی لوئے ظلم دے او دَدے وجے نه دَ لا یحب الظلمین سره ئې ربط دے حاصل دَ جواب دا دے چه نیشتوالے دَ پلار که علت وی دَ پاره دَ ولدیت دَ الله تعالیٰ او دَ الوهیت په عیسیٰ علیه السلام کښ نو لازم دے چه آدم علیه السلام دے لوئے اِله او ولد دَ الله تعالیٰ وی ځکه چه دَ هغه پلار او مور دواړه نه وو.

اِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى ، مَثَلَ په معنیٰ دَ شان او دَ حال او صفت دے.

عِنْدَ اللّٰهِ ، په حکم او تقدیر دَ الله تعالیٰ کښ.

كَمَثَلِ اٰدَمَ ، دا تشبیه دَ یو نا آشنا ده دَ بل ډیر نا آشنا سره ځکه تشبیه په بعضې وجوهو کښ هم کافی وی اګرچه په مینځ دَ مشبه او مشبه به کښ ډیر فرق وی نو دلته هم وجه تشبیه دا ده چه دَ آدم علیه السلام پلار نه وو.

خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ ، دا تفسیر دَ تشبیه دے چه په حرف دَ کاف کښ ده. خَلَقَ په معنیٰ دَ انشاء (جوړول) یا شکل جوړولو یا تقدیر کولو دے.

ثُمَّ قَالَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنَ (سوال) دَ تراب نه پیدا کول دَ آدم خو دَ امر دَ کن نه روستو دے نو دلته ئې ثُمَّ لفظ ولے ذکر کړے دے؟

جواب ۱ :- دا ثم دَ تعقیب ذکری دَپاره دے او دا په قرآن کریم کښ ډیر واقع دے لکه یو دَ هغې نه سوره بلد ۱۷ کښ دے.

جواب ۲ :- امام راغب وئیلی دی چه معنیٰ دا ده چه اول ئې دَ هغه شکل او بدن دَ خاورو نه جوړ کړو نو بیا ئې څه موده روستو ورته اوئیل كُنْ (شه ته انسان ناطق)

اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُنْ

دا بیان حق دے سنا دَ رب دَ طرف نه تو مه کیږه ته

مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿٦٠﴾

دَ ډلے دَ شک کوونکو نه۔

نو دغسے شو۔ نو په دیکښ نثر پخپله معنیٰ سره دے۔
سوال :- دلته فعل ماضی مناسب وه چه فکان ئے وئیلے وے؟
جواب :- بقاعی وئیلی دی چه دا مضارع په معنیٰ دَ فعل ماضی ده لیکن فعل مضارع کښ حکایت دَ تیر شوی حالت وی۔ او په دیکښ تنبیه ده چه دَ الله تعالیٰ دَ امر دَ کن سره مراد و نه په راتلونکی زمانه کښ هم پوره کیږی ماضی پورے تخصیص نیشته۔
سـ٦٠ :- دا خبر دے دَ مبتدا اپټے دَ پاره یعنی هذا الحق۔ او اشاره ده تفصیل دَ حال دَ عیسیٰ علیه السلام ته او په دیکښ اشاره ده چه په باره دَ عیسیٰ علیه السلام کښ قول دَ یهودیانو او نصارا وُ حق نه دے۔ یا هذا اشاره ده تمثیل دَ عیسیٰ علیه السلام ته دَ آدم علیه السلام سره۔
فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ، خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلم ته او مراد تر ینه امت دے یعنی دَ یهود او نصارٰی دَ مختلف اقوالو په سبب سره تاسو دَ دے حق بیان په باره کښ شک کښ مه پریوزئ۔
فائده :- هر کله چه په باره دَ قبلے (کعبه) کښ اختلاف دَ یهودیانو، نصاراؤ او مشرکانو په ضد او عناد بان دے بنا دو دَ دے وجے نه ئے هلته په بقره ۱۴۷ کښ نهی په تاکید سره ذکر کړیده یعنی فَلَا تَكُوْنَنَّ او دلته خو مخالفت دَ نصاراؤ صرف په جهل بان دے بنا دے اګر چه مخالفت دَ یهودیانو په ضد او په عناد بان دے بنا وؤ خو دلته ډیر تاکید ته ضرورت نیشته دَ دے وجے نه فلا تکن ئے اوئیلو۔

فَمَنْ حَآجَّكَ فِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ

نو څوک چه تا سره جګړه کوی په باره دَ عیسیٰ علیه السلام کښ روستو دَ هغے نه

مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ

چه راغلے دے تا ته علم (په ذریعه دَ قرآن سره) نو ورته اُوایه

تَعَالَوْا نَدْعُ اَبْنَآءَنَا

راشئ چه را اوبلو مونږ ځامن خپل

وَاَبْنَآءَكُمْ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ

او ځامن ستاسو او زنانه خپلے او زنانه ستاسو

وَاَنْفُسَنَا وَاَنْفُسَكُمْ قف ثُمَّ

او ملګری خپل او ملګری ستاسو بیا به

نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَّعْنَتَ اللّٰهِ

عاجزی اوکړو نو اوبه غواړو لعنت دَ الله تعالیٰ

عَلَى الْكٰذِبِيْنَ ﴿۶۱﴾

په دروغ ویونکو باندے۔

۶۱: روستو دَ بحث دَ مناظرے او دَ دفع کولو دَ شبهاتو دَ نصاراؤ نه اوس دعوت دے مباهلے ته دَ پاره دَ اظهار دَ حق چه په مخکښ آیت کښ په لفظ دَ الحق سره ذکر شو۔
فَمَنْ حَآجَّكَ فِيْهِ، مراد دَ حاجك نه صرف جګړه کول دی ځکه چه روستو دَ ماقبل بیان نه دَ نصاراؤ سره هیڅ صحیح حجت پاتے نه شو۔ فِيْهِ ضمیر عیسیٰ علیه السلام ته راجع دے یعنی عبدیت او نبوت او رسالت دَ هغه۔
مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ، علم قرآن دے او مراد دا دے چه په قرآن سره ثابت شوه چه عیسیٰ علیه السلام ابن الله او اله نه دے بلکه عبد او بشر او رسول دے۔

فَقُلْ تَعَالَوْا، دا دَعُلُو نه اخستلے شوے دے نو په اصل کښ دعوت ورکول دی اوچت مکان ته بیا په کښ وسعت اوکړے شو نو هر اوچت حال ته دَ دعوت دَپاره استعمالیږی (البیان)۔

نَدْعُ اَبْنَآءَنَا وَاَبْنَآءَكُمْ، اولاد زړه ته ډیر نیزدے وی په مینه او محبت کښ او انسان دَ تکلیف دَ ځائے نه دَ اولاد دَ بچ کولو کوشش کوی نو دَ هغوی حاضرول دا سے مقام (دَ مباهلے) ته دلالت کوی په ډیر یقین کولو دَ انسان پخپل مقصد باندے۔ او په بعض روایتونو کښ دَ حاکم او ابوداؤد طیالسی نه ثابت دی چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ ځان سره فاطمه رضی الله عنها حسن او حسین رضی الله عنهما او علی رضی الله عنه حاضر کړے وو نو دا دلیل دے چه دَ لوٹړو په اولاد (نوسو) او په ځوم باندے هم دَ اولاد اطلاق کیدلے شی۔

وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ، دا عام دے بیبیانو او لوټړو ته۔ په ځامتو پسے انسان دَ خپلو لوټړو او ښځو حفاظت هم ډیر ضروری گنړی نو دَ هغوی حاضرول هم دلیل دے په مضبوط یقین کولو په خپله مدعا باندے۔

وَاَنْفُسَنَا وَاَنْفُسَكُمْ، مراد دَ دینه نور ملگری او هم جنس دی ځکه چه النفس په معنیٰ دَ هم جنس سره ډیر مستعمل دے په قرآن کریم کښ او په دیکښ علی رضی الله عنه داخل دے یا مراد دَ دینه ذات دَ نبی صلی الله علیه وسلم دے۔ او په عرف کښ داسے ویلے کیدیشی چه خپل ځان ته آواز اوکړه۔ او ابوحیان لیکلی دی چه نبی صلی الله علیه وسلم خپل خواص (حسن، حسین، فاطمه او علی رضی الله عنهم وغیره) راوستلے وو مخکښ دَ ارادے دَ نصاراؤ نه په مباهله باندے لکه چه په حدیث دَ مسلم کښ راغلے دی او که چرے نصاراؤ عزم دَ مباهلے کړے وے نو ټولو مؤمنانو به خپل ځامن او زنانه راغوختلے وے۔

ثُمَّ نَبْتَهِلْ، ابتهال کښې دوه اقوال دی اول دا چه تضرع او اخلاص او کوشش کول په دعا کښې که دَ خیر وی او که دَ شر وی - دویم دُعا دَ لعنت او دَ هلاکت کول - او بهلت لعنت ته وئیلې شی حاصل دا چه اکثر استعمال دَ ابتهال په دعا دَ شر کښې دے او کله کله دُعا دَ خیر کښې هم استعمالیږی - او دلته باب افتعال (ابتهال) په معنیٰ دَ تفاعل سره دے -

فَنَجْعَلْ لَّعْنَتَ اللهِ عَلَى الْكٰذِبِيْنَ، دا په مشهوره معنیٰ دَ ابتهال (دُعاء دَ شر) دا تفسیر دَ ابتهال دے او دا په عام معنیٰ باندے دا تخصیص دَ دُعاء دَ ابتهال دے په شر پورے.

فائده لـه :- مفسرینو دَ دے آیت په تفسیر کښې واقعه دَ وفد دَ نجران ذکر کړے ده او دَ هغوی انکار ئې دَ مباهلے نه ذکر کړے دے دغه وفد والا شپیته کسان وو خوارلس دَ دوی اشراف وو او عاقب او سید دَ دے ټولو مشران وو - او دَ دے سورت څه دَ پاسه اتیا آیاتونه دَ دوی په رد کښې نازل شوی وو - نو انکار دَ دوی دَ مباهلے کولو نه ښکاره دلیل دے په اثبات دَ صدق دَ نبی صلی الله علیه وسلم باندے -

فائده ۲ـه :- آلوسی لیکلی دی چه مباهله اوس هم جائز ده په دلیل دَ دے چه دَ ابن عباس رضی الله عنهما او دَ بل شخص په مینځ کښې څه جګړه پیدا شوه نو هغه مباهلے ته دعوت ورکړو او دا آیت ئې اولوستلو او لاسونه ئې پورته کړل او حجر اسود ته ئې مخ کړو او حاکم هم په مستدرک کښې دا روایت راوړیدے قاسمی هم په تفسیر کښې لیکلی دی چه دا آیت دلیل دے چه څوک دَ یو امر شرعی نه انکار کوی نو دَ هغه سره مباهله کول جائز دی او بیا ئې ذکر کړے دی چه دَ مباهلے جواز دَ پاره شرطونه دادی چه یو اهمه شرعی مسئله وی چه په هغے کښې عناد واقع شی نو په هغے کښې مباهله کیدے شی او دَ

هغې شروطِ اولیه دا دی چه اول حجت قائم کړی په خصم (مقابل) باندے بیا دَ هغه دَ شبهاتو جوابونه اوکړے شی او بیا ورته نصیحت اوکړیشی او چه بیا هم انکار کوی نو دعوت دَ مباهلے په ورکیدیشی۔ ځکه وائیم چه دَ دے سورت تیر شوے مضمون چه دَ عیسیٰ علیه السلام په باره کښ دے په رد دَ نصاراؤ کښ په هغې کښ دلیلونه دۀ او جوابونه دَ شبهاتو دۀ او نصیحتونه او زجرونه او تخویفات دۀ نو دَ هغې نه روستو ئے حرف دَ فاء دَ دے آیت په اول کښ راؤړو نو دا دلالت کوی په دغه شرطونو باندے۔ او ابن قیم الجوزیه رحمه الله منکرینو دَ صفاتو دَ الله تعالیٰ ته چه هغوی دَ صفاتو دَ الله تعالیٰ تاویلونه کوی (جهمیه وغیره) دَ مباهلے دعوت ورکړے دۀ په مینځ دَ حجراسود او مقام ابراهیم کښ او هغوی اجابت نه دے کړے۔ دائے دَ قصیده نونیه په اول کښ ذکر کړیدی او مباهلے ته ابن عباس رضی الله عنهما او امام اوزاعی په فرعی مسائلو کښ هم دعوت ورکړے دے (زۀ وایم) چه دا په هغه فرعیاتو کښ ووچه په صحیح حدیث سره ثابت وی او خصم دَ حسد او عناد دَ وجے دَ هغې نه مطلقاً انکار کوی۔

فائده ۳ :۔ شیعه گانو په دے آیت سره استدلال کړے دے په فضیلت دَ علی رضی الله عنه په ټولو انبیاؤ باندے او برابر والے دَ آخری نبی سره دوی وائی چه دَ اَنۡفُسَنَا نه خو ذات دَ نبی نشی مراد کیدلے ځکه چه خپل ذات ته دعوت نشی ورکیدلے نو مراد دَ دے نه علی دے په سبب دَ حدیث دَ مسلم نو علی رضی الله عنه ته نفس دَ نبی او ګڼلے شو او نبی صلی الله علیه وسلم خو په ټولو انبیاؤ باندے افضل دے نو معلومه شوه چه علی رضی الله عنه په ټولو انبیاؤ

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ

یقینًا دا خوامخوا بیان حق دے

وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ ۚ وَإِنَّ اللَّهَ

او نیشته هیڅوک حقدار د بندګئ سیوا د الله تعالیٰ نه او یقینًا الله تعالیٰ

لَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٦٢﴾

خوامخوا زور آور حکمتونو والا دے۔

او صحابه کرام و باندے افضل دے د دے تفصیلی جواب امام رازی او آلوسی په خپل خپل تفاسیرو کښ لیکلے دے حاصل ئے دا دے چه د نفس نه مراد ذات د نبی صلی الله علیه وسلم دے او دعوت خو د خپل نفس هم کیدیشی عرب وائی دَعَوْتُ نَفْسِيْ إِلَىٰ كَذَا، او که مراد د دیته ذات د نبی صلی الله علیه وسلم نشی نو مراد تری بټول صحابه دی (چه د نفس اطلاق په هم جنس باندے کیدیشی) نو تخصیص د علی خو د دے نه ثابت نه دے او که اوئیلی شی چه په حدیث د مسلم سره ثابت دی چه نبی صلی الله علیه وسلم علی حاضر کړے وو نو جواب دا دے چه هغه ئے د ابتداءً نا په مصداق کښ حاضر کړے وو ځکه چه ځوم هم پشان د ځوئ ګڼړلے شی او نبی صلی الله علیه وسلم بذات خود هم حاضر وو۔

سلا :- دا تاکید د ماقبل بیان دے سره د تفریع د نتیجے نه په ماقبل باندے۔ هٰذَا اشاره ده تفصیل د حالاتو د عیسیٰ علیه السلام ته۔

الْقَصَصُ، دا مصدر دے په اصل کښ روانیدل دی په نقش قدم باندے لکه په سوره کهف سلا کښ دی۔ او په عرف کښ پرله پسے واقعات په ترتیب سره ذکر کولو ته وئیلے شی۔

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ

نو که چرته دوی مخ اوګرځولو نو یقیناً الله تعالیٰ عالم دے

بِالْمُفْسِدِينَ ﴿۶۳﴾

په فساد کوونکی باندے.

الْحَقُّ، دا رد دے په بیانونو دَ یهودو او نصارا وُ باندے په باره دَ عیسیٰ علیه السلام کښ چه هغه دروغ او باطل دی۔

وَمَا مِنْ إِلٰهٍ إِلَّا اللّٰهُ، هرکله چه په تیرشوی بیان باندے رد وشُو په ولدیت او الوهیت دَ عیسیٰ علیه السلام باندے) خصوصًا نو اوس عطف کوی په هغے باندے په طریقه دَ عموم او استغراق سره۔ مِنْ دَ پاره دَ استغراق دے نو په دیکښ رد دے په هر هغه چا باندے چه شرک کوی په صفاتو دَ الوهیت کښ دَ الله تعالیٰ سره۔

وَإِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ، دا عطف دَ دلیل دے په مدعیٰ باندے او عزیز او حکیم خلاصه ده دَ صفاتو دَ الوهیت

۶۳: دا تخویف دے۔ تَوَلَّوْا، تولی دَ القصص، الحق او روستو دواړو جملو نه مراد ده یا تولی کول یعنی مخ ګرځول دَ مباهلے نه۔ تولوا فعل ماضی غائب ده یا فعل مضارع مخاطب دے په حذف دَ تا سره۔

فَإِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ بِالْمُفْسِدِينَ، په دیکښ ذکر دَ سبب دَ عذاب دے چه افساد دے او علم دَ الله تعالیٰ په افساد دَ دوی باندے کنایه ده دَ عذاب ورکولو نه۔ او المفسدین کښ اشاره ده چه دَ محاجے او مباهلے نه اعراض کوی او دَ حق سره ضد او عناد کوی نو رخلق ګمراه کوی نو دا فساد دے۔ او صاحب اللباب وئیلی دی چه مفسدین هغه خوک دی چه بندګی دَ غیر الله کوی دَ دے وجے نه ور پسے رد دَ شرک فی العبادت کوی۔

قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا

اُو ایه اے کتاب والو راشئ

اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ

داسے کلمے ته چه برابر دہ زمونږ او ستاسو په مینځ کښ

اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْـًٔا

(هغه داده) چه بندګی به نه کوو مګر د یو الله او شریک به نه جوړ وو د هغه سره هیڅ څیز

وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا

او نه به نیسی بعض زمونږ بعضو لره خدایان (اختیارمند د شریعے جوړولو)

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ فَاِنْ تَوَلَّوْا

سوا د الله تعالی نه نو که چرے دوی مخ واړوؤ

فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿۶۴﴾

نو تاسو اُووایئ چه ګواه شئ چه یقیناً مونږ خو مسلمانان یو.

س۶۴:۔ د دے آیت نه تر س۱۰۱ پورے د سورت دویمه حصه ده او مقصد پکښ اثبات د صدق د رسول صلی الله علیه وسلم دے په ذکر د څوارلس خبأثاتو د منکرینو د آخری رسول سره د جوابونو د اعتراضونو د دوی نه۔ او ذکر د دعوت دے اهل کتابو (یهود او نصاریٰ) ته۔ په دے حصه کښ د دوی څوارلس خبأثات ذکر کوی چه په هغے کښ د څلورو شبهاتو جوابونه هم په س۶۵، س۷۹، س۹۳، س۹۶ کښ ذکر دی۔
په دے آیت کښ د دوی دعوت دے توحید ته او اشاره ده چه په دوی کښ درے انواع د شرک موجود دی شرک فی العبادت، عقیده د حلول او شرک فی الربوبیت په معنیٰ د اطاعت او تشریع یا ند ے او د الوګے خبأثات دی۔

ربط دَ دے آیت دَ مخکښ سره دا دے چه ماقبل کښ رد اوکړے شو دَ دوی په شبهاتو باندے سره دَ اعراض کولو دَ دوی دَ مباهلے نه نو اوس ذکر کوی دعوت دَ دوی توحید خالص ته۔

قُلْ يَاَهْلَ الْكِتٰبِ ، دا خطاب دے نصاراؤ ته ځکه چه تیر شوے کلام هم دَ دوی سره خطاب وؤ۔ او ابن کثیر وئیلی دی چه دا عام دے ټولو اهل کتابو ته چه یهود او نصارٰی دی او هغه څوک چه دَ دوی پشان وی (صابئین او دَ دے امت والا)۔

اِلٰی كَلِمَةٍ ، مراد دَ دینه مفیده جمله ده مفرد نه دے لکه چه نحویانو وئیلی دی او تفسیر دَ دے روستو جمله ده۔

سَوَآءٍ ، دا په معنیٰ دَ مُسْتَوِيَةٍ او عَدْلٍ دے۔ او ابن عطیه وئیلی دی چه مراد دَ دینه مشهوره معنیٰ ده یعنی مونږ او تاسو کشران او مشران ټول په دینکښ برابر شریک یو۔ یا دا چه ستاسو په دین او کتاب کښ شته دے او زمونږ په دین کښ هم شته دے۔ قاسمی وئیلی دی اعتدال دَ دے کلمے دا دے چه نه پکښ تعطیل شته او نه شرک۔ او دَ کتابونو الهیو او رسولانو پکښ اختلاف نیشته دے۔

اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللهَ ، دا رد دَ شرک فی العبادت دے ځکه چه نصارٰی دَ عیسٰی او مریم علیهما السلام عبادت کوی۔

وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْئًا ، دا رد دَ شرک دے مطلقًا او رد دے په عقیده دَ حلول باندے هم۔ شَيْئًا ، مفعول مطلق دے یعنی شَيْئًا مِّنَ الْاِشْرَاكِ (هیڅ قسم شرک) یا مفعول به دے یعنی هیڅ څیز دَ څیزونو نه۔ ابن کثیر وئیلی دی نه وثن او نه صلیب او نه صنم او نه طاغوت او نه اور او نه بل څیز۔ ځکه چه لفظ دَ شيئًا عام دے او نکره ده په سیاق دَ نفی کښ ذکر ده نو په ډیر عموم باندے دلالت کوی۔

سوال:- اوله جمله چه اِلَّا نَعْبُدَ اَلَّا اللهَ دے رد دے په

شرک بانړے نو دد یمه جمله یُ دَخه فائده دَ پاره
ذکر کړیده ؟
جواب ۱ :- اول رد ووُ صرف په شرک فی العبادت باندے او
په دویمه جمله کښ په ټولو اقسامو دَ شرک باندې رد دے.
جواب ۲ :- نصاراؤ وئیل چه مونږ دَ عیسٰی علیه السلام عبادت
دَ دے وجے نه کوؤ چه الله تعالٰی دَ دهٔ په بدن کښ حلول
کړے دے نو داخو عین عبادت دَ الله تعالٰی دے نو پدے
جمله سره جواب اوشو چه دا عقیده خو مستلزم ده شرک
لره چه عیسٰی علیه السلام یُ دَ الله تعالٰی سره شریک
اوګرځوؤ.

وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ، دارد دے
په دریم قسم شرک باندے چه شرک فی الاطاعت والتشریع
والحکم ورته وئیلے شی او داسے په تفسیر دَ سوره توبه ۳۱
کښ هم شته او په دے سورت ۸۰ کښ هم دی - دلته
مراد دَ ربوبیت نه اختیار او تصرف دَ احکامو جوړولو
دے او په معصیت کښ اطاعت کول دی لکه چه مفسرینو
دَ ابن جریج نه نقل کړیدی او معصیت بے دلیله خبرے
ته وئیلے شی لکه چه په حدیث دَ عدی بن حاتم رضی الله
عنه کښ وارد دی هغه اوئیل چه یا رسول الله مونږ خو
دَ احبارو او رهبانو عبادت نه کوؤ نو هغه ورته اوفرمائیل
آیا داسے نه ده چه هغوی تاسو لره څیزونه حلالوی
او حراموی او تاسو (بے دلیله) په هغے باندے عمل کوئ
(حدیث تر آخره پورے) (ترمذی) - قرطبی او طبری
وئیلے دی معنٰی دَ دے دا ده چه دوی ګرځولے دی
هغوی لره په منزله دَ رب دَ دوی په قبلولو دَ تحریم
دَ هغوی کښ دَ هغه څیز چه الله تعالٰی نه دی حرام کړی
او نه دی حلال کړی - او دوی په دَ دے وجے نه هغوی
ته سجدے هم کولے - او قرطبی لیکلی دی چه دا

دلالت کوی چه هغه استحسان چه دلیل شرعی سره ثابت نه وی نو باطل دے او کیاهراسی وئیلی دی چه په دیکښې رد دے په هغه چا باندے چه قول دَ یو امام په تحلیل او تحریم کښې قبلوی بغیر دَ ښکاره کولو دَ دلیل شرعی نه (چه هغې ته تقلید وئیلے شی) او قرطبی په دیکښې تقدیرات دَ ابوحنیفه رحمه الله ذکر کړی دی چه هغه بغیر دَ دلیل شرعی نه جوړ کړے دی (اکثر دغه تقدیرات لکه عشرا فی عشر وغیره مقلدینو دَ امام ابوحنیفه رحمه الله جوړ کړے دی او بیا امام ابوحنیفه ته دَ هغې نسبت کوی) او دا رد دے په روافضو باندے په دے مسئله کښې چه هغوی تقلید دَ امام واجب ګڼړی۔

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ، یعنی که چرے دوی مخ اوګرځوی دَ موافقت کولو نه په عقیده دَ توحید کښې نو تاسو انصاف اوکړئ چه زمونږ دَ پاره شهادت اوکړی په اسلام باندے او تاسو کافر یئ نو په دیکښې تعریض دے په کفر او شرک دَ هغوی باندے په وخت دَ مخ ګرځولو کښې۔ او لفظ مسلمون دلالت کوی

هَاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ حَاجَجْتُمْ فِيْمَا

خبردار تاسو اے دغه کسانو جګړه کوئ تاسو په هغه خبره کښې

لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَآجُّوْنَ

چه تاسو لره په هغې باندے علم شته دے نو ولے جګړه کوئ تاسو

چه دا دعوت دَ اسلام دعوت دے او هغه دين دَ ټولو انبياء عليهم السلام دے دَ دے وجے نه په حديث دَ مسلم کښې راغلے دی چه نبی صلی الله عليه وسلم هرقل بادشاه ته خط ليکلے وو نو په هغے کښې ئے ليکلے وو اِنِّىْٓ اَدْعُوْكَ بِدِعَايَةِ الْاِسْلَامِ، او دا آيت ئے ورته ليکلے وو ليکن هغه دنيا غوره کړه په آخرت باندے.

س۶۵:- په ديکښې دَ دوی دويم خيانت ذکر کوی چه هغه نسبت دَ يهودو او دَ نصاراؤ دے دَ ابراهيم عليه السلام يهوديت او نصرانيت ته - او دا رنګ دوی ته دعوت ورکول دَ پاره دَ منع کيدلو دَ دے دعوے نه په دروغو سره - او حاصل دَ رد دا دے چه تورات او انجيل چه دَ ابراهيم عليه السلام نه ډير روستو نازل شوی دی په هغے کښې ذکر دَ يهوديت او نصرانيت نيشته بلکه ذکر دَ اسلام دے نو هغه يهوديت او نصرانيت چه تاسو دَ تورات او انجيل دَ نزول نه روستو ايجاد کړے دے دَ هغے نسبت کول خو ابراهيم عليه السلام ته خالص دروغ دی - لِمَ تُحَآجُّوْنَ فِىْٓ اِبْرٰهِيْمَ، په لِمَ کښې استفهام انکاری دے او محاجه نه مراد جګړه کول دی بغير دَ دليل نه.

وَمَآ اُنْزِلَتِ التَّوْرٰىةُ وَالْاِنْجِيْلُ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِهٖ، دا جمله حال دے دَ ما قبل نه او مؤرخينو ليکلے دی چه په مينځ دَ ابراهيم عليه السلام او موسٰی عليه السلام او عيسٰی عليه السلام کښې دوه زره کاله يا نو[؟] زر شپږ سوه

فِيمَا لَيْسَ لَكُم بِهِ عِلْمٌ ط

پہ هغه خبرو کښې چه نيشته تاسو لره پہ هغې باندے هيڅ علم

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿۶۶﴾

او الله تعالى علم لرى (د هر څيز) او تاسو علم نه لرئ (په هر څيز)

ډيرش کاله فرق دۀ۔

أَفَلَا تَعْقِلُونَ، يعنى دا کلام دَ عقل نه خلاف دے چه دَ مخکښې شخص نسبت روستو جوړ کړے شوے دين ته کوئ۔

۶۶:۔ دا هم رد دے دَ هغوى په دعوى باندے۔ هَآ أَنتُمْ، مبتدا ده او حَاجَجْتُمْ ئے خبر دے او په مينځ کښې هٰؤُلَاءِ په تقدير دَ يا سره دَ پاره دَ توهين دَ دوى دے يا هٰؤُلَاءِ خبر دے دَ هَا أَنتُم دَ پاره۔

فِيمَا لَكُم بِهِ عِلْمٌ، مراد دَ ديته دين دَ دوى دے چه دَ دوى په کتابونو کښې ذکر دے او دوى په هغې باندے علم لرى چه په هغې کښې حال دَ عيسىٰ عليه السلام هم داخل دے او دوى دَ هغې نه انکار کوى او په هغې کښې جدال کوى يا مراد دَ ديته حال او صفات دَ محمد صلى الله عليه وسلم دى چه دَ دوى په کتابونو کښې ذکر دى او دوى دَ هغې نه انکار کوى۔

فِيمَا لَيْسَ لَكُم بِهِ عِلْمٌ، مراد دَ ديته حال دَ ابراهيم عليه السلام دے چه دوى دعوى کوله چه هغه يهودى يا نصرانى وۀ دا خو بالکل بے علمه او بے دليله جګړه ده۔ او په ديکښې ترقى ده دَ دوى په قباحاتو کښې يعنى په معلومه خبره کښې جګړه کول قبيح کار دے ليکن په غير معلومه خبره کښې جګړه کول خو ډير اقبح دى۔ قرطبى وئيلى دى چه په ديکښې دليل دے په منع دَ جدال کولو په هغه خبره کښې

مَا كَانَ اِبْرٰهِيْمُ يَهُوْدِيًّا
نه وو ابراهیم علیه السلام یهودی

وَّلَا نَصْرَانِيًّا وَّلٰكِنْ كَانَ
او نه نصرانی او لیکن وو هغه

حَنِيْفًا مُّسْلِمًا ؕ وَمَا كَانَ
پوخ مؤحد پوره تابعدار او نه وو هغه

مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۶۷﴾ اِنَّ اَوْلَى
د مشرکانو د ډلے نه - یقیناً حقدار

النَّاسِ بِاِبْرٰهِيْمَ لَلَّذِيْنَ
د خلقو نه په نسبت کولو ابراهیم علیه السلام ته ضرور هغه کسان دی

اتَّبَعُوْهُ وَهٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِيْنَ
چه تابعداری ئے د هغه کړے ده او دا نبی دے او هغه کسان

چه علم د هغے نه لری او تحقیق ئے د هغے نه وی کړے.
وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ، دا تاکید دے د عدم علم د دوی په باره د ابراهیم علیه السلام کښں او توجه ورکول دی بیان د حق ته چه بنا دے په علم د الله تعالیٰ باندے۔

۶۷ :- دا تفسیر د وَاللّٰهُ يَعْلَمُ دے په باره د ابراهیم علیه السلام کښں او صریح رد دے په دعوی د یهود او نصارٰی باندے په باره د ابراهیم علیه السلام کښں - او صاحب اللباب او ابن عطیه او ابوحیان وئیلی دی چه مَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ تعریض دے چه یهود او نصارٰی مشرکان دی - نور تفسیر د دے په سورة بقره ۱۳۵ کښں تیر شوے دے۔

اٰمَنُوْا ط وَاللّٰهُ وَلِیُّ الْمُؤْمِنِیْنَ (۶۸)

چه ایمان ئې راوړے دے او الله تعالیٰ خاص دوست دَ مؤمنانو دے۔

وَدَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ

غواړي یو ډله د کتاب

الْكِتٰبِ لَوْ یُضِلُّوْنَكُمْ وَمَا یُضِلُّوْنَ

والو ته چه گمراه کړي تاسو لره او نه گمراه کوي دوي

اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا یَشْعُرُوْنَ (۶۹)

مگر ځانونه خپل او دوي نه پوهیږي۔

ف ۶۸:۔ دا هم رد دے په یهود او نصاریٰ باندے په طریقه دَ نتیجے سره چه دَ مخکښ درے آیاتونو نه معلومه شوه یعني هر کله چه دین دَ ابراهیم علیه السلام یهودیت او نصرانیت نه وؤ نو یهود او نصارا ؤ له حق نیشته چه ابراهیم علیه السلام ته خپل نسبت کوي۔

اَوْلَی په معنیٰ دَ حقدار دے په نسبت کولو کښ هغه ته یا په معنیٰ دَ اَقْرَبْ دے یعني ډیر نیزدے ابراهیم علیه السلام ته۔

لَلَّذِیْنَ اتَّبَعُوْهُ، عام دے زمانے دَ ابراهیم علیه السلام او زمانے دَ موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام او زمانے دَ فترت ته۔

وَهٰذَا النَّبِیُّ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا، دا تخصیص بعد التعمیم دے دَ پاره دَ اظهار دَ شرافت دَ آخري نبي او دَ امت دَ هغه۔

وَاللّٰهُ وَلِیُّ الْمُؤْمِنِیْنَ، وَلِیُّ په معنیٰ دَ مددگار او دَ دوست دَ ایمان والو دے په نصرت او توفیق او اکرام سره او الْمُؤْمِنِیْنَ کښ نبي صلی الله علیه وسلم اول داخل دے۔

ف ۶۹:۔ په دے آیت کښ دَ دوي دریم خباثت ذکر کوي

يَاۤ أَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ

اے کتاب والو ولے کفر کوئ تاسو

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ اَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿۷۰﴾

په آیاتونو دَ الله تعالیٰ او حال دا چه تاسو علم لرئ۔

يعنې په مخکښې دعوی (چه ابراهيم عليه السلام يهودی يا نصرانی وؤ) کښې خلق گمراه کوی دا سے په سوره بقره ۱۰۹ کښې دی هلته مطلب دا وؤ چه په اعتراضونو او سوالونو دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره دوی خلق مرتد کول غواړی۔

مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ، مِنْ دَ پاره دَ تبعيض دے په قرينه دَ طائفه سره ناکاره کتابيان مراد دی۔

وَدَّتْ، وَدّ په معنیٰ دَ تمنا سره دے او دَ دے سره لفظ لَوْ مصدريه استعماليږی او اَحَبَّ سره لَوْنه استعماليږی۔

لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ، اضلال دلته گمراه کول او مرتد کول دواړه ته شامل دے۔

وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ، يعنې دوی په اضلال دَ نورو خلقو سره (که هغوی دَ دوی خبرے منی او که نه منی) پخپله گمراه شول ځکه څوک چه چا ته کلمه دَ کفر وائی يا عمل دَ کفر ته ترغيب ورکوی نو دا شخص په دے سره کافر شی۔ يا مراد دَ اضلال نه ځان دَ عذاب مستحق گرځول دی۔ يا مراد دَ اضلال نه نا اميده کيدل او تاوانی کيدل دی ځکه چه دوی کوشش کوی دَ اضلال دَ مؤمنانو او هغوی ئے او نه منی نو دوی نا اميده او تاوانيان شول۔

ت :. په دے کښې څلورم خيانت دَ دوی ذکر کوی او دعوت دے په طريقه دَ زجر ورکولو سره۔

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ، مراد دَ دينه تورات او انجيل دے او دَ کفر

يَٰٓأَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَلْبِسُوْنَ

اے کتاب والو ولے کډ دو کوئ تاسو

الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوْنَ

حق لره (په خلقو باندے) په باطل (شبهاتو) سره او پټوئ تاسو

الْحَقَّ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۷۱﴾

حق لره او تاسو علم لرئ۔

نه مراد دا دے چه په هغے کښ ذکر وو چه ابراهیم علیه السلام حنیف مسلم وو او دین حق خو دین اسلام دے او د آخری نبی صلی الله علیه وسلم په باره کښ بشارت او د هغه صفات وو او دوی د دے ټولو خبرو نه انکار کوی نو دا کفر دے په تورات او انجیل باندے اګرچه وائی چه مونږ دا کتابونه منو۔

وَأَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ، مراد د شهادت نه علم دے په تورات او انجیل باندے چه دا حق دی۔

ملک :۔ په دیکښ پنځم خباثت د دوی ذکر کوی او دعوت په طریقه د زجر سره ذکر کوی او تفسیر د تلبیس او کتمان په سوره بقره ۴۲ کښ تیر شوے دے۔

فائده :۔ په سوره بقره ۴۱، ۴۲ کښ نهی د کفر کولو او د تلبیس او کتمان نه ذکر کړے وه لیکن هر کله چه دوی په هغه نهی باندے عمل او نکړو نو په دے سورت کښ ئے ورته زجر ذکر کړو۔

وَأَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ، یعنی تاسو پوهیږئ په حق او باطل باندے په سبب د شهادت د تورات او انجیل سره نو شهادت سبب دے د پاره د علم نو د دے وجے نه اول آیت کښ ئے تشهدون او په دیکښ تعلمون ذکر کړے دے۔

وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ

او اُویل یو ډلې د کتاب والو نه رخپلو کشرانو ته

اٰمِنُوْا بِالَّذِیْٓ اُنْزِلَ عَلَی الَّذِیْنَ

ایمان ښکاره کړئ په هغه څیز چه نازل کړے شوے دے په هغه کسانو باندے

اٰمَنُوْا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوْٓا

چه ایمان ئې راوړے دے په اول د ورځ کښ او کفر اوکړئ

اٰخِرَهٗ لَعَلَّهُمْ یَرْجِعُوْنَ ﴿۷۲﴾

په آخر د ورځ کښ د دیاره چه دوی (مؤمنان) واپس شی (کفر ته) ۔

۷۲ :- په دے آیت کښ د دوی شپږم خباثت ذکر کوی چه هغه د خپلو ملګرو (چه اسلام ئې قبول کړے وؤ) د مرتد کولو دپاره حیله د منافقت جوړولو ده۔

طَآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ، طائفه جماعت ته وئیلے شی او په یو شخص باندے هم اطلاق کیدیشی او مراد د دینه غټ علماء دی۔ او مَامور لهم پټ دے یعنی غټو علماؤ د دوی بعضے کشرانو علماؤ ته اوئیل۔

اٰمِنُوْا، مراد د دینه ایمان په ژبه سره ښکاره کول دی۔

بِالَّذِیْٓ اُنْزِلَ عَلَی الَّذِیْنَ، مراد د دینه قرآن دے ټول یا بعضے احکام د هغے لکه کعبے ته مخ کول په مونځ کښ۔

وَجْهَ النَّهَارِ، دا ظرف دے دپاره د اٰمِنُوْا، وَجْهَ په لغت کښ مخ د هر څیز ته وئیلے شی دلته مراد اول د ورځے دے یعنی د زوال نه مخکښ وخت۔

وَاكْفُرُوْٓا اٰخِرَهٗ، ۀ ضمیر ورځ ته راجع دے او اخر د هغے ما زیګرے دے۔

لَعَلَّهُمْ یَرْجِعُوْنَ، ضمیر راجع دے ټولو مؤمنانو ته یا هغه مؤمنانو کتابیانو ته چه ایمان ئې راوړے وؤ۔ او دا حیله

وَلَا تُؤْمِنُوٓا إِلَّا لِمَن تَبِعَ

او خبره مه منئ (دَ هیچا) مګر دَ هغه چاچه تابعداري کوي

دِينَكُمْ قُلْ إِنَّ الْهُدَىٰ

دَ دین ستاسو ته اُوایه یقیناً (صحیح) هدایت

هُدَى اللَّهِ أَن يُؤْتَىٰ أَحَدٌ

خو هدایت (دین) دَ الله تعالیٰ دے آیا ورکیدے شي بل چاته

مِّثْلَ مَآ أُوتِيتُمْ أَوْ يُحَآجُّوكُمْ

پشان دَ هغې چه تاسو ته ورکړے شوے دے یا بهٔ دوی جګړه اوکړي تاسو سره

عِندَ رَبِّكُمْ قُلْ إِنَّ الْفَضْلَ

په نیز دَ رب ستاسو ته اُوایه یقیناً فضل

بِيَدِ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ

په لاس دَ الله تعالیٰ کښ دے ورکوي دغه فضل هغه چاته چه اوغواړي

وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (۷۳)

او الله تعالیٰ فراخ فضل والا دے عالم دے په هر څیز۔

دَ دوي بِنا وه دَ دوي په غلط ګمان باندے یعني دوي ګمان کوؤ چه ایمان دَ دے صحابو په تقلید باندے بِنا دے او تقلید خو په شك غورځولو سره باطلیږي لیکن ایمان دَ هغوي په علم او یقین سره دؤ دَ هغې ابطال په تشکیک سره نشي کیدلے۔

۷۳:۔ په دے آیت کښ دَ دوي اووم خباثت ذکر کوي۔ چه هغه وصیت کول دي په دین باطل سره سره دَ ضد او حسد نه۔ او دا آیت تتمه دَ مخکښ آیت ده او عطف دے په مخکښ اٰمَنُوٓا باندے دَ قالت دَ لاندے داخل دے یعني وئیلے دي مشرانو دَ دوي خپلو کشرانو ته عموماً یا هغه کسانو ته چه

رالیږلے ئےوؤ دَ اظهار دَ ایمان دَ پاره په اول دَ ورځ کښ۔
قرطبی او صاحب اللباب وئیلے دی چه دا ایت په دے سورت کښ ډیر مشکل دے وجه دَ اشکال ئې داده چه په دیکښ احتمالات او توجیهات مختلف دی اول دا چه وَلَا تُؤْمِنُوٓا ، ابن عطیه وئیلی دی چه اجماع ده دَ مفسرینو چه دا قول دَ یهودیانو دے خپلو کشرانو ته او قرطبی یو احتمال ذکر کړے دے چه دا قول دَ الله تعالیٰ دے مؤمنانو ته دَ پاره دَ کلکولو دَ زړونو دَ هغوی - لیکن په دیکښ اول قول غوره دے - دویم دا چه ایمان په لفظ دَ لَا تُؤْمِنُوٓا کښ په معنیٰ دَ تصدیق سره دے (ایمان شرعی) او لِمَنْ کښ لام زائد دے په معنیٰ دَ اقرار او اعتراف او تصدیق لغوی دے او لام دَ دے صله ده یا ایمان په معنیٰ دَ اظهار دَ ایمان دے چه په اول دَ ورځ کښ دے او په مخکښ آیت کښ ذکر دے اٰمِنُوٓا - دریم دا چه مستثنیٰ مِنْهُ دَ اِلَّا نه مخکښ پټ مراد ده یعنی لَا تُؤْمِنُوٓا لِاَحَدٍ، یا مستثنی مِنْهُ اَنْ یُّؤْتٰٓی اَحَدٌ اه دے او مستثنیٰ ئې مخکښ رادریده - خو دا قول ضعیف دے ځکه چه تقدیم دَ مستثنیٰ او په مینځ کښ ډیره فاصله دَ بلیغ کلام سره مناسب نه ده -

لِمَنْ تَبِعَ دِیْنَکُمْ ، په دیکښ دوه احتمالونه دی اول دا چه مراد دَ دیته خپل انبیاء دَ بنی اسرائیلو او خپل علماء دی یعنی دَ بنی اسرائیلو نه سیوا دَ بل چا دَ پاره رسالت او دَ بل عالم غیر دَ بنی اسرائیل نه تصدیق مه کوئ او خبره ئې مه منئ - دویم احتمال دا چه هغه خلق چه تابع وؤ دَ بنی اسرائیلو او اوس ئې اسلام قبول کړے دے نو هغوی ته په اول ورځ کښ خپل ایمان ښکاره کړئ او په آخر دَ ورځ کښ کفر اوکړئ نو دغه ملګری به دَ اسلام نه واپس را اوګرځی -

قُلْ اِنَّ الْهُدٰی ، په دیکښ دوه احتمالات دی اول دا چه

دا جواب دَ هغوی دَ قول لَا تُؤْمِنُوْٓا اه دے یعنی دوی هدایت په خپل قوم کښې منحصر کوی نو ته ورته اووایه چه هدایت په دین دَ الله تعالیٰ کښې منحصر دے اَلْهُدٰی نه مراد صحیح هدایت او دین دے او هُدَی الله نه مراد هغه دین دے چه الله تعالیٰ په خپلو کتابونو کښې او بیا په قرآن کښې رالیږلے دے۔ دویم احتمال دا چه دا جمله معترضه ده په مینځ دَ لا تؤمنوا او دَ مفعول دَ هغے کښې چه ان یوتی اه دے۔

هُدَی اللهِ ، په دیکښې دوه احتمالونه دی اول احتمال دا دے چه هُدَی اللهِ خبر دے دَ اِنَّ دَپاره دویم احتمال دا چه هُدَی الله بدل دے دَ الهدیٰ نه او خبر روستو ذکر دے۔

اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ مِّثْلَ مَآ اُوْتِيْتُمْ ، په دیکښې پنځه احتمالات دی اول دا چه دا مفعول دے دَ اول لَا تُؤْمِنُوْٓا دَ پاره لکه چه مخکښې ذکر شو۔ دویم احتمال دا چه دا مفعول دَ دَیت ولا تؤمنوا دَ پاره یعنی یهودیانو خپلو کشرانو ته اوئیل چه دا مه منئ چه ستاسو او زموږ نه سیوا به بل چا لره نبوت او کتاب او نور نعمتونه ورکړیشی یعنی دا آخری نبی او دَ هغه دین مه قبلوئ۔ دریم احتمال دا چه دلته همزه دَ استفهام پټ دے او هغه په قراءت دَ ابن کثیر (رکاری) او ابن محیصین او حمید کښې موجود دے یعنی آاَنْ يُّؤْتٰى او دا هم په قول دَ یهودیانو کښې داخل دے یعنی قَالُوْٓا اَاَنْ يُّؤْتٰى ، او دا استفهام انکاری دے۔ څلورم احتمال دا دے چه هدی الله بدل شی دَ الهدیٰ نه او اَن یؤتیٰ خبر دے دَ ان الهدیٰ دَپاره نو داخل دے لاندے دَ قل نه۔ پنځم احتمال دا دے چه اَنْ نه مخکښې لام تعلیلیه پټ دے تقدیر عبارت دا دے قُلْتُمْ مَا قُلْتُمْ وَدَبَّرْتُمْ مَا دَبَّرْتُمْ لِاَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ اه۔

يُحَآجُّوْكُمْ عِنْدَ رَبِّكُمْ ، په دیکښې هم احتمالات دی اول دا

يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

خاص كوي په رحمت خپل سره هغه چا لره چه اوغواړي

وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۷۴﴾

او الله تعالىٰ خاوند د فضل لوى دے ۔

عطف دے په يؤتى باندے دَ اَنْ دَ لاندے داخل دے نو په ديكښ هغه احتمالات دي چه په اَنْ يؤتى كښ ذكر شول او اُو دَ پاره دَ عطف دے ليكن په آخري احتمال (څلورم) كښ اُو په معنىٰ دَ اِلىٰ اَنْ يا اِلاّ اَنْ سره دے نو دا په يحاجوكم كښ دويم احتمال دے او مراد دَ محاجے نه په حجت كښ غالب كيدل دي او عِنْدَ رَبِّكُمْ كښ دوه احتمالونه دي اول دا چه په دنيا كښ په حكم دَ شرع كښ دوى په تاسو باندے حجت قائم كړي او تاسو به مغلوب شئ ۔ دويم احتمال كښ مراد دَ ورځ قيامت دے ۔

قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ، په ديكښ اول احتمال دا دے چه كله اَنْ يؤتى مستقل كلام شي نو دا دَ هغے جواب دے ۔ دويم احتمال دا دے چه كله اَنْ يؤتى دَ مخكښ نه جزء اوګرځي نو مستقل كلام دے دَ پاره دَ تسلئ دَ مؤمنانو ۔ تر دے ځائے پورے تقريبًا ځليرويشت احتمالات ذكر شول دَ دے نه علاوه نور هم شته دے چه مفسرينو ليكلي دي ۔ په دے ټولو كښ غوره قول دا دے چه لا تؤمنوا الخ مستقل كلام دے دَ يهوديانو دَ طرف نه خپلو كشرانو ته او قُلْ اِنَّ الْهُدٰى دَ هغے جواب دے او اَنْ يُّؤْتٰى الخ دويم قول مستقل دَ هغوى دے خپلو كشرانو ته او قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ دَ هغے جواب دے ۔

سِكے: دا هم داخل دے په جواب دَ يهوديانو كښ او الفضل نه مراد علم دَ دين او توفيق دَ عمل دَ حق دے او نعمتونه دي او دَ رحمت نه مراد رسالت او وحي ده هر كله چه

وَمِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مَنْ اِنْ

او بعض دَ كتاب والو نه داسې دي كه چرته

تَاْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُّؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَ ۚ

امانت ورکړې هغه له لو په خزانه در به کړي هغه تا ته

وَمِنْهُمْ مَّنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِدِيْنَارٍ

او بعض دَ دوی نه داسې دي که چرې امانت کيږدې ورسره يوه اشرفۍ

لَّا يُؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَ اِلَّا مَا دُمْتَ

نه ادا کوي هغه تا ته (په هيڅ وخت) مګر څو پورې چه هميشه چه ته

عَلَيْهِ قَآئِمًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

دَ هغه په خوا کښې ولاړ يې دا دَ دې وجې نه چه يقيناً دوی

قَالُوْا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْاُمِّيّٖنَ

وائي چه نشته په مونږ باندې په مال دَ اميانو کښې

سَبِيْلٌ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ

هيڅ ګناه او دوی جوړوي په الله تعالیٰ باندې

الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾

دروغ او دوی علم لري۔

فضل کښې لږ عموم وو او رحمت (په معنیٰ دَ رسالت) کښې خصوص دے دَ دې وجې نه دَ الفضل سره يې يختص نه دے ذکر کړے او واسع يې ورسره دَ عموم دَ پاره ذکر کړے او رحمت چه هر کله خاص مراد شي چه رسالت دے نو دے ته فضل عظيم ويلې شي نو دا هم خاص دے دَ مطلق فضل نه۔

ف۷۵ :۔ په دې آيت کښې دَ دوی اتم خباثت ذکر کوي۔ په

مخکښې آیت کښې دَ دوی خیانت ذکر کړو په دین کښې او س دَ دوی خیانت ذکر کوی په مالونو کښې - او په دے آیت کښې دَ دوی دوه قسمونه ذکر کوی یو قسم امانت دار او دویم قسم خیانت کر -

اول قسم مَنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُّؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَ ، مراد دَ قنطار نه ډیر مال دے یعنی په ډیر مال کښې هغوی امانت داری کوی نو لږ مال کښې خو په طریقه اولی سره کوی - قِنْطَارٍ ، دَ دے په مقدار کښې اختلاف دے اول قول یو زر او دوه سوه اوقیه (او قیه دَ څلویښت درهمو مقدار ته وئیلے شی) .
دویم قول دا چه دَ غوئی څرمن ډکه کړیشی - دریم قول لس لاکه دینار یا لس لاکه روپئ - او تفصیل ئے په آیت ۱۴ کښې ذکر شوید ے -

دویم قسم دَ دوی وَمِنْهُمْ مَّنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِدِيْنَارٍ لَّا يُؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَ ، مراد دَ دینار نه لږ مال دے چه په لږ مال کښې خیانت کوی نو په ډیر کښې خو خا مخا کوی باء په بقنطار او بدینار کښې په معنیٰ دَ فی یا په معنیٰ دَ علی سره دے ځکه چه دَ مِنْ په صله کښې علی ډیر استعمالیږی -

اِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا ، دا استثناء مفرغ ده تقدیر دَ عبارت داسے دے لَا يُؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَ فِىْ جَمِيْعِ الْمُدَدِ وَ الا زمنة اِلا فى مُدَّةِ دَوَامِكَ قَآئِمًا عَلَيْهِ ، (نه ادا کوی تا ته په ټولو مودو او زمانو کښې مګر په هغه موده کښې چه ته ورسره اولاړ یئے) (یعنی هر وخت ورپسے ځے راځے) او لفظ ما مصدریه او علیه متعلق دے په قائمًا پورے او دَ ابن عباس رضی الله عنهما روایت دے چه مراد دَ قیام نه هر وخت مطالبه کول او خصومت کول دی - او دا دلیل دے چه په قرض داری پسے ملازمه (را نختل او ګرځیدل) جائز دی - او مقصد دَ استثناء دا دے چه ادائیګی دَ یرے دَ الله تعالیٰ نه نه کوی بلکه دَ شرم او حیاء دَ خلقو

دَ وجے نه یئے کوی او دا قبیح صفت دے۔
فائده :- مراد دَ امانت نه عام دے که عین وی لکه چه ودیعت ورسره کیخودلے شی یا دین او قرض وی په سبب دَ عقد دَ خرخولو یا اجاره وغیره کول۔

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْاُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌ ، دا علت دَ خیانت ذکر کوی او اشاره ده چه دا خیانت کول دوی حلال او جائز گنړی او تحلیل دَ حرام شرعی خو صفت دَ کافرانو دے۔ فِي الْاُمِّيّٖنَ ، په اخستلو دَ مالونو دَ امیانو کښ۔ امیین نه مراد غیر کتابیان خلق دی۔ سَبِيْلٌ ، په معنیٰ دَ عذاب او گناه او ضمان دے۔
فائده :- مفسرینو دَ دے استحلال ډیر وجوه لیکلے دی۔ اوله وجه ، سخت تعصب دَ مخالفینو خپلو سره چه مالونه دَ هغوی په هره طریقه سره اخستل جائز گنړی۔ دویمه وجه ، دوی وئیل موږ ابْنٰٓؤُا اللّٰهِ یو نو خلق زموږ مریان دی او دَ مریانو مال مولا کانو لره اخستل جائز دی۔ دریمه وجه ، مذهب دَ یهودو دا دے چه څوک دَ یو دین نه بل دین ته نقل شی که حق وی او که باطل وی نو دا مرتد دے او مال یئے حلال دے۔ په دے امت کښ هم اوس داسے مبتدعین شته چه دَ بدعاتو په مختلفو طریقو سره دَ عوامو مالونه حاصلوی او وائی چه دا موږ لره جائز دی او وائی چه مال موذی خور دغازی۔ کله وائی دا امیان زموږ باغ باړئ دی۔

وَيَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ، په دیکښ دَ دغه استحلال دلیل ذکر کوی یعنی دوی وئیل چه دا جواز په تورات کښ ذکر دے او دا یئے دروغ وئیل نو دا گناه دے دَ بل گناه دَ پاسه (عذر گناه بد تر از گناه)۔
وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ، دوی پوهیږی چه خیانت گناه دے۔ او دوی پوهیږی چه دا په الله تعالیٰ باندے افتراء کول دی۔

بَلٰى مَنْ أَوْفٰى بِعَهْدِهٖ وَاتَّقٰى

بلکه چا چه پوره وفا او کړه په لوظ خپل سره او تقوی ئے او کړه

فَإِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۷۶﴾

نو یقیناً الله تعالیٰ مینه کوی د متقیانو سره۔

ﺗﺴﻬﻴﻞ:۔ هر کله چه مخکښ دوه قسمونه ذکر شول نو اوس د اول قسم (امانت دار) د پاره بشارت ذکر کوی او د هغوی دوه صفتونه ئے ذکر کړے دی اول وفاء کول په عهد باندے دویم تقوی او دا دواړه اسباب دی د پاره د امانت دارئ۔ بَلٰى، دا جواب د قول د دوی دے چه لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْأُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌ، په طریقه د هغه چه دوی د ګناه نفی کړے ده یعنی داسے نه ده لکه چه دوی وائی بلکه په دوی باندے ګناه شته دے۔ په دے قول سره دلته وقف دے او مَنْ أَوْفٰى نوے کلام شورو دے أَوْفٰى بِعَهْدِهٖ ضمیر راجع دے مَنْ ته یا الله تعالیٰ ته یعنی خیانت په مال او په دین کښ نه کوی او لویه وفا د کتابیانو دا ده چه په آخری نبی صلی الله علیه وسلم او په قرآن باندے ایمان اولری.
وَاتَّقٰى، یعنی ځان د افتراء علی الله او د خیانت نه بچ اوساتی او په خپل کتاب کښ تحریف او کتمان او تلبیس نه کوی۔ یعنی د دے آیت نه دړاندے چه کوم خبا تونه ذکر شول د هغے تولو نه ځان۔ بچ اوساتی۔
فَإِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ، دلته ئے المتقین اسم ظاهر په ځائے د ضمیر (هم) کښ راوړلو اشاره ده چه سبب د محبت د الله تعالیٰ د طرف نه تقوی ده که په کتابی کښ وی او که غیر کتابی کښ وی۔

إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ

يقينًا هغه کسان چه اخلی په لوظ (کتاب دَ هغه)

اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا

دَ الله تعالیٰ او په قسمونو خپلو دنیا معمولی

أُولَٰئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي

دغه کسان نیشته هیڅ برخه (دَ ثواب) دوی لره په

الْآخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ

آخرت کښ او خبرے به نه کوی دوی سره الله تعالیٰ

وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ

او نه به نظر کوی دوی ته په ورځ دَ

الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ

قیامت او نه به پاکوی دوی لره او دَ دوی دَ پاره

عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۷۷﴾

عذاب دردناک دے۔

۷۷: په دے آیت کښ دَ دویم قسم (چه خیانتګر دے) دَ پاره تخویف اخروی ذکر کوی په تقابل دَ صفتونو سره۔ مخکښ آیت کښ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ وَاتَّقَىٰ ذکر کړے وو نو په دیکښ دَ هغے مقابل ذکر کوی چه هغه ماتول دَ عهد دَ الله تعالیٰ دی او په هغے سره حرامه دنیا حاصلول دی۔ إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ، دلته هم دَ مخکښ آیت پشان عهد الله عام دے په دے داخل دے په هغے کښ ایمان په آخری رسول او قرآن باندے او په هغه احکامو چه په تورات او انجیل کښ ذکر دی یا په قرآن کریم کښ۔ او اشتراء

ئې داسې دہ چہ دَ هغې تحریف کوی او باطل تاویل ئې کوی او دَ هغه حکمونو مخالفت کوی یا ئې کتمان کوی دَ پاره دَ حصول دَ مال دَ دنیا ـ یا دَ جاه او اقتدار دَ پاره په حرامه طریقه اجرت اخستل یا په رشوت اخستلو سره یا په نورو حراموطریقو سره ـ

وَ اَيۡمَانِهِمۡ، دا تخصیص دے روستو دَ تعمیم نه ځکه چه په عهد الله کښ قسم کول په نوم دَ الله تعالیٰ یا ندے داخل دی او په دیکښ هغه قسمونه دَ دوی داخل دی چه مخکښ دَ راتللو دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه کتابیانو ذئیلے وؤ چه مونږ به ضرور په دے نبی باندے ایمان راوړو او نصرت به ئې کوؤ لکه چه دَ يَسۡتَفۡتِحُوۡنَ په تفسیر کښ تیر شویدی ـ دا رنګ قسمونه دَ مشرکانو عوامو چه مونږ به په کتاب او آیاتونو او نبی دَ الله تعالیٰ باندے ایمان راوړو لکه په سوره انعام ۱۰۹ او ۱۵۷ او سوره فاطر ۴۲ کښ ذکر دی دارنګ په وخت دَ خرڅولو دَ یو مبیعه (سامان) کښ په دروغه قسمونه کول دَ پاره دَ دے چه اخستونکی ته دهوکه ورکړی په سبب دَ حدیث دَ مسلم دَ (کتاب الایمان) کښ او حدیث دَ بخاری کتاب التوحید او کتاب الایمان والنذور په دیکښ داخل دی.

ثَمَنًا قَلِيۡلًا، دَ دے تفسیر په سوره بقره کښ ذکر کړے شوے دے ـ دَ داسے کسانو پنځه سزاګانے ذکر کوی ـ

اوله سزا اُولٰٓئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمۡ فِى الۡاٰخِرَةِ، مراد دَ خلاق نه حِصّهٔ دَ خیر او دَ ثواب دہ ـ او په دے سزا کښ دوه مرتبے دی اوله دا چه دغه اشتراء درجے دَ کفر ته رسیدلے وی یعنی اصول دَ ایمان ئې برباد کړے وی نو ټول عملونه دَ خیر ئې حبط شویدی نو هیڅ ثواب ئې نیشته دے ـ دویمه مرتبه دا چه دا اشتراء درجے دَ کفر ته نه وی رسیدلے نو په کوم اعمالو

وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُونَ

او یقینا دَ دوی نه خوا مخواه یو ډله ده تاوئ

أَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتَابِ لِتَحْسَبُوهُ

ژبې خپلې په لوستلو دَ کتاب سره دَ دَ دَ پاره چه تاسو ګمان اوکړئ په هغه باندې

مِنَ الْكِتَابِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتَابِ

دَ کتاب دَ الله تعالیٰ او نه دے هغه دَ کتاب دَ الله تعالیٰ نه

اوحکمونو (فروعات) باندے چه دنیا غوره کړے وی نو دَ هغې ثوابونه دَ آخرت دوی ته نه حاصلیږی ځکه چه په اجرت دَ دنیا سره دَ آخرت اجر باطلیږی۔

دویمه سزا وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ، دا سے په سوره بقره ۱۷۴ کښں تیر شویدی مراد تربنه دا چه دَ خوشحالئ خبرے به ورسره نه کوی (طبری)۔

یا دا چه هیڅ خبرے به ورسره پخپله نه کوی بلکه دَ ملائکو په ذریعه به ورسره حساب کوی۔ یا دا کنایه ده دَ ناراضګئ نه۔

دریمه سزا وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، نفی دَ نظر په اعراض کولو سره ده یا مراد نظر رحمت او شفقت دے۔ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، دَ لا یکلمهم او لا ینظر دواړو دَ پاره ظرف دے۔

څلورمه سزا وَلَا يُزَكِّيهِمْ، دَ دوی ثناء (تعریفونه) به نه کوی، دَ دوی مرتبے به نه اوچتوی دوی به دَ اثر دَ ګناهونو نه نه پاکوی۔

پنځمه سزا وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ دَ دے پنځه سزاګانو وجه دا ده چه هر کله دلته پنځه جرمونه ذکر رؤ۔ ۱ عهد ماتول۔ ۲ دَ هغې مقابلے کښں دنیا غوره کول۔ ۳ په دروغه باندے قسم کول۔ ۴ دَ الله تعالیٰ

وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِندِ اللّٰهِ

او دوی وائی چه دا د طرف د الله تعالیٰ نه دے

وَمَا هُوَ مِنْ عِندِ اللّٰهِ

او نه دے هغه د طرف د الله تعالیٰ نه

وَيَقُولُونَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ

او دوی جوړ دی په الله تعالیٰ باندے دروغ

وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿۷۸﴾

او دوی پوهیږی .

د نوم بے عزتی کول .عـ او دهوکه کول . د دے وجے نه د دے پنځه مناسب سزاګانے ذکر شوی دی . او دا سے په سوره بقره ۱۷۵ کښ هم تیر شویدی هلته صرف کتمان حق او دنیا غوره کول او خوراک کول د حرامو او حرام لره حلال ګنړل ذکر وو نو د هغوی مناسب ئے هلته خلود عذابونه ذکر کړے دی .

۷۸ :- په دے آیت کښ د دوی نهم خباثت ذکر کوی او د اشتراء بالعهد د پاره کیفیت ذکر کوی چه هغه تحریف او افتراء علی الله ده . هر کله چه د مخکښ صفاتو او د دے صفاتو (چه په دے آیت کښ ذکر دی) پوره مناسبت دے د یو بل سره د دے وجے نه په طریقه د عطف سره ئے ذکر کړل .

وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُنَ أَلْسِنَتَهُم بِالْكِتَابِ ، يَلْوُنَ د لَوی یَلْوِیْ نه اخستلے شویدے او د یَلْوُنَ واو په همزه سره بدل شوے دے لئ په اصل کښ اړول د څیزدی د نیغ والی نه کوږوالی طرف ته .

بِالْكِتَابِ ، حال دے په تقدیر د ناطقة بالکتاب سره

یا متعلق دے په یلوٗن پورے په معنیٰ دَ بقراءةِ الکتٰبِ - او زَبے اړول په کتاب سره په ډیرو طریقو سره دي اوله طریقه داده چه اراده اوکړی لفظ دَ تورات ته نو حرکات وغیره ورله بدل کړی په داسے طریقه چه معنیٰ ئے هم بدله شی او آوریدونکی گمان کوی چه دا عبارت دَ کتاب الله دے - دا کار دوی په تورات او انجیل دواړوکښ کولو او دا هم دَ تحریف یوه طریقه ده - دَ دے مثال په انجیل کښ دا دے چه په هغے کښ راغلی ووَ وَلَّدَ اللهُ عِیْسٰی (پیدا کړے دے الله تعالیٰ عیسٰی لره) نو دوی به لام په شد کښ تخفیف کولو وئیل به ئے وَلَدَ الله عیسی او په دے سره به ئے ولدیت دَ عیسٰی دَ الله تعالیٰ دَ پاره ثابتولو - دَ دے بل مثال لفظ دَ رَاعِنَا دے چه دوی په هغے سره لَیِ اللسان کولو یعنی راعینا یا راعن او الف به ئے اوړد کړو لکه په سورة نساء سلام کښ ذکر دی-او زمونږ امت کښ دَ دے مثال دا دے چه په قرآن کښ ذکر دی چه قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ، نو غلطے عقیدے والا (چه دَ رسول دَ بشریت نه منکر دی) داسے لولی اِنَّ مَا اَنَا بَشَرٌ یعنی دَ حرف ما نه نافیه جوړوی - دویمه طریقه، دوی به په تورات کښ دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ صفاتو عبارت بدل کړو او خپل عبارت به ئے اولوستلو په وزن دَ قراءت دَ تورات نو آوریدونکو به خیال کوو چه دا دَ تورات عبارت دے داسے زمونږ امت کښ هم شته چه بعضے باطل پرست خلق څه عربی عبارت دَ اثبات دَ غلطے عقیدے دَ پاره په وزن دَ قراءت دَ قرآن سره اولولی نو آوریدونکی گمان اوکړی چه دا عبارت دَ قرآن دے.- او دَ دینه امام رازی په تشدد او تکلف سره تعبیر کړے دے - دریمه طریقه ، امام رازی وئیلی دی چه هغه آیاتونه چه دلالت ئے کولو په اثبات دَ نبوت دَ نبی

صلی الله علیه وسلم نو په هغې کښې به پوره نظر پکار وؤ
نو دوی به په هغې باندې سوالونو او شبهات پیدا
کړل نو په آوریدو ونکو به التباس راغې او دوی به
وئیل چه مراد دَ دې آیاتونو نه دا دے څه چه موږ
وایو - (او امام رازی) مثال پیش کوی چه زموږ په زمانه
کښې چه بوحق والا یو آیت په دلیل کښې ذکر کړی نو باطل
پرست په هغې باندې اعتراض او شبه کوی چه دغه
مراد نه دے چه تاسو تر ینه اخلئ بلکه هغه مراد دے
چه موږ وایو لکه آیات دَ توحید او دَ ردِ دَ مشرکانو او
آیاتونه دَ صفاتو دَ الله تعالیٰ -
لِتَحْسَبُوْهُ مِنَ الْكِتٰبِ ، هُ ضمیر راجع دے هغه محرف ته
چه یَلْوٗنَ په هغې باندې دلالت کوی - یا دَ بالکتاب نه مراد
بِشِبْهِ الْكِتَابِ دے او ضمیر دَ تحسبوه هغه شبه ته راجع دے -
وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ، دَ دے
او دَ ما قبل جملې فرق په څو وجوهو سره دے - اوله
وجه دا ده چه په يَلْوٗنَ اَلْسِنَتَهُمْ سره ئې تحریف کولو
په غلط عبارت لوستلو سره او په دے جملې کښې تحریف
دے په غلط نسبت کولو سره چه دَ ځان نه به ئې غلط
عبارت جوړ کړو او دَ هغې په اول کښې به ئې اوئیل
قال الله تعالیٰ - دویمه وجه دا ده چه مخکښې الکتاب نه
مراد تورات وؤ او دلته مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ کښې به ئې إشاره
کوله نورو کتابونو الهیؤ ته او په هغې باندې به ئې غلطه
حواله ورکوله - دریمه وجه دا ده چه اثبات دَ حکم
شرعي په کتاب الله پورې خاص نه دے کله په سنت
یا اجماع سره هم ثابتیږی او هغې ته هم من عند الله
وئیلې شی - اوس هم دا اسے مرضونه په دے امت کښې
موجود دی -
وَيَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ، دا عطف تفسیر دے

مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُّؤْتِيَهُ

نه دي جائز هيڅ (داسې) بنده لره چه ورکړې دي هغه ته

اللّٰهُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ

الله تعالىٰ كتاب او پوهه دُ دين او پيغمبري

ثُمَّ يَقُوْلَ لِلنَّاسِ كُوْنُوْا

بيا دے اُووائي خلقو ته شئ تاسو

عِبَادًا لِّيْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ

عبادت كوونكي زما سوا دَ الله تعالىٰ نه او ليكن

كُوْنُوْا رَبّٰنِيّٖنَ بِمَا كُنْتُمْ

شئ تاسو خدائے پرست خلق په سبب دَ دے چه تاسو

تُعَلِّمُوْنَ الْكِتٰبَ وَبِمَا كُنْتُمْ

تعليم وركوئ (خلقو ته) دَ كتاب دَ الله تعالىٰ او په سبب دَ دے چه تاسو

تَدْرُسُوْنَ ﴿٧٩﴾

پخپله ئے لوستل كوئ ـ

په ماقبل باندے يعني په دغه دواړو طريقو كښ دَ دوى كار افتراء على الله ده سره دَ علم نه چه دا افتراء ده او دا گناه عظيم دے ـ

٧٩ :ـ په دے آيت كښ دَ دوى لسم خيانت ذكر كوى او جواب دَ شبهے دَ دوى دے دَ پاره دَ اثبات دَ الوهيت دَ عيسىٰ عليه السلام او جواب دے په طريقه دَ ذكر دَ منافات دَ بشريت او دَ الوهيت ـ او دَ مخكښ آيت سره مناسبت دا دے چه هلته ئے زجر وركړو چه دوى په الله تعالىٰ باندے دروغ وائي نو اوس ذكر كوى چه دوى په انبياء عليهم السلام باندے هم دروغ وائي ـ

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ، بشر ټولو بنی آدمو ته وئیلے شی دا اسم جنس دے واحد او جمع دواړو دَپاره استعمالیږی۔ دلته مراد په اعتبار دَ سبب نزول سره عیسٰی علیه السلام دے ځکه چه نصارٰی وائی چه عیسٰی علیه السلام موږ ته امر کړے دے چه ځما او ځما دَ مور عبادت کوئ ځه ستاسو ذمه وار دَ نجات یم۔ او دَ دے متعلق سوال او جواب په قیامت کښ په سورة مائده ۱۱۶ کښ ذکر دے۔ یا مراد دَ دیته محمد صلی الله علیه وسلم دے بنا په یو روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما او دَ عطاء چه یو یهودی او نصرانی اوئیل چه یا محمد ته غواړے چه موږ ستا عبادت اوکړو او ستا ته رب جوړ کړو نو هغه اوفرمائیل معاذ الله چه ځه دے امر اوکړم په عبادت دَ غیر الله۔ دا رنګ په دیکښ اصلاح دَ هغه صحابه کرامو هم مقصد ده چه هغوی وئیل چه موږ ته اجازت اوکړه چه تا ته سجده (دَ اکرام) کوؤ نو هغه منع اوکړله او اوفرمائیل ئے چه وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَأَكْرِمُوا أَخَاكُمْ (حدیث)۔ دا ټول مصداقات ابوحیان او صاحب اللباب او قرطبی وغیره ذکر کړی دی۔ او په اعتبار دَ عموم دَ بشر سره ټول هغه بندګان په دیکښ داخل دی چه روستو صفتونه ورله هم ثابت دی یعنی انبیاء علیهم السلام خو دعوی دَ الوهیت بالکل نه کوی او نور بندګان هم دَ دیته منع کړے شویدی۔

فائده:- ابوحیان وئیلی دی چه دَ ما کان استعمال په دوه قسم سره دے اول قسم نفی په اعتبار دَ عقل سره او دا نفی تام ده لکه دا آیت او مَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُنْبِتُوا شَجَرَهَا (نمل ۶۰) وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللهِ (آل عمران ۱۴۵)۔ او دویم قسم نفی په طریقه دَ انبغاء (مناسب ګڼړل) سره یعنی مَا كَانَ لِلَّذِينَ آمَنُوا فَتَحَافَةً أَنْ

يَتَقَدَّمَ فَيُصَلِّيَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ۔
او څه وایم چه لفظ دَ ما کان په قرآن کریم کښې ٤٠ کرته دے
او استعمال دَ دے په شپږ وجوهو سره دے اوله وجه نفي دَ امکان
ده چه دا کار کیدے نشي ممکن نه دے لکه په آلعمران ١٤٥،
یونس ١٠٠، رعد ٣٨، ابراهیم ١١، نمل ٦٠، قصص ٦٨، غافر
٧٨ او شوریٰ ٥١۔ دویمه وجه په معنیٰ دَ لَا ینبغي (مناسب نه
دی) او لَا یجوز لکه په آلعمران ١٦١، نساء ٩٢، انفال ٦٧،
توبه ١١٣، ١٢٠، ١٢٢، یوسف ٣٨، فرقان ١٨ او احزاب ٣٦،
٥٣۔ دریمه وجه ما موصوله دے لکه په انعام ١٣٦ کښې،
څلورمه وجه عدم قبولیت لکه په سوره توبه ١٧ کښې۔ پنځمه
وجه اخبار په طریقه دَ بشارت دے بنا په یو تفسیر سره په
سوره بقره ١٤٣۔ شپږمه وجه نفي دَ وجود په دے معنیٰ
سره ډیر استعمالیږي په صفت دَ الله تعالیٰ کښې لکه بقره ١٤٣،
آلعمران ١٧٩، انفال ٣٣۔ او په صفت دَ مخلوق کښې لکه په
سوره بقره ١٣٥، آلعمران ٦٧ او یونس ١٩ کښې۔ او په صفت
دَ قرآن کریم کښې په سوره یونس ٣٧ کښې۔ او په دے آیت
کریمه کښې نفي دَ وجود ده په طریقه دَ اخبار سره دَ طرف
دَ الله تعالیٰ نه یعني یو بشر کښې دا صفتونه متضاد نه وي (نبوت
او شرک ته دعوت ورکول)۔ یا په معنیٰ دَ لا ینبغي او لا یجوز
دے یعني یو بشر نبي لره دعوت شرک ته جائز او مناسب
نه دے۔
اَنْ يُّؤْتِيَهُ اللهُ الْكِتٰبَ، مراد دَ دے نه قرآن یا انجیل دے
او تورات ته هم شامل دے۔
وَالْحُكْمَ، مراد دَ دینه علم او فهم دَ دین دے یا احکام دی
چه دَ هغے نه تعبیر په سنت او حدیث سره کیدلے شي۔
وَالنُّبُوَّةَ، دا رسالت ته هم شامل دے۔
اَنْ يُّؤْتِيَهُ، اسم دَ کان دے او بشر خبر مخکښې دے
دَ پاره دَ دے چه ضمیر دَ یؤتیه او یقول ورته راجع شي

او ثُمَّ يَقُوْلَ لِلنَّاسِ عطف دے په يؤتيه بانديے او ديته عطف لازمه وئيلے شي ځکه چه بغير دَ ذکر دَدے معطوف نه معنىٰ نه صحيح کيږي او مقصود په ديکښ نفى دَدے معطوف ده يعنى داسے بشر خوشته دے چه الله تعالىٰ ورته کتاب او سنت او نبوت ورکړے وي ليکن دا قول دَ هغه دَ طرف نه خلقو ته نيشته دے چه
كُوْنُوْا عِبَادًا لِّيْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ، بعض مفسرينو دَ لفظ عباد او عبيد په استعمال کښ فرق کړيدے په داسے طريقے سره چه لفظ عباد په مقام دَ عزت او اکرام کښ ذکر کيږي او لفظ عبيد په مقام دَ تحقير کښ ذکر کيږي - ليکن په دے باندے ابوحيان اعتراض کړيدے - او بعضو وئيلے دي چه دَ دوي فرق دا دے چه لفظ دَ عباد جمع قياسي دَ عبد دَ پاره ده او لفظ دَ عبيد جمع غير قياسي ده او مدلول دَ دواړو يو دے او لفظ عبيد دَ آيا تونو په آخر کښ دَ موافقت دَ فواصلو دَ پاره ذکر کړے دے - او بل فرق دا دے چه عباد لفظ ملائکو او انسانانو

او جناتو صالحينو

غير صالحينو ټولو ته عام استعماليږي او لفظ دَ عبيد په انسانانو او جناتو (مکلفينو) پورے خاص دے او دلته مراد دَ عبديت نه دَ تعين دے عبديت دَ ملکيت نه دے او لفظ دَ من دون الله په دے باندے دلالت کوي -

وَلٰكِنْ، په لفظ دَ ولکن کښ اثبات دَ هغه لفظ وي چه مخکښ دَ هغے نفى کړے شوي وي يعنى ولکن يَقُوْلُ -

كُوْنُوْا رَبّٰنِيّٖنَ، دا جمع دَ رباني ده او په ديکښ دوه قولونه دي اول قول دَ سيبويه دے هغه وئيلي دي چه منسوب دے رب ته الف نون په ديکښ زياتي دي دَ پاره دَ مبالغے او په مقام دَ نسبت کښ دا زيادت استعماليږي - نو معنىٰ دَ دے منسوب ده رب ته يعنى عالم دے دَ هغه په ربوبيت باندے او هميشه الے کوي دَ هغه په طاعت

کولو بانـدے نو معنیٰ دَ دے خدائی یا خدا پرست سړے دے.
او هغه وئیلی دی چه ربانی لفظ خاص دے په علم بالرب
پورے نو د علمونو والا ته نشي وئیلے - او دویم قول دَ
مبرد دے هغه وئیلی دی چه دا جمع دَ ربان ده په معنیٰ
دَ مُعَلِّمُ دَ خیر چه انتظام کوونکے دی او دَ خلقو دینی کارونه
سه پیژنی - او مفسرینو په دیکښ ډیر اقوال نقل کړے دی
اول قول دَ علی او ابن عباس رضی الله عنهم دے چه مراد
فقهاء علماء او عمل کوؤنکی دی په علم باندے - دویم
قول دَ قتاده دے چه مراد علماء او حکماء دی - دریم قول
دَ سعید بن جبیر دے چه مراد عالم باعمل دے او تعلیم
ورکوؤنکے نورو خلقو ته - بخاری وئیلی دی چه هغه څوک
چه تربیت دَ خلقو کوی په جزئیاتو دَ مسائلو سره (دَ
دے دَ پاره چه خلق ور باندے عمل اوکړی) مخکښ دَ
کلیاتو او قواعدو دَ علومو نه - او نور اقوال هم شته دے
لیکن غوره دا ده چه روستو دَ دے دَ پاره تفسیر ذکر دے
په ذکر دَ سبب دَ ربانیت سره چه بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُوْنَ
الْكِتٰبَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُوْنَ ، تعلمون په معنیٰ دَ خپله
لوستلو او ایژده کولو سره او تدرسون په معنیٰ دَ درس کولو نو خلقو ته
یا په عکس سره دَ او دا غوره دَ اول صفت دَ ربانیت دَ امتیاز دَ پاره
دے دَ دے وجے نه ئے هغه مخکښ ذکر کړو حاصل دا دے
چه په تمام تعلیم دَ کتاب الله سره ربانیت حاصلیږی او
سوره مائده ۴۴ کښ ذکر کړیدی چه ربانیّین هغه
دی چه دَ الله تعالیٰ په کتاب باندے فیصلے کوی او دَ هغے
کتاب علم او حفاظت کوی -
فائده ۱ :- دا آیت دلیل دے چه هر کله دَ یو نبی صاحب
دَ کتاب دَ پاره جائز نه دی چه دعوت اوکړی خپل عبادت
ته نو بل هیڅ مؤمن لره په اولیٰ طریقے سره دا جائز
نه دی (حسن بصری) -

وَلَا يَأْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوا
او اجازت نه درکوي تاسو ته چه او نيسئ تاسو

الْمَلٰٓئِكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ اَرْبَابًا ؕ
ملائک او پيغمبران خدايان

اَيَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ
آيا اجازت درکړي تاسو ته دَ کفر کولو روستو

اِذْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۸۰﴾ ع
دَ هغه وخت نه چه تاسو مسلمانان يئ۔

۸ ع ۹ ۱۶

فائده ۲: - په دے آيت کښ دليل دے چه دَ علم دَ دين حصول ضروري دے او په هغے باندے عمل کول او نورو خلقو ته تعليم ورکول او درس او تدريس دَ کتاب الله ډيره لويه مرتبه ده او په دے سره ربانيت حاصليږي (قاسمي)۔
فائده ۳: - دا آيت دليل دے چه دَ عبديت اضافت نوم دَ غير الله تعالىٰ ته جائز نه دے نو عبد النبي او عبد الرسول وغيره نومونه کيخودل جائز نه دي که په معنىٰ دَ عبديت سره يئے مراد وي نو ښکاره شرک دے او که په معنىٰ دَ خدمتګار او غلام سره اخلي نو هم مُوهِم دَ شرک دے۔
۸۰: - دا هم تاکيد دَ ماقبل دے او ترقي ده په بيان کښ يعني لکه چه عبديت ته دعوت نه ورکوي نو دا رنګ ربوبيت دَ ملائکو او انبياؤ عليهم السلام ته هم دعوت نه ورکوي۔
وَلَا يَاْمُرَكُمْ، عطف دے په يقول باندے په تکرار دَ لا سره دَ پاره دَ تاکيد او ضمير په لا يامرکم کښ راجع دے هغه بشر ته يا ضمير راجع دے الله تعالىٰ

وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ

او کوم وخت چه واخست الله تعالیٰ پوخ لوظ دَ پیغمبرانو (محکمی) نه

لَمَآ اٰتَيْتُكُمْ مِّنْ كِتٰبٍ وَّ

خوامخواه هغه چه درکړے دے ما تاسو ته څه کتاب او

حِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ

سنت بیا راشی تاسو ته رسول

مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ

چه تصدیق کوونکے وی دَ هغه چه تاسو سره وی ضرور ایمان به راوړئ

بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ ؕ قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ

په هغه باندے او ضرور مدد به کوئ دَ هغه اوفرمائیل الله تعالیٰ آیا تاسو اقرار اوکړو

ته او مراد دَ امر نه اذن او اجازت ورکول دی او په دے معنیٰ سره هغه حدیث هم دے چه لَوْكُنْتُ آمِرًا اَنْ يَّسْجُدَ اَحَدٌ لِاَحَدٍ لَاَمَرْتُ الْمَرْءَةَ اَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا ۔دلته هم امر په معنیٰ دَ نفس اذن ورکولو سره دے۔
اَرْبَابًا ، جمع دَ رب ده دلته په عامه معنیٰ سره مراد دے تصرف او تدبیر دَ عالم چلوونکے په حکم تکوینی او حکم تشریعی جوړولو سره یا مراد خاصه معنیٰ ده یعنی معبود۔
اَيَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ، دا دلیل دے چه غیر الله که هغه ملائک ۔او انبیاء وی او که بتان وغیره وی رب جوړول دَ هغوی په خاصه معنیٰ او عامه معنیٰ سره کفر او ارتداد دے دَ اسلام نه۔
فائده :- ابوحیانؒ وئیلی دی چه په دیکښ اشاره ده چه کفر ټول ملت واحده دے ځکه هغه څوک چه ملائک ارباب گرځولے دی هغه صابئین او بت پرست دی او هغه څوک چه انبیاءؑ ارباب گرځولے دی هغه یهود او نصاریٰ او مجوس

وَأَخَذْتُمْ عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِي ۖ

او قبول کړے دے تاسو په دے باندے وعده زما

قَالُوا أَقْرَرْنَا ۚ قَالَ فَاشْهَدُوا

دوی اُوئیل موږ اقرار کوو او فرمائیل الله تعالیٰ نو گواه شئ

وَأَنَا مَعَكُم مِّنَ الشَّاهِدِينَ ﴿٨١﴾

او زه تاسو سره د گواهئ ورکونکو نه یم۔

دی او ټولو ته ئے نوم د کفر کیخودلے دے۔

۸۱: په دے آیت کښ د دوی یوؤلسم خباثت ته اشاره ده ماخذ د اشارے ورپسے آیت دے او دا آیت تمهید دے یعنی د دے آخری نبی صلی الله علیه وسلم په باره کښ د ټولو انبیاؤ سابقینو ته وعده اخستلے شوے ده چه د ده تصدیق به کوئ او ملګرتیا به ئے کوئ که د ده زمانه مو او موندله او خپلو امتونو ته به هم دا وصیت کوئ لیکن یهودو او نصاراؤ د دے نبی صلی الله علیه وسلم د بعثت نه روستو د هغه نه انکار کړے دے۔ او ربط ئے د مخکښ آیت سره دا دے چه دوی سبب د انکار دا سے ګرځولو چه په دروغ ئے وئیل چه دا نبی غواړی چه موږ د ده عبادت اوکړو نو الله تعالیٰ اول د دوی د دغه خبرے تردید اوکړو تو او س د هغه نبی صلی الله علیه وسلم صدق ذکر کوی۔

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ، په متعلق لفظ د اِذْ کښ درے اقوال دی۔ اول قول، دا خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلم ته او لفظ اُذْكُرْ لَهُمْ (دوی ته یاد کړه) پټ دے۔ دویم قول، لفظ د اُذْكُرُوا پټ دے او خطاب دے یهودو او نصاراؤ ته۔ دریم قول، دا متعلق دے په روستو قَالَ ءَأَقْرَرْتُمْ پورے۔ دا رنګ د دے میثاق په باره کښ د مفسرینو درے اقوال دی

اول قول دا دے چه دا میثاق دَ ټولو انبیاؤ سابقینو نه اخستلے شوے دے او مختص دے په محمد صلی الله علیه وسلم پورے او مراد دَ رسول نه آخری رسول دے او دا قول دَ علی او ابن عباس رضی الله عنهم نه روایت دے۔ دویم قول دا دے چه مراد دَ دینه هر رسول دے چه دَ هر رسول مخکنی نه دَ هغه په باره کښ میثاق اخستلے شوے دے او دا قول دَ طاؤس او حسن بصری نه نقل دے۔ دریم قول دا دے چه دَ دے په مینځ کښ منافات نیشته ځکه چه دویم قول مستلزم دے اول قول لره او دا ابن کثیر ذکر کړے دے۔ او دَ اول قول دَ تائید دَپاره ابن کثیر صحیح حدیث ذکر کړے دے چه لَوْ کَانَ مُوْسیٰ حیًا لَـمَا وَسِعَه الا اتباعی۔ او بل حدیث ئے ذکر کړے دے چه لَوْ کَانَ مُوْسیٰ وعیسیٰ حیین لَمَا وَسِعَهُمَا، لیکن دا حدیث بے سنده دے دیته اعتبار نیشته۔ دَ دے جواب دَ متوفیك په تفسیر کښ موتږ ذکر کړیدے۔ دا رنګ دَ دے میثاق په کیفیت کښ هم اقوال دی اول قول دادے چه دَ هر نبی په زمانه کښ هغه ته دا سے وحی کړے شوے ده چه دَ آخری رسول تصدیق او نصرت به کوئ دلته الله تعالیٰ هغه ټول په دے لفظ النبیّن کښ جمع کړل نو الف لام عهدی دی دَ محمد صلی الله علیه وسلم نه مخکښ ټول انبیاء مراد دی۔ دویم قول دا دے چه په عالم الذر کښ چه الله تعالیٰ دَ آدم علیه السلام دَ شا نه اولاد راویستل نو دوے وعدے ترینه واخستلے یو وعده دَ ټولو نه په باره دَ ربوبیت دَ الله تعالیٰ کښ لکه په سوره اعراف ۱۷۲ کښ ذکر ده دویمه وعده دَ ټولو رسولانو نه سره دَ آخری رسول نه په باره دَ دعوت کولو کښ او دا په سوره احزاب ۷ کښ ذکر ده او دریمه وعده دَ ټولو انبیاؤ مخکنو نه ماسیوا دَ آخری رسول نه په باره دَ تصدیق دَ

آخری رسول کښې هغه په دے آیت کښې ذکر ده۔ دریم قول دا دے چه په مخکنو کتابونو کښې دَ دے نبی صفات ذکر دی نو هر کله چه دَ آخری نبی صفات دَ هغه لیکلو سره برابر شول چه په مخکنو کتابونو کښې وو نو دا پښان دَ میثاق شو۔ په دیکښې اول قول غوره دے۔ دا رنګ دَ دے میثاق په موثق علیهم کښې هم درے اقوال دی اول قول دا دے چه دا میثاق خاص دے په انبیاؤ پورے دویم قول دا دے چه ذکر دَ انبیاء دے او مراد تری نه امتونه دَ هغوی دی۔ دریم قول دا دے چه انبیاء سره دَ امتونو نه مراد دی۔ په دیکښې اول قول مستلزم دے دویم لره او دواړه غوره دی۔

لَمَآ اٰتَیْتُکُمْ مِّنْ کِتٰبٍ وَّحِکْمَةٍ، لام دَ پاره دَ تاکید دَ جواب قسم دے او قسم په لفظ اخذ الله میثاق کښې اشارتًا ذکر دے۔ په لفظ دَ ما کښې ډیر اقوال دی اول دا چه ما شرطیه دے او مِنْ او ثُمَّ جَآءَکُمْ رَسُوْلٌ عطف دے په اٰتَیْتُکُمْ باندے او لَتُؤْمِنُنَّ جواب دَ شرط دے۔ او دویم قول دا دے چه سیبویه دَ خپل استاد خلیل نه دَ دے تپوس کړے وو نو هغه ورته وئیلی وو چه دا ما پښان دَ الذی دے او لام دَ پاره دَ نفس تاکید دے مبتدا ده او من زیاتی خبر دے دَ الذی دَ پاره۔ او دریم قول دَ ابو علی فارسی دے چه ما موصوله دے من کتاب بیان دَ ما دے او ثُمَّ جَآءَکُمْ په دے باندے عطف دے۔ څلورم قول دا دے چه ما موصوله دے او مفعول دے دَ پاره دَ پټ فعل یعنی وَاِذْ اَخَذَ اللهُ مِیْثَاقَ النَّبِیّٖنَ لَتُبَلِّغُنَّ النَّاسَ مَا اٰتَیْتُکُمْ او مِنْ کِتٰبٍ وَّحِکْمَةٍ دَ هغے بیان دے۔ پنځم قول دا دے چه ما په معنیٰ دَ مَهْمَا سره دے او په معنیٰ دَ ظرف سره دے۔ کِتٰبٍ نه مراد وحی جلی ده دَ هر یو نبی او وَحِکْمَةٍ نه مراد وحی خفی ده دَ هر یو نبی۔

سوال :- هر نبی له کتاب نه دے ورکړے شوے ؟
جواب :- کتاب عام دے چه نازل کړے شوبوی په هغه باندے یا د مخکښ نبی نه ورته پاتے شوے وی او روستی ته حکم ورکړے شویوی د هغے کتاب په باره کښ د دے وجے نه انزلت علیکم یې نه دے وئیلے بلکه اتَیْتُکُمْ یې وئیلے دے۔ ثُمَّ جَآءَکُمْ رَسُوْلٌ ۔
سوال :- رسول خو انبیاؤ ته نه راځی ؟
جواب :- مراد دا چه که ستاسو په زمانه کښ بالفرض راشی یا ستاسو امتونو ته راشی ۔
مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَکُمْ ، دا صفت دلیل دے چه مراد د دیته محمد صلی الله علیه وسلم دے ځکه چه دا صفت د هغه په ډیرو آیاتونو کښ ذکر دے او د عیسی علیه السلام په باره کښ ذکر دے لیکن هغه خاص دے د تورات سره ۔
لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ ، ایمان او تصدیق یو والے د زمانے نه غواړی یعنی مخکښ انبیاء مکلف وُو چه په آخری رسول به ایمان راوړی او د هغه رسالت او ختم نبوت به منی ۔
وَ لَتَنْصُرُنَّهٗ ، د نصرت ډیر قسمونه دی اول دا چه په شرط د وجود سره د هغه په زمانه په جهادونو او غزاګانو کښ ملګرتیا اوکړی ۔ دویم دا چه خپلو امتونو ته تاکیدی حکم ورکړی چه د آخری نبی سره به مرسته کوئ او د هغه خلاف به نه کوئ ۔ دریم دا چه د هغه تصدیق، علامات او نښے به خپلو امتونو ته ذکر کوئ چه د هغے تحریف او نکړی ۔
فائده :- ابن کثیر په البدایه والنهایه او نورو اهل علمو لیکلی دی چه دا دلیل دے چه خضر علیه السلام مخکښ وفات شوید ے ځکه که د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښ ژوندے وے نو په غزوه بدر، احد او احزاب وغیره کښ به ضرور موجود وے لیکن هیچا د

صحابه کرامو نه وئیلے نه دی چه مونږ په یو غزوه کښې خضر علیه السلام لیدلے دے او حال دا دے چه هغه بشر دې په ستر کو سره ضرور ښکاره کیدلو، هاں عیسیٰ علیه السلام ژوندے دے لیکن هغه په آسمان کښې دے او دَآسمان نه راکوځیدل دَهغه په اختیار کښې نه دی۔

قَالَ ءَ اَقۡرَرۡتُمۡ، فاعل دَقال الله تعالیٰ دے او استفهام په دیکښې دَ تقریر او دَ امر په معنیٰ سره دے چه اقرار اوکړئ په دے میثاق باندے په ژبے سره لکه چه په زړه کښې هم تاسو تصدیق کوئ۔

وَ اَخَذۡتُمۡ عَلٰی ذٰلِکُمۡ اِصۡرِیۡ، اخذ په معنیٰ دَقبلولو سره دے ذالکم اشاره ده لَتُؤۡمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنۡصُرُنَّهٗ ته۔ اصر په لغت کښې تړلو ته وئیلے شی او مراد دَ دینه عهد دے چه بنده او تړلے شی یا مراد دَ اخذ نه دَ امتونو نه دا وعده اخستل دی۔

قَالُوۡۤا اَقۡرَرۡنَا، دا لفظ جواب دَاولے جملے او دویمے دواړو ته شامل دے دَ دے وجے نه صرف نعم یئے او نه وئیلو نو معنیٰ دا چه اقرار کوو په ایمان راوړلو سره په هغه باندے او په مدد کولو سره او اِصر یئے هم قبول کړے دے لیکن اول مستلزم دے دویم لره دَ دے وجے نه دویم یئے حذف کړو۔

قَالَ فَاشۡهَدُوۡا، دَ دے یو معنیٰ دا ده چه امتونو ته دا بیان اوکړئ۔ شهادت په معنیٰ دَ بیان دے۔ دویمه معنیٰ دا ده چه په یو بل باندے ګواهان شئ په وخت دَ اقرار کولو کښې نو شهادت په معنیٰ دَ ګواهئ کولو دے۔ دریمه معنیٰ ګواهان شئ په ځان باندے په علم او په اقرار سره۔ یا دا خطاب دے ملائکو ته چه ګواهان شئ په دے میثاق اخستلو باندے۔

وَ اَنَا مَعَکُمۡ مِّنَ الشّٰهِدِیۡنَ، جمله حالیه ده یا استیناف دَے

فَمَنْ تَوَلّٰى بَعْدَ ذٰلِكَ

نو چا چه مخ واړوؤ (دَ دے رسول نه) روستو دَ دے (میثاق) نه

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۸۲﴾

نو دغه کسان خاص دوی لوے نافرمان دی۔

اَفَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ يَبْغُوْنَ

آیا سوا دَ دین دَ الله نه لټوی دا خلق (بل دین)

وَلَهٗٓ اَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ

او خاص دَ الله تعالیٰ دَپاره تابعداری کوی هغه څوک چه په آسمانونو کښ دی

دَپاره دَ تاکید۔

فائده :- ابن کثیر په تفسیر دَ دے آیت کښ لیکلی دی چه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم امام اعظم دے که په هره زمانه کښ وی او دَ ده طاعت دَ ټولو انبیاؤ په طاعت باندے مقدم دے دَ دے وجے نه په شپه دَ اسراء کښ دَ ټولو انبیاء امام وؤ او په ورځ دَ قیامت کښ به اول شفاعت کوؤنکے وی۔

۸۲ :- په دیکښ تعریض دے په یهودیانو او نصاراؤ باندے چه هغوی دَ دے رسول نه انکار کړے دے۔

فَمَنْ تَوَلّٰى ، چه اعراض اوکړی دَ ایمان نه پدے رسول باندے او دَ نصرت دَ ده نه۔

بَعْدَ ذٰلِكَ ، روستو دَ دے میثاق او اقرار نه یا روستو دَ شهادت کولو دَ رسولانو مخکښو نه۔

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ، فسق کامل مراد دے چه هغه کفر او نافرمانی ده۔

وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّاِلَيْهِ

او په ځمکه کښې دي په خوشحالئ او په زور او خاص هغه طرف ته

يُرْجَعُوْنَ ﴿۸۳﴾

ټول ورګرځولے شي۔

س۸۳ :- دا زجر متعلق دے دَ فَمَنْ تَوَلّٰى او دَ اَلْفٰسِقُوْنَ سره او دَ فا نه مخکښې معطوف عليه پټ مراد دے يعني اَيَتَوَلَّوْنَ وَيَفْسُقُوْنَ فَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ يَبْغُوْنَ ، يعني مخ ګرځول دَ ايمان دَ دے نبي نه او نافرماني کول مستلزم دي طلب کولو دَ بل دين لره۔

دِيْنِ اللّٰهِ، اضافت دَ دين الله تعالىٰ ته دَ دے وجے نه دے چه هغه دا دين جوړ کړے او مقرر کړيں دے۔

يَبْغُوْنَ ، دَطلب کولو نه مراد په هغے سره تدين او تعبد کول دي۔ او طلب ئے دَ دے وجے نه ذکر کړو چه هر وخت دَ هغے نه پلټنه کوي۔

وَلَهٗۤ اَسْلَمَ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا ، دا جمله حال دے دَ ما قبل نه ، اَسْلَمَ په معنىٰ دَ استسلام، انقياد او تابعداري کولو دے په اعتقاد او په اقرار او په عمل کولو سره يا په معنىٰ دَ خضوع او عاجزي کولو دے حکم دَ الله تعالىٰ ته۔

طَوْعًا غاړه ګيخودل او حکم منل دي په خوښه او په آسانتيا سره او كَرْهًا حکم منل دي په مجبورئ او په تکليف سره۔ او په ديکښې ډير اقوال دي اول دَ حسن بصري نه روايت دے چه طوعًا ټول اسمانونو والا دي او ځمکے والا بعضے طوعًا او بعضے کرهًا دي دَ يرے دَ قتل او دَ قيد کولو نه۔ دويم قول دَ مجاهد دے چه مؤمنان طوعًا منقاد دي او دَ کافرانو سوري کرهًا منقاد دي لکه په رعد س۱۵ کښې دي۔ دريم قول دَ شعبي دے چه کرهًا دعا دَ مشرکانو ده

قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ

ته اوايه ايمان راوړے موږ په الله تعالیٰ باندے اوپه هغه کتاب چه نازل کړے شوے دے

په وخت دَ سختئ کښ لکه په سورة عنکبوت ﷺ کښ ـ څلورم قول دَ کلبي دے چه طوعًا هغه خلق دي چه په اسلام کښ پيدا شوي دي اوکرهًا هغه دي چه په زور سره ئے اسلام قبول کړے دے ـ پنځم امام رازي وئيلي دي چه په مسلمانانو توکښ دا دواړه صفتونه شته دے ـ يعني مسلمان تابع دي دَ امور دينيه په خوشحالئ سره او دَ فقر او مرضونو او مرګ په کره سره او کافران په هر حال کښ منقاد دي کرهًا ـ
شپږم زمخشري وئيلي دي چه طوعًا هغه خلق دي چه دليلونو او حجتونو ته ئے نظر کړيدے او اسلام ئے قبول کړے دے او کرهًا هغه دي چه دَ يرے دَ قتل نه يا په وخت دَ نزع کښ ايمان راوړي ـ
اووم ابوحيان نقل کړيدي چه اسلم نه مراد اقرار کول دي په خالقيت دَ الله تعالیٰ سره اګرچه شرک في العبادت پکښ وي نوچاچه شرک پريخودلو دا طوعًا دے او چاچه شرک کوئ سره دَ اقرار دَ خالقيت نه نو دا کرهًا دے ـ
اتم دَ عکرمه قول دادے چه چا بغير دَ جګړے او دَ ضرورت دَ حجت نه ايمان راوړلو نو دا طوعًا دے او څوک چه په حجت سره مجبوره شو نو دا کرهًا دے ـ
وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ، په ديکښ تخويف اخروي ته اشاره ده چه دَ طوعًا او کرهًا دواړو صفتونو والو رجوع الله تعالیٰ ته ده او هغه به دَ هغے مناسب جزا او سزا ورکوي ـ

عَلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ

په موږ باندے او په هغه وحی چه نازل کړے شوے ده په ابراهیم علیه السلام

وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ

او اسمٰعیل علیه السلام او اسحاق علیه السلام او یعقوب علیه السلام

وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى

او اولاد د یعقوب علیه السلام او په هغه کتابونو چه ورکړے شوے دی موسٰی علیه السلام ته

وَعِيْسٰى وَالنَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ

او عیسٰی علیه السلام او نورو پیغمبرانو ته د طرف د رب د دوی نه

لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ

جدائی نه کوؤ موږ (په ایمان راوړلو کښې) په مینځ د هیچا کښې د دوی نه

وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۸۴﴾

او موږ یو خاص الله تعالٰی ته انقیاد کوؤنکی (اخلاص کوؤنکی) -

ـ۸۴ :۔ هر کله چه مخکښې آیت کښې زجر ذکر شو هغه چا ته چه د الله تعالٰی د دین نه غیر بل دین غواړی نو په دے آیت کښې دعوت او تفصیل د الله تعالٰی د دین ذکر دے په مقابله د یهود او نصاراؤ کښې. قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ، دا امر دے نبی صلی الله علیه وسلم ته ځکه چه هغه هم مکلف دے په ایمان شرعی او په اظهار د هغے باندے او دا رنګ هر کله چه نبی صلی الله علیه وسلم خاص کړے شو په اخذ د میثاق د انبیاؤ سره نو د دے وجے نه ئے خاص کړو په دے آیت کښې په دعوت سره۔ او د دے آیت تفسیر په سوره بقره ۱۳۶ کښې تیر شوے دے لیکن فرق په دوه وجوهو سره دے اوله وجه دلته

أُنْزِلَ عَلَيْنَا اَوْ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ دے او په هغه آيت کښ وَمَا
أُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَا اُنْزِلَ اِلٰى اِبْرَاهِيْمَ ذکر دے. دَ دے حکمت
دا دے چه په دے سورت کښ خطاب دے نبی صلی الله
علیه وسلم او خطاب نبی صلی الله علیه وسلم ته دَ بره
طرف نه بلا واسطه نازلیږی نو دَ هغے سره عَلٰی مناسب
دے او په سوره بقره کښ خطاب وو امت ته او هغوی ته
خطابات په واسطه دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره رسیږی
نو دَ هغے سره لفظ دَ اِلٰی مناسب دے (راغب) او بل
حکمت دا دے چه انزل علیه په هغه ځائے کښ ذکر کیږی
چه منزل علیه ته امر دَ تبلیغ وی نو معنٰی دَ وجوب پکښ ده
او په هغے باندے لفظ دَ عَلٰی دلالت کوی او دا مناسب ده
دَ حال دَ انبیاؤ سره - او انزل الیه په هغه ځائے کښ ذکر
کیږی چه خاص وی په منزل الیه پورے او دا مناسب ده
دَ حال دَ امت سره - او تائید دَ دے فرق په سوره عنکبوت
۴۶ او په سوره نحل ۴۴ کښ دے - اګرچه دا فرقونه
همیشه نه وی کله دَ نبی سره الی او دَ امت سره عَلٰی هم
ذکر کیږی لکه بقره ۱۳۶ او آل عمران ۷۲ کښ - دویمه وجه
دَ فرق دا ده چه په سوره بقره کښ وَمَا اُوْتِیَ النَّبِیُّوْنَ او
په دے آیت کښ وَالنَّبِیُّوْنَ ذکر دے حکمت دا دے چه
په سوره بقره کښ خطاب عام وو او جواب وو دَ سوال
دَ کتابیانو او دَ هغے سره بسط او تفصیل مناسب دے
او په دے سورت کښ خطاب خاص دے او صرف اظهار
دَ دین الهی مقصد دے نو په دیکښ اختصار مناسب دے.
فائده :- امام رازی وئیلی دی چه ایمان بالله بنیاد او
اصل دے دَ پاره دَ ایمان بالکتب والانبیاء نو هغه ئے
مخکښ ذکر کړو بیا ایمان په محمد صلی الله علیه
وسلم او په قرآن باندے موقوف علیه دے دَ پاره
دَ ایمان په نورو انبیاؤ او کتابونو دَ هغوی باندے.

وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ

او چا چه اولټولو بیوا دَ اسلام نه

دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ج

بل دین نو هیچرے به قبول نه شي دَ هغه نه

وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۸۵﴾

او هغه به په آخرت کښ دَ تاوان والو نه وي۔

بیا ئے ورپسے هغه انبیاء علیهم السلام ذکر کړل چه کتابونو دَ هغوی وجود په خپلو زمانو کښ منلے وُ۔ اګرچه دَ هغوی په نبوت کښ اختلاف کوؤ او بیا ذکر دَ موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام او دَ هغوی دَ کتابونو ئے ځکه اوکړو چه کتابونو دَ هغوی نبوت منلو سره دَ اختلاف دَ دوی نه په باره دَ عیسیٰ علیه السلام کښ۔

ف ۸۵ :- هر کله چه مخکښ آیت کښ تفصیل دَ اسلام ذکر شو نو په دے آیت کښ زجر او تخویف اخروی دے په تبدیل دَ اسلام په بل دین سره۔

وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ، ابتغاء دلالت کوی په طلب کولو باندے سره دَ ډیر بحث او کوشش کولو نه لیکن دا کوشش ئے په باطلے طریقے سره دے یعنی په ضد او عناد سره دے۔ غَيْرَ الْاِسْلَامِ، مراد دَ اسلام نه دین دَ توحید دے یا مراد دَ دینه خاص شریعت دَ نبی صلی الله علیه وسلم دے او دلته ایمان او اسلام مترادف (هم معنی) مراد دی او دِيْنًا، زور دَ دهٔ په طریقه دَ مفعول سره دے او غیر الاسلام حال دے یا بدل دے دَ لفظ دَ غیر نه یا په طریقه دَ تمیز سره دے دَ لفظ دَ غیر نه په طریقه دَ تفسیر سره او وجه دَ تفسیر کولو دا ده چه غیر اسلام طلب کول دوه قسمه دے اول دا چه هغه غیر ته دین نه وائی صرف جهل

كَيْفَ يَهْدِي اللَّهُ قَوْمًا

څه رنګ به توفيق ورکړي الله تعالى (د حق) هغه قوم ته

كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ وَشَهِدُوا

چه کفر يې کړے دے روستو د ايمان راوړلو د دوی نه او شهادت کړے دے دوی

أَنَّ الرَّسُولَ حَقٌّ وَجَاءَهُمُ

چه يقينًا دا رسول حق دے او راغلي دي دوی ته

الْبَيِّنَاتُ ۚ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي

ښکاره دليلونه او الله تعالى توفيق (د هدايت) نه ورکوی

الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿۸۶﴾

قوم ظالمانو (عناديانو ته) ۔

او غفلت يې د مخالفت کولو سبب دی او دويم قسم هغه دے چه هغه غير له دين وائي په مقابله د اسلام کښې لکه يهود او نصارا چه مخالف د اسلام ته دين وائي دا رنګ مبتدع چه خلاف د اسلام (عقيده، عمل او قول) ته دين وائي۔
فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ، قبوليت په معنیٰ د صحت عند الله دے نو عدم قبوليت دا دے چه په هغې سره احکام د اسلام په دنيا کښې نه مرتب کيږي او نجات په آخرت کښې نه حاصليږي۔
وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ، مراد د خسران نه په آخرت کښې محروم کيدل دی د ثواب او د جنت نه او داخليدل دی جهنم ته په هميش والی سره۔
۸۶ :- په دے آيت کښې نخله د عدم قبوليت په دنيا کښې ذکر کوی چه هغه د هدايت د الله تعالى نه محروم کيدل دی۔ او په دے آيت کښې د کتابيانو دولسم خباثت ذکر کوی هغه دا چه د بعثت د نبي صلى الله عليه وسلم نه وړاندې

دوی دَ نبی صلی الله علیه وسلّم تصدیق کوؤ لیکن روستو دَ بعثت دَ هغه نه دَ هغه انکار ئې اوکړو۔

کَیْفَ، دَپاره دَ سوال دَحالا تو راځی لیکن دلته دَپاره دَ تعجیب یا دَپاره دَ انکار دے۔

یَهْدِی اللّٰهُ، مراد دَهدایت نه توفیق ورکول دَ هدایت دی ځکه نفسِ هدایت په لار خودلو او دلیلونو سره خو دَ الله تعالیٰ دَطرف نه شته دے۔

کَفَرُوْا بَعْدَ اِیْمَانِهِمْ، اشاره ده هغه تصدیق دَکتابیانو ته چه مخکښ دَ بعثت دَ نبی صلی الله علیه وسلّم نه ئې کړے وؤ په دلیل دَ یَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَی الَّذِیْنَ کَفَرُوْا سورة بقره سـ۸۹ سره۔ او کفر نه مراد روستو دَ بعثت دَ هغه نه انکار کول دی او الفاظ دَ آیت هر مرتد ته شامل دی۔

وَشَهِدُوْٓا اَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ، په دیکښ درے اقوال دی اول داچه عطف دے په اِیْمَانِهِمْ باندے دَ قبیلے دَعطف دَ خاص نه په عام باندے یا مراد دَ ایمان نه تصدیق دَ زړه دے او شهادت په معنیٰ دَ اقرار کولو دے او په ایمانهم کښ معنیٰ فعلی (ایمان راوړل) مراد ده نو عطف دَ فعل په هغې باندے صحیح دے۔ دویم قول، داحال دے دَ فاعل دَ کفروا نه۔ دریم قول، داعطف دے په کفروا باندے او واو دَپاره دَ ترتیب نه دے او الف لام په الرسول کښ دَعهد دَپاره دی یعنی محمد رسول الله (صلی الله علیه وسلم)۔

وَجَآءَهُمُ الْبَیِّنٰتُ، داعطف دے په شهدوا باندے دَ تاکید دَپاره یعنی شهادت دَدوی تقلیداً نه دے بلکه روستو دَ ښکاره دلیلونو نه دے۔

وَاللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ، مراد دَ ظلم نه ضد او عناد کول دی چه هغه سبب دے دَپاره دَ حرمان دَ هدایت۔ او په آخر دَ آیت کښ ئې داجمله دَ دے

دَ پاره ذکر کړه چه اشاره اوشی هغه قسم کافرانو ته چه
عنادیان دی ځکه چه نورو کافرانو ته خو هدایت کیدیشی۔
سـ۸۷ ، سـ۸۸ :- دا تخویف اخروی دے دَ پاره دَ ظالمانو چه
مخکښې ذکر شول۔

اُولٰٓئِكَ ، مبتدا ده او جزاءهم بدل اشتمال دے دَ هغې نه
یا دویمه مبتدا ده او اَنَّ عَلَيْهِمْ خبر دے۔ داسے په
سورة بقره سـ۱۶۱ کښې تیر شویدی لیکن فرق دا دے چه
دلته جزاءهم لفظ ذکر دے او هلته جزاءهم نه دے ذکر
کړے وجه دَ فرق دا ده چه سورة بقره کښې ذکر دَ هغه چا
دے چه مړ شی په کفر باندے نو جزاء په داسے وی کَدے
وجې ته روستو دَ توبے ذکر شوے دے۔

فِيْهَا ضمیر لعنت ته راجع دے ځکه چه دوی به په هیڅ
حالت کښې دَ لعنت نه به خالی کیږی یا مراد دَ لعنت نه
عذاب دَ نار دے۔ نور تفسیر ئے مخکښې تیر شویدے۔

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ بَعْدِ

مګر هغه کسان چه توبه اوباسی روستو

ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا قف فَإِنَّ اللَّهَ

د دے نه او اصلاح اوکړی د عملونو خپلو نو یقیناً الله تعالی

غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿۸۹﴾ إِنَّ الَّذِينَ

بخښونکے رحم کوونکے دے یقیناً هغه کسان

كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ ثُمَّ

چه کفر ئے کړے دے روستو د ایمان د دوی نه بیا

ازْدَادُوا كُفْرًا لَنْ تُقْبَلَ

زیاتی شی په کفر کولو کښ هیچرے به قبوله نه کړے شی

تَوْبَتُهُمْ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الضَّالُّونَ ﴿۹۰﴾

توبه د دوی او دغه کسان خاص دوی ګمراهان دی

ف ۸۹:- دا ترغیب دے توبه کولو ته په دُنیا کښ إِلَّا، استثناء متصله ده اشاره ده چه عنادی شخص هم چه کله عناد پریږدی او حق ته انابت اوکړی نو توبه او باسی او د هغه توبه قبوله وی خو دا هغه کسان دی چه مرتبے د ختم القلب ته نه وی رسیدلے او دا دواړه قسمونه په اهل عناد کښ قاسمی د قاشانی نه نقل کړے دی۔

ف ۹۰:- هر کله چه مخکښ د توبے ذکر اوشو نو اوس ذکر کوی چه توبه په وخت د قبولیت کښ پکار ده چه هغه د غرغرے د وخت نه مخکښ وی۔ نو په دے آیت کښ تخویف او زجر دے هغه چا ته چه صحیح توبه ئے نه ده کړے۔

ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا، مراد د دیته اقامت کول دی په کفر باندے تر وخت د غرغرے پورے۔

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا

يقيناً هغه كسان چه كفرئے كړے دے او مړه شي

وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يُقْبَلَ

په داسے حال كښ چه كافروي نو هيچرے به قبول نه كړے شي

مِنْ أَحَدِهِمْ مِّلْءُ الْأَرْضِ

دَ هر يو دَ دوی نه ډكه زمكه

ذَهَبًا وَّلَوِ افْتَدَىٰ بِهِ ؕ

سره زر اگرچه فديه وركوی دے په هغے سره

أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ

دغه كسان دَ دوی دَ پاره عذاب درد ناك دے

وَمَا لَهُمْ مِّنْ نَّاصِرِينَ ﴿٩١﴾

او نيشته دوی لره هيڅ مددگاران ۔

ع ۹ / ۱۱

لَنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ، مراد دَ توبے دَ دوی نه توبه ده په وخت دَ غرغره كښ يعنی چه ساه ئے مرئ ته اورسيږی داسے په سورة نساء ۱۸ كښ هم دی۔ او دا قول دَ حسن او قتاده او عطاء نه روايت دے۔ او دا رنگ په حديث كښ وارد دی چه إِنَّ اللّٰهَ يَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ مَا لَمْ يُغَرْغِرْ، او ديته حشرجه او معائنه هم وئيلے شی يا مراد دا دے چه دَ دوی توبه نيشته تو څرنگه به قبوله شی۔

وَأُولَٰئِكَ هُمُ الضَّالُّونَ، مراد دَ دينه كامله درجه دَ ضلال ده ځكه چه موصوف دی په كفر او په زيا توالی دَ كفر باندے سره دَ عدم توبه كولو نه۔

سلا :۔ هر كله چه دَ جرم معاف كيدلو دَ انسان په اختيار كښ دوه طريقے دی اوله دا چه په وخت باندے معافی

او غواړی او توبه او یاسی نو دا توبه قبوله ده لیکن چه توبه
دَ وخت نه روستو کړی لکه توبه په وخت دَ غرغره کښ.
نو او وئیل یئے چه دا توبه نه قبلیږی دویمه طریقه دا ده
چه فدیه (جرمانه) ادا کړی او قبوله شی. توبه دے آیت
کښ دَ هغے نفی (نیشتوالے) ذکر کوی۔
إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ، یعنی تر مرګه پورے
هیڅ قسم توبه ئے نه وی کړے نو په حالت دَ کفر کښ مړ شی۔
فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِمْ مِلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا، مِلْءُ مقدار
دَ ډکولو ته وئیلے شی یعنی دومره مقدار چه زمکه ډکه کړی۔
ذَهَبًا، تمیز دے دَ مِلْءُ دَ پاره په طریقه دَ تفسیر سره۔
سوال :- هر کله چه اسم دَ إِنَّ موصول وی نو په خبر دَ
معنے کښ فاء داخلیږی نو په دے آیت کښ فاء په خبر کښ
داخله کړے ده او په مخکښ آیت کښ فاء نه ده داخل کړے؟
جواب :- په اول آیت کښ صله کفر او ازدیاد کفر دے او توبه
نه قبلیدل مرتب کیږی په مرګ علی الکفر باندے چه
صراحتًا ذکر وی او صرف په ازدیاد دَ کفر باندے عدم
قبولیت نه مرتب کیږی مګر هله چه زیادت دَ کفر په معنی
دَ موت علی الکفر شی لیکن هغه صریح نه دے۔ او په دے
آیت کښ موت په کفر باندے صراحتًا ذکر دے او هغه
سبب دے دَ پاره دَ عدم قبولیت دَ قید یے۔ او دا قاعده
کلیه نه ده چه حکم مرتب شی په وصف باندے نو هغه
وصف به ضرور مستلزم وی سببیت لره بلکه تعبیر په
موصول باندے کله دَ نورو اغراضو دَ پاره هم وی۔
وَلَوِ افْتَدَىٰ بِهِ، اهل عربیت وئیلے دی چه دا سے واو
چه ملګرے وی دَ شرط (وصلیه) سره نو تقاضا کوی
دَ یل شرط چه دَ ده نه مخکښ په مراد وی او حکم به
په هغه کښ (ریښ) په طریقے اولے سره موجود وی۔
او ابوحیان وئیلی دی چه دَ لَوْ تنبیه ورکوونکے راځی لکه

چه ما قبل راغلے دے په طریقه دَ انتها سره او ما بعد
کښں تصریح ده په داسے حالت چه گمان کیدے شی چه ما
قبل کښں داخل نه دے لکه ردو السائل وَلَوْ جَاءَ عَلٰی فَرَسٍ
او لکه أَکْرِمْ زَیْدًا ، او دا رنگ وَلَوْ عَلٰی أَنْفُسِکُمْ (النساء ۱۳۵)
او أَوَلَوْ کَانَ آبَاءُهُمْ لَا یَعْقِلُوْنَ ، (بقره ۱۷۰) ۔ نو اوس
سوال دا دے چه په دے آیت کښں داسے نه ده ځکه چه فدیه
وَرکول په ډکه زمکه دَ سرو زرو سره دَ دے نه خو بیل
اوچت حال نیشته چه په هغے کښں عدم قبولیت دَ فدیے
په طریقه اولی سره معلوم شی (جواب په ډیرو طریقو
سره دے)
جواب ۱ :۔ په عبارت کښں تقدیر دے چه فلن یقبل من
احدهم فدیة وَلَوِ افتَدٰی بِمِلْءِ الْاَرْضِ ذَهَبًا ، یعنی
ډکه زمکه سره زر فدیه نه قبلیږی نو هسے فدیه خو په
طریقه اولی سره نه قبلیږی ۔
جواب ۲ :۔ په عبارت کښں تقدیر دے یعنی وَلَوِ افْتَدٰی
بِمِثْلِهٖ مَعَهٗ ، یعنی که مثل دَ ملء الارض ورسره شی
نو هم فدیه نه قبلیږی نو صرف ملء الارض خو په طریقے
اولی سره نه قبلیږی
جواب ۳ :۔ په عبارت کښں تقدیر دے فَلَنْ یُّقْبَلَ مِنْهُ
مِلْءُ الْاَرْضِ ذَهَبًا تَصَدُّقًا وَّ تَبَرُّعًا وَلَوِ افْتَدٰی بِهٖ ، یعنی
په طور دَ فدیے سره هم نه قبلیږی نو په طور دَ صدقے
سره په اولی طریقے سره نه قبلیږی ۔ (دا جواب زمخشری
ذکر کړی دی)
جواب ۴ :۔ واو زیاتی دے دا جواب قرطبی ذکر کړے دے ۔
جواب ۵ :۔ ابن عطیه دَ زجاج نه نقل کړی دی چه په عبارت
کښں تقدیر داسے دے چه فلن یقبل من احدهم انفاقه
فی الدنیا ولو انفق ملء الارض ذهبًا وَلو افتدی ایضًا
به فی الاخرة لم یقبل منه ، یعنی که چرے دے فدیه په

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا

هیڅ‌کله به حاصل نه کړئ تاسو نیکي تر دې پورې چه خرچ کړئ

مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۚ وَمَا تُنْفِقُوْا

د هغه څیز نه چه تاسو ته خوښ وي او هغه څه چه تاسو خرچ کوئ

مِنْ شَيْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿۹۲﴾

هر څیز چه وي نو یقیناً الله تعالیٰ په هغې باندې علم لرونکی دې.

ډکې ځمکې سره زر و سره په آخرت کښې ورکوي نو هم نه قبلیږي نو په دنیا کښې که چرې دې په خپله یا د دهٔ د طرف نه څوک د اسې خیرات کوي نو هغه په طریقه اولیٰ سره نه قبلیږي.

وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ، هیڅوک مددګار به نه وي د پاره د لرې کولو یا آسانولو د دغه عذاب، او مِنْ د پاره د استغراق دې.

س۹۲:- په دې آیت کښې جواب دې د سوال دا دې چه هر کله یو انسان ډکه ځمکه سره زر خرچ کوي نو پکار دا دې چه قبول شي ځکه چه دا لویه صدقه ده نو په دې آیت کښې جواب دا دې چه دا ځکه قبوله نه ده چه شرط د قبولیت پکښې نیشته چه هغه انفاق د محبوب دې او په آخرت کښې دغه مال د دهٔ محبوب نه دې.

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ، تنالوا د نیل نه اخستلې شوي دې په معنیٰ د حاصلولو د یو څیز دې. او د بِرّ تفسیر په سوره بقره ۱۷۷ کښې تیر شوي دې دلته په معنیٰ د جنت دې په روایت د ابن عباس رضی الله عنهما او ابن مسعود رضی الله عنه او مجاهد سره او مقاتل وئیلي دي چه بِرّ په معنیٰ د تقویٰ دې او بعضو وئیلي دي چه بِرّ د الله تعالیٰ اکرام او عزت ورکول او فضل کول دي او دا قول د ابو بکر

وړاندې دے۔
مِمَّا تُحِبُّوْنَ، مِنْ دَ پاره دَ تبعيض دے او محبت نه مراد تعلق دَ زړه دے په يو څيز پورے تړلے پورے چه دَ هغې خرچ کول دَ دهٔ په نفس باندے سخت شي - او دَ محبوب مال نه مراد هغه مال دے چه دَ انسان دَ خپل ځان دَ پاره خوښ وي او هغه خرچ کړي په لار دَ الله تعالیٰ کښ - او صحابه کرامو په دے باندے عمل کړيدے لکه طلحه رضي الله عنه باغ بيرحاء وقف کړے دے دا حديث بخاري او مسلم او امام احمد راوړے دے او عمر رضي الله عنه هغه برخه چه خيبر کښ ئے حاصل کړے وه وقف کړله دا هم بخاري او مسلم راوړے دے داسے نور هم ډير روايات دي دَ صحابه رضي الله عنهم نه - دا رنګ محبوب نه مراد هغه دے چه په حالت دَ حيات کښ وي ځکه چه دَ مرګ په وخت کښ هر انسان دَ خپل مال نه مايوس شي - دا رنګ محبوب هغه دے چه قيمتي او کره مال وي - دا قول ابوحيان او صاحب اللباب ذکر کړے دي - او بيضاوي او صاحب فتح البيان وئيلي دي چه ما تحبون عام دے مال او جاه او بدن او روح ته چه دا ټول خرچ کړيشي دَ پاره دَ توحيد او سنت او حصول دَ علم او جهاد دَ پاره -

سوال :- په بقره ۱۷۷ کښ ذکر شويدي لس امور دَ پاره دَ حصول دَ بِرّ او دلته يو عمل ذکر دے ؟

جواب :- دَ ما تحبون په آخري تفسير سره هغه لس امور په ما تحبون کښ داخل دي -

وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فَاِنَّ اللهَ بِهٖ عَلِيْمٌ، جزا دَ شرط پټه ده يعني الله تعالیٰ به تاسو ته جزاء درکوي او علت دَ جزاء ذکر دے يعني چه الله تعالیٰ په هغې باندے علم لري -

كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِيٓ

ټول د خوراک څیزونه (چه یهودیانو حرام کړي وو) حلال وو بني

إِسْرَآءِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ

اسرائیلو لره مګر هغه چه حرام کړي وو (بند کړي وو)

إِسْرَآءِيلُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ مِن

یعقوب علیه السلام په خپل ځان باندې

قَبْلِ أَن تُنَزَّلَ التَّوْرَاةُ ۗ

مخکښ د نازلیدو د تورات نه

قُلْ فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا

ته اووایه نو راوړئ تورات نو اولولئ هغه

إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٩٣﴾

که چرې یئ تاسو رشتني -

س۹۳ :- ربط د دے آیت د مخکښ سره اول دا دے چه په ماقبل کښ ترغیب وو په انفاق د محبوب څیز باندے نو اوس د هغے مثال ذکر کوی چه یعقوب علیه السلام د مرض نه د شفا د پاره نذر کړے وو چه الله تعالیٰ ما ته صحت راکړی نو ځه به محبوب طعام او مشروب په ځان باندے حرام کړم نو غوښے اوښ د اوښانو ئے په ځان باندے حرام کړل- دا حدیث مسند احمد کښ ذکر دے او ابن کثیر د دے روایت کړے دے (ابوحیان) -

دویم دا چه مخکښ آیاتو کښ صدق د نبی صلی الله علیه وسلم ذکر شو او زجر او تخویف وو هغه منکرینو ته نو اوس د هغه شبها تو جوابونه کوی چه یهودیانو او نصارا ؤ په نبی صلی الله علیه وسلم باندے کول.

او دا ربطونه صاحب اللباب او ابن کثیر هم ذکر کړي دي۔
كُلُّ الطَّعَامِ، په دے آیت کښ دَ دوی دَ یو شبهے جواب دے هغه شبهه دا ده چه دوی نبی صلی الله علیه وسلّم ته وئیل چه ته دعوے کوے دَ ملّتِ ابراهیمیه او حال دا چه دَ هغه په ملّت کښ دَ اوښ غوښه حرام وه او ستا په دین کښ حلاله ده نو ته په تحلیل او تحریم کښ دَ هغه نه مخالف یې۔ دا رنګ دوی دَ نسخ اعتراض کولو په نبی صلی الله علیه وسلّم باندے نو په دے آیت کښ نسخ هم ثابتوی چه دَ اوښ غوښه مخکښ حلاله وه او یعقوب علیه السلام هغه حرامه کړله نو دوی شبهه اوکړه چه دَ اوښ غوښه دَ آدم علیه السلام دَ وخت نه حرامه وه او دوی په تورات باندے حواله ورکوله نو الله تعالیٰ دَ دوی دَ دے قول تردید اوکړو او ورته یې اوئیل چه تورات حاضر کړئ نو دوی شرمنده شول۔ الطَّعَامِ، په معنیٰ دَ مطعوم دے او دا عام دے هر هغه څیز ته چه خوړلے کیږی نو تخصیص دَ طعام په غنمو پورے چه احناف کړے دے نو دا ضعیف دے۔ او مراد دَ کل الطعام نه ټول مطعومات نه دی ځکه چه مردارے او خنزیر او وینه مسفوح او ما اهل به لغیر الله خو په ټولو دینونو کښ حرام وو نو مراد دلته هغه مطعومات دی چه یهودیانو په وخت دَ نزول دَ قرآن کریم کښ دعوای دَ حرمت دَ هغے په ملّتِ ابراهیمیه کښ کوله یعنی هغه چه دوی دَ ځان نه بے دلیله حرام کړے وو او هغے ته تحریمات لغیر الله وئیلے شی (ابوحیان دَ قفال نه او دا رنګ په تفسیر مواهب الرحمان کښ ذکر دی)۔
كَانَ حِلًّا لِّبَنِىٓ إِسْرَآءِيلَ، حِلًّا مصدر دے مذکر او مؤنث مفرد تثنیه او جمع پکښ یو شان دی۔
إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسْرَآءِيلُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ، په دے استثناء کښ دوه اقوال دی اول قول دا چه دا استثناء منقطع ده یعنی یعقوب

علیه السلام صرف په ځان باندے حرام کړے وو او په بنی اسرائیلو باندے حرام نه وو۔ دویم قول استثناء متصله ده یعنی دَ یعقوب علیه السلام دَ تحریم دَ وجے نه هغه په بنی اسرائیلو باندے حرام شول۔ لیکن اول قول ځما په نظر کښې راجح دے ځکه چه یعقوب علیه السلام چه په ځان باندے حرام کړے وو هغه غوښه او پئ دَ اوښانو وو په اتفاق دَ علماؤ سره او اوښان خو په بنی اسرائیلو باندے دَ تورات نه مخکښې حرام نه وو بلکه دَ هغوی دَ بغی او دَ ظلم دَ وجے نه روستو حرام کړے شول لکه په سوره انعام ۱۴۶ او سوره نساء ۱۶۰ او سوره نحل ۱۱۸ کښې دی۔ مَا حَرَّمَ، هغه څیز چه په ځان باندے ئې حرام کړے وو نو اتفاقی قول دا دے چه هغه غوښه او پئ دَ اوښانو وو۔ او دَ سدی یو قول دا دے چه هغه په غوښه کښې عروق (رګونه) وو۔ او په سبب دَ تحریم دَ هغې کښې اختلاف دے اول قول هغه دے چه مخکښې ذکر شویدے چه په طور دَ نذر سره وو دَ الله تعالیٰ دَ رضا دَ پاره او دا په ملت دَ هغوی کښې جائز وه چه په نذر کښې ځان باندے محبوب څیز حرام کړی۔ دویم قول دَ ضحاک په واسطه دَ ابن مبارک نه روایت دے چه یعقوب علیه السلام ته عرق النساء مرض رسیدلے وو نو طبیبانو ورته اوئیل چه دَ غوښے دَ اوښانو نه پرهیز اوکړه نو هغه په ځان باندے هغه بنده کړه۔

سوال :- تحریم او تحلیل کښې اذن دَ الله تعالیٰ شرط دے او په دے باندے ډیر نصوص دلالت کوی نو یعقوب علیه السلام څرنګ تحریم په ځان باندے اوکړو؟

جواب ۱ :- دلته تحریم په معنیٰ لغوی سره دے یعنی منع کول، او په دے معنیٰ سره په قرآن کریم کښې هم استعمال دے لکه په سوره قصص ۱۲ او تحریم ۱ کښې۔

فَمَنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ

نو څوک چه جوړدي په الله تعالى باندے

الْكَذِبَ مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ

دروغ روستو دَ دے نه

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۹۴﴾

نو دغه کسان دوی ظالمان دی.

نو اول دا منعه کول یا په تدرسره وو او دَ هغوی په ملت کښ دا جائز وؤ یا په طور دَ پرهیز سره وو.

جواب ۲:- دا تحریم شرعي وؤ په اجتهاد دَ یعقوب علیه السلام سره او اجتهاد دَ انبیاؤ هم دلیل شرعي دے کله چه الله تعالى هغه برقرار اوساتي.

مِنْ قَبْلِ اَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرٰىةُ دا متعلق دے په حِلًّا پورے او دا فصل په نیز دَ کسائي جائز دے یا متعلق دے په حَرَّمَ پورے.

قُلْ فَأْتُوْا بِالتَّوْرٰىةِ فَاتْلُوْهَآ ، هر کله چه بني اسرائیلو په دے شبهه کښ دلیل نیولو په تورات باندے نو دَ دے وجې نه دوی ته حکم اوکړے شو په راوړلو او لوستلو دَ تورات باندے - لیکن دوی تورات حاضر نه کړے شو.

۹۴:- په دیکښ زجر دے هغوی ته هر کله چه هغوی دَ خپلے خبرے دَ اثبات دَ پاره تورات حاضر نه کړو نو دَ هغوی دروغ ثابت شول نو الله تعالى اوفرمائیل فَمَنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ، اشاره ده چه کتاب دَ الله تعالى باندے په دروغه سره حواله ورکول دا په الله تعالى باندے دروغ تړل دی.

مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ، دا متعلق دے په اِفْتَرٰى پورے ذٰلِكَ اشاره ده وضاحت دَ مخکښ خبرے ته دَ طرف دَ الله تعالى نه یا اشاره ده عدم ثبوت دَ خبرے دَ دوی ته په تورات کښ.

وقف جبرئیل علیه السلام

قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ ۚ فَاتَّبِعُوْا

ته اُوایه رشتیا وئیلي دي الله تعالی نو تابعداري کوئ

مِلَّةَ اِبْرٰهِیْمَ حَنِیْفًا ؕ

دَ دین دَ ابراهیم علیه السلام چه کلک وۀ په توحید بانندي

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ﴿۹۵﴾

او نه وۀ دے دَ مشرکانو نه۔

اِنَّ اَوَّلَ بَیْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ

یقینًا اول کور چه جوړ کړے شوے دے دَ پاره دَ خلقو

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ، مراد دَ ظلم نه کامله درجه ظلم دے ځکه حصر ئے په افترای علی الله کښې کړے دے۔

۹۵ :۔ په دیکښې تقابل دے دَ مخکښې آیت سره یعنې دا کتابیان په الله تعالی باندے دروغ وائي او الله تعالی رشتیا وئیلي دي۔ او دا عام دے هر وخت او هرے خبرے دَ الله تعالی ته او مضمون دَ مخکښې آیت په کښې هم داخل دے یعنې دغه خوراکونه بني اسرائیلو ته حلال وۀ حرمت په دوی باندے روستو دَ بغي دَ دوی ته راغلے دے۔

فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ اِبْرٰهِیْمَ، دا په اصل کښې دعوت دے اتباع دَ محمد صلی الله علیه وسلم ته ځکه چه محمد صلی الله علیه وسلم په ټولو اصولو او فروعو کښې موافق دے دَ ملت ابراهیمیه سره۔

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ، دا تعریض دے په کتابیانو مخکښو باندے چه هغوی مشرکان شوي دي۔

لَلَّذِيْ بِبَكَّةَ مُبٰرَكًا وَّهُدًى

ضرور هغه کور دے چه په مکه کښ دے ډیر برکت والا دے او هدایت دے

لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۶﴾

دَ پاره دَ خلقو۔

۹۶ ربط ۱: په دے آیت کښ رد دے دَ بلے شبهے دَ یهودو او نصاراؤ په رسول الله صلی الله علیه وسلم بانده۔ دوی وئیل چه زمونږ قبله (بیت المقدس) ستا دَ قبلے نه اول او افضل ده او دا قبله ستا په قبلے سره منسوخ نه ده (ځکه چه دوی دَ نسخ نه انکار کوؤ)

ربط ۲: دا رنګ په دے آیت کښ یل رد دے په یهودو او نصاراؤ بانده چه هغوی دعوای دَ ملّت ابراهیمیه کوله او حال دا دے چه حکم دَ حج دَ کعبے په ملّت ابراهیمیه کښ داخل دے او دوی تری نه انکار کوی۔

په دے آیاتو کښ دَ کعبے اته فضیلتونه ذکر دی اول او دویم دا دی چه اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ، په دے اولیت کښ دوه اقوال دی اول قول دا دے چه دا اولیت مطلقه دے او دا قول دَ مجاهد او قتاده نه قرطبی نقل کړے دے یعنی دَ پیدائش دَ آسمانونو او زمکے سره یو ځائے دا بیت ملائکو جوړ کړید ے په امر دَ الله تعالیٰ سره بیا آدم علیه السلام جوړ کړے دے بیا شیث علیه السلام جوړ کړو بیا ابراهیم علیه السلام بیا عمالقو او بیا بنوجرهم بیا قصی بیا قریشو مخکښ دَ بعثت دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه بیا عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما بیا حجاج بن یوسف دا سے په تاریخ مکه کښ او روح المعانی کښ لیکلے دی او ابوحیان او نورو مفسرینو هم نقل کړی دی او دلیل په اولیت مطلقه بانده حدیث دَ بخاری او مسلم او احمد دے چه روایت دے دَ ابوذر رضی الله عنه

نه چه دۀ دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو چه کوم
مسجد اول جوړ کړے شوے دے نو هغه اوفرمائیل مسجد
حرام بیا وروسے مسجد اقصیٰ او دَ دوی په مینځ کښ څلویښت
کاله فاصله ده - نو ظاهر دَ دے حدیث دا دے چه دا جوړښت
په واسطه دَ ملائکو سره مراد دے ځکه چه په جوړولو دَ
ابراهیم او سلیمان علیهما السلام په مینځ کښ خو دَ زرو
کلونو نه زیاته فاصله ده او په سوره بقره ۱۲۷ او حج ۲۶
کښ دَ بِنَاء دَ ابراهیم علیه السلام ذکر دے نو مراد دا دے
چه دَ هغه دَ زمانے نه مخکښ دا سے نړیدلے وو چه بنیادونه
یۓ هم غائب شوی وو چه ابراهیم علیه السلام ته الله تعالی
بنیادونه ښکاره کړل او هغه تجدید دَ بناء او اعلان دَ حج
اوکړلو - دویم قول دا دے چه دا اولیت مقیده دے یعنی
دَ قبلے مقرر کولو په حیثیت سره دا اول کور دے اگر چه
دَ دے نه مخکښ کورونه جوړے کړے شوے وے نو په اول
قول سره مراد دَ وُضِعَ نه آبادول دی او بِنَاء په دویم
قول مراد دے ځائے او قبله دَ عبادت او دَ طواف کولو.
لَلَّذِیْ بِبَکَّةَ ، دَ بکه او مکه په باره کښ دوه اقوال دی
اول دا چه باء دَ بکه بدل ده دَ میم نو دَ دواړو مصداق
یو دے دا قول دَ مجاهد او ضحاک دے - دویم قول دا
دے چه دَ دے په مصداق کښ فرق دے او دَ هغے
دوه وجوه دی اول دا چه بکه صرف ځائے دَ بیت الله ته
وئیلے شی او مکه ټول ښار ته وئیلے شی دا قول دَ امام مالک
نه نقل دے - دویمه وجه ، بکه مسجد حرام ته وئیلے
شی او مکه ټول حرم ته وئیلے شی - او فرق په مینځ دَ بکه
او مکه په اعتبار دَ معنیٰ لغوی او وجے تسمیے سره په ډیرو
وجوهو سره دے په لفظ دَ بکه کښ دوه وجے دی.
اوله وجه ، بکه دَ بَكٌّ نه اخستلے شوے دے په معنیٰ دَ ازدحام
(رتیل کول دَ کسانو) نو په کعبه باندے هم په وخت دَ

طواف کښې دَ انسانانو ازدحام او کثره وي.
دویمه وجه، یک دَ سختو ظالمانو ماتول ته ویلې شي نو کعبه کښې چه
څوک الحاد په ظلم سره اوکړي نو دَ هغه سټ الله تعالی ماتوي
او ابن زبیر رضی الله عنه ته روایت دے چه کوم جبار په
بدنیت سره دَ کعبے په باره کښې اراده اوکړي نو الله تعالی دَ هغه
سټ ماتوي - او په لفظ دَ مکه کښې درے وجے دي اوله وجه
مکه دَ مك نه اخستلے شوے دے او مك په لغت کښې کم والی
دَ اوبو ته ویلې شي او هلته اوبه ډیرے لږے دي دویمه
وجه مك دَ هډوکي ته مغز (رتلے) راویستل دي نو هلته
هم په مشقت اوکړاؤ سره دَ انسان دَ خپو وغیره سلې
اوچ شي - دریمه وجه، مَكٌ هلاکولو او کمولو ته ویلې
شي نو مکه هم ظالمانو لره هلاکوي.
مُبٰرَكًا په دیکښې دریم فضیلت ذکر دے او برکات دَ هغے
ډیر دي لکه په لږ عمل سره ډیر ثواب حاصلیږي.
گناهونه په حج او عمره او طواف او اعتکاف سره معاف
کیږي. هر قسم رزقونه او میوے هغے ته راځي - دَ طواف
کوؤنکو او اعتکاف کوؤنکو او رکوع او سجده کوؤنکو نه
خالي کیږي - او دَ شپے ورځے په هر وخت کښې دَ هر طرف نه
دَ دے طرف ته مونځ کوؤنکي موجود وي.
وَّهُدًى، دا څلورم فضیلت دے په دے صفت کښې حمل دَ
مصدر (هدی) په طریقے دَ مبالغے سره دے - او دَ دے
هدایت ډیر وجوه دي لکه قبله کیدل، رحمت، صلاح،
دلالت په توحید او په صدق دَ رسول الله صلی الله علیه
وسلم، رسوؤنکے جنت ته په سبب دَ توجه کولو دے ته
په هر مونځ کښې.
لِّلْعٰلَمِيْنَ، په دیکښې اشاره ده چه کعبه دَ ابتداء نه دَ
ټولو انبیاؤ او دَ هغوی دَ امتونو دَ پاره قبله او مقام دَ
حج وو.

فِيهِ ايٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ مَّقَامُ

په دے کښ نخے ښکاره دی (بوده هغے نه) ځائے دَ اودریدلو

اِبْرٰهِيمَ ۚ وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ

دَ ابراهیم علیه السلام دے او څوک چه داخل شو هغے ته دی به

اٰمِنًا ؕ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ

امن والا او خاص الله دَپاره په خلقو باندے (فرض دے) حج کول

الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ

دَ بیت الله په هغه چا باندے چه طاقت لری هغے ته

سَبِيْلًا ؕ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ

دَ لارے او چا چه کفر اوکړو نو یقینًا الله تعالیٰ

غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۷﴾

بے حاجته دے دَ ټولو خلقو نه۔

۹۷:- فِيهِ ايٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ ، دا په منزله دَ تفسیر دے دَ پاره دَ مبارکًا او هدًى دَ دے وجے نه بغیر دَ عطف نه ذکر دے۔ او په دیکښ پنځم فضیلت ذکر کوی۔ فِيهِ ، ضمیر بیت ته راجع دے لیکن توسع کړے شویده په دے ظرف کښ نو بیت الله او ټول حرم په دیکښ داخل دے او ابوحیان او آلوسی په دیکښ ډیر امور ذکر کړے دی لکه حجر اسود ، حطیم ، زمزم ، تعظیم او هیبت دَ هغے په زړونو دَ خلقو کښ ، واقعه دَ فیل ، منع دَ جبابره دَ هغے نه۔ بچ ساتل دَ سیلا بونو نه په هره زمانه کښ ، امن دَ وحشی مارغانو او ځناورو نه په هغے کښ ، او هر رکن (ګوټ) دَ هغے کښ چه باران اوشی نو دَ هغے طرف په ټوله علاقه کښ فراخ کالی وی مثلًا باران چه په طرف

دَ رکن یمانی اوشی نو دَ یمن په طرف علاقه کښې فراخ
کالی دی او هر کله چه باران ټولو ارکانو طرف ته اوشی نو په ټولو
چاپیره ملکونو کښې فراخ کالی وی، دَ هغې په خوا کښې دُعا
کانے قبلیږی - او څوک چه په هغې کښې الحاد اوکړی نو زر
وربانده عذاب راځی - او چاچه ویلی دی چه مارغان او
کونترے دَ هغې دَپاسه نه الوځی نو دا خبره ابن عطیه او
آلوسی ردکړې ده او دَ واقع نه هم خلاف ده -
مَقَامُ اِبْرٰهِیْمَ، دَ دینه مخکښې خبر پټ دے یعنی مِنْهَا
بعضے دَ هغه آیاتونو نه مقام ابراهیم دے یعنی هغه
ګټه چه ابراهیم علیه السلام په وخت دَ آبادلو دَ بیت الله
کښې دَ هغې دَپاسه اودریدلو او په هغې کښې دَ قدمونو دَ
هغه نخے جوړے شولے او ډیره زمانه پورے باقی پاتے
شوے - او دا شپږم فضیلت دے او دَ دے تخصیص ئے
دَ دے وجے نه اوکړلو چه دا مشتمل دے په ډیرو آیاتونو
بانده لکه نخے دَ قدم په سخته ګټه کښې، او په هغې کښې
ترکیږو پورے دَ هغه قدمونه ورننوتل، او دَ هغې
محفوظ ساتل دَ دشمنانو نه - او ابن عطیه ویلی دی چه
دا نخه دَ غېږو نخو نه په دے وجے سره ده چه دا په
کافرانو بانده حجت دے ځکه چه هغوی ته ښکاریدله
او په دے سره دین ابراهیمی خلقو ته یادیږی - او په
دیکښې بل قول دا دے چه مقام ابراهیم ټول بیت الله
او چاپیره ځایونه دی ځکه چه هغه دَ دعا او مونځ کولو
او نورو مناسکو دَ حج دَپاره په صفا او مروه او مزدلفه
او منی او عرفات کښې وقوف کړے دے -
وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا، په دیکښې اووم فضیلت ذکر دے،
ۀ ضمیر راجع دے مقام ابراهیم ته په معنیٰ دَ حرم مکه
سره دا نقل دے دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه یا
راجع دے الذی ببكة یا البیت ته - او مَنْ لفظ اګرچه

دَ ذوي العقول دَ پاره دے لیکن په دیکښ وحشي څناور او مارغان بلکه بوټي او اونے دَ حرم هم داخل دي چه دوی ته په هیڅ قسم تعرض نشي کیدلے (یعنې څوک یه وریه څه ته وائي) (الوسی). امِنًا نه مراد ذَا آمْنٍ رخاوند دَ امن، امن والا) دے. او په امن کښ درے اقوال دي دَ مفسرینو اول قول دا چه مراد دَ دینه امن دنیوی دے یعنې قصاص، لاس پریکول، او نورو عقوباتو نه په بچ وی. دَ حسن بصری نه روایت دے چه په جاهلیت کښ به یو شخص قتل اوکړو او بیا به حرم ته داخل شو نو څوئي دَ مقتول به هم ته غوختل چه دَ هغه نه بدل واخلي. او دغسے روایات دَ ابن عمر او ابن عباس او عمر رضي الله عنهم نه آلوسی وغیره نقل کړے دی. او اجماع ده په دے خبره باندے چه څوک په حرم کښ قتل اوکړي نو دَ هغه نه به په حرم کښ قصاص اخستے کیدے شي او دارنګ سیوا دَ جنایت دَ نفس نه په نورو جنایاتو کښ حرم امن نه ورکوی. هاں اختلاف دے په دے خبره کښ چه خارج دَ حرم نه په چا باندے قصاص واجب شي او بیا حرم ته پناهی حاصله کړي نو په قول دَ امام شافعي رحمه الله کښ دَ هغه نه په حرم کښ قصاص اخستل جائز دي او په قول دَ امام ابوحنیفه رحمه الله کښ دَ هغه نه په حرم کښ قصاص نشي اخستلے کیدلے بلکه خوراک څښاک او بیع شراء او خبرے کول به دَ هغه سره بند کړیشي دَ پاره دَ دے چه مجبور شي دَ حرم نه بهر وتلو ته. او دَ دلیلونو تفصیلات په نورو کتابونو کښ شته دے. او دویم قول دا دے چه دا امن اخروی دے یعنې څوک چه داخل شو حرم ته (په اراده دَ حج او عمرے او صحیح عقیدے سره) نو دے به په امن وی دَ اور دَ جهنم نه. دریم قول دا دے چه دَ دے نه امن دنیوی او اخروی دواړه مراد دی.

او دَ دے پشان آیا تونه دَ سورت بقره ۱۲۵، ۱۲۶ او سورة قصص ۵۷ او سورة ابراهیم ۳۵ او سورة قریش کښ هم دی۔

وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا، په دیکښ اتم فضیلت دَ بیت الله ذکر دے او په دے جمله کښ دَ حج دَ فرضیت ډیر تاکیدات دی اول لفظ دَ لِلّٰه چه دا حق دَ الله تعالیٰ دے په دیکښ شرک جلی اوخفی نه وی، ریا، سُمعت، تجارت او میله جوړول په مقصد نه وی۔ او قرطبی وئیلی دی چه لام دَ پاره دَ ایجاب او الزام دے۔ دویم لفظ دَ عَلٰی دے چه دلالت کوی په استعلاء او پورته والی او په تاکید دَ وجوب باندے۔ دریم لفظ دَ النَّاس دے په لفظ دَ عموم سره، اګرچه مراد دَ دے نه خصوص دے۔ څلورم لفظ دَ مَنِ اسْتَطَاعَ دے دا بدل دے دَ النَّاس نه نو تکرار دلالت کوی په تاکید باندے او ورسره تفصیل دے روستو دَ اجمال نه۔ پنځم وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ، اشاره ده چه حج پریخودل مشابهت دے کافرانو سره او انکارکول څوعین کفر دے۔ شپږم په غَنِيٌّ کښ اشاره ده چه دا سے انسان دَ الله تعالیٰ دَ خاص رحمت نه محروم دے الله تعالیٰ په دهٔ باندے هیڅ پروا نه کوی۔ حِجُّ الْبَيْتِ، زیر دَ حا او زور دَ هغے دوه لغتونه دی او په زیر سره په نیز دَ سیبویه مصدر دے لکه چه په زور سره هم مصدر دے۔ او په دیکښ اضافت دَ مصدر دے مفعول ته چه البیت دے۔

مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا، دا دلیل دے چه استطاعت شرط دے دَپاره دَ وجوب دَ حج برابره خبره ده که فی الفور وی او که په روستوالی سره وی په دے شرط چه دَ هغه نه فوت نشی۔ او استطاعت دَپاره اسلام او بلوغ او حریت (آزادوالے) شرط دے او سَبِيل،

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَكْفُرُونَ

ته او وايه	اے کتاب والو	ولے	کفر کوئ تاسو

بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ۖ وَٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ

په آیاتونو د الله تعالیٰ	او الله تعالیٰ	خبر دے	په

مَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٨﴾

هغه عملونو چه تاسو یے کوئ -

نه مراد توخه اوسورلی ده او دا قول قرطبی د عمر او ابن عباس رضی الله عنهم او نورو تابعینو او د امام شافعی او امام ابوحنیفه رحمهم الله کرځولے دے -او ابن کثیر د عکرمه نه نقل کړے دی چه سبیل صحت د بدن ته وئیلے شی او قرطبی د ائمو دا قوالو تفصیلی ذکر کړے دے هغه او کورئ -

وَمَنْ كَفَرَ ، ابن کثیر د ابن عباس رضی الله عنهما او مجاهد وغیره نه نقل کړی دی چه مراد د دینه هغه څوک دے چه انکار او کړی د فرضیت د حج نه -او حسن بصری په ظاهر باندے حمل کړے دے -

فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَٰلَمِينَ ، هر کله چه د بیت الله په باره کښ هدًی للعٰلمین او ئیلے شو نو د دے د پریخودلو سره یے ځکه قول عالم ذکر کړے دے او په دیکښ لطیفه اشاره ده چه بقاء د بیت الله سره بقاء د دنیا متعلق ده چه څو پورے کعبه موجود وی او احترام یے جاری وی نو دنیا به آباده وی لکه چه په دے باندے بعضے روایات دلالت کوی نو هر کله چه کعبه ورانه کړے شی نو الله تعالیٰ به خپله غنا (بے حاجتی) ښکاره کړی په فنا کولو د عالم سره- ۹۹:- په دیکښ زجر دے اهل کتابو ته او مناسبت یے د مخکښ سره دا دے چه او ئیلے شو فِيهِ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ ، او اهل

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَصُدُّوْنَ

ته اوايه اے كتاب والو ولے اړوئ تاسو

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ

دَ لارے دَ الله تعالىٰ نه هغه څوک چه ايمان ئي راوړے دے

تَبْغُوْنَهَا عِوَجًا وَّاَنْتُمْ شُهَدَآءُ ؕ

لټوئ تاسو دغه لارے لره كږوالے او حال دا چه تاسو علم لرئ

كتابو دَ دغه آياتو نه انكار كړے دے او حج دَ بيت الله نه منع تو اوس هغوى له زورنه وركوى - دا رنګ په مخكښ آياتو نو كښ په جوابونو دَ شبهاتو سره صدق دَ آخرى نبى صلى الله عليه وسلم ثابت شو ليكن يهود او نصارٰى بيا هم دَ هغه نه انكارى كوى نو دوى له زورنه ذكر كوى.

لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ، مراد دَ آيات الله نه ايٰت بينٰت دَ كعبے دى او دوى په هغے باندے علم لرلو يا مراد دَ آياتو نه دَ تورات او انجيل دى چه دلالت كوى په صدق دَ آخرى نبى باندے او دوى په هغے باندے علم لرلو - يا مراد دَ ايت الله نه قرآن كريم دے چه په هغے كښ ذكر دَ فرضيت دَ حج دے او دا قول ابوحيان ذكر كړے دے او په روستو توجيه سره وهم دَ تكرار دفع شو چه په آيت ښكښ هم دا سے زورنه ذكر ده ليكن هلته مراد آياتو نه دَ تورات او انجيل وۀ چه دوى په هغے كفر كوو سره دَ علم دَ دوى نه نو ورته وئيلے شوے وۀ.

وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ، او دلته مراد قرآن كريم دے او په دے باندے دَ دوى تفصيلى علم نه وۀ نو الله تعالىٰ او فرمائيل وَاللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى مَا تَعْمَلُوْنَ ، په دے جمله كښ سخت تهديد او زورنه ده - آلوسى وئيلى دى چه شهيد په معنىٰ دَ عالم او اطلاع لرونكى دے دا رنګ ابوحيان هم وئيلى دى چه

وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿۹۹﴾

اونه دے الله تعالیٰ غفلت کوونکے دَهغه کارونو نه چه تاسو کوئ۔

شهيد نه مراد په صفت دَ الله تعالیٰ کښ عالم دے او دا صيغه دَ مبالغے ده۔

ف ۹۹:- هر کله چه مخکښ آيت کښ زجر وؤ دَ دوی په کفر اوگمراهئ باندے نو اوس زجر ورکوی په گمراه کولو دَ نورو خلقو باندے چه هغے ته ضَال مُضِل وئيلے شي۔

لِمَ تَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، صد لازمی او متعدی دواړه استعماليږی ليکن دلته متعدی دے ځکه چه مفعول (مَنْ اٰمَنَ) ذکر کړے دے او سَبِيْلِ اللّٰهِ دين او شرع دَ الله تعالیٰ ده او په هغے کښ قرآن او سنت او ايمان او توحيد داخل دی۔ امام راغب مفردات کښ وئيلی دی چه دَ کوم آيت په سر کښ قل يا اهل الكتٰب وی نو په هغے کښ اول زجر مراد وی او بيا دلالت کوی په دعوت باندے او په کوم آيت کښ چه بغير دَ قل نه يا اهل الكتٰب ذکر وی نو په هغے کښ دعوت مراد وی اگر چه په زجر باندے هم دلالت کوی۔

مَنْ اٰمَنَ مفعول دے دَ پاره دَ تَصُدُّوْنَ که دَ کتاب والو نه وی او که دَ غير کتابی وی۔

تَبْغُوْنَهَا عِوَجًا، هَا ضمير سبيل الله ته راجع دے او قرطبی وئيلی دی چه په ديکښ لام پټ دے يعنی لَهَا (لټوئ او طلب کوئ او کوشش کوئ تاسو دغے لارے له دَ کږه ولو)۔

عِوَجًا، په زير دَ عين سره دلالت کوی په کوږوالی معنوی باندے يعنی په دين کښ او قول او عمل کښ او په اخلاقو کښ، چه هغه په فکر کولو سره معلوميږی۔ او په زور دَ عين سره دَ محسوساتو دَ پاره استعماليږی لکه ديوال او ونه کږه۔ او دَ دے په تفسير کښ درے اقوال دی اول

داچه دَ خلقو په زړونو کښې دَ سبیل الله په باره کښې شکونه او شبهات اچوی دَ دے دَ پاره چه هغوی مرتد شی۔
دویم قول دا دے چه سترے کوئ تاسو ځانونه خپل په اعتراضونو کولو او په خلقو اړولو کښې دَ دے لاره نه (ابوحیان، کشاف)۔
دریم قول دا چه تبغون دَ بغی نه دے په معنیٰ دَ تعدی او ظلم کولو سره یعنی ظلم کوئ تاسو په دے لار باندے په داسے حال کښې چه تاسو دَ دینه کاږه روان یئ (صاحب اللباب او ابوحیان)۔
او بل احتمال دا دے چه لټوئ تاسو دا لاره کږه یعنی تاسو سبیل الله په غلط صورت پیش کوئ یا تاسو (چه په کږه لار باندے روان یئ) او دعوی کوی چه دا نیغه لار ده (صاحب اللباب)۔
دَ اَنْتُمْ شُهَدَآءُ، په دیکښې شلور اقوال دی اول دا چه تاسو علم لرئ چه په تورات کښې وئیلے دی چه دین دَ الله تعالیٰ اسلام دے دویم قول، تاسو علم لرئ چه صد عن سبیل الله حرام او کفر دے۔ دریم قول، تاسو مشاهده کړیدی (لیدلے دی) معجزات دَ آخری نبی صلی الله علیه وسلم۔ شلورم قول، تاسو په خپل امت کښې خاوندان دَ شهادت ورکولو یئ یعنی په تاسو باندے اعتماد کیدیشی نو ولے دَ (صد عن سبیل الله) دَ گناه ارتکاب کوئ۔
وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ، تیر شوی آیت کښې دَ دوی کفر صریح ذکر وؤ نو دَ هغے سره صفت دَ شهید مناسب وو او په دے آیت کښې دَ دوی پټ پټ شبها تو ته اشاره ده نو دَ هغے سره په زړونه کښې دا جمله مناسب ده۔

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوْا

اے ایمان والو که چرے تاسو تابعداري اوکړئ

فَرِيْقًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

دَ يو ډلے دَ هغه کسانو چه ورکړے شوے دے هغوی ته

الْكِتٰبَ يَرُدُّوْكُمْ بَعْدَ

کتاب واپس به اوګرځوي تاسو روستو

اِيْمَانِكُمْ كٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۰﴾

دَ ايمان ستاسو نه کافران -

ت۱ ۔ هر کله چه تردے آیت پورے خباثات دَ کتابیانو ذکر شول او خاص دا چه دوی تاسو دَ حق لارے نه منع کوي نو اوس مؤمنانو ته آدب ذکرکوي دَ پاره دَ دے چه بچ شي دَ دغه خباثتونو نه ۔

اول آدب دا دے چه دَ دوي دَ اطاعت نه ځان بچ کړئ چه مرتد مو نه کړي او دَ کفر کارونه درکښې پیدا نشي ۔

اِنْ تُطِيْعُوْا فَرِيْقًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ ، اِنْ لفظ دَ شک دلالت کوي چه مؤمنان خو دا کار نه کوي لیکن تنبیه ورکول مقصود دے ۔

فَرِيْقًا ، دَ دیته مراد هغه کسان دي چه دَ ګمراه کولو کوشش کوي ۔

يَرُدُّوْكُمْ ، رد دلته متضمن دے معنیٰ دَ صَيَّرَ لره نو دوه مفعولونه غواړي نو کافرین دویم مفعول دے یا کافرین حال دے او قید ۔

بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ دَ ډیر تقبیح دَ پاره دے ۔

وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ وَاَنْتُمْ تُتْلٰى

او څه رنګ کفر کوئ تاسو او حال دا چه لوستلې کیږي

عَلَيْكُمْ اٰيٰتُ اللّٰهِ وَفِيْكُمْ

په تاسو باندې آیاتونه دَ الله تعالیٰ او په تاسو کښې

رَسُوْلُهٗ ؕ وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ

رسول دَ هغه شته دے او چا چه ځان کلک کړو په الله تعالیٰ پورے

فَقَدْ هُدِيَ اِلٰى صِرَاطٍ

نو یقیناً او رسولے شو هغه لارے

مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۰۱﴾ ع

نیغې ته۔

سلا:۔ مخکښې آیت کښې تحذیر ذکر شو دَ اطاعت دَ کتابیانو نه چه سبب دَ کفر دے اوس تبعید (لرے والے) ذکر کوی دَ صحابو او دَ هغوی دَ تابعدارانو دَ کفر نه په سبب دَ وجود دَ موانعو دَ کفر چه هغه تلاوت او درسونه دَ قرآن کریم او وجود دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم او وجود دَ سنت دَ هغه دے په مؤمنانو کښې۔ او دا دلیل دے چه صحابه کرام دَ مرتد کیدلو نه بچ ساتلے شوے دی۔

وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ، دا استفهام دَ پاره دَ تبعید دے۔

وَاَنْتُمْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ اٰيٰتُ اللّٰهِ، صیغه دَ مجهول دلالت کوی په عموم دَ درسونو او دعوت دَ قرآن کریم باندے ځکه چه مراد دَ ایات الله نه قرآن کریم دے۔ آلوسی وئیلی دی چه دا مجهولی صیغه دلالت کوی په استقلال دَ دواړو (کتاب وسنت) باندے او اشاره ده چه هر څوک چه دَ قرآن دعوت کوی نو دا کافی کیږی دَ هدایت دَ پاره۔

وَفِيْكُمْ رَسُوْلُهٗ، په وخت دَ حیات دَ رسول الله کښې وجود دَ

ذات دَ هغه مراد وو او روستو دَ وفات دَ هغه نه دَ هغه سنت
مراد دے دَ دے دپاره چه رسول لفظ ئے ذکر کړے دے چه
دلالت کوی په وصف دَ رسالت دَ هغه باندے که تخصیص دَ
ذات مراد دے نو وئیلے به ئے وو۔
دَ وَفِيكُمْ مُحَمَّدٌ (صلى الله عليه وسلم) نو دا دلیل نشی
کیدلے دَ هغه گمراهانو دَ پاره چه نبی صلی الله علیه وسلم
روستو دَ وفات نه هم حاضر ناظر (په هر ځائے کښ) گنړی۔
او قرطبی وئیلی دی چه داخل دی په آیت کښ هغه خلک
چه نبی صلی الله علیه وسلم ئے لیدلے نه دے ځکه چه سنت
دَ هغه قائم دی په ځائے دَ لیدلو دَ هغه - او دا ئے دَ زجاج
نه هم نقل کړیدی - او ابن عطیه هم وئیلی دی چه اقوال
او آثار دَ نبی صلی الله علیه وسلم په امت کښ دَ هغه دَ حضور
په ځائے قائم دی او دا ئے آلوسی هم وئیلی دی۔
دَ وَمَنْ يَعْتَصِمْ بِاللهِ، عَصَمَ په لغت کښ منع کولو او بچ کولو
ته وئیلی شی لکه عرب وائی عَصَمَ الطَّعَامَ، (منع ئے کړو
خوراک) او عصام هغه څیز ته وئیلے شی چه مشکیزه په هغے
سره تړلے کیږی۔
دَ وَمَنْ يَعْتَصِمْ بِاللهِ کښ دوه اقوال دی اول دا چه مضاف
پټ دے یعنی بِدِينِ اللهِ چه قرآن او سنت دے او اعتصام
په معنیٰ دَ تمسک دے یعنی دلیل نیول او تابعداری او عمل
کول او دا جمله عطف ده په وَأَنْتُمْ تُتْلَى عَلَيْكُمْ باندے
او په ځائے دَ حال کښ ده او دویم قول دا دے چه اعتصام نه
مراد پناه حاصلول دی په الله تعالیٰ سره په وخت دَ شرونو
او شبهاتو او چولو دَ کتابیانو کښ دَ دفع کولو دَ هغے دَ پاره - په
دے توجیه سره دا نتیجه ده دَ اِنْ تُطِيعُوا دَ مضمون دَ پاره۔
فَقَدْ هُدِيَ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ، اشاره ده چه اعتصام په
کتاب دَ الله تعالیٰ یقینی سبب دَ هدایت دے دا په اول قول سره۔
دا رنګ التجاء کول الله تعالیٰ ته دَ پاره دَ دفعے دَ شر دَ خلقو

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ

اے ایمان والو ویرہ کوئے د الله تعالیٰ نه

حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ

په پوره ویریے سره او مه مره کیږئ تا سو

إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٢﴾

مګر په داسے حال کښ چه پوره تابعداری

عین هدایت دے دا بنا دے په دویم قول باندے.

س۱۰۲:- د دے آیت نه د سورت درېیمه حصه ده په دیکښ خلور اصول ذکر کوی د پاره د مضبوطوالی د ایمان او د جماعت د مؤمنانو او د حفاظت د هغوی د تفرق نه او دیته آداب هم وئیلے شی.

اول اصل او ادب پوښ پاتے کیدل دی په کامل ایمان او اسلام باندے ترمرګه پورے او دیته اصلاح د نفسونو وئیلے شی دا ذکر دے په س۱۰۲ کښ.

دویم اصل او آدب اتحاد ساتل دی په اعتصام بالکتاب والسنة سره او دیته اصلاح د افرادو د جماعت وئیلے شی په س۱۰۳ کښ.

دریم اصل او ادب دعوت کول کتاب او سنت ته د پاره د نشر و اشاعت د اسلام او دیته اصلاح د اجانبو وئیلے شی. او په دے پسے فائدے د دعوت کولو ذکر کوی لکه فلاح په س۱۰۴ کښ او د مخونو سپین والے په س۱۰۷ کښ او خیریت (غوره والے) په س۱۱۰ کښ. او بیا تقابل دے د صفاتو د ګمراهانو کتابیانو او د صفاتو د صالحینو چه دعوت کوونکی دی او د هر یو لس لس صفات ذکر کوی بیا تخویف او زجر دے ګمراهانو ته په س۱۱۱، س۱۱۷ کښ.

خلورم اصل او ادب پرهیز کول دی د دوستانے او رازداری

وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا

او منګولې اولګوئ په رسۍ د الله تعالی باندې ټول

وَّلَا تَفَرَّقُوْا ۠ وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ

او مه ډلې ډلې کیږئ - او یاد کړئ نعمت د الله تعالی

عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ

په تاسو باندې کله چه تاسو وئ دشمنان نو جوړ یې راوستلو

د منافقانو نه او د هغې لس علتونه (وجې) یې ذکر کړې دی د ۱۱۸ نه تر ۱۲۰ پورې بیا تفریع ده په دغه اصولو باندې په ذکر د واقعې د احد او د بدر سره - او په آخر کښې رد د شرک فی التصرف دے د نبی صلی الله علیه وسلم نه او توحید ذکر کوی په ۱۲۹ کښې.

ربط د مخکښې سره دا دے، هر کله چه مؤمنانو ته تحذیر ذکر شو د ګمراه کیدو نه په وسوسو د کتابیانو سره نو اوس د دوی د یوخوالی آداب ذکر کوی - په دے آیت کښې آدب دے په کامله تقوٰی سره او په دوام د ایمان او اسلام باندې تر مرګه پورې -

حَقَّ تُقٰتِهٖ، په دیکښې اضافت دے موصوف ته یعنی اَلِاتِّقَاءَ الْحَقَّ او اضافت د حق مصدر ته دلالت کوی په کمال باندې او مراد د دیته دا دے چه په باره د حق کښې د هیڅ ملامتیا نه دوی یره نه کوی او په اتصاف باندې قائم وی. او خپله ژبه په واک کښې ساتی او د هر ګناه نه د ځان بچ کولو کوشش کوی او وَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ د دے تفسیر دے او په دے معنی سره دا منسوخ نه دے او دا قول د ابن عباس رضی الله عنهما او طاؤس نه نقل دے او په دے معنی کښې د توحید په ټولو اقسامو باندې عقیده ساتل هم داخل دی (سراج المنیر) -

بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ

په مینځ د زړونو ستاسو کښې نو شوے تاسو

بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا ۚ وَكُنْتُمْ عَلَىٰ

په سبب د نعمت د هغه سره رونړه رونړه او تاسو وئ په

شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ

غاړه د کنده ے د اور

فَأَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا ۗ كَذَٰلِكَ

نو بچ ئے کړلئ تاسو د هغے نه د غسے

يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ

بیانوی الله تعالیٰ تاسو ته احکام خپل

لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠٣﴾

د دے د پاره چه هدایت اوموئ تاسو۔

وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ، دا سے په سوره بقره ۱۳۲ کښې تیر شویدی یعنی په اسلام پاندے په عقیده او عمل کښې هر وخت پابند او سیږئ تر دے پورے چه په تاسو پاندے مرګ راشی په حال د ایمان او اسلام کښې۔

۱۰۳ :- په دے آیت کښې دویم اصل او ادب ذکر دے او مناسبت ئے د مخکښې سره اول دا دے چه کامله تقوی او همیش والے په اسلام باندے حاصلیږی په سبب د اعتصام بحبل الله۔ دویم دا دے چه په هغه ادب کښې اصلاح د خپل نفس وه او په دے ادب کښې اصلاح د ټول جماعت د مسلمانانو ده۔ نو په آیت کښې امر دے په اعتصام بحبل الله۔ او منع ده د تفرق نه۔ او د دے دوه فائدے ذکر کوی اوله فائده دنیوی ده چه هغه الفت پیدا کیدل دی په کورنۍ کښې او دشمنی

ختمیدل دی اودویمه فائده اخروی ده چه هغه دَعذاب دَ اُور نه بچ کیدل دی۔
وَاعْتَصِمُوْا ، دا عطف دے په اتقوا الله باندے نو ایمان والوته
خطاب دے او معنیٰ دَ عصمت مخکښ ذکر شوه۔
بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا ، د حبل الله په مصداق کښ دَ مفسرینو
ډیر اقوال دی ، عهد ، قرآن ، دین ، طاعت ، اخلاص دَ توبے
جماعت دَ مؤمنانو ، اخلاص دَ توحید او اسلام دا اقوال یو بل
ته نیژدے دی او په روایت دَ ابوسعید خدری او عبدالله بن
مسعود او زید بن ارقم رضی الله عنهم کښ ذکر دی چه حبل الله
قرآن دے (ابوحیان ، صاحب اللباب)۔ او روایت دَ زید بن ارقم
رضی الله عنه مسلم راوړے دے۔ حبل په اصل کښ هغه سبب
ته وئیلے شی چه په هغے سره مقصد ته رسیدل کیدیشی او په
عام عرف کښ رسۍ ته وئیلے شی او دلته په طریقه دَ تشبیه یا دَ
استعارے سره استعمال شوید‌ه یعنی لکه چه په رسۍ سره دَ کوز
ځائے کوهی نه انسان بره راختلے شی او دَ زمکے نه اوچت ځائے ته هم په
هغے سره ورختلے شی۔ او مختلف لرګی ، خشاک او سامان وغیره بړے په
کیږی او پنډ کښ تړلے کیدیشی نو دا رنګ په اعتصام دَ قرآن سره
هم انسان دَ ذلت او جهالت نه بهر راوتلے شی او لویو درجاتو ته
رسیدلے شی۔ او متفرق او مختلف خلق په دے سره متفق او
متحد کړےځی۔
جَمِيْعًا ، دا حال دے دَ فاعل دَ واعتصموا نه په معنیٰ دَ مجتمعین
سره او دا لفظ ئے روستو دَ حبل الله نه ذکر کړو اشاره ده چه په
اعتصام بحبل الله سره اتحاد او اتفاق حاصلیږی۔
وَلَا تَفَرَّقُوْا ، په دیکښ منع ده دَ اختلاف کولو نه په دین حق کښ
او دَ هر هغه بدعت نه چه سبب دَ تفرق کرځی یعنی دَ قرآن او سنت
په پریخودلو سره چه کوم اختلاف او ډله بازی پیدا کیږی نو
هغه تفرق مراد دے او هغه منع دے۔ دَ دے وجے نه دا فروعو
او مجتهدانو اختلاف ته نه دے شامل او په دے سره نفی
دَ اجتهاد نشی کیدلے لکه چه قرطبی وئیلی دی۔ او هغه وائی دی

چه دا اسے اختلاف اجتها دی په صحابه کراموکښ هم موجود وۀ
لیکن دغه اختلاف سبب دَ فساد نه دے او نه ترینه سبب دَ
فساد جوړول پکار دی۔ لیکن کوم حدیث چه دلته قرطبی لیکلے
دے او دَ خلقو په ژبو باندے مشهور دے چه (اختلاف اُمتی
رَحْمَةٌ) نو دا دَ سند په لحاظ سره ثابت نه دے مناوی په فیض
القدیر ج ۱ ص ۲۱۲ کښ وئیلی دی چه سبکی وئیلی دی چه دا په
نیز دَ محدثینو معروف نه دے او څه خبر نه یم دَ دے په
هیڅ سند باندے نه صحیح نه ضعیف نه موضوع۔ او سیوطی
په جامع صغیر کښ بے سنده ذکر کړے دے او عراقی وئیلی
دی چه بیهقی په مدخل کښ دا حدیث دَ ابن عباس رضی الله
عنهما نه راوړیدے لیکن سند ئے ضعیف دے۔
وَاذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ، په دیکښ ترغیب دے عمل
کولو ته په تقوٰی او اعتصام بحبل الله په نعمت دنیویه او
اخرویه سره۔ نعمت دنیویه ختمول دَ دشمنئ دی چه دَ اوس
اوخزرج (چه دوه قبیلے دَ انصارو وے) په مینځ کښ دَ یو
مقتول په سبب سره شپږ شلے کلو نه دشمنی او اختلاف وۀ۔
لیکن په سبب دَ اسلام قبلولو سره هغه دشمنی ختم شوه او دَ
دے نور تفصیل صاحب اللباب ذکر کړے دے۔ نِعْمَةَ نه
مراد اسلام یا قرآن دے یا الفت پیدا کول دی روستو دَ
دشمنئ نه لکه چه روستو ذکر دی په اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَاءً فَاَلَّفَ
بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖۤ اِخْوَانًا، او دا اسے په سورة
انفال ۶۳ کښ هم دی۔ اَصْبَحْتُمْ په صباح کښ داخلیدلو ته
وئیلے شی او په معنٰی دَ صِرْتُمْ سره استعمالیږی لیکن پدے
لفظ کښ اشاره ده چه دشمنی په مثال دَ تورے شپے ده او
مینه محبت پښتان دَ رنړا دَ صبا دے۔ اِخْوَانًا او اِخْوة دواړه
جمع دَ اَخ دَ پاره دی۔ بعضے اهل لغت وئیلے دی چه اخوان
په دینی رورولئ کښ استعمالیږی او اخوت په نسبی رورولئ
کښ لیکن دا اکثری قاعده ده همیشه نه ده۔ او دَ دے

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ

او دی شی ستاسو نه یوه ډله چه دعوت کوی

اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ

خیر طرف ته او حکم کوی د نیکئ

اخوت ډیرے قصے په انصارو کښ مشهور دی یو د هغے نه ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے چه یو سر د بیزے روریت کړے شوے) په اوؤ کورونو د انصارو کښ گرځیدلے وؤ چه یو کور بل کور ته د ایثار او احتیاج د هغه د وجے نه ورکوؤ ترد ے چه واپس اول کور والو ته راورسیدلو۔
بِنِعْمَتِهٖ دا لفظ ئے دوباره ذکر کړو ځکه د اول نعمت نه دشمنی لرے کول مراد دی او د دویم نه الفت او اخوت پیدا کیدل مراد دی یا د اول نه اسلام مراد دے او د دویم نه قرآن مراد دے۔
وَكُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا، په دیکښ نعمت اخرویه ذکر کوی چه په سبب د اسلام او قرآن د اور د جهنم نه بچ شوئ۔ شَفَا طرف او غاړے ته وئیلے شی۔ مِنْهَا ضمیر حفرة یا نار ته راجع دے یا شفا ته راجع دے په اعتبار د مضاف الیه مؤنث سره او په دے عبارت کښ تشبیه مراد ده یعنی په سبب د کفر او د شرک سره تاسو داسے وئ لکه چه انسان د اور د کندے په غاړه باندے اولاړ وی تیز دے وی چه په هغے کښ پریوځی لیکن څوک دوست ئے راشی او د هغه غاړے نه ئے لرے بوځی نو الله تعالٰی د اسلام په وجے سره تاسو د جهنم د کندے نه بچ اوساتلئ۔ انقاذ وئیلی شی یو څیز د بل د لاس او قبضے نه خلاصول۔ نو په دے لفظ کښ ډیر تاکید او مبالغه ده په بچ کولو کښ۔
كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ، آیات نه مراد

وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ط وَأُولٰٓئِكَ

او منع کوی دَ بدئ نه او دغه کسان

هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ (۱۰۴)

خاص دوی فلاح موندونکی دی۔

قرآن دے او تیر شوی آیاتو ته دَ دے سورت او اشاره ده چه دَ قرآن بیان په داسے ترتیب سره ذکر شو چه سبب دَ هدایت موندلو دے۔
ربط :- دا عطف دے په ما قبل آیت باندے او خطاب دے مؤمنانو ته او ذکر دَ دریم اصل او ادب دے دَ پاره دَ اصلاح دَ نورو خلقو (مشرکانو، کافرانو، منافقانو، فاسقانو)۔
دَ لْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ ، په دے مِنْ کښ دوه اقوال دی اول قول دا چه دا دَ پاره دَ تبعیض دے یعنی بعضے ستاسو نه او دا قول دَ ضحاک او دَ طبری دے او قرطبی غوره کړے دے او دلیل ئے دا دے چه دعوت الی الخیر هغه څوک کولے شی چه خیر او معروف او منکر باندے علم لری او دارنګ دَ هغے طریقه پیژنی او ځایونو دَ سختئ او دَ نرمئ کښ فرق کولے شی نو مراد په دے سره علماء دی (ابوحیان)۔ او دلالت کوی په دے قول باندے آیت ۱۰۸ دَ سورۃ یوسف۔ په دیکښ لفظ بصیرت په معنیٰ دَ علم سره دے نو بنا په دے قول باندے دعوت فرض کفائی دے او مصداق ئے اهل علم دی په هر مکان او هره زمانه کښ۔ دوېم قول دا دے چه مِنْ دَ پاره دَ بیان دے او دا قول دَ زجاج دے یعنی دعوت په هر مکلف باندے فرض دے په لاس سره یا په ژبه سره یا په زړه سره نو امر عام دے خو سا قطیګی په فعل دَ بعضو کسانو سره۔ دَ دے قول رجح هم فرض کفائی ته ده۔ فیصله دا ده چه هر مسلم او مؤمن باندے دعوت فرض دے او چا چه

دَ یوے مسئلے علم حاصل کړے دے نو په هغه باندے دَ هغے دعوت فرض دے او چا چه ډیر علم حاصل کړے دے نو په هغه باندے دَ هغے دعوت فرض دے لیکن چه یو علاقه کښې ډیر علماء وی نو په هغوی باندے فرض کفائی دے او چه یو علاقه کښې یو عالم حق پرست وی او نور علماء حق نه وی نو په هغه باندے فرض عین دے۔

یَدْعُوْنَ اِلَی الْخَیْرِ، ابن کثیر دَ ابن مردویه روایت دَ ابوجعفر باقر نه مرفوع نقل کړے دے چه مراد په خیر سره اتباع دَ قرآن او سنت ده۔ او اسلام او عمل په طاعت دَ الله تعالیٰ او جهاد پکښې هم داخل دی او دا اقوال ابوحیان ذکر کړی دی۔

وَیَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَیَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْکَرِ، زمخشری وئیلی دی چه دا عطف دَ خاص دے په عام باندے ځکه خیر عام دے هر فعل دَ خیر او ترک دَ منکر ته شامل دے لیکن غوره دا ده چه دا عطف تفسیر دے ځکه چه لفظ دَ خیر دَ معروف او منکر نه بغیر بل مصداق نه لری نو دا تفصیل بعد الاجمال دے دَ تاکید دَ پاره۔ معروف په شریعت کښې هر هغه قول او فعل دے چه په شرع سره دَ هغے حسن (ثواب) ثابت وی نو توحید او فرائضو او اعمالو او مندوباتو ټولو ته شامل دے او منکر هر هغه قول او فعل دے چه په شرع سره دَ هغے قبح (بدی) ثابت وی دا رنګ معروف هغه خیز دے چه کتاب او سنت سره موافق وی او منکر هر هغه خیز دے چه دَ کتاب او سنت نه خلاف وی نو په معروف کښې اول توحید او ایمان داخل دے او په منکر کښې اول شرک او کفر داخل دے نو زاد المسیر کښې ابن جوزی دَ ابوالعالیه نه چه روایت کړے دے چه معروف توحید دے او منکر شرک دے دا دَ تخصیص دَ پاره نه دے بلکه ذکر دَ اول

مصداق دے په دوارو کښې۔

قائده:- قرآن کریم کښې په هر ځائے کښې د امر بالمعروف سره نهي عن المنکر یو ځائے ذکر کړے ده لکه په دے سورت ۱۱۰، ۱۱۴ او سوره اعراف ۱۵۷، توبه ۶۷، ۷۱، ۱۱۲، حج ۴۱ او لقمان ۱۷ کښې نو معلومه شوه چه اکتفاء کول په یو قسم باندے یعنی صرف امر بالمعروف کول یا صرف نهي عن المنکر کول ناقص عمل د دعوت دے او ډیر اهم پکښې نهي عن المنکر ده ځکه د دے په پریخودلو سره الله تعالی سخت زجر ذکر کړے دے په سوره مائده ۶۳، ۷۹ کښې.

وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ، مراد د فلاح نه دا ده چه دوی ته به د دے عملونو اجرونه او د عملونو د هغه چانه چه د دوی د دعوت تابعداری ئے کړے ده ملاویږي او دے ته اجر غیر ممنون وئیلے شي او هغه په جنت پورے خاص دے۔

۱۰۵:- په دے آیت کښې اشاره ده چه په ترک د دعوت سره تفرق او اختلاف پیدا کیږي او عذاب عظیم ملاویږي نو دا ناکاره اثر دے چه په ترک د دعوت باندے مرتب

کیږی او مقابل دَ فلاح دے۔ او په آیت کښ نهی ده دَ تشبیه
دَ یهودو او نصاراؤ نه چه هغوی دعوت ترک کړے وؤ او ډیرے
فرقے په هغوی کښ پیدا شوے۔
وَلَا تَكُونُوا عطف دے په وَلْتَكُن مِّنكُمْ باندے۔
كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا ، ابو حیان وئیلی دی چه دا تفصیل
دَ ماقبل دے یعنی وَلْتَكُن مِّنكُمْ تفصیل دَ وَاعْتَصِمُوا دے او
وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آه تفصیل دے دَ لَا تَفَرَّقُوا دَ پاره۔
دَ ابن عباس رضی الله عنهما او حسن بصری نه نقل دے
چه مراد دَ دینه یهود او نصارٰی دی ځکه چه په حدیث
صحیح کښ وارد دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم
فرمائیلی دی چه مخکښ اهل کتاب (یهود او نصارٰی) پخپل
دین کښ دوه اویا ډلے جوړ شویوو او دا امت به درے اویا
ډلو ته تقسیمیږی۔ او بعضے مفسرینو وئیلی دی چه مراد دَ
دینه بدعتیان دَ دے امت او حروریه ډله (خوارج) دی
لیکن صحیح دا ده چه دوی په طور دَ تشبیه سره په آیت کښ
داخل دی یا په طریقه دَ اخبار بالغیب (پیشګوئی) سره
ځکه چه په وخت دَ نزول دَ قرآن کښ دوی موجود نه
وؤ۔ او په مینځ دَ تفرق او اختلاف کښ فرق دے په درے
وجوهو سره۔ اوله وجه دا ده چه تفرق په اصولو کښ دی او
اختلاف په فروعو کښ وی۔ دویمه وجه، تفرق په اصولو
کښ وی او اختلاف تحزب او ډله بازی او تعصب کول دی۔
دریمه وجه، تفرق دَ کتاب او سنت پریخودل دی او اختلاف
مخالفت کول دی دَ کتاب او سنت نه۔ صاحب اللباب څلورم فرق
ذکر کړے دے چه تفرق والا هغه کسان دی چه دَ نصوصو
شرعیو باطل تاویلات کوی او اختلاف دا دے چه هر
یو دَ خپل مذهب نصرت کوی۔ لیکن په اوله وجه کښ
اختلاف دَ فروع چه مرتب وی په اختلاف اصولی باندے
نو دا امر قبیح دے۔ نفس اختلاف دَ فروعو دَ صحابه کرامو

يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَّتَسْوَدُّ

په داسې ورځ چه سپين به شي بعض مخونه او تور به شي

وُجُوهٌ ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ

بعض مخونه نو هغه کسان چه تور به شي

وُجُوهُهُمْ ۖ أَكَفَرْتُمْ بَعْدَ

مخونه د هغوی (او به وئيلے شي دوی ته) آيا کفر کړے دے تاسو روستو د

إِيمَانِكُمْ فَذُوقُوا الْعَذَابَ

ايمان ستاسو نه نو اوڅکئ عذاب

بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿١٠٦﴾

په سبب د هغه چه تاسو کفر کوۀ -

او د مجتهدينو په مينځ کښې په ديکښې داخل نه دے - دلته زيات تفصيل قاسمي په خپل تفسير کښې او آلوسي ليکلے دے.

مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ ، د ابن عباس رضي الله عنهما په تيز هغه آيا تونه مراد دي چه مخکښې ملتونو يا نازل شوے وو او تورات او انجيل او قرآن په کښې داخل دي.

وَأُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ، دا دليل دے چه تفرق او اختلاف ګناه کبيره دے او کله کله کفر نه او رسيږي.

سلا :- دا متعلق دے په عذاب عظيم پورے او مفعول فيه دے د هغے د پاره يا لفظ د وَاذْكُرْ پټ دے او په ديکښې د تفرق نه د بچکيدلو او د دعوت نتيجه ده په سپينوالی د مخونو سره او نتيجه د پريخودلو د دعوت او د تفرق په توروالی د مخونو سره ذکر کوي.

يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ، صحيح دا ده چه مراد د سپينوالی او توروالی نه معنیٰ ظاهري حقيقي ده او دا سے په سوره يونس سلا۲۷ او سوره زمر سلا۶۰ او سوره قيامه سلا۲۲

او سوره عبس ۳۸ کښې دی. او دا به په ورځ دَ قیامت کښې وی لیکن دَ مفسرینو په تعیین دَ مقام کښې اقوال دی. اول قول، دا به په وخت دَ پاسیدلو کښې وی دَ قبرونو نه. دویم قول، دا به وخت دَ ټول کولو دَ اعمالو کښې وی. دریم قول، په وخت دَ لوستلو دَ اعمال ناموکښې به وی. څلورم قول، دا به په وخت دَ وئیلو دَ وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ کښې دی. پنځم قول، کله چه اوئیلے شی چه هر څوک دے دَ خپل معبود سره روان شی نو دا به په هغه وخت کښې وی. او په مخونو والوکښې هم اقوال دی اول قول دَ ابن عباس او دَ ابن عمر رضی الله عنهم دے چه حدیث مرفوع کښې وارد دی چه سپین به شی مخونه دَ اهل سنت او تور به شی مخونه دَ اهل بدعت. قرطبی وئیلی دی دا حدیث منکر دے. او حدیث (موقوف) دَ ابو امامه رضی الله عنه دے چه ده اولیدل سرونه (دَ خوارجو یاغیانو) چه آویزان وو په دروازه دَ دمشق باندے نو اوئیل ئے چه كِلَابُ النَّارِ شَرُّ قَتْلَى تَحْتَ أَدِيمِ السَّمَاءِ خَيْرُ قَتْلَى مَنْ قَتَلُوهُ، (دا سپی دَ اور دی او بد تر قتیلان (قتل کړے شوی) دی لاندے دَ څرمنو دَ آسمان نه او غوره دی هغه څوک چه دوی قتل کړی دی) بیا ئے اولوستلو دا آیت يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ، (ترمذی وئیلی دی چه دا حدیث حسن دے). دویم قول دَ عطاء دے چه سپین به شی مخونه دَ مهاجرینو او انصارو او تور به شی مخونه دَ بنو قریظه او بنو نضیر. دریم قول دَ ابی بن کعب دے چه مراد تری نه کافران دی په دلیل دَ روستو جملے سره او دا قول منافقانو او مرتدینو او یهود او نصاری او هغه مبتدعینو ته چه بدعت ئے کفر ته رسیدلے وی شامل دے. او قرطبی په تفسیر دَ دے آیت کښې وئیلی دی چه هر چا چه بدل کړو دین دَ الله تعالیٰ یا ئے بدعت پیدا کړو په دین دَ الله تعالیٰ کښې هغه خیږ

چه دَ دین نه دے نو دے به دَ حوض کوثر نه شړلے کیږی او مخ به ئے تور وی - او په دے کښ داخل دی هغه خلک چه دَ مسلمانانو دَ عقیدے نه مخالف شی لکه خوارج او روافض او معتزله او ظالمان او ښکاره کوونکی دَ کبائرو گناهونو او خاوندان دَ هوئ او بدعتیان دَ دے ټولو په باره کښ یره کیدیشی چه په دے آیت کښ داخل وی اگرچه په اور کښ به هغه خلق همیشه وی چه هغوی کافران او منکر وی -

فَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْوَدَّتْ وُجُوْهُهُمْ اَكَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ، په دیکښ تخویف اخروی دے یوځلے نه او دا تفصیل دَ دواړو فرقو دے په طریقه دَ لف او نشر غیر مرتب سره - وجه دَ دې لولو دَ ترتیب دا ده چه سپینو مخونو والا افضل دی نو اول ئے هغوی مخکښ راوړل دَ پاره دَ شرافت دَ هغوی - نو بیا ئے تورو مخونو والا مخکښ کړو چه مقصد دَ دوی دَ حال نه تخذیر ورکول دی او دفع دَ ضرر مخکښ وی دَ فائدے راخکلو نه -

فَاَمَّا ، شرط دے او جزاء پټه ده یعنی فَيُقَالُ لَهُمْ اَكَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ، اَكَفَرْتُمْ کښ اختلاف دے په خطاب کښ ، په سبب دَ اختلاف سره په تَسْوَدُّ وُجُوْهٌ کښ نو که مراد دَ هغے نه مبتدعین وی په دا سے بدعت سره چه کفر ته رسول کوی نو خطاب دغه مبتدعینو ته دے او که مراد دَ هغے نه بنو قریظه بنو نضیر (یهودیان) وی نو هغوی دَ بعثت دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه وړاندے په هغه ایمان لرلو او هر کله چه هغه مبعوث کړے شو نو دوی کفر اوکړو نو خطاب دغه یهودو ته اوشو - او که مراد دَ هغے نه عام کافران وی نو هر کافر په فطرت دَ توحید سره پیدا شوے دے او روستو ئے کفر اختیار کړے دے نو دا خطاب ورته صحیح دے او که مراد دَ هغے نه منافقان وی نو منافق خو په ژبه ایمان راوړے دے او په زړه سره ئے کفر کړے دے نو هغه ته دا خطاب صحیح دے او که مراد مرتدین شی نو دا خطاب خو واضح

وَاَمَّا الَّذِيْنَ ابْيَضَّتْ وُجُوْهُهُمْ

او هرچه هغه کسان دی چه سپین به شی مخونه د هغوی

فَفِيْ رَحْمَةِ اللّٰهِ ؕ هُمْ فِيْهَا

نو دوی به په رحمت د الله تعالی کښې دی دوی په په هغې کښې

خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ

همیشه دی ۔ دا (چه ذکر شول) آیاتونه د الله تعالی دی

نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ؕ

لولو موږ دے لره په تا باندے په حقه سره

وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۸﴾

او نه دے الله تعالی چه اوغواړی ظلم کول په عالم والو باندے۔

دے۔ دا سے تفصیل ابوحیان ذکر کړے دے۔

فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ، ذوق کښے په طریقه د استعارے سره ذکر کړے دے اشاره ده چه د عذاب خوند تریخ دے او دوی به د هغې په ترخوالی باندے بنه پوهه شی۔

۱۰۷:۔ په دیکښې بشارت اخرویه دے دویمے ډلے ته۔

فَفِيْ رَحْمَةِ اللّٰهِ ، فِيْ اشاره ده چه رحمت به دوی ته د هرطرف نه شامل وی ځکه چه هغه کښے طرفیت کړے شوے دے او اضافت د رحمت کښے الله تعالی ته کړے دے اشاره ده عظمت د رحمت د هغه ته او اشاره ده چه جنت ته داخلیدل هم په رحمت د الله تعالی سره دی او ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه مراد د رحمت نه جنت دے۔

۱۰۸:۔ په دے آیت کښې ذکر د صدق د رسول صلی الله علیه وسلم دے او جواب د سوال دے چه د مخکښی مضمون نه پیدا کیږی یعنی هر کله چه اوئیلے شو چه د کافرانو مخونه

په تور وی کیدیشی چه دا په دے نبی صلی الله علیه وسلم دَ ځان نه وئیلے وی ځکه چه داخو ظلم کول دی او الله تعالیٰ خو ظلم نه کوی حاصل جواب دا دے چه دا آیا تونه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دی دَ حق بیان دَ پاره نبی صلی الله علیه وسلم دَ ځان نه نه دی جوړ کړی او مجرمانو ته سزا ورکول ظلم نه دے بلکه عدل دے۔

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ، تِلْكَ اشاره ده ټول مخکښ مضمون ته خصوصًا عذاب عظیم ته او تفرق والو ته او مخو ته توره ولو دَ کافرانو ته په ورځ دَ قیامت۔

نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ، نسبت دَ تلاوت الله تعالیٰ ته حقیقت دے پشان دَ تورو صفاتِ الٰهیه بغیر دَ تمثیل او تشبیه نه او بغیر دَ تحریف او تاویل نه۔

بِالْحَقِّ، حق په معنیٰ دَ رشتیا سره دے او ابن کثیر وئیلی دی چه مراد ترینه کشف (ښکاره کول) دَ احوالو دَ دُنیا او دَ آخرت دے۔

وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعٰلَمِيْنَ، په دیکښ مبالغه ده یعنی چه اراده دَ ظلم نه کوی نو ظلم کول خو دَ هغه دَ شان نه ډیره لرے خبره ده۔ دَ ظلم دلته معنیٰ مصدری مراد ده او للعٰلمین په دے پورے متعلق دے او نکره ئے په مقام دَ نفی کښ ذکر کړیده دَ ډیر عموم دَ پاره یعنی په هیڅ یو شخص باندے دَ هیڅ قسم ظلم کولو اراده نه کوی۔ او معتزله وائی چه ظلمًا اسم مصدر دے یعنی بندګان چه کوم ګناهونه کوی نو دا دَ الله تعالیٰ دَ ارادے نه بغیر کوی بندګان دَ دے په خپله خالق دی او دا قول باطل دے ځکه چه په دا سے وخت کښ مِنَ الْعٰلَمِيْنَ وئیل پکار وُو۔

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا
او خاص الله تعالیٰ لره اختیار دے د هغه خیزونو چه په آسمانونو کښ دی او د هغه
فِي الْأَرْضِ ۚ وَإِلَى اللّٰهِ
چه په زمکه کښ دی او خاص الله تعالیٰ طرف ته
تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿١٠٩﴾ كُنْتُمْ خَيْرَ
گرځولے شی ټول کارونه ۔ دے تاسو غوره
أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ
امت راویستلے شوی یئ د خلقو د پاره امر به کوئ
بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ
په نیکئ سره او منع به کوئ د بدئ نه
وَتُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ ۗ وَلَوْ آمَنَ
او ایمان به لرئ په الله تعالیٰ باندے او که چرے ایمان راوړلو

س۱۰۹ :۔ په دے آیت کښ ذکر د علت دے د پاره د وَمَا اللّٰهُ يُرِيدُ ظُلْمًا ، یعنی ظلم هغه څوک کوی چه قدرتِ عامه او واسعه نه لری او د الله تعالیٰ د پاره خو په دُنیا او آخرت کښ فراخه قدرت او تصرف دے نو هغه غنی (بے پرواه) دے د ظلم کولو نه ۔ دا رنګ په دے آیت کښ دعوی د توحید ده روستو د صدقِ رسول نه یعنی ټوله بادشاهی او تصرفات د الله تعالیٰ دی نو هغه حاجت روا او حقدار د بندګئ دے ۔ او دے دواړه توجیهاتو ته قرطبی اشاره کړیده ۔
وَلِلّٰهِ لام د پاره د مِلك او عبدیت او تصرف دے ۔

أَهْلُ الْكِتٰبِ لَكَانَ خَيْرًا

کتاب والو	ضرور غوره به وه

لَّهُمْ ۚ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ

دوی لره	بعض د دوی نه	مؤمنان دی

وَأَكْثَرُهُمُ الْفٰسِقُونَ ﴿۱۱۰﴾

او ډیر	د دوی نه	نا فرمان دی۔

۱۱۰: دا متعلق دے د وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ أُمَّةٌ سره او په مینځ کښې جملې معترضې دی او په دیکښې ډیر ترغیب او تیزی ورکول مقصد دے په دعوت کولو باندے او فائده د دعوت ذکر کوی په وصف د خیریت سره یعنی دعوت سبب د خیریت (غوره والی) دے په نیز د الله تعالیٰ۔

كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ ، دا خطاب اول صحابه کرامو ته دے او بیا شامل دے د هغوی تابعدارانو ته ترقیامته پورے په صفت د دعوت کولو سره۔ په كَانَ او لفظ د كُنْتُمْ کښې درے اقوال دی اول قول دا دے چه کان فعل ناقص دے او خیر امة خبر دے او دا کان د دوام د نسبت د پاره دے لکه كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ، او كَانَ فَاحِشَةً وَّسَاءَ سَبِيْلًا۔

دویم قول دا دے چه کان ناقص دے او پخپله معنی (انقطاع د ماضی) سره دے یعنی كُنْتُمْ فِي اللَّوْحِ الْمَحْفُوْظِ او فِي عِلْمِ اللّٰهِ او فِي الْكُتُبِ السَّابِقَةِ (ردیٔ تاسو په کتاب د تقدیر کښې یا په علم د الله تعالیٰ کښې یا په مخکنو کتابونو کښې)۔

دریم قول دا دے چه کان زیاتی دے په معنیٰ د أَنْتُمْ سره او دا قول د فراء دے په دیکښې اول قول غوره دے۔ خیر اسم تفضیل دے مضاف دے نکره ته او هغه په معنیٰ د جمع کښې ده یعنی ډیرا متونه۔

أُخْرِجَتْ ، مراد د اخراج نه ظهور او څرګندل دی او فاعل

دَ اخراج الله تعالیٰ دے او په دیکښې اشاره ده چه دا امت دَ وجې دَ دعوت نه ښکاره او مشهور دے.
لِلنَّاسِ متعلق دے دَ خیر سره یا دَ اخرجت سره او لام دَ پاره دَ انتفاع دے.
تَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ، دا صفت دے په معنیٰ دَ شرط سره یا علت دے دَ پاره دَ خیر. او مجاهد وئیلی دی چه اِذْ لفظ دلته پټ دے نو معلومه شوه چه سبب دَ خیریت (غوره والی) امر بالمعروف او نهی عن المنکر دے.
قرطبی وئیلی دی هر کله چه دَ دے امت نه خوک دا کار پریږدی نو دوی قابل دَ ذم او دَ یږی ئی وی او دا په سبب وی دَ دوی دَ هلاکت دَ پاره. آلوسی وئیلی دی چه معروف ټول طاعاتو ته او منکر ټول معاصیو ته شامل دے او دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه ئے نقل راوړیدے چه لوئے معروف کلمه دَ توحید ده او لوئے منکر تکذیب (شرک) کول دی. ابن کثیر دَ فضیلت دَ دے امت دَ پاره دَ دے آیت په تفسیر کښې تقریباً او ویشت احادیث ذکر کړیدی.
وَتُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ، مراد دَ ایمان نه ایمان کامل دے یعنی ایمان شرعی.
سوال:- ایمان خو مخکښې دے په دعوت کولو باندے نو دلته ئے ولے روستو ذکر کړے دے؟
جواب ۱:- دلته مقصد سبب دَ غوره والی دے دَ نورو امتونو نه او وصف دَ ایمان کښې ټول شریک دی لیکن دَ دے امت خصوصیت کثرتِ دعوت دے دَ دے وجې نه دعوت ئے مخکښې ذکر کړے دے.
جواب ۲:- مراد دَ دینه دوام او کامل والے دے په ایمان باندے تر مرګه پورے او سبب دَ هغې دعوت کول دی نو دا ذکر دَ اثر دے روستو دَ مؤثر نه.
وَلَوْ اٰمَنَ اَهْلُ الْكِتٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ، دلته مراد دَ ایمان

لَنْ يَّضُرُّوْكُمْ اِلَّآ اَذًى ط

هیچرې ضرر رنشي درکولې دوی تاسو ته مګر په رد د ځلې

وَاِنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ يُوَلُّوْكُمُ

او که چرې دوی جنګ اوکړی تاسو سره نو اوبه ګرځوي تاسو ته

نه ایمان دے پشان دَ دے امت یعنی چه دَ هغې ایمان شرعی سره امر بالمعروف او نهی عن المنکر یو ځائے کړیشي نو دوی به هم په صفت دَ خیریت کښ داخل شي او په دے معنیٰ سره دا ربط لري دَ كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ سره او په یکښ مقصد دعوت ورکول دی کتابیانو ته روستو دَ ذکر دَ خباثاتو دَ هغوی نه چه مخکښ تیر شویدی۔

لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ، دلته خیر تفضیلی مراد دے یعنی دَ دے ایمان قائلے به په دنیا او اخرت کښ دوی ته حاصل شي او هرچه دَ دوی ایمان دے (ایمان غیر شرعی) نو دَ هغې قائلے صرف په دنیا کښ دی چه مالونه او مرتبے او مشری په هغې سره په دُنیا کښ حاصلیږی او په آخرت کښ هلاکت دے۔ یا خیر فی نفسه مراد دے معنیٰ تفضیلی پکښ نیشته ځکه چه دَ دوی په کفر کښ هیڅ خیریت نیشته دے۔

مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ وَ اَكْثَرُهُمُ الْفٰسِقُوْنَ ، دَ دے ځائے نه تقسیم دَ اهل کتابو ذکر کوی دوه قسمونو ته او دَ هر قسم لس لس حالات ذکر کوی۔

فَاسِقُوْنَ ، په مقابله دَ مؤمنون کښ په معنیٰ دَ کافرون سره دی هر کله چه کفر دَ دوی په سبب دَ ضد او عناد سره وؤ دَ دے وجے نه فاسقون ئے ذکر کړلو۔

الْأَدْبَارَ ‌ قف ثُمَّ لَا يُنْصَرُونَ ﴿۱۱۱﴾

شا کانے بیا په دوی سره هیڅ مدد نشي کیدلے -

ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ أَيْنَ

ټاپه کړے شوے دے په دوی باندے ذلت هر ځائے

مَا ثُقِفُوا إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللَّهِ

چه دوی اوموندلے شي مګر چه (منګولے او لګوی) په رسئ د الله تعالیٰ باندے

ف ۱۱۱ :- په دے آیت کښ درے احوال د فاسقینو اهل کتابو ذکر کوی - او دا درے واړه پیشنګوئی دی چه الله تعالیٰ د صحابه کرامو د پاره رشتینے کړیدی او آیت په باره د یهودیانو کښ دے.

اِلَّا اَذًی ، اذی د ژبے په ذریعه سره ضرری کلمات وئیل دی - طعن کول په نبی صلی الله علیه وسلم او کلمات شرکیه او بهتانونه په مؤمنانو باندے، ردے بدے وئیل او سب وشتم کول دا هم ضرر دے د دے وجے دا استثناء متصله ده -

وَاِنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ يُوَلُّوْكُمُ الْاَدْبَارَ ، یعنی قتال تاسو سره نشی کولے د وجے د جبن (بزدلئ) نه - اَدْبَارَ ئے وئیلے دے ظهور (شا کالے) ئے نه دے وئیلے ځکه چه په دے لفظ کښ د دوی ډیر توهین او بے عزتی ده -

ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ، یعنی په وخت د قتال یا بغیر د قتال نه هم د دوی سره نصرت نشی کیدلے او دا د اِنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ د لاندے نه دے داخل ځکه چه عدم نصرت د دوی مشروط نه دے په شرط د قتال پورے بلکه عامو اوقاتو ته شامل دے او ثم دلالة د تعقیب ذکری د پاره دے -

وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ وَبَآءُوْ

او په رسئ د خلقو (مؤمنانو) نه او اخته شوے دی دوی

بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ

په غضب د الله تعالیٰ د طرف نه او ټاپه شوے دے په دوی باندے

الْمَسْكَنَةُ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا

خواری دا په دے سبب سره چه یقیناً دوی

يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ

کفر کوؤ په آیاتونو د الله تعالیٰ سره او قتل کول ئے

الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ؕ

پیغمبران په غیر د جرم شرعی نه

ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا

دا په دے سبب چه دوی نافرمانی کوله او دؤ دوی چه

يَعْتَدُوْنَ ﴿۱۱۲﴾

د حد نه ئے تیرو تل کول۔

س ۱۱۲: په دے آیت کښ د دوی اوؤ حالات ذکر کوی۔
ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ، دا ضرب کنایه ده د ټاپے وهلو نه په سکه باندے لکه چه هغه ټاپه په هغے کښ پیوست او کلکه وی په هیڅ نه جدا کیږی دا رنګ ذلت هم په دوی پورے جوخت او پیوست دے۔ مصداق د ذلت جزیه اخستل دی په وخت د غلبے د اهل اسلام کښ۔ دا رنګ په جنګ کښ د دوی مالونه غنیمت کښ راوړل او دوی قید کول دی۔ او ذلت د دوی په نفسونو کښ۔ بخل او سود خسیس اخلاق دی۔

أَيْنَمَا ثُقِفُوٓا ، دا دَ تعميم دَ مكان دَپاره دے۔ ثقف موندل دی هغوی لره سره دَ قدرت نه په هغوی باندے۔ يعنی که په ميدان جنگ کښ وی يا بل ځائے وی۔
إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللَّهِ وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ ، مراد دَ حبل الله اوحبل الناس نه عهد دَ ذمے دے چه په هغے سره عصمت دَ مالونو او دَ وينو دَ دوی حاصل شی ليکن دَ جزيے نه نه خلاصيږی هغه ذلت به په دوی باندے باقی وی يا مراد دَ حبل الله نه اسلام اوحبل من الناس نه اتباع دَ لارے دَ مؤمنانو ده نو په داسے وخت کښے به دوی هر قسم ذلت نه بچ شی (آلوسی)۔
وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ ، دَ دے تفسير په سوره بقره کښ تير شوے دے۔
وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ، يعنی دوی خپل حال دَ فقرئ او دَ مسکينئ ښکاره کوی اگرچه مالدار وی او دا دَ وجے دَ بخل او حرص دَ دُنيا او دَ ناشکرئ دَ وجے نه۔
ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ ، په ديکښ ذکر دَ اسبابو دَ غضب او مسکنت دے دَ دے تفسير په سوره بقره کښ ذکر شوے دے۔
فائده :- داسے په سوره بقره ۶۱ کښ تير شوے دی او دَ دواړو آياتونو په مينځ کښ فرق دے په څو وجوهو سره۔
اول وجه دا ده چه هلته ذلت او مسکنت ئے جدا ذکر کړل۔
دويم دا چه هلته ئے مسکنت دَ غضب نه مخکښ ذکر کړے دے او دلته ئے الا بحبل من الله استثناء ذکر کړے ده۔
دريم هلته ئے مسکنت دَ غضب نه مخکښ ذکر کړے دے او دلته ئے روستو ذکر کړے دے۔ څلورم هلته ئے النبين ذکر کړے وو او دلته ئے الانبياء ذکر کړے دے اصل وجه دَ فرق دا ده چه هلته ذکر دَ حالت دَ يهوديانو مخکښ دَ نزول دَ قرآن نه په زمانه دَ موسیٰ عليه السلام

کښې او دلته دَ دوی حال ذکر کوی په وخت دَ نزول دَ قرآن کښې - تفصیل دَ اول فرق دا دے چه هلته دَ درے واړو اسباب مشترک وؤ نو یو ځائے ئے ذکر کړل او دلته دَ ذلت سبب عدم ایمان دے په آخری رسول او قرآن باندے په قرینه دَ لَوْ اٰمَنَ اَهْلُ الْكِتٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ سره او دَ غضب او مسکنت اسباب روستو ذکر دی - وجه دَ دویم فرق دا ده چه په دے سورت کښې مخکښې اعتصام بحبل الله ذکر کړے دے نو اهل کتابو ته ئے دَ هغے ترغیب ورکړو چه تاسو په دَ ذلت نه په اعتصام سره بچ شئ او سوره بقره کښې دَ دے ذکر نه دے شوے - او دَ دریم فرق وجه دا ده چه په سورة بقره کښې ذلت او مسکنت په سبب دَ تبدیل دَ نعمت دَ الله تعالیٰ سره مراد وؤ نو مراد دَ مسکنت نه هغه حال دے چه په هغه زمیندارانو باندے بتکاره کیږی چه دَ دین لحاظ نه کوی او دلته مسکنت دَ حرص دَ دنیا او دَ بخل او ناشکرئ دَ وجے نه مراد دے.
وجه دَ څلورم فرق دا ده چه النبیین او الانبیاء دواړه صیغے دَ جمع دَ وجے دَ الف لام نه دلالت کوی په کثرت باندے لیکن النبیین قرآن کریم دَ ټولو انبیاؤ دَپاره ذکر کړے دے لکه په سوره مریم ۵۸ او احزاب ۷ او زمر ۶۹ کښې - او الانبیاء ئے صرف دَ بنی اسرائیلو دَ انبیاؤ دَپاره ذکر کړے دے په وصف دَ قتل سره لکه په سوره بقره ۹۱ او سوره آلعمران ۱۱۲، ۱۸۱ او سوره نساء ۱۵۵ کښې - یا بغیر دَ وصف دَ قتل نه لکه سوره مائده ۲۰ کښې نو په سوره بقره کښې مقصد ذکر دَ خبائثو دَ اهل کتابو دے نو هلته ئے دا سے لفظ ذکر کړو چه هغه ډیر دلالت کوی په کثرت باندے او دلته صرف ذکر دَ حال قبیحه دَ دوی ذکر کول مقصد دے نو هغه لفظ ئے راوړو چه دوی پورے خاص دے (وَاللهُ اَعْلَمُ بِحِكَمِ كَلَامِهٖ -)

لَيْسُوْا سَوَآءً ۭ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ

نه دي دوی برابر بعض دَ کتاب والو نه یو

اُمَّةٌ قَآئِمَةٌ يَّتْلُوْنَ اٰيٰتِ اللّٰهِ

ډله ده کلکه په دین پاندے لولی دوی آیاتونه دَ الله تعالیٰ

اٰنَآءَ الَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُوْنَ ﴿۱۱۳﴾

په وختونو دَ شپه کښې او دوی سجدے کوی۔

ف ۱۱۳:۔ په دے درے آیاتونو کښې دویم قسم اهل کتاب ذکر کوی چه مخکښې یئے دوی ته مؤمنون وئیلے دی او دَ دوی هم لس حالات دَ مدح ذکر کوی۔ په دے آیت کښې دَ هغے نه درے ذکر کړیدی۔

لَيْسُوْا سَوَآءً، دا مستقله جمله ده په دے کښې رد دے په هغه چا پاندے چه هغه اهل کتاب رچه ایمان یئے په آخری نبی پاندے راوړے وی) ناکاره گنړی لکه چه ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی چه کله عبد الله بن سلام او دَ هغه ملګرو اسلام قبول کړ نو نورو یهودیانو وئیل چه دا شریان خلق دی ځکه چه دین دَ مشرانو ئے پریخودلے دے حاصل جواب دا دے چه په دے مؤمنانو رچه په آخری نبی ئے ایمان راوړے دے) کښې ټول دَ خیر صفات دی نو دوی دَ مخکنو ذکر کړے شوؤ کتابیانو پشان مه گنړئ۔

مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اُمَّةٌ، دا تفصیل دے دَ فرق ذکر کولو دَ پاره په مینځ دَ دواړو ډلوکښې۔ او صاحب اللباب وئیلی دی چه په دے اهل کتابو کښې مخکنی ادیانو والا او مسلمانان هم داخل دی په دلیل دَ حدیث دَ مسند احمد سره چه نبی صلی الله علیه وسلم یوه شپه موخے دَ ماسخوتن روستو کړو او بیا دَ کور نه راوتلو او خلقو دَ موځے انتظار کوؤ نو هغه اوفرمائیل چه نیشته هیڅوک دَ ادیانو والو نه چه الله تعالیٰ لره

په داسې وخت کښې یا دوی غیرستاسو نه او دا آیت یئې
اولوستلو۔ ابوحیان هم وئیلی دی چه مراد اهل کتاب نه
قرآن والا دی چه نور اهل کتاب دَ دوی سره برابر نه وی۔
قَآئِمَةٌ په معنیٰ دَ مستقیمة دے مجاهد وئیلی دی چه په
معنیٰ دَ عادله (عدل والا) دے۔قتاده او ربیع وئیلی دی
چه قَآئِمَةٌ عَلٰی کِتَابِ اللّٰهِ وَحَدُوْدِهٖ، (اولاړ دی په کتاب
دَ الله تعالیٰ او احکامو دَ هغه) یا په معنیٰ دَ قیام کوؤنکی په
مونځونو کښې۔
یَتْلُوْنَ اٰیٰتِ اللّٰهِ اٰنَآءَ الَّیْلِ، اٰنَآءَ په معنیٰ دَ وختونو دَ شپه کښې
دَ ماښام دَ وخت نه تر مونځ دَ صبا پورے ټولو وختونو ته شامل
دے او دا په طریقه دَ تقسیم سره دے یعنی دَ قرائتونو نه
علاوه څوک په اول دَ شپه کښې قرآن لولی او څوک په مینځ
کښې او څوک په آخر کښې۔ او مراد دَ دے نه لوستل دَ قرآن
دی په مونځ کښې اشاره ده چه اهم مقصد په مونځ دَ شپه
کښې قرآن لوستل دی۔او هر کله چه دَ شپې دَ مانځه داسې
اهتمام کوی نو دَ ورځې خو ضرور کوی دَ دے وجے نه دَ ورځې
ذکر ئې نه دے کړے۔
وَهُمْ یَسْجُدُوْنَ، یعنی سجده کوی روستو دَ لوستلو دَ قرآن نه
سجده دَ مانځه یا سجده دَ تلاوت یا مراد دَ سجدے نه
مونځ دے په ذکر دَ جزء سره او مراد تری نه کل دے۔ یا
مراد دَ سجدے نه خشوع او خضوع او حکم دَ الله تعالیٰ
منل دی په هر وخت کښې۔نو په دے آیت کښې دوه توجیه
دی اول دا جدا جدا صفتونه دی یعنی استقامت په دین،
او قرآن لوستل، او مونځ کول۔ دویمه توجیه دا چه یو
صفت دے یعنی په مانځه کښې قیام کوی او په هغې کښې قرآن
لولی او بیا سجده کوی۔ذکر دَ قیام او سجود ئې دَ دے وجے نه
اوکړو چه دا دواړه دَ شپې په مونځ کښې اوږده وی دَ رکوع
نه او دا رنګ په سورة زمر ۹ کښې دی۔

۱۱۴:- په دے آیت کښ دَ دوی نور ښیر صفتونه ذکر کوی - مخکښ یې هغه صفتونه ذکر کړل چه په یهودیانو کښ موجود وو اوس هغه صفتونه ذکرکوی چه په دے سره امتیاز راځی دَ اهل حق او اهل باطل ځکه چه دا صفتونه اهل کتابو پریخودلے وو- او مَا بِهِ الْاِشْتِرَاك مخکښ وی په مَا بِهِ الْاِمْتِیَاز باندے (هغه څیز چه سبب دَ شرکت وی هغه مخکښ وی په هغه څیز چه سبب دَ امتیاز وی) دَ دے وجے نه ایمان او امر بالمعروف او نهي عن المنکر یې دَ مخکښ صفاتونه روستو ذکرکړل-

یُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ، مراد دَ ایمان نه شرعی ایمان دے پشان دَ ایمان دَ صحابه کرامو اودا سے ایمان په یهود او نصاراؤ کښ نه وو-

وَیَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَیَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْکَرِ، په دے کښ هم تعریض دے په یهود او نصارٰی باندے ځکه چه هغوی کار دَ دعوت دَ حق پریخودلے وو بلکه دَ دے برعکس عمل یې کولو دَ منکراتو طرف ته دعوت او دَ

وَمَا يَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ

او هغه چه کوئي دَ نیک کار نه

فَلَنْ يُّكْفَرُوهُ ط وَاللّٰهُ

نو هيچرے به محروم نشي دَ ثواب دَ هغے نه او الله تعالىٰ

نیک کارونو نه منع کول ئے کول)

دَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ ، دا صفتِ جامعه دے ټولو صفتونو دَخیر لره که دَ نفس سره تعلق لری او که دَ غیر سره او مسارعت په خیر کښ دلالت کوی په ډیر رغبت کولو باندے په خیرات کښ او په دے کښ هم تعریض دے په یهودیانو باندے چه هغوی کوشش کوی په کارونو دَ شر کښ. مسارعت په اصل کښ ډیر اهم کار بل اهم باندے مخکښ کولو ته وئیلے شی لکه چه تعارض راشی دَ فرضِ عین او فرضِ کفائی نو فرضِ عین به اول کوی یا تعارض راشی په فرض او سنت عمل کښ نو دَ فرض عمل به وړاندے کوی۔ دَ امر بالمعروف او نهی عن المنکر نه روستو دا صفت ئے دَ دے وجے نه ذکر کړو چه په امر بالمعروف او نهی عن المنکر کښ دَ اَهَمُّ فَالْاَهَمُّ او مرتبو لحاظ کوئی۔ او دا صفت دَ مدح دے او هرچه عجلت دے نو هغه مخکښ کول دَ غیر ضروری دی په ضروری باندے او دغه صفت دَ بدئ دے۔

دَ أُولَٰئِكَ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ، په صفت دَ صلاح کښ زیاتوالے په اسلام باندے دَ دے وجے نه دَ انبیاء علیهم السلام په دعا او صفت کښ دا وصف ذکر دے لکه دعا دَ سلیمان علیه السلام سوره نمل ۱۹ کښ او دا صفت په سوره بقره ۱۳۰ او سورة الانبیاء ۷۲، ۸۵ کښ هم دے۔

۱۱۵ :- په دیکښ بشارت دے او لوئے شان ذکر کوی دَ تیر شوے صفاتو والو او یو صفت دَ هغوی ذکر کوی۔

وَمَا يَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ، ضمیر راجع دے امت قائمه ته۔

فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ، دلته مراد دَ کفر نه دَ ثواب دَ عمل نه محروم کیدل دي او دَ دے معنے دَ وجے نه دا متعدی کړے شوید ے دوه مفعولونو ته اګرچه کفر په معنیٰ مشهور ے سره متعدی وی یو مفعول ته۔

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالْمُتَّقِيْنَ، علم دَ الله تعالیٰ اګرچه عام دے لیکن تخصیص ئے په متقیانو پور ے دَ ترغیب دَ پاره دے۔

۱۱۶ :- دا تخویف اخروی دے دوستو دَ بشارت نه - هر کله چه لَيْسُوْا سَوَآءً کښ دوه فریقو ته اشاره وه او دَ یو فریق ذکر ئے په مِنْهُمْ اُمَّةٌ سره اوکړو نو اوس دویم فریق دَ هغوی مقابل ذکر کوی۔

لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا، دا سے دَ دے سورت په آیت ۱۰ کښ هم تیر شویدی دَ تکرار وجه

مَثَلُ مَا يُنۡفِقُوۡنَ فِيۡ هٰذِهِ

مثال دَ هغه څيز چه خرچ کوي يې دوي دَ پاره دَ دې

الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا كَمَثَلِ رِيۡحٍ

ژوندُ دنيوي پشان دَ حال دَ هغه سيلئ دے

فِيۡهَا صِرٌّ اَصَابَتۡ حَرۡثَ قَوۡمٍ

چه په هغې کښې يخه کلئ دي او رسيږي فصل دَ يو قوم ته

ظَلَمُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ فَاَهۡلَكَتۡهُ ؕ

چه ظلم يې کړے دي په ځانونو خپلو باندے نو تباه کړي هغے لره

وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنۡ

او ظلم نه دے کړے په دوي باندې الله تعالیٰ ليکن

اَنۡفُسَهُمۡ يَظۡلِمُوۡنَ ﴿۱۱۷﴾

دوي په خپلو ځانونو باندے ظلم کوي ۔

دا ده چه هلته رد دۓ په نصارٰی کافرانو باندے او دلته رد دے په يهوديانو کافرانو باندے او دوارو دلے مالدارے وے او اولاد او تابعداران يې ډير وۓ او په هغے سره يې فخر کوۓ ۔ ليکن آيت ټولو کافرانو ته عام دے ۔

۱۱۷:۔ دا جواب دَ سوال دے ۔ سوال دا دۓ چه دا کافران خو په دُنيا کښې کله کله مالونه په صحيح مصارفو کښې خرچ کوي نو دغه دوي ته فائده ولے نه ورکوي ؟

حاصل جواب دا دے چه هغه دَ دوي دَ ظلم دَ وجے نه برباد شوے دي او دَ دے دَ پاره مثال ذکر کوي ۔

فِيۡ هٰذِهِ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا ، په دے کښې دوه توجيهات دي اول دا چه مراد دَ انفاق نه خرچ کول دي په صحيح مصرفونو کښې سره دَ کفر او شرک نه او فِي دَ پاره دَ ظرفيت

دے او دا قیں واقعی دے ځکه چه هر انفاق صرف په دنیا کښ وی۔ دویم دا چه مراد دَ انفاق نه خرچ کول دی دَ دنیوی ترقۍ دَ پاره لکه دَ دنیا دَ اقتدار او حصول دَ پاره یا دَ ریاء او سمعت دَ پاره چه خلق ئے په دنیا کښ تعریفونه اوکړی یا هغه چه عوامو یهودیانو په خپلو ملایانو باندے خرچ کوؤ او هغوی به حق پټولو نو دا انفاق دَ الله تعالیٰ دَ رضا دَ پاره نه دے نو برباد دے۔ او فی دلته اجلیه دے یعنی خرچ کوی دَ وجے دَ دنیوی ژوند نه۔

كَمَثَلِ رِيحٍ فِيهَا صِرٌّ أَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ، په معنیٰ دَ صر کښ دوه اقوال دی اول قول دَ اکثر اهل لغت او ابن عباس رضی الله عنهما او قتاده نه روایت دے چه سخته یخنی چه سوزوؤنکے دَ فصل وی یا کلئ او دویم قول ابن الانباری دَ ابن عباس رضی الله عنهما په روایت سره نقل کړے دے چه صِرٌّ په معنیٰ دَ اور یا گرمه سیلئ دے چه فصل لره او سیزی أَصَابَتْ صفت دَ ریح دے۔

ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ، دا ضمیرونه راجع دی الَّذِينَ يُنفِقُونَ ته او مراد دَ ظلم نه کفر او شرک دے دا قول دَ ابن عطیه او زمخشری دے یا ضمیرونه راجع دی قوم ته او صفت دے دَ پاره دَ قوم یعنی داسے قوم چه ظلم ئے کړیدے۔ په دے صفت کښ اشاره ده چه دَ دنیا عذاب په سیلئ وغیره سره په هغه ظالمانو باندے راځی چه کفر او شرک ئے کړے وی یا نور کبیره گناهونه ئے کړے وی او په دوستو توجیه سره دَ ظلم معنیٰ لغوی هم احتمال لری یعنی فصل ئے بے موسمه بے وخته کرلے وی نو ځکه هلاک شی۔

وَمَا ظَلَمَهُمُ اللَّهُ، اشاره ده چه عذابونه دَ دنیا او آخرت دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه ظلم نه دے بلکه عدل دے۔

وَلَٰكِنْ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ، هر گناه کوؤنکے ځان له حصه دَ ثواب او برکت کمه کړی دَ دے وجے نه وئیلے شی چه دغه

يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا

اے ایمان والو مه نیسئ

بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا يَأْلُوْنَكُمْ

دوستانه دَ راز سِوا ستاسو نه (دَبل چاسره) هغوي کیے نه کوي

خَبَالًا ط وَدُّوْا مَا عَنِتُّمْ ج قَدْ

په رواني ستاسو کښ، خوخوي هغه څيز چه تاسو له تکليف درکوي يقيناً

بَدَتِ الْبَغْضَآءُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ صلے

ښکاره شوے ده کينه دَ خلو دَ هغوي نه

وَمَا تُخْفِيْ صُدُوْرُهُمْ اَكْبَرُ ط

او هغه چه پټ ساتي سينے دَ هغوي ډيرے لوے دے

قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ اِنْ كُنْتُمْ

يقيناً بيان کړے مونږ تاسو ته نخے دَ (دُشمنئ دَدوي) که يئ تاسو

تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾

چه عقل لرئ -

شخص په ځان باندے ظلم کړے دے -
فائده :- په کوم ځائے کښ چه دوام په ظلم یا کفر او شرک
صرف مراد وي نو هلته كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ ذکر کيږي لکه په
سورت بقره ۵۷ اعراف ۱۶۰، ۱۷۷ توبه ۷۰ نحل ۳۳ او
۱۱۸ عنکبوت ۴۰ کښ روم ۹ کښ او کوم ځائے کښ چه
مطلق ظلم مراد دی نو هلته كَانُوْٓا نه ذکر کوی لکه په
دے آيت کښ او په سوره يونس ۴۴ کښ -
۱۱۸ :- په دے آيت کښ څلورم اصل او ادب ذکر کوی او په دے
کښ مقصد اجتناب دے دَ پيدا کيدلو دَ فساد او اختلاف
نه په کورنئ دَ مؤمنانو کښ -

ربط :- هر کله چه دَیهودیانو خباثات یٔے ذکر کړل او هلاکت دَاعمالو دَ دوی بیان شو نو اوس منع ذکر کوی دَ هغوی دَ دوستانے نه دَپاره دَ بچ کیدلو دَ دغه خباثتو نه۔ او قرطبی وئیلی دی چه دا متعلق دے په إِنْ تُطِيعُوا فَرِيقًا پورے۔

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً ، بِطَانَةً هغه خاص دوست ته وئیلے شی چه هغه سره دَ راز خبره کیدلے شی۔ قرطبی وئیلی دی چه په دے آیت کښ منع ده دَ دوستانے دَ کافرانو او یهودیانو او نورا اهل هواء (بدعتیانو) نه۔

سوال :- بِطَانَةً نکره ده په سیاق دَ نفی کښ عموم غواړی او حال دا دے چه په آیت دَ سورهٔ ممتحنه ۵۸ کښ دَ بعضے کافرانو سره دَ تعلق ساتلو جواز ذکر دے ؟

جواب :- په هغے آیت کښ ذکر دَ تولی دے مراد ترینه تعلق دنیوی دے او دلته بِطَانَةً نه مراد دا دے چه خپل پټ رازونه هغوی ته مه ښکاره کوئ۔ دَ دے وجے عمر رضی الله عنه ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه ته زورنه ورکړے وه چه هغه خپل کاتب یو نصرانی کړځولے وؤ ځکه چه په خطونو کښ ډیرے دَ راز خبرے وی۔ قرطبی وئیلی دی چه افسوس دَ نن زمانے په مسلمانانو باندے چه ډیر اهل کتاب (یهود او نصاریٰ) یٔے کاتبان او امینان (خزانچیان) کرځولے دی۔

مِنْ دُونِكُمْ ، دا صفت دے دَ بِطَانَةً دَپاره دون په معنیٰ دَ (سوی) یا په معنیٰ دَ ادنیٰ سره دے او مراد دَ دینه ټول کافران منافقان او مبتدعین دی۔ افسوس دَ نن زمانے په بعضے جماعتونو والو چه دَ تعصب او ضد دَ وجے نه دَ خپل جماعت نه بغیر دَ بل جماعت دَ مسلمانان سره هم تعلق نه ساتی او دا آیت په دلیل کښ پیش کوی دا عین تحریف دے۔ دَ دے نه روستو دَ دے نهی دَپاره لس علتونه ذکر کوی۔

اول علت لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا ، أَلُوَ تقصیر او کوتاهیٔ کولو ته

وئیلے شی اکثر متعدی کیږی یو مفعول ته او کله متعدی کیږی دوه مفعولونو ته نو خَبَالًا یا مفعول ثانی دے بنا په دویم قول باندے یا حرف جر حذف دے یعنی فی الخَبَال ۔ خَبَال په لغت کښ داسے مرض او سستی ده چه انسان یا حیوان ته عارض شی نو په هغه کښ فساد پیدا کوی او په معنی د فساد سره استعمالیږی لکه په سورة توبه ۲۷ کښ ۔ نو معنیٰ دا ده چه دوی هیڅ کمے نه کوی ستاسو په فساد کښ یعنی ستاسو په مینځ کښ شرونه جوړوی یا ستاسو په مینځ کښ اختلاف او دشمنی پیدا کوی یا د توړو بدنی او مالی نقصانونو په باره کښ کوشش کوی۔

وَدُّوْا مَا عَنِتُّمْ ، دا دویم علت دے ۔ ما مصدریه دے او عنت سخت مشقت ته وئیلے شی ۔ په اوله جمله او دویمه کښ فرق دا دے چه اول خو دوی ستا د دین په وراسولو کښ کوتاهی نه کوی او چه د هغے نه عاجز شی نو کوشش کوی چه تاسو په لوئے دنیوی تکلیف کښ واچوی یا دا چه دوی کوشش کوی په فساد ستاسو کښ او چه داسے او نه کړی نو په زړه کښ د هغے تمنا کوی۔

قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ، دا دریم علت دے۔ بغضاء او بغض په اصل کښ د زړه صفت دے لیکن د دوی په ژبو دا کلمات وئیل دا علامت دے د دوی په بغض باندے۔

سوال :- منافقانو خو په خُلے باندے اظهار د بغض د مؤمنانو سره نشی کولے؟

جواب ۱ :- د سخت بغض د وجے نه کله بے اختیاره کلمات د دشمنئ د دوی د خُلو نه ښکاره کیږی۔

جواب ۲ :- قتاده نه روایت دے چه دا ښکاره کول د دوی په مینځ کښ مراد دی چه په کورنئ کښ غیبتونه د مؤمنانو کوی او په هغوی باندے تهمتونه لګوی (آلوسی، ابوحیان)۔

هَآ أَنْتُمْ أُولَآءِ تُحِبُّونَهُمْ وَلَا

خبردار تاسو اے مؤمنانو مینه کوئ (خیرخواهي) د دوی سره او

يُحِبُّونَكُمْ وَتُؤْمِنُونَ بِالْكِتٰبِ

دوی مینه نه کوی تاسو سره او ایمان لرئ تاسو په کتابونو

كُلِّهٖ ج وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوٓا اٰمَنَّا صلے

ټولو باندے او هر کله چه دوی تاسو سره مخامخ شي دوی وائي موږ ایمان راوړے دے

وَإِذَا خَلَوْا عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ

او هر کله چه دوی جدا شي چیچکو نه لګوی ستاسو د (ترقۍ) په وجه سره په سرونو د ګوتو څیلو باندے

مِنَ الْغَيْظِ ط قُلْ مُوتُوا بِغَيْظِكُمْ ط

د غصے د وجے نه نه اوایه مړه شئ په غصه خپلے سره

سوال:- افواههم کښے اوئیل السنتهم کښے ولے او نه وئیلو؟
جواب:- په دے کښ د دوی نور قباحت ته اشاره ده چه دوی خُلے وازوی او وخکی کرځوی په داسے خبرو سره - او دیته په حدیث کښ شرثارون متشدقون وئیلے شی (قرطبی) -

وَمَا تُخْفِيْ صُدُوْرُهُمْ اَكْبَرُ ، دا خلورم علت دے په دے سره مراد حسد او بغض د زړونو د دوی دے هغه ډیر غټ دے ځکه چه په هغے کښ اراده د قتل کولو او د ذلیل کولو د مؤمنانو دی دارنګ د زړونو بغض کښے همیشه دے او د خُلے اظهار کښے کله کله دے نو ځکه اکبر دے۔

قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ، مراد د اَلْاٰیٰتِ نه دلیلونه دی د اخلاص کولو د مؤمنانو سره او د پریخودلو د منافقت۔
یا مراد د دینه علامات د دشمنۍ د دوی دی۔
تَعْقِلُوْنَ نه مراد فکر کول دی د پاره د فرق کولو په مینځ د دوست او د دشمن کښ او د هغوی په علاماتو کښ۔

إِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ

يقيناً	الله تعالىٰ	عالم دے	په هغه خبرو چه

الصُّدُوْرِ (۱۱۹)

په سينو كښ دى -

۱۱۹:- په دے آيت كښ څلور علتونه ذكر كوى او دا خاص دى په منافقانو پورے -

هَاَنْتُمْ اُولَآءِ، غوره قول دا دے چه ها دَ پاره دَ تنبيه ده او انتم مبتدا ده او اولاء خبر اول او تُحِبُّوْنَهُمْ دويم خبر دے او دا خطاب مؤمنانو ته بطور تنبيه دے دَ زورلے په طور سره نه دے ځكه دَ زورلے په ځائے كښ هٰٓؤُلَآءِ ذكر كيږى لكه په سورة بقره ۸۵ او آل عمران ۶۶ كښ او دلته ئے صرف اولاء ذكر كړے دے -

تُحِبُّوْنَهُمْ، مراد دَ محبت نه دَ هغوى خير خواهى كول دى - دا قول دَ ابو العاليه او دَ اصم دے - يا مراد محبت دے په سبب دَ اظهار دَ دوى اسلام لره -

وَلَا يُحِبُّوْنَكُمْ، دا ځكه چه دَ دوى په زړونو كښ كفر او نفاق پروت دے -

وَ تُؤْمِنُوْنَ بِالْكِتٰبِ كُلِّهٖ، مراد دَ الكتٰب نه قرآن دے او كُلِّهٖ كښ اشاره ده چه ستاسو په تيز په قرآن كښ هيڅ شك نيشته او دوى بعضے حصه دَ قرآن منى او بعضے نه منى لكه چه كُلَّمَآ اَضَآءَ لَهُمْ مَّشَوْا فِيْهِ وَاِذَآ اَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوْا، كښ اشاره ده - يا مراد دَ الكتٰب نه جنس آسمانى كتابونه دى يعنى تاسو تورات او انجيل او قرآن او ټول كتابونه الهيه منئ او دوى صرف خپل كتاب منى او په هغے كښ هم په بعضے حصه ايمان لرى او په بعضے نه لرى لكه په يَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ او اَفَتُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ وَتَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ كښ اشاره ده -

وَإِذَا لَقُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا ، دا قول دَ دوی په نفاق او په دهوکه بانـدے بنا دے دَ دے وجے نه دلته متعلق دَ ایمان ئے نه دے ذکر کړے یعنی مُؤْمَنٌ بِهٖ۔

وَاِذَا خَلَوْا عَضُّوْا عَلَيْكُمُ الْاَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ، عَضٌّ چک لګول دی په ذریعه دَ غاښونو سره۔ آنَامِلَ جمع دَ آنْمِلَةٌ ده سرونو دَ ګوتو ته وئیلے شی۔ غیظ سخت غضب ته وئیلے شی۔ او چک لګول کنایه ده چه دَ ډیر غضب دَ وجے نه ګوته په خوله کښ کیدی نو چه غصه ئے زیاته شی نو ناګهانه په هغه ګوته بانـدے غاښ ټینګ کړی۔ یا دا کنایه ده دَ خپیمانه کیدلو نه لکه په سوره فرقان ۲۷ کښ دی یعنی هر کله چه دَ مؤمنانو دَ طرف نه دوی ته غنیمت وغیره کښ څه حصه ملاؤ نشی نو دوی په خپل محرومتیا بانـدے خپیما نه شی۔ عَلَيْكُمْ ، متعلق دے په عَضُّوْا پورے یعنی په ترقیٔ ستاسو۔ یا متعلق دے په پټ لفظ پورے (حَنِقِيْنَ عَلَيْكُمْ) سخت خفګان کوؤ ستکےوی په تاسو بانـدے۔ قرطبی وئیلی دی چه دا صفت دَ دے زمانے په ډیرو بدعتیانو کښ موجود دے۔

قُلْ مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ ، ابن جریر او ډیرو مفسرینو وئیلی دی چه دا دعاء شر ده هغوی ته مخامخ یا پشی شا او دا سے خلقو ته خیرے کول جائز دی یا دا امر په معنیٰ دَ جملے خبریے کښ دے یعنی الله تعالیٰ په دین حق لره نوره ترقی او غلبه ورکوی ستاسو دَ مرګ نه مخکښ پورے نو آخر به په دغه غصه کښ مړه شئ او الله تعالیٰ ستاسو په دے غصه بانـدے هیڅ پرواه نه کوی۔

اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ، دا دَ قل دَ لاندے داخل دے یا مستقله جمله ده جواب دَ سوال دے چه هر کله او وئیلے شو چه وَمَا تُخْفِيْ صُدُوْرُهُمْ اَكْبَرُ ، وَلَا يُحِبُّوْنَكُمْ او من الغيظ نو دا دریواړه څیزونه خو په سینه کښ پټ دی نو دَ دے ذکر څرنګ او کړے شو حاصل جواب دا دے چه

إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ز

که چرے اورسیږي تاسو ته ښهٔ حالت خفه کوي دوي لره

وَإِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَفْرَحُوا

او که چرے اورسیږي تاسو ته بد حالت خوشحالي کوي دوي

بِهَا ط وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا

په هغے سره او که چرے صبر اوکړو تاسو او تقوی صو اوکړله

لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا ط

ضرر په درنکړي تاسو ته مکرونه د دوي هيڅ ضرر

إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ع (۱۲۰)

يقيناً الله تعالیٰ په هغه عملونو چه دوی کوي راګیرونکے دے (په علم او قدرت کښ)

الله تعالیٰ د سینو په ټولو پټو رازونو باندے علم لري۔
بِذَاتِ الصُّدُورِ، ذات په معنیٰ د صاحب دے دلته موصوف پټ دے یعني بِالْمُضْمَرَاتِ ذَوَاتِ الصُّدُورِ، یعني هغه پټ رازونه چه د انسان د زړه سره ملګرے دي او په قول او عمل سره ښکاره شوے نه وي او دا په اصل کښ یو مصداق دے د پاره د غیب په مسئله د علم غیب د الله تعالیٰ کښ ځکه چه کوم خبره د شوندونه را اوځي بیل چا ته نو هغه په علم د مخلوق کښ داخل شي نو د هغے نه کله کله شیاطین خبر شي یعني شیطانان ئے واوري او کاهن ته ئے اورسوي نو کاهن د هغه خبرے خبر ورکړي نو دلته دا تشي و ئیلے کیدلے چه دا کاهن په غیب باندے علم لري۔ او دا جمله په قرآن کریم کښ دولس کرته ذکر ده او بل تفسیر ئے په سوره عنکبوت ۱۰ او سوره غافر ۱۹ کښ دے۔
۱۲۰:۔ په دے آیت کښ نور دوه علتونه د لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً د پاره ذکر کوي۔

ع ۱۲ / ۴

تَمۡسَسۡكُمۡ ، دَ مَسّ نه اخستلے شوے دے مس په اصل کښ لاس رسولو ته وئیلے شي بیا په هر څیز کښ استعمالیږي که محسوسي دي اوکه معنوي وي خیر وي اوکه شر وي - کله په خیر کښ استعمالیږي لکه دا آیت شو او معارج ۲۱ او سوره انعام ۱۷ او اکثر په شر کښ استعمالیږي لکه آلعمران ۱۴۰ یونس ۱۲ - او کله شریک استعمالیږي لکه په بقره ۲۱۴ او اعراف ۹۵ کښ - او هر ځائے کښ دلالت کوي په کموالی (لږوالي) -

حَسَنَةٌ ، مراد دَ دینه دَ دنیا منفعت او خوشحالي ده لکه صحت دَ بدن ، فراخي دَ مال ، غلبه په دشمن وغیره -

صاحب اللباب دَ ابو العباس نه نقل کړے دي چه حسنة په قرآن کریم کښ په پنځه وجوهو سره استعمال شویدے اول په معنی دَ کامیابئ لکه په دے آیت کښ دویم په معنی دَ توحید سوره انعام ۱۶۰ کښ دریم په معنی دَ فراخئ او وسعت سره سوره نساء ۷۸ څلورم په معنی دَ عافیت دَ عذاب نه سوره رعد ۶ په دے کښ بله معنی توحید قبلول دي پنځم په معنی قول دَ معروف سوره رعد ۲۲ -

وَاِنۡ تُصِبۡكُمۡ سَيِّئَةٌ يَّفۡرَحُوۡا بِهَا ، سَيِّئَةٌ دا مقابل دے دَ حَسَنَةٌ - او دا هم په پنځه معانی سره راځي په معنی دَ شکست لکه په دے آیت کښ - دویم په معنی دَ شرک سوره انعام ۱۶۰ کښ دریم په معنی دَ قحط سوره نساء ۷۸ او اعراف ۱۳۱ کښ - څلورم په معنی دَ عذاب سوره رعد ۶ پنځم په معنی دَ ردي قول سوره رعد ۲۲ -

فائده :- دَ حَسَنَةٌ سره ئے لفظ مَس وئیلے دے چه لږ والي باندے دلالت کوي نو په دے کښ اشاره ده ډیر حسد او بغض ته یعنی په لږه خوشحالئ سره چه مؤمن خوشحالي ښکاره کوي په طریقه دَ تحدیث نعمت سره نو دشمنان خیر شي نو خفه شي او تکلیف چه لږ وي نو مؤمن

وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ

او هركله چه صبا وختي اووتلے ته دَ كور خپل نه

تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ

تيارد ول تا مؤمنانو لره - ځايونه دَ كيناستلو (موږچے)

په هغے باندے صبر كوي نو دَ دشمن نه پټ وي ليكن چه ډير شي نو مجبورًا دشمن خبر شي نو بيا هغوي ورباندے خوشحالي كوي۔

وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا ، مراد دَ صبر نه صبر كول دي په طاعت دَ الله تعالىٰ په دغه تير آدابو كښ او هغه سختۍ باندے چه تاسو ته رسيږي او مراد دَ تقوي نه ځان ساتل دي دَ ټولو حرامونه او دَ دوستانو دَ كافرانو او منافقانو نه۔

لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا ، دا قراءت دے په پيښ دَ ضاد او دَ راء سره نو دا جواب شرط نه دے بلكه دلالت كوۀنكے دے په جواب شرط باندے يا په دے كښ فاء پټه ده۔

كَيْدُهُمْ ، راغب وئيلي دي چه كيد يو قسم حيله ده كله په مدح كښ استعماليږي او كله په ذم (بدۍ) كښ خو اكثر په بدۍ كښ استعماليږي - په مقام دَ مدح كښ لكه سوره انبياء ۵۷ اعراف ۱۸۳ كښ او په مقام دَ ذم كښ يوسف ۵ او نساء ۷۶ كښ او مقصد دَ آيت دا دے چه څوك صبر كوي په ادا دَ اوامرو دَ الله تعالىٰ او تقواي كوي دَ منهياتو نه نو داسے شخص په حفاظت دَ الله تعالىٰ كښ وي نو كيد دَ كيد كوۀنكو هغه ته هيڅ نقصان نشي رسولے۔

إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ، يَعْمَلُونَ نه مراد عملونه دَ كفر او نفاق او دَ دشمنۍ دَ مؤمنانو سره او دَ هغوي مخالف كيد وله كول دي او احاطه دَ الله تعالىٰ دا په اعتبار دَ علم او قدرت سره ده او په دے كښ معنىٰ دَ تخويف موجود ده۔

لِلْقِتَالِ ۗ وَاللّٰهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿۱۲۱﴾

دَ پاره دَ جنگ کولو	او الله تعالیٰ هرڅه اوري	پوهه دے په هر څه ۔

۱۲۱ :- ربط دَ دے دَ مخکښ سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ قوانین او آداب ذکر شول اوس په دے باندے ثبوتًا او سلبًا نتیجه ذکر کوی یعنی په دے اصولو دَ پابندۍ دَ وجے نه په بدر کښ غلبه او نصرت الهیه حاصل شو او په دے اصولو باندے دَ نه پابندۍ دَ وجے نه په احد کښ نقصان پیدا شو۔ دویمه وجه دا ده چه هر کله چه او فرمائیل چه وَاِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا نو دا دواړه سبب دَ نصرت الهیه او ګرځیدل په بدر کښ۔ او دَ دے دواړو دَ نقصان دَ وجے نه په احد کښ ابتلاء راغله په مؤمنانو باندے ځکه چه په هغه وخت کښ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ امر نه عصیان او فشل کړے شوے وو۔ دریمه وجه دا ده چه هر کله دَ منافقانو دَ دوستانے نه منع او کړے شوله او دَ هغې بعض علتونه ذکر شول نو اوس دَ هغې لوئے علت ذکر کوی چه هغه واپسی دَ منافقانو ده دَ غزوه احد نه دَ ملګرتیا دَ مؤمنانو نه۔

وَاِذْ غَدَوْتَ مِنْ اَهْلِكَ ، دا متعلق دے دَ احد سره یعنی نبی صلی الله علیه وسلم دَ ورځ دَ جمعے په اول وخت کښ دَ عائشه رضی الله عنها دَ کور نه مسجد نبوی ته را اووتلو دے دَ پاره چه دَ صحابه کرامو سره دَ غزوه احد په باره کښ مشوره اوکړی نو بعضو رائے پیش کړه چه په کلی کښ به ناست یو او مشرکان که چرے راشی نو مدینه کښ به ورسره مقابله اوکړو او بعضے کسانو مشوره ورکړله چه دَ مدینے نه بهر اوځو دَ هغوی دَ جنګ دَ پاره۔ نو په روستو خبره باندے عمل اوکړے شو نو دَ مونځ دَ جمعے نه روستو

إِذْ هَمَّتْ طَّائِفَتَانِ مِنكُمْ

کوم وخت چه قصد اوکړو دوه ډلو ستاسو ته

أَن تَفْشَلَا ۙ وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ

چه کمزوری ښکاره کړی او الله تعالیٰ مددګار دَ دوی وو

احد طرف ته روان شول۔ نو په دے سره تطبیق راغے په مینځ دَ دے آیت او دَ حدیث کښ چه په آیت کښ ثابت دی چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ کور نه سحر وختی وتلے دے اوحدیث کښ دی چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ جُمعے دَ مونځ نه روستو وتلے دے ابن جریر هم دا سوال اوجواب ذکر کړے دے او دا قول غوره دے۔

تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ، تَبْوِیه په معنیٰ دَ ځائے ټاکل او مقرر کولو دہ۔ مَقَاعِدَ جمع دَ مقعد ده ځائے دَ کیناستلو ته وئیلے شی او مراد ترینه تقسیمول دَ صحابه کرامو دی دَ پاره دَ جنګ کولو نو دَ عامو صحابو صفونه ئے جوړ کړل پشان دَ صفونو دَ مونځ او احد طرف ته ئے ورله شا اوګرځوله او عبد الله بن جبیر رضی الله عنه سره دَ پنځوس ملګرو ته په یو دیرګئ باندے مقرر کړے شو چه هغے ته جبل الرماة وئیلے شی نو دا مقاعد پشان دَ جنګ دَ مورچو دی۔ او په دے کښ اشاره ده چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ امیر لښکر (جرنیل) په حیثیت خپله ذمه داری اداکړے ده هغه په خپله ذمه داریٔ کښ نقصان نه دے کړے نو هزیمت دَ احد دَ هغه دَ وجے نه نۀ دے شوے۔

وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ، هرکله چه بنا دَ دے واقعے په خبرو او مشوره او په نیتونو باندے وه نو دا دواړه صفتونه دَ هغے سره مناسب دی چه الله تعالیٰ اوریدونکے او پوهه دے (په هر څه باندے)۔

وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ (۱۲۲)

او خاص په الله تعالیٰ باندے توکل دِ کوی مؤمنان -

۱۲۲ :- دا هم متعلق دے دَ واقعے دَ احد سره او اشاره ده چه په واقعه دَ احد کښې هیڅ نقصان دَ طرف دَ اوس اوخزرج قبیلو ته نهٔ دے شوے (هغه دَ انصارو دوه قومونه دی) إِذْ هَمَّتْ طَّائِفَتَانِ ، اول خبره چه دَ انسان په زړه کښې بے اختیاره ورتیر شی نو هغے ته خاطر وئیلے شی نو کله چه لږ پوخ شی نو هغے ته حدیثِ نفس وئیلے شی اوچه لږ نور کلک شی نو هغے ته هَمّ وئیلے شی او دا ټول غیر اختیاری دی او هر کله چه ښهٔ پوخ شی نو بیا هغے ته عزم وئیلے شی اودا اختیاری دی :- او حدیث صحیح سره ثابت ده چه په هَمّ دَ ګناه سره ګناه نه لازمیږی - نو معلومه شوه چه دَ دے دوه طائفو په زړونو کښې صِرف هَمّ دَ ګناه راغلے وؤ او هغه ګناه نه وؤ -
طَّائِفَتَانِ ، مراد دَ دیته بنو سلمه (دَ خزرج ته) او بنو حارثه (دَ اوس ته) دی او دوی په لښکر دَ احد کښې دوه طرفو ته مقرر وؤ یعنی میمنه او میسره او دیته دَ لښکر جناحان (وزرے) وئیلے شی - هر کله چه عبد الله بن ابیّ (منافق) سره دَ دریمے حصّے دَ لښکر دَ احد دَ نیمے لارے نه وایس راواګرځیدلو ځکه چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ دهٔ په رائے باندے عمل اونکړو نو دغه وخت دَ بنو سلمه او بنو حارثه په زړونو کښې هم داخیره راتیره شوله چه مونږ هم دَ دے غزوے نه وایس مدینے ته لاړ شو -
أَنْ تَفْشَلَا ، فَشَل جبن او کمزورے کیدلو ته وئیلے شی او دا اکثر دَ خوف نه پیدا کیږی نو بیا دَ دشمن سره جنګ نشی کولے -
وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا ، ولی په معنیٰ دَ حافظ او ناصر دے یعنی الله تعالیٰ دوی لره دَ فشل کولو نه بچ اوساتل او دَ دوی

زمونږ په باخه کړل - او دا کلمه دَ دوی دَ پاره لوئې بشارت او صفت وي دَ دې وجه نه دَ جابر بن عبد الله رضي الله عنهما روايت دے چه مونږ دَ دې آيت په نازليدو هيڅ خفه نه وو ځکه چه لفظ دَ وَلِيُّهُمَا زمونږ دَ پاره لوئې صفت دے۔

دَ عَلَى اللهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ، په دې جمله کښې اشاره ده علاج کولو ته دَ پاره دَ دفع دَ فشل او سبب دے دَ حصول دَ ولايت دَ الله تعالىٰ چه هغه توکل کول دي په الله تعالىٰ باندې۔ عَلَى اللهِ يې مقدم کړې دے دَ پاره دَ تخصيص کولو او فاء په فليتوکل کښې دلالت کوي په پټ شرط باندې معنیٰ دا ده که چرې کار په تاسو باندې سخت شي يا بعضې کسان ستاسو نه جدا شي نو په الله تعالىٰ باندې توکل کوئ۔

فائده :- مادهٔ دَ توکل په قرآن کريم کښې په مختلف طريقو سره اوويا کرته ذکر ده۔ اوله طريقه تخصيص دے په الله تعالىٰ پورې په اوويشت ځايونو کښې په طريقه دَ اخبار سره لکه عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ توبه ۱۲۹، عَلَى اللهِ تَوَكَّلْنَا اعراف ۸۹، عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُونَ سوره زمر ۳۸- او په طريقه دَ امرِ غائب سره لکه آلعمران ۱۶۰- او په طريقه دَ امرِ مخاطب سره لکه آلعمران ۱۵۹- دويمه طريقه دَ صفت دَ الله تعالىٰ (وکيل) په طريقه دَ اثبات سره پنځلس کرته - او په طريقه دَ نفي سره دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نه خصوصًا او دَ غير الله نه عمومًا انعام ۶۶، ۱۰۷، اسراء ۶۸، ۸۶- او دريمه طريقه دَ صفت سره دَ پاره دَ مؤمنانو انفال ۲، نحل ۴۲، ۹۹- څلورمه طريقه دَ کفايت سره يعنې وکالت دَ الله تعالىٰ کافي دے احزاب ۳، نساء ۸۱، ۱۰۹، ۱۳۲، ۱۷۱- او پنځمه طريقه دَ نهي دَ وکالت دَ غير الله نه اسراء ۲- شپږمه طريقه په ترغيب سره آلعمران ۱۵۹ او په اوومه طريقه دَ مقتضي دَ ايمان او دَ

اسلام سره مائده ۳۳، یونس ۸۴ -
فائده ۲۵ :- وکالت کار سپارل دی یل چا ته او کله حفظ ته هم وئیلے شی او په عرف کښ سپارل دَ کار دی هغه چا ته چه اعتما د کولے شی دَ هغه په بنهٔ تدبیر او تصرف باندے - او ابن فارس وئیلی دی چه وکالت اظهار دَ عجز دے او اعتماد کول دی په بل چا باندے او حقیقتًا دَ توکل علی الله اعتماد کول او یقین کول دی چه قضا دَ الله تعالیٰ ضرور پوره کیږی او تابعداری دَ سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم کوی په کوشش کولو کښ په واسطه دَ اسبابو سره لیکن په شرط دَ دے چه اسبابو باندے باور نه کوی بلکه مسبب الاسباب ته نظر کوی - او فراء په معالم التنزیل کښ وئیلی دی چه توکل دا دے چه دَ الله تعالیٰ نه سیوا بل څوک دَ ځان دَپاره مددگار نه گنړے او دَ رزق دَپاره بل څوک اختیار مند نه گنړے او دَ خپل عمل دَپاره بل څوک حاضر نه گنړے - او دَ سهل بن عبد الله تستری نه روایت دے چه څوک وائی چه توکل اسباب پریخودلو ته وئیلے شی نو دغه شخص اعتراض اوکړو په سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم باندے ځکه چه الله تعالیٰ او دَ هغه رسول دَ اسبابو طرف ته ترغیبات ورکړے دی - او دا توکل دَ عام مؤمنانو نه مطلوب دے نو کوم خلق چه اسباب بالذات مؤثر گنړی او اسباب جوړوؤنکی ته نظر نه کوی نو دا دهری وی یا مشرک وی او توکل دَ خواصو دا دے چه سره دَ وجود دَ اسبابو نه هیڅ نظر اسبابو ته نه کوی بلکه صرف په الله تعالیٰ باندے اعتماد گلی ساتی نو دا توکل دَ انبیاؤ علیهم السلام او دَ صدیقینو دے او واقعه دَ ابو بکر صدیق رضی الله عنه په واقعه دَ غزوه تبوک کښ دَ دے دلیل دے چه هغه خپل کور کښ هیڅ سبب نه وؤ پریخودلے یعنی دَ کور ټول سامان ئے دَ جهاد دَپاره راویستلو او وئیلے وؤ چه ما په کور کښ صرف محبت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول صلی الله علیه وسلم پریخودلے - او دَ

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ

او یقینًا مدد کړے دے تاسو سره الله تعالیٰ په بدر کښ

وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

او حال دا چه تاسو لږ (او کمزوری) وئ نو ویره کوئ د الله تعالیٰ نه

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾

دے د پاره چه تاسو شکر ګذار شئ -

تقسیم ته امام بخاری هم اشاره کړے ده -

سټ ۱۲۳ :- په دے آیاتونوکښ ذکر د غزوه بدر دے یو قسم ربط ئے د مخکښ سره ذکر شوے دے بل ربط ئے د وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ سره دا دے چه دا ذکر د نتیجے د توکل علی الله دے چه نصرت او فتح حاصله شوے ده په بدر کښ او د مناسبت د وجے نه ئے په عطف سره ذکر کړے ده۔

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ ، غزوه د بدر په اسلام کښ اولـه غزوه ده چه اولسم رمضان د جُمعے په ورځ د هجرت نه اتلس میاشتے روستو واقع شویوه یعنی د احد د واقعے نه قریبًا یو کال مخکښ وه او د هغے تفصیلات په سورة انفال کښ ذکر دی -او نصرت په هغے کښ په ډیرو طریقو سره واقع شوے دے یعنی په رالیږلو د ملائکو سره او رعب اچول په زړونو د کافرانو کښ او د کافرانو سترګو ته کانړی رسول او نعاس (پرکالی) رالیږل او باران کول او غنیمت حاصلول - بدر نوم د اوبو (کوهئ) دے او شعبی وئیلی دی چه دا اوبه د جهینه قبیلے د یو شخص وے چه نوم ئے بدر وؤ نو دغه مکان د هغه په نوم بانــدے مسمّی کړے شو - او بعضو وئیلی دی چه دغه اوبه د بدر (څوار لسے سپوږمئ) پشان صفا وے او باء په بدر کښ په معنیٰ د فِیْ سره ده -

إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ

کله چه اوویل تا مؤمنانو ته آیا کافی نه ده تاسو لره

أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَاثَةِ

چه زیاتی به کړی تاسو رب ستاسو په دریے

آلَافٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿۱۲۴﴾

زره سره د ملائکو نه چه راکوز کړے شوے په دی۔

وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ، داجمله حالیه ده أَذِلَّةٌ جمع قلت د ذلیل ده په جمع قلت کښ د هغوی ډیر قلت ته اشاره ده۔
سوال :- په سورة منافقون ۸ کښ دی چه د مؤمنانو د پاره عزت دے نو دلته د ذلت څه معنیٰ ده؟
جواب :- مراد د دے نه کم والے د عدد دے (چه درے سوه دیارلس کسان وو) اوکم والے د وسلے او د مال اود سورلئ وو او دا په سورة انفال ۲۶ کښ ذکر دی - مورخینو وئیلی دی چه صحابه کرامو سره یو اس وو او په اوښانو باندے دار په دار سوریدل اووه اویا مهاجرین کسان وو او دوه سوه شپږ دیرش انصار وو۔
فَاتَّقُوا اللَّهَ ، مراد تری نه عامه تقوی ده او خصوصًا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرتیا کښ ټینګیدل په میدان جهاد کښ۔
لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ، شکر د مخکښ نعمت مراد دے یا زیادت د نعمت په راتلونکی وخت کښ چه سبب د شکر دےاو دا دلیل دے چه شکر د الله تعالیٰ په طریقه د تقوی شرعی سره دے صرف الفاظ د شکر او حمد مراد نه دی۔
س ۱۲۴ :- دا د محققینو مفسرینو په نیز متعلق دے غزوه بدر سره او إِذْ تَقُولُ متعلق دے په نَصَرَكُمُ پورے او بعضو مفسرینو د احد سره متعلق کړے دے او د هغے

دَ دليلونو نه جوابونه په تفصيل سره ابوحيان اوصاحب اللباب ذکر کړے دی۔

لِلۡمُؤۡمِنِیۡنَ ، مراد ترینه مجاهدین دَ غزوه بدر دی۔

اَلَنۡ یَّکۡفِیَکُمۡ اَنۡ یُّمِدَّکُمۡ رَبُّکُمۡ بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الۡمَلٰٓئِکَةِ ، حرف استفهام داخل دے په نفی باندے نو په دیکښ دوه اقوال دی اول قول دَ ابوحیان دے چه دا استفهام انکاری دے یعنی عدم کفایت په دغه عدد دَ ملائکو سره دَ وجے دَ ډیر ضعف دَ مؤمنانو ۔ نو دوی پشان دَ نا امیدئ کوونکو وو دَ نصرت نه او جواب اوشو په بلی سره یعنی دا امداد کافی دے او کافی بے اوکړئ۔ او دویم قول دَ ابن عطیه دے چه دا استفهام تقریری دے یعنی دَ دوی په عقیده کښ دا عدد دَ امداد دَ پاره کافی دے او بلی لفظ جواب دَ متکلم (الله تعالیٰ) دَ طرف نه دَ اثبات او دَ تاکید دَ دے امداد دَ پاره دے ۔ دا روستنو قول غوره دے ۔ بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ ، اول خو وعده شوے وه په یو زر ملائکو سره لکه په سوره انفال کښ دی بیا دوه زره نور درے زره شو بیا دوه زره نور نو پنځه زره شول دیته اِذۡ خَالَ النَّاقِصُ فِی الزَّائِدِ (داخلول دَ کم عدد په زیات عدد کښ) وئیلے شی او دا غوره قول دے۔

مُنۡزَلِیۡنَ ، صفت یا حال دے ۔ او غوره قول دا دے چه الله تعالیٰ یو زر ملائک نازل کړے وو او هغوی قتال هم کړے دے۔ بیا مشهور شوه چه کرز بن جابر دَ مشرکانو دَ مدد دَ پاره درے زره او بیا پنځه زره کسان رالیږی په دے باندے مؤمنان غمژن شول نو الله تعالیٰ په دے آیت سره او په روستو آیت سره مؤمنانو ته تسلی ورکړه ۔ لیکن دَ مشرکانو نور امداد نه وو راغلے نو دَ نورو ملائکو دَ رالیږلو سبب موجود نه شو۔

بَلٰٓى ۙ اِنْ تَصْبِرُوْا وَ تَتَّقُوْا

هاں	که چرے	صبر او کړئ تاسو	او تقوٰی مو او کړله

وَ يَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا

او راشي	دوی تاسو ته	دَ	جوش خپل نه	دغه دے

يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ

زياتي به کړي تاسو	رب ستاسو	په	پنځه

اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ﴿۱۲۵﴾

زرو سره	دَ	ملائکو نه	چه نخے به کړے لګولے وی دَجنګ

س۱۲۵ :- بَلٰٓى دا ايجاب دے دَ هغه نفي چه په اَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ کښې ده - مخکښې دَ دے بحث تير شو۔

اِنْ تَصْبِرُوْا وَ تَتَّقُوْا ، دلته مراد دَ صبر نه پوخوالے دے په ميدانِ قتال کښې په مقابله دَ دشمن کښې او تقوٰی نه مراد ځان بچ کول دی دَ فشل او دَ ناشکرئ کولو نه ۔

وَ يَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ ، فَوْر په اصل کښې خوټکيدلو دَ کټوئ ته وئيلے شي او دا اراده کيدېشي دَ سرعت او تلوار کولو دَپاره او کله غضب او غصے ته هم وئيلے شي خو دلته مراد دَ فَوْرٍ نه سمدستي او زر راتلل دی دَ مشرکانو يا په غصه او په جوش کښې راتلل دی او دا غضب دَ دغه مشرکانو پيدا شوے وُو دَ وجے دَ شکست خوړلو نه په بدر کښې او لفظ دَ هٰذَا دَ تاکيد دَ سرعت دَپاره دے دَپاره دَ نزديکت او دا شرط ئے دَ دے وجے نه او لګولو چه په دا سے وخت کښې دَ مدد دَ راتللو ډير ضرورت وی او دا دوستو شرط چه هر کله موجود نه شو نو امداد راليږلو ته ضرورت نه دے راغلے۔

يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ ، دا جزاء دَ شرط ده۔

بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ، مُسَوِّمِيْنَ دَ سوم بيا دَ سِيمَا نه اخستلے شوے دے يعني نخے لګوونکے وے په خپل

وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ إِلَّا بُشْرٰى

او نه دے گرځولے دا (نزول دَ ملائکو) الله تعالیٰ مګر زيرے

لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُمْ بِهِ ۗ

تاسو لره او دَ پاره دَدے چه کلک شی زړونه ستاسو په دے سره

وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ

او نه دے مدد مګر خاص دَ نيز دَ الله تعالیٰ نه دے

الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿۱۲۶﴾

چه زور آور حکمتونو والا دے

ځانونو باندے او په خپلو اسونو باندے نو په يو روايت کښ دی چه دَ جبرئيل عليه السلام زيړه پګړئ وه او دَ نورو ملائکو سپينے پګړئ وے يل روايت کښ دی چه دَ ټولو زيړے پګړئ وے او شملے ئے په مينځ کښ آويزان کړے وے قرطبی وئيلی دی دادَدے وجے نه چه دَ زبير رضی الله عنه په دغه ورځ باندے زيړ پټکے وو- او اسونه ئے برګ رنګ والاوؤ يعنی موافق دو دَ مقداد رضی الله عنه دَاس سره چه په دغه ورځ دا يو اس دَ دوی سره وؤ ادهغه برګ وو- يا دا دَ سوم نه اخستلے شوے دے په معنیٰ دَ ليږلے شوے يعنی دوی خپل اسونه دَ دشمن دَ مقابلے دَپاره رالیږل.

ف۱۲۶:- په دے آيت کښ حکمتونه دَ راليږلو دَملائکو ذکر کوی او جواب دَ دوه سوالونو دے - اول سوال دا دے چه الله تعالیٰ خو بغير دَ ملائکو راليږلو نه مدد کولے شی نو په ملائکو راليږلو کښ څه مقصد دے - دويم که باطل عقيدے والا اووائی چه معلوم شوه چه ملائک هم امداد کولے شی نو دا دليل شو چه مدد دَ غير الله نه غوښتل جائز دی؟-

وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ ، هٗ ضمير راجع دے امداد نه په ملائکو

راليږلو سره هغه چه په صيغه دَ يُمِدَّكُمْ او يُمْدِدْكُمْ كښ شته. يا ضمير نصرت ته راجع دے چه په تصركم كښ دے.
إِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُكُمْ بِهٖ ، دا استثناء مفرغ ده بُشْرٰى مفعول له دے او يا بُشْرٰى مصدر يا اسم مصدر دے هغه خبر چه دَ خوشحالۍ اثر په ظاهري بدن كښ (مخ) كښ ښكاره كړي په اول اخبار پورے خاص نه دے لكه دا صفت دَ قرآن په باره كښ چه هر وخت مؤمنانو دَپاره سبب دَ خوشحالۍ دے.
وَلِتَطْمَئِنَّ ، اول قول دا دے چه دا عطف دے په معنٰى دَ بُشْرٰى باندے نو بُشْرٰى صفت دَ ظاهر دے او اطميتان پيدا كيدل صفت دَ زړه دے.
سوال :- په معطوف كښ لام ولے داخل كړو؟
جواب :- دَ معطوف دَ نصب دَپاره (بغير دَ لام نه) يو والے دَ فاعل شرط دے او دلته دَ جعل فاعل الله تعالٰى دے او دَ تطمئن فاعل قلوب دے دَ دے وجے نه ئے دَ جائز كولو دَ عطف دَپاره لام پكښ داخل كړو. او امام رازي وئيلي دي چه په امداد كښ دوه مطلوبه دي اول داخلول دَ خوشحالۍ په زړونو كښ دا په لفظ دَ بُشْرٰى كښ دے او دويم مطلوب دَ دے نه لوئے دے چه هغه حصول دَ اطميتان دے دَپاره دَ ازالے دَ بزدلۍ نو دا لوئے مقصد دے دَ دے وجے نه دَ دے دَپاره ئے مستقل لام داخل كړو. دويم قول دا دے چه دا متعلق دے په پټ فعل پورے يعني فَعَلَ ذٰلِكَ لِتَطْمَئِنَّ.
وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ، دلته نصرت نه مراد غلبه او فتح وركول دي دا په اسبابو باندے بنا نه دے حكه ئے حصر اوكړو په الله تعالٰى پورے. العزيز دَ عزت نه اخستلے شوے دے په معنٰى دَ غلبے نو دَ دے ځائے سره مناسب دے او الحكيم اشاره ده چه كله امداد

کوی او کله نه کوی دَ الله تعالیٰ په حکمت پانندے پِنا دہ۔
فائدہ:- داسے آیاتونه په سورۃ انفال کښ هم (رکوع ۹ سنا) دی
لیکن فرق ئے په یو څو وجوهو سره دے اول داچه هلته ئے
مردفین وئیلے دے او دلته منزلین او مسومین دے دویم
دلته دَ بُشری سره لکم ذکر دے او هلته نیشته۔ دریم دلته
ئے په لفظ روستو راوړیدے او سورۃ انفال کښ په مخکښ
راوړیدے۔ څلورم دلته العزیز الحکیم په طریقه دَ صفت
سره ذکر کړو او هلته ئے په جمله مستانفه سره ذکر
کړیدے۔ دَ دے حکمتونه دادی۔
دَ اول فرق وجه داده چه یو زر ملائک خو نازل شو
لیکن وروستو دَ نورو راتلو خبر وؤ او ارداف دلالت کوی
په روستو راتلونکو پاندے۔
دَ دویم فرق وجه داده چه په سورۃ انفال کښ اصل دَ
قصے ذکر دے او په دے سورت کښ دَ هغے تکمیل مقصد
دے نو دَ اصل سره اختصار مناسب وی نو لکم ئے نه
دے ذکر کړے او تکمیل سره اطناب (اوږدوالے) مناسب
وی نو دلته ئے لکم ذکر کړے دے۔
دَ دریم فرق وجه داده په دے سورت کښ لکم خطاب
ذکر شو نو په قلوبکم کښ خطاب دَ هغے سره متصل مناسب
دے او په هغه سورت کښ خطاب نه وؤ ذکر کړے نو په
ئے مخکښ راوړو۔
دَ څلورم فرق وجه داده هر کله چه دلته مکرر خطاب اوشو
نو په دیکښ الفاظ دَ تسلئ (چه العزیز الحکیم دی) زر ذکر
کول مناسب دی او هلته تاکید دَ خطاب نه وؤ نو په جمله
مستانفه سره ئے په تاخیر سره ذکر کړو (وَاللّٰهُ اَعْلَمُ
بِحِکَمِ کِتَابِهٖ)

لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِينَ

دَ دے دَپاره چه پریکړي یو ټکړه دَ هغه کسانو نه

كَفَرُوٓا۟ أَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنقَلِبُوا۟

چه کفرئې کړے دے یا په ذلیل کړي دوی نو واپس به اوګرځي دوی

خَآئِبِينَ ﴿١٢٧﴾

نا امیدي کوونکي -

ف ۱۲۷: تیرشوی حکمتونه دَ مؤمنانو دَ ذات سره تعلق لری او په دے آیت کښ حکمتونه دَ دشمنانو سره تعلق لری او دَ مؤمنانو دَپاره بالواسطه بشارت دے۔

لِيَقْطَعَ ، دا متعلق دے دَ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ یا مَا النَّصْرُ یا دَ جَعَلَ سره یا يُمْدِدْكُمْ سره یا متعلق ئې پټ دے یعنی اَمَدَّكُمْ دَ نَصَرَكُمْ لِيَقْطَعَ. قطع په معنیٰ دَ هلاکولو یا په معنیٰ دَ نړولو دے۔

طَرَفًا ، جماعت (ډله) او ټکړه مراد ده دا اویا کسان کافران وو چه په بدر کښ قتل کړے شوے وو- په دے لفظ کښ بواشاره دا ده چه ټول کافران په کفر کښ ملګری دی او دا دَ هغوی نه یو طرف او یو ټوټے دے - او دیته اشاره ده په سوره رعد ۴۱ (نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا) کښ دو دیم اشاره ده چه مینځ دَ دے ته هله رسیدل کیدل یشی چه طرف پریکړے شی۔

اَوْ يَكْبِتَهُمْ ، كَبَتَ کښ ډیر اقوال دی - هزیمت ، لعنت ، پرمخے غورځول ، شرمول ، غصه کول ، ذلیل کول ، اَوْ لفظ دَپاره دَ تنویع دے یعنی یو قسم ئې قطع کړل او بل قسم ئې ذلیل او مغلوب کړل - یا او په معنیٰ دَ واو دے او دلته هم ضمیر راجع دے ټولو کافرانو ته ځکه دا واقعه سبب دَ ذلت دَ ټولو کافرانو دے او قطع خو خاص ده په یو ډله پورې نو دَ هغې سره ئې طرفًا ذکر کړو۔

لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ

نیشته تا لره دَ کار دَ دوی نه هیڅ اختیار

أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ

تردې پورې چه الله تعالٰی به په دوی باندې مهربانی اوکړی (په توفیق دَ ایمان سره) یا به دوی له عذاب ورکوی

فَإِنَّهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿۱۲۸﴾

یقینًا دوی ظالمان دی۔

فَيَنقَلِبُوا خَائِبِينَ ، دا تفریع ده په يَكْبِتَهُمْ باندې۔ خیبت هغه نا امیدی او محرومی ده چه روستو دَ توقع او دَ امید نه پیدا شی او یأس عام دے که روستو دَ توقع نه وی او که مخکښ وی نو مقابل دَ خیبت ظفر دے او مقابل دَ یاس رجا ده۔ دلته ئې خیبت ذکر کړو ځکه چه په بدر کښ دَ کافرانو لوئے امید وو نه دَ غلبے وو چه هغې ته اشاره ده په انفال ۴۲ کښ۔

ف ۱۲۸ :۔ دا متعلق دے دَ واقعے دَ احد سره او په مینځ کښ واقعه دَ بدر په طریقه دَ جملے معترضے سره ده او دَ دے په سبب کښ اختلاف دے اول روایت دا دے چه په غزوه احد کښ عتبه بن ابی وقاص دَ نبی صلی الله علیه وسلم سر مبارک زخمی کړو او دَ رباعی غاښ ئې ورله شهید کړو نو هغه دَ خپل مخ نه وینے صفا کولے او وئیل ئې (كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ خَضَبُوا وَجْهَ نَبِيِّهِمْ بِالدَّمِ وَهُوَ يَدْعُوهُمْ إِلَى رَبِّهِمْ) څرنګ به بچ شی هغه قوم چه رنګ کړے ئې دے مخ (مبارک) دَ خپل نبی په وینو سره او هغه دوی ته دعوت ورکوی رب دَ دوی ته (بخاری، مسلم)۔ دویم روایت دے چه نبی صلی الله علیه وسلم لعنت اوکړو په معین اشخاصو باندې (ابوسفیان، حارث بن هشام، صفوان بن امیه) نو دا آیت نازل شو۔ دریم روایت کښ دی چه نبی صلی الله علیه وسلم په واقعه

دَ بئر معونه کښې په خاص قبیلو باندے لعنت اوکړو چه رعل، ذکوان او عصیه وو۔ په واقعه دَ بئر معونه کښې نو دا آیت نازل شو او په دے دواړه روایتونو کښې ثابت دی چه نبی صلی الله علیه وسلم دا دعا کانے روستو دَ رکوع دَ دویم رکعت دَ صبا دَ مونځ نه لوستلے او دیته قنوت نازله وئیلے شی نو دَ دے تولو په باره کښې نازل شول چه لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ، یعنی دَ دے خلقو دَ توبے یا دَ عذاب اختیار ستا په لاس کښې نیشته یا دَ دوی هدایت او گمراهئ اختیار ستا نه دے یا امداد کولو اختیار ستا سره نیشته یا عام مراد دے یعنی دَ الله تعالیٰ په کارونو او تصرفاتو کښې ستا وس نه رسی نو دا رد دَ شرک فی التصرف دے دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه او رد دے په هغه بے عقلو خلقو باندے چه نبی صلی الله علیه وسلم مختار کل گنړی۔

سوال :- هغه امر چه الله تعالیٰ په دے آیت کښې نبی صلی الله علیه وسلم دَ هغے نه منع کړے دے که هغه ئے په امر دَ الله تعالیٰ سره کړے وی نو منع ئے تر بیته څرنګه اوکړه۔ او که هغه بغیر دَ امر دَ الله تعالیٰ نه کړے وی نو بیا منافات راځی دَ دے آیت سره چه وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى؟

جواب ۱ :- نهی کول دَ یو شخص مستلزم نه دہ چه هغه شخص په دغه کار کښې خامخا مشغوله وی دلته هم صحیح دا ده چه نبی صلی الله علیه وسلم دغه کار نه دے کړے صرف ډیر غم او غصه ئے ښکاره کړے او اراده ئے دَ دے کار اوکړه۔ نو دغه روایات به په تاویل دَ ارادے باندے حمل شی۔ (لیکن دَ ظاهر احادیثو نه دا تاویل بعید دے)۔

جواب ۲ :- نبی صلی الله علیه وسلم دَ دے کار اذن طلب کړو دَ الله تعالیٰ نه نو الله تعالیٰ دَ هغے منع اوکړه (لیکن دا جواب هم دَ احادیثو ظاهره نه خلاف دے)۔ (دا سوال او جوابونه صاحب اللباب ذکر کړیدی)۔

جواب ۳ :۔ نبی صلی اللہ علیہ وسلم دا پخپل اجتهاد سره کړے وؤ او په داسے حال کښ نبی لره اجتهاد کول جائز او واقع دی لیکن الله تعالی دَ هغے نسخ اوکړه په دے جملے سره۔
سوال :۔ په سبب نزول کښ حدیث دَ بخاری او مسلم دلالت کوی چه قنوت نازله وئیل منسوخ دی او حال دا دے چه دَ دینه روستو هم نبی صلی الله علیه وسلم او سلف صالحینو قنوتِ نازله لوستلے دے ؟
جواب ۱ :۔ په دے قنوت کښ تخصیص دَ نومونو دَ اشخاصو او دَ قبائیلو وؤ نو هغه تخصیص منسوخ شو او په طریقه دَ عموم (لفظ مشرکان، کافران، یهودیان، نصارای او هنود وغیره) سره وئیل سنت دی۔
جواب ۲ :۔ ابن عاشور وئیلی دی چه دا قول ډیر غریب دے چه څوک په دے آیت سره دَ نسخ قول کوی او دا ابن عطیه نه ئے نقل کړیدی چه دا ضعیف قول دے او مقصد دَ حدیث دَ بخاری دا دے چه روستو دَ نزول دَ دے آیت نه دغه قنوتِ خاصه ئے پریخودلو دَ وجے دَ عمل کولو نه په کمال ادب باندے ردَ دے جواب هم رجع اول جواب ته کیږی)۔
اَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ، په دے کښ اقوال دی۔ اول قول ، چه دا اَوْ په معنیٰ دَ اِلیٰ اَنْ یا اِلَّا اَنْ سره دے ۔ دویم قول دا چه دا عطف دے په لِيَقْطَعَ او يَكْبِتَهُمْ باندے چه دا علتونه دَ نصرتِ الٰهیه دی او لَيْسَ لَكَ په مینځ کښ جمله معترضه ده ۔ دریم قول دا چه دا عطف دے په اَلْاَمر یا په شَیْءٌ باندے ځکه دا هم په تاویل دَ اسم کښ دے۔ لیکن اول قول غوره دے ۔ او مراد دَ یتوب نه توفیق دَ توبے ورکول دی بعضو ته لکه چه ابوسفیان او حارث بن هشام ته ئے توفیق دَ اسلام ورکړو۔
اَوْ يُعَذِّبَهُمْ ، مراد دَ دینه عذاب دنیوی یا عذاب اُخروی دے

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا

او خاص په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ هغه څیز دَ ته چه په آسمانونو کښ دی او هغه څیزونه

فِي الْاَرْضِ ؕ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ

چه په زمکه کښ دی. بخنه کوی چا لره چه او غواړی

وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ

او عذاب دَ رکوی چا لره چه او غواړی او الله تعالیٰ

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٢٩﴾

بخنه کوونکے رحم کوونکے دے.

ع ۳ ۹ ۴

هغه چا ته چه دَ کفر نه توبه نه او باسی - فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ، دا علت دَ پاره دَ يُعَذِّبَهُمْ دے او ظلم نه مراد کفر او شرک باندے کلک پاتے کیدل دی.

۱۲۹ :- دا تاکید دَ مخکښ آیت دے هلته ئے جانب دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نفی ذکر کړه نو دلته جانب دَ اثبات ذکر کوی دَ پاره دَ اثبات دَ توحید فی التصرف.

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ، حرف دَ لام دَ پاره دَ مِلك او مُلك او عبدیت دے او مخکښ راوړل دلالت کوی په تخصیص باندے او لفظ دَ ما عام دے عقل والو او غیر عقل والو ته.

يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ، په دے جمله کښ تعمیم دَ مشیت او دَ ارادے دَ الله تعالیٰ ذکر دے روستو دَ تعمیم دَ تصرف نه او دا دلیل دے چه په طاعت دَ بنده سره په الله تعالیٰ باندے جنت او مغفرت ورکول واجب نه دی او په معصیت دَ بنده سره عذاب ورکول واجب نه دی لیکن قانون الهی دا دے چه ملائکو او انبیاؤ علیهم السلام له بالکل عذاب نه ورکوی او مؤمنانو له عذاب همیشه نه ورکوی او مشرکانو او کافرانو ته بخنه نه ورکوی -

وَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ، دَ دے جملے ذکر دلالت کوی چه جانب دَ رحمت غالب دے په غضب باندے -